# اِمدادُ الفتاویٰ

پښتو

جلد ۳

کتاب البیوع

کتاب الربوٰ


حکیمُ الاُمت مجدد الملت حضرت مولانا

اَشرف علی تھانوی قدس سرہٗ


بترتیب جدید


حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمۃ اللہ علیہ

بانی جامعہ دار العلوم کراچی و مُفتی اعظم پاکستان


مترجم


مولانا زاھد اللہ شاہ حقانی



مکتبۃ الحرم

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور

اکوڑہ خٹک نوشہرہ

0300-9395919

0306-7816588

# امداد الفتاوی

پښتو

۳

حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا

## اشرف علی تهانوی قدس سرہ

بترتیب جدید

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمۃ اللہ علیہ

بانی جامعہ دار العلوم کراچی و مفتی اعظم پاکستان

مترجم

مولانا زاهد اللہ شاہ حقانی

# کتاب پېژندنه......


دکتاب نوم : امدادالفتاویٰ
دمصنف نوم : اشرف علی تهانوی رحمه الله
دمترجم نوم : مولانازاهدالله شاه (حقانی)
کپوزر : قاری روح الله (صافی)
ډیزاین : مولوی محمدبشیر (طیب خیل)
تهیه وترتیب: صافی کمپوزنگ سنټرمحله جنگی پشاور #-0312- 9885005


:Emil Hedayatullha.safi@yahoo.com


ناشر: مکتبة الحرم
مدیرمکتبه: طالب العلم فضل الرحمن حیدری اوحافظ عین الدین ابراهیمی
دچاپ ځائې.....اعراف پرنټرز ندیم ټریډ سنټر محله جنگی پیښور


**عرض ناشر:**

زماله ټولوعلماء کرامواوطلباء عزامواو عامو کتونکوڅخه هیله اوتمناده کچری دی کتاب کښی کومه لفظی اویانوره غلطی وی دابه زمونږڅخه سهواً شوی وی تاسی داغلطی مونږته په گوته کړی ترڅوی پوری په آینده کښی داتکرارنشی اواجربه ئې انشاء الله تعالیٰ الله جل جلاله درکوی والسلام.


درابطی نمبر: 0306 -7616569 #0300 - 9395919






## دامدادالفتاوی د دریم جلدد مضامینو فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

## امداد الفتاوی

# كتاب البيوع

## احتكار

### (يعني د غلې د گرانولو لپاره د ساتلو) احكام

سوال :(۱) ديني علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زيد په ښار کې د زرو يا پنځه سوه روپو غنم واخستل او وېې ويل چه په موقع راتلو باندې به ئې خرڅ کړم؟ په دې کې داسې وخت هم راغی که خرڅ کړې يې وه نو فائده ورته وه ليکن هغه د گرانيدو انتظار کوي نو دا احتكار شو او که نه؟ او که دا احتكار نه وي نو د احتكار تعريف څه دی؟ او د دې په نسبت حكم څه دی؟

جواب :که ددې په ساتلو سره بعضو خلکو ته ضرر رسيدلی وي نو دا احتكار شو او که نه نو نه شو، ځکه چه د احتكار معنی بندول د غلې د ضرورت په وخت د گرانی دپاره او د دې په مـوده کـې اختلاف دی، د بعضو په نزد يوه مياشت، د بعضو په نزد څلويښت ورځې، غرض داچه کله د خلکو ضرورت وي او په منع کولو کې ئې ضرر وي نو دې ته احتكـار وائـي. ثم المدة اذا قصرت لايكون احتكارا لعدم الضرر واذا طالت يكون احتكارا مكروها لتحقق الضرر ثم قيل هي مقدرة باربعين يوماً وقيل بالشهر هداية مختصراً كتاب الكراهة ۱۲. او په احتكار باندې په حديث کې ډير سخت وعيد، لعنـت، د جذام او افلاس لپاره خبرې راغلي دي. عن عمر النبي ﷺ قال الجالب مرزوق والمحتكر ملعون عن عمر بن الخطاب قال سمعت رسول الله صلى الله عليه والسلام يقول من احتكر على المسلمين طعامهم ضربه الله بالجذام والافلاس مشكوٰة كتاب البيوع والله اعلم فقط (۲۸ شوال ۱۳۰۰ھ امدادثالث/ص ۱)

### د خرڅولو په وخت قيمت دوه قسمه کول

سوال :(۲) يو کس خپل مال په نغدو يوه روپۍ خرڅوي او په قرضو يې په اوولس آنې خرڅـوي دا جائزه ده او که نه؟

جواب :د دې دوه صورتونه دي، يو خو دا چه د خرڅولو په وخت ئې د قيمت تعين نـه وي کـړی بلکه اخستونکي ته يې په ترديد سره ويلي دي چه که د دې قيمت که راکړی نو يوه روپۍ به واخلم او اوولس آنې به اخلم نو دا د قيمت د نه معلوميدو او د هغې د جهالت د وجې نه جائزه نه ده.



دويم شکل دا دی چه اول ئې اخستونکي سره خبره کړې وي چه په قرض ئې اخلې او که په نغدو؟ که هغه د نغدو وويل نو قيمت ئې يوه روپۍ شو او که په قرضو يې وويل نو اوولس آنې شو دا جائزه ده. في العالمگيريه رجل باع على انه بالنقد بكذا او بالنسبة بكذا او الى شهر بكذا او الى شهرين بكذا لم يجز كذا في الخلاصة انتهى جلد ثالث ص ۱۵۴، مطبوعه نوللشكوری، فقط والله اعلم، [امدادثالث/ص ۱]

### په قيمت کې رعايت کول يا بالکل پرېښودل د ثواب واجبونکی دی

سوال :(۳) که يو کس اخستونکي ته د ثواب په نيت مال په کم قيمت ورکړي، مثلا د پنځه ديرش روپو مال په اته ويشت روپۍ ورکړي نو آيا د هغې په کموالي به ثواب ملاويږي او که نه قيمت پوره واخلي او بيا په کې څه معاف کړي؟ فقط...

جواب : دا دواړه کارونه د ثواب موجب دي، په معامله کې رعايت کول هم او ابراء (د قيمت معاف کول او پرېښودل) هم او هر ثواب خپل ځان ته جدا قسم دی. فقط ۳۰ ذی القعده ۱۳۳۶ھ. (تتمه خامسه ص ۷۶).

### خرڅوونکي ته د مخکې نه روپۍ ورکول او مبيع (څيز) لږ لږ وصولول

سوال :(٤) په دې کليو کې اکثره شيدې چه بدها ته ځي کله د هغې قيمت وړاندې او کله وروستو ورکول کيږي او په متفرق طور سره هغه د مالک نه شيدې وصولوي دا جائز ده او که ناجائز؟ که جائز وي نو څه شرائط هم په دې کې محفوظ دي او که نه؟

جواب :دا د سلم معامله نه ده ځکه چه شرائط په کې پوره نه دي، که وروستو روپۍ ورکړي نو بيا هم بيع نيسئة ده او بغير د تکلف نه جائزه ده او که مخکې ئې ورکړي نو د هغه په ذمه قرض کيږي کوم چه لږ لږ کموي، دې ته فقهاو مکروه ويلي دي. والله اعلم. اول ربيع الثاني ۱۳۲۱ھ، (امداد ثالث ص ۵).

### قصاب ته د وړاندې نه روپۍ ورکول او نرخ مقررول

سوال :(٥) دلته دستور داسې دی چه بکر قصاب ته د وړاندې نه څه روپۍ ورکړې او د غوښې نرخ ئې في سير معلوم کړو کوم چه د بازار نرخ نه لږ کم دی، مثلاً په بازار کې په څلور روپـۍ سير خرڅيږي ليکن په درې روپۍ ئې سير خرڅ کړو او همداسې غوښه راوړل کيده، ياداشت ئې نيـول کيدلو او د مياشتې په آخر کې ئې حساب وکړو او کمی او زياتی ئې پوره کړو او د آئنده مياشـتې لپاره ئې بيا روپۍ ورکړې او نوې معاهده ئې وکړه، کله کله داسې کيږي چه د بازار قيمت درې روپـۍ

یا دوه روپۍ کیږي مګر دا مقرر نرخ نه بدلیږي د دې په راروانه میاشت کې لحاظ ساتلو سـره قیمت مقرروي، قصاب ته دا ګټه کیږي چه هغه په دې پیسو باندې چیلۍ اخلي او غوښه خرڅوي او بل چا نـه ورته د قرض اخستلو ضرورت نه وي، اوس عرض دا دی چه آیا دا جائزه ده؟

**جواب**: داسې معامله د احنافو په نزد جائزه نه ده ځکه چه هغه څه چه وړاندې ورکړی شوی دی هغه قرض دی، او دا رعایت د قرض د وجې نه دی، او بیع سلم ورته نه شو ویلی ځکه چه په هغې کې کم نه کم مهلشت باید یوه میاشت وي او د امام شافعي په نزد چونکه وخت شرط نه دی نو ځکه په سلم کې داخلیدای شي، چونکه په دې کې عام خلک مبتلا دي نو د امام شافعي په قول د عمل کولو ګنجائش شته دی. ۱۷ ذی الحجه ۱۳۳۳هـ، (تتمه ثالثه صـــ ۱۲۲).

## د غوښې په بعضې شرطونو اخستل

**سوال**: (٦) علماء کرام په دې مسئله کې څه فرمائي چه دلته بکر قـصاب دولـس سیره غوښـه خرڅوي، زید بکر (قصاب) ته ووېل چه روزانه مونږ ته دوه، دوه نیم سیره غوښه راکوه لیکن سیر به په اووه روپۍ اخلم، بکر (قصاب) ووېل چه ۵۰ روپۍ به پیشګي اخلم او غوښه بـه برابـره در رسوم کله چه پوره د ۵۰ روپو غوښه واخلي او زما او ستا معامله برابره شي نو بیا بـه ۵۰ روپـۍ راکوي او غوښه به درکوم او دا اقرار هم وشو چه که تا سره روپۍ نه وي نو د پیشګي نه بغیر بـه هم زه تاته غوښه درکوم، داسې لین دین په شریعت کې صحیح دی او که نه؟ د دې سوال جـواب خالد دا ورکوي چه داسې لین دین درست نه دی، قرض ورکول او قرض والا نه فائده حاصـلول سود دی، او عمرو دا جواب ورکوي چه دا قرض نه دی، دا د غوښې قیمت دی، که هر قسم قـرض وي نو په وعده باندې د واپس اخستلو یا بغیر د وعدې نه اختیار په زید سره وو او په دې کې د زیـد سـره د واپس اخستلو اختیار نشته دی، دا شرعاً صحیح ده. مولانا صاحب د چا جواب صحیح او د چا غلط دی؟

تتمه سوال: بکر (قصاب) ټول شرطونه د اول سوال موافق کړی لیکن فرق ئې صرف په کې دومره وکـړو چه بغیر د وړاندې قیمت اخستلو نه به غوښه نه درکوم.

**جواب**: بعد ضم التتمة المذکورة: جواب دا دی چه دا معامله درست نه ده که دا قرض وي نو بیا د خالـد په دلیل سره صحیح نه ده او که دا قیمت وي لکه څنګه چه عمرو وائي نو په دې کې د عقد سلم شرائط ... د نه دي او بل کوم عقد صحیح نه دی، نو ځکه صحیح نه ده. ۸ شوال ۱۳۴۲هـ (تتمه خامسة صـــ ۳۱۲).



## نسخ وعده در تراجع نرخ وکم کردن قیمت به تراضی

**سوال**: (۷) ما د یو ګاړي مالګې لپاره د حکومت په خزانه کې پنځه سوه درې پنځوس روپۍ جمـع کړې وې او د مالګې رسید مې متعلقه محکمې ته لیږلی وو او مال لا د هلته نه رااروان شوی نه وو چه حکومت د مال قیمت کم کړو یعنې په یو ګاړي کې ئې سل (۱۰۰) روپۍ کمـې کـړې، او د پنځه سوه درې پنځوس په ځاي ئې په څلور سوه درې پنځوس روپۍ کړو، نو ځکه په ټولو کانونو کې د مالګې قیمت کم شو، نو ما حکومت ته عریضه ولیږله چه د نرخ ارزانیدو د وجې نه زمونږ سل روپۍ تاوان وشو او حکومت د اطلاع ورکولو نه بغیر اول ورکړی شوی محصول کم کړو او زمونږ مـال روان شوی نه دی، نو ځکه مونږ ته سل روپۍ واپس ملاویدل پکار دي، په دې باندې جواب راغی چه څه وخت وروستو په سل روپۍ راکړی شي نو اوس سوال دا دی چه ماله دا سل روپۍ اخستل شـرعاً صحیح دي او که نه؟ او حکومت به زمونږ په شان نورو تاجرانو ته هم روپۍ واپس ورکوي؟

**جواب**: اول خو صرف روپو سره درخواست لیږلو سره بیعه نه کیږي ځکـه اخـستونکی او خـرڅوونکي دواړو ته د عقد یا د وعده کړی شوي نرخ نه د انکار اجازت شته او که د دې نه قطع نظر وکړی شي او په کومې طریقې سره بیع وشي نو بیا هم د قیمت کمول په خوښه او رضا سره جـائز دي او په تپوس شوي صورت کې تراضي ثابته ده لهذا په دواړو تقدیرونو (اندازو) باندې د روپـۍ واپس کول جائز دي. ۱۵ جمادی الاول ۱۳۲۱هـ، (امداد ثالث صـــ ٦).

## د خرڅولو نه وروستو لږ څیزونه زیات ورکول

**سوال**: (۸) د سودا اخستلو نه بعد چه خرڅوونکی ماشومانو یا لویو ته څه ورکوي کـوم تـه چـه چونګی وائي هغه مطلقاً جائز ده او که د اجبار نه بغیر جائزه ده؟

**جواب**: دې ته زیادة في المبیع وائي، اودفقهاودتصریح مطابق مباحه ده مګر په رضا باندې. فقط والله اعلم.

## په خرڅوونکي باندې د بارولو په شرط یو څیز خرڅول او اخستل

**سوال**: (۹) دلته دستور او عرف دا دی چه کله د دکاندار نه د یوې روپۍ یا د دې نه د زیاتې غله واخستل شي نو هغه ئې د اخستونکي کور ته رسوي، یا د هغې مزدوري ورکوي، دا بیع صحیح ده او که نه؟

**جواب**: د اصل قاعدې د مخه د خرڅوونکي رسول درست نه دي مګر کوم ځاي کې چه عام عادت شي نو هلته د تعامل سبب د جواز ګنجائش دی؛ او منظورې ورکول په يو تاويل سره جائز دي او هغه تاويل خط ثمن دی. ۳ ذی الحجه ۱۳۳۲هـ

## د خرڅوونکي کارکنانو له رشوت ورکول چه مال نه ورکړي

**سوال**: (۱۰) کومه مالګه چه سرکاري طور سره راځي هغه ميده وي او د غټې مالګې قدر زيات دی، بلکه که داسې وويل شي چه که غټه مالګه وي نو د ميده څوک تپوس هم نه کوي او کله کله اتفاقاً غټه مالګه هم راځي، زه دا کوشش کوم چه په څه طريقې سره غټه مالګه راشي ترڅو مال زر ووځي، ما يو دوه کسانو ته چه دکان سره نزدې اوسيږي د دې ذکر هم وکړو نو هغوئ راته دا طريقه وښوده چه کوم کسان چه د مالګې ډکولو والا دي د هغوئ سره دې خبره وکړی شي او په هر ګاړي کې دې هغوئ له څه ورکوي او دا ورته وويل شي چه مونږ ته په ګاړي کې غټه مالګه اچوي نو هغوئ به همداسې کوي ځکه چه نور تاجران همداسې کوي، نو اوس زه دا تپوس کوم چه داسې کول په رشوت کې داخل دي او که نه؟

**جواب**: (اوله مقدمه): کله چه په عقد کې اطلاق وي چه که حکومت غټه مالګه راکوي او که ميده، د اخستونکي خاص حق د مالګې سره متعلق نه وي، او په تقييد سره چه غټه دې واخستل شي به خاص د غټې سره متعلق شي.(دويمه مقدمه): چاته د هغه حق نه ورکول ظلم دي.(دريمه مقدمه): د ظلم لرې کولو دپاره رشوت ورکول جائز دي.د دريمې مقدمې نه ثابته شوه چه په اطلاق کې رشوت ورکول حرام دي او په تقييد کې جائز. ۲۰ جمادی الاولی ۱۳۲۱ هـ (امداد ثالث صـ۷).

## د خرڅولو نه بعد د خرڅوونکي نه قيمت واپس اخستل جائز

## نه دي مګر د کافر حربي نه د هغه په رضا جائز دي

**سوال**: (۱۱) کله چه د مالګې قيمت کم شو نو هلته زما يو ګاړی مالګه وه، د نرخ ارزانيدو د وجې نه زما اتيا روپئ تاوان وشو، او حکومت د مالګې ارزانيدو اطلاع د وړاندې نه نه وه ورکړې، نو اوس د حکومت زما د تاوان روپئ اخستل جائز دي او که نه؟ بعضې خلکو مقدمه هم کړې ده، زه تاسو نه د تپوس نه علاوه داسې ونه کړم؟



**جواب**: فی الهداية نقصان السعر عبارة عن فتور رغبات الناس وذلك لايعتبر فی البيع حتى لايثبت به الخيار فی الكفاية يعنی اذا تغير سعر المشتری قبل القبض لايثبت الخيار. کله چه د قبض نه وړاندې د اخستونکي څه حق نشته نو د قبض نه وروستو کله دا حق لري، البته که خرڅوونکی د مسلمان نه علاوه کافر يا ذمي وي او د خپل قانون موافق په رضا باندې څه ورکړي اګر که په هر عنوان وي نو د داسې مالونو د اباحت په بناء باندې درخواست کول او اخستل جائز دي. ۲۵ جمادی الاول ۱۳۲۱هـ امداد ث۳الث صـ۷.

## د هغه شبهې حل چه حکم نې د ملک په بدليدو بد ليږي

**سوال**: (۱۲) تبدل عين به تبدل ملک په دې کې څه لږه اشتباه ده، که د دې معنی همدا وي کومه چه په فتاوی او اشرفيه کې د حضرت بريره رضي الله عنه د قصې په حوالې سره نقل ده چه د اول سره په هغه حلاله طريقه دا څيز راشي چه د بل لپاره حلال نه وي مګر د هغه لپاره جائز دي، نو اکثره فقهي مسائل چه په دې باندې متفرع دي لغو شي خصوصاً بيوع فاسده. اول خرڅوونکي ته د فساد د وجې نه د بيع اقاله کول ضروري دي او دويم له نه، مثلاً په خامه ونه واخستل شو او د ملک متبايعين د اشتراک باعث يا صفقه في صفقه يا شرط في بيع باعث په مبيع کې فساد راغلو نو اقاله ضروري ده، او د بې مشتري له د پخيدو په بناء باندې د هغې استعمال ناجائز، مګر په بازار کې خرڅيږي او خلک ئې اخلي او خوري ئې، د هغوئ لپاره د ملک د تبدل په وجه د حلت فتوا ده، نن صبا چه کله بيوع فاسده عموماً شائع او خواره دي نو يو څيز به هم د استعمال قابل پاتې نه شي؟

**جواب**: شايد په تعبير کې څه کوتاهي کړی شوې ده، عجيبه نه ده زما مطلب دا دی چه خلکو چه مطلقاً څه ګڼل دي چه هر څنګه حلال څيز که وي که هغه بل چاته ورسيږي نو حلاليږي، دا بالکل غلطه ده ځکه چه مخلوط اموال په کوم کې چه اکثره حصه مغصوب يا ربا يا رشوت وي، د فقهاو په تصريح د نورو لپاره همداسې حرام دي، لکه د اول لپاره، حال دا چه تبدل ملک دلته هم شته دی، نو ځکه د دې قاعدې تفسير کول مقصود دي، د کوم نه چه غرض د عموم ابطال او د حلالوالي د حکم حلت دی، د دې تفسير خلاصه دا ده چه کوم څيز د اول لپاره په اصل حلال وي، د وصف د وجې نه به د کوم عارض د وجې په دې کې کراهت پيدا شي، هغه به د بل لپاره حلال وي، او چونکه بل ځاي کې داسې عارض نشته دی، نو ځکه هغه عبث هم عارضي نه دی، او په

سکوت وکړو، تر یوولس کالو پورې کوم ولي د بیع دپاره نه اقرار وکړو او نه انکار نو دا سکوت به شرعاً د هغوئ اجازت وي او که نه؟ او که د زید د ځامنو اولیاو دا قیمت په خپل لاس زید پسې صدقه کړی وي نو آیا دا په خپل لاس سره په کې تصرف کول شرعاً اجازت دی او که نه؟ کــه د دې سکوت یا تصرف د وجې نه بیع نافذه شي نو د زید ځامنو له به د دې بیع د منسوخي د کولــو استحقاق وي او که نه؟ او که د یوولس کلونو د تیریدو نه بعد د زید زامنو د بیع اجازت ورکړي یا د هغې نه انکار وکړي نو د سکوت باوجوډ چه په تیره زمانه کې او د هغې تصرف چه ذکــر ئــې ورانديې وشو اقرار یا انکار معتبر وي، د زید د زامنو د بالغیدو باوجود به د هغوئ د اولیاو اقرار یا انکار معتبر نه وي، اخستونکی به د چا نه قیمت وصولوي؟ آیا د زید زامن د قیمت ادا کولو نه بغیر په ځمکه باندې قبضه کولی شي، او که نه د قیمت ادا کولو نه بعد به قبضه وکړی شي او شــرعاً د بلوغ وخت پنځلس کاله دی او کوم اتلس کاله. مفتی په قول کوم یو دی، مهرباني وکړئ په تفصیل سره جواب راکړئ، د کتابونو د حوالې سره ځکه چه دواړه ډلې بالکل جاهلې دي، ټول مجوزه او غیر مجوزه احتمالات لیکلی شوي دي او د دواړو ډلو تسلي به په همدې کې وي، که ممکن وي نو زر جواب راکړئ. الله ﷻ دې تاسو ته د دې اجر درکړي.

جواب : د نابالغو د عقار چونکه اولیاو ته هم اختیار نشته دی، لهذا دا بیع به باطله وي، موقوف هغه عقد وي چه بالفعل ئې کوم مجیز وي او دلته دا شرط نشته دی، لهذا باطل به وي که د بلــوغ نــه وروستو بیع استینافاً وکړي نو صحیح ده کنه نو اجازت ورکولو سره به هم نه صــحیح کیــږي او کومې روپئ چه مشتري په بیع کې مصرف کړي دي، د هغې تاوان په هغه کس باندې دی د کــوم لاس ته چه هغه روپئ رسیدلې دي، د دې وجې نه د نابالغو حق چه کوم اخستونکي له جــائز نــه دي، د دې تقریر نه انشاء الله د ټولو حصو او احتمالاتو جواب وشو. والله اعلم. ۱۸ ربیع الثانی ۷ ۱۳۲ھ تتمه اول ص ۱۴۹.

## د مشترک جائیداد خرڅول یا ګانه کول

سوال :(۱٦) علماء کرام په دې باب کې څه فرمائي چه یوه مسلمانه کونډه د خپل خاوند خولــه ترکه د نورو ورثه و په موجودګئ کې خرڅولی یا ګانه کینبودلی شي؟ که همداسې کومه کونــډه مذکوره جائیداد خرڅ یا ګانه کړي نو هغه به باطل ګڼل کیږي او که صحیح، بینوا توجروا؟

جواب : په دې کې چه څومره حصه شرعاً د نورو ورثه ده او هغه وارثان په دې خرڅولو او ګانه



کولو راضي نه دي نو د نورو په حصه کې خرڅول او ګانه کول بالکل باطل دي، او څومره چه د دې کونډې شرعي حصه ده د هغې حکم دا دی چه ګانه خو باطله ده او خرڅ به صحیح شي نــو خلاصه دا شوه چه ګانه کول خو بالکل ناجائز شو او د خپلې حصې خرڅ وشو د نورو د حصو نــه کیږي البته که جائیداد تقسیم شوی وي نو د خپلې حصې ګانه کول به هم صحیح وو. فی الدرالمختار بخلاف قن ضم الی مدبرونحوه فانه یصح اوقن غیره وفیه وقبضة المرتهن محوذاً ممیزاً لامشاعاً والله اعلم وعلمه اتم ۷ رمضان/ ۱۳۲۳ھ/ امدادثالث/ ص ۱۵]

## حربي کافر که په خپلوان باندې څه خرڅ کړي

سوال :(۱۷) فلواهدٰی ملك من اهل الحرب الی مسلم هدیة من احرارهم ملك الااذا كان قرابة ولودخل دارهم مسلم بامان ثم اشتری من احدهم ابنه اخرجه الی دارنا قهراملكه واكثر المشائخ علی انه لايملكهم فی دارهم وهوالصحیح وعن محمد ان يملكه حتی لايجبر علی الردعن ابويوسف يجبروقال الكرخی ان كانوا يرون جواز البيع فالبيع جائز والافلا كما فی المحيط وفيه اشعار بان الكفافی دارهم احرار وليس كذلك فانهم ارقاء فيها وان لم يكن ملك لاحد عليهم علی مافی عتاق المستصفی وغيره اه جامع الرموز نولكشوری ص ۵۴۶ تنبيه فی النهر عن منية المفتی اذاباع الحربی هناك ولده من مسلم عن الامام ان لايجوز ولايجبر علی الردوعن ابی يوسف انه يجبراذاخاصم الحربی ولودخل دارنا بامان مع ولده فباع الولد لايجوز فی الروايات آه ای لان فی اجازة بيع الولد نقض امانه كما فی ط عن الولوبجية اه، شامی مجتبائی، ج ۳، ص ۳۴۳ ، وفی المحيط مسلم دخل دارالحرب بامان فجاء رجل من اهل الحرب بامه اوبامولده اوبعمة اوبخالة قد قهر اوبامولده اوبعمة اوبخالة قد قهرها يبيعها من المسلم المستامن لايشتربها منه لان الحربی ان ملكها بالقهر فقد صارت حرة فاذاباعها منه ينظران كان الحكم عندهم ان من قهر منهم صاحبه فقد صار ملكه جاز الشراء لانه باع المملوك وان لم يملكه لايجوز لانه باع الحراه بحرالرائق [ج ۵ / ص ۳۴۳] د جامع الرموز او شامي د عبارت نه واضحه ده چه بیعه صحیح کیږي یا رد کول ئې واجب نه دي البته احراز بدار الاسلام بعضو شرط کړی دی، پــه دې بــاره کــې ستاسو څه رایه ده، د بحر الرائق د عبارت نه معلومیږي چه جائزه نه ده ځکه چه که په قهر ســره ئــې مالک هم شو نو د ذي رحم محرم د وجې نه به آزاد شي ځکه بیع حر ده، لیکن دا عجیبه ده ځکه چه په فروعو باندې کفار حربي مخاطب نه دی، نو د ذي رحم محرم د مالک کیدو د وجې نه بــه هغــه آزاد څنګه شي، او که مونږ فرض کړو چه آزاد شو نو بیا د مسلمان په قبض کیدو باندې ملک کیدل پکــار دي، غایة ما في الباب بیع صحیح نه شوه، غرض دا چه پوره تشفي او تسکین نه حاصلیږي؟

**جواب**: د غور کولو سره دا معلومیږي چه په روایتونو کې تعارض نشته دی، البته اجمال او په یو کې د یو قید او په بل کې د بل قید اهمال دی، او د مجموعې په اعتبار سره مقصود متحد دي په جامع الرموز کې ئې چه کومه استثناء کړې ده، الا اذا کان قرابة له، په دې کیدله، ضمیر ملک طرف ته معلومیږي او دا استثناء په دې باندې مبنی ده چه قرابت محرمیة د عتق موجب دی لیکن په دې کې به قید دا وي چه کله د اهل حرب دا مذهب وي چه کوم کس د خپلې ذي قربت مالک نه وي، لکه څنګه چه د کرخي په قول کې او د بحر په آخري عبارت کې تصریح ده او دا شبهه چه استیلاء مسلم خو په دې باندې وموندل شوه نو د دې وجې نه مدفوع دی چه دا استیلاء په دار الاسلام کې حاصله شوې ده، او د قهر په طور نه ده شوې، البته که په دار الحرب کې وي یا په دار الاسلام کې قهراً وي نو د ملک موجب کیدی شوه، او د شامي په عبارت کې ئې چه کوم لا یجوز ویلي دي په دې کې هم همدغه قید معلومیږي چه کله هغوئ اهل حرب دا بیع جائز نه ګڼي، او غالباً دغه قائلین به د خپلې زمانې د حربین خیال ثابت شوې وي، او د لا یجبر وجه دا ده چه دلته استیلاء د مسلمان په دار الحرب کې شوې دي، کوم چه د ملک موجب دی، او په بحر کې ئې چه کوم لا یشتریها او باع الحرة ویلي دي هغه هم د هغه مذکور قید سره مقید دي او په دې کې مطلق د ملک نفي نه ده، بلکه د قواعدو نه معلومیږي چه مسلم به د قبض د وجې نه مالک شي، لیکن چونکه د مستامن داسې فعل چه کوم دا خلک د دوئ دپاره ناجائز ګڼي او هغه داسې کار د حلال په دلالت کړی دی دا فعل عذر دی، څکه لا یشتریها وائي او د فروعو نه مخاطب کیدل به زمونږ د طرف نه وي، نه دا چه پخپله د هغوئ معتقدات هم په هغوئ باندې حجت وي او دا چه احراز بدار الاسلام شرط دی، او که نه دی، ظاهراً د قواعدو له مخې اشتراط راجح معلومیږي لکه څنګه چه د غنائمو د احکامو نه معلومیږی، امید دی چه ټول اشکالات رفع شوي وي او که څه پاتې وي نو رجوع وکړئ. والله اعلم. د دې تحریر نه فتوئ مقصود نه ده څکه چه هغه د نقل محتاج دی، بلکه د عبارتونو توجیه مقصود دي. فقط والله تعالی اعلم. ۱۳ ذی الحجه ۱۳۲۳ هـ (امداد جلد سوم صـ ۱٦).

## جائیداد د حفاظت په غرض سره د چا په نوم خرڅول

**سوال**: (۱۸) قرضدار د سود خور د وجې نه خپل جائیداد د خپلې ښځې په نوم ورخرڅ کړو، په دې کې وخت تیر شو نو د ښځې او خاوند د مرګ نه بعد چونکه د هغوئ زامن نه وو نو جائیداد د



لورګانو په نوم بغیر د هغوئ د وینا نه په حکومتي کاغذاتو کې ولیکل شو، او تر ډیرې مودې د دغه جینکو د تره زامنو د دغه جائیداد حاصل وصولولو او هغوئ ته ئې ورکولو، او هغوئ په خپل کارونو کې مصرفول، اوس لس کاله بعد د تره زامن د دې خبرې خواهش کوي چه د دې جائیداد نه مونږ ته حصه ملاویدل پکار دي، مقصد دا دی چه دا بیع نامه کوم چه دغه کس د مصلحت د وجې د خپلې ښځې په نوم کړې وه او ډیرې مودې پورې د هغې په نوم وه، خاوند د ښځې نه وړاندې وفات شوی وو، د هغې د لورګانو په نوم جائیداد نقل شو او تر یوې مودې پورې ترې هغوئ فائده اخستله نو اوس به د تره زامنو ته څه ملاویږي او که نه؟ او دا ټوله معامله صحیح شوه او که نه؟

**جواب**: دا بیع هزل ده، د دې حکم دا دی چه که متعاقدین د دې په هزل کیدو متفق وي نو بیا خو به هغه مبیع د بائع ملکیت ګڼل کیږي او د هغه په وفات به د هغه په وراثانو تقسیمیږي او که متعاقدین متفق نه وي، مثلاً د چا په نوم چه خرڅ شوی دی د هغې د مرګ نه بعد د هغې وارثان د حقیقي بیعې مدعیان وي نو هغه به بیع نافذوي او په چا چه خرڅ شوی د هغې ملکیت به ګڼل کیږي او د هغې د مرګ نه بعد به د هغې په وارثانو تقسیمیږي، نو په تپوس شوي صورت کې که د ښځې وارثان بالغین وي او دا ومني چه دا بیع فرضي وه نو بیا خو به د خاوند د وفات نه بعد د ښځې او لورګانو سره د دغه لورګانو د تره زامن هم د شرعي حصو په اندازه شریک وي او که د ښځې وارثان دا تسلیم نه کړي بلکه دې ته واقعي بیعه وائي نو د هغه تره زامنو ته به میراث نه ملاویږي بلکه صرف د ښځې په وارثانو به ټول جائیداد تقسیمیږي. فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم. ۱۹ ذی الحجه ۱۲۲۳ هـ (امداد ثالث صـ ۱۷).

## د بعضې وارثانو په نوم فرضي هبه یا بیع

**سوال**: (۱۹) زید د صحت او د عقل د ثبات په وخت خپل مملوک او مقبوض جائیداد غیر منقوله زرعي او د اوسیدو د خپلو اولادونو چه څلور زامن او درې لورګانې دي نه صرف د هلکانو په نوم هبه کړو او رجستر ئې کړو، د لورګانو په خفه کیدو باندې ئې په ژبه دا وویل چه زما مقصد د لورګانو د میراث نه محرومول نه دي، دا صرف د مصلحت د وجې داسې کړی شوی دی، هبه نامه د رجستر کیدو نه بعد چه څومره وخت زید ژوندی وو نو هغه پخپله جائیداد باندې قابض وو او د څلور

واړو موهوب لهم ترمنځ جائيداد شريک وو، نه خو دوئ قابض وو او نه ئې تقسيم وکړو، اوس زيد وفات شو او لورګانې ئې د ميراث غوښتنه کوي، شرعاً ورته حصه ملاويدی شي او که نه؟

دويم سوال: په تپوس شوي صورت کې که د هبه نامې په ځاي د هلکانو پلار فرضي بيع نامه رجستري کړي او باقي صورت همدغه شان دی، نو دا هبه يا بيع فرضي شرعاً معتبره ده او که نه؟

**جواب** : عن الاول فی الدر المختار وهب اثنان دار الواحد صح وبقلبه لكبيرين لا عنده للشيوع فيما يحتمل القسمة اما مالا يحتمله كالبيت فيصح اتفاقا قيد نابكبيرين لانه لو وهب لكبير وصغير في عيال الكبير اولابنيه صغير وكبير لم يجز اتفاقا في رد المحتار قوله لم يجز والحيلة ان يسلم الدار الى الكبير ويهبها منهما، بزازيه وافاد انها للصغيرين تصح لعدم المرجح لسبق قبض احدهما وحيث اتحد وليهما فلا شيوع في قبضه. (ج۴/ صه ۷۸۶)

د بره عبارت نه معلومه شوه چه په تپوس شوي صورت کې که ټول موهوب لهم نابالغه وو نو بيا خو دا صحيح شوه او صرف د واهب (پلار) دا ويل چه دا د مصلحت د وجې نه کړی شوی دی، معتبر نه دي، او په دې صورت کې به په موهوب جائيداد کې ميراث نه جاري کيږي، او ټول لوي يعنې بالغه وو يا بعضې بالغان او بعضې نابالغه وو نو دا هبه د هبې د شروطو د نه موجوديدو د وجې نه صحيح نه ده، او په دې صورت کې د زيد لورګانې هم د ميراث مستحقې دي.

**جواب** : (الثانی): فی الدر المختار بیع التلجیة قبیل کتاب الکفالة ولو تبایعا فی العلانیة ان اعترفا ببنائه علی التلجیة فالبیع باطل لاتفاقهما انهما هزلا به والافلازم، د دې روايت نه ثابته شوه چه دا کس د چا په نوم چه بيع يا هبه ده اقرار کوي چه دا فرضي وه نو بيع او هبه کالعدم ده کنه نو نافذه وه. والله اعلم. ۱۷ صفر ۱۳۲۵هـ (امداد ثالث صـ۱۹۷).

## په قباله کې د ښځې نوم ليکل

**سوال** :(۲۰) زيد په خپلو روپو باندې کور واخستلو او په قباله کې ئې د خپلې ښځې نوم د څه مصلحت د وجې نه وليکلو او ايجاب و قبول د زيد او خرڅوونکي ترمنځ وشو او کاغذي رجستري ئې هم وکړی شوه، د دې نه وروستو هنده وفات شوه او هندې مهر معاف کړی وو، په دې صورت کې کور د زيد دی او که د هندې د وارثانو؟ (مولوي راغب الله از پاني پت؟).

**جواب** :د بيع رکن ايجاب وقبول دی د چا ترمنځ چه ايجاب و قبول وشو د هغوئ ترمنځ بيع واقع شوه نو کله چه ايجاب و قبول زيد وکړو نو د هغه ملک يقيناً ثابت شو اوس به د ملک انتقال د صحيح او معتبر غور نه بغير نه کيږي، صرف دا چه د مصلحت دوجې نه ئې ليکلی وو، سره به د



زيد ملکيت نه زائل کيږي او همداسې د هندې ملکيت نه ثابتيږي ترڅو چه کوم صحيح عقد او معتبر عقد د ملک دپاره واقع نه شي، حال دا چه هميشه دپاره ئې مالکانه تصرف پخپله کولو او اوس هم خپل ځان ته مالک وائي نو دې کې د هندې وارثان د دعوې کولو حق نه لري او که دا هبه په صحيح ګواهانو يا اقرار سره ثابته کړي نو په هغه وخت کې به دعوه صحيح وي.

(وبیع التلجیه] وهوان یظهرواعقدا وهما لایریدانه یلجاء الیه بخوف عدو ولیس ببیع فی الحقیقة بل کالهزل.
جلد۴ صـ ۲۴۴ نو کله چې بيلولو کې د عاقد په عقد کې صحيح نه وی نو بغير عاقد لپاره په درجه اولی نه ثابتيږی والله اعلم فقط اللهم اعف عنی وعن جميع المسلمين (امداد ثالث /صـ۲۷)

## په بيع مرابحه کې د ثمن د مثليت شرط

**سوال** :(۲۱) دلته دا رواج دی چه ملک کېږې دوه طريقو سره اخلي يو دا چه قيمت کې ئې نغدې روپئ ورکوي، دويم دا چه روپئ هم ورکوي او سوټ هم د بازار د نرخ نه لږ په زيات قيمت ورکوي نو په کوم صورت کې چه صرف روپئ ورکوي مثلاً په څوارلس آنې ئې اخلي او که روپئ او سوټ دواړه ورکوي نو په څوارلس نيمې آنې ئې اخلي نو څه حکم دی؟ نو کوم کس چه دا دواړه ورکړي او کېږه ئې اخستلې ده که د دې د وجې نه کومه کېږه في تان مثلاً يوه آنه ګټه ورکړي او وائي خلي نو هغه منافع به په څوارلس آنې اخلي او که په څوارلس نيمې آنې باندې، او اصل قيمت به کوم معتبر وي؟

**جواب** :دا بيع مرابحه ده، دا هله صحيح ده چه ټول قيمت نقد يا مثلي وي او بل مشتري همغه ورکوي، نو په کوم صورت کې چه په بعضو نغدو او څه د سوټ په بدله کې نان اخستل شوې دي او بل مشتري ټول نغدي ورکوي نو په ګټه باندې ئې خرڅول درست نه دي. فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم. ۲۵ محرم الحرام ۱۳۲۴هـ (امداد ثالث صـ۱۸).

## تعامل، د کوم چه فقهاو اعتبار کړی دی د هغې تحقيق

**سوال** :(۲۲) دا خبره هم د تحقيق وړ ده چه فقهاء په اکثره مسائلو کې مثل استصناع وغيره ليکي چه تعامل لره اعتبار دی، د تعامل نه مراد څه دی؟ د کومې زمانې تعامل معتبر دی، بعضې بعض جز ئې داسې دی چه د صحابه و او تابعينو په زمانه کې موجود نه وو په هغې کې د تعامل اعتبار کيدی شي او که نه؟ لکه په مطبع کې د کتاب چاپ کولو کې د استصناع اعتبار کيدی شي او که نه؟

بعدالصحابة
جواب : قال فی نورالانوار وتعامل الناس ملحق بالاجماع وفيه ثم اجماع من بعدهم ای بعد الصحابة من اهل کل عصر اهـ دې نه معلومه شوه چه تعامل هم د اجماع په شان د کومې زمانې پورې خاصه نه ده، البته کوم چه د اجماع رکن دی هغه پدې کې هم موجودېدل ضروري دي، یعنې د دغه وخت علماء باید د دغه کار نه انکار نه کوي، همداسې فقهاو د ډېرو نوي جزئیاتو د جواز په تعامل سره احتجاج کړی دی. کمافی الهدایه فی البیع الفاسد ومن اشتری نعلاً علی ان یحذوه البائع الی قوله یجوز للتعامل فیه فصار کصبغ الثوب وللتعامل جوزنا الاستصناع وفیها فی المسلم ان استصنع الی قوله للاجماع الثابت بالتعامل اهـ ص ۳۵. نو په دې بناء باندې د کتاب چاپ کول به په استصناع کې داخل وي. والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم. ۲۶ محرم الحرام ص ۱۳۲۴ هـ (امداد ثالث ص ۱۹).

## د مورث د قبضې نه وړاندې د جائیداد خرڅول

سوال :(۲۳) د[1] مسنون سلام نه وروستو عرض دا دی چه یو کس وفات شو، یو څو وارثان ئې پرېښودل، د ټولو وارثانو نه یو وارث د قبضې نه وړاندې څه ځمکه او باغ او کور وغیره چه خپله حصه کې ئې راتلل خرڅ کړي، اخستونکی او قابض وارثانو د څیز متعلق جدا جدا فتوی طلب کړې وه، اول دواړه فتوی ګانې د تصدیق لپاره درلېږل کېږي، او عرض دا دی چه جواب دې زر راکړی شي ترڅو تردد ختم شي، د دین علماء په دې باره کې څه فرمائي چه کوم څیز د چا په قبضه کې نه وي او هغه خرڅ کړي؟

جواب :حرامه ده، جائز نده، لکه څنګه چه د مشکوة په کتاب البیوع باب المنهی عنها من البیوع کې دی، وعن حکیم بن حزام رضی الله عنه قال نهانی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان ابیع ما لیس عندی رواه الترمذی وعن ابن عباس رضی الله عنهما قال اما الذی نهی عنه النبی صلی الله علیه وسلم فهو الطعام ان یباع حتی ان یقبض قال ابن عباس رضی الله عنهما فلا احسب کل شئ الامثله فقط (کتبه عبدالله مدرس احمدیه آره)

(د اخستونکي د فتوا نقل): علماء په دې باره کې څه فرمائي چه یو مورث څو وارثان پرېښودل او وفات شو، د ټولو وارثانو د جملې نه یو وارث په جائیداد قبضه نه وه کړې، او ټوله ترکه د نورو وارثانو په قبضه کې وه، چا چه قبضه نه وه کړې هغه خپله حصه په چا باندې خرڅه کړه، په دې صورت کې بیع جائز شوه او که نه؟

---

۱ - د دې مسئلې درې جوابونه دي: درې د محبسپانو سره لیکلی شوي دي، دریم جواب د حضرت مولانا صاحب مظلهم دی، او د ده څخه مخکې نقل کړی شوی دی، چه په دریم جواب کې د دې سره تعرض کړی شوی دی ۱۲.



(هو المصوب) مورث ته چه کومه ترکه پرېښوده هغه صرف د کرلو ځمکه، کور او ونې وغیره دي، د قبضې نه وړاندې د غیر منقول بیع صحیح ده، په دې شرط چه د هلاکېدو وېره ئې نه وي. کمافی الدرالمختار صفحه ۱۷۹ مطبوعه مصر جلد رابع، علی حاشیه ردالمحتار صح بیع عقار لایخشی هلاکه قبل قبضه من بائعه وفی ردالمحتار قوله من بائعه متعلق بقبض لابیبع ایضاً په درمختار همدغه صفحه کی دی، فلایصح بیع منقول قبل قبضه عالمکیریه کی جلد ثالث صفحه ۱۰، کی دی. من حکم المبیع اذا کان منقولا ان لایجوز بیعه قبل قبضه وایضاً فی الهدایة صفحه ۷۷ مطبوعه لکهنؤ یجوز بیع العقار قبل القبض عند ابی حنیفة رحمه الله وابی یوسف رحمه الله الخ، د بره مفتي د کتابونو نه ظاهرېږي چه د ځمکې، کور وغیره په شان څیزونو خرڅول کوم چه غیر منقول وي د قبضې نه وړاندې جائز دي، کله چه د هلاکېدو وېره نه وي، کتبه محمد عمر. د دې جواب سره کما حقه تشفی نده شوې، ځکه چه په دې کې دا عبارت دی (کله چه د هلاکېدو وېره نه وي) د دې مطلب معلوم نه شو چه کله د هلاکېدو وېره ده او کله نه ده؟ فقط. مکرر عرض دا چه د دې مسئلې د حل کولو دپاره د "بهشتي زیور"، "جنتي کالی" پنځمه حصه وکتل شوه په هغې کې د بیع باطل او فاسد متعلق دا مسئله ده. "مسئله": د ځمکې او کلي او کور نه علاوه چه څومره څیزونه دي د هغې د اخستلو نه بعد چه څو پورې پرې قبضه ونه کړي تر هغه وخته ئې خرڅول صحیح نه دي، پدې سره د وراثت څیز که هغه منقول وي او که غیر منقول که قبضه شوې نه وي د هغې خرڅول ناجائز معلومېږي، امید دی چه په جواب کې فقهي کتابونو حواله او حدیث ذکر کړئ.

جواب :په تپوس شوې صورت کې مبیع عقار دی، کوم چه په میراث کې خرڅوونکي ته رسېدلی دی، او کوم چه د علماو اختلاف دی چه د قبض کولو نه وړاندې د څیز خرڅول جائز دي او که نه او امام محمد ورته مطلقاً ناجائز وائي او امام ابو حنیفه او ابو یوسف په منقول کې ناجائز وائي او په عقار کې جائز، په دې شرط چه د هلاکېدو وېره په کې نه وي، او وېره دا چه مثلاً هغه مبیع د کور بره حصه ده، او لاندې حصه خرڅه نه کړی شي نو که لاندې حصه وغورزېږي نو بره حصه به بالکل ضائع شي او داسې به ضائع شي چه مالک به ئې په جوړولو قادر نه شي، یا هغه کور یا ځمکه د سیند په غاړه ده او په هغې د اوبو راوختلو احتمال دی، یا کومه داسې موقع ده په کوم ځاې کې چه په ریګ کې د دننه کېدو احتمال غالب دی. کمافی الدرالمختار وردالمختار الجلد الرابع فصل التصرف فی المبیع والثمن. نو دا ټول اختلاف د هغه څیز په بیع کې دی کوم چه په کوم عقد کې عوض

ملك بعقد ينفسخ بهلاكه کل عوض ... ضابطي نه معلوميږي، لکه څنګه چه د دې ضابطي نه معلوميږي کل عوض ملك بعقد ينفسخ بهلاكه قبل قبضه فالتصرف فيه غير جائز وما لا فجائز عينی كذا فی الدر المختار الجلد المذكور صــــ۳۷. او پخپله چه دويمه فتاوی کې کوم روايات نقل دي په هغې کې هم تصريح ده چه مقصد ئې بيانول دي، د حكم بيع ما ملكه بالبيع قبل القبض؛او په تپوس شوي صورت کې دا مبيع د کوم عقد د وجې نه په ملکيت کې نه دي راغلي، بلکه ميراث سره په ملک کې راغلي دي، په کوم کې چه د انفساخ احتمال نشته دی، نو داسې څيز د علماو د اختلاف محل نه دی، بلکه د موصوف ائمه و په نزد بالاجماع مطلقاً په دې کې دا بيعه درسته ده که مبيع منقول وي او که غير منقول، لهذا د امام محمد بلا خلاف دا بيع جائزه ده. اما الحديث المنقول فی الفتوی الاولی فهو ايضاً محمول علی ما ذكر كما يفسره ما اخرجه النسائی فی سننه الكبری (كما فی تخرج الزيلعی) عن حكيم بن خزام رضی الله عنه قال قلت يا رسول الله ان رجلا ابتاع هذه البيوع وابيعها فما يحل لی منها كما فی هداية غرر انفساخ القعد علی اعتبار الهلاك لانه اذ هلك قبل القبض ينفسخ البيع وعاد الی قديم ملك البائع فيكون المشتری بائعا ملك غيره الخ كذا فی الكفاية والحديث الذی فيه النهی عن بيع ما لم يقبض معلول به عملا بدلائل الجواز كما فی الهدية باب المرابحة والتولية وظاهر ان هذه الغرر منتف فی المملوك بحكم الارث لعدم احتمال الانفساخ فيه كما ظاهر فلا يشمله الحديث ولا قول محمد رحمه الله فافهم وتامل،

د جواب خلاصه دا شوه چه که دا مبيع منقول څيزونه هم وي نو بيا هم به بيعه جائزه وي او که غير منقول في معرض هلاک وي نو بيا به هم جائز وي نو دلته په درجه اول سره او بې شکه بيعه صحيح شوه البته که دا مبيع د داسې څيز په قبضه کې وي چه خرڅوونکی ئې ترې نه شي اخستلی او نه ئې اخستونکی ترې اخستلی شي نو د غير مقدور التسليم کيدو د وجې نه به بيعه جائزه نه وي.على الاختلاف بين كونه فاسدا او باطلاً كمافی الدر المختار ورد المختار صـــ۱۷۳-۱۷۴ من الجلد الرابع / ۱۳۲۴هـ ( امداد ثالث / صـــ ۱۹)

## داسې کس باندې څمکه خرڅول چه هغه په کې مندر جوړوي

**سوال** :(۲٤)علماء په دې مسئلة کې څه فرمائي چه زيد خپله څمکه د حاجت د وجې نه په يو هندو باندې خرڅول غواړي او غالبه دا ده چه دا هندو به په دغه څمکه باندې شواله وغيره جوړوي، په دې صورت کې زيد له د مذکورې څمکې په هندو باندې خرڅول جائز دي او که نه؟

**جواب** :جائز دي. ولا بأس ببيع العصير ممن يعلم انه يتخذه خمراً ومن اجر بيتا ليتخذ فيه بيت نار او كنسية اوبيعة او يباع فيه الخمر بالسواد فلا بأس به هداية، ج ۲ صـــ ۴۵۶ والله اعلم ۴ شعبان / ۱۳۰۴هـ / ( امداد ج ۳/ صـــ ۲۶)



په کومه څمکه باندې د کفارو د قبضې د وجې نه د ملک موجب کيدل او په دې باندې د ونو لګولو والا به د ونو مالک وي.

**سوال** :(۲۵) يوسرک حکومت جوړ کړو او قيمت ئې زميندارانو ته ورنکړی شو او وجه دا وښودل شوه چه په دې کې د عوامو فائده ده نو د قاعدې د مخې قيمت نه شي ملاويدی، او د سرک غاړو ته د ونو لګولو عام خلکو ته په دې شرط اجازت ورکول کيږي چه د ونې لګولو والا به د ونې مالک وي او د ونې د وچيدو نه وروستو هغه دا ونه وړلی شي او لونده ونه به د حکومت وي، آيا د ونې لګولو والا د دې ميوه دخپل ملکيت په طور خرڅولی شي او که نه؟ دا شرعاً جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا؟

**جواب** :د حکومت لاس ته راتللو نه وروستو د اصلي مالک د لاس نه هغه ووتله، کله چه حکومت په دې کې د ونو اجازت ورکړو نو د دې ميوه هم د هغه کس ده چا چه دا ونه ناله کړې وي، نو څکه ورله د دې ميوې خرڅول جائز دي مګر کله چه ميوه ښکاره شوې وي او د کارولو وړ وي.

۱۱ صفر المظفر ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی صـــ۱۴۹).

## په نسخه کې د ليکلی شوې دواګانو د اندازې

## نه کم ورکول يا د تيارو شوو دوايانو نه بعضې ساتل

**سوال** :(۲٦)د يو حکيم صاحب د نګرانۍ لاندې يو عطار بعضې مفرد او مرکبې دوايانې خرڅوي هغه داسې چه حکيم صاحب د مريض د حال مطابق نسخه ليکي او عطار ته ئې ورکوي نو مريض ته د دې معلومات هم نه وي چه زما لپاره کومې دوايانې تجويز شوي دي، نو عطار چه کومه دوائي ورکړه هغه ئې اخلي او خوشحالۍ سره قيمت ورکوي او ځي نو په دې صورت کې که عطار د حکيم صاحب د ښودل شوې وزن نه کمه دوائي قصداً يا بغير د قصد نه ورکړي نو ګناهګاريږي او که نه؟ او د نسخې د قيمت ښودلو په وخت عطار دا هم وائي چه څومره دوائي چه تاته درکول کيږي د هغې قيمت به دا وي، او د عطار دا معمول هم دی چه کله حکيم صاحب مريض ته معجون، حلوا يا خميره وليکي نو هغه ورته وائي چه حکيم ستا لپاره دا څيز تجويز کړی دی او قيمت ئې درې يا پنځه روپۍ دي، نو ته دومره روپۍ جمع کړه نو دا حلوا به تياره کړی شي، کله چه مريض قيمت ورکړي نو بيا عطار دوائي تياروي او د دوائي تيارولو نه بعد څه معجون خپل ځان

له هم ساتي او د کومو معجونو قیمت چه ئې درې روپۍ ښودلی دی د هغې قیمت دوه روپۍ دی، مګر عطار دا وائي د میده کولو او تیارولو د محنت سره دومره روپۍ واخستلې او په دې خبره مریض هم پوهیږي چه عطار په دې کې خپل ټول محنت لګولی دی، دا ټول صورتونه چه کوم عرض کړی شول په دې کې کوم صورتونه جائز دي او کوم ناجائز؟ او د حلوا قیمت وړاندې اخستل او وروستو جوړول څنګه دي؟

**جواب** :کم ورکول دوکه ده ځکه چه د مریض همدا خیال وي چه د نسخې مطابق دوایانې ورکړی شوې دي البته که دا دوائي چه د نسخې نه دوایانې کمې دي نو څه باک نشته او کوم قیمت چه ئې اخستلي او دوائي جوړه کړي د هغې حساب پوره ښودل واجب دي، او هغه ټوله جوړه کړی شې، دوا د مریض ملکیت دی، د هغې نه پټپله ساتل حرام دي. (تتمه اولی ۱۵۸).

### د خرڅوونکي او اخستونکي په موجودګۍ کې د مبیع یو ځل تلل کافي دي

**سوال** :(۲۷)موزون څیزونه کوم چه د خرڅوونکي او اخستونکي په موجود والي کې یو ځل وزن کړی شول نو اخستونکي له بغیر د وزن کولو نه خرڅول جائز دي او که نه؟

**جواب** : جائز دي. في الخانية لواشترى كيلاً مكايلةً اوموزوناً موازنة فكال البائع بحضرة المشترى، قال الامام ابن الفضل يكفيه كيل البائع ويجوزله ان يتصرف فيه قبل ان يكليه اه شامی، ج۴، ص ۲۵۵/ تتمه اولی صفحه ۱۶۰).

### د بل چا په نوم جائیداد اخستل

**سوال** :(۲۸)پدې مسئله کې علماء کرام څه فرمائي مثلاً زید که د خپل ځوي عمرو په نوم د څه مصلحت د وجې نه د مال په عوض کې څه واخستل لکه څنګه چه زمونږ په زمانه کې رواج دی، او په عرف کې په همدې نوم مشهور دی، یا هغه معاش به د زید ملکیت وي او که د عمرو او د زید به دې کې د هبې او بیع اختیار لري او که نه؟ بینوا توجروا؟

**جواب** :د بیع رکن ایجاب او قبول دی، د چا ترمنځ چه ایجاب او قبول وشو د هغه ملکیت شو نو زید اګرچه د مصلحت په بناء د خپل ځوي په نوم څه واخستل نو دا به د زید ملکیت وي، د دې مثال بیع تجلیةده چه هغه کس د کومې وجې نه بیعه ظاهره کړي او بیع مقصود نه وي نو هغه بیع د ملک دپاره مفیده نه ده، کله چه د ایجاب و قبول باوجود د قصد د نه موجودوالي د وجې نه د ملک حکم



نه کیږي نو د چا سره چه ایجاب او قبول هم نه وي شوی، او نه د هغه په لاس د خرڅوونکي قصد شته دی، چه ئې پرې خرڅ کړي او نه د اخستونکي د اخستلو قصد دی، نو د هغه ملک څنګه کیداي شي. في الدرالمختار وبيع التجلية وهوان يظهر اعقداوهما لايريدانه لخوف عدووهوليس ببيع في الحقيقة بل كالهزل اه،نو د اخستونکي ملکیت به وي او د هغه مالکانه تصرفات به جائز وي ترڅو چه کوم صحیح نسیب د انتقال د ملک موجب وي په کوم سره چه ملکیت د عمرو شي موجود نه شي، او په بعضې شیانو کې د عرف د وجې نه صرف په اخستلو سره هغه د اخستونکي ملکیت کیږي لکه د وړوکي ماشوم لپاره کپړې جوړې کړی شي او صرف په اخستلو سره د هغه ملکیت کیږي. في الدرالمختار عن الخلاصة وفيها اتخذ لولده اولتلميذه ثيابا ثم اراد دفعها لغيره ليس له ذلك ما لم يبين وقت الاتخاذ انها عارية انتهى ،نه د دې وجې نه چه اشتراء له د ملکیت موجب دی بلکه د دې وجې نه چه قرائن په دې دلالت کوي هبه باندې او هبه تصغیر کې د پلار ایجاب اګر که دلالت وي کافي دی، همدا وجه ده که د اعارې تصریح وکړي نو د ماشوم نه ملکیت کیږي لکه څنګه چه تیر شو او همدا وجه ده چه که د لوئې لپاره کپړې جوړې کړی شي نو د تسلیمولو نه وړاندې به د هغه ملکیت نه وي. في ردالمحتار تحت قوله لولده اى الصيغر واما الكبير فلابد من التسليم كما في الجامع الفتاوٰى انتهى ،او د ځمکې وغیره په اخستلو کې چه کله قرائن په عدم هبه باندې دلالت کوي نو هبه هم صحیح نه شوه نو نه بیعاً او نه هبةً یو شان هم د ځوي ملکیت نه دی، که هغه واړه وي او که لوئي. والله اعلم. وانما اطلنا الكلام في هذا المقام لانه من مطارح الاعلام فكم من اقدام فيه زلت وكم من افهام فيه ضلت والله ولى العصمة (امدادثالث/ص۱۰۲) س

### د بل کس په نوم جائیداد اخستل

**سوال** :(۲۹) قولکم رحمکم الله، په دې باره کې چه زید د خپل ګټلي مال نه یوځاي د خپل نابالغ ځوي په نوم ۳/ ۴ حصه واخستله، او همداسې ۴ حصه ئې د بل ځوي لپاره د عدم بلوغت په وخت اخستلې ده، دا دواړه زامن د اولې ښځې نه دي، او څه مودې پورې ئې ولایةً د خپل انتظام لاندې وساتله، څو کاله وړاندې پټپله حصې واخستلې هغه مذکور د عمرو ئې بکر ته ورکړه اوس عند الشرع دا مملوک حصې د عمرو او بکر دی او که د زید ترکه ده؟

**جواب** : د بل په نوم چه ئې اخستلې وي نو پخپله ئې مالک وو، مگر کله چه ئې عمرو او بکر ته ورکړي نو هغوئ ئې مالکان شول، د زید په ترکه کې داخل نه دي، البته دا دنیا که د شرع د شروطو موافق نه وي نو د ملک موجب به نه وي او په دې صورت کې به د زید په ترکه کې داخل وي. ۳۰ ربیع الثاني ۱۳۲۹ھ، تتمه اولی ص۱۹۲.

## د بل چا په نوم جائیداد اخستل

**سوال** :(۳۰) یو کس د جائیداد څه حصه د خپل ځوي په نوم واخستله او انتقال ئې کړه نو هغه حصه به په ټولو ورثه و تقسیمیږي او که د چا په نوم چه اخستل شوې ده د هغه لپاره به هبه گڼل کیږي، او که نه دا مهمل فعل دی، نن صبا دا معاملې په کثرت سره رواج دی، د دې طرف ته پوره توجه ضروري ده؟

**جواب** : د چا په نوم جائیداد اخستلو په باره کې ما څو ځل غور وکړو او غالباً یو دوه ځل مې پرې لیکل هم کړي دي، هبه خو دا یو قسم ته هم نه شي کیدی ځکه چه هبه خو کیږي د ملک نه وروستو او دلته وړاندې نه ملک نشته، په دې اشتراء کې په خپله مالک شوی دی او د اخستلو نه وروستو هیڅ عقد نشته دی، البته که د اشتراء نه بعد کوم تصرف د تملیک لپاره وموندل شي نو بې شکه ملک به د هغه وي، "واذ لیس فلیس" نو ځکه دا فعل مهمل دی، که د چا دا شک وي چه دا اشتراء فضولي ده نو د مشتري له د اجازت نه بعد د دې ملک کیدل پکار دي، جواب دا دی چه بیع للغیر کې خو د اجازت غیر نه په دې غیر باندې نافذیږي، مگر شراء للغیر کې پخپله مشتري باندې نافذیږي. لذا فی الدر المختار. نو د دې غیر د تملیک دپاره به د عقد جدید حاجت وي. فقط. تاسو هم غور وکړئ. ۱۵ شوال ۱۳۳۱ھ، (حوادث اول وثاني ص ۱۲۱).

## د چا په نوم جائیداد اخستلو سره د هغه نه ملکیت کیږي

**سوال** :(۳۱)زید مرحوم د خپل وفات نه وړاندې د خپلې ښځې هنده په نوم باندې دهلي کې یو کور واخستلو، په وثیقه کې صرف د ښځې نوم ذکر شوی دی، اوس دغه ښځې مذکوره کور خرڅ کړو، اوس چه د قیمت نه څه باقي وو هغه د زید مرحوم مشر ورور عمرو او بکر د زید زوم او خالد او بشیر د زید علاتي وروڼه د هندې نه جبراً واخستلو او د زید سره ئې د امانت په طور



کینبودل، او د زید ښځه هنده د کور مالکه د هغې دویمه نکاح د قریر سره شوې وه، ویلي دي چه د فتوا اخستلو نه بعد چه کوم وارث ته څومره حصه رسیږي هغه به ئې د خپل طرف نه ورکړي، ځکه چه روپئ صرف د زید مرحوم وې ستا نه وې، هغه د هغه په ورثه و تقسیمول ضروري دي، هغه ترکه ده، دا هم باید په نظر کې ونیول شي چه د زید مرحوم درې لورگانې اوس هم موجودې وې، یوه واده شوې او د اولاد خاونده ده، او دوه نابالغې دي، اوس سوال دا دی چه د شریعت د مخې څه کیدل پکار دي؟ بینوا توجروا؟

**جواب** :د چا په نوم د جائیداد اخستلو حقیقت دا دی چه د هغې هبه کول مقصود وي او د هبې لپاره شرط دا دی چه هغه موهوب د هبې په وخت د واهب ملکیت وي او ظاهره دا وه چه ملکیت به د اخستلو نه بعد ثابتیږي، نو د دې نه بعد کوم عقد دال علی التملیک کیدل پکار دي او د دې نه بغیر به هغه مشتري له مالک نه وي بلکه هغه به د مخکې په شان مشتري وي، نو په دې بناء باندې دا جائیداد به د زید وي او په ترکه کې به داخل وي، او د نورې ترکې په شان به ۲۴ حصې کیږي نو هندې ته به ۳ او دوارو لورگانو ته به ۸،۸ او عمرو ته به ۵ ملاویږي او خالد او بشیر محروم دي،اودادمیراث تقسیم به حقوق متقدمه علی الارث دمهردادا په شان او د نورې قرضې په شان به وي. ۲۱ رجب ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی۱۹۸).

## نرخ مقررول او بغیر د ایجاب او قبول نه په مبیع باندې قبضه کول کافي دي

**سوال** :(۳۲)که په بیع کې ایجاب وقبول ونه شي بلکه اخستونکي نرخ مقرر کړو او د خرڅوونکي نه ئې مبیع واخستلو او پخپله قبضه کې ئې کړو نو د قیمت ادا کولو نه وړاندې اخستونکي ته د مبیع واپس کولو اختیار دی او بیع ناتمام به گڼل کیږي او که نه؟

**جواب** : بیعه پوره شوه او د بیرته ورکولو اختیار نه لري. في الدر المختار ولو التعاطی من احد الجانبین علي الاصح فتصح به یفتی فیض الخ ومثل له في رد المختار بعین ما سئل عنه، ج۴ ص۱۶ فقط. ۱۱ شعبان ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ۱۶۰).

## داغزی لرونکې گل مسلم اخستل

**سوال** :(۳۳) د ... مسلم اخستل چه معلومه نه ده په دې کې څومره ...... دي په دې حالت کې د دې اخستل مباح دي او که نه؟

**جواب** : که د هغې خاص عدد يا شرط وګټل شي نو د هغې مسلم بيعه درسته ده اګر که کم شي.

## د اخستلو او خرڅولو وعده په حکم کې د بيع وشراء په شان نه ده

**سوال** :(۳٤) عمرو زيد ت٥٩ وويل چه ته ماله د سل روپو مال جفت يا پوش راوغواړه، زه به تاله د سلو منافع درکړم او د يوې مياشتې په قرض به ئې واخلم، د څومره مودې لپاره چې ئې ته راکوې د هغومره مودې په حساب به ګټه درکړم، يعنې په سلو روپو باندې به په يوه مياشت کې پنځه روپۍ درکوم، کله چه مال راشي نو د قرض او ګټې وخت به معين کړی شي د دې په جواب کې زيد وويل چه زه به ئې راوغواړم مګر د اطمنان لپاره به د سلو په ځاي د دوه سوه رقعه ليکم ترڅو وعده خلافي ونه کړې او عمرو دا خبره ومنله؟

**جواب** : په دې کې دوه ځايونه د جواب قابل دي، يو دا چه د زيد او عمرو ترمنځ چه کومې خبرې وشوې هغه صرف وعده ده د چا په ذمه باندې د عقد حکم لازم نه دی، که د زيد د راغوښتلو نه وروستو هم عمرو انکار وکړي نو د زيد د مجبور کولو حق نه لري، نو که په عرف او عادت کې عمرو مجبور ګڼل کيږي نو دا معامله حرامه ده، کنه نو حلاله، همداسې عمرو او زيد دواړه دا اختيار لري چه د بيع په وعدې باندې د قائم پاتې کيدو په صورت کې د منافع په اندازه کې بدل والی راولي، دا څوک نه شي ويلی چه په سلو باندې پنځه روپۍ ګټه د مياشتې مقرره کړی شوې وه، نور زيات ليکل نو دا بيع هزل في مقدار الثمن دي، که د عمرو د وعده خلافۍ په صورت کې هم زياته اندازه د واقعي قيمت نه وصول نه کړي نو جائزه ده کنه نو حرامه، نو په زيد به واجب وي چه وارثانوته اطلاع ورکړي ترڅودزيد نه وروستو عمرو پريشانه نه کړي. ۲۰ محرم ۱۳۳۰هـ، (تتمه اولی صـ۱٦۱).

## د اخستلو او خرڅولو وعده د بيع وشراء په حکم کې نه ده

**سوال** :(۳۵) عمرو زيد ته د جفت يا پوشي اخستلو دپاره سل روپۍ ورکړې او هيڅ اجرت د خريدارۍ دپاره مقرر نه کړی شو او متعاقدينو ترمنځ د اجرت د نسبت ذکر هم رانغلو، او د مال اخستلو نه وړاندې او د ورکولو قيمت په باره کې دا خبره شوې وه چه دا مال به په پاو باندې شپږ روپۍ سيکړه کې د منافع په طور د يوې مياشتې لپاره ورکوي، مال زيد واخستلو او کور ته راغلو او عمرو ئې راوغوښتلو او مال ئې ورته وشمارلو، او دواړو دا وګڼله چه مال د سل روپو دی، د دې نه



بعد عمرو د زيد نه تپوس وکړو چه ته دا مال د څومره مودې لپاره په ذکر شوې ګټې باندې اخلې، زيد وويل د يوې مياشتې لپاره، عمرو دا ومنله، د وخت تيريدو نه وروستو عمرو د زيد نه د اصل روپو د ګټې سره مطالبه وکړه نو زيد صرف پاو باندې شپږ روپۍ ګټه ورکړه، او د اصل روپو ورکولو نه ئې معذرت وکړو چه ما سره اوس نشته دی، بلکه څه مال موجود دی، بعضې په نغدو دی او بعضې په قرضو دی، نوعمرو وويل چه تا سره چه اصل قيمت نشته نو د دې په بدله کې دومره مال د آئنده لپاره ماله راکړه او بيا ئې زمونږ نه واخله، زيد د خپل ځان سره ټول د سلو روپو مال وښودلو او عمرو له ئې ورکړو، او يو ځاي ئې کړو، او بيا ئې په پورتنۍ ګټه باندې د عمرو نه واخستلو او موده کله يوه مياشت د دواړو په رضا سره مقرريږي او کله زياته؟

**جواب** : دلته دوه بيعې على سبيل التعاقب دي، يو دا چه زيد د عمرو نه مال واخستلو، د هغې حکم دا دی چه که زيد عمرو ته او عمرو زيد ته د وعدې په بنا اخستلو او خرڅولو باندې مجبور نه کړي نو جائزه ده او که مجبور ئې کړي نو ناجائزه ده، دويمه بيعه هغه چه د سل روپو باقي په بدله کې زيدعمرو ته ورکړې.د هغه حکم دا دی چه که په هغې کې دا شرط شو چه بيا به ئې دزيد نه عمرو اخلي نو حرامه ده او که دا شرط نه شوه نو که بيا ئې واخلي او په آزادۍ سره ئې په نوې رايه واخلي نو جائزه ده. (تتمه اولی صـ۱٦٤).

## د تجارت مال لپاره مزدور نيول او بيا په مزدور خرڅول

**سوال** :(۳٦) زيد عمرو ته وويل زه تاته روپۍ درکوم او ستا د مال راوړلو او باروَلو مزدوري او کرايه درکوم، ته زما مزدور شه او مال راوړه ترڅو ته بيا په هغه مال کې نقص راونه باسې؟

**جواب** : پدې وينا سره د عمرو د مال ناقص ښودلو په وخت د دواړو ترمنځ بيع مرابحه نه ده زائله شوې، عمرو د پردي اخستونکي په شان ټول حقوق لري، البته زيد دا اختيار لري چه څه وخت عمرو د اجير وکيل په حيثيت سره مال راوړی دی که د ناقص مال راوړلو نه ئې منع کړی وو نو د عمرو نه دې د ناقص کيدو په صورت کې د مخالفت کولو روپۍ واخلي مګر کله چې ئې مال قبول کړو نو زيد سره خو هيڅ حق پاتې نه شو مګر عمرو سره دا حق شته دی. (تتمه اولی صـ۱٦۲).

## وکیل بالشراء د موکل د مال سره خپل ځان له هم څه مال واخستلو اوس هغه له د موکل نه د مرابحې په طور اخستل جائز نه دي

**سوال** :(۳۷) زید عمرو له روپئ ورکړې او عمرو خپل کور ته مال راوړو او کوز ئې کړو او په دې کې ئې خپل مال او د زید د روپو مال هم شامل دی، بیا ئې هغه تقسیم کړو، د هغې نه وروستو ئې د زید مال زید له ورکړو او ورته ېې وشمارلو، زید د قبضې کولو نه وروستو عمرو ته وویل چه که ته د خپل وعدې موافق اخستل کوې نو د څومره مودې لپاره ئې په قرضو اخلې، عمرو وویل چه یوې میاشتې لپاره او د هرې میاشتې پنځه روپئ منافع ورکوم، غرض دا چه د میاشتې آخر پورې بـه تولې روپئ درکړم او حساب به ختم کړم او اصل به درکړم؟

**جواب** : (د هغه دا وینا زید عمرو ته تقسیم کړو) که د زید په اجازې سره په کې روپئ شامل شوي وي نو دا بیعه خو د زید په ذمه باندې لازمه شوه مګر بیا چه د زید او عمرو ترمنځ کومه بیع مرابحه شوې ده هغه جائزه نه ده، او که مستقل بغیر د قید نه مرابحه وي نو جائزه ده، البته که د زیـد د روپو مال ئې بالکل جدا اخستلی وي او جدا ئې وساتلو نو بیا مرابحه جائزه ده.

(د هغه دا وینا تقسیم نه بعد تر اصل به درکړم) که د زید په روپو اخستل شوی مال بالکل جدا وي نو بیا به دا بیعه درسته وي. ۲۰ محرم الحرام ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی صـ۱۶۲).

## وکیل بالشراء د خپل موکل نه مال واخستلو او د قیمت په قسطونو ادا کولو وعده ئې پوره نه کړه

**سوال** :(۳۸) عمرو د خپل وعدې موافق د یوې میاشتې نه بعد زید له روپئ نه ورکوي او روپئ ئې جمع کړې دي او اوس په دې روپو باندې پخپله مال راوړي او خرڅوي ئې، ګټه ترې اخلې کله په یوه نیمه میاشت کې او کله په دوه میاشتو کې، غرض دا چه د وعدې خلاف په زیاته موده کې اصل روپئ د ګټې سره ورکوي، مګر څومره موده چه د وعدې نه زیاته وي، نه د هغې ګټه غوښتل کیږي او نه اخستل او ورکول کیږي؟

**جواب** : کله چه زیاتې نه اخستل کیږي نو په زید باندې هیڅ ګناه نشته، په عمرو به د وعده خلافۍ ګناه وي. ۲۰ محرم الحرام ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی صـ۱۶۲).



## د مال راوړونکي مزدور په لاس په ګټه مال خرڅول او د قیمت وخت مقررول

**سوال** :(۳۹) عمرو زید ته ۹۷ روپئ د مال راوړلو لپاره ورکړې او درې روپئ ئې مزدوري ورکړه، زید مال راوړو او خپل کور کې ئې ښکته کړو، د عمرو په کور یا دکان کې ئې ښکته نـه کـړو، عمرو د مال راغوښتلو نه وړاندې دا شرط ایښی وو چه کله ته مال راپوره کړې نو زما اختیار بـه وي که وغواړم نو تاته به ئې درکړم او که وغواړم نو په خپل دکان یا کور کې به ئې کیږدم، او تاله به ئې درنکړم، عمرو د مال راوړلو نه وروستو زید ته وویل چه دا مال ته څنګه اخلې، زید وویل د پنځه میاشتو لپاره ئې اخلم او اتلس روپئ ګټه به درکړم، او اصل قیمت او ګټه چه څومره کیـږي (یعني ۹۷ اصل او ۱۸ ګټه ټولې ۱۱۵ روپئ) به د پنځه روپو او دولس آنو په حساب سره ادا کړم.

**جواب** : دا بیع مرابحه بتاجیل الثمن دی، او د مذکوره سوالونو په قیودو کې صحیح دی. ۲۰ محرم الحرام ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی صـ۱۶۵).

## نابالغه که د ولي د اجازت نه بغیر کوم څیز قرض واخلي نو د بلوغ نه وروستو به قیمت واجب وي او که نه؟

**سوال** :(۴۰) یو نابالغه د ولې د اجازت نه بغیر یو څیز واخستلو، او قیمت ئې ادا نه کړو، نو د بالغ کیدو نه وروستو بیا ادا کول ضروري دي او که نه؟

**جواب** : که د بیع نه وروستو ولي اجازت ورکړې نو بیا خو بیع صحیح شوه او قیمت واجب شو او د بلوغت نه وروستو به ئې هم ادا کوي او که اجازت ئې نه وي ورکړی او څیز هلاک شو نـو ادا کول به ئې واجب نه وي. في الدر المختار اول کتاب الحجر الصبی المحجور مواخذ بافعاله الی قوله الا في مسائل وعد منه ما بیع منه بلا اذن وجهه ان التسلیط وجد من المالک، (تتمه اولی صـ۱۲۷).

## د وارث جائیداد خرڅول په هغې کې د موصي له حق وي

**سوال** :(۴۱) زید خرڅوونکی او عمر اخستونکی هغه جائیداد چه په کې وصیت کړی شوی وو او کوم چه موصي لهم قبول کړی وو د موصي لهم د حق ادا کولو نه بعد خرڅ کړی وو او ټول قیمت ئـې پـه خپل تصرف کې راوړو او موصي لهم ته ئې د هغوئ حق ورنکړو نو په دې صورت کې به د موصي لهم

مطالبه د عمرو مشتري نه وي چه جائيداد د هغه په قبضه کې دی او که د زيد خرڅوونکي نه فقط ؟

**جواب** : د بل چا ملکيت د هغه د اجازت نه بغير خرڅول بيع فضولي ده، د کوم چه د فسخ او اجازت مالک اختيار لري، نو که دې بيعې ته موصي هم جائز ووائي نو د هغوئ حق به د قيمت متعلق وي د کوم به چه زيد د بالغ نه مطالبه کوي او که دا بيعه موصي هم رد کړي نو بيا ورته اختيار دی که زيد بائع نه د جائيداد مطالبه کوي چه هغه غاصب دی او که د عمرو اخستونکي نې نه کوي او بيا هغه د دې قيمت د زيد (خرڅوونکي) نه واخلي او که بعضې ئې جائز او بعضې ئې ناجائز وګني نو د هر يو لپاه به د بره تفصيل مطابق جدا جدا حکم وي. في الدر المختار والاصح انه اي العقار يضمن بالبيع والتسليم اخ. ۸ شعبان ۱۳۳۱ هـ (تتمه ثانيه صـ۶۳).

## په مبيع کې چه څومره عيبونه وي د ټولو ښکاره کول واجب دي

**سوال** :(۴۲) په اس کې شرعاً کوم عيب نشته دی مګر عرفاً د هغې ډير عيبونه ښودل کيږي، يو مسلمان اس خرڅوي نو که دغه عرفي عيب ظاهر وي نو ډير تاوان به وکړي او که دغه عيب ظاهر نه کړي نو شرعاً ګناهګار خو به نه وي؟

**جواب** : في الدر المختار باب الخيار عن القنية لو ظهران ان الدار مشومة، ينبغي ان يمكن من الرد لان الناس لا يرغبون فيها اه. د دې نه معلومه شوه چه عرفي عيبونه هم ظاهرول واجب دي، يا دې داسې ووائي مونږ د هيڅ قسم عيب ذمه وار نه يو. (تتمه ثانيه صـ۱۲۶).

## د اجاره کړی شوي ځمکې خرڅول

**سوال** :(۴۳) که يو کس د خپلې ځمکې ټيکه يو کس له ورکړي او د ټيکي قيمت د وړاندې نه وصول کړي نو په داسې صورت کې مالک ځمکه خرڅولی شي او که نه؟ ځکه چه اخستونکي ته به په هغه وخت کې قبضه ورکول کيږي کله چه د ټيکي وخت تير شي مخکې ورته نه شي ورکول کيداي، نو د بيع په وخت د قبضې نه حاصليدو د وجې نه دا بيع جائزه ده او که نه؟ او که خرڅوکی د نقصان په بدله کې د څومره کلونو قبضه چه نه ورکوي حساب ورکړي يا ئې تخميناً مقرره کړي نو دا روپئ اخستونکي له جائز دي او که نه؟



**جواب** : نه ئې شي خرڅولی ځکه چه بل ته ضرر دی، او دا بيع به موقوفه وي او کوم څيز چه قبضه نه کړی شي د هغې نفع اخستل جائز نه دي او د دغه فائدې بدله هم صحيح نه ده او په اخستونکي باندې د قيمت ادا کول هم واجب نه دي، او د اجارې د وخت د تيريدو نه بعد به بيع نافذه شي، او اخستونکي به پرې د قبضې کولو حق لري او خرڅوونکي باندې به د مبيع تسليمول او په اخستونکي به د قيمت ورکول واجب وي. في الدر المختار ويوقف بيعه الى انقضاء مدتها (اى الاجارة هو المختار، جـ۵ صـ۵۷۸، ۲۹ صفر ۱۳۳۲هـ (تتمه ثانيه صـ۱۲۸).

## د کتابونو لوستلو نه بعد د هغې خرڅول

**سوال** :(۴۴) کتابونه لوستل او بيا ئې خرڅول جائز دي او که نه؟ د شک وجه دا ده چه د هغې لوستل د هغې استعمال دی، او د هر استعمال شوي څيز قيمت کم وي؟

**جواب** : که استعمال سره ئې روڼ والی ختم شوی وي نو اخستونکي ته د اخستلو په وخت اطلاع ورکول واجب دي. ۲۵ ربيع الثاني ۱۳۳۲ هـ (تتمه ثانيه صـ۱۳۶).

## د بيع نامې په ورکولو باندې د بيع عدم انعقاد

**سوال** :(۴۵) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زيد د جومات سره متصل خپل کور خرڅولو، نو د جومات متوليانو سره ئې معاهده وليکله او لس روپئ ئې پيشګي واخستلې او باقي قيمت مالي ۳۴۰ روپئ اخستلو باندې ئې بيع نامه وليکله او د رجسټر کيدو اقرار ئې وکړو، ليکن يو دوه ورځې بعد زيد دا کور د بکر په نوم هبه کړو او هبه نامه ئې رجسټري کړه، د هبه نامې شرائط دا وو چه بکر به د زيد تر ژوند پورې د دې اخراجاتو کفيل وي او که ژوند او قوت وو نو زيد ته د حج پوره کولو خرچ ورکړي، او د مرګ په صورت کې به د هغه تجهيز، تکفين، فاتحه او څهلم وغيره به پخپله ذمه واخلي، د دې هبه نامه ليکلو نه بعد زيد څو مياشتې ژوندی وو او د جومات متوليانو نه د خپلو لس روپو تقاضا وکړه، او نه ئې د خرڅ لپاره او د بيع نامې ليکلو لپاره زيد مجبوره کړو، زيد هغه لس روپئ د خپل خير خواه سره د امانت په طور ايښې وې او هغه کس د جومات د انجمن انتظاميه يو پرجوش ممبر دی، او د بيع نامې کولو لپاره او د رسيد ليکلو لپاره محرک هم وو، زيد وفات شو، مګر دا لس روپئ ئې د مذکور ممبر نه بيرته وانخستلې نه ئې د دې

روپو لپاره کوم زباني وصیت وکړو، د زید د انتقال نه بعد د جومات متولیانو او کمیټي بکر دې ته پرې نه ښودو چه تکفین او تجهیز وکړي او د خپل خیال مطابق ئې هبه نامه ناجائزه وګڼله، او د هغه لس روپو رسید ئې مکمل بیع نامه وګڼله، او باقي روپۍ ماللي ۳۴۰ نه ئې تقریباً ۶۰ روپۍ د زید تجهیز او تکفین او فاتحه او چهلم وغیره کې ئې مصرف کړې، بکر مجبوراً فاتحــه او خلــوېښتې وکړه مګر د تجهیز او تکفین نه په جبر د جومات ممبرانو لرې وساتلو، او د دې سخت سلوک نه خفه شو او یو غیر کس خالد په لاس ئې مذکور کور په دوه سوه روپۍ خرڅ کړو او رجسټري ئــې کړو، او قبضه ئې ورله هم پرې ورکړه، اوس د جومات ممبران د عدالت نه کارروائي کوي چه د زید د معاهدې په بنا باندې ۳۵۰ نه لس روپۍ زید د رسید لیکلو په وخت نغدې اخستلې وې او ۶۰ روپۍ د هغه تجهیز او تکفین او فاتحې وغیره کې مصرف شوې، نو د ۲۸۰ روپو نه نورې روپۍ لرې کولو سره باقي روپو باندې خالد سره په بیع نامه کولو باندې مجبور کړی شي نو سوال دا دی:

(۱) آیا زباني معاهده او د جوماث د ممبرانو په نوم د رسید لیکل د بیع نامې حکم لري که د بیــع نامې حکم لري نو د زید د مړ کیدو نه بعد د کور قیمت چاته ورکړی شي ځکه چه زید خپل کــوم وارث نه دی پرېښی او نه دا معلومه ده چه په دنیا کې د هغه کوم وارث شته دی او که نه؟ ځکه چه زید بذات خاص د بل ځاي نه راغلی او آباد شوی وو، او هیڅ پته او نوم او نښه ئې نه وه ښودلې؟

(۲) او که دا معاهده بیعنامه نه وي نو د بکر په نوم هبه جائزه شوه او که نه؟ او که د خالد نه قیمت مقرر کړي او دا کور د جومات په روپو د جومات ممبران واخلي نو دا ځمکه د جومات په توسیع او نورو مصارفو کې راوړل کیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا؟.

**جواب** : کومه وعده چه د زید او د جومات متولیانو ترمنځ وشوه دا شرعي بیعه نه ده صرف وعــده ده د کوم چه بلا وجه خلاف کول عند الله موجب موخذه ده، لیکن قضا پدې کې ځوک نه شــي مجبورولی، خاص کر کله چه د وعدې پوره کولو نه وړاندې مړ شي نو کله چه دا بیع نه ده نو هغه شرعاً اختیار لرلو چه د بکر په نوم ئې هبه کړي او په کوم شرائطو باندې چه ئې هبه کــړې دي دا فاسد شرائط دي مګر هبه فاسدو شرائطوسره نه فاسدیږي، بخپله هغه شرائط باطل او لغو کیږي نو که نور شرائط د هبې د صحت وموندل شي نو کور د بکر ملکیت شو او که د صحت شرائط نــه وي موندل شوي نو کور همغه شان د زید ملکیت وو، لیکن د جومات د متولیانو سره د دې کــور هیڅ قسم تعلق نشته دی، لکه څنګه چه ئې خیال غلط دی، نو څه چه هغوئ په غلط خیال بانــدې



خرچ کړي دي د هغې ذمه دار پخپله دي هغوئ دا روپۍ نه د جومات د تحویل نه وصولولی شي او نه د بل کس نه، د هغې تاوان به پخپله په هغوي باندې وي، بیا چه وړاندې بکر په خالد باندې خرڅ کړی دی، په هغې کې تفصیل دا دی چه که کور د زید ملکیت وو نو بیا خو دا بیع درسته نه شوه، او همغه شان د زید ملکیت شو، او که د بکر ملکیت وو نو اوس د خالد ملکیت شو، بهر حال کور اوس د بکر ملکیت خو نه دی، یا خو د زید ملکیت دی یا د خالد نو که د خالد ملکیت وي نو بیا نو خالد باندې هیڅ قسم جبر جائز نه دی، او د هغه په رضا اخستل صــحیح دي، او کــه د زیــد ملکیت وي او وارث ئې معلوم نه وي نو اول به د هغې د کرایه نه د یو جومات لس روپۍ وصــول کړئ او د هغه وارثان دې تلاش کړی شي نو کله چه نامیده شي هغه وخت دی، بیا سوال وکــړی شي چه د لاوارثه مال شرعاً څه حکم دی. ۱۸ ذیقعده ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه صـ ۱۸۶).

## بغیر د اطلاع نه د بیع نامې لیکل او رجسټري کول

**سوال** :(۴۶) د ښځې او خاوند ترمنځ مخکې تحریري بیع نامه یا قرارداد یا کوم ایجاب او قبول نه دی شوی د بیع نامې د رجسټر کولو نه بعد ښځې ته معلومه شوه؟

**جواب**: دا شرعاً بیعه نه شوه. ۱۴ شعبان ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی صـ ۱۶۶).

## د غلې خرڅول چه په ذمه واجب او د صاحب حق په لاس وي په دې شرط چه په مجلس کې به قیمت قبضه کیږي

**سوال** :(۴۷) جناب عالي! د ځمکې د محصول روپۍ چه د زمیندار په ذمه وې د هغه روپو په بدله کې که د دواړو فریقینو په رضا باندې کومه غله یا جنس پیداوار واخستل شي او یووړل شــي نــو جائزه ده او که نه؟

**جواب** : جائزه ده، په دې شرط چه د څومره چه خریداري شوې وي هغه فوراً وصول کړی شــي، دا جائزه نده چه نرخ مقرر کړی شي، او نیم واخلي او نیم په هغه باندې پاتې شي، که داسې اتفاق وشي نو څومره غله چه زمیندار اوس ورکولی شي صرف د هغې معامله دې وکړی شي، د باقي معاملــه دې بیا هغه وخت وکړی شي چه کله هغه غله ادا کړی شي او همدا حکم د هغه څه دی چه د زمیندار په ذمه باندې غله وه او د هغې په بدله کې ئې روپۍ واخستلې. ۱۸ ربیع الثاني ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صـ ۳۰).

## د ماهي د خرڅولو مختلف صورتونه

**سوال** :(٤٨) ولايجوز بيع السمك قبل ان يضطاد لانه باع مالايملكه ولا في خطيرة] اذاكان لايوخذ الابصيد لانه غيرمقدر التسليم ومعناه اذا اخذه ثم القاه فيها ولوكان يوخذ من غيرحيلة] جاز الااذا اجتمعت فيها بانفسها ولم يسد عليها المدخل لعدم الملك زيد الااذا اجتمعت فيها،نه خطيره صغيره مراد اخلي او په خپل استدلال كې عبارت عنايه كوم چه د هغې شرحه ده پيش كوي: قوله اذا اجتمعت الخ استثناء من قوله جاز يعنا الخطيرة] اذاكانت صغيرة اخذ من غيره حيلة] جاز الااذا اجتمعت فيها بانفسها ولم يسد عليها المدخل فانه لايجوز بعدم الملك وهواستثناء منقطع لكونه غيرمستثنى من الماخوذ الملقى في الخطيرة] والمجتمع بنفسه ليس بداخل فيه وفيه اشارة] الى انه لوسد صاحب الخطيرة] عليها ملكها امابمجرد الاجتماع في ملكه فلاكمالوباض الطيرفي ارض انسان اوفرخت فانه لايملك لعدم الاحراز.په دې بنا باندې دې طرف ته چه كوم تالابونه وي كوم ته چه د دې ځاي په عرف كې پوكهرا وائي د هغوئ د ماهيانو خرڅول بالكل ګرځوي ځكه چه دا خطيره كبيره ده، او د دې تالابونو اندازې مختلفې وې، يو تالاب شل بيګې او بعضې د دې نه هم لوي او بعضې اته او بعضې لس بيګې وې، غرض دا چه اندازه ئې معلومه نه وي او بيا په دې كې هم دوه قسمه تالابونه دي، بعضې ئې د ويالو سره نزدې چه مدخل ئې وياله وي او د باران نه وروستو دا مدخل بندوي يا پخپله د دې مداخل نه د ويالې اوبه متصلې كيږي او بعضې تالابونه هغه دي چه د باران نه وروستو داوبو نه ډک شيب او د اخوا ديخوا نه ماهيان راځي، اوس سوال دا دی چه د دې دواړو قسمونو تالابونو حكم جدا دی او كه يو، يعنې د ځمكې او تالاب مالک د دې دواړو ماهي خپل ملكيت ګڼلی او عند الشرع خرڅولی شي او كه نه؟ زيد د شرح عنايه نه دا ګڼي چه كوم تالاب چه اندازه ئې مخكې ذكر شوه د خطيره صغيره حكم نه لري، لهذا په هر صورت كې د تالاب ماهيان د مدخل د بنديدو د وجې نه د ځمكې مالک له خرڅول او نور منع كول درست نه ګڼي او عبارت:(عينى) وقيد به لانه لوسد موضع الدخول حتى صار بحيث يتعذر على الخروج فقد صار اخذ اله لمنزله مالووقع في شبكة فيجوز بيعه:په خطيره صغيره باندې محمولوي ترڅو په عيني او عنايه كې موافقت راشي، د زيد د مذكور عبارت نه دا ګڼل صحيح دي او كه غلط او په بل استدلال كې بهشتي زيور او صفائي معاملات په كوم كې چه د تالاب د ماهيانو خرڅول مطلقاً باطل او حرام ګرځول شوي دي پيش كوي، او زيد دا هم وائي چه خطيره صغيره چه كله مراد دی نو ځمكه كه د چا هم وي د ټرلو والا به مالک ګڼل كيږي، نه چه د ځمكې مالک لكه څنګه چه د عنايه د دې



عبارت نه معلوميږي: وفيه اشارة الى انه لوسد صاحب الخطيرة] عليها ملكها امابمجرد الاجتماع في ملكه فلا كمالوباض الطيرفي ارض انسان اوفرخت فانه لايملك بعدم الحراز:او د خطيره صغيره مدخل چه كله بند كړی شي نو مالک د هغې د ټرلو والا دی، همداسې كه لوي وي نو صرف د بند اچولو سره مالک كيږي او كه نه؟ كه مالک كيږي نو يوه وياله دې فرض كړی شي چه د خط نه راووځي او څه ځاي پورې لاړ اوب يا د يو درياب سره ملاو شي اوس دا وياله څلور پنځه ميله بعد عرضاً وترلـه نو خومره چه آب محاط كې ماهيان دي د هغې نه زيد خلک منع كولی شي او مالک د هغې عند الشرع ګرځول كيدی شي او كه نه او د خطيره صغيره عند الشرع څه اندازه ده؟

**جواب** : دلته دوه حكمونه جدا جدا دي، يو خو د ماهي په مالک كې داخليدل، دويم په ملكيت كې د داخليدو نه وروستو د خرڅولو جائز كيدل نو د اول حكم لپاره قبضه او احراز شرط دی، د كوم چه يو صورت دا دی چه ماهيان ونيسي او وائې اچوي او يو صورت دا دی چه د هغې پخپله جمع كيدو نه بعد بند ولګوي، د كوم نه چه هغه په وتلو قادر نه وي، د عيني عبارت چه په سوال كې ذكر شوی د دې متعلق دی او په دې كې د صغيره او كبيره هيڅ قيد نشته دی، او د دويم حكم لپاره قدرت على التسليم شرط دی د كوم چه يو صورت دا دی چه د خطيرې نه راوويستل شي او په يو لوښي كې ايښې وې، او دويم صورت دا دی چه په خطيره صغيره كې وې چه كله وغواړي بغير د تكلف نه ئې ونيسي د عنايه مذكوره عبارت چه په سوال كې دی د همدې متعلق دی او په دې كې د صغيره قيد دی، نو په عينې او عنايه كې تطابق موقوف نه دی او په دې چه په عينې كې هم صغيره مراد واخستل شي، د ټولو عبارتونو كتلو نه دا خبره بالكل واضحه ده نو پوكهرا د كوم ذكر چه په سوال كې دی په هغې كې تفصيل دا دی چه كوم چه د ويالې سره متصل دی، او د ويالې نه د ماهي راتللو نه بعد د هغې مدخل بندوي نو ماهي د هغه په ملكيت كې داخليږي. "كماذكر في العناية والعيني اوسد صاحب الخطيرة عليها ملكه اه ولوسد موضع الدخول حتى صار بحيث لايقدر على الخروج فقد صار اخذ صـ ٥١". او كوم چه ئې بند كړي نه دي او پخپله د ويالې سره د هغې اتصال وو نو په هغې كې دا ليدل پكار دي چه دا تالاب د دې لپاره د مخكې نه تيار كړی شوی وو او كه نه؟ كه تباه كړی شوی وو نو بغير د بندولو نه به هم د هغه په ملكيت كې داخليږي كنه نو نه.
"فيفتح القدير فان كانت له خطيرة] فدخلها السمك فاما ان يكون اعدها لذلك اولا فان كان اعدها لذلك فما دخلها ملكه وليس لاحدان ياخذه الى قوله وان لم اعدها لذلك لايملك مايدخل فيها فلايجوز

بیعه لعدم الملک الخ". او کوم چه د ویالې سره متصل نه دی او د باران د اوبو نه ډکیږي او ماهیان یا خو هغې کې پیدا کیږي یا د اخوا دیخوا نه راجمع کیږي په هغې کې نو د بند لګول نه متحقق کیږي، اوس به صرف دا کتل کیږي چه ایا دا ئې د اول نه د دې کار لپاره تیار کړي وو او که نه؟ په اول صورت کې به ماهي په ملک ې داخلیږي او په دویم صورت کې نه، "وقد ذکر دلیلة آنفاً". دا تفصیل د ماهیانو د مملوک کیدو او غیر مملوک کیدو په باره کې شو، اوس د بیع جواز "بمعنی صحته وعدم فساده" د مملوک کیدو نه وروستو شرط دا دی چه هغه مقدور التسلیم وي او چونکه په خطیره کبیره کې دا قدرت نشته دی نو ځکه د دې لپاره به د خطیره صغیره کیدل شرط وي نو په فتح القدیر کې هم د "لیس لاحد ان یاخذه" د عبارت نه بعد چه کوم د ماهي په مملوک کیدو باندې دلالت دی، دا عبارت دی "ثم ان کان یوخذ بغیر حیلة اصطیاد جاز بیعه لانه مملوک مقدور التسلیم مثل السمکة فی جب وان لم یکن یوخذ الا بحیلة لا یجوز بیعه لعدم القدرة علی التسلیم عقیب البیع اه". باقي د بهشتي زیور او صفائي معاملات مختصر عبارت او د بعضې صورتونو متعلق دی په دې سره دا شک کول نه دي پکار، په دې دواړو رسالو کې تفصیل نه دی لیکلی بعضې کثیر الوقوع صورتونه ئې لیکلي دي، باقي پاتې شوه دا خبره چه د خطیره ځمکه د یو وي او بند اچولو والا بل کس، نو په دې کې تفصیل دا دی چه که د ځمکې والا دا ځکه او خطیره د دې لپاره ورکړې وه نو په دې سره به همغه مالک وي او د بند اچولو والا به مالک نه وي او که هغه نه وو ورکړی نو د قواعدو مقتضا دا ده چه د بند اچولو والا به مالک شي او که اختلاف ئې وي نو د ځمکې والا خبره به معتبره وي چه ما ورکړې وه او په کوم صورت کې چه د بند اچولو والا مالک شي او د ځمکې مالک له هغه باندې جبر کول جائز دي چه فوراً دې زما ځمکه خالي کړي ځکه چه د غیر ملک مشغولول د هغه د اجازت نه بغیر جائز نه دي، او د مذکورې ویالې چه آخر کې څه ذکر دي چه عرضاً وتړل شي په دې پوهه نه شوم، مګر په جواب کې چه کوم قواعد ذکر شوي دي د دې نه ئې حکم راویستل پکار دي او د خطیره صغیره حد څه په اندازه کولو باندې نه دي، همدا حد دی چه "یمکن الاخذ منها بلا نکلف واحتیال کما فی العنایة اول عبارتها المذکور فی السوال، ۲۰ صفر ۱۳۳۳ھ (حوادث ثالثه ص۲۷)".





## په تالاب کې د ماهي خرڅول

**سوال**: (۴۹) په تالاب کې د ماهي خرڅولو د مسئلې څه تحقیق وشو جائزه ده او که نه؟ د دې نه مو خبر کړئ، مهرباني به مو وي، که ناجائزه وي نو د فتح القدیر د روایت څه معنی او که جائز وي نو په نورو کتابونو کې چه کوم ناجائز لیکلی شوي دي د دې څه توجیه ده ؟ فقط.

**جواب**: "ولا یجوز بیع السمك قبل الاصطیاد لانه باع مالا یملکه ولا فی خطیرة] اذا کان لا یوخذ الا بصید لانه غیر مقدور التسلیم ومعناه اذا اخذه ثم القاه فیها ولو کان یوخذ من غیر حیلة] جاز الا اذا اجتمعت فیها بانفسها ولم یسد علیها المدخل لعدم الملك اه هدایة اخیرین اول باب البیع الفاسد وایضاً فیها اخر المسایل المنثورة واذا افرخ طیر فی ارض رجل فهو لمن اخذه وکذا اذا باض فیها وکذا اذا تکنس فیها ظبی الی قوله وصاحب الارض لم یعد ارضه لذلك فصار کنصب شبکة] للجفاف وکما اذا دخل الصید داره اووقع ما نثر من السکر او الدراهم فی ثیابه لم یکن له ما لم یکفه اوکان مستعداً له اه وفی فتح القدیر علی القول الاول المذکور للهدایة فان کانت له خطیرة فدخلها السمك فاما ان یکون اعدها لذلك لا یملك ما یدخل فیها فلا یجوز بیعه لعدم الملك الا ان یسد الخطیرة] اذا دخل یملکه ولو لم یعدها لذلك ولکنه اخذه ثم ارسله فی الخطیرة] ملکه اه مختصراً".

د مذکوره روایاتو په بنا باندې مختصراً په دې ځاي کې دوه خبرې دي یو د ماهي د مملوک کیدو او غیر مملوک کیدو متعلق دویم د دې د بیعې او جواز او عدم جواز متعلق نو په اول امر کې درې صورتونه دي: اودهرصورت حکم جدا دی یوصورت دا چه ماهیان ئې واخستل یا ونیول او په تالاب کې ئې پرېښودل، د دې حکم دا دی چه دا ماهي او د هغې نسل ټول د هغه پرېښودونکي ملکیت دی، او بل چا له ئې بغیر د اجازت نه نیول درست نه دي، دویم صورت دا چه پخپله ئې نیولي یا اخستلې نه دي، لیکن د ماهیانو راتللو دپاره ئې کوم خاص تدبیر کړی دی، یا د راتلو نه وروستو ئې د هغې د بندولو دپاره کوم خاص سامان راوړی د دې حکم دا دی چه د دې تیاري او سامان سره هم د هغه ملکیت کیږي مګر صرف نیت کولو ته به تیاري نه وایو، ځکه چه د دې معنی سامان راوړل دي نه صرف قصد کول، دریم صورت دا دی چه د دې دواړو صورتونو نه یو صورت نه وي بلکه قدرتي طور باندې ماهیان پیدا شوي وي، نه د هغې د جمع کولو کوم اهتمام شوی وي، او نه د هغې د منع کولو کوم انتظام وکړو، د دې حکم دا دی چه د نیولو نه وړاندې به د چا ملکیت نه وي، دا خو په اول امر کې تفصیل وو، او په دویم امر کې تفصیل دا دی چه په کومو صورتونو کې ماهي چه ملکیت کې داخل شوي نه دي په هغې کې خو د نیولو نه بغیر هم خرڅول مطلقاً جائز نه دي، او په کومو صورتونو کې چه په ملکیت کې داخل شو نو په هغې کې دا کتل پکار دي، که د

نیولو لپاره د کومې حیلې او تدبیر ضرورت وي نو بیا هم بیعه جائزه نه ده ځکه چه هغه غیر مقدور التسلیم دی، او که بغیر د کوم تدبیر نه نیول آسان وي نو بیعه جائزه ده، مثلا په یو وړه کنده یا لوښي کې وي چه د لاس ښکته کولو سره ونیول شي او په کومو کتابونو کې ئې چه مطلقاً ناجائز لیکلي دي د دې نه مراد د عدم جواز خاص صورتونه دي. ۲۹ ذی الحجه ۱۳۲۷ھـ

## په تالاب کې د ماهي خرڅول

**سوال** :(۴۹) زمونږ طرفونو ته د ماهي حوضونه د ویالو غاړو ته یا نزدې وي کله چه د باران موسم کم وي نو د حوض مالک د هغې مخرج او مدخل بندوي یعني بند ورته اچوي او د ویالې نه ئې جدا کوي، داسې مالک له د نورو خلکو د ښکار نه بندول درست دي او که نه؟ که ناجائز وي نو د هدائې د دې عبارت څه منشا ده: "الا اذا اجتمعت بأنفسها ولم يسد عليها المدخل". منشا شبه داده چه "لم يسد" په ځای "يسد عليها المخرج" وي نو د دې څه حکم دی؟

**جواب** : دلته دوه جدا جدا حکمونه دي یو خو د ماهي مالک کېدل دي، د هغې خو دا قاعده ده چه بند لګولو سره هغه په ملک کې داخلیږي او فرع به ئې دا وي چه منع کول ئې جائز دي، دویم حکم د مملوک ماهي خرڅولو دی نو د هغې قاعده دا ده چه که هغه مملوک ماهي مقدور التسلیم وي نو بیع جائزه ده او که نه نو نه. "دلیل هذا کله ما فی الهدایة ولا یجوز بیع السمک قبل ان یصطاد لانه باع ما لا یملکه ولا فی حظیرة اذا کان لا یوخذ الا بصید لانه غیر مقدور التسلیم ومعناه اذا اخذه ثم القاه فیها ولو کان یوخذ من غیر حیلة جاز الا اذا اجتمعت فیها بأنفسها ولم یسد علیها المدخل لعدم الملک وفی العینی وقید به لانه لو سد موضع الدخول حتی صار بحیث لا یقدر علی الخروج فقد صار اخذا انه بمنزلة ما لو وقع فی شبکة فیجوز بیعه. ۲ صفر ۱۳۳۳ھـ

## په تالاب کې د ماهي خرڅول

**سوال** :(۵۰) په صفائي معاملات کې یوه مسئله لیکلې شوې ده هغه دا ده چه تالاب یا سیند ماهي نیوونکو ته ورکول کیږي او بل چاته په دې کې د ماهي نیولو اجازت نشته نو دا باطله بیعه ده او په همدې کې دوه کرخې وروستو بلکې ټولو ته د ماهیانو نیولو حق حاصل دی، د دې مسئلې نه زید وائي چه د مالک د اطلاع نه بغیر که د تالاب نه پټ ماهیان ونیول شي نو ګناه نشته ځکه چه شرعاً په دې کې د ټولو حق دی، نو حضرت صاحب د زید دا قول صحیح دی او که نه؟



**جواب** : د زید قول صحیح دی او پټ ماهیان نیول د تالاب نه صحیح دي لیکن که د تالاب مالک د کوم ځای نه ماهیان راوړي او په خپل لاس ئې پرې ایښې وي نو هغه به د ماهیانو مالک وي او بیا ئې پټ نیول صحیح نه دي، لیکن خرڅول بغیر د نیولو نه نو بیا هم درست نه دي. والله تعالی اعلم.
۱۶ ربیع الثاني ۱۳۲۴ھـ (امداد ثالث صـ۱۹).

## د زمیندارانو د بینک نه د مسلم نعم البدل کېدل

**سوال** :(۵۱) دلته دا رواج دی چه کروندګر تخم شیندلو په وخت د سود ورکوونکو نه غله قرض اخلي او شرط دا وي چه د فصل کټ کولو نه بعد به زیاته غله واپس کوي، دا غله د هغوئ د تباهۍ باعث کیږي او سود خواره په حساب او وزن وغیره کې هم قسما قسم زیاتی کوي کوم چه مزدوران د عرض د وجې نه پوره کوي؟ (۲) اکثره زمیندارانو سره دا خیال پیدا کیږي چه که د خپلې رعایا لپاره د کوم مصیبت او نقصان نه د بچ کولو کوم جائز تدبیر وي نو په هغې باندې دې عمل وکړی شي، د دې سره د خپلو روپو لګولو محصول او تجارتي فائده هم ضرور حاصلول پکار دي، ترڅو نقصان اوچت نه کړي او کومه فائده چه غیر خلکو ته کیږي هغه پخپله حاصله کړي. (۳) د سرکار د مخې د رعایا او زمیندارانو د امداد دپاره ئې یوه طریقه د کلیوالو بینکونو جاري کړې ده کوم ته چه کوآپریټیو بینک (Co-Operative Bank) وائي په دې کې مشترکه سرمایه وي، او څلور آنې د هغې د ممبر کیدو فیس دی، کوم خلک چه ممبران وي د هغې نه مونږ د قوم لس کسان په یو ځل قرض اخلي او د هغې د ادا کولو ذمه داري مشترکه او منفرد طور باندې په لسو کسانو وي او څلور روپۍ في صدي نه زیات سود نه اخستل کیږي په اصل کې د داسې بینکونو جوړول د زمیندارانو دپاره ډېر فائده مند دي لیکن افسوس دا دی چه مسلمان زمینداران د شرعي عدم جواز د وجې نه داسې بینک نه شي قائمولی او ځکه د خپلې رعایا د مدد کولو نه مجبوره وي. (۴) سوال دا دی چه هغوئ کومه طریقه اختیار کړي چه شرعاً جائزه وي او زمیندار ئې د سود خورو په ځای د خپلو زمیندارانو نه قرضه واخلي او د هغې شرائط داسې وي چه زمیندار په کې خپله سرمایه ولګوي او فائده وروسیږي او زمینداران د سود خورو د سخت شرائطو او نقصان نه هم محفوظ شي؟(۵) یو تدبیر چه په خیال کې راځي هغه دا دی چه د تخم اچولو یا ضرورت په موقع باندې دې زمینداران د کاشتکارانو نه نغدې روپۍ واخلي او خپل کار دې چلوي څه وخت چه نوی فصل کټ کړی شي

هغه وخت دې د بازار د نرخ په حساب سره کوم به چه هغه وخت غالباً ارزان وي د هغې په نیست کله چه تخم کیږي غله ورکړي په دې صورت کې به چه په ارزانۍ او ګرانۍ کې کوم فرق وي هغه به د قرض ورکوونکو فائده وي، په دې صورت کې شرعاً کاشتکارانو (کروند ګرو) ته د فائدې رسولو او پخپله فائده حاصلول جائز دي او که نه؟ او که نه وي نو بل کوم صورت دی د کوم په اختیارولو سره چه زمیندار د قرض ورکوونکي او کروندګر قرض اخستونکي ته فائده حاصله شي، چونکه دا مسئله ډیره ضروري ده او ضرورت ئې عام طور باندې محسوسیږي او د بحث ومباحثې نه وروستو د دې په فائده مند کیدو باندې د حکومت او عوامو ټولو اتفاق دی او په زرګونو داسې بینکونه جوړ شوي دي او جوړیږي او د سرکار د طرف نه ډیره توجه او ترغیب ورکول کیږي چه په دې طریقې سره دې کروندګر د زمیندارانو مدد وکړي او د سود خور او د ظلم د پنجو نه دې خلاص کړی شي د دې سره چه څوک خپلې روپۍ بندوي نو هغه ته چه څو پورې فائده نه وي نو نامکنه ده چه هغه خپلې روپۍ بندې کړي او که وېې نه لګوي نو نقصان دا دی چه که ګاونډې زمیندار کوم بینک خلاص کړي نو د هغه رعایا خوشحاله او فارغ البال وي د دې په خلاف که مونږ د خپل قوم خدمت ونه کړو نو د شرعي ناجائز والي د وجې نه به زمونږ قوم د دې فائدې نه محروم وي او د دې ډیر بد اثر وي لهذا د مسلمان زمیندارانو کومه جائزه طریقه راویستل پکار دي چه علماء کرام هغه تجویز وړاندې کړي په هغې کې خو به فائده همغه حاصلیږي کومه چه په کلیوال بینک کې مقصود وي لیکن معصیت به په کې نه وي. صحیح جواب راکړئ؟

**جواب**: کوم تدبیر چه په پنځم (۵) سوال کې لیکلی شوی دی هغه د لږ ترمیم نه بعد د شریعت موافق جائز کیداې شي یعنې د تخم غورځولو په وخت دې نغدې روپۍ کروندګرو ته ورکړی شي او د هغې غله دې په فصل باندې اخلي مګر نرخ دې د روپو ورکولو په وخت معین شي یعنې دا نه ده چه بازار کې ئې هغه وخت څۀ نرخ وي، دومره به ترې زیاتې اخلو، بلکه داسې معین شي چه مونږ به سیر په لس یا دولس باندې اخلو که د بازار نرخ هم څۀ وي او په خپل نزد دې تخمیناً ولګوي او په همدې سره دې حساب وکړي، که لږ شان کموالی زیاتوالی هم وشو نو د شرعي جواز د مخې د دواړو طرفونو نه کمی زیاتی کول هیڅ خبره نه ده، دې ته په شریعت کې بیع سلم وائي، د دې په جواز کې نور هم آسان شرطونه دي، په معاملات صفائي رساله کې دې وکتل شي، په کوم کې چه یو شرط د عامې ابتلاء د وجې نه د زیات اهتمام قابل دی هغه دا دی چه په وعده



کړی شوي وخت باندې که وعده کړی شوې غله وصول نه کړی شي نو د هغې په عوض کې نه خو بل جنس اخستل درست دي او نه د روپو اندازه زیاتول درست دي، نو که روپۍ اخلي هومره به اخلي څومره چې ئې ورکړې وي، او که جنس اخلي نو همدغه شان او که په دغه وخت کې جنس نه وي نو مهلت دې ورکړي او د مهلت نه بعد دې همغه واخلي کوم چه تعین شوی وو او که اوس هم په کوم جزء کې شک باقي پاتې وي نو تپوس دې وکړی شي. والله اعلم. ۱۲ ربیع الاول ۱۳۳۴هـ (تتمه رابعه صـ۶۴).

### د زمیندارا نو د بینک حکم

**سوال** :(۵۲) په جالندهر ښار کې یو انجمن چه نوم ئې خادمان اسلام د اووه کالو نه جوړ شوی دی، د دې د لاندې یو اسلامي هائي سکول دی په کوم کې چه د عربي، انګریزي، فارسي، حساب وغیره نه علاوه په ابتدائیه کې قرآن شریف او متوسطه کې فقه او حدیث هم ویل کیږي، لیکن د دینیات په نسبت نور مضامین غالب دي، د دې جوړیدل د قوم د مختلف قسم امداد و عطیات، زکات وصدقات او د زمیندارو بینکونو د منافع یعنې سودي روپو نه هم کیږي، لیکن د تنخواه، تقسیم او اخراجاتو ترمنځ هیڅ تمیز نشته دی، ټولې روپۍ یوځاي جمع کیږي او د هغې نه تنخواه ګانې وغیره او د تعلیم سامان اخستل کیږي، په داسې مدرسه کې د تعلیم، کار وغیره لپاره ملازمت کول او د مذکوره صورتونو نه ورله د امداد راټولول ګناه خو نه ده، مهرباني وکړئ جواب راولیږئ ترڅو زما د زړه د تسلي موجب شي، ځکه چه خاکسار په دې انجمن کې محرر دی او د روپو وصولولو کار کوي؟ فقط.د دې سوال په جواب کې د فتاوی خاوند لاندې مضمون راولیږلو:د زمینداره بینک څه صورت دی، د دې جواب په هغه تحقیق باندې موقوف دی. آه، د دې په جواب کې بیا دا سوال راغی:**د محرر کار**:یعنې د وصولولو د چندې لپاره خط و کتابت کول، د میاشتنۍ چندې وصولول او د هغې باقاعده حساب ساتل.

### د زمینداره بینک صورت

په پنجاب کې زمیندار قوم یا مسلمان قوم خپل مینځ کې روپۍ راجمع کړې او یو بینک جوړوي، د دې جمع شوو روپو نه چه د هغوئ څومره ضرورت وي یو پیسه في روپۍ ماهوار سود باندې ئې اخلي، د قرضې ادا کولو په وخت سود د سلو په شرحه شمار او اصل قیمت سره سودا کیږي، د

تول کال د روپو حساب کیږي څومره روپۍ چه د سود زیاتي شي هغه د بینک د ممبرانو ترمنځ تقسیمیږي، د دې نه څه روپۍ مدرسې له هم راځي، غرض دا چه د دې مدرسې اجراء په مختلف قسمه آمدن باندې موقوف ده؟

**جواب**: د دغه بینک آمدن خو حرام دی باقي په کومه مدرسه کې چه د دې نه امداد کیږي که نور حلال آمدن غالب او دا مغلوب وي نو بیا خو د دې مدرسې نوکري او مجموعه تنخواه اخستل حلال دي او که نه نو حرام. ۳محرم الحرام ۱۳۳۴ھ (تتمۀ اربعه ص ۵۹).

## د بینکي معاملې ناجائز والی

**سوال**: (۵۳) بینکي کاروبار جائز دی او که نه؟ که کوم کس یو لوي کاروبار خلاصول وغواړي نو د یوې کمپنۍ نه ورله بندوبست کوي، څومره چه د یو کال لپاره د هغه کاروبار ته ضرورت وي هغه به ورله کمپنۍ ورکوي، مګر څومره آمدن چه د هغه مال وکړي هغه به تول کمپنۍ ته لیږي، مذکوره کمپنۍ هغه خرڅوي نو څومره خرچ چه ئې کړی وي هغه وصول کړي او د اصل روپو سود هم ترې واخلي، باقي روپۍ چه بچت پاتې شوې نو د کاروبار خاوند ته ئې راولیږي نو دا قسم له بینکي کاروبار جائز دی او که نه؟

**جواب**: د دې سوال حاصل خو صرف دومره دی چه یو کس لوي تجارت کول غواړي او سرمایه ورسره نشته دی، نو هغه د چا نه په سود قرض اخلي، او په دې تجارت کې چه د هغه څومره آمدن کیږي هغه آمدن دغه قرض خوا ته ورکوي بیا په آخره کې د حساب په کولو سره که د هغه سره د اصل او سود نه څه زیاتې روپۍ پاتې شوې هغه هغه ته واپس کوي، بس اصل سوال خو دومره دی او د دې جواب ظاهر دی چه سودي قرض اخستل حرام دي، باقي په دې سوال کې چه کوم مثال فرض کړی شوی دی په هغې کې د دې سوال دوه کارونه د تعرض قابل دي، یو دا چه د باغیچې اخستل جائز دي او که نه؟ نو دا یوه مستقله مسئله ده که دا پوښتنه کړی شوی وي او په سوال کې پوره حقیقت د معاملې ظاهر کړی شي نو د دې جواب ممکن دی، دویم دا چه دا مال مقروض یا قرض ورکوونکی خرڅوي، دا جائزه ده او که نه؟ نو په دې کې تفصیل دا دی چه ایا د هغه دا مال خرڅول په عقد کې داخل او شرط دی او که اتفاقاً بلا جبر داسې اتفاق کیږي، په اول شق باندې دا معامله فاسده ده او په دویم شق کې جائزه ده. ۲۴ شعبان ۱۳۳۷ھ (حوادث خامسه ص ۲٦).



## د بینک منافع

**سوال**: (۵٤) که په بینک کې روپۍ جمع کړی شي نو د هغې د سود نه فائده اخستل جائز دي او که نه؟ مګر د بینک خاوند نصراني دی؟

**جواب**: سود په قطعي نصوصو سره حرام دی او د نصوص په اطلاق باندې نصراني او غیر نصراني تول برابر دي، "وأباحة الشیئ لا یستلزم جواز العقد به فافهم والله تعالى اعلم وعلمه اتم واحکم". ۱۳ ذیقعده ۱۳۲۱ھ (امداد ج۳، ص۳٦، حوادث او ۲ ص۸۸).

## په چلیدونکي کاروبار او نوټ باندې بټه اخستل

**سوال**: (۵۵) په کاروبار او نوټ باندې زیاتوالی اخستل صحیح دي او که نه؟

**جواب**: نه.

## په نوټ یا کاروبار کې د کمي او زیاتي کولو حکم

**سوال**: (۵٦) السلام علیکم! مونږ تاجران یو، اکثره د کاروبار اخستلو خرڅولو لین دین کوو او په هغې باندې دوه څلور آنې یا کم او زیاته بټه هم اخلو نو دا سوال کوو چه د شریعت له مخې دا خو سود نه دی، په نورو نوټونو یا اشرفیو باندې بعضې وختونو کې دوه یا څلور آنې هم ورکوو او همداسې کله ئې اخلو هم، مثلاً د یوې اشرفۍ به پنځلس روپۍ ورکوو او د هغې په بدله کې به یوه اشرفۍ او یوه آنه اخلو نو دا هم جائزه ده او که نه؟ د جواب نه مو خبر کړئ؟

**جواب**: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! که د هنډۍ بټه هم همداسې وي لکه څنګه چه په نوټ باندې اخستل کیږي نو بیا خو حکم دا دی چه په هغې او نوټ کې کموالی او زیاتوالی ناجائز دی، او اشرفۍ د پنځلسو روپو نه په کمو باندې زیات خرڅول صحیح دي په دې شرط چه عوضین لاس په لاس وي، او په قرض باندې کموالی او زیاتوالی کول صحیح نه دي.

## د زمیندارانو بینک

**سوال**: (۵۷) د زمیندارانو بینکونه چه په کلیو کې خلاص شوي دي او قاعده ئې دا ده چه پنځه یا لس یا شل روپۍ څومره چه مقرر وي په بینک کې د ورانډې نه هغې داخلیږي کوم چه داسې امانت لري هغه حصه دار ګڼل کیږي، یعنې هغه د دغه بینک سره لین دین کولی شي، او هغه روپۍ چه

وراندئ ئي جمع کړې دي د لسو کالو نه بعد به ورته د سود سره ملاويږي، هغه داسې چه سرکاري سود اته نيمې روپۍ د کال دي او د زمينداراانو نه دولس نيمې روپۍ د کال وصوليږي، څلور روپۍ چه کوم سود باقي بچت دی هغه به لس کاله بعد تقسيميږي، او د دې هيڅ شرحه مقرره نه وي بلکه په بچت باندې انحصار کوي، څه حصه چه وررسيږي هغه به ملاو شي او چونکه د هغوئ نه ئي څلور روپۍ د کال زياتي وصول کړي نو دا بچت وشو نو دا طريقه د شريعت له مخې څنګه ده؟

**جواب**: چونکه حکومت په دې کې د زمينداراانو وکيل دی نو ځکه دا داسې دی لکه زمينداران چه پخپله سود اخلي نو بالکل هم جائزه نه ده. ربيع الاول ۱۳۳۲ھ (حوادث اول ۲ ص ۱۳۳).

## په بچت بينک او ډاکخانه کې روپۍ ايښودل او د سود اخستلو حکم

**سوال**: (۵۸) په دار الحرب کې بعضې خلک په بچت بينک کې پيسه پيسه جمع کوي او سالانه سود هم اخلي، آيا د مسلمان لپاره دا جائز دي؟

**جواب**: دا کار معصيت دی مګر د دې نه چه کوم مال حاصل شي هغه مباح کيداي هم شي او په دې مسئله کې اختلاف هم دی. ۱۴ جمادی الاخری ۱۳۲۸ھ (تتمه اول ص ۱۵۵).

## د مبيع قيمت کمولو لپاره د خرڅوونکي رضا شرط او
## په بيع مرابحه کې د هغې اظهار کول ضروري دي

**سوال**: (۵۹) علماء کرام په دې باره کې څه فرمائي چه مونږ تاجران چه د کاريګرانو نه کوم مال اخلو نو يوه پيسه په روپۍ کې کټ کوو او د مال قيمت ورکوو او د دې خبرې اعلان کاريګرانو ته د وراندئ نه کړی شوی دی په دې صورت کې دا بيع شرعاً جائزه ده او که ناجائز؟ دويم صورت که خرڅوونکی په دې کموالي باندې راضي وي نو څه حکم دی او که راضي نه وي نو څه حکم دی؟ دريم صورت دا دی چه پيسې او روپۍ کمولو سره چه کوم مال اخستل کيږي نو بيوپاري ته پوره د يوې روپۍ ښودل کيږي او په يوه روپۍ ترې نفع اخستل کيږي يعني بيوپاري ته هغه کموالی نه مجرا کيږي، دا کار جائز دی او که ناجائز؟

**جواب**: اول اعلان کافي نه دی. د اخستلو په وخت خرڅوونکي ته اطلاع کول پکار دي چه داسې به کيږي او که د خريدارئ په وخت کې ئې ونه ويل نو بيا د هغې جواز د خرڅونکي په رضا باندې



موقوف دی، او بغير د رضامندئ نه ناجائزه ده،او د دې کموالی حقيقت د قيمت کمول دي، او د دې کموالي نه بعد بيوپاري ته هم د دې اطلاع کول ضروري دي کله چه نفع باندې معامهل وه نو پوره روپۍ ښودل حرام دي ځکه چه د قيمت کموالی د اصل عقد سره ملحق کيږي ګويا چه په پاوکم شپاړلس آنې باندې د اول نه معامله وشوه. ۱۸ جمادی الاخری ۱۳۳۴ھ (تتمه اربعه ص ۷۳).

## د بيع المضطر د حکم تحقيق

**سوال**: (۶۰) وقتيکه شمايان در جلسه مدرسه عبدالرب صاحب مرحوم تشريف آورده بوديد پس در انجاوزان صاحب يک دوست بنده تفتيش کرده بود که بيع مضطر بغبن فاحش يا شرائی وی بغبن فاحش جائز ست يا نه، جناب در جواب فرموده که بيع وشراء مضطر غير مکروه جائز وصحيح است، در اين باره عرض کرده مي شود که در مختار در آخر بيع الفاسد فرموده "وفي انتف بيع المضطر وشرائه فاسد وصاحب" رد المختار زير اين قول تحقيق کرده وبعد ازان تحقيق بيع وشراء مضطر بغبن فاحش فاسد گردانيده چونکه عبارت وی طويل بود ازين وجه نقل کرده شده طحطاوي حاشيه در مختار تحت قول مذکور فرموده "هو ان يضطر الرجل الى طعام او شراب او لباس او غيرها فلا يبيعها البائع الا باکثر من ثمنها بکثير وکذا في الشراء منه کذا في المنح انتهى حلبى" نيز در شرح الاوطار حاشيه در مختار بزبان اردو در استدلال برفساد بيع وشراء مذکور حديث شريف نقل کرده که مروي است از علي کرم الله وجهه "نهى النبي ﷺ عن بيع المضطر وشراه، از ابوداود" اقوال مذکور الصدر دلالت مي کند بر فساد پس بر تقدير صحت دستخط کرده واپس ارسال فرمائد واگر برخلاف آنجناب را رواية راجح معلوم ميشود آن را تحرير کرده عنايت فرمائيد، عند الله ماجورو عند الناس مشکور خواهيد گرديد؟

**جواب**: در ذهن من همان بود که زبانی جواب داده بودم غالباً شبهش اقوال شراح حديث است "کما قال الخطابي هذا يکون من وجهين احدهما ان يضطر الى العقد من طريق الاکراه عليه وهذا بيع فاسد لا ينعقد والثاني ان يضطر الى البيع لدين رکبه او مونته ترهقه فيبيع ما في يده بالوکس بالضرورة وهذا سبيله في حق الدين والمروة ان لا يباع على هذا الوجه ولکن يعان ويقرض الى الميسرة او يشتري سلعة بقيمتها فان عقد البيع مع الضرورة على هذا الوجه صح لم ينفسخ مع کراهة اهل العلم له مص على ابي داود وفي المرقاة من النهاية مثله وفي اللمعات المرادبه المكره اي

لا ینبغي ان یشتری ویتباع من المکره وقیل یجوز ان یراد من المضطر المحتاج الذي اضطر الی البیع لدین رکبه او موته لحقه فیبعه رخیصاً بحکم الضرورة فالمروة تقتضی ان لا یشتری منه ویعان ویقرض" اهـ الحال درمختار ورد المختار را مطالعه نمودم وازان ترددې در دل پیدا شد لیکن بعد تامل راجع همان قول خود مینما ید وعمل قول در مختار ورد المختار صورتی خاص معلوم مې شود وآن آنست که درین عبارت مذکور هست، "ومثاله ما لو الزمه القاضی ببیع ماله لا یقاء دینه او الزمه الذمی ببیع مصحف او عبد مسلم ونحو ذلک" اهـ یعنې صورتیکه در آن بیع مال از حکم معین کرده شود ومعنی نحو ذلک همین ست وقرینه برین حمل آن قول مصنف است که صاحب رد المختار بطور استدراک نقل کرده "ولو صادره السلطان ولم یعین بیع ماله فباع صح اه" پس بناء برین تقریر حاجت آن جواب نیست علامه شامی بصیغه تمریض نقل کرده فرموده "فتامل هذا عندی فان لم یطمئن قلبکم فراجعوا الاکابر ولست بمصر علی ذلک". ۱۸ ربیع الاول ۱۳۳۵ اهـ (تتمه خامسه صـ۶).

## کوم کتاب چه په کتب خانه کې موجود نه وي د هغې

## د بیع وعده بیا کتاب اخستل او په نفع باندې د خرڅولو حکم

**سوال** :(۶۱) زید رابکر گفت مرا کتاب شرح وقایه مې باید زید گفت موجود نیست طلبیده میدهم واز مطبع بذریعه وي پي طلبیده بقیمت خویش یعنې از بکر چیزي نگرفته بلکه برز خویش قمیتش ادا نموده بکر رابنفع قلیل یا کثیر بیع نمود مثلاً چهار روپیه وي پي ادا نموده به پنج روپیه بکر را داده این جائز است یا نه وجه شبه این که چونکه طلبش زید طلبیده است بهمان قیمت اور ادادن ضروري باشد یا نه واگر ظاهر نماید که به پنج روپیه آمده درین صورت ناجوازش معلوم وظاهر است، ۳ جمادی الاخری ۱۳۳۹ اهـ؟

**جواب** : چونکه احتمال غالب است که بکر راهمین گمان باشد که زید برائ من خرید مي کند وبناء علیه مرابهمان ثمن میدهد که خود خرید کرده وسکوت در موضع بیان مثل بیان باشد، لهذا شرط جواز پنج روپیه گرفتن آنست که زید تصریح نماید که من برای خود خرید می کنم باز بشما معامله می نمایم وچون معامله بشما جدید باشد شمارا اختیار خواهد بود که خرید کنید یا نه کنید ومرا اختیار خواهد بود خواه بثمن خرید خود بدست شما فروشم خواه نفع هم گیرم وبدون این تصریح جائز نمي نماید. (تتمه خامسه صـ۱۹۰).



## زړې سکې د سودا په قیمت کې ادا کول

**سوال** :(۶۲) د دکان محرر په غلطۍ سره یوه زړه اکنی واخستله، کومه چه ما جدا کیښودله او د هغې د چلولو نه یې منع وکړه لیکن هغوئ دا خیرخواهي وګڼله او ویې چلوله ماله ئې خوشخبري راکړه، زه خفه شوم او کوم ځاي کې ئې چې چلولې وه هلته مې روغه سکه ولیږله چه زړه واپس کړي، هغه جواب راکړو چه مونږ هم چلولې ده، په دې صورت کې دې یوه آنه باندې څه کول پکار دي، پخپله خو به ئې استعمالول جائز نه وي؟ ځکه چه که مونږ په غلطۍ سره د چا نه دوکه وخوړه دا حلاله نه ده چه مونږ چاله دوکه ورکړو؟

**جواب** : کوم ځاي نه چه هغه زړه آنه تللې وه نو چونکه د هغه حق نه وو ادا شوی ځکه دا صحیح او نوې آنه د هغه شرعي حق دی، باقي د هغه واپس کول چونکه د هغه بناء فاسد دي نو ځکه دا واپس معتبره نه ده اوس دې بیا هغه د حق والا ته اطلاع ورکړی شي چه ستا حق په مونږ باندې دی او هغه حق زړه آنه باندې نه دی ادا شوی، البته که ته ئې په خپله خوښه د خپل حق بدل ګڼې نو بیا حق شو د دې نه بعد که هغه په هغه زړه باندې راضي شي نو هغه نوې ستا ده، مصرف ئې کړه او که نوې اخستل وغواړي نو ور ئې کړه او په دې دویم صورت هغه باندې دوه کارونه واجب دي، یو زړه آنه واپس کول د کوم معاف کولو اختیار چه ته لرې، دویم دا چه زړه آنه چه هغه چا باندې چلولې ده هغه له اطلاع ورکول او بله آنه ورکول او بیا دویم کار په هر حال کې په هغه باندې واجب دی، او دا زړه آنه چه د چا لاس له هم راشي هغه له ئې په کوهي کې غورځول پکار دي، او که معلومه نه شي چه چیرته تللې ده نو ضرور چه دا چیرته اول ځل چلیدلې وي د هغه په ذمه باندې د چا حق شي هغه لقطه ده صاحب دې د حق په نیت سره هغه صدقه کړي. ۱۹ ذی الحجه ۱۳۳۹ اهـ (تتمه خامسه صـ۲۰۷).

## د بیع عقد نه بعد د قبضې نه وړاندې چه کوم عیب په

## مبیع کې پیدا شي د هغې د وجې نه د مبیع واپس کول

**سوال** :(۶۳) په دې مسئله کې شرعي حکم څه شی دی چه ما یوه روغه میښه واخستله، قیمت مې ادا کړو، میښه په ځنګل کې د خرڅوونکي په قبضه کې وه هغه ماښام له د ادا کولو اقرار کړی وو، ځنګل ته زما ځوي د هغې لیدلو له لاړو او راوستل ئې وغوښتل مګر هغه نه راتله او وتښتیده، او

خنگل کې د خرڅوونکي په قبضه کې وه، مابنام خرڅوونکي هغه میښه راوړه چه دې بچی راوړی کوم سره چه هغه خرابه شوه او د هغه میښې هغه حیثیت پاتې نه شو کوم چه د اخستلو په وخت وو، د خرڅوونکي دا بیان هم دی چه د څنګل نه د راوستلو په وخت چه دا ستا ځوي نه وتښتیده دا د هغې نقصان دی، مګر د دې هیڅ تصدیق نشته دی، اوس دا میښه د چا ده؟ آیا د خرڅوونکي په قبضه کې د هغه ده او که زما؟ میښه تراوسه پورې د خرڅوونکي سره ده؟

**جواب** : "فی الهدایة باب الخیار العیب تحت قول محمد افاذا اقامها حلف بالله الخ مانصه لان العیب قد یحدث بعد البیع قبل التسلیم وهو موجب للرد". د مذکوره روایتونو په بنا باندې حکم دا دی چه که په دغه میښه باندې دغه هلک قبضه کړې وه او بیا د هغه د لاس نه وتښتیده نو بیا خو میښه د اخستونکي ده، او که هلک نه وه قبضه کړې نو بیا د خرڅوونکي ده. (النور شعبان ۱۳۵۰ھ ص۵).

## په یهودو د فلسطین ځمکه خرڅول

**سوال** :(٦٤) بسم الله الرحمن الرحیم! ما حکم الشریعة الاسلامیة المطهرة فی بعض المسلمین الذین یبیعون اراضی بلاد فلسطین المقدسة اویتوسطون ببیعها الیهود الطامعین الذین یقصدون من شراء هذه الاراضی والعقارات جلاء المسلمین عن هذه البلاد المقدسة والاستیلاء علی المسجد الاقصی الذی بارك الله حوله وانشاء کنیستهم الهیکل مکانه وتشکیل دولة یهودیة فی فلسطین بمساعدة بعض الدول المعاویة للاسلام والتی تبذل کل جهد فی محاربة وما ه الرادع لهم عن هذا العمل المنکر؛ وهو اذا افتی بعض العلماء بکفر من باع ارضه للیهود او توسط ببیع ارض غیره لهم لمساعدة اهل الکفر علی المسلمین والموالاته للیهود الذین یعملون لیلاً ونهاراً الطرد المسلمین وابعادهم عن بلاد فلسطین والمسجد الاقصی الذی اسری الله برسوله محمد صلی الله علیه وسلم الیه وحرمانهم من الصلوة علیهم ومن الدفن فی مقابر المسلمین لخروجهم عن الاسلام وفیه عبرة لغیرهم ممن تسول له نفسه اقتراف مثل خطیئتهم؛ فما قولکم فی فتواهم؛ واذا کان هناك زاجر اخلافها ذکرا فیه ونا ولکم من الله الاجر والثواب؟

**جواب** : وهو الموفق للصدق والصواب؛ اما عن الجزء الاول فلنمهد اولا الدلایل ثم نشید بها السایل؛ ففی الدر المختار فصل الجزیة احکام اهل الذمة ما نصه ولا یعمل بسلاح وفی رد المختار رای لا یستعمله ولا یحمله لانه عز وکل ما کان کذلك یمنعون عنه قلت ومن هذا الاصل تعرف احکام کثیرة دو منتفی اه وهذا اصل کلاً وههنا جزییات نسروها ففی الدر المختار الذی اشتری دارا) ای اراد شراءها (فی المصر لا ینبغی) ان تباع منه فلو اشترآ یجبر علی بیعها من المسلم) وقیل لا یجبر الا اذا کثر درر؛ فی رد المختار قوله الذمی اذا اشتری دارا الخ قال السرخسی فی شرح السیر فان مصر للامام فی اراضیهم للمسلمین کما مصر عمر رضی الله عنه البصرة والکوفة فاشتری بها اهل الذمة دورا وسکنوا مع المسلمین لو یمنعوا من ذلك فانا قبلنا منهم عقد الذمة لیقفوا علی محاسن



الذین فعسی ان یومنوا واختلاطهم بالمسلمین والسکن معهم یحقق هذا المعنی وکان شیخنا الامام شمس الایمة الحلوانی؛ یقول هذا اذا قالوا وکان بحیث لا تعطل جماعات المسلمین ولا تتقلل الجماعة بسکناهم بهذه الصفة فاما اذا اکثروا علی وجه یوذی الی تعطیل بعض الجماعات او تقلیلها منعوا من ذلك وامروا ان یسکنوا ناحیة لیس فیها للمسلمین جماعة وهذا المحفوظ من ابی یوسف فی الامالی اه ثم فی الدر المختار بعد اسطر (واذا تکاری اهل الذمة دورا فیما بین المسلمین لیسکنوا فیها) فی المصر (جاز) لعود نفعه الینا ولیروا تعاملنا فیسلموا (بشرط عدم تقلیل الجماعات بسکناهم) شرطه الامام الحلوانی (فان لزم ذلك من سکناهم امروا بالاعتزال عنهم والسکنی بناحیة لیس فیها مسلمون) وهو محفوظ عن ابی یوسف بحر عن الذخیرة وفی رد المختار تحت القول الاتی من الدر المختار لکن رده الخ ما نصه فتحصل من مجموع کلام الحلوانی والتمرتاشی انه اذا لزم من سکناهم فی المصر تقلیل الجماعة امروا بالسکنی فی ناحیة خارج المصر لیس فیها جماعة للمسلمین وان لم یلزم ذلك یسکنون فی المصر بین المسلمین مقهورین لا فی محلة خاصة لانه یلزم منه ان یکون لهم فی مصر المسلمین منعة کمنعة المسلمین بسبب اجتماعهم فی محلتهم فافهم ثم فی رد المختار بعد اسطر بعنوان التنبیه ما نصه قال فی الدر المنتقی وکذا یمنعون عن التعلی فی بنایهم علی المسلمین ومن المساواة عند بعض العلماء نعم یبقی القدیم ثم قال بعد بحث طویل والحدیث الشریف لا یفید ان لهم ما لنا من العز والشرف بل فی المعاملات من العقود ونحوها للادلة الدالة علی الزامهم الصغار وعدم التمرد للمسلمین وصرح الشافعیة بان منعهم عن التعلی واجب وان ذلك لحق الله تعالی وتعظیم دینه فلا یباح برضا الجار المسلم اه وقواعدنا لا تاباه ولقد مرانه یحرم تعظیمه ولا یخفی ان الرضا باستعلایه تعظیم له هذا ما لی فی هذا البحل والله تعالی اعلم اه قلت وفی الباب روایات لا تحد ولا تعد وفیما ذکرنا کفایة انشاء الله تعالی واذا کان هذا حکم الکراء والشراء للدار؛ والتعلی فی البناء والجدار فکیف حکم بیع المسلمین اراضیهم من الکفار وهو اقویا سباب العزة والشوکة والقوة والصولة واذا کان هذا حکم الذمیین وهو مقهورون تحت حکم الاسلام فکیف حکم غیر الذمیین الذی لیسوا فی شیی من الاستسلام وهو کما قال الله تعالی لا یالونکم خبالا وکما قال تعالی لا یرقبون فی مومن الا ولا ذمة وکما قال الله تعالی؛ ان یثقفوکم یکونوا لکم اعداء ویبسطوا الیکم ایدیهم والسنتهم بالسوء وودوا لو تکفرون؛ ولله در القایل:

احبا بنانوب الزمان کثیرة — وامر منها رفعة السفهاء

فمتی یفیق الدهر من سکراته — ورای الیهود بذلة الفقهاء

واما عن الجزء الثانی فان کان اهل هذه الفتاوی من اهل البصیرة والکیاسة فاقرب محاملها هی السیاسة والعلماء هم فی امثالها حق الریاسة؛ وهذا اخر الجواب فی هذا الباب والله اعلم بالصواب. کتبه اشرف علی التهانوی من الهند الحنفی الفاروقی عنه للثلث الاول فی رمضان المبارك ۱۳۳۸ھ (النور شعبان ۵۴ھ ص۹).

## د ذبحه کولو نه وړاندې د څاروي غوښه یا څرمن اخستل

**سوال** :(٦٥) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د غوا او چیلۍ څو کسانو د حلالې نه وړاندې اندازې سره قیمت وکړو او د څرمنې خبره ئې جدا د بل چا سره وکړه، او همغه وخت قیمت هم ټولو کسانو ورکړو یا ئې ومنلو او بل صورت دا دی چه د حلالې نه وړاندې به صرف د غوښې یا صرف د څرمنې قیمت ملاویږ که د حلالې نه وړاندې داسې صورت وکړی شي نو د هغې غوښه د حلالې نه وروستو اخستل او خوړل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

**جواب** : "فی الدرالمختار صور البیع الفاسد وکذا اکل ما اتصاله خلقا کجلد حیوان ونوی تمر وبزر بطیخ اه". د دې نه معلومه شوه چه دا فاسده بیعه وه او په بیع فاسد کې عقد کوونکي دواړه ګناهګار وي، مګر بیع د قبضې نه وروستو ملکیت کیږي نو غوښه هم د هغه ملکیت شو نو د حلالې نه وروستو ئې غوښه اخستل جائز دي. ۲۹ رمضان ۱۳۳۲ھ۔

## که زمیندار د خپل قوم نه په ارزانه بیعه غوښه واخلي د هغې حکم

**سوال** :(٦٦) قصابانو کې د همیشه دپاره دا دستور دی چه د نورو خلکو په مقابله کې زمیندار ته په کم قیمت غوښه ورکوي او بعضې ځایونو کې د سیر یو آنه نرخ مقرر دی، اګر که اصلي قیمت هر څه وي، دا جائزه ده او که نه؟

**جواب** : یو طرف ته جائزه ده، مثلاً دا قصاب د زمیندار په کور کې اوسیږي او داسې یو فائده د هغې نه حاصلوي چه شرعاً جائزه وي او په دې اجرت کې دا خبره هم ومنل شي چه هره میاشت به دومره اندازه غوښه مونږ په دومره قیمت اخلو، او که په میاشت کې د دغه اندازې نه کمه یا زیاته شي نو څه باک نشته، داسې صحیح ده، څومره احتمال چه په میاشت کې وي د هغې نه لږ زیات مقررولو کې به څه خطره نه وي، مګر حساب به یاد ساتي. ۳ صفر ۱۳۳۴ھ (تتمه اربعه ص ۶۳).

## د زمیندارانو د کروندګرو نه د واده په موقع باندې

## غوړي په ارزان قیمت اخستل او غیر معین اندازه باندې

**سوال** :(٦٧) په زمیندارانو کې دستور دا دی چه د واده په وخت د کروندګرو نه د یوه روپۍ ورکول او غوړي ترې اخلي او کروندګر یوه روپۍ اخلي او د پاو باندې یوې روپۍ غوړي ورکوي؟



**جواب** : دا ناجائزه ده ځکه چه په دې کې مجموعي اندازه تعین نه ده چه څومره غوړي به په کال کې مثلاً اخستل کیږي. ۲۶ شوال ۱۳۳۳ھ (حوادث ثالثه ص ۱۵۸).

## د بعضې عذرونو په حالت کې د ولاړو وابنو خرڅول

**سوال** :(٦٨) په دې مسئله کې علماء کرام او مفتیان څه فرمائي، د فقهې په کتابونو کې د بیع باطل او فاسد په بیان کې لیکلی شوي دي چه ولاړ وابنه خرڅول صحیح نه دي، کله چه زمیندار د مضبوطیدو نه وړاندې اوبه نه وي ورکړي او پخپله غټ شوي وي، او کومه ځمکه چه د زراعت قابل نه وي ښکته پورته وي او په باران کې ډوبیږي هم په دې ځمکه باندې عموماً وابنه راخیژي او زمینداران ورله اوبه خو نه ورکوي مګر د هغې نګراني او حفاظت کوي، او حکومت ترې ټیکس هم اخلي مګر د زراعتي ځمکې نه کم او زمینداران هم ټیکس ورکوي، او کله چه زمیندار له د دې په فائده راوړل ناجائز دي نو په دې صورت کې زمیندار بغیر د څه وجې نه نقصان اوچتوي، او ګیر چاپیره خلک تجارتي مالونه ساتي، یعنې غویان او میښې ډیرې زیاتې ساتي او د هغې غوړي، شیدې او کوم بچي چه زیږوي هغه خرڅوي او څو ورځې بعد همدغه د مالونو مالکان خپل استحقاق قائموي چه مونږ ئې د ډیر وخت نه بغیر د څه معاوضې نه څروو، د ځمکې مالک له د منع کولو هیڅ حق نشته، د زمیندار دوه نقصانونه کیږي یو خو د حکومت ټیکس ورکوي، دویم دا چه څو ورځې بعد په هغه ځمکه باندې د هغه حق او واک نه پاتې کیږي، لیکن څه وخت بعد چه کله د ځمکې مالک د دغه ځمکې د کرلو اراده وکړي یا د کرلو قابله شي نو دغه د مالونو والا پرې مقدمه چلوي، او بیچاره زمیندار بغیر د څه وجې نه په پریشانئ کې مبتلا کیږي، او د دې ګیر چاپیره چه کوم پټي دي هغې ته هم مالونه نقصان رسوي، زمیندار د حکومت ټیکس د کوم ځاي نه ادا کړي، په دې صورت کې زمیندار باید څه وکړي، یعنې په دغه ځمکه باندې د څرولو روپۍ اخستل او د تحفظ په غرض سره د مالونو منع کول جائز دي او که نه؟

۲_ او په داسې قسم ځمکه باندې وابنه راخیژي او مالونه د څرولو نه منع کیږي او حفاظت ئې کیږي، مګر زمیندار اوبه نه ورکوي او کله چه هغه وابنه لوي شي هغې ته لوئي وابنه او درب هم وائي، او هغه په کلیو کې ډیر په کار راځي یعنې د خلکو او د مالونو د اوسیدو لپاره ډیر پکاریږي، او هغه ډیر قیمتي هم وي، نو په دې صورت کې د دې وابنو حفاظت کول او خرڅول جائز دي او که

ناجائز؟ او که علی العموم که په ځمکه باندې هر کس خپل مالونه څروي او حفاظت ئې ونه کړي نو په کلو کې د کورونو جوړولو ضرورت څنګه رفع کیداي شي؟ بینوا توجروا.

**جواب** : کوم واښه چه نیغ ودریږي یعنې تنه ولري هغه په هر حال کې دزمیندار ملکیت دی، او کوم چه داسې نه وي بلکه په ځمکه خوریږي نو په هغې کې تفصیل دا دی چه که هغه د دغه کس د اوبو ورکولو نه پیدا شوې وي نو بیا هم د هغه ملکیت دی، او کوم چه پخپله پیدا شو هغه ملکیت نه دی، او صرف په حفاظت سره نه ملکیت کیږي نو د داسې واښو خرڅول او کټ کول یا بل څوک د هغه نه منع کول جائز نه دي، او د ټیکس ورکولو نه د هغې جواز نه لازمیږي، "لان اخذ الخراج ان کان بحق مظاهر وان کان بغیر حق فلان المظلوم لا یظلم غیره" البته که مالونو ته د څرولو اجازت ورکولو سره په هغې کې څه ضرر وي لکه څنګه چه په سوال کې لیکلی شوي دي، نو په دي خاص صورت کې د هغې نه منع کول جائز دي، لیکن خرڅول یا اجاره کول جائز نه دي، بلکه که د مالونو والا ته د واښو ضرورت وي او خوا ته مفت واښه نه ملاویږي نو مالک ته به ویل کیږي چه یا خو د مالونو څرولو اجازت راکړه او یا هم ګیا راله راکټ کړه البته که په اجازت کې د زمیندار کوم ضرورت وي او په ممانعت کې خلکو ته عام ضرر نه وي نو امید دی چه د فقهاو لیکلې حیله باندې د عمل کولو ممانعت به نه وي او هغه حیله دا ده چه په کومه ځمکه باندې واښه دي هغه د کوم کس په لاس او کار لپاره په اجاره ورکړئ مثلاً مالونه دې په کې ودروي او همدغه شان به د کرایه روپئ وي نه د واښو، "کذا فی الدر المختار ورد المختار باب البیع الفاسد وباب الشرب". ۲۷ شعبان ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه صـ۶۶).

## د صفقة في صفقة د بعضې شرطونو جواز

**سوال** :(۶۹)"نهی عن صفقة في صفقة" د ظاهري معنی په لحاظ سره بعضې کارونه ناجائز معلومیږي حال دا چه په کثرت سره ئې عام او خاص کوي مثلاً د ګهړئ مرمت چه ماته پرزه وباسي او صحیح پرزه لګوي نو د دغې پرزې قیمت دی او د لګولو اجاره. ۲_ کټ جوړول، او بان د خپل طرف نه نه ورکول په دې کې د بوڼ بیعه ده او د جوړولو اجاره. ۳_ د سقه نه اوبه اخستل چه کله هغه اوبه راوویستلې او خپل لوښي کې ئې واچولې نو د هغه ملکیت شو نو د اوبو بیعه وشوه او د



هلته نه د راوړلو اجاره او دا هم بیع ما لیس عنده دی. ۴_ کوم ګانه یا ګوته جوړول د خرڅول دي او د لګولو اجاره "وغیره ذلک من المعاملات الرابحة"؟

**جواب** : د تعامل د وجې نه بلا نکیر شائع دي کوم چه یو قسم اجماع ده دا ټول معاملات جائز دي نو نص عام مخصوص البعض دی، لکه څنګه چه د صباغي او خیاطي اجازت ئې ورکړی دی چه رنګ او تار به د صانع وي او په دې کې اجاره هم وي. وهذا ظاهر جدا. فقط والله اعلم.

## په غیر مسلم باندې د واښو خرڅول او اخستل

**سوال** :(۷۰) (۱) په خپله غټیدونکي واښه د کافرو یا حکومت نه اخستل څنګه دي؟
(۲) او د کفار په لاس خرڅول څنګه دي؟

**جواب** : (۱) صحیح دي. (۲) د بعضو په نزد درست دي. ۹ ربیع الاول ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه صـ۲۰).

## کرل شوي واښه خرڅول

**سوال** :(۷۱) په جنتي کالی کې د واښو د ملکیت کیدو حضرت فرمایلي دي چه که اوبه ئې ورکړی وی او خدمت ئې کړی وو نو د هغه ملکیت به شي اوس ئې خرڅول هم جائز دي او د خلکو منع کول هم جائز دي، د خدمت صراحت دې وکړی شي چه څرنګه خدمت، یا د ځمکې مالک که د واښو تخم وغورځوي او د هغې وجې نه واښه لوي شي، ایا په دې صورت کې به هم واښه د هغه ملکیت شي او که نه؟

**جواب** : په درجه اولی به د هغه ملک شي، سقي ته د غرس نه د هغې په حاصلولو کې زیات دخل دی. "وفی ردالمختار واخص من ذلك كله وهو ان يحتش الكلاء اوانبته فی ارضه فهوملك له وليس لاحد اخذه بوجه محصوله بکسبه ذخيرة وغيرها ملخصا ج۵ ص۴۵۳". ۱۰ رمضان ۱۳۳۷هـ (تتمه خامسه صـ۹۱).

## اقاله (د بیع واپس کول) او بیع بالخیار

## د اقال او بیع بالخیار تعریف

**سوال** :(۷۲) د اقالې بیعې او بیع بالخیار څه تعریف دی، او آیا په فقه کې د دې بحث کړی شوی دی؟

**جواب** : اقاله دا ده چه یو بیعه تام شوه بیا خرڅوونکي یا اخستونکي پښیمانه شو، او د بل نه ئې د مبیع

واپس کولو درخواست وکړو، هغه په خوشحالئ سره واپس کړو، او بيع شرط الخيار دا دی چه يو کس بل ته وويل چه مونږ ته تردې مودې پورې د واپس کولو اختيار شته دی، داخو تعريف دی، پاتې شو بحث نو ډير بحثونه مو د دې متعلق ليکلي دي که د کوم خاص کار په باره کې تپوس کوئ نو جواب ممکن دی. ۹ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ (امداد ثالث صـ ۱۰).

## د خيار مجلس د حديث تحقيق

**سوال** :(۷۳) "روی البخاری فی ۲۸۳؛ حدثنا قتيبة ثنا الليث عن نافع عن ابن عمر عن رسول الله ﷺ انه قال اذ تبايع الرجلان فكل واحد منهما بالخيار مالم يتفرقا وكان جميعاً اويخير احدهما الاخر (فان خير احدهما الاخر نسائی) فتبايعا على ذلك فقد وجب البيع وان تفرقا بعد ان تبايعا ولم يترك واحد منهما البيع فقد وجب البيع صـ ۸۸؛ كتاب البيوع وهذه الرواية رواها النسائی بعين هذا السند ومتنه سوى انه زاد لفظ الشرط ثم روى البخاری فی تلك الصفحة عن عبدالله بن عمر قال بعث من امير المومنين عثمان الى قوله خليا تبايعنا رجعت على عقبى حتى خرجت من بيته خشية ان يرادفة البيع وكانت السنة ان المتبايعين بالخيار حتى يتفرقا الخ ففی هاتين الروايتين المرفوعتين حقيقة وحكماً بيان واضح لثبوت خيار المجلس وقاطع لكل تاويل ولايعارضه مارواه النسائی ۱۸۸؛ من عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان النبی ﷺ قال المتبايعان بالخيار مالم يتفرقا الاان يكون صفقة خيار ولايحل له ان يفارق صاحبه خشية ان يستقبله ادرلان هذا متكلم فيه ولوسلم فهو لايعارض الصحيح ولوسلم فهی اشارة والاولى كالصريح اوصريح والاشارة لا تفوق الصراحة واما قول ابن عمر ماادركت الصفقة حيا مجموعاً فهو من المبتاع رواه البخاری صـ ۲۸۷؛ فهذا وان احتج به الطحاوی فهو غير تام وغير مفيد لنا لانا لانقول بمفاده اذا الهلاك قبل القبض عندنا يوجب فسخ البيع وكون الهالك من مال البايع لامن المبتاع فمالا نقول به كيف نحتج به فلا يفيدنا الا اثبات المخالفة بين قوله وفعله فهما وان تعارضاً بقيت روايته سالمة بل ينبغی ان يول هذا الاخير ويراد بالصفقة الصفقة التامة باعتبار جميع شرايط ومن شرايطه التفرق بالابدان فمعنى هذا القول ماادركت الصفقة بعد التفرق بالبدن حيا مجموعا فهو من المبتاع فبمجرد قول النخعی رد الحديث الصحيح مرفوعا وموقوفا يمجه الطبع ويستنكره ولانريد من جنابكم ذكر مارواه الشراح اوالاحناف اذهو رد الحديث الصريح الصحيح لاغير بل معاملة مع عثمان تدل على ان تلك السنة كانت مستمرة عندهم؟

**جواب** : هذه الشبهة من شبهاتی القديمة ولاشك فی ان ظاهر الاحاديث هو ثبوت خيار المجلس لكن لايصح الحكم بكون المذهب الحنفی مخالفاً للاحاديث يقينا مادامت الاحاديث تحتمل التاويل ولوكان فيه شيی من البعد ولايسلم احد من اهل المذاهب المتبوعة عن نحو هذه التاويلات كما حمل بعض الشافعية قوله عليه السلام فاقرا ماتيسر معك من القران على الفاتحة فانها متيسرة واقرب دلايل الحنفية قوله عليه السلام لا يحل له ان يفارقه خشية ان يستقيله رواه الخمسة وبن ماجة ورواه الدارقطنی كذا فی النيل جـ ۵ صـ ۱۳۰؛ ففيه



دليل ان صاحبه لايملك الفسخ الامن جهة الاستقالة واما قول المخالفين انه لوكان المراد حقيقة الاستقالة لم تمنعه من المفارقة لانها لاتختص بمجلس العقد فالجواب عنه ان قرب العهد بالعقد له دخل مشاهد فی تاثر كل من المتعاقدين بالتماس الاخر اما قوله لايحل فمحمول على الكراهة من حيث انه لايليق بالمروة وحسن معاشرة المسلم كما اضطر اليه ايضا القايلون بخيار المجلس فان حل المفارقة اجماعی عندنا وعندهم جميعا واما كونه متكلما فيه فيعتبر لوكان معارضا للصحيح ولم يعارض بعد تاويل الصحيح واقرب التاويلات حمل التفرق بالابدان على الاستحباب تحسينا للمعاملة مع المسلم كما ذكر فی تقرير حديث الاستقالة واما قول المخالفين انه لوكان المراد تفرق الاقوال فخلا الحديث عن الفايدة وذلك ان العلم محيط بان المشتری مالم يوجد منه قبول المبيع فهو بالخيار وكذالك البايع خياره فی سكه ثابت قبل ان يعقد البيع اه فغير ملتفت اليه لان يمكن ان يكون مقصودا الشارع نفی بعض بيوع الجاهلية من نحو الملامسة والمنابذة فلم يكن خاليا عن الفايدة واما دعوى كون بعض الفاظ الحديث غير محتمل للتاويل كقوله عليه السلام فان خير احدهما الاخر فتابعا على ذلك فقد وجب البيع وان تفرقا بعد ان تبايعا ولم يترك واحد منهما البيع فقد وجب البيع اه فممنوعة لان معنى قوله فقد وجب البيع فی الاول ای بشرط الخيار حيث خير احدهما الاخر وفی الثانی ای البيع البات حيث لم يشترط فيه الخيار وليس لفظ اصرح منه وليس الامام متفرداً فی هذا بل قد ذهب اليه الحنفی والمالكية والثوری والليث وزيد بن علی وغيرهم كما فی النيل جـ ۵ صـ ۴۷، والله اعلم. ۱۰ ربيع الآخر ۱۳۳۴ھ (تتمه اربعه صـ ۲۳).

## که په دوکې سره د بيع معامله وشوه نو اخستونکي ته خيار نشته

**سوال** :(۷٤) زمونږ طرفونو ته بسار داسې ورکول کيږي چه يو نرخ تعينيږي او د في روپۍ په حساب سره غله قرض ورکول کيږي او په قيمت کې روپۍ اخستل کيږي، سږکال هم داسې وشوه مګر دا دوکه ئې راسره وکړه چه زمونږ د لوي پټي ئې دا حواله ورکړه چه دوي له في سير شپږ روپۍ غنم ورکړی شوي دي، نو ځکه ما هم په همدې نرخ ورکړل مګر په دغه ورځ مازيګر ماته معلومه شوه چه زه دوکه کړی شوی ووم، او ماته پنځه نيم سيره غنم په يوه روپۍ راکړی شوي وو، اوس زه د شپږو په ځاي پنځه نيم سيره غله د يوې روپۍ ايښودلی شم او که نه؟ غله زما د قبضې نه وتلې ده مګر تراوسه پورې هغوئ په پټو کې نه ده اچولې، بلکه په کور کې موجوده ده، ما دا ويلي دي چه ماته پنځه نيم سيره راکړی شوې ده اوس ما هم پنځه نيم سيره مقرر کړې دي که چاته دا قيمت منظور وي نو صحيح ده او کنه نو زما غنم دې واپس کړي تراوسه پورې چا هم نه دي واپس کړي؟

**جواب** : "فی الهداية فيمايكره من البيوع وعن تلقی الجلب وهذا اذاكان يضر باهل البلد فان كان لايضر

فلابأس به الااذالیس السعرعلی الواردین فحینئذیکره لمافیه من الغرروالضررالی قوله وکل ذلک یکره ولا یفسدبه البیع لان الفسادفی معنی خارج زائد لافی صلب العقد ولافی شرایط الصحة ،جـ۲ صـ۵۱".د دې روایت نه معلومه شوه چه اخستونکو ته د دوکې ورکولو د وجې نه ګناه وشوه لیکن بیعه صحیح شوه تاله نه د غلې واپس کول جائز دي او نه د زیات قیمت اخستل، تا د دې روایت او خبرې تحقیق په خپله کولئ شو، په هغوئ دې ولې اعتماد وکړو. ۱۷ محرم الحرام ۱۳۳۴هـ (تتمه اربعه صـ۶۱).

## که اخستونکی خرڅونکي ته د مبیع حالت بیانولو کې دوکه ورکړي

سوال :(۷۵) د شریعت حکم پدې باره کې څه دی چه زید پاني پت کې اوسیږي او عمرو ګیا کې، زید عمرو ته وویل چه ستا جائیداد د کوم چه ۴۰ سالانه غله وصولیږي، پاني پت کې ده او په پاني پت کې د غلې نرخ ارزان شوی دی، او د دوئ ترمنځ د بیعې عقد وشو، د عقد نه وروستو عمرو ته معلومه شوه چه زید دوکه ورکړه، غله ارزانه نه خرڅیږي، خبره عدالت ته ورسیده، عمرو عدالت کې لیکلی شوي بیان ورکړو چه زید ماله دوکه راکړه او ماته ئې وویل چه پاني پت کې غله منونه غله په ۷۴ باندې خرڅیږي، او اوس معلومه شوه چه د دوه منو نه هم کمه خرڅیږي، د دې نه بعد دا مقدمه د ثالثانو ترمنځ راغله، ثالثانو ته عمرو بیان وکړو چه زید ماله دوکه راکړې وه او ویلي يې وو چه غله څلور پنځه منحه في صدي خرڅیږي، او په ګواهئ سره هم عمرو دا خبره ثابته کړه چه زید عمرو ته بې شکه داسې ویلي وو چه په پاني پت کې څلور پنځه منه غله في صدي خرڅیږي نو په دې صورت کې د عمرو دواړو بیان کوم چه ظاهرا متعارض معلومیږي د دې د دعوې ثابتولو مضر او د شهادت مسقط دی او که نه؟ یعنې فریب څلور پنځه منه في صدي کوم چه په شهادت سره ثابت وي هغه به ثابت وي، یا اول بیان معارض کیدو نه به ساقط شي او شهادت به ساقط وي یا به د بل بیان مثبت وي؟

جواب : د سوال عبارت کافي نه دی، زباني معلومولو سره معلومه شوه چه مطلب دا دی چه په کومه ځمکه کې دومره غله حاصلیږي یعنې دوه منه ۳۴ سیره، د دوه منونو نه هم کمه څلور پنځه منه، مثلا هغه جائیداد په سل روپئ خرڅیږي او زما په نزد د عمرو د دواړو بیانونو متعارض کیدل مضر نه دي، ځکه چه کله مسئله د دو اړو طرفونو په رضا باندې د ثالثو خوا ته وروړل شوې نو د قضا مجلس به د هغې د حکم مجلس وي او اول بیان به د مجلس قضا نه خارج وي کوم له چه اعتبار



نشته، او په دې مجلس کې ئې دعوه کړې ده، هغه او شهادت متوافق دي لهذا د اول بیان تعارض مضر نه دی، لیکن د نه مضر کیدو باوجود د عمرو اصل د مقصود نافع نه دی، ځکه چه اصل مقصد د دې خیار فسخه کول حاصلول دي، لکه څنګه چه پخپله د دې سوال د عبارت نه هم معلومیږي، او دویمه پرچه کومه چه د جواب په غرض سره راغلې ده ډیر واضحه کیږئ چه په هغې کې د خرڅوونکي نوم زید فرض کړی شوی دی، او په هغې کې عمرو په دې دویمه پرچه کې خیار فسخ د بائع دپاره نه کیدل مدلل او مفصلا ذکر دي. "والله اعلم والدلیل هذا فیالهدایة الشهادة اذا وافقت الدعوی قبلت وان خالفتها لم تقبل وفی حاشیتها برمزمل علی قوله کتاب الدعوی هی فی عرف الفقهاء عبارة عن مطالبة حق مجلس من له الخلاص عند ثبوته الی قوله شرط صحتها مجلس القضاء فالدعوی فیغیر مجلس القضاء لاتصح الخ. والله اعلم. یوم عرفه ۱۳۲۲هـ (امداد ثالث صـ۱۲).

## د بره سوال تتمه

سوال :(۷۶) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د زید د ملکیت جائیداد چه د هغې غله للعب په کال کې راځي، په پاني پت کې د عمرو په قبضه او تصرف کې ده، او زید په ګیا کې اوسیږي زید ته عمرو په ګیا کې وویل چه ستا غله ما سره په للن مقدار باندې موجوده ده، زید هغه للعب وګنله او په څوارلس سوه ئې په عمرو خرڅه کړه، د دې نه وروستو زید ته معلومه شوه چه زما د جائیداد آمدن د من نه زیات دی، اوس عمرو غواړي چه دا خبره دې بیعه وګرځي، او زید وائي چه ما سره د وزن په باره کې فریب شوی دی، زه د دې د فسخ کولو خیار لرم، او زه دا بیع قائمول یا ساتل نه غواړم، د عمرو خیال دا دی، غایه ما فی الباب دا ده چه کومه زیاته غله د هغه ده د هغې قیمت دې داسې ادا کړی شي ځکه چه بیعه شوې وه، د دې خبرې متعلق ئې د دین د علماو نه سوال کړی دی چه په دې صورت کې زید بائع ته د غبن فاحش په سبب باندې د فسخ خیار شته دی او که نه؟ (۲) دویم سوال دا دی چه په نرخ کې د فریب ورکولو نه د فسخ حق حاصلیږي، یا د بیع په اندازه کې د فریب ورکولو سره هم د فسخ حق حاصلیږي.

جواب : د سوال عبارت ناکافي دی، زباني بیان سره معلومه شوه چه د سوال صورت دا دی چه د جائیداد بیعه شوې ده او د هغې آمدن د زیاتې غلې دی، او اخستونکي دوکه ورکړې او خرڅونکي ته ئې کم نرخ ښودلی دی، په کوم باندې چه ګران څیز ارزان خرڅ کړی شو، البته عمرو باندې

فیما بینه وبین الله واجب دي، چه د زید رضا او د نفس پاکوالی حاصل کړي. "ودلایل ه فی الهدایة ومن باع مالم یره فلاخیار له وکان ابوحنیفة یقول اولاله الخیار اعتبار الخیار الغیب وخیار الشرط و هذا لان لزوم العقد بتمام الرضاء زوالا وثبوتا ولا بتحقق ذلك الا بالعلم باوصاف المبیع وذلك بالروية فلم یکن البایع راضیا بالزوال ووجه القول المرجوع الیه انه معلق بالشراء لما روینا فلا یثبت دونه وروی (قال الزیلعی اخرجه الطحاوي ثم البیهقی عن علقمة ابن ابی وقاص) ان عثمان بن عفان رضی الله عنه باع ارضا بالبصرة من طلحة بن عبدالله رضی الله عنه فقیل لطلحة رضی الله عنه انك قد غبنت فقال لی الخیار لانی اشتریت مالم اره وقیل لعثمان انك قد غبنت فقال لی الخیار لانی بعث مالم اره فحکم بینهما جبیر بن مطعم فقضی بالخیار لطلحة وکان ذلك بمحضر من الصحابة اه قلت لما لم یثبت الخیار للبایع مع عدم رویته لذات المبیع ففی عدم روية او وصف الذي هو الربع اولی کما هو ظاهر وفیها وان تلقیا الجلب وهذه اذا کان یضر باهل البلدة فان کان لا یضر فلا باس به الا اذا لیس السعر علی الواردین فحینئذ یکره لما فیه من الغرراه قلت ومطلق النهی والکراة یفید التحریم وهذا دلیل کون فعل هذا المشتری حرام وفی الحدیث الا لا یحل مال امری الا بطیب نفسه قلت وانی لا یحضر فی مخرجه الان وهو دلیل علی وجوب ارضاء البایع دیانة والله اعلم".

جواب(د دویم سوال): که دا سوال هم د اول سوال متعلق وي لکه څنګه چه ظاهره وه نو دا ګنل پکار دي چه دا فریب په نرخ کښ شوی دی، د مبیع په مقدار کښ نه دی شوی، او د هغې جواب وړاندې تیر شوی دی او که د مبیع اندازه مستقلاً تپوس کول وي نو جواب دا دی که مبیع جائیداد یعنې عقار دی او ټول قیمت پاتې وي نو وروستو د زیاتې اندازې معلومیدو سره به خرڅوونکي ته خیار نه وي. "فی هدایة ومن اشتری ثوبا علی انه عشرة اذرع بعشرة اوارضا علی انها مایة ذراع فوجدها اقل فالمشتری بالخیار ان شاء اخذها بجملة الثمن وان شاء ترك وان وجدها اکثر من الذراع الذي سماه فهو للمشتری ولا خیار للبایع الخ، والله اعلم". یوم عرفه ۱۳۲۲ھ (امداد ثالث ص۱۳).

## بیع سلم

### مسلم الیه د بیعې لپاره وکیل جوړول او په هغه وخت کښ د مسلم فیه د موجودیدو شرط

سوال :(۷۷) دلته د شیره د تجارت صورت دا دی چه د فصل نه وړاندې هغوئ ته روپئ ورکول کیږي، او نرخ هم هغه وخت مقرریږي چه مونږ به په فصل کښ د دې نرخ نه زیاته شیره اخلو او هغومره روپئ ورکوو، د دې روپو به د هغه نرخ نه زیات اخلو دا خبره هم کیږي، کله چه فصل وشو او نرخ چه هر څه وو د شیرې مالک چه څومره شیره پخپله وځي هغه په هغه نرخ خرڅوي او



د تعداد په معین کیدو باندې د خرڅیدو حساب کوي، مثلاً زید عمرو ته سل روپئ ورکړې او دا خبره وشوه چه شپږ سیره شیره، شپږ سوه سیره شیره زمونږه شوه کله چه فصل راغی او شیره وتله او نرخ درې سیره شو نو مالک هغه په درې سیره حساب باندې خرڅوله، کله چه شپږ سوه سیره وتله نو هغه ئې حساب وکړو؟

جواب : "فی الدر المختار فی المسلم شرط دوام موجوده وفیه شرط حمله الی منزله بعد الایفاء فی المکان المشروط لم یصح لاجتماع الصفقتین الاجارة والتجارة وفیه لا یجوز التصرف الی قوله ولا لرب السلم فی المسلم فیه قبل قبضه". نو اولاً د فصل نه وړاندې سلم کول جائز نه دي، للروایة الاولی او که د فصل نه وروستو ئې وکړي نو څو پورې چه شیره باندې پخپله رب السلم قبضه ونه کړي په هغې کښ تصرف کول، لکه خرڅول د ویلک په ذریعې سره چه قابض نه وي جائزه نه ده، او دلته وکیل خرڅونکی دی، د کوم قبضه چه پخپله رب السلم نه ده کړې، نو ځکه دا بیعه د رب السلم د طرف نه نه ده. للروایة الثالثة او که پخپله رب السلم هم قبضه وکړي نو بیا هم دا شرط ګرځول چه مسلم الیه به بیعه کوي، زائد شرط دی، او د توکیل صفقه د سلم د صفقې سره جمع کول دي، نو ځکه جائز نه دي.للروایة الثانیة ، البته که چیرته فصل کښ مسلم فیه موجود وي او توکیل مشروط نه وي او د شیرې د تیاري نه بعد دې قبضه وکړی شي او په نوي توکیل دې مسلم الیه وکیل کړي نو بیا جائزه ده. فقط.والله اعلم. ۱۴ شعبان ۱۳۲۱ھ (امداد ثالث ص۸).

### په سلم کښ د اخستونکي مرګ سره معامله قائمه او د خرڅونکي مرګ سره باطلیږي

سوال :(۷۸) زید سلم وکړو یعنې سل روپئ پاتې وې په دې وعده باندې ئې عمرو ته ورکړې چه په پنځه کالو کښ به في کال دوه منه غنم حساب سره لس منه غنم ادا کوي، یو کال بعد دوه منه غنم زید ادا کړل او وفات شو، اوس سوال دا دی چه د زید ورته به د عمرو نه په آئنده څلورو کلونو کښ د تیر عقد موافق اته منه غنم وصولوي او که نه؟ غرض دا چه د احد المتعاقدین مرګ سره به تیره معاهد ومعامله فسخه شي یا به باقي وي، داسې د عمرو انتقال کیدو سره د عمرو په وارثانو باندې د زید تقاضا چلیږي او که نه، یا به په دواړو صورتونو کښ د اصل روپو مطالبه او ادا واجب وي؟

جواب : "فی الدر المختار ویبطل الاجل بموت المسلم الیه لا بموت رب السلم فیوخذ المسلم فیه من ترکته حالا لبطلان الاجل بموت المدیون لا الداین الخ". د دې روایت نه معلومه شوه چه په تپوس شوي صورت

کې د زيد د مرګ نه چه هغه رب السلم دی، عقد په خپل حال وي، د زيد وارثانو به د عمرو نه د عقد موافق وصولول کوي، او د عمرو په مرګ سره چه هغه مسلم اليه دی، ميعاد باطل شي، باقي غنم به د عمرو د ترکې نه وصوليږي. (تتمه اولی صـ۱٦٦).

### په روپو او پيسو کې د بيع سلم عدم جواز

**سوال**:(۷۹) په روپو او پيسو کې بيع سلم درست دی او که نه؟ يعني يو کس قرضدار ته نن سل روپۍ ورکړي يو کال بعد به د پنځو سوو روپو پيسې ورکوي، داسې بيع سلم صحيح دي او که نه، په دې مسئله کې اختلاف دی لهذا جواب د کتابونو حوالې سره وليکئ؟

**جواب**: که مقصود صرف د روپو او پيسو مبادله وي نو د عدم بائع د وجې نه به دا بيعه صحيح وي ليکن دلته خو بل مقصد دی، سود يوې حيلې سره اخستل به څکه جائز نه وي لکه څنګه چه فقهاو د بيع عينه باوجود انطباق علی قواعد الجواز د همدې وجې نه حرام ويلې دي. وهذا ظاهر جداً. ۲۲ شوال ۱۳۳۰هـ (تتمه اولی صـ۱٦٧).

### د افيونو بيع سلم

**سوال**:(۸۰) د افيونو کرل په دې طريقې سره چه د هغې اخستلو والا انګريز وي کومه چه د تخم اچولو په زمانه کې د مځکې نه خرچ کوي او کله چه ګلونه تيار شي نو ګلونه شوکول کيږي، او په خاوره کې چه د تنور په شان وي ګرموي، او په هغې باندې ميوه خوروي او په کپړې سره پرې زور کوي نو د تاو سره هغه راغونډ شي، د روټۍ په شان نو هغه بيا په لمر کې وچوي او کله چه هغه تيار شي نو افيون او روټۍ دواړه د هغې په غوښتنه باندې په حساب سره خرڅوي، او هغه خپله ورکړی شوې پيشګي اخلي، دا جائزه ده او که نه؟ بينوا توجروا عند الجليل.

**جواب**: داسلم دی، که دجوازټول شرطونه موندل شي نو جائزه ده. جمادی الثاني ۱۳۳۱هـ (حوادث اول صـ۱۰۰).

### په بيع سلم کې د انقطاع د معنی تحقيق

**سوال**:(۸۱) د بنګال کسان هلته بيع سلم کوي د معلوم وخت او شرعي مذکورو شرطونو سره په دې ملکونو کې داسې کوم بازار نشته دی چه هره ورځ په هر وخت کې اخستل او خرڅول وکړی شي البته په هفته کې دوه ځل بازار جوړيږي او ګير چاپيره بازارونو کې هره ورځ هم بازار وي او



اکثر په مقررو بازارونو کې په معين وخت کې غله په کثرت سره اخستل او خرڅول کيږي، او په بعضې بازارونو کې نه او هيڅ بازار، دکان او ګودام داسې نشته چه هلته هره ورځ هر وخت اخستل او خرڅول وکړی شي، البته په خاص وخت او معين وخت باندې موجود وي، ليکن په هر کلي کې به هر وخت بلا قيل وقال اخستل او خرڅول جاري دي، څه وخت چه وغواړي نو هغه وخت ملاويداي شي، او ډير خلک د تجارت په نيت سره په خپلو کورونو کې د اخستلو لپاره ګودامونه جوړوي او خرڅوي ئې هم او هيڅ يو سلف او خلف عالم د دې په عدم جواز څه نه دي ويلي بلکه مځکني او اوسني علماو فتوی ګاڼي او ليکنې د دې په صحيح کيدو باندې دلالت کوي مګر اوس يو کس دا بالکل حرام ګڼي او ناجائز ئې بولي او دليل دا راوړي چه په بازار کې د ګودام موجوديدل شرط دي او په دغه ګودام کې هر وخت اخستل او خرڅول کيدل ضروري دي، او په کورونو کې د ګودامونو نه خرڅول به جائز نه وي، اوس دمحققينو علماو په خدمت کې عرض دا دی چه په دې صورت کې د مرقومة الصدر سره په دغه ملکونو کې بيع سلم درست او جائزه کيداي شي او که نه؟ د معتبرو کتابونو په حوالې سره ئې وليکئ؟ بينوا توجروا.

**جواب**: "في الدر المختار منقطع لا يوجد في الاوسواق من وقت العقد الى وقت الاستحقاق ولو انقطع في اقليم دون اخر لم يجز في المنقطع؛ وفي رد المختار وحد الانقطاع ان لا يوجد في الاسواق وان كان في البيوت كذا في التبيين، شربنلالية ومثله في الفتح والبحر والنهر وفيه لم يجز في المنقطع اى المنقطع فيه لانه لا يمكن احضاره الا بمشقة عظيمة فيعجز عن التسليم بحر، جـ۴، صـ۳۱۷_۳۱۸". د دې روايت نه معلومه شوه چه په تپوس شوي صورت کې سلم جائز دی، او د في البيوت مطلب دا دی چه د هغې په قيمت ملاويدل اسان نه وي، او کله چه هر وخت په قيمت ملاويداي شي نو جائزه ده، بلکه في اقليم دون آخر نه معلوميږي چه که خاص په دغه کلي کې هم ملاو نه شي مګر ګاونډ کې ملاو شي نو هم جائزه ده. ۳ محرم الحرام ۱۳۳۴هـ (تتمه اربعه صـ۹).

## بیع صرف او د رائج الوقت د سکې او نوټونو بیعه (د سرو او سپینو زرو خرڅول)

### د روپو تبادله په پیسو باندې او په بعضې پیسو باندې قبضه

**سوال:** (۸۲) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه مبادلة الربیة بالفلوس په دې طور سره چه احد المتعاقدین روپۍ بالفعل ورکړي او بل د روپو څه پیسې بالفعل ورکړي او څه ئې قـــرض کیښـــودل جائزه ده او که نه؟

**جواب:** دا مسائل مصرح او مسلم دي. (۱) بیع معدوم باطله ده.(۲) د سلم شرائطو نه یو شرط دا دی چه کمه موده په کې یوه میاشت وي، د مسلم فیه د تسلیمولو لپاره.(۳) که په قدر او جنس کې که دوه څیزونه په یو وصف کې هم متحد وي نو تفاضل جائز او نسیه حرامه ده.(۴) کوم مباح چه د غیر مباح لپاره وسیله شي ناجائزه ده.(۵) په قرض کې د مطالبه مثل استحقاق وي اوس په تپـــوس شوي مبادله کې څو صورتونه دي، یو دا چه روپۍ قرض ورکړی شوې او دا شرط هم چه د دې په بدل کې به دومره پیسې اخلو دا ناجائزه ده، اگر که روپۍ کمې وي، او که زیاتې د مسئلې موافق. دویم دا چه قرض نه دی ورکړی شوی مگر مبادله مقصود ده او د بل سره پیسې موجودې نه دي، دا هم ناجائزه ده اگر که پیسې کمې وي، او که زیاتې د مسئلې موافق.او که د هغې د وزنې کیدو اعتبار ونه کړی شي که هغه د دې وجې نه وي چه اصلاحاً دا معدود دي که د دې وجې نه چه تلل ئې مختلف دي نو دا مبادله جائزه ده. کما اختلفا الشیخان ومحمد.څلورم دا چه مبادله سلم مقصد دی لیکن څه روپۍ ئې اوس واخستلې، یا د یوې میاشتې نه کمه موده مقرر شوه یا موده مقرره نـــه شوه نو بیا هم ناجائزه ده، د مسئلې موافق.پنځم دا چه دواړو طرفونو ته مقصود علیه موجود وي او د هغې د وزني کیدو لحاظ ونه ساتل شي لیکن په زیاتو اخستلو کې د ســـود د بـــاب خلاصیدلو اندیښنه وي نو بیا هم ناجائزه ده حسب مسئله.شپږم دا چه د سلم په صورت کې د سود اندیښنه نه وي نو بیا جائزه ده. لعدم الحاظر. والله اعلم. ۴جمادی الاولی ۱۳۲۵هـ (امداد ثالث صـــ۲۳).

### د پیسو بدله په روپو باندې

**سوال:** (۸۳) د تعلیم الدین په ۳۴ صفحه باندې دی. اکثره رواج دا دی چه روپۍ ورکوي او څه پیسې اخلي او څه روپۍ یوه گهنټه وروستو اخلي، دا معامله جائزه نه ده، انتهي. او په ظاهر کې دا د



عالمگیري او در مختار مخالف دی، په تفصیل سره دې ولیکل شي. د عـــالمگیري عبـــارت دا دی. "صـــ۱۶۱ جلد ثالث مطبع کشوری في الفصل الثالث في بیع الفلوس واذا اشتری الرجـــل فلوســـا بدراهم ونقد الثمن ولم یکن الفلوس عند البائع فالبیع جائز وکک لو افترقا بعد قبض الفلوس قبل قبض الدراهم کذا فی المبسوط وروی الحسن عن ابي حنیفة رحمه الله اذا اشتری فلوساً بدراهم ولیس عند هذا فلوس ولا عند الاخر دراهم ثم ان احدهما دفع وتفرق جازوان لم ینقد واحد منهما حتی تفرقا لم یجز کذا فی المحیط انتهی، و عبارت در مختار این است جلد ثالث باب الربوا باع فلوساً بمثلها او بدراهم او بـــدنانیر فان نقد احدهما جاز انتهی". او په دې مقام کې په شامي کې څه تفصیل دی هغه هم لږ اشان ولیکئ؟

**جواب:** اصل کې په دې مسئله کې لږ تفصیل دی کوم چه د عادت په اعتبار سره غیر ضروري شوی او تصریح سره ئې نه دی لیکلی هغه تفصیل دا دی چه د څه روپو قرض پاتې کیدو کـــې دوه صورتونه دي، یو دا چه د دغه کس په ملکیت کې پیسې موجودې دي مگر بالفعل د هغه سره یعنې د هغه په قبضه کې نه دی، دویم دا چه په خپله په ملکیت کې نه دی، د عدم جواز کوم حکم چه ما لیکلی دی هغه د دویم صورت دی ځکه چه دا د معدوم بیعه ده په کوم کې چه صرف د بیع ســـلم اجازت دی او دلته د سلم شرائط نشته دی او په اول صورت کې چونکه بیع المعدوم نه لازمیـــږي لهذا هغه جائزه ده، دا تفصیل شو. باقي د دې تصریح ته کولو وجه دا وه چه عوام عادتاً او غالب دا دویم صورت وي ځکه ئې سداللذرائع مطلق لیکلي دي، باقي روایتونه چه کوم نقل کړی شوي دي د هغې حاصل حرف دومره دي چه قبضه شرط نه ده، نو زه هم د دې قائل یم نو اول صورت تـــه جائز وایم او د تقابض عدم اشتراط سره د مبیع د مملوک د بائع کیدو شرط نه لازموي او پـــه دوه صورت کې همدغه لازمیږي نو د نهي مدار بیع المعدوم باندې دی نه چه اشتراط تقابض بانـــدې. والله اعلم. ۱۸ ربیع الثاني ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی صـــ۱۵۱).

### صفائي معاملات

**سوال:** (۸٤) صفائي معاملات صـــ۱۷ کرخه ۸ باندې لیکلي دي. همداسې کوم ځاي کې چه سپین زر د سپینو زرو په بدله او سره زر د سرو زرو په بدله کې کم او زیات خرڅول کیږي مگر د جواز د حیلې لپاره که یو طرف ته یوه پیسه یا یوه ټکه ولگوي د کوم قیمت چه هومره نه وي څومره چه بل طرف ته زیات مال دی نو دا مکروه دي، کذا فی الهدایة او په جنتي کالی کې د سود په بیان کې

یوځای کې دا لیکلي دي، د کمو والا که پیسې په کې واچوي یا دواړو طرفونه یوه یوه پیسه د ترازو په پله کې کیږدي نو جائزه به وي د دې دواړو عبارتونو مطلب او فرق څه دی؟

جواب : په دې کې تفصیل دا دی که د بدلینو قیمت چیرته عرفاً متقارب وي نو هغه وخت کې خو دا حیله جائزه ده او که متفاوت به تفاوت فاحش وي نو ناجائزه ده په هدایه کې دویم صورت دی، "کما یدل علیه قولي" څومره چه د بل طرف نه زیات مال دی، او په جنتي کالی کې اول صورت. ۱۸ جـ ۲، ۱۳۴۹هـ

## د پیسو بدله په روپو باندې

سوال :(۸۵) دکاندار نغدې روپۍ اخلي او پیسې ورکوي که قرض وي نو ۱/۴ ورکوي دوه آنې او څلور آنې نه ورکوي د دې څه حکم دی؟

جواب : پیسې مبیع او روپۍ قیمت ګرځولو سره دا صورت جائز دی. ۱۰ رمضان ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالث صـ۱۴۶).

## د کمې زیاتې سره د نوټ په بیعه کې یو طرف ته پیسې ملاوول کافي نه دي

سوال :(۸۶) د سپینو زرو په اخستلو کې چه څرنګه د روپۍ سره د جنس بدلوالي لپاره پیسې یوځای کوي، همداسې که د نوټ یا د روپو د جمع شوو په بیعه وکړو او د څه په اخستلو کې چه بعضې د صراف سره پاتې شي که هغه پیسې تصور کړو نو څه قباحت دی؟ فقط.

جواب : دا حیله خو بیع یداً بید کې کیداې شي چه په هغې کې مماثلت شرط نه دی، او د نوټ او جمع شوو روپو څرڅول په حقیقت کې حواله ده چه په قرض کې داخل دي، د کوم حکم چه مماثلت دی، او په دې حیله کې هغه فائت دی لهذا صحیح نه ده، دا هله ده چه په کموالي او زیاتوالي باندې معامله وکړی شي کنه نو علی السواء کې څه خبره نشته چه عدم مماثلت په عقد کې نه دی شرط شوی او د ادا کولو په وخت استدلال جائز دی، او که په دې معامله کې باقي پیسې تصور کړی شي لیکن بیا هم معدومه ده لهذا قیاس مع الفاروق دی. (تتمه اولی صـ۱۵۵).

## د وزن د تفاوت په وخت روپئ په ریزګاري بدلول

سوال :(۸۷) د روپو ماتول مثلاً یو اته آنې، یو څلور آنې او یو دوه آنې اخستل جائز دي او که نه، کله چه د روپۍ په مقابله کې د دې ټولو وزن برابر نه وي؟



جواب : چونکه اصل ماتولو کې همدومره ورکول کیږي چه د یوې روپۍ برابر وي او تفاوت ډیر کم شاذ او نادر وي کوم چه یقیني نه دی بیا هم دومره لږ چه څه قیمت نه لري نو ځکه "بقاعده الیقین لایزول بالشك والنادر کالمعدوم وجزیئة در مختاروذره من الذهب وفضة ممالایدخل تحت الوزن بمثلیها فجاز الفضل لفقد القدر ۱۲ مصریة ج۲، ص۲۸۰" د دې تفاوت له اعتبار نشته او که په کوم ځای کې تفاوت یقیني وي نو زیاتی دی، په ژبه ئې معاف کړئ، "فی الدر المختار عن الخلاصة لو باع درهما بدرهم واحدهما اکثر وزنا فحلله زیادته جاز الخ ج۴، ص۲۷۵". ۱۹ محرم ۱۳۳۲هـ (حوادث او ۲ صـ۱۲۷).

## په نوټ او کاروبار یا د اشرفیو په بدلولو کې د کموالي او زیاتوالي حکم

سوال :(۸۸) په دې باره کې علماء کرام څه فرمائي چه زید په عمرو باندې د زرو نوټ په یوولس سوه روپۍ باندې خرڅ کړو او عمرو اخستونکي زید خرڅوونکي ته وویل چه د دې نوټونو قیمت په بیعې یوولس سوه روپۍ به شپږ میاشتې وروستو ادا کوم نو وفرمائي چه دا بیعه جائزه ده او که نه ناجائزه؟ او د زید لپاره به زیاتې روپۍ سود وي او که نه؟ بیعه باطله ده که فاسده که جائزه؟ یو صاحب وائي چه چونکه جنس بدل شو نو دا بیعه جائزه ده او زید له د عمرو نه یوولس سوه روپۍ شپږ میاشتې وروستو اخستل جائز دي؟ مهربانۍ وکړئ تفصیلي جواب د کتابونو حوالې سره راولیږئ ؟ فقط بینوا توجروا.(۲) که د زرو نوټ یو کس لاس په لاس د سلو نه کم یا زیات باندې بدل یا خرڅ کړي نو څنګه ده؟ بینوا توجروا.

جواب : د نوټ معامله حواله ده بیعه نه ده، نو ځکه دا دواړه صورتونه حرام او سود دي، کمی او زیاتی کول جائز نه دي او دا ډیره ظاهره ده. (حوادث اولی صـ۸).

## په نوټ، کاروبار یا د اشرفو په بدلولو کې د کموالي او زیاتوالي حکم

سوال :(۸۹) یو مسلمان مالداره دی یو کس چه کله د هغه په نغدې روپۍ قرض (۱۶۰) روپو اخستلو له راځي نو هغه داسې قرض ورکوي چه یوه کپړه چه قیمت ئې لس روپۍ دی پنځوس روپۍ نورې زیاتوي او په ۶۰ روپۍ ئې خریدار ته ورکوي، حال دا چه اخستونکی هم په دې خبره پوهیږي چه دا څیز په لس روپۍ دی، د هغې سره ۱۰۰ روپۍ نورې ورکوي بیا په مقرره وعده باندې دا ۱۶۰ روپۍ اخستل کیږي، مذکور کس ته د کپړې ضرورت نه وي مګر د حاجت د وجې ئې هغه

منظوروي، او دویم صورت د دې قرض دا دی چه د سلو نوټ په یو سل او شپیته باندې ورکول کیږئ په دې دواړو صورتونو کې دا زیاتې روپۍ اخستل صحیح دي او که نه؟

جواب : قصد او نیت خو ئې بالکل د سود اخستلو دی، نو ځکه باطناً هم حرام دی، او مشروط بقبول المبیع هم ځکه ظاهراً حرام دی، غرض دا چه یو رنګه هم دا معامله حلاله نده او د نوټ په سوال کې ذکر کیدل د دې حراموالي خو نور هم زیات صریح دی. فقط ۲ ربیع الاول ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی ص۱۶۸).

## د مدیون مال د قرض په طور سره په رعایت اخستل

سوال :(۹۰) د زید روپۍ په عمرو باندې پاتې دي او وخت تیر شوی دی، زید وویل چه که تا سره روپۍ نه وي نو تا سره ډیر زیات مال موجود دی، ما سره روپۍ نشته نو ته ماله خپل مال په قرض راکړه، مال به زه پخپله ګورم او اخلم او کوم مال چه مونږ درکړی وو هغه به نه اخلو بلکه کوم چه ښه وي هغه به اخلو، عمرو وویل صحیح ده، وائې اخله، زید د عمرو نه مال واخستلو او وې ویل چه قرض زما په ذمه ده مونږ به دوه څلور ورځو کې د دې مال روپۍ درکړو، عمرو وویل ټیک ده بیا زید وویل چه که ته اوس دا مال د ګودام نه په منافع سره اخلې نو واخله، عمرو وویل چه زه ئې د حه په منافع سره اخلم مګر روپۍ به یوه میاشت کې درکوم او زید ښه وکړل، زید د خپلې قبضې نه د عمرو په قبضې کې ورکړو او ورته وې شمارلو؟

جواب : دا حرام دي د قرض دا رعایت د عمرو د مدیون کیدو د وجې نه دی، البته دا جائزه ده چه د زید څومره روپۍ چه په عمرو باندې پاتې وې د هغې په بدله کې مال داسې واخلي چه هغه روپۍ په کې مجرا شي نو بیا عمرو اختیار لري که دا مال اخلي او که نه. ۲۰ محرم ۱۳۳۰هـ (تتمه اولی ص۱۶۳).

## د نوټ د خرڅولو صورتونه

سوال :(۹۱) د نوټ بیعه په درې قسمونو سره کیږي، اوله طریقه د لسو نوټ په لسو، دویمه طریقه د لسو نوټ په پاوکم لس، (نهه روپۍ او درې څلور آنیزه) دریمه طریقه د لسو نوټ په پاوکم لس نهه روپۍ او د دولس آنو پیسې په دې کې کوم صورت جائز دی؟

جواب : اول جائز، دویم او دریم ناجائز. (تتمه اولی ص۱۶۹).



## د نوټ سکې کول

سوال :(۹۲) نوټ کاغذي سکه ده د نورو سکو په شان ده او که نه؟

جواب :نه، نه ده. ۱۱رجب المرجب ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی ص۱۶۹).

## د نوټ، کاروبار او اشرفیو په بدلولو کې د کموالي او زیاتوالي حکم

سوال :(۹۳) وعلی هذا، دا دواړه ورکول او قیمت ئې دوه څلور ورځې وروستو اخستل؟

جواب : دا صحیح دي. (تتمه اولی ص۱۶۹).

سوال :(۹٤) والد صاحب مې څه موده وړاندې مني آرډر رالیږلی دی، هغوئ نوټ رالیږلی او چیرته چه ئې ورکول په سلو کې څه آنې کمې ورکولې دا جائزه ده او که نه؟

جواب : نوټ په کموال او زیاتوالي دواړو سره ناجائز دي، مګر زما په نزد په دې کموالي کې څه خباثت نه پیدا کیږي، دا ډیر اوږد بحث ته محتاج دی، کنه نو لیکلې به مې وی. (امداد ثالث ص۳۱).

## د نوټ په کموالي د خرڅولو نه ځان ساتل

سوال :(۹۵) دلته د مالګې تجارت کیږي او په درې ځایونو کې کارخانې دي، یو آړهتي راته ډیر معتبر ملاو شوی دی، او د روپو رالیږلو طریقه مو دا ایښې ده چه کله مال خرڅ شي نو نوټ رالیږي، یو ځل چه په ما باندې روپۍ پاتې وې او هغه ته ناوخته ورسیدې، نو هغه رابانـ[illegible]ې سود ولګولو ما ورله سود ورنکړو او ورته مې وویل چه زمونږ مذهب کې سود اخستل او ورکول حرام دي، هغه وویل چه مونږ به سود نه اخلو او دا معامله هم وشوه چه کله به هم [illegible] نه کوو، البته کله چه نوټ رالیږې نو کموالي سره ئې رالیږي، مثلا في سیکړه دوه آنې یا درې آنې کټ کوي، د دې د کمولو شرحه په مختلفو وختونو کې مختلفو طریقو سره کیږي، او څه روپۍ مونږ ته د ګوساله په نوم هم کموي، صرف مونږ نه نه، بلکه دا قاعده د هر چا ده، نو دا سوال کوم چه آیا دا کارونه ناجائز نه معلومیږي، نو په دې باره کې باید څه وکړی شي..... که هغه ته دا وویل شي چه مونږ به دا معامله نه کوو نو هغه به ئې کله هم ونه مني، ځکه چه په نوټ کې کموالی دلته په سود کې نه شمیرل کیږي، نو زمونږ دپاره چه نوی قانون جوړ نه کړي نو اوس کومه حیله وکړی شي په کوم سره چه معامله د شریعت موافق وشي، او دا هم ولیکئ که هغه داسې معامله کوي نو په

ما باندې به اُخروي مواخذه وي او که نه؟ او د نوټ کموالی زیاتوالی صرف د مسلمانانو ترمنځ ناجائز دی یا که یو طرف ته مسلمان او بل طرف ته کافر وي نو جائزه ده او که نه؟ د ټولو کارونو جواب تفصیل سره ولیکئ؟

**جواب** : د نوټ حقیقت حواله ده او په حواله کې کموالی او زیاتوالی کله چه معروف او مشروط وي نو دا سود دی، البته که بغیر د شرط او عرف نه وي نو په بعضې صورتونو کې د صلحې تاویل کیدی شي مګر اوس ممکنه نه ده زما په پوهه کې خو د دې تدبیر د دې په ځاي چه نغدې روپۍ ترې واخستل شي بل څه نه راځي یا هغه باندې دا خبره ثابته کړی شي چه زمونږ په مذهب کې دا سود دی، یا د هغې څه حق ور زیات کړی شي او دا تدبیر غالبا اسان دی، پاتې شوه د ګوساله قصه، که هغه ستا مشتري او ته بائع وې نو بیا خو د خط ثمن په تاویل سره دا جائزه کیداي شوه ګویا چه خپلې روپۍ هلته ورکوې او هغه قیمت کم ورکوي، لیکن آړهتي وکیل وي، هلته دا تاویل ممکن نه دی، نو ځکه زما په نزد دی هغه داسې پوهه کړی شي چه د آړهتي حصه او د ګوساله حصه دې ټوله د آړهتي په حق کې شمار کړی شي، بیا که ئې هغه هر څنګه لیکي په دې کې حرج نشته. فقط والله اعلم. (امداد ثالث صـ۳۱).

### د نوټ په کموالي او زیاتوالي د خرڅولو حرمت

**سوال** :(۹٦) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه یوځاي کې د جومات روپۍ جمع دي، د انجمن دا خیال دی چه داسې یوه حیله جوړه کړی شي چه په هغې سره دا روپۍ ترقي وکړي او انجمن ته فائده ورسیږي، مګر سود خو اخستلی نه شو ځکه چه هغه خو بالکل حرام دي لیکن عمرو وائي چه په تپوس شوې صورت کې د نوټ لین دین د اخستلو او خرڅولو په حیثیت سره وي، نو ځکه نوټ او روپۍ دواړه یو جنس نه دی نو که د زرو نوټ په یوولس سوه یا کم او زیات باندې په قرض ورکړی شي نو اخستل ئې جائز او ګټه ئې حلاله ده، فتح القدیر کې دي، "ولو باع کاغذة بالف یجوزو ولا یکره اه"، زید وائي د پورته مسئلې صورت د بیاج دی، نو ځکه حرامه ده، د دې مسئلې سخت ضرورت دی، ډیر زر جواب راکړئ، د حدیث او فقهې په ثبوت سره، مولانا.....صاحب ومولانا..... صاحب ورته جائز وائي، قاضي صاحب د بهوپال مفتي ورته حرام وائي نو ځکه د تاسو نه د تپوس ضرورت پیدا شو؟



**جواب** : د بهوپال مفتي صاحب خبره صحیح او حق ده، او فتح القدیر د عبارت نه استدلال باطل دی، هلته کاغذ مبیع دی او نوټ مبیع نه دی، سند او حواله ده. ۱۲ جمادی الثاني ۱۳۳٦ھ، (تتمه خامسه ۵۷۷).

### د نوټ اخستل

**سوال** :(۹۷) په دې مسئله کې علماء څه فرمائي، زید نوټ او سکو ته ضرورت لري، نوټ د سلو روپو ۹۹ روپۍ او ۱۲ آنې او سکه د پنځلس روپو ۱٦ روپۍ او ۴ آنې ملاویږي، د نوټ اخستلو سره في صد څلور آنې فائده او د سکې په اخستلو سره تاوان کیږي، دا بیع وشراء جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا.

**جواب** : دا معامله د نوټ ناجائزه ده، او د سکې جائزه، په دې شرط چه د سکې د بدل قیمت لاس په لاس ملاو شي. (تتمه خامسه ۵۷).

### د نوټ په ګوټې د اخستلو جائز کیدو تدبیر

**سوال** :(۹۸) عرض دا دی چه نن صبا نغدې روپۍ نه ملاویږي، هر ځاي کې نوټ چلیږي، مونږ اکثر ګوټه اخلو د کوم دپاره چه د نوټ نه علاوه بل صورت نه شي کیدی، نه د هغه کس سره روپۍ وي چه د هغه نه ئې واخلو، او هغه د روپو په بدل کې هغه نوټ راکړي لکه څنګه چه تاسو په کوم کتاب کې لیکلي دي، نو ځکه سوال دا دی چه د دې نه علاوه بل کوم صورت وکړی شي چه عند الشرع دا معامله صحیح شي؟

**جواب** : یا خو دې د لږ وخت لپاره د بل چا نه روپۍ واخستل شي او که داسې هم ونه کړائ شي نو د داسې څیز په بدل کې دې هغه واخستل شي لاس په لاس چه قیمت ئې هومره روپۍ وي، مثلا د کپړې په بدل کې بیا دې هغه کپړه د روپو په بدل کې واخستل شي، که دویم عاقد د مخکې نه پوهه کړی شي نو هغه به په داسې کولو باندې راضي شي. ۱۳۳۸ھ، (حوادث خامسه صـ۳۴).

### د نوټ په روپو بدلولو حقیقت

**سوال** :(۹۹) سوال دا دی چه "الامداد" د جمادی الاولی ۱۳۳۹ھ مطالعې کولو سره دا معلومه شوه چه نوټ نه حقیقتاً نغدې دي او نه حکماً بلکه د نغدو سند دی، که داسې وي نو دا شک پیدا

کیږي چه د نوټ بیع د روپو په عوض سره جائز نه وي ځکه چه په بیع صرف کې لین دین لاس په لاس شرط دی، او دلته د یو طرف نه حواله ده، د جواز څه صورت دی؟

جواب: مبادله مقصد نه ده په کوم کې چه لاس په لاس شرط دی، بلکه د یو کس نه قرض اخلي او هغه په خزانه باندې حواله کولو سره نوټ ورکوي په قرض کې لاس په لاس شرط دی نه. ۲۵ رجب ۱۳۳۹ھ (حوادث تتمه خامسه ۳۸).

## په بټه باندې نوټ

سوال: (۱۰۰) نوټ په کاروبار اخستل جائز دي او که نه؟ یعنې نوټ کله په کمو خرڅیږي او کله په زیاتو باندې؛ لکه څنګه چه د سلو روپو نوټ دی، نو کله چه ۹۹ روپۍ او اته آنې خرڅیږي او کله په ۱۰۰ روپۍ او څلور آنې، "وعلی هذا القیاس" په دې کاروبار کې هم زیاتوالی او کموالی کیږي نو آیا دا کموالی او زیاتوالی په ربوا کې داخل دی او که نه؟ او نوټ او روپۍ به یو جنس ګڼل کیږي او که دوه جنسونه؟

جواب: د نوټ د هم جنس او غیر جنس کیدو تحقیق هغه وخت مفید دی کله چه هغه پخپله مبیع وي د نوټ لین دین بیعه نه ده، بلکه حواله ده او ظاهره ده چه په محتال بِه کې کموالی او زیاتوالی کول ربوا ده لهذا دا شبهه حرامه ده. ۹ شوال ۱۳۳۲ھ.

## د سیم په نوټ د اخستلو حکم

سوال: (۱۰۱) که ماته د پنځو روپو سپین زر اخستل منظور وي او ما د پنځو روپو په ځای د پنځو روپو نوټ ورکړو، او داسې مې وویل چه د دې نوټ چه پنځه روپۍ دې ماته سپین زر راکړه، او هغه نوټ واخستلو، او ماله ئې د اووه نیمو روپو سپین زر راکړل، دا خو به سود نه وي؟

جواب: په نوټ سره سپین زر اخستل صحیح نه دي، اول دې دا نوټ په چا مات کړي، بیا دې په روپو سره سپین زر واخلي او د سود نه بچ کیدو لپاره دې هغه مشهور تدبیر وکړي چه د کمو سپینو زرو طرف ته دې څه روپۍ ملاو کړي. ۱۹ محرم الحرام ۱۳۲۲ھ، (حوادث ۲۰۱ ص ۱۲۶).



## د ډبی په نوټ باندې د خرڅولو عدم جواز او د جواز تدبیر

سوال: (۱۰۲) یوه مسئله راپېښه ده او د هغې صورت دا دی چه په بمبئ کې یو ډبي رواج دی، د پنځلسو روپو او د دې قیمت په دهلي کې اوولس روپۍ دی، او په کلکته کې څوارلس روپۍ او یو د پنځلس روپو نوټ دی، چه په ټولو ځایونو کې یو شان چلیږي، اوس کلکته کې یو کس ډبی په څوارلس روپۍ واخستلو او په دهلي کې ئې په اوولس روپۍ خرڅ کړو دا صورت جائز دی او که نه؟

جواب: قاعدې سره خو جائز نه معلومیږ البته د نوټ والا خپل نوټ په اوولس روپۍ خرڅ او بیا دې په هغې باندې دا ډبی لاس په لاس واخلي نو صحیح ده. ۳صفر ۱۳۳۸ھ، (حوادث خامسه ص ۳۲).

## د سپینو او زرو تارونو سره کار کړی شوې کپړو په خرڅولو کې قرض ناجائز* دی

سوال: (۱۰۳) مولوي محمد احسن صاحب مرحوم په رساله نافع خریداران د بیع صرف په بیان کې بنارس کپړې چه په هغې کې لګولی شوې وې هغه په سیف محلي باندې قیاس کړې، او په قرض ورکول ئې جائز لیکلي دي، او زه چه غور کوم نو ناجواز باندې ئې نه پوهیږم، نو د تاسو نه تپوس کوم په دیني مسئله کې د حلال او حرام خبره ده نو یو نظر پرې واچوئ او زما د فهم صحیح او غلط راوښایئ، علامه شامي د درمختار قول "والاصل انه متی بیع نقد مع غیره کمفضض ومزر کش بنقد من جنسه شرط زیادة الثمن فلو مثله او اقل او جهل بطل ولو بغیر جنسه شرط التقابض فقط" تنبیه کړی او یو مبسوط عبارت ئې د اعلام الثواب د حکم په ذکر کې لیکلي دي، هغه تاسو پوره وګورئ د هغې نه زما ذهن ته د دې خبرونو د قرض ورکولو جواز ذهن ته راځي لکه بنارس، لوپټه، ساړي وغیره. (۱) بخلاف علم الثوب والابریسم فی الذهب فانه لایعتبر لانه تبع محض اه. (۲) وحاصل کله اعتبار المنسوج قولا واحدا واختلاف الروایة فی ذهب السقف والعلم وان المعتمد عدم اعتباره فی المنسوج اه. (۳) ولاکذلك علم الثوب لان الشرع اهدر اعتباره حتی حل استعماله جلد۴ ص۲۶۸. دا درې واړه عبارتونه په شامي کې د تنبیه لاندې دي آیا د دې عبارتونو نه د بیع نسیئه جواز ثابتیږي او که نه، امید دی چه ډیر زر مفصل او مطمئنوونکی جواب راولیږئ؟

جواب: معلومیږي چه تا د "قولا واحدا" دا معنی وګڼله چه دا د اقوال مختلفه نه یو قول دی، او ان المعتمد دی، د دې مقابل قول وګڼلو، که دا مطلب وي نو د جواز ټیک ګڼل صحیح وو، مګر د دې مطلب دا نه دی، بلکه د "قولاً واحداً" دا مطلب دی چه په دې کې یو قول دی، پدې کې د چا

اختلاف نشته دی، نو ځکه د دې سره متصل د دې مقابل "اختلاف الرواية الخ" راغلی دی، مطلب دا دی چه په دې کې خو صرف یو قول دی، او ذهب سقف وعلم کې اختلاف دی، نو د دې نه بره عبارت کې د دې دواړو مختلف فیه کیدل هم نقل کړی شوي دي، "في قوله ان في اعتبار الذهب فی السقف روايتين فلا يعتبر العلم فی الثوب ومن ابي حنيفة وابي يوسف انه يعتبر اه" او که هغه مطلب وي کوم چه د سوال مبني ده نو د دې نه قطع نظر چه قولا واحدا په دې معنی کې مستعمل نه دی لیدلی شوی په هغې کې به دا اشکال واقع شي چه د بره عبارت نه دا مضمون کله هم نه دی تیر شوی، چه ان المعتمد عدم اعتباره في المنسوج نو بیا به دا په لاندې حاصل کې بیانول څنگه صحیح وي، بل په دې صورت د عبارت حق دا وو، ان المعتمد عدم اعتبار المنسوج ترڅو مقابل وي د بره عباراتو د اعتبار المنسوج دریم په دې صورت کې به د عدم اعتبار ضمیر مجرور مرجع څوک وي او د دې واقعي مطلب دی چه په دې دا ضمیر راجع دی، د علم طرف ته یعني په منسوج کې د علم اعتبار نه کیدل معتبر او معتمد دی، همداسې د علم غیر معتبر کیدل بره ذکر شوی دی، کوم چه د منسوج علم ته هم شامل دی، نو د منسوج حکم عدم جواز شو. ۲۲ ربیع الآخر ۱۳۳۳ھ (حوادث ثالث ص۱۳۴).

**سوال** :(۱۰۴) زما د کوټ دکان دی په کوم کې چه په بعضې کې سپین زر زیات وي او په بعضو کې ریښم زیات وي، سوال دا دی چه دا په قرض او زیاتوالي سره خرڅول جائز دي او که نه؟ دلته بعضې علماء فرمائي چه ناجائز دي، د دې حکم خو مطلقا د سپینو زرو په شان دی او ریښم خو علیحده وي د هغې سره نه ملاویږي، او بعضې وائي چه ځکه جائز دي چه مکمل والی ئې ریښم سره کیږي، او قرض او نغدو هر رنگه ئې خرڅول جائز وي، اوس تردد کې یم چه په کوم باندې عمل وکړم، نو اوس ستاسو د جواب منتظر یم که چیرته جائز نه وي چه دا کار پریږدم او بل کار شروع کړم؟

**جواب** :"فی الدر المختار والاصل انه متی بیع نقد مع غیره کمفضض ومذرکش بنقد من جنسه شرط زیادة الثمن فلو مثله او اقل او جهل بطل ولو بغیر جنسه شرط التقابض فقط فی رد المختار عن التاتارخانية بخلاف علم الثوب والابریسم فی الذهب فانه لایعتبر ای لایعتبر العلم فی الاول فیجوز ولا یعتبر الابریسم فی الثانی فلا یجوز "لانه تبع محض اه وفیه ایضا حاصل هذا کله اعتبار المنسوج قولا واحدا الی قوله ومثله المنسوج بالذهب فانه قایم بعینه غیر تابع بل هو مقصود بالبیع الخ. (باب الصرف)". دا روایات په عدم جواز کې صریح دي او د فقهاو د تصریح په مقابله کې زمونږ قیاس معتبر نه دی، لیکن که کم او زیات یا په قرض باندې د معاملې کولو نوبت راشي نو د هغې یوه حیله کیدی شي، کم او زیاتې خو دي دواړو طرفونو ته دوه دوه



پیسې ملاو کړی شي، او د قرض په صورت کې ئې د خپل طرف نه خریدار ته روپۍ قرض ورکړې او وائي خستلې بیا هغه قرض د هغه په ذمه پاتې شو. ۱۹ رمضان المبارک ۱۳۴۹ھ (النور جمادی الثانیه ۱۳۵۰ھ ص۵).

## په کومه پګړۍ کې چه لږ شان زر شامل وي د هغې په قرض خرڅول ناجائز وي

**سوال** :(۱۰۵) دلته پګړۍ جوړیږي، په هغې کې کار کیږي، او دواړو طرفونو ته ماشه، دوه ماشې، یعنې د ځان سره شپږ ماشې بلکې یوې تولې پورې، د دهلي خریدارن راځي او پګړۍ په قرض وړي، روپۍ نه راوړي او د کور نه ئې ادا کوي، په پګړۍ کې کار د اصل پګړۍ نه لږ کم قیمت لري، اکثره وخت کې خریدار دومره پیسې هم نه راوړي چه د دغه کار روپۍ ترې نغدې وصول کړی شي، خریداران هندوان او مسلمانان دواړه وي، هندوان زیات او مسلمانان بالکل کم، د تجارت پیشې والا مسلمانان په سخته ابتلاء کې دي، د کوم د وجې نه چه بعضې د الله ﷻ مخلص بندګان حیران دي چه څه وکړي، نو عرض دا چه آیا شرعا څه لاره نشته چه د دې پګړو خرڅول قرضا جائز وي، که ستاسو مستنبطه رایه وي او یا مستدل او فقهي روایت وي نو اصل عبارت یا د کتاب حواله د صفې او باب سره معلومول غواړم؟

**جواب** : "فی الدر المختار باب الصرف والاصل انه متی بیع نقد مع غیره کمفضض ومزرکش بنقد من جنسه شرط زیادة الثمن فلو مثله او اقل او جهل بطل ولو بغیر جنسه شرط التقابض فقط؛ وفی رد المختار تحت قوله کمفضض ومزرکش عن التاتارخانية بخلاف علم الثوب والابریشم فی الذهب فانه لایعتبر لانه تبع محض اه؛ وفیه بعد اسطر ومثله المنسوج بالذهب (ای الخالص بلا ابریشم) فانه قایم بعینه غیر تابع بل هو مقصود بالبیع کالحلیة والطوق وبه صار الثوب ثوبا ولذا یسمی ثوب ذهب بخلاف المموه لانه مجرد لون لا عین قایمة وبخلاف العلم فی الثوب فانه تبع محض فاذن الثوب یسمی به ثوب ذهب الخ ج۴ ص۳۶۸، مطبوعه مصر ۱۲۹۴ھ".

ددې روایتونو نه معلومه شوه چه په تپوس شوي صورت کې قرض خرڅول جائز دي. ۲۳ ربیع الثاني ۱۳۳۹ھ، (تتمه خامسه ص۸۸).

## ګوټه د نوټ په بدل کې د خرڅولو تدبیر

**سوال** :(۱۰۶) عرض دا دی چه نن صبا نغدې روپۍ نه ملاویږي، هر ځای کې نوټ چلیږي، مونږ اکثر ګوټه اخلو د کوم دپاره چه د نوټ نه علاوه بل صورت نه شي کیدی، نه د هغه کس سره روپۍ وي چه د هغه نه ئې واخلو، او هغه د روپو په بدل کې هغه نوټ راکړې لکه څنګه چه تاسو په کوم کتاب کې لیکلي دي، نو ځکه سوال دا دی چه د دې نه علاوه بل کوم صورت وکړی شي

چه عند الشرع دا معامله صحیح شي؟

**جواب**: یا خو دې د لږ وخت لپاره د بل چا نه روپۍ واخستل شي او که داسې هم ونه کړای شي نو د داسې څيز په بدل کې دې هغه واخستل شي لاس په لاس چه قیمت ئې هومره روپۍ وي، مثلاً د کپړې په بدل کې بیا دې هغه کپړه د روپو په بدل کې واخستل شي، که دویم عاقد د مخکې نه پوهه کړی شي نو هغه به په داسې کولو باندې راضي شي. ۱۳۳۸ھ، (حوادث خامسه ص۳۴).

## زرګر ته د زرو جوړولو لپاره روپۍ ورکول

**سوال**: (۱۰۷) احقر یو کس ته د سرو زرو غوږ والۍ د خرڅولو لپاره ورکړې وې او دا ذکر مو کړی وو چه د سرنه به جوړیږي، هغوئ هغه په روپو خرڅې کړې او زرګر ته ئې روپۍ ورکړې او ورته وېې ویل چه په دې کې لږ سره زر نور واچوه او نوې غوږ والۍ جوړې کړه، وروستو به حساب وکړی شي نو هغه د همدومره وزن جوړې کړې دا صورت ناجائزه وي یو کس دا تاویل کوي چه دلته چه کومه پیشګي ورکړی شوې وه هغه به د زرګر سره قرض یا امانت وي او لاس په لاس واخستل شي نو په دې کې قرض نه راځي، اوس چونکه په زرګر باندې دا واجب الادا دي نو څکه هغه اندازه ترې کمه کړه، او هغه ته ئې ورکړه، یا داسې وکړه چه روپۍ نغدې ورکړه او لاس په لاس سره زر واخله، بیا د خپل هغې مطالبه ترې وکړه او یو صاحب دا تاویل کوي چه زرګر ستا د طرف نه د سرو زرو په اخستلو کې وکیل دی، او له تانه ئې وړاندې اخستلی دی او د لسو روپو زر ئې د خپل ځان نه اخستلي دي، او د هغې مطالبه اوس کوي، ستاسو څه فتوئ ده؟

**جواب**: دریم تاویل خو نه شي چلیدی، څکه چه توکیل به بغیر د وکالت نه څنګه کیږي، او توکیل دلته بالکل نشته دی، نو لهذا دا نوې غوږ والۍ به د زرګر ملکیت وي، او اوس به ئې نوې بیعه کیږي، نو که هغه بعینه د زرګر سره موجود وي نو د قرض تاویل نه شي کیدی، څکه چه نه ئې تصریحاً قرض ورکړی نه د تصرف د وجې نه هغه په ذمه دین شو، نو لا بد امانت به وي او په امانت کې روپۍ معین وي، نو عقد به د هغه روپو سره متعلق وي او هغه په مجلس کې موجودې نه دي، نو د قرض لازم راتلو د وجې نه به ناجائز وي، نو کله چه نه قرض شو او نه امانت سره د عقد متعلق کیدل جائز شو په دې صورت کې به صرف دا صورت جائز شي چه خپل اول امانت واپس کړي او په هغې کې لس روپۍ نورې هم ملاو کړي او لاس په لاس ئې واخلي او که هغه د ده په ضمان کې



که هغه د مصرفولو د وجې نه وي او که د مخلوطولو د وجې نه، نو البته هغه داخلې شوې وي که هغه د مصرفولو د وجې نه وي او که د مخلوطولو د وجې نه، نو البته هغه قرض شوې دي، په دې صورت کې اول تاویل چلیدی شي او دویم تاویل بلا تکلف صحیح دی، فقط والله اعلم. (امداد ثالث ص۳۲).

## زرګر ته د سپینو زرو قیمت ورکول

**سوال**: (۱۰۸) که یو هندو زرګر ته ۱۰ روپۍ نغدې او د ۸ آنو پیسې ورکړي او ورته وېې ویل چه د دې نه چه څه سپین زر جوړ شي نو فلانی قسم کالي راله ترې جوړ کړه، او د هغې مزدوري به بیا دولس آنې درکړم، په دې معامله کې خو څه ګناه نشته؟

**جواب**: که د دوه کارونو یقیني اطمنان وشي نو جائزه ده، یو دا چه زرګر به د خپل طرف نه سپین زر په کې نه لګوي، بل دا چه په همدغه قیمت به ئې اخلي اوبه کوي به یې نه، مګر چونکه د دې اطمنان مشکل دی، نو څکه بهتره دا ده چه د دغه روپو سپین زر پخپله واخستل شي او بیا دغه زرګر ته ورکړی شي او د جوړولو قیمت تعین شي. ۱ جمادی الاولی ۱۳۲۹ھ، (تتمه اولی ص۱۷۱).

## د روپو یا سپینو زرو خرڅول د سپینو زرو نه علاوه په نورو سکو باندې په قرض خرڅول

**سوال**: (۱۰۹) (۱) د هغه څو شیانو نه علاوه چه ذکر ئې په حدیث کې دی، (سپین او سره زر، غنم، وربشې، کجورې، مالګه) د نورو څیزونو په قرضو یا لاس په لاس په کموالي او زیاتوالي خرڅول جائز دي او که ناجائز؟ (۲) یوه نقرئي روپۍ سکه چه دې وخت کې رائجه ده په شلو آنو د تانبې سکه باندې په قرضو خرڅول جائز دي او که نه؟ (۳) د یوې تولې سپینو زرو خرڅول د دیرشو آنو په سکې باندې چه د تانبې وي په قرضو باندې جائز دي که ناجائز؟

**جواب**: "في الهداية الربوا محرم في كل مكيل او موزون اذا بيع بجنسه متفاضلا وفيها اذا عدم الوصفان الجنس والمعنى المضموم اليه حل التفاضل والنساء واذا وجد احرم التفاضل والنساء واذا وجد احدهما وعدم الاخر حل التفاضل وحرم النساء (ص۶۱،۶۳ ج۲)". په دې کې تصریح دا ده چه د دې شپږو څیزونو نه علاوه په نورو مکیلاتو او موزوناتو کې هم ربوا وي، په دې تفصیل سره چه په دې کې چه کوم څیزونه هم جنس دي په هغې کې کموالی، زیاتوالی او قرض هم حرام دی، او کوم څیزونه چه هم جنس نه دي مګر د مکیل او موزون په وصف کې شریک دي په هغې کې کموالی او زیاتوالی خو جائز دی، مګر قرض ورکول حرام دي، البته په دې هم جنس څیزونو کې عددي متقارب څیزونو

کې قرض اخستل او ورکول جائز دي مګر د قرض حکم دا دی چه د هغې مثل واپس کول واجبیږي، د قرض ورکولو په وخت د غیر مثل شرط حرام وي، ګویا چه د قرض ادا کولو پــه وخــت د دواړو طرفونو په رضا سره که بل څه واخستل شي مثلا روپۍ ئې قرض واخستلې او په هغه وخت کې د بل څه شرط کول د دې په عوض کې به دومره اکني اخلو نو دا حرامه ده، بیا د ادا کولو پــه وخــت پــه رضامندۍ سره چه اوس حاصله شوې وي آنې واخستل شي، او ورکړی شي. "في الدرالمختار القرض عقد مخصوص یرد علی دفع مال مثلی لاٰخر لیرد مثله وصح القرض فیمثلی لا في غیره فیصح استقراض الدراهم والدنانیر وکذا کل مایکال ویوزن اوبعد متقاربا اه ملخصا (ص۴۴، ۴۵ جـ۲)". (۲) د دې اول جزء حــرام دی، للروایات المذکوره في جواب سوال الاول او په دویم جزء کې دا تفصیل دی چه که د قرض په طور وي نو بیا خو حرامه ده، للروایات السابقة، او که د بیع په طور سره وي نو دا سلم دی، او په سلم کې د نورو شرائطو نه علاوه یو ضروري شرط دا دی چه که مسلم الیه ته په مسلم فیه باندې قدرت نه وي نو زب السلم ته دې خپل اصل مال واپس کړي او بل څه ورله اخستل جائز نــه دي."في الهدایة ولایجوز التصرف في راس مال السلم والمسلم فیه قبل القبض الخ (ص۸۱، جـ۲)". (۳) په دې کې دا بره تفصیل دی، او د دویم سوال په دویم جزء کې او په آخري سوال کې د سلم اجازت دا هله دی چه په دې حیلې سره سود مقصود نه وي او نه د دې حکم د بیع عینه په شان دی، د کوم نسبت چــه هدایه کې دی، وهو مکروه او کفایه کې دي، "اخترعة اکله الربوا" او فتح القدیر کې دي، "وقــال محمد هذاالبیع فیقلبی کامثال الجبال ذمیم الخ (ص۱۰۷ جـ۲)". او فتح القدیر حاشیه هدایه کې داسې یــو نسبت د هدائي قول "فمع الکراهة " باندې ئې لیکلي دي، "اما کره لانهما باشراء الحیلة الــسقوط الربوا کبیع العینیة فانه مکروه بهذا" او د دې نه بعد ئې لیکلي دي" ینبغی ان یکون قول ابي حنیفة ایضا علی الکراهة کما هو ظاهر اطلاق المصنف من غیر ذکر خلاف" او د هغې نه مخکې ئې لیکلي دي، "قیل لمحمد کیف تجده في قلبک قال مثل الجبل (ص۹۲، جـ۲)". او د مکروه نه مراد په داسې مقام کې مکروه تحریمي دی، چه د حرامو نزدې او د هغې عبادت کول حرام دي، او د خلکو د عادت نه دا خبره متعینه ده چه هغوئ ئې د سود په ځاي استعمالوي نو ځکه به ورته حرام ویل کیږي. ۲۴

جمادی الثاني ۱۳۳۳هـ، (تتمه ثالثه ص۴۳).



## د کفارو د ضرر لپاره الخ

سوال :(۱۱۰)په طرابلس باندې د اټلي قبضې کولو نه بعد د هندوستان په مسلمانانو کې چه څومره خفګان دی د هغې اثر په دهلي کې هم دی، نو د دهلي په یوه جلسه کې دا هم وویــل شــو چــه مسلمانانو ته پکار دي چه د اټلي سره تجارتي جنګ وکړي، د اټلي جوړ شــوي تولــو ســامانونو استعمال دې پریږدي، اخستل او خرڅول بالکل پریږدي، څوک چه داسې وکړي هغه کافر دی، د سلطان خیر خواه نه بلکه د اټلي ملګری دی، او د هغې نتیجه دا شوه چه خلکــو د اټلــي تــویۍ وسنوخولې او زما په دکان کې هم فینسي سامان وي مثلا د اټلي جوړې شوې بتوې، قینچې، چاقو، بتن وغیره وغیره خلک مې ډیر تنګوي چه د دې څیزونو خرڅول پریږده فقط؟

جواب : دکافر کیدوخو هیڅ وجه نشته او بلکه خرڅول ئې ناجائز هم نه دي لیکن افضل همدا دي په دې شرط چه خپل ضرر اودمال اتلاف نه وي کنه نو افضل څه جائزه هم نه ده فقط. ۱۸ ذی القعدة ۱۳۲۹هـ.

## د کفارو د ضرر لپاره د هغوئ د جوړ کړي څیزونو تجارت پریښودل

سوال: په طرابلس باندې د اټلي قبضې کولو... (دا سوال بعینه مخکې تیر شوی دی).

## د ۸۴ سوال متعلق

سوال :(۱۱۱) عمرو د زید نه خپلې روپۍ وغوښتلې د منافع سره او زید ورکړې، بیا همغلته زیــد وویل چه که دوباره مال واخلې او مونږ ته ئې قرض راکړې نو مونږ به همغه منافع په میاشت کــې پنځه درکوو هغه وویل مونږ پخپله د بل ځاي نه مال نه راغواړو ځکه چه مونږ پخپله نه څو او ســتا په وکیل جوړولو کې زما د خیانت شک دی، البته که تا سره مال موجود وي نو په ما ئې خرڅ کړه او اصل قیمت ئې واخله، بیا هغه مال زما نه واخله د قرض چه څومره موده مقرر وي، دې خبــرې سره عمرو د زید نه مال واخستلو او قیمت ئې ورکړو، بیا همغلته عمرو وویل که ته دا مال اخلې نو وائې خله. زید وویل زه ئې اخلم او کومه ګټه چه مې پنځه روپۍ درکړې وه د هغې یــوه میاشــت مهلت غواړم، عمرو ورکړو او زید منظوره کړه؟

جواب : دا معامله په اې مبنی ده د کوم حراموالی چه بره ذکر شوی دی، نو دا بناء الفاسد علــی الفاسد ده، بیا دا ټول صورتونه د بیع غیر مقصوده ده، ځکه چه مــدیون پــه دې صــورتونو کــې

مجبورول کيږي، د دې ظاهري صورت نه مقصود نفع حاصلول وي، د معاملې د صاحب د رضا نه بغير نو ځکه هم ناجائزه ده. ۲۰ محرم الحرام ۱۳۳۰هـ.

## بيع فاسد

### د تجارتي کارخانو د ټکټونو سلسله وار اخستل او خرڅول

سوال :(۱۱۲)نن صبا د بعضې انګريزي تجارتونو دا حال دی چه کاغذ خرڅول او په هغې باندې څلور ټکټونه لګيدلې وي کوم چه هغه کس په دغه قيمت مثلاً په يوه روپۍ په څلورو کسانو خرڅوي او د هغه کسانو نه روپۍ وصولوي او نوم او پته ئې کمپنۍ ته ليږي، د کمپنۍ والا يوه ګړۍ هغه کس ته ليږي، او د دغه څلورو کسانو نومونه او همغه شان يو کاغذ راليږي، په کوم کې چه همغه شان څلور ټکټونه وي، او همدغه شان ئې دغه څلور کسان هر يو په څلورو کسانو باندې خرڅوي، کله چه هغوئ روپۍ واخلي نو هغوئ هم دغه شان د کسانو پته ليږي، د کمپنۍ والا ورته يوه ګړۍ راليږي، او يو يو کاغذ همغه کسانو ته په چا باندې چه دا کاغذونه خرڅ شوي وي او بيا هغه خلک هم داسې کوي او دا عمل جاري وي او البته د چا ټکټ چه خرڅ نه شي هغه به نقصان کوي نو شرعاً دا بيعه جائزه ده او که نه؟ او شرعا داسې کول څنګه دي؟

جواب : د دې معاملې د حقيقت حاصل دا دی چه خرڅونکی د اول اخستونکي نه بلا واسطه او د نورو اخستونکو نه د اول اخستونکي په واسطه باندې يا د دويم او دريم باندې دا معاهده کوي چه تا چه څومره روپۍ راليږلې دي که ته دومره خريداران پيدا کړې نو د هغې په بدل کې ما تا باندې ګهړۍ خرڅه کړه، کنه نو ستا روپۍ به مونږ ضبط کړو، نو په دې کې دواړه شرطونه فاسد او باطل دي، د نورو خريدارانو په پيدا کولو باندې هم خرڅول عقد فاسد د ربواپه حکم کې دی، او د تعليق په وخت قمار دی، او سود او قمار دواړه حرام دي، همداسې دويم شرط يعنې د خريدار نه پيدا کولو په صورت کې د روپو ضبط کيدل هم صريح اکل بالباطل دی، او دا تاويل بالکل هم مقبول نه دی چه د روپو په بدل کې ټکټ ورکړی شوی دی ځکه چه ټکټ يقينا مبيع نه دی، کنه نو د ټکټ اخستلو نه وروستو به معامله ختمه شوې وی، د ټکټ خرڅولو حق به ګهړۍ کله هم نه وه لکه څنګه چه په ټولو عقودو کې همداسې کيږي، نو صفا ظاهره ده چه دا مبيع نه بلکه د روپو رسيد دی، او د دواړو شرطونو فاسديدل او باطليدل ثابت دي نو داسې معامله هم باليقين حرامه او



متضمن ربوا او قمار او اکل بالباطل دی، او يورنګه هم په دې کې د جواز ګنجائش نشته دی.

"قال الله تعالى احل الله البيع وحرم الربوا وقال الله تعالى انما الخمر والميسر الى قوله رجس من عمل الشيطان الآية وقال تعالى ولا تاكلوا اموالكم بينكم بالباطل الآية وقال ﷺ كل شرط ليس في كتاب الله فهو باطل ونهى عليه السلام عن بيع وشرط وفي جميع الكتب الفقهيه صرحوا بعدم جواز بيع مشروط بما لا يقتضيه العقد ولا يلايمه وفيه نفع لاحدهما كما لا يخفى على من طالعها، والله اعلم. (امداد ثالث صـ۵)".

### د مبيع معلوميدو شرط او د هغې توضيح

سوال :(۱۱۳) زيد د کپړو بند بنډل اخلي، په هغې کې چه څومره کپړه وي د هغې نمونه او اندازه ټوله ښودل شوې وي مګر ټوله اندازه معلومه شوې ده، دا نه ده معلومه چه پارچې او کټ پيس په کې څومره دی، بيعه جائزه ده او که نه؟

جواب : د مبيع معلوميدل شرط دي که بيان په تقدير سره وشي يا اشارې سره، اول خو ئې دلته اندازه هم ښودلې ده او که دا معتبره ونه ګڼل شي نو مشار اليه خو ضروري ده نو دا بيعه جائزه ده.

۱۲ جمادی الاخری ۱۳۲۲هـ، (امداد ثالث صـ۱۱).

### داسې جائيداد چه قبضه پرې ونه کړی شي د هغې خرڅول

سوال :(۱۱٤) يو کس د مقبوض او منقول او غير منقول سره هغه غير مقبوض جائيداد هم خرڅ کړو چه د مورث د مرګ نه بعد د وارث په قبضه کې ميراث باندې راغلی وو بلکه تراوسه پورې د نورو وارثانو په قبضه کې دی او قيمت ئې داسې وشو چه کوم مقوبض جائيداد خرڅ شو نو د هغې قيمت خو يوه اندازه د اخستونکي نه خرڅونکي وصول کړو، مګر غير مقبوضه جائيداد چه په دې بيعه کې شامل کړی شوی دی، د هغې قيمت په نسبت د بائع او مشتري ترمنځ دا معاهده وشوه چه د دې د قبضې کولو نه وړاندې مشتري د بيعې نه وړاندې څه خرڅ کړی دی، او څه به چه د تکميل نه وروستو خرچ کوي هغه ټول به مجرا کيږي او نور څه قيمت چه باقي پاتې شي د هغې نه به نيمه حصه خرڅونکي ته اخستونکی ادا کوي او نيمه حصه به اخستونکی خوري او که اخستونکی په قبضې ورکولو کې ناکام شو نو په دې صورت کې به اخستونکی خرڅونکي ته هيڅ هم نه ورکوي، او څه چه ئې خرڅ کړي وي د هغې پوره کول به صرف د اخستونکي په ذمه وي، د خرڅونکي نه به د هغې مطالبه نه کوي، همداسې تراوسه پورې تقابض البدلين نه دی شوی، يعنې

اخستونکي ته بیع نامه نه ده ملاو شوې، نو داسې د بیع شرط جائز دي او که ناجائز؟ او اخستونکی د دعوې حق لري او که نه؟ او دا ټول جائیداد دی، کور او د کر ځمکه ده، او هغه څیز چه د وارثانو نه د یو په قبضه کې دی تراوسه پورې تقسیم شوی نه دی؟

**جواب** : "فی الهدایة وکذا الوارسله (ای الطیرا) من یده لانه غیر مقدور التسلیم وفیها ومن جمع بین حر وعبد اوشاة ذکیة ومیتة فبطل البیع فیهما ومن جمع بین عبد ومدبر اوبین عبده وعبد غیره صح البیع بحصة من الثمن فیها کل شرط لا یقتضیه العقد وفیه منفعة لاحد المتعاقدین اوللمعقود علیه وهو من اهل الاستحقاق یفسده وفیها بخلاف ما اذا لم یسم ثمن کل واحد لانه مجهول". د دې روایتونو نه دا امور ثابت شول.(۱) د سوال دعبارت نه معلومیږي چه د هغه وارث د لاس نه دا جائیداد اخستل په شک کې دي نو که داسې وي نو د غیر مقدور التسلیم کیدو په وجه دا بیعه صحیح نه ده.(۲) کومه مقبوضه جائیداد چه خرخ کړی شو ۓ هغې بیعه صحیح ده.(۳) جائیداد او غیر مقبوض که مقدور التسلیم هم وي نو بیا هم د قیمت د نه متعین کیدو د وجې نه د هغې بیعه درسته شوه، د جواب خلاصه دا ده چه د مقبوضه جائیداد بیعه درسته شوه او د غیر مقبوضه بیعه د دوه وجو نه درسته نه شوه، یو د غیر مقدور التسلیم د وجې نه او بل د قیمت د عدم تعین د وجې نه. والله اعلم. ۳صفر ۱۳۲۵ھ، (امداد ثالث ص۲۲).

## په بیعه کې د دهرم کهاتې شرط

**سوال** :(۱۱۵) زید په خالد باندې څه خرڅ کړه په دې الفاظو چه ما دا صندوق مثلاً په تا خرڅ کړو په دې شرط چه په هرو سلو کې یوه یا دوه پیسې د الله په لاره کې خرچ کړه کنه نو زه ئې نه درکوم، داسې اخستل او خرڅول شرعا درست دي او که نه؟ که صحیح وي نو د ورکونکي ثواب زیات دی او که د خرچ کونکي؟ او د جائز کیدو په صورت کې دا هم تفصیل سره بیان کړئ چه دا صرف د خاص قوم سره دي او که نه مسلمان، کتابي او هندوان ټولو سره مفصل بیان سره مو ممنون او مشکور کړئ او د دې مال مصارف جومات، قبر او مدرسه کیدی شي او که نه؟ که نه نو په کوم کوم ځاي کې مصرفیدی شي؟

**جواب** : چونکه په بیعه کې د قیمت معلومیدو نه وروستو زیاتوالی صحیح دی نو ځکه دا صورت دی تاویل سره جائز کیدی شي مګر د دې تاویل په بنا باندې به دا یوه پیسه یا دوه پیسې د هغه خرڅونکی ملکیت وي، هغه دا اختیار لري که مصرفوي ئې او که نه؟ په هغه باندې به د چا جبر نه



کیږي او کله چه د هغه ملکیت دی نو د هغې د مصرفولو ثواب به صرف خرڅونکي ته رسیږي، اخستونکي ته نه، او کله چه ملکیت دی نو اختیار ئې د خرڅونکي سره دی، که وغواړي نو مصرف دې کړي په دې شرط چه معصیت نه وي. ۱۸ شوال ۱۳۲۸ھ، (تتمه اول ص۱۵۶).

## د خوراک لخستلو دپاره د وراندې نه قیمت ورکول جمیع بین العمل والصنع

**سوال** :(۱۱۶) په مدرسه کې چه د طالبانو نه کومه خوراکې اخستل کیږي دا په کوم عقد کې داخل دی، آیا دا بیعه ده ؟ نو د وراندې نه قیمت اخستل به د کراهت نه خالي نه وي، یا دا استصناع ده، په بل عقد کې خو داخلیدل سخت معلومیږي، او همداسې بل جوړول..... یا کټ جوړول په کوم کې چه بیعه او عمل دواړه شامل دي، یا د هغې د جواز ګنجائش شته دی چه استصناع داخلولو سره ورته جائز وویل شي، او بلا نکیر د ټولو کول به تعامل ګڼل کیږي، یا عقد في عقد په سبب سره منع کړی شي نن صبا کثرت سره داسې معاملات دي چه په کوم کې عقد في عقد یا بیعه او عمل دواړه شامل وي ؟

**جواب** : د طالبانو د خوراک بیعه اخستل په بیع استحرار کې داخل دي، شامي د دې په جواز کې مبسوط بحث لیکلی دی، او فقهاو د بیعه او عمل جمع کولو بعضې صورتونه متعارف لیکلي او اجازت ئې ورکړی دی، دا هم په همدې کې داخل دي لکه د خیاط عمل او تار چه د هغه په ذمه وي یا د رنګ کونکي (صباغ) عمل او رنګ د هغه په ذمه وي. ۱۷ جمادی الاولی، (حوادث اول وثاني ص۲۳).

## که په بیعه کې دا شرط کړی شي چه د قیمت دومره حصه به

## وا پس کوي نو دا بیع فاسده ده او د بیع فاسد د سود په حکم کې کیدل

**سوال** :(۱۱۷)جناب! دلته یو اصل دی، چه زما پرې د سود شک دی، بلکه دلته مې د یو مولوي صاحب نه تپوس وکړو لیکن هغوئ وفرمایل چه سود خو نه دی، لیکن د بیعې خلاف دی، د هغوئ دې فرمایلو سره زما څه اطمنان وشو، هغه اصل دا دی چه مثلا د سلو روپو مال ئې خرڅ کړوۀ د پنځلس ورځو په نیته باندې یعنې د سلو روپو مال ئې د پنځلسو ورځو لپاره قرض ورکړو اوس که اخستونکی ئې په پنځلس ورځو کې ورکړي نو هغه ته به دوه روپۍ کمې ورکوي، که هغه په پنځلسو ورځو کې ورنکړي، او یوه میاشت کې ئې ورکړي نو هغه ته به د یوې په ځاي دوه روپۍ

ورکوي، که هغه په یوه میاشت کې هم ورنکړي نو هغه ته ئې نه ورکوي، غرض دا چه د پنځلسو ورځو دوه روپۍ فی سیکړه کټوتي ده؟

**جواب**: د عرف په سبب سره دا شرط دی او فاسد دی، او په فاسد شرط سره بیعه فاسدیږي، او د فقهاو د تصریح مطابق بیع فاسد په ربوا یعني سود کې داخله ده. ۱۲ ذی الحجه ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسه ص ۱۰۴).

## د مالوچو مبادل د کټ شوي تار سره ناجائزه ده

**سوال**: (۱۱۸) اکثره ښځې چرخه چلوي او کټ شوی تار په مالوچو سره بدلوي، داسې چه یو سیر تار ورکوي او یونیم سیر مالوچ اخلي، او زیات مالوچ کوم چه هغوئ ته نیم سیر په بدله کې ملاویږي هغه خپله مزدوري گڼي، او څوک چه داسې معامله کوي هغوئ په خوشحالۍ سره دا بدلوي، داسې بدلولو کې سود خو نشته دی؟ او که سود وي نو بیا د دې نه د بچ کیدو کوم صورت اختیار کړو؟ او خپل محنت څنګه وصول کړو؟ او د دې نه د بچ کیدو کوم اسان چل وښودل شي ترڅو هغه د مسئلې نه خبر کړی شي؟ چونکه دې طرف ته داسې رواج دی نو څکه کومه چرخه چه چلوي همداسې کوي او په هغې کې ورته نفع حاصلیږي؟

**جواب**: "فی الهدایة واختلفوا فی القطن بغزله قال العینی ای فی بیع القطن لغزل القطن متساویا وزنا قال بعضهم یجوز لان اصلهما واحد وکلاهما موزون وقال بعضهم لا یجوز والیه ذهب صاحب خلاصة الفتاوی لان القطن ینقص اذا غزل فصار کالحنطة مع الدقیق اهـ". د دې روایت نه معلومه شوه چه تپوس شوي صورت کې جائز نه دي صرف د جواز یوه حیله کیدی شي چه دواړه سره بدل نه کړي، بلکه کټ شوي تارونه په پیسو خرڅ کړي او بیا په هغه پیسو باندې مالوچ واخلي یا مالوچ خرڅ او تارونه پرې واخلي.

## د کپړې خرڅول د نغدو او وړۍ په بدل کې

**سوال**: (۱۱۹) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه په دې کلي کې د کپړې خریداران زیات دي کوم چه د کپړې قیمت نیمې نغدې او نیمه وړۍ ورکوي، او که ټولې نغدې ورکوي نو داسې خریدار به مال وانخلي لیکن ټول قیمت ورکولو سره به مال اخستل قبول نه کړي اوبائع به په حرج کې وي که په دې صورت کې نیم په نغدو او نیم په مال ورکړل شي نو دا بیعه جائزه ده او که ناجائزه؟ د دې خلاصه دا ده چه د ۱۰۰ روپو مال به خرڅ شي نو د پنځوسو به وړۍ او پنځوس



نغدې، مگر د دې ذکر د اخستلو او خرڅولو په وخت د بائع او مشتري ترمنځ نه کیږي، د مال قیمت تعینوي چه د ۴۰ یا ۵۰ روپو شو او د وړۍ نرخ بعضې وختونو کې د وړاندې نه معلوم وي، په دې معامله باندې بائع او مشتري د وړاندې نه رضامند کیږي نو په دې کې څه قباحت دی، د دې جواب زر راکړئ؟ سودوالاخریدارهندومواړي اومسلمان هم دی اوقصبه کې چې کومه کپړاچې کارګاه کې تیاره وی سوت والا)تاروالا( دوکاندارباندې خرڅ کړای شي ددې ذکردی (اتم السوال).

## بیا دلته په دې باندې دا تنقیح وکړی شو

دا لاس په لاس وي او که اول قیمت ورکول کیږي بیا د یو وخت نه بعد مال یا د هغې عکس او میعاد مقرریږي او که نه. (تم التنقیح)

## د دې تنقیح دا جواب راغلو

واضحه دې وي چه کوم وخت کې خپل مال خرڅوي د هغې مال په قیمت کې هم کله همغه وخت لاس په لاس نیم سوت او نیمې نغدې ملاویږي، لیکن اکثره خریداران په قیمت ورکولو کې تاخیر کوي، او د تاخیر وخت د یوې هفتې نه تر څلورو هفتو پورې مقرر کړی شوی دی، یعنې یوه هفته یا څلور هفتو کې د هغه د مال قیمت کې نیم سوت او نیمې نغدې ملاویږي، لیکن د مال په قیمت کې چه کوم سوت راځي هغه د اصل قیمت نه ډیر ګران پریوځي، یعنې فی بنډل دوه آنې یعنې که چیرته د بازار اصلي نرخ اته روپۍ بنډل وي،-نو د مال په قیمت کې به چه کله سوت ورکوي نو دوه آنې دپاسه اته روپۍ به ورکوي، داسې به د مال قیمت شپاړلس روپۍ وي نو د اته روپو بنډل به یو سوت ورکړي او ۷ روپۍ او ۱۴ آنې به نغدې ورکوي، داسې بیع وشراء درسته ده او که نه، فقط؟

## د دې جواب داسې ورکړی شوی دی

**جواب**: "بالاقتضائی المعروف کالمشروط" دا خو یقیني شوه چه قیمت د دوه څیزونو مجموعه ده، نغدې او سوت، نو دا ویل چه شپاړلس روپۍ قیمت دی، مثلاً د دې مصطلحه معنی د بره قاعدې د مخې داسې ده چه د دې قیمت اته روپۍ نغدې او اته روپۍ مال دی نو که په مجلس کې قبضه وکړي مثلاً خریدار په کپړو باندې قبضه وکړه او بائع په قیمت یعنې نغدې او مال نو بیا خو بغیر د

تکلف نه دا بیعه جائزه ده او که ټول قیمت په مجلس کې نه وي ورکړی شوی نو په دې صورت کې د بیع د جائز کیدو شرط دا دی چه د عقد په وخت د سوت قیمت او دا چه څومره به وي باید مقرر کړی شي ځکه چه دلته دا د قیمت حصه ده او د قیمت معلومیدل د بیع د صحیح کیدو لپاره شرط دی. "امانفس الجواز فلما فی الدر المختار جاز بیع کرباس بقطن وغزل مطلقاً کیف ما کان لاختلافهما جنساً اه قلت ویستثنی منه ثوب یمکن نقضه فیعود غزلاً فانه یشترط فیه التقابض کما فی رد المختار ج۴ صـ۲۸۵،۲۸۶". ۱۵ ذی الحجه ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه صـ۲۰۲).

## عدم جواز بیع معدوم

**سوال** :(۱۲۰)چه می فرمایند علمائي دین ومفتیان شرع اندرین مسئله که شخصي بقیمت دو آنه چیزی خریده یک روپیه بدست بائع داد او فلوس هشت آنه مشتری را داده گفت که ما بقی شش آنه بعد چند ساعت بگیرید ونیز بائع از هندو ست اکنون این بیع وگرفتن فلوس ما بقی شرعا روا باشد یا نه، بینوا بالکتاب توجروا عند الملک الوهاب؟

**جواب** : فلوس مبیع است وبیع معدوم شرعا جائز نیست الا السلم بشرائط، البته اگر فلوس موجود باشد گو قبض موخر باشد جائز ست لاکن عوام رعایت این شرط نمي کنند لهذا منع ازان مطلقا اصلح است وهذا کلمه ظاهر. ۴ذی الحجه ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه صـ۹۸).

## د میوو او کلانو خرڅول

### د ام د کلانو خرڅول په کافر باندې

**سوال** :(۱۲۱) که یو کافر د مسلمان د باغ نه د ام کلان واخلي نو د هغه کافر نه مسلمانانو له د ام اخستل جائز دي او که نه او د هغې خوړل څنګه دي؟

**جواب** : جائز نه دي. (تتمه اولی صـ۱۶۶).

### په دار الحرب کې د باغ د کافر مالک نه د ونو گل اخستل

**سوال** :(۱۲۲)که د یو کافر د باغ نه مسلمانانو گل واخستلو نو دغه مسلمانانو نه نورو مسلمانانو له هغه اخستل او خوړل جائز دي او که نه؟

**جواب** : جائز دي. (تتمه اولی صـ۱۶۶).



### اخستونکی او خرڅونکی دواړه کافر وي او هغه د کل بیعه وکړي نو مسلمانانو له د هغې نه میوه اخستل

**سوال** :(۱۲۳)که اخستونکی او خرڅونکی دواړه کافر وي او هغوئ د کل بیعه وکړي نو مسلمانانو له د هغې میوه اخستل او خوړل جائز دي او که نه؟

**جواب** : جائز دي. (تتمه اولی صـ۱۶۶).

### په مروجه شرطونو باندې د بعضو میوو خرڅول

**سوال** :(۱۲۴) د باغ غیر پخې شوې میوې که چا سره قیمت او خرڅې کړی شي په دې شرط چه پخیدو پورې به د باغ مالک اوبه ورکوي نور کار به اخستونکی کوي معلوم وخت تر پخیدو پورې مهلت وي دا جائزه ده او که نه؟

**جواب** : "فی الدر المختار وان شرط ترکها علی الاشجار فسد البیع کشرط القطع علی البائع حاوی وقیل (قایله محمد) لا یفسد اذا تناهت الثمرة للتعارف فکان شرطا یقتضیه العقد وبه یفتی بحر عن الاسرار الخ وفی رد المختار قبل القول المذکور تحت قوله وافتی الحلوانی بالجواز لو الخارج اکثر بعد بحث طویل قلت لکن یخفی تحقق الضرورة فی زماننا ولاسیما فی مثل دمشق الشام کثیرة الاشجار والثمار الی اخر ما قال واطال ج۴ صـ۵۴ وفی الدر المختار ولا بیع بشرط الی قوله ولم یجر العرف به الخ وفیه اوجری العرف به الی قوله استحسانا للتعامل بلانکیر وفی رد المختار بعد کلام طویل ومقتضی هذا انه لوحدث عرف فی شرط غیر الشرط فی النعل او الثوب والقبقاب ان یکون معتبرا اذا لم یود الی المنازعة الخ صـ۱۸۶_۱۹۰". د دې روایتونو نه معلومه شوه چه فی نفسه خو دا معامله د قاعدې خلاف ده لیکن که چیرته داسې عرف عام شي نو صحیح ده او کوم عرف چه عام نه وي نو صحیح نه ده. ۲۸ رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه صـ۷۹).

### میوه د ښکاره کیدو نه وړاندې خرڅول

**سوال** :(۱۲۵) که قرضدار ته د باغ میوه دوه درې کاله په پنځه سوه روپۍ باندې ورکړی شي کوم چه پیداوار وي څنګه ده؟

**جواب** : "فی الدر المختار اما قبل الظهور فلا یصح اتفاقا وفی رد المختار عن الفتح لا خلاف فی عدم جواز بیع الثمار قبل ان تظهر الخ ج۴ صـ۵۸". د دې نه معلومه شوه چه دا معامله مطلقا ناجائزه ده. ۲۸ رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه صـ۷۹).

## د میوې اخستلو والا باندې څه اندازه میوه مقررول

**سوال** :(۱۲٦) په جنتي کالی کې ما دا مسئله لیدلې ده چه که په بهار کې باغ خرڅ کړی شي نو د نغدو روپو سره که څه اندازه آم د جنس په طور واخستل شي نو جائزه ده او زه د مخکې نه د دې نه خبر وم چه د قیمت سره جنس ناجائز دی، لهذا مثلاً یو کس خپل باغ خرڅ کړو په سل روپۍ باندې یعنې اخستونکي ته ئې وویل چه د ټول بهار به ۱۰۰ روپۍ اخلم، او لس منه امونه به هم د دې قیمت نه بغیر اخلم، لکه ټول قیمت چه سل روپۍ او لس منه آمونه شول نو دا جنس د نغدو نه علاوه جائز شو او که نه؟ امید دی چه صحیح او پوره جواب راولیږئ؟ بینوا توجروا فقط.

**جواب** : ما دا مسئله یو تاویل سره لیکلې وه چه ګویا دا اندازه د بیع نه مستثنی شوه او د مبیع د استثناء سره د مقدار معلوم او معینول جائز دي او هغه مې ولیکله او یو محقق عالم صاحب الفتاوی ته مې هم ښودلې وې هغوئ هم موافقت وفرمایل مګر د چندې نه بعد د یو بل بـــزرګ فتـــوا د دې ممانعت نه ماته یوه ثقه نقل کړې ده او هغه ممانعت هم په یوه قاعده باندې مبنی معلومیږي هغه دا چه څه پته لګیږي چه څومره میوه به کوي چه په هغې کې به دومره اندازه ورکوي نو بیا خو بـــه پـــه دې مسئله کې تردد وي، بهتره همدا ده چه همدا سوال او جواب سهار پورته ولیږل شي او مسئله صـــف کړی شي دې وخت کې خو همدا په ذهن کې راځي چه که دا اندازه دومره وي چه یقینا به ملاو شي او څه مسئله به نه وي نو څه حرج نشته او نه به منع کړی شي. ۲۷ جمادی الثانیه ۱۳۳۲هـ، (تتمه ثانیه صـــ ۱۵۰).

## میوې اخستلو والا باندې څه اندازه میوه مقررول

**سوال** :(۱۲۷) شریعت په دې کې څه حکم لري چه د میوې ښکاره کیدو په وخت خلک خپل باغ خرڅوي او وائي چه دومره به قیمت اخلو او دومره میوه، خریدار ئې ورسره هغه وخت مني، اوس سوال دا دی چه د دې اخستل جائز دي او که نه؟ که ناجائز وي نو د جائز کیدو صورت ئې څه دی او که جائز وي نو مطلق او که نه د خاص ونې تعین به کوي، اکثره باغ والا ئې په دې صورت کې خرڅوي چه مونږ خو پخپله باغ خوړلی نه شو نو په دې کې ئې خرڅ هم کړو او میـــوه هـــم وخورو، دیوبند ته مو لیکلي وو، مفتي صاحب ولیکل چه د خاصې ونې تعین دې نه کوي او زر یـــا پنځـــه سوه دې مقرر کړي، دا جائزه ده، در مختار کې دي، اتفاق سره د مراد اباد ځوان علماء دلته یو پروګـــرام له راغلی وو، هغوئ ته مو هم ذکر وکړو، نو وېې فرمایل چه ناجائزه ده، دا بیع مجهول ده، صفقة فی



صفقتین ده، لهذا اوس ګزارش دی چه حضرت هم د دې جواب ولیکئ ترڅو د دې کار ثقه والی پیدا شي؟

**جواب** : اول خو د دې عقد حقیقت پیژندل ضروري دي، نو په دې کې دوه احتمالونه دي، یو دا چه میوه بدل وګرځول شي یعنې اخستونکي په بدل کې د دوه ځیزونو ورکولو وعده وکړي، یو دومره روپۍ او دویم میوه، دا خو ظاهره ده چه ناجائزه ده، بله دا چه دومره میوه د بیعې نه مستثنی کـــړی شي نو په دې کې هم دا اندیښنه ده، چه اول خو میوه څه لویه او څه وړه په دې کـــې د لانجـــې احتمال، دویم ممکنه ده چه ټوله میوه دومره ونه شي نو استثناء به چیرته صحیح شي، دریم دا چـــه کله دا استثناء شوه خو غیر مبیع به وي نو بیا به په اخستونکي باندې د هغې حفاظت ولې وي لیکن د عام تعامل د وجې نه دا ویلی شو چه کله عادة نزاع نه وي او غالبا میوه زیاته وي نو جـــائز بـــه ورته وایو او که خاصه ونه مستثنی شي نو د دې په جواز کې خو به هیڅ شک نـــه وي. ۲۲ ذی قعده ۱۳۳۹هـ، (تتمه خامسه صـــ ۱۹۸).

## د بعضې میوو د میوې د قیمت سره شرط کول

**سوال** :(۱۲۸) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زید باغ په سل روپۍ خرڅ کړو، اخـــستونکي پنځوس روپۍ نغدې د بیعې په وخت ورکړې، او د پنځوس روپو ئې د فصل په ختمیدو د ورکولـــو وعده وکړه، دا روپۍ چه د فصل په آخر کې به ورکول کیږي په هغې باندې به بائع د اخستونکي نه په سلو کې یوه روپۍ کې امونه اخلي دا امونه اخستل جائز دي او که نه؟

دویم صورت دا دی چه ټولې روپۍ ئې د بیعې په وخت واخستلې، په هغې باندې هم څه اندازه امونه د مشتري نه اخستل کیږي، مګر په دې صورت کې روپۍ سیکړه نه اخستل کیږي، بلکه د دې نـــه کم څه چه معلومې شوې وې دا جائزه ده او که نه؟د ډالۍ په قائمولو او نه قائمولو کـــې د قیمـــت کموالی او زیاتوالی هم کیږي؟

**جواب** : دا په دې تاویل سره جائز کیدی شي چه څومره میوه مقرره شوې وي ګویا چه دا د بیعې نه مستثنی ده، او په دې استثناء کې د مستثنی داسې معلومیدل پکار دي چه د متبایعینو په کې څه نزاع نه وي، که همداسې تعین شي نو ګنجائش شته، او چونکه امونه ذوات القیم دي لیکن د تعامل پـــه ضرورت د هغه ونو تعین نه کوم چه هغوئ ته نزدې وي د هغې سره دا محلق بذوات الامثال کیدی شي. ۲۹ رجب المرجب ۱۳۳۱هـ، (حوادث اول وثاني صـــ ۱۰۸).

## کومه میوه چه د بنکاره کیدو نه وړا ندي

## خرڅه شوه اصلي مالک له ئې خرڅول حلال دي

**سوال** :(۱۲۹) زما د والد صاحب په کلي کې څه باغونه دي چه درې کالو نه یو کس سره د لس کالو په معاهده ورکړی شوي دي، او د هغه ټیکه دار نه ئې د قیمت نه علاوه پرې نور څه امونه هم د ډالي په طور ایښي دي، اوس سوال دا دی چه کله دا امونه کور ته راشي نو زه ئې استعمالولی شم او که نه؟ د دې نه علاوه په دغه کلي کې څه حصه زما هم ده، مګر تقسیم شوې نه ده، او هغه هم بالکل د والد صاحب په قبضه کې ده، او زما څکه ده چه ماته په میراث کې ملاو شوې ده. فقط؟

**جواب** : دا بیعه باطله ده، او ټول امونه د اصلي مالک ملکیت دی، نو کوم امونه چه په ډالۍ کې راځي هغه هم د مالک ملکیت دی څکه حلال دي، لیکن کوم ځای کې چه عوام په دې دقیق نه پوهیږي نو داسې کس له ئې خوړل نه دي پکار د کوم د وجې نه چه عوامو باندې اثر وشي. ۲۹ جمادی الثانیه ۱۳۳۲ھ، (حوادث اول ودوم صـ۱۴۳).

## د ګلانو او میوو خرڅول

**سوال** :(۱۳۰) "فیالدر المختار (ومن باع ثمرة بارزة) اما قبل الظهور فلا یصح اتفاق (ظهر صلاحها اولا صح فی الاصح) ولو برز بعضها دون بعض لا) یصح (فی ظاهر المذهب) وصححه السرخسی وافتی الحلوانی بالجواز لو الخارج اکثر زیلعی (ویقطعها المشتری فی الحال) جبرا علیه (وان شرط ترکها علی الاشجار فسدا) البیع کشرط القطع علی البایع حاوی (وقیل) قایله محمد (لا) یفسد (اذا تناهت) الثمرة للتعارف فکان شرطا یقتضیه العقد (وبه یفتی) بحر عن الاسرار لکن فی القهستانی عن المضمرات انه علی قولهما الفتوی فتنبه قید باشتراط الترک لانه لو شراها مطلقا وترکها باذن البایع طالب له الزیادة وان بغیر اذنه تصدق بما زاد فی ذاتها وان یعد ما تناهت لم یتصدق بشیی وان استاجر الشجر الی وقت الادراک بطلت الاجارة وطابت الزیادة ملتقی الابحر لفساد الاذن بفساد الاجارة بخلاف الباطل کما حررناه فی شرحه مطلب فساد المتضمن یوجب فساد المتضمن والحیلة ان یاخذ الشجرة معاملة علی ان له جزء من الف جزء وان یشتری اصول الرطبة کالباذنجان واشجار البطیخ والخیار لکون الحادث للمشتری وفی الذرع والحشیش یشتری الموجود ببعض الثمن ویستاجر الارض مدة معلومة یعلم فیها الادراک بباقی الثمن وفی الاشجار الموجود ویحل له البایع ما یوجد فان خاف ان یرجع یقول علی انی متی رجعت فی الاذن تکون ماذونا فی الترک شمنی ملخصا وفی رد المختار تحت قوله ظهر صلاحها اولا ما نصه وعندنا ان کان بر جال لا ینتفع به فی الاکل ولا فی علف الدواب فیه خلاف بین المشایخ قیل لا یجوز ونسبه قاضی خان لعامة مشایخنا والصحیح انه یجوز لانه مال منتفع به فی



ثانی الحال ان لم یکن منتفعا به فی الحال والحیلة فی جوازه باتفاق المشایخ ان بیع الکمثری اول ما تخرج مع اوراق الشجر فیجوز فیها تبعا للاوراق کانه ورق کله وان کان بحیث ینتفع به ولو علفا للدواب فالبیع جایز باتفاق اهل المذهب اذا باع بشرط القطع او مطلقا اه وفیه قوله وافتی لحلوانی بالجواز وزعم انه مروی عن اصحابنا وکذا حکی عن الامام الفضلی وقال استحسن فیه لتعامل الناس وفی نزع الناس عن عادتهم حرج قال فی الفتح قد رایت روایة فی نحو هذا عن محمد فی بیع الورد علی الاشجار فان الورد متلاحق وجوز البیع فی الکل وهو قول مالک اه وفیه بعد اسطر قلت لکن لا یخفی تحقق الضرورة فی زماننا ولا سیما فی مثل دمشق الشام کثیرة الاشجار والثمار فانه لغبة الجهل علی الناس لا یمکن الزامهم بالتخلص باحد الطرق المذکورة وان امکن ذلک بالنسبة الی بعض افراد الناس لا یمکن بالنسبة الی عامتهم وفی نزعهم من عادتهم حرج کما علمت ویلزم تحریم اکل الثمار فی هذه البلدان اذلا تباع الا کذلک والنبی ﷺ انما رخص فی السلم للضرورة مع انه بیع المعدوم فحیث تحققت الضرورة هنا ایضا امکن: الحاقه بالسلم بطریق الدلالة فلم یکن مصادما للنص فلذا جعلوه من الاستحسان لان القیاس عدم الجواز والظاهر کلام الفتح المیل الی الجواز ولذا اوردله الروایة عن محمد بل تقدم ان الحلوانی انی رواه عن اصحابنا وما ضاق الامر الا اتسع ولا یخفی ان هذا مسموع للعدول عن ظاهر الروایة کما یعلم من رسالتنا المسماة نشر العرق فی بناء بعض الاحکام علی العرق فراجعها قوله ولو الخارج اکثر ذلک فی البحر عن الفتح ان ما نقله شمس الایمة عن الامام الفضلی لم یقیده عنه بکون الموجود وقت العقد اکثر بل قایل عنه اجعل الموجود اصلا وما یحدث بعد ذلک تبعا قوله جبرا علیه مفاده انه لا خیار للمشتری فی ابطال البیع اذا امتنع البایع عن ابقاء الثمار علی الاشجار فیه بحث لصاحب البحر والنهر سیذکره الشارح اخر الباب (ونصه فی اخر الباب هکذا) قال فی النهر ولا فرق یظهر بین المشتری والبایع فی رد المختار اصله لصاحب البحر وحاصله البحث انه ینبغی علی قیاس هذا انه لو باع ثمرة بدون للشجر ولم یرض البایع باعارة الشجر ان ابتخیر المشتری ایضا ان شاء ابطل البیع او قطعها لان فی القطع اتلاف المال وفیه ضرر علیه الخ قوله فتنه اشار به الی اختلاف التصحیح وتخییر المفتی فی الافتاء بایهما شاء لکن حیث کان قول محمد هو الاستحسان یترجع علی قولهما تامل وفیه تحت قوله کما حررناه فی شرحه ما نصه وحاصل الفرق کما فی الفتح وغیره ان الفاسد له وجود لانه فایت الوصف دون الاصل فکان الاذن ثابتا فی ضمنه فیفسد بخلاف الباطل فانه لا وجود له اصلا فلم یوجد الاذن قوله وان یشتری الخ؛ هذه حیلة ثانیة وبیانها ان المشتری اما ان یکون مما یوجد شیبا فشیبا وقد وجد بعضه اولم یوجد منه شیی کالباذنجان والبطیخ والخیار اویوجد کله لکنه لم یدرک کالزرع والحشیش اویکون وجد بعضه دون بعض کثمر الاشجار المختلفة الانواع؛ ففی الاول یشتری الاصول ببعض الثمن ویستاجر الارض مدة معلومة بباقی الثمن لیلا یامره البایع بالقلع قبل خروج الباقی اوقبل الادراک؛ وفی الثانی یشتری الموجود من الحشیش والزرع ویستاجر الارض کما قلنا وفی الثالث یشتری الموجود من الثمر بکل الثمن ویحل له البایع ما سیوجد لان استیجار الارض لا یتاتی هنا لان الاشجار باقیة علی ملک البایع وقیامها علی الارض مانع من صحة استیجار الارض جـ صـ۵۸۴ تا ۶۱"

د بره روایتونو نه لاندې کارونه راووتل:

(۱) ترخو پورې چه میوه راونه وځي نو د هغې خرڅول مطلقاً ناجائز دي او د سلم حیله ځکه نه شي کیدی چه په دې کې د مسلم فیه د عقد په وخت د دې په ځاي کیدل شرط دی.

(۲) د میوو ښکاره کیدو نه پس بیعه جائزه ده، که د فائدې قابل وي اتفاقا او که نه وي نو اختلافا.

(۳) که څه ظاهره وي او څه نه وي نو دې ته امام فضلي جائز ویلي دي.

(۴) د بیعې د صحت نه وروستو خرڅونکی اخستونکي ته د میوې په بوټي کې د پاتې کیدو اجازت ورکړو صراحةً یادلالةً به میوه حلاله وي.

(۵) که خرڅونکی په دې اجازت راضي نه وي نو د بعضو په نزد اخستونکی بیعه فسخه کولی شي.

(٦) کومه میوه چه لږه لږه ظاهریږي لکه امرود نو د بعضې په ښکاره کیدو باندې بیعه صحیح کیږي.

(۷) همداسې د ګلاب وغیره د ګلانو همدا حکم دی چه د بعضو ښکاره کیدل کافي دي، او اګرچه په مذکوره احکامو کې په بعضو کې خلاف دي مګر په ابتدالائي عام کې په کې ګنجائش شته.

### کله چه ځمکه د باغ او میوې سره په تیکه وي د هغې میوه خوړل

**سوال** :(۱۳۱) که د یو باغ تیکه د ځمکې سره په کرونده باندې وي او ورسره د میوې تیکه هم وي نو د دغه باغ امونه خوړل جائز دي او که نه؟

**جواب** : نه.

### د بره مضمون ضمیمه

د دې میوو متعلق زمونږ په ضلعو کې یو رسم دی چه خرڅونکی د اخستونکي نه د قیمت نه علاوه څه خاصه اندازه میوه هم اخلي یعنې د پخوالي په وخت به مونږ تاسو نه دومره میوه کنار یا دومره میوه انبه هم اخلو او هغه ئې منظوروي، او هغه وخت ئې ورکوي، کله په یو ځل او کله متفرق، او په دې کې اکثر نزاع او اختلاف هم نه وي، او کله د میوو په پیداوار او فصل کې کموالی هم راځي نو بعضې خرڅونکي په دې اندازه کې کموالی هم کوي او دې ته اصطلاح کې جنس وائي نو دا مسئله هم د بحث قابل ده نو یوه توجیه خو د دې په استثناء کې داخلولو سره محتمله ده مګر دا ځکه صحیح نه ده چه په دې تقدیر باندې اخستونکی فی الفور د خرڅونکي نه مطالبه کولی شي چه



خپل غیر مبیع میوه زما د مبیع نه جدا کړه او هغه انکار نه شي کولی، او خرڅونکي ته یو خاص وخت پورې هغه د دې په حفاظت نه شي مجبورولی، حال دا چه دا د عرف او شرط او مقصود خلاف دی. او یوه توجیه دا محتمله ده چه ثمن دوه څیزونو ته وویل شي، یو خو د روپو اندازه، دویم دومره میوه لیکن دا ځکه صحیح نه دي چه یو خو د مبیع یو جزء ثمن ګرځول جائز نه دي، دویم په دې صورت کې د قیمت موده د بیعې لپاره مقدور التسلیم نه ده نو دا دواړه توجیه ګانې په قواعدو نه منطبق کیږي، مګر په دې عامه ابتداء ده نو ځکه دا په کلیه باندې د منبطق کولو ضرورت لري نو د احقر په خیال کې خو دا توجیه راځي چه فقهاو تصریح کړې ده چه د بیعې د مکملیدو نه وروستو هم د متعاقدینو په رضا سره په قیمت کې صحم او مبیع کې هم زیاتوالی جائز دی او کموالی هم، لکه د زیات خریدار ته د کمیشن واپس کول د کوم حقیقت چه د قیمت کموالی دی، عام طور سره رواج دا دی، داسې به دا په خط مبیع کې داخل کړی شي، یعنې بیعه خو د ټول وشوه مګر په بیع کې دا شرط شو چه اخستونکی به دومره اندازه مبیع بیا بائع ته په فلاني وخت کې واپس کوي، او د وخت شرط چونکه د قواعدو د مخې په هغه باندې لازم نه دی مګر په فقه کې د دې تصریح هم ده نو ځکه به هغه ته لازماً هم ویل کیږي، اوس په دې کې صرف دوه شبهې پاتې شوې، یو دا چه شاید دا دومره پیدا نه شي، دویم دا که پیدا هم شي نو د دې احاد متفاوت وې تعینیږي به څنګه؟ د دې جواب دا دی چه مونږ به د دې التزام وکړو چه د دې د جنس اندازه دومره پکار ده ترڅو په دې کې دا شبهه نه وي او د تفاوت تدارک دا دی چه د مودې وصف بیان کړی شي چه غټه به وي او که وړه یا مخلوط په کوم کې چه نزاع نه وي او د جهالت یسیره په ډیرو ځایونو کې تحمل کړی شوی دی. فقط اشرف علي یکم صفر ۱۳۳۴هـ.

### ذکر شوي مضمون باندې دا سوالونه وکړی شول کوم چه د جوابونو سره لاندې نقل دي

**سوال** :(۱۳۲)د بره عبارت په شروع کې دي، "افتى الحلوانى بالجواز لو الخارج اكثر" او د هغې نه بعد دي، "قوله وافتى الحلواني بالجواز زعم انه مروى عن اصحابنا وكذا حكى عن الفضلى" د دې عبارتونو نه معلومه شوه چه د جواز قول مشروط بخروج الاكثر دی، لیکن په کارونو کې دا قید پاتې شو، د دې نه اطلاق مفهومیږي؟

**جواب**: د حلواني د دې قید خلاف د امام فضلي نه نقل شوی دی کوم چه په بره عبارت کې ذکر کړی شوی دی، "ذکر فی البحر عن الفتح ان ما نقله شمس الائمه عن الامام الفضلي الخ".

د سوال تتمه: او د دې متعلق هم سوال دا دی چه دا صورت آیا د یوې ونې پورې مخصوص دی یا به په یو باغ کې هم جاري کیږي، کله چه د هغې په اکثرو ونو باندې میوه راغلې وي او په بعضو بالکل نه وي راغلي، "والظاهر هو الاول"؟

**جواب**: "نعم الظاهر هو الاول عند من اعتبر هذا القید وقد علمت الکلام فیه".

**سوال**: (۱۳۳) "لایخفی تحقق الضرورة فی زماننا ولاسیما فی دمشق الشام کثیرة الاشجار والثمار فانه لغلبة الحیل علی الناس لایمکن الزامهم بالتخصص باحد الطرق المشهورة الخ" وغیره؛ د نقل شوي عبارتونو نه دوه کارونه راوځي، یو دا چه عموم بلوی هم د قیاس پریښودو دپاره کافي دی، او د دې اثر صرف طهارت او نجاست پورې محدود نه دی بلکه تحلیل او تحریم باندې هم د دې اثر نشته دی ځکه چه اول خو د تعامل فی العبارات المنقولة تعامل مصطلح خو دی نه، ځکه چه اول خو د تعامل مصطلح اجماع قسم دی او اجماع د مجتهدینو معتبره ده نه چه د عامو علماو او فقهاو بیا که وي هم نو نه خو د ټولو علماو د دې په جواز باندې اتفاق دی، او نه قولا نو لا محاله به تعامل مذکور د تعارف په معنی وي. "ویدل علیه ایضا نص السلم اذ لا اجماع فی زمن النبی ﷺ بل هناك الابتلاء العام وضرورة الناس والحرج فقط". بلکه که غور وکړی شي نو د تعامل قسم اجماع کوم، مستقل دلیل د جواز لپاره نه دی بلکه اصل وجه تعامل وتعارف ناس دی، نو کله چه مجتهدینو ابتلاء عام ولیدله او ممانعت ئې مفضي الی الحرج وګڼلو کوم چه دلیل دی د جواز لپاره، نو ځکه هغوئ عملا وقولا وسکوتا د عوامو سره اتفاق وکړو نو اصل دلیل تعامل ناس دی دا شو کوم چه اجماع سند دی؛ دویم دا چه د قیاس د پریښودو دپاره چه کومه خاصه علاقه کې د هغه ځاي د عوامو د ابتلائې عام د کوم ختمول چه مفضی الی الحرج او قریب قریب ناممکن وي کافي دي، دا ضروري نه ده چه ابتلاء په ټول عالم کې وي، "هو کما یدل علیه قوله لا سیما في دمشق الشام الخ" د دې یو جواب مې په ذهن کې راغلی وو او هغه دا چه د مذهب د اصحابو نه که د چا نه غیر ظاهر روایت هم نقل وي نو د هغه وخت د عموم بلوی لحاظ ساتلو سره په هغې باندې فتوا ورکول کیدی شي او کله چه بالکل یو روایت نه وي نو بیا داسې نه شي کیدی، لیکن په دې جواب کې دا خدشه ده چه دا هغه وخت کیدی شي چه د دې روایات غیر ظاهره دپاره بل کومه وجه د عموم بلوا نه علاوه او د خلکو



ضرورت وي، لیکن که د خلکو ضرورت او حرج ددې سبب وي نو بیا همغه صورت پیدا کیږي، بیا عبارت، "والنبی ﷺ انما رخص فی السلم للضرورة مع انه بیع المعدوم فحیث تحقق الضرورة ههنا ایضاً امکن الحاقة باسلم بالدلالة فلم یکن مصادما للنص" د دې تاویل او توجیه نه راغلې ده ځکه چه کله دا اصول مقرر کړی شول نو د دې ضرورت پاتې نه شو چه یو روایت د مذهب والا نه منقول وي چه فلانی کار جائز دی، ځکه چه صراحة او نصاً د نه موجودیدو د وجې نه هغه کیدی شي چه د هغوئ په زمانه کې داسې صورت مخې ته راغلی نه وي یا راغلی وي مګر د خلکو ضرورت نه وي نو ځکه د قیاس مطابق حکم کړی شوی وي، او تقدیراً خو ذکر دی، ځکه چه، "کلیه کل ما تحققت الضرورة فیه فهو جائز عندنا بدلالة نص السلم" موجود دی، پس د دې کبری سره، "صغوی سهلة الحصول هذا ما تحقق فیه الضرورة" یوځاي کولو نه "جائز عندنا بدلالة النص السلم" نتیجه صریحه ده او که وویل شي چه د ضرورت تشخیص او تقدیر دپاره ضرورت دی د اجتهاد نو دا زړه نه مني ځکه چه ابتلاء عام او حرج مشاهده او تجربې نه دا معلومیږي چه د دې لپاره د هیڅ قسم اجتهاد ضرورت نشته، "وایضا لا یساعده نص السلم" نو د دې اصولو په بنا باندې به د ډیرو مسائلو د جواز حکم کیږي لکه د باغونو د میوو بښکاره کیدو نه مخکې د هغې خرڅول وغیره؟

**جواب**: پخپله عام ضرورت مستقل دلیل نه دی، ترڅو پورې چه کلیه شرعیه کې هغه صورت داخل نه وي لکه څنګه چه په سوال کې د مذکور عبارت کې ئې صرف د ضرورت د جواز لپاره کافي نه دی ګڼلی، بلکه ضرورت ئې داعي ګرځولی په کومه کلیه کې داخلولو مثل الحاق بالسلم وغیره دی، او بیع قبل ظهور الثمار کې دا الحاق کیدی نه شي، همداسې کومه بله قاعده هم دلته نه چلیږي، "فلا قیاس احدهما علی الآخر" او په سلم کې د دې نه داخلیدل ظاهر دي ځکه چه اشتراط که وجود د مسلم فیه من وقت العقد الی حلول الاجل" نه قطع نظر کولو سره د شافعي مذهب هم واخستل شي چه د هغوئ په نزد صرف وجود وقت الحلول کافي دی، نو بیا هم دا ځکه سلم نه دی چه اول د میوې اندازه معلومه نه ده، دویم کومه نیټه معینه نه ده، دریم په نیټه باندې اخستونکي د خرڅونکي نه مطالبه نه کوي بلکه اول خرڅونکی ونې اخستونکي ته ورکوي، او هغه د همدغه وخت نه په هغې باندې قبضه کوي بیا که میوه زیاته وي او که کمه، او که وي هم نه، څلورم اکثره عددي شمار متقارب یا وزني متماثلي نه دی، پنځم اکثرا پوره قیمت اول په یو ځل هم نه تسلیمیږي، غرض دا چه دا سلم په یوه طریقه هم نه شي کیدی.

سوال(۳): دریم سوال دا لیکلی شوی دی چه د احقر په خیال کې دا توجیه راځي الخ په دې کې شبهه دا ده چه کموالی او زیاتوالی په قیمت کې یا في المبیع اګرچه د بیعې د پوره کیدو نه وروستو وي لیکن د اصل عقد سره ملحق وي یعنې اول ثمن او مبیع، ثمن او مبیع نه پاتې کیږي، بلکه بعد الزیادة والحط اصل قیمت او مبیع ګرځي، نو کله چه دا قاعده مسلمه ده نو که په اصل عقد کې خط مبیع متحقق شو نو که عمل درآمد او قبضه هر وخت کې وي لیکن دا کموالی به استثناء ګڼل کیږي، "لان الاستثناء هو اخراج الداخل وکذلک الحط" او که داسې شرط شوې وه چه هغه وخت خو مونږ ستا په لاس کې ټول تخم اچوو لیکن په معلوم وخت به راته دومره واپس کوې، نو دا یو داسې شرط دی چه د عقد مقتضی خلاف هم دی، "لان مقتضاه هو استبداد المشتری بالتصرف فیه کیف شاء" او په دې کې د احد المتعاقدین فائده هم ده نو مذکور شرط د بیعې فاسدونکی شو، پاتې شو د تمام البیع حط جائز کیدل نو دا د دې د جواز اشتراط له مستلزم نه دی، نو د بائع د قیمت قبضه کولو نه بعد مشتري په رضامندئ سره مبیع د څه مودې پورې د خپل ځان سره کینبودل او د هغې نه فائده اوچتول جائز دي، مګر شرط جائز نه دی، او "خط فی نفس العقد" استثناء ده، "فحیث ما یجوز الاستثناء یجز الحطّ واینما لا فلا؟

جواب : دا شبهه صحیح ده لیکن بیع بشرط الوفاء کې داسې اشتراط ته جائز ویلی شوي دي اګرچه د عقد د مقتضی خلاف وو، او چونکه د بائع بعد قبض ثمن د مشتري په رضا باندې مبیع د ځان سره اینبودل په دې کې ابتلاء نشته دی، نو ځکه په دې کې د تاویل د کوشش کولو ضرورت نشته، که ابتلاء وي او کوم تاویل چلیدلی هم نو په هغې کې به هم داسې حکم کړی شوی وو، او صرف ضرورت د تمشیه نه بغیر کافي نه دی، "کما مر فی الجواب عن ثاني الثاني فقط". اشرف علي ۱۴ صفر ۱۳۳۴هـ، (ترجیح ثالث صـ۲۲۵).

## د ګني د پیدائش نه وړاندې د هغې د اخستلو (خریدارئ) حکم

نن صبا دا دستور دی چه د پیداوار معامله د اخستلو هغه وخت کیږي چه کله کرل شوې هم نه وي بعضې ځایونو کې کرل کیږي که نه اخستل کیږي نو په هغه وخت کې چه پاخه وي نو بیا نه ملاویږي، په دې صورت کې د اخستلو اجازت کیدی شي او که نه؟ که اجازت نه وي نو غالباً چه ټول کال یا هم بیا په زیات قیمت ملاو شي؟



جواب : په عقد سلم کې د بیعې وخت برابر موندل کیږي، د احنافو په نزد شرط دی که دا شرط ونه موندل شي نو عقدسلم به جائز نه وي لیکن د شوافعو په نزد صرف وخت باندې موندل کیدل کافي دي، "کذا في الهدایة " نو که په ضرورت کې په دې قول باندې عمل وکړی شي نو څه ملامتیا نشته، رخصت دی. ۲۷ رجب ۱۳۳۸هـ، (تتمه خامسه صـ۱۵۱).

## بیع بالوفاء

### بعضې صورتونه چه د بیع بالوفاء سره مشابه دي ناجائز دي

سوال :(۱۳٤) زید خپل غیر منقوله جائیداد په څو شرطونو خرڅوي، اول دا چه مقررې مودې (مثلا لس یا پنځلس کاله پورې) به د عمرو وي، دویم دا چه معلوم وخت پورې به ترې هغه فائده اخلي، دریم دا چه د تاریخ په ختمیدو باندې به خرڅونکی اخستونکي ته پیسې ورکړي او مبیع به واخلي، څلورم که بائع په مقرره تاریخ باندې قیمت ورنکړو نو مبیع به د مشتري شي، دا بیعه صحیح ده او که نه؟ که نه وي نو په کوم قسم کې داخله ده؟ او موده مقررول او واپس اخستل څنګه دي؟ د ټولې زماني دا فائده به د مشتري لپاره جائزه وي که ربوا؟ په معین وخت باندې د قیمت ادا کولو په صورت کې به مبیع همیشه لپاره د مشتري شي، د دې نه وړاندې معامله مذبذبه وي دا څنګه ده؟

جواب : دا شرائط د بیعې د فساد موجب دي، نو ځکه دا عقد حرام دی، دا د بیع بالوفاء خراب کړی شوی صورت دی، مګر د دې طریقه بله ده بیا هغه هم په اصل مذهب کې جائزه نه ده. ۹ جمادی الاخرى ۱۳۳۲هـ، (تتمه ثانیه صـ۱۳۹).

## د بیع بالوفاء حکم

سوال :(۱۳۵)یو کس زید خپل کلي خرڅوي، لیکن په دې شرط چه که په یوه مقرره موده کې روپئ واپس کړي نو خرڅ شوی کلي به واپس واخلي، داسې معامله او د دې کلي نه اخستونکي له فائده اخستل مشتري له شرعا جائز دي او که نه؟

(۲) یو کس خپل کلي یو قرض ورکوونکي ته د قرض د اطمنان لپاره ورکوي، او د فریقینو ترمنځ دا معاهده کیږي چه د قرض ادا کولو پورې به په کې هغه قبضه او د تعرف حق لري او سرکاري مطالبات، حفاظت او د نقصان تاوان به هم د هغه په ذمه وي، د مدیون به د نفع او نقصان سره هیڅ

سروکار نه وي او ظاهره ده چه په داسې صورت کې کله فائده او کله نقصان کیږي، مثلاً وچ کالي شي، کروندګر وتبنتي، سرکاري مطالبات ورکول وي نو داسې معامله شرعا جائزه ده او که نه؟

**جواب** : پورته سوال کې ذکر شوی صورت د رهن (ګروئ) په قصد سره دی، او دویم سوال خو په دې رهن کې صراحت دی، نو که د مرتهن فائده اخستل مشروط یا معروف وي نو دا خو بغیر د اختلاف نه حرامه ده. "في الدر المختار ثم نقل عن التهذيب انه يكره للمرتهن ان ينتفع بالرهن وان اذن له الراهن قال المصنف وعليه يحمل ما عن محمد بن اسلم من انه لا يحل للمرتهن ذلك ولو بالاذن لانه ربوا قلت وتعليله يفيد انها تحريمية فتامله اه قلت هذا في المشروط وقد تقرران المعروف كالمشروط". او رهن قصدا او بیع ظاهرا ته بیع بالوفاء وائي نو د اصل مذهب د قواعدو د مخې نه دا هم رهن دی، او د دې نه فائده اخستل حرام دي، او که هغه بیع وي نو د مشروط کیدو د وجې نه بیع فاسده ده، نو بیا هم حرامه ده لیکن بعضې متاخرینو اجازت ورکړی دی، نو د سخت ضرورت نه علاوه دې دا ونه کړی شي او په سخت ضرورت کې خرڅونکی دا اختیار لري چه د متاخرینو په فتوا باندې عمل وکړي، اګرچه اخستونکي ته څه اضطرار نه وي. "والتفصيل في الدر المختار قبيل كتاب الكفالة، فقط والله اعلم". ۱ ذی الحجه ۱۳۲۰هـ، (امداد جـ۳ صـ۸۸).

## په بیع الوفاء کې د عقد نه وړاندې د مواضعت حکم

**سوال** :(۱۳٦) فتاوی قاضي خان جـ۲ صـ۳۴۸ مطبوعه نول کشور کې دي، "واختلفوا في بيع الوفاء او البيع الجايز الى ان قال وان ذكر البيع من غير شرط ثم ذكر الشرط على وجه المواعدة جاز البيع ويلزمه الوفاء بالوعد لان المواعد قد تكون لازمة لحاجة الناس اه". د دې عبارت مطلب څه دی، آیا دا هم جائزه ده چه خرڅونکي ته اخستونکی ووائي چه ته بیعه خو زمونږ سره بغیر د شرط نه وکړه، مګر مونږ تاسو سره وعده کوو چه که په دومره موده کې ته وغواړې نو مونږ به ستاسو څیز په دومره قیمت باندې واپس کړو، یا به ئې په دومره ګټه باندې په تا خرڅ کړو، او په دې باندې خرڅونکی راضي شي او ووائي چه ما بغیر د څه شرط نه ستا په لاس فلانی شی په دومره قیمت خرڅ کړو، او اخستونکی ئې قبول کړي، او د وعدې پخولو دپاره خط ولیکي، یا صرف همدا جائزه ده چه بیعه بغیر د کوم شرط نه یا د قرارداد نه بغیر وشي او بعد البیع اخستونکی د خرڅونکي په درخواست باندې یا بغیر د درخواست نه د واپس کولو وعده وکړي، صرف د دویم صورت د جواز سره د



خلکو حاجت نه پوره کیږي ځکه چه اول خو د خرڅونکي د واپسئ درخواست کول مستبعد دی، کله چه هغه بغیر د توقع نه د واپسئ بیعه کړې وي، دویم د اخستونکي داسې درخواست منل یا د خپل طرف نه په وعده کې پیش قدمي کول نور هم مستبعد دي، دې سره د خلکو حاجت نه ختمیږي؟

**جواب** : ستاسو شبهه صحیح ده، واقعي د دې نه بغیر چه د عقد نه وړاندې یا د عقد سره د وفا شرط ذکر کړی شي حاجت نه ختمیږي، او په دې دواړو صورتونو کې اصلي مذهب د عقد فساد دی، "كما في الدر المختار ثم ان ذكر الفسخ فيه او قبله او زعماه غير لازم كان بيعا فاسدا ولو بعده على وجه الميعاد جاز ولزم الوفاء به الخ" او د بعضو په نزد د عقد نه وړاندې ذکر کړی شوي شرط له اعتبار نشته، او عقد به نه فاسدیږي، لیکن هغه به بیع شرط الوفاء نه وي، "كما في الدر المختار لو تواضعا على الوفاء قبل العقد ثم عقدا خاليا عن شرط الوفاء فالعقد جايز ولا عبرة للمواضعة جـ۴ صـ۳۸۱" لیکن د زیاتو متاخرینو دا فتوی ده چه د عقد نه وړاندې د ذکر کړی شوي شرط اعتبار شته دی او عقد جائز دی. "لضرورة الناس وفي رد المختار وقد سيل الخير الرملي عن رجلين تواضعا على بيع الوفاء قبل عقده وعقد البيع خاليا عن الشرط فاجاب بانه صرح في الخلاصة والفيض والتتارخانية وغيرها بانه يكون على ما تواضعا؛ جـ۴ صـ۱۸۷" فقط. ۱۷ رمضان ۱۳۳۳هـ.

**سوال** :(۱۳۷) د اول سوال د جواب په ضمن کې جواب وشو لیکن د زیاتو متاخرینو دا فتوی ده چه د عقد نه وړاندې شرط هم معتبر او عقد جائز دی، "لضرورة الناس وفي رد المختار وقد سيل خير الرملي عن رجلين تواضعا على بيع الوفاء قبل عقده وعقد البيع خاليا عن الشرط فاجاب بانه صرح في الخلاصة والفيض والتتارخانية وغيرها بانه يكون على ما تواضعا جـ۴ صـ۱۸۷؛ انتهى". په دې کې سوال دا دی چه د رملي د جواب نه چه څومره زه پوهیږم نو د دې نه خو نه جواز معلومیږي او نه عدم جواز، ځکه "يكون ما تواضعا" نه صرف دومره معلومیږي چه مخکنی مواضعت به غیر معتبر نه وي، "ما زعمه البعض" بلکه معتبر به وي، او عقد به "صورةً مطلق عن الشرط" وي، ومعنی مقید به مګر دا ظاهره نه شوه چه دا عقد چه صورة مطلق عن الشرط ومعنا مقید بالشرط دی، بناءاً على اصل المذهب فاسد دی، یا لضرورة الناس جائز. په دې حالت کې چه د دې د نقل کولو کوم مقصد دی، هغه معلوم نه شو؟

**جواب** : واقعي دا عبارت د جواز د عقد نه ساکت دی، د دې نقل کولو مقصد د شرط معتبر کیدو باندې استدلال دی، د بعضو د زعم په مقابله کې او د جواز عقل دلیل لضرورة الناس دی، او نقلي دلیل په نورو فقهي روایتونو کې شته دی، په کوم کې چه لضرورة الناس ته اشاره کړی شوې وي،

مثلاً در مختار کې دي، "فیها القول السادس فی بیع الوفاء انه صحیح لحاجة الناس فرارا من الربوا وقالوا ما ضاق علی الناس امر الا اتسع حکمه وفی رد المختار قوله فیها ای فی البزازیة وهو من کلام الاشباه، ج۴ ص۳۸۶. ۲۹ رمضان ۱۳۳۳ھ، (حوادث ثالثه ص۱۴۸).

## جائز او ناجائز یا د بیعې مکروه معاملات

### آلات معاصي ومزامیر یا د سینما وغیره د آلاتو خرڅول

**سوال**: (۱۳۸) د اواز کولو والا شیان مثلاً گونگرې وغیره او په موسیقي کښې استعمالیدونکي څیزونه مثلاً تار، اوسپنه او پیتل وغیره په یو مسلمان یا کافر باندې خرڅول جائز دي او که نه؟ (۲) کوم کافر یا مسلمان چه د گاڼې او گډیدلو پیشه کوي په هغوئ باندې کومه سودا خرڅول صحیح دي او که نه؟ (۳) په داسې معاملاتو کې کافر او مسلمان برابر دي که څه فرق شته دی؟ (۴) کفار مشرکین کې د خپل عبادت گاه د جوړولو لپاره یا د بتانو د پرستش لپاره کوم څیز د مسلمان نه واخلي یا یو مسلمان په مزدورئ ونیسي نو د دې څیز به هغوئ خرڅول، یـا مزدوري اخستل جائز دي او که نه؟ (۵) په بتانو باندې اچول شوی څیز مثلاً میوه جات یا بل څیز بیا اخستل او د هغې تجارت کول یا هغه پخپله خوړل او استعمالول جائز دي او که نه؟

**جواب**: د گونگرو استعمال که د شان وشوکت د اظهارولو په غرض سره وي نو ناجائزه ده او که په دې سره خاروو ته اساني یا تازه والی وریه برخه کیږي یا په لاره کې د تلونکو د وجې چه د لارې نه لرې شي نو جائزه ده. "فی العالمگیریة الباب السابع عشر من الکراهیة قال محمد فی السیر فاما کان فی دار الاسلام وفیه منفعة لصاحب الراحلة فلا باس به قال وفی الجرس منفعة جمة الخ". او په موسیقئ کې د استعمالیدونکي څیزونو استعمال مطلقا ناجائز دی، او د بند وغیره استعمال د بنځو لپاره جائز دی، اگر که د پیتلو وي، د دې څیزونو صرف گوته ناجائزه ده."فی الدر المختار قبیل النظر والمس من کتاب الکراهیة ولا تختم الا بالفضة فیحرم بغیرها کحجر وذهب وحدید وصفر ورصاص وغیرها لما مر فاذا ثبت کراهیة لبسها للتختم ثبت کراهیة بیعها وضعها لما فیه من الاعانة علی ما لا یجوز وکل ما اوی الی ما لا یجوز لا یجوز اه قلت ویستثنی الذهب ایضه للنساء ویبقی الباقی علی العموم وفی رد المختار تحت قوله فیحرم لغیرها عن الجوهرة والتختم بالحدید والصفر والنحاس والرصاص مکروه للرجال والنساء اه قلت وتحصیص التختم ببیع لبسها لا للتختم للنساء". کله چه د استعمال په وجه کې د جائز او د ناجائز



تعین وکړئ شو نو اوس ئې د خرڅولو حکم پیژندل پکار دي نو په دې باب کې قاعده کلیـه دا ده چه د کوم څیز په عین سره معصیت قائمیږي، د هغې خرڅول منع دي او په کوم څیز کې چه د تغیر او تبدل نه بعد د معصیت آله جوړه کړی شي نو د هغې خرڅول جائز دي مگر خلاف اولـی دی. "فی الدر المختار فصل البیع من کتاب الکراهیة وجاز بیع عصیر عنب ممن یعلم ان یتخذه خمرا لان المعصیة لا تقول بعینه بل بعد تغیره وقیل یکره لاعانته علی المعصیة بخلاف بیع امرو ممن یلوط به وبیع سلاح من اهل الفتنة لان المعصیة تقوم بعینه وفی رد المختار فی تفصیل هذه العبارة وعلم من هذا انه لا یکره بیع ما لم تقم المعصیة به کبیع الجاریة للمغنیة والکبش النطوح والحمامة الطیارة والعصیر والخشب ممن یتخذ منه المعازف اه". نو په تپوس شوي صورت کې چه کله گونگرې د تفاخر لپاره نه وي او تار وغیره چه د موسیقي په آلاتو کې پکاریږي خرڅول ئې خلاف اولی جائز دي او په جواز او عدم جواز بیع کې د مسلمان او کافر یو حکم دی."فی رد المختار فی المقام المذکور والاصح خطابهم وعلیه فیکون اعانته علیا المعصیة فلا فرق بین المسلم والکافر فی بیع المعصیة بینهما اه". **د دویم سوال جواب**: جائزه نه ده کله چه ظاهراً د دې آمدن نه قیمت ورکوي. "فی الدارلمختار فصل البیع من الکراهیة وجاز اخذ دین علی کافر من ثمن خمر الصحة بیعه بخلاف دین علی المسلم لبطلانه اه اقول علل الجواز بالصحة وحرمة الرقص والغناء عام فلا یثبت الجواز". **د دریم سوال جواب**: برابر دی لکه څنگه چه تیر شو. **د څلورم سوال جواب**: د امام صاحب په نزد جائز دي، د صاحبینو په نزد ممنوع، لهذا احتیاط بهتر دی، او کـوم غریب چه په کې اخته وي بد رد ورته مه وایئ."فی الدر المختار بعد مسیلة العصیر وجاز تعمیر کنیسة وحمل خمر ذمی بنفسه او دابة باجر لا عصرها لقیام المعصیة بعینه فی رد المختار قوله وحمل خمر ذمی قال الزیلعی وهذا عنده وقالا هو مکروه آه". **د پنځم سوال جواب**: جائز نه ده. "لحرمة لعموم قوله تعالی وما اهل به لغیر الله، والله اعلم". ۲۰ ذی الحجه ۱۳۲۱ھ، (امداد ثالث ص۸).

### د مصراة د حدیث تحقیق

**سوال**: (۱۳۹) انا ندعی ان حدیث المصراة مخالف للقیاس الصحیح من کل وجه ومثل هذا اذا روی غیر الفقیة یرد ویبنوا علیه ما بنوا لکن هذا الحدیث قد رواه صاحب الصحیح فی ص۲۸۸ عن ابن مسعود موقوفا ولما کان هذا الحکم غیر مدرك بالرای کما ندهیفا لموقوف له حکم الرفع ایضاً والراوی لهذا فقیه فلا بد ان یترك القیاس لان الراوی فقیه فما المناص عن هذا؟

**جواب**: ما قالوا فی حدیث المصراة لم یلصق بقلبی قط وانما الذی اری فیه حمل هذا الحدیث علی ما اذا اشتراط الخیار فی العقد وقرینة هذا الحمل ما ورد فی روایة من اشتری مصراة فهو منها بالخیار ثلاثة ایام ان شاء امسکها

وان شاءردها ومعها صاعاً من تمر لاسمراء رواه الجماعة الا البخاری کذا فی نیل الاوطار جه ص ۷۷، ۸ وامّا تخصیص الصاع من التمر فمحمول علی الصلح والمشورة فلم یخالف القیاس. ۱۰ ربیع الآخر ۱۳۳۴ هـ، (تتمه اربعه ص ۲۳).

## د اسټامپ خرڅول

**سوال** :(۱۴۰) که یو کس د سټامپ کاغذ د دیواني عدالت واخلي او خرڅ ئې کړي په کوم باندې چه اکثره خلک د سود دعوه لیکي د هغې خرڅول څنګه دي؟ او د فوجدارئ عدالت کاغذات چه پرې باندې سودي لین دین دعوی لیکل کیږي د هغې خرڅول څنګه دي، په مفصل حال سره اطلاع راکړئ، بینوا توجروا؟

**جواب** : د سټامپ په کاغذ کې په دوه ځایونو کې خبره ده، یو دا چه في نفسه د هغې لیسنس لرونکي له ئې خرڅول جائز دي او که نه؟ او دویم دا چه په هغه چا خرڅول چه سودي مضمون پرې لیکي تاسو دویم کار تپوس کړی دی د دې جواب دا دی چه دې سره بیعه نه ناجائزه کیږي او چونکه لیکل د کاتب په اختیار کې دي نو ځکه کاغذ خرڅونکی به معین نه ګڼل کیږي. ۲ ذی الحجه ۱۳۲۸ هـ، (تتمه اول ص ۱۵۶).

## سټامپ د خپل مقرر نرخ نه زیات قیمت باندې خرڅول

**سوال** :(۱۴۱) لیسنس دار چه سټامپ د خزانې نه د خرڅولو لپاره راوړي نو هغوئ ته یوه روپۍ او درې پیسې د کمیشن په طور ورکول کیږي، یعنې د یوې روپۍ سټامپ په پاو باندې دولس آنې باندې ملاویږي؟ او لیسنس دارانو ته قانونا دا هدایت وي چه د یوې روپۍ نه زیات سټامپ خرڅ نه کړئ، اوس سوال دا دی چه که دا کس د یوې روپۍ والا سټامپ په یوه روپۍ یا ۱۷ آنې باندې خرڅ کړي نو شرعا به جائز وي او که نه؟

**جواب** : دا په حقیقت کې بیعه نه ده، بلکه د کاروبار کولو دپاره چه کومه عمله پکار وي د هغه عملې مصارف د اهل معاملات نه په دې صورت کې اخستل کیږي چه د هغوئ د فائدې لپاره د دې عملې ضرورت پیدا شو ځکه د هغې د مصارفو ذمه وار هغه ګرځول پکار دي او لیسنس دار هم مصارف د مخکې نه داخلوي او د معاملې والا نه ئې د وصولولو اجازت حاصلوي، او د دې تعجیل ایفاء په بدله کې هغه ته کمیشن ملاویږي، نو دا د عدالت وکیل دی، د مبیع قیمت اخستلو والا نه دی، نو ځکه د موکل خلاف زیات وصولول به حرام وي. ۲۴ جمادی الاولی ۱۳۲۹ هـ، (تتمه اولی ص ۱۵۹).



## د سرکاري ونو ملازم له د حکومت نه ونې په نیلام اخستل

**سوال** :(۱۴۲) د حکومت ونې چه د سرک په غاړو باندې ولاړې وې کله چه وچې شي نیلاموي ئې او د هغې قیمت د حکومت په خزانه کې اچول کیږي، داسې ونو یا عام طور باندې د سرکاري خیزونو لپاره قانوناً ممانعت دی چه سرکاري ملازم که د کومې مرتبې هم وي او د کوم حیثیت هم وي په نیلام کې دې نه اخلي، که یو افسر نیلام کوونکی بغیر د رعایت نه یوه ونه نیلام کړه او په جلسه عام کې چه څومره قیمت د هغې بولي کیدی شي هغه وکړی شو او بیا هغه په آخري قیمت کې څه اضافه والی وکړو او د بل چا په نوم ئې بولي وکړه او پخپله ئې واخستل یعنې په دومره قیمت ئې واخستلو چه د هغې نه بره چا وانخستلې نو آیا د نیلام کوونکي دا کار شرعا جائز دی او که نه؟ او که داسې ئې کړي وي نو اوس ورله د دې ونو سره څه کول پکار دي؟

**جواب** : کله چه ممانعت دی نو اخستل ورله جائز نه دي البته دا صحیح ده چه بل څوک ئې واخلي، بیا ئې دا ملازم د هغه نه واخلي مګر د هغه سره رعایت صحیح نه دی، چه مقصود په حقیقت کې د خپل نفس سره رعایت دی، فقط. ۱۸ ذیقعده ۱۳۲۹ هـ، (تتمه اولی ص ۱۶۰).

## د مندرونو اوقاف اخستل

**سوال** :(۱۴۳) چونکه د کفارو مندرونو وغیره دپاره وقف کول موقوف څیز د واقف د ملکیت نه نه خارجوي نو په دې صورت کې داسې څه ځمکه اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب** : جائز دي. (تتمه اولی ص ۱۶۵).

## د مندر وقف د هغې د متولي نه اخستل

**سوال** :(۱۴۴) د جواز په صورت کې د کومې ځمکې چه کوم کافر د خپل اعتقاد مطابق په کوم مندر باندې وقف کول او بل کافر په دې موقوف ځمکه باندې متولي جوړ کړې وي مګر هغه ځمکه د سوکړه کیدو د وجې نه مذکور متولي خرڅ کړه، او په مبلغ کې نور آمدن جمع کول غواړي، چونکه د دې ځمکې په آئنده کې درست کیدو امید شته نو بالفعل چه کوم قیمت ورکړی شي د هغې نه د ډیرې قیمتي کیدو امید دی، نو دا ځمکه یو مسلمان له د متولي نه اخستل جائز دي او که نه؟(۲) د جواز په صورت کې که د واقف کوم وارث موجود وي او هغه د خپل اعتقاد موافق موقوف ملکیت

د خپل حق خیال نه کوي د متولي غیر وارث سره اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب:** متولي مالک نه وي نو ځکه د هغه نه اخستل د اصلي مالک د اجازت نه بغیر جائز نه دي.

(۲) د دې نه بره جواز تیر شو. (تتمه اولی صـ۱۶۵).

## کافر چه کوم لوښی د کوم مسلمان په اصل او سود باندې واخستل بل مسلمان له د هغه اخستل

**سوال:** (۱۴۵) زید د هندو سود خور سره خپل لوښي کیښودل او څه قرضه ئې ترې په سود واخستل زید تر څه مودې پورې قرض ادا نه کړی شو، نو سود خور ته ئې وویل چه ته اوس زما لوښي د اصل په بدله او سود کې واخله کله چه حساب ولګلو شو نو سود او اصل روپۍ د لوښو د قیمت نه ډیرې زیاتې شوې نو سود خور هغه لوښي په خالد مسلمان باندې خرڅ کړل اوس سوال دا دی چه خالد مسلمان له د دې لوښو اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب:** جائز دي.

سوال (د بره سوال ضمیمه): دویم دا چه که راهن کافر وي نو د مسئلې به څه صورت وي؟

**جواب:** که باقي واقعه همداسې وي نو همدغه حکم دی.

سوال (د بره سوال ضمیمه): یا که زید د خپلو لوښو په نسبت سود خور ته څه نه وو ویلي نو خالد له به دا لوښي اخستل جائز وي او که نه؟

**جواب:** نه! ۷ ربیع الاول ۱۳۳۸ھـ، (تتمه خامسه صـ۱۴۱).

## د مریض په فرمائش باندې دوا تیارول او د خرچ نه زیاتې روپۍ اخستل

**سوال:** (۱۴۶) زما سره یوه مجربه نسخه د مرض لپاره ده، د یوې مودې نه ما د سلګونو کسانو لپاره جوړه کړې او ټول تقریبا ښه شوي دي، ما به د جوړولو دا طریقه کوله او اوس ئې هم کوم چه د اصل قیمت نه زیاتې روپۍ د مریض نه واخستل شوې او اخلم ئې او باقي مې پخپل مصرف کې راوړې، تراوسه پورې راسره د جائز او ناجائز کیدو خیال نه وو، اوس راسره دا خیال پیدا شوی چه دا به جائز وي او که ناجائز؟ طبیعت مې دا بده وګڼله که ناجائز وي نو د آئنده چاره کول ممکن دي مګر د تیر لپاره چه شمار ئې سلو او زرو ته رسیږي څه تدارک کیدی شي؟ او الله پوهیږي د کومو کومو ځایونو نه کسان راغلي وو، او دوا ئې یوړله، اطلاعا ګزارش دی نو که هر



څه امر وي په هغې به عمل کیږي؟

**جواب:** که د فرمائش والا د دې نه خبر وي او د خبریدو نه وروستو ئې اجازت وي بیا خو پاتې شوې روپۍ مصرفول جائز دي، کنه نو ناجائز، ځکه چه دا معامله بیعه نه وه چه ورکړې شوې روپو ته قیمت وویل شي، ځکه چه دا د معدوم بیعه ده، سلم او استصناع هم نشته دی ځکه چه شرائط ئې نشته دی، اجاره هم نه ده چه اجرت ئې مجهول دی، صرف توکیل دی او وکیل امین وي نو پاتې شوې روپۍ د اصل مالک ملکیت دی، نو په هغې کې تصرف کول د اجازت سره مشروط دي، باقي دا چه د حقوقو والا معلوم نه دي او د حقونو اندازه هم مجهوله ده نو ترڅو پورې چه یادې شي ادا کول یا د پرېښودو غوښتنه ضروري ده، او کوم چه یاد نه شي هغه دې تخمینه کړی شي او د مالکانو د طرف نه دې صدقه کړی شي. ۲۰ ذی الحجه ۱۳۳۹ھـ، (تتمه خامسه صـ۲۱۰).

## د آب زمزم د تجارت جواز

**سوال:** (۱۴۷) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د مکې معظمې نه آب زمزم د تجارت لپاره راوړلی شو او که نه؟ د هغه ځای نه ئې راوړو دلته ئې تجارت وکړو او مقصد مو دا دی چه فائده هم وشي او ثواب هم ملاو شي، نو د دې پاکو اوبو داسې تجارت کول جائز دي او که نه؟ د جائز کیدو په صورت کې ئې په کافر هم خرڅولی شو او که نه؟ تفصیل سره جواب ولیکئ؟

**جواب:** په ظاهره کې د دې تجارت نه هیڅ منع کونکی نشته دی، منقوم هم دی، او احراز سره ملکیت کې هم داخلیږي، او بغیر د انکار نه د دې تعامل هم راروان دی، په کوم کې چه دواړه جزءونه مبیع وي، او متبرک کیدل هم نه شي مانع کیدی، په قرآن مجید کې د ټولو نه زیات تبرک دی، او د هغې اخستل او خرڅول ټول جائز دي، او د اخستونکي کافر کیدل هم په ظاهره کې د بیعې د صحیح کیدو نه شي مانع کیدی، آو! احتمالا د احترام نه کیدو په بنا باندې خلاف اولی یا مکروه ورته ویل کیدی شي باقي ثواب نو دا خو نقل ته ضرورت لري او ما نقل پیدا نه کړو. ۲۲ ربیع الثاني ۱۳۴۱ھـ، (تتمه خامسه صـ۲۳۶).

## د مردار ځاروو یا مخلوط ځاورو چربۍ اخستل

**سوال:** (۱۴۸) د چربي خرڅولو تجارت یو دستور دی، په دې کې د مرو شوو، حلالو شوو او ذبحه کړی شوو مالونو چربي ټوله ګډه وډه کیږي، او خرڅیږي، دا اخستل او خرڅول جائز دي او

که نه؟ او صرف د مړه شوي څاروو د چربي دتجارت څه حکم دی؟ جائزه ده او که حرام؟

**جواب:** د مخلوط اخستل او د خوراک نه علاوه څيزونو کي استعمالول جائز دي، کله چه خالصه حلاله نه ملاويږي، ليکن خرڅول جائز نه دي، او صرف د مړه شوي څاروو د چربي خرڅول نو د هغې نه هر قسم فائده اخستل حرام دي، او که د حلال څاروي چربي که بغير د قصد نه پليته شي نو د هغې خرڅول هم جائز دي او فائده ترې هم اخستل، مګر په خوراک کې نه. "فآلدرالمختار وشعرا الخنزير الى قوله حتى لولم يوجد بلا ثمن جاز الشراء للضرورة وكره البيع فلا يطيب ثمنه وفيه نجيز بيع الدهن المتنجس والانتفاع به في غير الاكل بخلاف الودك وفي ردالمختار اى دهن الميتة الخ جـ ۵ صـ ۱۷۵). ۹ ذيقعده ۱۳۳۰ھ (حوادث اول وثاني صـ ۶۲).

## په غير د طبيب نه د بل چا دوا خرڅول

**سوال:** (۱۴۹) د دې باوجود چه باقاعده حکيم او طبي نه دی، او د تشخيص نه کولو باوجود د طب کتابونو نه د مرکبو دوايانو او کشتو جوړولو نسخې ګوري، او هغه تياروي، او د هغې د اوصافو او اثراتو اشتهارات ورکوي، نو دا تجارت کول څنګه دي؟

**جواب:** نفع مشروط غير مشروط جوړول حرام دي نو څکه دا تجارت ناجائز دی.

## د ټکلي خرڅول چه سوځولو سره ترې د مار تصوير جوړيږي؟

**سوال:** (۱۵۰) د انګريزي دوا نه يوه ټکلي جوړيږي کله چه هغه ماچس سره وسوځول شي نو د زير مار غونډې راووځي، او داسې معلوميږي چه د سوړې نه مار راوځي حال دا چه هغه سوځيدلې ايره ده، داسې څيز خرڅول څنګه دي؟

**جواب:** آيا د مار نه علاوه دا بل کار کې پکاريږي، که داسې وي نو خرڅول ئې جائز دي، نور د تصويرونو جوړولو په کار راوړل دا د فاعل اختيار دی، د سبب طرف ته به د هغې نسبت نه کيږي، اګرچه د تقوی خلاف په دې صورت کې هم دي، او که صرف په همدې کار کې استعماليږي نو د اعانت على المعصية د وجې نه د هغې خرڅول حرام دي او هغه معصيت د مار تصوير جوړول دي، او سامان د تصوير ورکول د تصوير په حکم کې دی، لکه څنګه چه په فوټو باندې د تصوير جوړولو حکم دی، چه تصوير پخپله راوځي مګر سامان فوټو ګرافر ورکوي. ۴ جمادی الاخری ۱۳۵۵ھ (النور بيع الثاني ۵۶ھ، صـ ۱۰).



## د مرتهن په رضا باندې د مرهون خرڅول

**سوال:** (۱۵۱) د يو هندو دوه بسوې ځای د غلام جيلاني خان سره د ۵۰ کالو په ګانه وه، زيد د هغه هندو نه د دغه بيسوو بيع نامه وليکله، او د غلام جيلاني خان د روپو ذکر ئې وکړو، او په دې خيال سره چه په شريعت محمدي ﷺ کې د ګرو څيز نه فائده اخستل ناجائز دي، غلام جيلاني خان ئې اماده کړو، او اقرار نامه ئې وليکله، چه د شريعت د مخې چه پنچ څه فيصله وکړي هغه به دواړو ته منظوره وي، زيد دې نه وروستو د دغه عدالت نه فيصله هم حاصله کړه، چه اخستونکی يعنې زيد د مالک کيدو په حيثيت سره او غلام جيلاني د مرتهن په حيثيت سره تحصيل وصولولی شي او کله چه زيد تحصيل وصول کړي نو غلام جيلاني خان د کاغذاتو د مخې د زيد نه ټول آمدن کال په کال اخلي د دواړو ډلو ترمنځ په دې باندې يوې مودې پورې لانجه وه، بيا زيد د عمرو سره د تجارت معامله وکړه، په دې کې په زيد باندې د عمرو څه روپۍ پاتې شوې، د دې په ادا کولو کې زيد بند راغی، نو څکه د هغه دوو بيسوو بيع نامه هغه د عمرو په نوم کړه او وعده ئې وکړه چه د دې دوو بيسوو تحصيل وصولولو سره به هغه زه تاته ادا کړم، اتفاقا غلام جيلاني غصه شو او زيد نه په تحصل حاصلولو کې بند مختی ته شو، عمرو زيد ته وويل چه زما روپۍ خو بيخې خرابيږي، د دې لپاره څه لاره وباسه، زيد د عمرو د روپو دا انتظام وکړو ه يو بل پټې ئې د عمرو په نوم بيع نامه کړو، دا پټی د دوه بيسوو نه عليحده دی، او دا اقرار ئې وکړو چه باقي ۱۶۲ روپۍ چه کومې پاتې دي هغه به ادا کړم، د هغه پټي د بيع نامې په وخت دا معلومه شوه چه دا پټی د يو کس سره په يوه روپۍ د مياشت ګرو دی، نو دا روپۍ عمرو د سود سره ورکړې، اوس دا وليکئ چه دا دزې دواړه بيع نامې د شريعت محمدي د مخې صحيح دي او که نه؟ فقط؟

**جواب:** اوله بيعه چه د زيد او د هندو ترمنځ وشوه هغه د هغه څمکې د مرهون کيدو په حالت کې شوې ده، او چونکه غلام جيلاني په دې بيعه باندې راضي دی، نو بيعه صحيح او نافذه شوه، "وهو الشرط في صحة بيع المرهون" او د رهن قيمت د غلام جيلاني د هندو په ذمه کيدل پکار دي، او د هندو قيمت په زيد باندې پکار دی، او زيد چه په خپل ځان باندې د رهن کوم قيمت اينبودلی دی، دا حواله ده او چونکه زيد، غلام جيلاني او هندو ټول په دې حواله باندې راضي دي، لهذا دا حوالهم هم صحيح شوه، "وهو الشرط في صحة الحوالة" او غلام جيلاني چه کومې روپۍ د دغه رهن نه وصولې کړې دي، د هغې حکم چونکه نه دی تپوس کړی شوی، نو پريږدو ئې، او چونکه په دې

بیعه باندې د اضاء المرتهن د وجې نه رهن ختم شوی، لهذا غلام جیلاني مرتهن پاتې نه شو، لهذا د عدالت دا فیصله شرعا جائزه نه ده، البته د حوالې د وجې نه غلام جیلاني د زید نه د خپل رهن د قیمت مطالبه کولی شي، او څنګه چه جوړیږي وصولولی ئې شي، دا خبره په اوله بیعه کې وه.

او دویمه بیعه چه د زید او عمرو ترمنځ وشوه د هغې صحیح کیدل بالکل ظاهر دي، او دا وعده چه د بیسوو تحصیل کولو سره الخ، صرف لغوه ده بلکه که دا شرط په عقد کې داخل وي، نو بیعه به ئې فاسده کړې وي، مګر په سوال کې دا کار مجمل او مبسم پاتې شو، چه د زید په ذمه چه د عمرو کومې روپۍ وې، د هغه دوه بیسوو په بیعنامه د هغه روپو په بدله کې برابري شول، یا د هغې نه د زیاتو روپو په بدله کې شوی، یا د هغې نه د کمو روپو په بدله کې شوی، د برابر والي او زیاتوالي روپو په صورت کې دا خبره ذهن ته نه راځي چه بیا د پټي خرڅولو سره د اول اقاله کړا شوې ده او که نه او د کموالي په صورت کې آیا هغه کموالی د دې پټي د خرڅولو سره پوره شو او که نه؟ که وشو نو د زیاتو روپو څه معنی؟ د دې ابهام د وجې نه په دریمه بیعه باندې مفصله خبره نه شي کیدلی، مجملا دومره لیکل کیږي چه که دغه کس کالیستهـ په دې باندې راضي وو نو بیعه صحیح شوه او رهن فسخه شو، او د کالیستهـ قرض د عمرو په ذمه نه وو، او که هغه په دې ادا کې مجبور وو نو څومره روپۍ چې ئې کالیستهـ ته ورکړې وې هغه د زید نه وصولولی شي. والله اعلم. ۹ ذیقعده ۱۳۲۵هـ، (امداد ثالث صـ۲۴).

## د مرتهن ګرو شوي میوې خرڅول

**سوال** :(۱۵۲) د ګرو شوي باغ میوه اخستونکي له جائزه ده او که نه؟ که ناجائزه وي نو ولې؟ څکه چه مرتهن خو په دې مامور دی چه میوه راجمع او خرڅه ئې کړي، ترڅو قیمت جمع کړي او د مرهون څیز سره ئې واپس کړي، بیا د هغې اخستل او خوړل ولې منع دي، پاتې شو د عقد فساد نو اخستونکي له په بیع فاسد سره د هدیې کول جائز دي؟

**جواب** : د مرتهن مامور بالبیع کیدو کې د راهن هغه اجازت معتبر دی چه د مرتهن د ملکیت د باطلولو په نیت نه وي، کنه نو سود دی، او هغه اجازت غیر معتبر دی، لهذا هغه به تصرف شئ غیر مملوک وي، لکه څنګه چه په متعارف سود کې ماهوار چه د سود په نوم څه ورکړی شي حال دا چه د حساب د مخې په اصل کې شمار کول واجب دي، مګر بیا هم چه ترڅو پورې په دې نوم



اخستل کیږي، محرم الاستعمال دی، د مقیس علیه په خلاف چه هغه تصرف به خپل ملک کې دی، نو څکه په مقیس کې د مشتري لپاره هم ناجائز دي، او په مقیس علیه کې هدیه اخستل مثلا جائز دي. والله اعلم. ۲۰ ربیع الاول ۱۳۲۲هـ، (امداد ثالث صـ۹۱).

## د کارخانو نومونه خرڅول

**سوال** :(۱۵۳) د سلمه د څوي دا خواهش دی چه ماله دې د کلکته دکان د خپلو وروڼو نه جدا راکړی شي، او فلانۍ مطبعه دې سلمه ته ورکړی شي، د مال برابر تقسیم غواړي، په دې کې شرعا لکه څنګه چه ما درې واړو هلکانو ته برابر ورکړی دی، په دې کې کموالی او زیاتوالی نه دي کول پکار، نه ئې زه ورکولی شم؟ هغه خپل کار جدا کول غواړي، په دې تقسیم کې صرف نوم هغه ته ورکولو کې خو به شرعا څه ګناه نه وي؟ که شرعا څه ګناه نه وي نو سوچ به وکړم چه تقسیمول ئې ښه دي، قانونا چه کله هغه ته نوم ورکوم نو هغه به څه نغد قیمت راکوي، اِو زه د نورو نابالغ وروڼو د پلار او ولي په حیثیت سره معاوضه تجویز کولی شم او د مال په برابر تقسیمولو کې خو به غالبا څه حرج نه وي؟

**جواب** : نوم صرف یو حق دی، چه شرعا متقوم نه دی، او د دې بدل اخستل هم جائز نه دي، کحق الشفعة لیکن علامه شامي د حموي نه د بعضې حقوقو د عوض د جواز په بعضې فروعو سره ثابته کړي دي. "حیث قال لکن قال الحموی وقد استخرج شیخ مشایخنا نور الدین علی المقدس حجة الاعتیاض عن ذلك فی شرحه علی نظم الکنز من فرع فی مبسوط السرخسی وهو ان العبد الموصی برقبته لشخص وبخدمته لاخر الی قوله ولکنه اسقاط لحقه بکمال لو صالح موصی له بالرقبة علی مال دفعه للموصی له بالخدمته لیسلم العبد له اه قال فربما یشهد هذا للنزول عن الوظایف بمال اه". د دې نه بعد ئې په حق الشفعه او په دې کې څه فرق کړی دی. "حیث قال ولقایل ان یقول هذا حق جعله الشرع لدفع الضرر وذلك حق فیه صلة ولا جامع بینهما فافترقا وهو الذی یظهر الی قوله وهذا کلام وجیه لا یخفی علی نبیه ثم الی قوله ان عدم جواز الاعتیاض عن الحق لیس علی اطلاقه؛ جـ۴ صـ۲۱_۲۲". او د کارخانې نوم هم د حق وظائف سره مشابه دي، چه ثابت علي وجه الاصالة دې نه چه د ضرر لرې کولو لپاره او دواړو بالفعل د اضافي امورو د جملې نه دی، او په مستقبل کې د مال حاصلولو ذریعه ده، نو په دې بناء باندې د دې په عوض ورکولو کې ګنجائش معلومیږي، اګرچه اخستلو والا لپاره خلاف تقوی دي، مګر ضرورت کې د دې خبرې اجازت هم شته. ۲۰ ربیع الآخر ۱۳۳۴هـ، (تتمه اربعه صـ۶۹).

# حوادث الفتاوی

## د نوي آلاتو او معاملاتو احکام

### (د تجارتي کارخانو د ټکټونو)

سوال :(۱۵٤) نن صبا د بعضې انګریزي تجارتونو دا حال دی چه کاغذ خرڅول او په هغې باندې څلور ټکټونه لګیدلې وي کوم چه هغه کس په دغه قیمت مثلا یوه روپۍ په څلورو کسانو خرڅوي او د هغه کسانو نه روپۍ وصولوي او نوم او پته ئې کمپنۍ ته لیږي، د کمپنۍ والا یوه ګړۍ هغه کس ته لیږي، او د دغه څلورو کسانو نومونه او همغه شان یو کاغذ رالیږي، په کوم کې چه همغه شان څلور ټکټونه وي، او همدغه شان ئې دغه څلورِ کسان هر یو په څلورو کسانو باندې خرڅوي، کله چه هغوئ روپۍ واخلي نو هغوئ هم دغه شان د کسانو پته لیږي، د کمپنۍ والا ورته یوه ګهړۍ رالیږي، او یو یو کاغذ همغه کسانو ته په چا باندې چه دا کاغذونه خرڅ شوي وي او بیا هغه خلک هم داسې کوي او دا عمل جاري وي او البته د چا ټکټ چه خرڅ نه شي هغه به نقصان کوي نو شرعاً دا بیعه جائزه ده او که نه؟ او شرعا داسې کول څنګه دي؟

جواب : د دې معاملې د حقیقت حاصل دا دی چه خرڅونکی د اول اخستونکي نه بلا واسطه او د نورو اخستونکو نه د اول اخستونکي په واسطه باندې یا د دویم او دریم باندې دا معاهده کوي چه تا چه څومره روپۍ رالیږلې دي که ته دومره خریداران پیدا کړې نو د هغې په بدل کې ما تا باندې ګړۍ خرڅه کړه، کنه نو ستا روپۍ به مونږ ضبط کړو، نو په دې کې دواړه شرطونه فاسد او باطل دي، د نورو خریدارانو په پیدا کولو باندې هم خرڅول عقد فاسد د ربواپه حکم کې دی، او د تعلیق په وخت قمار دی، او سود او قمار دواړه حرام دي، همداسې دویم شرط یعنې د خریدار نه پیدا کولو په صورت کې د روپو ضبط کیدل هم صریح اکل بالباطل دی، او دا تاویل بالکل هم مقبول نه دی چه د روپو په بدل کې ټکټ ورکړی شوی دی ځکه چه ټکټ یقینا مبیع نه دی، کنه نو د ټکټ اخستلو نه وروستو به معامله خته شوې وی، د ټکټ خرڅولو حق به ګهړۍ کله هم نه وه لکه څنګه چه په ټولو عقودو کې همداسې کیږي، نو صفا ظاهره ده چه دا مبیع نه بلکه د روپو رسید دی، او د دواړو شرطونو فاسدیدل او باطلیدل ثابت دي نو داسې معامله هم بالیقین حرامه او متضمن ربوا او قمار او اکل بالباطل دی، او یورنګه هم په دې کې د جواز ګنجائش نشته دی.



"قال الله تعالى احل الله البيع وحرم الربوا وقال الله تعالى انما الخمر والميسر الى قوله رجس من عمل الشيطان الآية وقال تعالى ولا تاكلوا اموالكم بينكم بالباطل الآية وقال ﷺ كل شرط ليس في كتاب الله فهو باطل ونهى عليه السلام عن بيع وشرط وفي جميع الكتب الفقهية صرحوا بعدم جواز بيع مشروط بما لا يقتضيه العقد ولا يلايمه وفيه نفع لاحدهما كما لا يخفى على من طالعها، والله اعلم. (حوادث اول وثاني ص ۸۲).

## د لیلام اخستلو جواز

سوال :(۱۵۵) د حکومت نه لیلام اخستل جائز دي او که نه، دشبهې وجه داده چه بائع یواو مبیع د بل چا دی؟

جواب : "في الدر المختار فصل الحبس وابد حبس الموسر لانه جزاء الظلم قلت وسيجي في الحجر انه يباع ماله لدينه عندهما وبه يفتى وحينئذ فلا تابيد قنيه ثم قال في كتاب الحجر لا يبيع القاضي عرضه ولا عقاره للدين خلافا لهما وبه اي بقولهما ببيعهما للدين يفتى اختيار وصححه في تصحيح القدوري". نو د یو واجب حق د پوره کولو لپاره د چا مال لیلام حاکم لره د صاحبینو په نزد جائز دي، او د دې مفتي به کیدو د وجې نه په همدې باندې عمل دی. (تتمه اولی ص ۱۵۱).

## د حاکم د مال د لیلامولو حکم

سوال :(۱۵٦) کوم څیز چه لیلامیږي هغه د بل چا وي او په کم قیمت خرڅیږي، نو د دې خرڅول جائز دي او که نه؟ د جومات یا بل چا یا دخپل ځان لپاره، بینوا توجروا؟

جواب : اخستل ئې جائز دي. "اما اذا كان برضاء المالك فظاهر واذا كان بغير رضاه فان كان البايع حاكما مسلما فلما في الدر المختار لا يبيع القاضي عرضه ولا عقاره للدين خلافا لهما به يفتى اختيار وصححه في تصحيح القدوري وفي رد المختار ومسيله في الملتقى (ج۴، ص ۳۵) وان كان حاكما غير مسلم فلو لنفسه فالجواز للاستيلاء لانه به يتملك فيبيع ملك نفسه ولو لغيره فالجواز للضرورة كما في رد المختار في نفاذ قضاء المرتشي؛ ما نصه وينبغي اعتماده للضرورة في هذا الزمان والا بطلت جميع القضاء بالواقعة الان الى قوله فيلزم تعطيل الاحكام وفيه لو اعتبر العدالة لانسد باب القضاء فكذا يقال هنا؛ (ج۴، ص ۳۷) قلت فكما حكم بالنفاذ مع قيام المانع هنا يحكم فيما نحن فيه كذلك؛ فقط". ۸ شعبان ۱۳۳۳ھ؛ (حوادث ثالث ۳۳).

## د درزیانو مشین په قسطونو اخستل

سوال :(۱۵۷) په خیاطانو کې دا خبره رواج ده چه د کپړو ګنډلو مشین په قسطونو اخلي، یعنې د مشین اخستلو په وخت کمپنۍ ته یوه کرایه نامه لیکي او پنځه روپۍ ماهوار ادا کوي، تردې چه قیمت د مشین د اصل قیمت نه زیات شي، مګر چونکه په یو ځل باندې ۲۵۰ روپۍ ورکول ګران

معلومیږي، او د میاشتې قسط پاو کم دوه سوه روپۍ هم نه معلومیږي، نو کله چه روپۍ پوره شي بیعه هم وکړی شي که پنځه روپۍ هم پاتې شي نو کمپنۍ مشین په زوره اوچتوي، نو اوس داسې پسه قسطونو روپۍ ورکول چه د اصل یا نغد قیمت نه دیرش خلویښت روپۍ پاتې وي، صحیح ده او که نه؟

**جواب** : مذکوره معامله ناجائزه ده، مګر د ناجائز کیدو وجه دا نده چه په قرض کې قیمت زیات اخلي، ځکه چه په قرضو کې هم د قیمت په ځاي زیاتي قرض اخستل، کله چه د عقد په مجلس کې دا تعین شي، جائزه ده، مګر د ناجائز کیدو وجه دا ده چه دا معامله بیعه ده، او که اجاره کله بیعه وي نو دا شرط فاسد دی، چه د لږ قیمت په پاتې کیدو به هم مشین اوچتوي، او ادا شوې روپۍ به کالعدم ګڼل کیږي، او که اجاره وي نو دا شرط فاسد دی، چه د کرایه په بدل کې به ئې خرڅ کړو، او داسې څه معامله په شریعت کې نشته چه په یو صورت کې بیعه وشي او په یو صورت کې اجاره. ۱۰ رجب ۴۳هـ، (تتمه خامسه صـ۳۶۸).

## د عدالت خرچه وصولول او د حکومت د لیلامولو صحیح کیدل

**سوال** :(۱۵۸) عدالت چه کومه خرچه د ناکامې ډلې نه کامیابې ته ورکوي، د هغې شرعاً اخستل جائز دي او که ناجائز؟ اګرچه د مقدمې ټول مصارف قانوني خرچه ملاویږي، او اکثر خرچه نه ملاویږي، زمونږ د مقدمې چه کوم صورت دی چه مجبورا مو د خپل حق د حفاظت لپاره مقدمه وکړه، او ددویمې ډلې د مخاصمانه کارروایانو د وجې نه مو ډیر مصارف برداشت کړي، دا ټول مصارف د هغوئ د دې شرعي حق د.واقعې نه بعد کوم چه مونږ ته د کامیابۍ نه بعد ادا کول، هغه له پکار دي که مونږ واخلو نو جائزه به وي، او که نه؟ بل دا چه دا متنازعه کور مثلا زمونږ د کوشش نه بعد په (صما) باندې لیلام شو، لیکن اته ورځو پورې بولې وشوه، لیکن د دې نه زیات قیمت ونه لګیدو، مګر مدیون دا عذر وکړو چه دا د دوه زره روپو دي، او په کمو باندې ورکړی شوې دي، مګر عدالت دا عذر تسلیم نه کړو، او کیس ئې خارج کړو، بیا ئې عذر وکړو چه مونږ نه دې اوس روپۍ واخستل شي، او لیلام چه په کمو روپو شوی دی، هغه دې منسوخ کړی شي، هغه هم خارج شو، ګویا چه عدالت د کوم قیمت قطعا (صما) اینبی وو، که زمونږ د طرف نه مقدمه ونه کړائ شي، نو په دومره روپو باندې د بل چا په لاس خرڅ شوی دی، یوه دانه به هم مدیون ته



زیاته نه ملاویږي، نو زمونږ د کامیابۍ په صورت کې مونږ همدومره اندازه قیمت به مخالف فریق ته شرعي حق ورکولو پابند یو، یا هغه چه څه قیمت غواړي؟

**جواب** : کله چه څوک د خپل حق د حفاظت لپاره د مجبورئ دوجې نه مقدمه وکړي او د مخالفې ډلې د طرف نه بالکل مخاصمانه کارروایانو کولو د وجې نه ډیر مصارف برداشت کړی شي، نو په دې صورت کې به خرچې روپۍ د ډیرو علماو په نزد (ومنهم مولانا رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی) جائز دي، یا که په کوم حساب کې ختمیدی شي نو د دغه علماو په نزد به دا هم جائز وي، او د عدالت لیلام که د مدیون د رضا نه بغیر هم وشي نو جائزه ده، نو په ټولو حسابونو کې به د همدې قیمت اعتبار وي په کوم باندې چه د عدالت په حکم لیلام شوی دی.

## د بداخلاقې ښځې په خپل خاوند باندې د تیرو او راتلونکي د نان او نفقې ورکولو

## دعوه او د خاوند دعوه په ښځه باندې د رخصتئ او د مقدمې د خرچ دپاره

**سوال** :(۱۵۹) حامداومصلیاومسلماًامابعد: علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د یوې ښځې او خاوند ترمنځ ۱۵ کالو پورې اتحاد او اتفاق قائم وو، او اوس د ۹ کالو نه لانجه ده او مذکوره ښځې د خپل پلار په کور باندې د خاوند نه مهر معجل هم وصول کړو، د مهر ورکولو نه بعد خاوند د خپلې ښځې کور ته د راوستلو کوشش کولو،ترڅو د زوجیت حقوق ادا کړي، مګر ښځه د څو شرطونو سره راتلل غواړي، یعنې ما چه د خپل پلار په کور کې څومره وخت تیر کړی او خوراک څښاک مې کړی، هغه دې ادا کړي، او آئنده د داسې خوراک په انتظام کولو باندې اصرار کوي، چه خاوند دې زما په نوم خپل جائیداد نقل کړي، یا دې مکفوله کړي چه زه چیرته یم دا وصول کړم، حال دا چه دا کار د خاوند په اختیار کې نه وو ځکه چه خاوند خپل جائیداد په خپل اولاد باندې وقف کړی دی، او د وقف نامې ذریعې سره ئې هم د ښځې د خوراک څښاک انتظام د شرعي حصې موافق کړی وو، چه د خاوند په کور کې دې ناسته او نان او نفقه دې وصولوي، مګر دا انتظام دې ښځې قبول نه کړو، نوبت دې ته راورسیدو چه دواړو ډلو خپله خپله دعوت عدالت ته پیش کړه، د خاوند دعوه دا وه چه ښځه دې راکړی شي، او د مقدمې خرچ دې راکړی شي، او د ښځې دعوه ده چه تیر وخت کې مې چه د پلار په کورکې کوم خوراک څښاک کړی هغه دې راکړی شي، او آئنده لپاره دې د خاوند د جائیداد نه د نان او نفقې داسې انتظام راته وکړی شي چه

زه چیرته هم یم وصول ئې کړم، اوس دواړو ډلو د عدالت نه خپلې مقدمې اوچتې کړې، او ثـالثینو ته یې مخې ته کړې، کوم ثالثین چه د فریقینو په رضا سره مقرر شول او فـریقین دا غـواړي چه معاملات شریعت محمدي مطابق وشي، په بره ذکر شوي مسئله کې د شریعت محمدي څه حکـم دی؟ او د شریعت د مخې څه فیصله کیدل پکار دي؟

**جواب** : د خاوند دعوه صحیح ده، د ښځې ورکولو دعوه بالاتفاق او د خـرچې ورکولـو علـی الاختلاف او د ښځې دعوه باطله ده، ځکه چه بد اخلاقه[1] ده، او د ښځې د بد اخلاقـۍ د زمـانې خرچه واجب نه ده، البته د مهر معجل ورکولو نه وړاندې نان او نفقه ورکول واجب وو، ځکه چه د همبسترۍ نه د انکار کولو حق د امام صاحب په نزد د تمکین نه بعد هم ښځې تـه حاصـل دی، همداسې د سړي د کور نه د راتللو نه بعد لیکن نفقه به واجب وی، لیکن کومه زمانه چه تیریـږي، دهغې نفقه ساقطه کیږي، البته که د حاکم یا دواړو طرفونو په رضا سره څه اندازه نفقه مقرره کړی شي نو د وجوب په صورت کې به د تیر وخت نفقه هم ورکوي. "فی العالمگیریه وان نشزت فلانفقة لها حتی تعود الی منزله والناشزة هی الخارجة عن منزل زوجها المانعة نفسها منه (ای بغیر حق) ثم بعد اسطر وان کانت سلمت نفسها ثم امتنعت لاستیفاء المهر لم تکن ناشزة فی قول ابی حنیفة کذا فی فتاوی قاضی خان، ثم بعد اسطر اذا تغیبت المراة عن زوجها او ابت ان تتحول معه حیث یرید من البلدان وقد اوفاها مهرها، فلانفقة لها علیه وان لم یعطها مهرها وباقی المسیلة بحالها فلها النفقة هذا اذا لم یدخل بها وان دخل بها فکذلك الجواب فی قول ابی حنیفة وفی الهدایة اذا مضت مدة لم ینفق الزوج علیها وطالبة لذلك فلاشیء لها الا ان یکون القاضی فرض لها النفقة او صالحت الزوج علی مقدار نفقتها فیقضی لها بنفقة ما مضی اه". دا تفصیل خو د ښځې په اوله مطالبـه کې دی، د کوم حاصل چه دا دی چه د مهر ملاویدو نه بعد والا زمانې نفقه واجبه نـه ده، او د مهـر اخستلو نه وړاندې نفقه واجبه وه، لیکن که د دې څه اندازه دمخکې نه عدالت یا په رضا سـره معیـن کړی شوې وو نو دا واجب به ورکول کیږي، کنه نو حاکم یا ثالث به ئې نه ورکوي، د آخرت مواخذه به باقي وي، او دویمه مطالبه د ښځې هغه خو بالکل باطله ده، د ښځې نفقه آناً فاناً واجبیږي، د هغې پـه بدل کې جائیداد لیکل په خاوند واجب نه دي. لعشرین من ذی الحجه ۱۳۳۹هـ، (تتمه خامسه صـ۲۰۸).

۱ - في العقود والدرية صـ۸۱، جلد اول ناشزة هي التي تخرج من منزل الزوج بغير اذنه فهذه تسقط نفقتها وكسوتها وكذا افتى قارى الهداية وافتى ايضابان لها ان تمنع من النفلة، مع لبة لصدافها الحال اما المنجم او الكسوة فليس لها الامتناع بسببها فان امتنعت بسببهاء فهي ناشزة لانفقـة لهـا ولا كسوة ما دامت على ذلك قال فى البحر والمراد بالخروج كونها فى غير منزله بغير اذنه فيشمل ما اذا امتنعت عن المجئ الى منزله ابتداء، بعد ايفاء معجل ها اه ومثله في النهر ۲ ۱۵۱ منه.



## دیو کافر ترکه او وارثان

**سوال** :(۱۶۰) یو کافر مړ شو، او ترکه ئې ښځو ته ورسیده، د هغه د مړ کیدو نه اووه کاله بعد د یوې ښځې لور وشوه، کوم ته چه ډاکټر د هغه حمل وویله، او حکومت ورله جائیداد ورکړو، بیا د دغه جینۍ خوي وشو او هغه ښځې مستثنی کړو، نو ځکه هغه په جائیداد باندې قابض وو، بیا د دغه مړ کیدونکي یو رشته دار د جائیداد دعوه وکړه، او د وکیلانو په وجه ئې د هغه سره مقدمه وکړه، او وکیلانو سره ئې دا وویله چه که مقدمه کامیابه شوه نو د ټول جائیداد ۹/۱۴ حصه به وکیلانو ته ورکول کیږي، او یوه معاهده ولیکل شوه اتفاق سره دا مقدمه خارج کړی شوه، او د وکیلانو سره ئې زباني معاهده فسخه کړه، مګر د دې رسید وغیره وانخستل شو، څه وخت بعد دعویدار اپیـل وکړو او هغه په کې کامیاب شو، او په لیکل شوې تحریر نـامې بانـدې وکیلانـو ۹/۱۴ حـصه واخستله، دا ځمکه مسلمان کروندګر د ډیر وخت نه کري، او د میراثي کیدو د وجـې نـه د دې ټیکس ډیر کم دی، اوس سوالونه دا دي:

(۱) په بره صورت کې وکیلان د ځمکې مالک شول او که نه؟

(۲) که موروثي کروندګر په ځمکه باندې قبضه وساتي نو جائزه ده او که نه؟ او د ناجائز کیدو په تقدیر باندې آمدن د هغه میراثي کروندګر لپاره جائز دي او که نه؟

(۳) که دا کروندګر د زمیندار نه ځمکه اخستل وغواړي او د خپل موروثي کیدو د وجې نه ئې په کم قیمت ترې واخلي نو په دې کې خو به ګناهګار نه وي، او د ځمکې مالک به شي او که نه؟

(۴) د حکومت په قانون کې که موروثي او مالک په شریکه ځمکه خرڅ کړي نو روپۍ ورته نـیمې نیمې ملاویږي، نو آیا موروثي له دا روپۍ اخستل جائز دي؟

(۵) د حرامې قبضې په وجې سره د تیرې شوې قبضې نه د توبې څه طریقه ده؟

**جواب** : "**من المولوي عبدالکریم الګمتهلوي**". (۱) دا وکیلان د دې ځمکې مالک شول اګر که هغوئ په خپله دعوه کې دروغجن ولې نه وي ځکه چه د معاهدې زباني فسخ کولو له هیڅ اعتبار نشته، او د باقي سائل جائز نه دي، البته کوم آمدن چه حاصل شو هغه جائز دی، د استیلاء په وجه مګر اوس د ځمکې واپس کول لازم دي. (۲) د موروثي قبضې د ځمکې واپس کول لازم دي.(۳) د امام ابو یوسف په نزد خو هغه له په کم قیمت اخستل جائز نـه

دي، او د هغوئ قول احوط او اسلم دی، البته د امام محمد په قول دا صورت جائز دی، نو کـه څوک د هغه په قول عمل وکړي نو گنجائش نشته مگر خلاف احتیاط.

تنبیه: په دې باندې د سود معامله قیاس نه کړی شي.

(۴) د دې حکم د دریم په شان دی.(۵) صرف قبضه پرینبودل کافي دي، او توبه کول باقي شو د تیرې شوې قبضې نو د دې ضرورت نشته فقط.

## والدلائل هذه

(۱) فی شرح السیرالکبیر جـ۴، صـ۳۴، وعلی هذالوغصب بعضهم مالا ثم اسلموا واختصموا فی ذلک فان القاضی ینظر فی حکمهم قبل ان یسلموا فان علم ان من حکمهم ان الغاصب یملک المغصوب لم یامر الغاصب بردشی الخ". د دې نه معلومه شوه که اهل حرب چې که څه د قانون موافق غصب کړي، نو تول موجب تملک دي.

(۲) منافع خو د استیلاء د وجې نه مالک کیدل بالکل ظاهر دي، او په څمکه قبضه کول څکه جائز نه دي چه صرف د قبضې د وجې نه خو استیلاء نه ثابتیږي، کله چه قانوناً اصل مالک مالک گنل کیږي، او دا جاري عقد ختم شو، نو دا قبضه نه په کوم شرعي عقد کې راځي او نـه د استیلاء تحقیق شو نو د دې وجې نه ناجائزه ده.

(۳،۴) فی شرح السیرایضا جـ۴، صـ۲۹، وکذلک لوادعی المسلم المستامن عبدا فی ید بعضهم باطلا ای عندهم واقام بینة فاخذه ملکهم من الحربی ودفعه الیه ثم اسلم فهوله لتمام احرازه بحکم ملکهم ولکن ینبغی له ان یرده علی صاحبه لان هذا غدرمنه بمنزله مالواخذ مال بعضهم سرافاخرجه وهناک یفتی بالرد لانه انما غدر بامان نفسه فهذامثله اه. د دې نه معلومه شوه چه که استیلاء هغه صورت اختیار کړی شـي چـه د حرب د سلطان د قانون خلاف نه وي نو بیا به د امام محمد په نزد دواپس فتوی هم نـه ورکـول کیږي،(گویا شرعا هغه صورت ممنوع وي څکه چه دا جزئیه د غصب د جزئې ذکر کیدو نه بعـد ده). او د امام ابو یوسف قول ماته ملاو نه شو مگر امداد الاحکام تاریخ ۱۸ صفر ۴۷هـ، کې دا عبارت دی:"واما علی قول ابی یوسف فلا یجوز للمسلم فی دارالحرب مالا یجوز فی دارالاسلام". او په ربوا کې چه کوم اختلاف دی، هغه د دې موید دی. والله اعلم.

(۵) هذا کله ظاهر. التصدیق الجواب الذی کتبه المولوی عبدالکریم صحیح. اشرف علی ۲۷ رمضان المبارک ۱۳۴۹ھ.

سوال: متعلق جواب بالا:

در این ملک چنانچه فرموده مفقود است لاکن حاکم وقت علاقـه مـا بعـض وقـت اسـتینت وتحصیلدار وجج کسی نه. کسی مسلمان می باشد، اما او شان چنین فیصله قضا یعنی فسخ نکاح هر گز هر گز نمی کنند واگر تقدیراً کنند ونخواهند کرد مگر علمایان این طرف نیم علم خطره ایمـان بالکل بی علم وکم فهم ومتعصب اند این حاکمان را حکم کفر در پرده وعاملان را کفـر ظـاهر خواهند داد وعلی هذا القیاس قاضی حنفی مقرر سرکار وعوام مردم که در ضلع دیگـر باشـد از خوف خلاف مذهب قطعا حکم فسخ نکاح مفقود الزوج نخواهد کرد آری درین جا شهری قاضی حنفی بود اهل حدیث شده است، لکن بر فیصله ها اجرت بی اندازی می گیرد، اگر جـائز باشـد وفتوی گرفتن مفقود الزوج از حکم گیرد ودیگر عالم اهل حدیث هم است چیزی نخواهد گرفـت وقریب است اگر جائز باشد از وحکم گیریم واگر جائی این چنین قاضي لایق فتوی معلـوم باشـد اطلاع فرمایندتا از وروجوع کرده شود؟

جواب: اگر قاضی عرفیست شرعا قاضی نیست واگر قاضی شرعي ست که برای فصل خـصوصیات مقرر کرده شده قضایش نافذ می شود اگر چه اجرت گرفتن اورا جائز نباشد. "وفی ردالمختار واما اذا ارتشی الی قوله فعلی ما فی الحمادیة فیه ثلثة اقوال قیل ان قضاءه نافذ فیما ارتشی فیه وفی غیره والاول اختار البزدوی واستحسنه فی الفتح الی ان قال وینبغی اعتمادہ للضرورة فی هذا الزمان اه". مختصرا لکـن محض فتوی گرفتن از کسی کافی نیست. "کما نقله المفتی سعدالله المرحوم الرامفوری فی فتاواه وعبارته هکذا قال البزازی فی فتاواه؛ قال السرخسی هذا شرط اخروهوان یصیر حادثة فیجزی بین یدی القاضی من خصم علی خصم حتی لوفات هذا الشرط لا ینفذ القضاء لانه فتوی اه. ۷ شعبان ۱۳۲۱ھ.

## د چا ځیزونو له روپۍ ورکړي او د گروئ نه ئې

## بج کړي نو دا ځیزونه به د هغه ملکیت نه وي

سوال: (۱۶۱) زید او عمرو یو ځاي اوسیدل، زید څو ونې ولگولې، د عمرو یو کـور وو، اتفاقـا عمرو د یو کوري اوبه بندې کړې، کورې مقدمه وکړه د هغه ډگري وشوه، د دې نـه وروسـتو کوري د خپل پتې په نقصان کې د عمرو ځیزونه گرو کړل، په هغې ونې کور مذکور تـول گـرو شوي وو، د دې نه وروستو زید د یو ځاي نه روپۍ راوړې او دا تول ځیزونه ئې بج کړل، او مذکور قرض زید ادا کړو، عمرو د کاروبار نه معذور وو اوس به دا تول ځیزونه د زید وي او که د عمرو؟

جواب: چونکه د تملیک د اسبابو نه کوم سبب ونه موندل شو، لهذا دا ځیزونه د زید ملکیت نه شو، البته که دا قرض زید د عمرو په وینا ادا کړي وي نو دخپلو روپو مطالبه کولی شي، او که د هغه د وینا نه بغیر ئې داسې کړي وي، نو د روپو مطالبه هم نه شي کولی، او ځیزونه په هر حال کې د عمرو دي. والله اعلم. ۱۹ ربیع الثاني ۱۳۲۷ هـ، (تتمه اولی ص ۱۵۱).

## د کمیشن په ضمانت باندې ایجنټ جوړول

سوال: (۱٦۲) د امریکې اوسیدونکی زید کافر مسلمان عمرو د هندوستان اوسیدونکي ته وویل چه که ته ماله دوه زره روپۍ ضمانت راکړې نو زه به تا د خپل مال خرڅولو دپاره ایجنټ مقرر کړم، او في عدد به یوه آنه کمیشن درکوم، عمرو منظور او زید ته ئې دوه زره روپۍ ورکړې، او د ۲۰۰۰ نه دوه درې چنده زیات مال ورکولو وعده کوي، او عمرو هغه خرڅوي، آیا دا کار شرعاً جائز دی او که نه؟

جواب: جائز دی مگر شرط دا دی چه هغه کافر ته ئې چه کومې روپۍ د ضمانت په طور ورکړې دي، په هغې کې د ورکونکي دا اجازت نه وي چه په هغې باندې تجارت وکړي او فائده ترې واخلي، که هغه د دې اجازت نه بغیر داسې وکړي نو بار به ئې د هغه په ذمه وي. ۱٦ رمضان ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی ص ۱۵۲).

## د تجارت پیشه هندوانو او مسلمانانو ترمنځ دا وعده کیدل چه

## څه لږه حصه به د مندر او جومات په مصارفو کې خرچ کیږي

سوال: (۱٦۳) په یو بازار کې د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ دا زوړ رواج مقرر دی چه هندوان او مسلمانان چه کله خپل مال د بهر نه راوړي او هلته ئې د چیني کارخانې والا مسلمانانو یا هندوانو باندې خرڅ کړي نو ټول قیمت اخستلو نه بعد یوه آنه د جومات امام یا د مندر پوجاري ته په خوشحالۍ سره ورکوي، کوم چه پوجاري او امام اخلي او خپل تصرف کې ئې راوړي، که د مال خریدار مسلمان وي او که هندو هغه روپۍ د خپل ځان سره امانت ږدي، او ټولې جمع شوې روپۍ د غوښتنې په وخت امام او پوجاري ته ورکوي، نه هندو کارخانې والاو نه امام په پیسو ورکولو کې څه خبره شته او نه مسلمان ته، د هندو دپاره په پیسو ورکولو کې همداسې د ډیرې زمانې نه د انتظام دا سلسله قائمه ده، اوس مسلمانانو سره دا تردد پیدا شوی دی چه داسې روپۍ د امانت د



هندوانو د مسلمانانو خپل ځان سره کېښودل او هغه پوجاري یا مدرسي او امام ته ورکول شرعاً جائز دي او که نه؟ او داسې مشارکت روا دی او که نه؟

جواب: صحیح نه دی، ټول دې دا نظام داسې بدل کړي چه هندوان دې هندوانو ته ورکوي او په جومات کې دې نه خرچ کوي او مسلمان دې صرف مسلمانانو ته او په پوجاریانو دې نه خرچه کوي، ترڅو پورې چه داسې انتظام مقرر نه شي نو مسلمانان دې داسې وکړي چه که د هندوانو نه د هغوئ اخستلو موقع راشي نو نه دې اخلي، چه اختیاري خبره ده او کله چه ئې وانخلي نو یو پوجاري بې هم د هغوي نه نه شي غوښتلی؛ او که وېې غواړي نو دا جواب ورکولی شي چه مونږ پخپله د هندوانو نه نه دي اخستلي، نو تاسو له ئې څنګه درکړو، او که هندوانو له یوه دوه آنې ورکولو موقع راشي او هغوئ مجبور کړي نو داسې دې وکړي چه قیمت دې پوره وصول کړي او یوه آنه دې هم واپس نه ورکوي، بلکه هغه ته دې داسې ووائي چه ماله یوه آنه په مجوزه قیمت کې کمه زاکړه او نیت دا ولرئ چه زه دا یوه آنه معاف کوم او د مسلمان نه اخستل هله صحیح دي کله چه ئې په خوشحالۍ سره ورکړي، او کوم کس چه ئې صرف د دې رسم د باندئ د وجې نه اخلي نو د هغه نه اخستل جائز نه دي.

## د کیږي مالوچو او ریلوي حصې اخستل

سوال: (۱٦٤) (۱) دکیږې او مالوچو د کمپنیانو حصص اخستل جائز دي او که نه؟ (۲) د ترام ریلوی حصص اخستل درست دي او که نه؟

جواب: ۲،۱: که حصص صرف نغدې روپۍ وي نو بیا خو د دې دپاره برابر کیدل شرط دي او که په حصه کې د آلاتو حصه هم وي نو د دې شرط نه بغیر هم صحیح دي. ۱۴ جمادی الاخری ۱۳۲۸هـ، (تتمه اولی ص ۱۵۵).

## د کمپنۍ حصص

سوال: (۱٦۵) اکثره داسې کیږئ چه ډیر خلک راجمع او کمپنۍ جوړوي او تجارتي کاروبار کول د دې کمپنۍ حصص اکثره خرڅیږي، کوم خلک چه حصص اخلي په هغوئ باندې سالانه منافع

---

۱. دکمپنیانو حصی دمشین اوسامان تجارت دی. نوددی وجه نه پیسی دپیسوپه بدل کنبی نه دی بلکه دسامان په بدل کنبی دی چه په دیکښی قرض اونسنیه جائزده ۱۲. رشید احمد عفی عنه.

خومره چه کمپنۍ کړې وي تقسیمیږي، کله کم او کله زیاته، او که کمپنۍ نقصان وکړي نو حصه داران د خپلو حصو مطابق د تاوان ذمه وار وي، داسې حصص شرعاً اخستل جائز دي او که ناجائز؟

**جواب**: په تجارتي کمپنۍ کې مختلف کاروبارونه کیږي، او سودي معاملات هم او د چا حصې چه خرڅیږي د هغې حکم دا دی چه چونکه هر حصه دار د خپلې حصې مالک دی او عمله په دې کاروبار کې د حصو وکیلان وي او شرعاً به د هغوئ فعل حصه دارانو طرف ته منسوبیږي، او که هغوئ کوم ناجائز تجارت وکړي او یقیناً کوي ئې، تردې چه د مسلمانانو نه سود هم اخستل کیږي نو همداسې به وي لکه پخپله چې ئې حصه داران وکړي، نو ځکه په داسې کمپنۍ کې شرکت ناجائز دی، همداسې حصې اخستل چونکه دا د روپو مبادله په روپو سره ده، او لاس په لاس نه ده نو ځکه ناجائزه ده او د قرض تاویل هم په قواعدو نه منطبق کیږي. (النور ربیع الاول ۵۴هـ، صـ۱۰).

## حکومت ته د قرضو ورکولو حکم

**سوال**: (۱۶۶) اکثره حکومتونه دا اعلان کوي چه زمونږ دومره قرض ته ضرورت دی، او په دومره موده کې به دا قرض ادا کیږي، ترڅو پورې چه قرضه ادا کیږ دومره في صدي سود به ورکول کیږي، دا سود جائز دی او که ناجائز؟ په نورو الفاظو کې داسې ویل پکار دي چه د حکومت نه سود اخستل جائز دي او که نه؟ کوم خاص فرق چه زما په خیال کې راځي هغه دا دی چه حکومتي بینکونو کې د عوامو نور خلک هم حصه داران وي، مسلمانان هم د دې حصه داران وي، یو دوه مثالونه زما په ذهن کې هم دي، دا ضرور ده چه د نورو خلکو حصه ډیره کمه وي، په هندوستان کې یو بینک هم داسې نشته دی چه مالک ئې خاص حکومت وي، حکومت په قرض ورکولو کې خاص فرق دا دی چه په دې صورت کې به چه کوم سود راځي هغه به قطعا د حکومت د خزانې نه راځي، حکومت زمونږ ټیکس د معاهدې خلاف کم کړی دی، او د خپل قانون مطابق ئې زمونږ د مال ټیکس نه دی کم کړی، نو آیا مونږ د حکومت نه سود هم نه شو اخستلی، زه نه شم ویلی چه بره دلیل په شریعت کې څه اهمیت لري او که نه؟

**جواب**: حکومتي بینک چه په کې نور عوام هم شریک وي ګو د نورو حصه لږه وي، د دې حقیقت هم د بره صورت په شان دی، او حکم د بره په شان. خاص حکومت ته قرض ورکول چه په کې سود د خالص حکومتي خزانې نه راځي دا مسئله په هغه کې داخله ده چه کافر غیر ذمي نه سود



واخستل شو، همدا مسئله ده چه په کې د علماو اختلاف دی، په کوم کې چه د تورع اجتناب دی،او د توسع ارتکاب دی. والله اعلم. ۲ ذیقعده ۵۲هـ، (النور ربیع الاول ۵۴هـ، صـ۱۰).

## په ریل باندې د راغلي مال په لیلام اخستل

**سوال**: (۱۶۷) د ریلوی په قانون یوه موده مقرر ده چه که په دومره وخت کې مالک ملاو شو نو بیا خو هغه ته مال ورکول کیږي، او د وخت تیریدو نه بعد که میوه وغیره وي نو په دریمه ورځ لیلامیږي، نو د دې مال اخستل شرعا جائز دي او که نه؟

**جواب**: که دا معلوم وي چه دا قیمت مالک ته ورکول کیږي نو اخستل جائز دي او که نه نو بیا نه. (تتمه اولی صـ۱۵۹).

## بغیر د طلب نه اخبار یا رساله رالیږلو سره بیع نه کیږي

**سوال**: (۱۶۸) یو کال وشو چه هندو ماته یوه رساله راولیږله په کوم کې چه د وید قدامت لیکلی شوی وو، او څه نسخې هم وې، ما هغه کینبودله، او هغه رساله به هره میاشت راتلله، او ما انکار ونه کړو، کال بعد د دوه روپو پرچه راغله ما هغه واپس کړه او ومې لیکل چه چونکه تا بغیر د طلب نه رالیږلې نو زه انکار کوم، هغوئ د هدایت په طور دا هم لیکلي وو څوک چه د اولې پرچې په راتللو انکار ونه کړي نو د هغوئ په نوم به پرچه جاري وي، نو اوس دا تپوس کوم چه دا قیمت عند الشرع په ما واجب دی او که نه؟

**جواب**: تا له انکار کول واجب وو که خط دې لیږلو او که رساله دې واپس کوله اوس خو قیمت واجب نه دی، مګر د ټولو رسالو واپس کول واجب دي، هغه ستا ملکیت نه دی. ۱۱ جمادی الاولی ۱۳۳۰هـ، (تتمه اولی صـ۱۶۵).

## په مرابحه کې د ثمن مثلیت شرط کول

**سوال**: (۱۶۹) دلته دا رواج دی چه خلک کپړې په دوه طریقو سره اخلي، یو دا چه د هغې په قیمت کې نغدې روپۍ ورکوي، نو په کوم صورت کې چه صرف روپۍ ورکوي نو یو ن مثلا په څوارلس آنې باندې اخلي او که روپۍ او سوت دواړه ورکوي نو څوارلس نیمې آنې ئې اخلي نو څه حکم دی، نو کوم کس چه روپۍ او سوت دواړه ورکړي او اخستلې ئې ده، د هغې سره کومه کپړه

في تهان مثلاً یوه آنه منافع ورکړي او وائخلي نو هغه منافع به په څوارلس آنې باندې کیږي او که په څوارلس نیمې آنې باندې او اصل قیمت په کوم معتبر وي؟

**جواب** : دا بیع مرابحه ده، دا هله صحیح ده چه ټول قیمت نغد یا مثلي وي، او دویم اخستونکی همغه ورکوي، نو په کوم صورت کې چه ئې په دوه څیزونو مال واخستلو او دویم اخستونکی ټول نغدې ورکوي نو په ګټه باندې خرڅول درست نه دي. ۲۵ محرم ۱۳۲۴هـ، (حوادث اول وثاني صـ۱۲).

## مخکې قیمت ادا کول

**سوال** :(۱۷۰) بعضې مطبعو (چاپ خانو) والا اشتهار ورکوي چه د فلاني کتاب د چاپ کیدو انتظام کړی شوی دی، کوم صاحب به چه دومره قیمت مخکې راولیږي هغه به د رعایت مستحق وي، دا معامله څنګه ده؟

**جواب** : متاخرینو ورته جائز ویلي دي، او د دې تفصیل په بیع استجراء کې د رد المختار صاحب ذکر کړی دی، جـ۴ صـ۱۸، وبعض عبارته هذا وهذا. "ای دفع دراهم الی الخباز والاخذ کل یوم خسته امنا) حلال وان کان نیته وقت الدفع الشراء لانه بمجرد النیة لا ینعقد البیع وانما ینعقد البیع الان بالتعاطی والان المبیع معلوم فینعقد البیع صحیحاً اه قلت کذا یقال فی هذا ان المبیع لما وجد انعقد البیع فلم یلزم بیع المعدوم). ۴ ربیع الثاني ۱۳۳۱هـ، (حوادث اول وثاني صـ۱۷).

## د غیر معلوم وخت لپاره په مقرر قیمت باندې اخبار جاري کول جائز نه دي

**سوال** :(۱۷۱)بعضې د اخبار مالکان دا اشتهار ورکوي چه څوک چه دومره روپۍ داخلې کړي هغوئ ته به ټول عمر اخبار لیږل کیږي، دا معامله جائزه ده او که نه؟

**جواب** : جائزه نه ده، ځکه چه دا بیع مجهول ده. ۴ ربیع الثاني ۱۳۳۱هـ، (حوادث اول وثاني صـ۱۷).

## نقلي څیزونو ته نقلي ویل او د هغې خرڅول

**سوال** :(۱۷۲)غوړي، عنبر، مشک وغیره مصنوعي تیاریږي، او دا وویل شي چه دا اصل نه دي مصنوعي دي، او په کم قیمت باندې هغه خرڅ کړای شي نو آیا دا هم دوکه او ناجائزه دي او که نه؟

**جواب** : دا دوکه نه ده، جائزه ده مګر د ورع خلاف ځکه ده چه د اخستونکي د دوکه کیدو احتمال په کې شته دی، او د دې خرڅول په یوه درجه کې د دې سبب دی. (حوادث اول وثاني صـ۲۱).



## اشتهاري کتابونه د لیکل شوي قیمت نه په زیات خرڅول

**سوال** :(۱۷۳) د یو کتاب د رعایتي قیمت اشتهار نه بعد یو کس چه هغه ته اشتهار نه وي ملاو شوی، او په دې وجه سره په خپل اصلي قیمت باندې د کتاب فرمائش کوي د هغه نه پوره قیمت اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب** : داسې اشتهار یوه عامه وعده ده، په کوم کې چه اطلاع او عدم اطلاع برابره ده، نو کوم حکم چه د اشتهار لیدونکي دپاره دي همغه د نه لیدونکي دپاره هم دي، یعنې په دواړو صورتونو کې بیعه حلاله ده، او د وعدې مخالفت کې کراهت لازم دی. (حوادث اول وثاني صـ۲۱).

## د غلې اخستلو په وخت نرخ مقررول

**سوال** :(۱۷۳)په اکثره کلیو کې دا واقعه شوې ده چه غله که د تجارت په غرض سره وي او د روزانه خرچې په بنیاد د کروندګر نه اخلي او څه وخت چه نرخ مقرر شي هغه وخت ئې معلوموي، د خرچ د معلومیدو نه وړاندې بالکل هم کروندګر نرخ نه معلوموي، او غله ئې ورکوله کله چه قیمت ګیر چاپیره معلوم شو نو بیا ئې وویل چه د دې قیمت به دا کړو، ما نکار وکړو یعنې اوس به نوی نرخ کړو، غرض دا چه هغه وخت مو هیڅ فیصله نه وه کړې، په دې موقع کې د هغې نرخ جائز کیدی شي؟ اوس خو عام رواج همدا دی؟

**جواب** : دلته د اکتیج لفظ استعمال شوی دی چه په معنی ئې زه نه پوهیږم بهر حال په بل وخت باندې داینودل او د بیعې په وخت که معلومول حرام دي. ۱۹ شعبان ۱۳۳۱هـ، (حوادث اول وثاني صـ۱۱۴).

## د دې تحقیق چه که پارسل وشلیږي نو دا نقصان د خرڅونکي په ذمه وي او که د اخستونکي

**سوال** :(۱۷۵) ما د یو دوا خرڅونکي نه څه مرکبې دوایانې راغوښتلې وې، د هغه پارسل دوایانې ماته خرابې وصول شوې چونکه د ویلو په ذریعې سره پارسل رالیږل شوی وي نو دا نقصان د چا وشو؟

**جواب** : ستا تاوان وشو که رالیږونکي د پارسل په جوړولو کې متعارف احتیاط کړی وي. ۲۴ جمادی الثاني ۱۳۳۱هـ، (حوادث اول وثاني صـ۹۸).

## د ریاست نه د سوخت لرگي اخستل

سوال :(۱۷۶) په ټولو رياستونو کې د هندوانو وي او که د مسلمانانو محکمه جنګلات په کې شته دی، او په هغې کې وابنه او پخپله غتيدونکې ونې راجمع او خرڅول کيږي، او په قوم باندې خرڅيږي، دا لين دين شرعاً څنګه دی؟

جواب : کله چه حکومت کټ کړي او قبضه ئې پرې وکړه نو د هغه ملکيت شو، اوس که ئې په قوم باندې خرڅ کړي نو جائزه ده. ۹ شوال ۱۳۳۱هـ؛ (حوادث اول وثاني صـ۱۲۱).

## کوم ځيز چه د بل چا په نوم قرضي طور سره واخستل شي هغه د هغه ملکيت نه کيږي

سوال :(۱۷۷) قاضي محمد يعقوب، قاضي محمد يوسف او قاضي محمد اسحق درې وروڼه وو، قاضي محمد يعقوب يوه علاقه د خپل لور او ځوي عبدالسلام په نوم واخستله او د هغوئ په نوم ئې کړه، دا علاقه ئې په طريقې سره ادا کړه، چه خرڅونکي باندې ئې يو خط وليکلو، په کوم کې چه هغوئ دا ونه ليکل چه دا دستاويز (خط) د دې علاقې د ځوانې جينئ او وراره په نوم اخستل شوې ده، بلکه دا وليکل شو چه دا قرضه زه د خپل ذاتي ضرورتونو لپاره مثلاً د مالګزارئ ادا کولو دپاره او نور د کور ضرورتونو لپاره اخلم، او خپل ذاتي جائيداد وغيره ئې د دې قرضي په علت کې مستغرق کړو، دا دواړه خطونه تقريبا يو وخت وليکل شو يا به دوه درې ورځې فرق وي، د قاضي صاحب وفات شو هغوئ د دې علاقې نه علاوه نور جائيداد هم پرېښی دی، اوس سوال دا دی چه: (۱) آيا په دې علاقه کې چه څه شوي دي د هغوئ وارثان ئې د محمدي شريعت د مخې اخستلی شي او که نه؟ (۲) که حصه ورته نه شي ملاويدی، نو آيا د قرض به ذمه داران وي او که نه؟

جواب : د چا په نوم جائيداد اخستلو سره شرعاد هغه نه حق کيږي، ځکه چه د اخستلو نه وړاندې خو د بل چا ملکيت وو، د غير په ملکيت کې د هبې وغيره تصرف نه نافذيږي، او د اخستلو نه وروستو د انتقال موجب عقد نه دی موندل شوی، په دې بناء باندې شرعا هغه جائيداد د قاضي محمد يعقوب ملکيت دی، او قيمت هم د هغوئ په ذمه دی، د کوم د وجې نه چه د قرض خطونه ليکلی شوي، نو د بائع قرضه ادا کولو نه بعد په باقي جائيداد د مشتري ټولو وارثانو ته د شرعي حصو مطابق ملاويږي. "في الدرالمختار بيع الفضولي قيد بالبيع لانه لواشترى لغيره نفذ عليه". (اشرف علی. ۱۹ محرم ۱۳۳۲هـ؛ (حوادث ۲۰۱ صـ۱۲۷).



## کوم کتاب چه چا سره نه وي او په فهرست کې وليکلی شي د هغې حکم

سوال :(۱۷۸) کتاب موجود نه وي او ته فهرست کې د هغې نوم اچول چه اهتمام کولو سره به ئې فرمائش ورکړو جائزه ده او که ناجائز؟

جواب : دا معامله دې تاويل سره صحيح کيدلی شي چه فرمائش ته ايجاب ونه ويل شي، ځکه چه په دې وخت کې مبيع د بائع د ملکيت نه معدوم دی، بلکه د بائع روانولو ته به ايجاب او د فرمائش وصول ته به قبول ووائي، البته په ده باندې دا التزام کول وي چه که د فرمائش والا ئې وصول نه کړي بلکه واپس ئې کړي نو خرڅونکی پرې جبر نه شي کولی. ۲۵ ربيع الثاني ۱۳۳۲هـ؛ (حوادث ۲۰۱ صـ۱۳۷).

## د توکيل سره بيع مرابحه او د بعضې معاملاتو د سود په حکم کې ليدل

سوال :(۱۷۹) زيد خپلو اساميانو ته وائي چه شاوخوا د خپلې خوښې څاروي، غواګانې، ميښې، غويان، چيلئ وغيره خوښکړ او راشي، بيا به روپئ واخلو ولاړ به شو، نغدې به ئې واخلو او خپل ملکيت به ئې کړو، د هغې نه وروستو به في روپئ ۴ نفع يوځاي کړو، او د يو کال لپاره به ئې تاسو ته درکړو، کوم څاروی چه کوم کس قيمت کړی، هغه به هم هغه ته په قرض ورکول کيږي، داسې د هغوئ په مدد سره اخستل او بيا هغوئ له ورکول جائز دي او که نه؟

جواب : د دې څو صورتونه دي او د هر يو حکم جدا دی، يو دا چه هغه زيد وکيل جوړ کړو او هغه د زيد لپاره واخستل په دې صورت کې چارپايان د زيد ملکيت شو، او زيد د دې نه وروستو اختيار لري، که د آسامئ په لاس ئې خرڅ کړي او که نه؟ او داسې به هغه خريدار ته هم اختيار وي چه ئې واخلي او که نه؟ يو بل نه شي مجبورولی، که په دې صورت کې ئې د زيد نه په نفع په خپله خوشحالئ واخلي نو جائزه او په دې کې د هيڅ سود وغيره شبهه نشته دی.

دويم دا چه زيد هغوئ وکيلان کړي نه وو صرف د خوښولو* لپاره ئې ليږلي وو، او هغوئ د مال خاوند سره د خريدارئ خبره نه وه کړې، تردې چه د مالونو مالک هم دا ګڼي چه اوس ئې زما نه نه دي اخستلي زه هم د خرڅولو اختيار لرم، او بل هم د اخستلو او نه اخستلو اختيار لري، د دې نه بعد زيد پخپله واخستلو او په دغه کسانو باندې ئې ګټه په خوشحالئ سره خرڅ کړو او د اول په صورت په شان دلته هم هر يو په اخستلو او نه اخستلو کې آزاد دی، دا صورت هم جائز دی، په دې کې هم هيڅ شک نشته.

دریم صورت دا چه هغه کسانو په خپله خوښه د خپل ځان لپاره ښاروي واخستل او زيد صرف قیمت ادا کړو، نو په دې کې د ابتداء نه هغه د هغه کسانو ملکیت دی، او د زيد روپۍ ورکولې نو بیا دا هغوئ ته قرض ورکول دي کله چه قرض دی نو ظاهره ده چه فائده اخستل صریح سود دی او هغه حرام دی ۱۰ رمضان ۱۳۳۲هـ، (حوادث ۲۰۱ صـ۱۴۵).

## رشوت ورکولو سره سرکاري مال د ملازمینو نه اخستل

**سوال** :(۱۸۰) یو انګریز ملازم رشوت اخستلو سره د اوسپنې ټیکه اخلي او څو ورځې استعمال نه بعد د نقص نه بغیر هغه ظروف ناقصوي او په لیلام کې ئې ارزان خرڅوي او هغه کس ټیکه دار ئې پخپله اخلي، رنګ او روغن ورکوي، او هغه نوی ظاهروي، او بیا ئې خرڅوي، د دغه کس مال د حرام فعل او رشوت د وجې نه به حرام وي او که مکروه؟ یو عالم فرمائي چه د هغه دا کار حرام او د ګناه موجب دی، مګر د دې بیعې په قیمت کې څه نقصان او کراهت نشته دی، ځکه چه عقد صحیح دی، او سرکاري ملازم د بیعې وکیل دی، او وکیل ته د قیمت کمولو اخیار وي، یو صاحب فرمائي چه په دې کې کراهت تحریمي دی، او مذکور کس نه د مذکور مال بیعه جائزه او اجرت هم جائز، او که دا مال ملاو شوی وي نو د هغه دعوت خوړل بلا کراهت تحریم جائز دي او که ناجائز؟ او که په مذکور مال کې جائز مال نه وي نو د هغه مال زکات چه دلیل بالبیع د قیمت نه کم باندې د خرڅولو اختیار دی، دا خو د موکل نه مستفاد شوي دي، د کوم کار چه موکل اختیار نه وي ورکړی، هیڅکله به ورته اختیار نه وي، او دلته دلیل قائم دی، د دې څیز د دې اجازت موکل نه دی ورکړی، ځکه چه هغه ته معلومه شي چه داسې بیع وشراء کیږي، نو هیڅکله به دا جائز ونه ګڼي، نو د دې کار معلومیدل یقینا دلیل دی، د عدم اذن نو دا مال به حرام وي، لیکن د مملوک کیدو د وجې نه به د هغې زکات واجب وي او دعوت هله جائز دی کله چه د دې مال نه زیات حلال وي.

## د سکه غالبه د عرف سره مقید کیدل

**سوال** :(۱۸۱) په موء کې اکثر د ګورکهپوری پیسې چلیږي، کله خو د یوې روپۍ شل ګنډه ملاویږ نو د یوې آنې پنځه پیسې شوې او کله یوویشت آنې نو د یوې آنې ۵ ۱/۴ پیسې شوې، او د موء د خریدارانو دا قاعده ده چه په هر صورت کې به د یوې آنې ۵ پیسې درکوو، او نورې به نه



درکوو، البته که د درې دوکړې نه زیاته کوړی شي نو یوه پیسه به روغه ورکوو او که د دې نه کم وي نو هیڅ به هم نه ورکوو، او دا خبره د اخستونکو او خرڅونکو ترمنځ ته جرګه کې شوې ده، د دې سره اکثره خرڅونکي د کوړې د وتلو د وجې نه افسوس کوي، بعضې وخت کې خو څه وائي هم نو آیا د دې په اخستلو سره به د قیامت د ورځې بدله پاتې وي او که نه؟ او دا ټول حق الغیر دی او که نه، او د المعروف کا المشروط قاعدې سره دا څنګه دي؟

**جواب** : که دا عرف په ټوله دنیا کې مشهور وي نو المعروف کالمشروط قاعدې سره په دې طریقې سره جائزه ده او هیڅ مواخذه نشته او که په دنیا کې مشهوره نه وي نو د بیعې نه وړاندې ئې ظاهرول واجب دي. ۹ شوال ۱۳۳۲هـ، (حوادث ۲۰۱ صـ۵۵).

## د "ویلو" حقیقت او د نقصان کیدو په صورت کې د دې تاوان په چا باندې دی، د هغې تحقیق

**سوال** :(۱۸۱) ما یو فرمائش د "ویلو" په ذریعې سره ضلع چهپره خوب لعل خیمه فروش ته لیږلی وو، په ریل کې درې تهانونه ووتل، د هغې تاوان به زه ورکوم او که خوب لعل؟ بل دا چه ما هر خریدار ته ویلي دي که په ریل کې مال غلا شو نو زه ئې نه درکوم مګر بره خریدار ته مې نه دي ویلي، ویل شریعت کې د دې څه حکم دی؟

**جواب** : د تجارانو عرف دا دی چه په ډاک باندې مال لیږلو سره که هغه ورک شي نو لیږونکی ئې نبوس کوي، غوښتونکی نه، همدا معلومیږئ چه د ډاک والا د خرڅونکي وکیلان دي، د اخستونکي نه دي، کله چه هغوئ خلکو ته ورکړي نو بیعه وشي، نو د دې نه وړاندې چونکه هغه مال د خرڅونکي دی، نو ځکه چه کوم نقصان کیږي، د هغه لیږونکي به کیږي. ۱۸ ذی الحجه ۱۳۳۲هـ، (حوادث ۲۰۱ صـ۱۶۲).

## که ماهواري رساله یا اخبار د ډاکخانې نه ضائع شي نو بیا ئې اخستل جائز دي

**سوال** :(۱۸۲)میاشتنئ رسائل کوم چه لیږل کیږي که هغه په ډاک کې ضائع شي نو اخستونکی ئې د خرڅونکي نه دوباره غوښتلی شي او که نه؟ په دې باره کې شرعي حکم څه دی؟

**جواب** : پوره شرح صدر خو نه لرم مګر د قواعدو د وجې رجحان دې طرف ته دی چه دوباره ئې غوښتلی شي."لان الظاهر ان عملة البوسطة وکلاء للبائع لا للمشتری، فلیراجع الی العلماء الاخرین فقط." ۱۴ محرم ۱۳۳۷هـ، (حوادث خامسه صـ۲۴).

## بیع تعاطی او پارچه چه اطراف ئې یو ثان وي

## په هغې د موصوف د اندازې مطابق بیعه کول

**سوال** :(۱۸۳)پښخه آنې گز په حساب سره ئې کپړه واخستله، اخستونکي یوه روپۍ د جیب نه راوویستله او د مالک طرف ته ئې وویشتله، مالک په خبرو کې مشغول وو، اخستونکي باقي څلور پیسې وغوښتلې، نو مالک د نوکر نه د واپس کیدونکو پیسو شمار وغوښتلو او اخستونکي ته ئې ورکړې، اخستونکي کپړه واخستله او روان شو، بیعه صحیح شوه او که نه؟

**جواب** : دا بیع تعاطي ده، گویا چه په ژبه باندې ایجاب او قبول ونه شو، مګر بیعه صحیح شوه، فقط ۱ محرم روز جمعه ۱۳۳۳ھ، (تتمه ثالث صـ۱۲۶).

## د گراموفون د مرمت حکم

**سوال** :(۱۸٤) زما پیشه د گهړۍ جوړول دي، د دې نه علاوه د گراموفون او باجې مرمت به مې هم کولو، لیکن زما یو دوست وویل چه د گراموفون جوړول د شریعت د مخې ناجائز او ممنوع دي، په باجه کې لاندې مرمت کیږي؟

(۱) چه سپرنګ مات شي د هغې جوړول یا نوی لګول.

(۲) د باجې د غاښونو چه کوم خرابي وي هغه صحیح کول یا نوی چکر لګول.

(۳) که په باجه کې د غرغر آواز پیدا شي په کوم سره چه ریکارډ کې خرابي راځي نو هغه ختمول.

آیا د دې آلې مرمت سره به په لهو لعب کې مدد کولو والا کې به زه شمارل کیږم او که نه؟ او په ګناهونو کې به ورسره برابر شریک یم، د غیر مشروعیت همدا دلیل زما دوست بیان کړی دی، لهذا په دې مسئله کې چه د شریعت څه حکم وي هغه بیان او عند الله ماجور او عند الناس مشکور شئ؟

**جواب** : "فی الهدایة ومن کسر لمسلم بربطا اوطبلا اومزمارا الی قوله فهو ضامن وبیع هذه الاشیاء جایز وهذا عند ابی حنیفة وقال ابویوسف ومحمد لایضمن ولایجوز بیعها الی قوله ولابی حنیفة انها اموال لصلاحیتها لما یحل من وجوه الانتفاع وان صلحت لما لایحل فغصا کالامة المغنیة وهذا لان الفساد بفعل فاعل مختار فلایجب سقوط التقوم وجواز البیع والتضمین مرتبان علی المالیة والتقوم ثم قال وتجب قیمتها غیر صالحة للهو کما فی الجاریة المغنیة والکبش النطوح والحمامة الطیارة والدیك المقاتل الخ (اخر کتاب الغصب) وفیها من اجر بیتا لیتخذ فیه بیت نار الی قوله اویباع فیه الخمر بالسواد فلاباس به وهذا عند ابی حنیفة وقالا لاینبغی ان یکریه لشیء من ذلك لانه اعانة علی المعصیة وله ان الاجارة نزد علی منفعة البیت ولهذا تجب الاجرة بمجرد



التسلیم ولامعصیة فیه وانما المعصیة بفعل المستاجر وهو مختار فیه فقطع نسبته عنه (فصل فی البیع)". ذکر شوي روایتونه په خپل علت سره د سوال صورت د مدلول روایتونو سره ملحق کوي، نو ځکه دا صورت هم مختلف فیه دی، نو د کوم کس چه بل ځاي کې معاش کافي وي نو هغه له د منع په قول باندې عمل کول پکار دي، او د چا چه معاش کافي نه وي نو هغه د جواز په قول عمل کولی شي. ۱۹ ذیقعده ۱۳۴۶ھ، (تتمه خامسه صـ۶۰۶).

## د فوټو ګراف او د لهو و لعب د آلاتو په اجرت سره مرمت کول

**سوال** :(۱۸۵) زه د آهنګرۍ کار کوم په هغې کې بعضې کسان غیر مشروع څیزونه هم د مرمت لپاره راوړي، مثلاً نغاره، فوټو ګراف، وغیره نو آیا د هغې مرمت کول عند الشرع جائز دي او که نه؟ او کوم چه د هغې مزدوري ده نو هغه به حلال کسب ګڼل کیږي او که حرام؟

**جواب** : د دې څیزونو جوړول صحیح نه دي. ۷ ربیع الاول ۱۳۳۰ھ، (تتمه اولی صـ۱۸۳، حوادث صـ۴۰).

## سرکاري نرخ باندې غله اخستل

**سوال** :(۱۸۶) په ضلع کې د غلې نرخ پنځه سیره، پاوکم پنځه سیره وو، د حکومت د طرف نه شپږ او پاوباندې شپږ اوریدل کیږي، زمونږ مقدس شریعت په دې باره کې څه فرمائي، په دې زیاتوالي سره واخستل شي او که نه نو د هغوئ په نیت کې خو د غلې اخستلو په وخت همدا خبره وي چه کله ګرانه شي بیا به ئې خرڅوو، کوم چه ستاسو ارشاد وي هغه دې وویل شي؟

**جواب** :"فی الدر المختار لایسعر حاکم الا اذا تعدی الارباب من القیمة تعدیا فاحشا یتسعر بمشورة اهل الرایی وقال مالك علی الوالی التسعیر عام الغلاء وفی الاختیار ثم اذا سعر وخاف البایع ضرب الامام لونقص لا یحل للمشتری وفی رد المختار قوله ولایحل للمشتری ای لایحل له الشراء بما سعره الامام لان البایع فی معنی المکره کما ذکره الزیلعی اقول وفیه تامل لانه مثل ما قالوا فیمن صادره السلطان بمال ولم یعین بیع ماله فصار یبیع املاکه بنفسه ینفذ بیعه لانه غیر مکره علی البیع وههنا کذلك لان له ان لایبیع اصلا ولذا قال فی الهدایة ومن باع منهم بما قدره الامام صح لانه غیر مکره علی البیع الخ لان الامام لم یامره بالبیع وانما ان لا یزید الثمن علی کذا وفرق ما بینهما فلیتامل اه ج ۵، صـ ۳۹۵،۳۹۴). د دې ټول عبارت نه دا معلومه شوه چه په تپوس شوي صورت کې جواز متردد فیه کې ضرر دی، او که څوک احتیاط وکړي نو د هغه همت دی، لیکن اخذ بالجواز کې ګنجائش شته دی، خلاصه دا چه فتوی په جواز باندې ده. "وانا

اختارشق الجوازلضعف همتی". او په تقوی تحرز کې دي؛ "وبعض احبابی اختارشق التقوی لقوة همة فقط". (حوادث خامسه صـ۲۳).

## په بعضې سرکاري مجامعو کې تجارت

سوال :(۱۸۷) یو کس رایه ورکوي چه د انګریزي دربار په نمائش کې چه په جنوري کې به په دهلي کې وي، د مراد آباد د لوښو یا د بل څه دکان دې کولاو کړی شي، یا دې د دربار ټیکه واخستل شي، ما جواب ورکړو چه دا د کافرو سره اعانت کول دي، نمائش داسې نه دی ځکه چه نمائش به د دربار ختمیدو نه بعد کیږي، د دې نه غرض د دربار ښائسته کول نه دي بلکه د ملک د صنعت وحرفت معلومول ورنه منظور دي، لکه څنګه چه په نورو وختونو کې په مختلفو ځایونو کې نمائشونه کیږي، دې کې ستاسو څه ارشاد دی، که په داسې ځایونو کې شرکت ناجائز دی، نو د خپلې دواخانې اشتهارات تقسیمول صحیح دي او که نه؟

جواب : د کفارو جمع کیدل مطلقا معصیت نه دی، بلکه صرف کوم چه د معصیت یا کفر د وجې نه منعقد کړی شي، د داسې مجمع شرکت او اعانت ټول حرام دئ، او کوم چه مباح غرض سره وي لکه مجمع مسلو عنه چه صرف تزاید سرور او د حکومت د استحکام لپاره وي، زما په نزد د دې دا حکم نه دی که د کوم مقتدا د شریکیدو نه دا احتمال وي چه عوام الناس به زما سند ونیسي او ناجائزه مجمعو ته به هم ځي نو هلته به سداً للذرائع داسې کس له ځان بچ کول واجب وي، او اشتهار تقسیمول خو په هر حال کې واجب دي، دې کې خو د تکثیر سواد لپاره هیڅ نشته. والله اعلم (حوادث ۲۰۱ صـ۷۵).

## د هندوانو نه متهائي اخستل

سوال :(۱۸۸) د هندوانو د دکان نه متهائي وغیره اخستل او د هغوئ سره خوړل څنګه دي، جائز دي او که نه؟ که جائز وي نو څنګه؟

جواب : که ظاهراً کوم نجاست نه وي نو جائزه ده لیکن که په دې باندې هم یو مسلمان ورور ته فائده ورسول شوی نو زیاته بهتره ده. ۸ رمضان ۱۳۳۱هـ؛ (حوادث ۲۰۱ صـ۱۱٦).



## د غاښونو جوړولو والا ته پیشګي قیمت او مزدوري ورکول

سوال :(۱۸۹) غاښونو جوړولو کې زمونږ قاعده دا ده چه د غاښ جوړولو والا د مریض نه نیمې روپئ یا د نیمې نه کمې روپئ وړاندې اخلي، د هغې مطلب دا دی چه که هغه غاښونه په ما جوړ کړي او لګولو له ئې رانه شي نو زمونږ تاوان ونه شي، بلکه څه د هغه هم وشي ځکه چه یو کس د خولې په ناپ اخستل شوي غاښونه د بل په خوله کې کله هم نه راځي، ګویا چه دا کار ناممکن دی، د یو کس غاښونه جوړول مې شروع کړل او قیمت ئې اتلس روپئ مقرر شوی وو او پنځه روپئ بیانه مې واخستله، او کار مې شروع کړو اوس هغه کس مړ شو، مګر غاښونه د هغې تیار پراته دي، نو اوس دا پنځه روپئ مونږ کیږدو او که نه د هغه وارثانو ته واپس کول پکار دي؟

جواب : "فی الهدایة مسایل الاستصناع؛ والصحیح انه یجوز بیعا لا عدة والمعدوم قد یعتبر موجودا حکما الی قوله وهذا کله هو الصحیح فی الکفایة فان قیل لو کان بیعا لما بطل بموت الصانع او المستصنع؛ قلنا الخ". د دې روایتونو نه دا معلومه شوه چه اول دا معامله وعده نه بلکه بیعه ده، نو جوړونکی ئې د اخستلو نه انکار نه شي کولی، او د انکار په صورت کې جوړونکی قیمت ایسارولی شي، دویم دا چه د یو په مړ کیدو به دا معامله فسخه شي، په دې صورت کې وصول شوې روپئ د ضانع په ذمه واپس کول ضروري دي. قرب ۱۳۳۸هـ؛ (حوادث خامس صـ۳۲).

## که اخستونکی مړ شي نو د بیع نامې روپو واپس کول

سوال :(۱۹۰) اوس یو سوال دی چه یو کس د غاښونو تیارولو لپاره وویل او پنځه روپئ ترې پیشګي واخستل شوې او د غاښونو تیاریدو په وخت راغی او خوله کې ئې ولګول مګر غاښونو کې یو نقص پاتې شو، غاښونه د جوړولو په غرض سره بیا لرې کړی شول، نو د صحیح غاښونو اخستلو نه وړاندې هغه کس مړ شو، اوس دلته څه مسئله ده، دا روپئ وارثانو ته واپس کړم او که نه؟

جواب : زما په نزد چه کله هغه جوړ کړی شوي غاښونه واخستل او هغه د فرمائش موافق وو، او داسې لږ کموالی چه د عرف موافق دی، د فرمائش خلاف نه وي، نو بیعه پوره شوه او د جوړولو والا د غاښونو مالک شو نو ځکه صانع د نور قیمت مستحق دی، او د باقي مطالبه به کوي. قرب ۱۳۳۸هـ؛ (حوادث خامسه صـ۳۳).

# کتاب الربوا

## د مني آرډر حکم او د مني ارډر متعلق د بعضې شبهاتو حل

**سوال** :(۱۹۱) زید او عمرو ترمنځ مني آرډر لیږلو کې لانجه ده، زید وائي چه حلال دی او دلیل دا بیانوي چه هر څیز کې اصل اباحة دی، عمرو وائي چه چونکه دا روپۍ لیږل د کومې شرعي معاملې لاندې داخل نه دي نو ځکه ناجائز دي، زید وائي چه دا د شرعي معاملې لاندې داخل دي، او داخلیدل داسې بیانوي چه که یو حمال نه څه کار واخلي او مزدوري پیشګي ورکړي نو جائزه ده، عمرو وائي چه په دې دواړو مسئلو کې فرق دی، اول صورت په دویم باندې قیاس کول صحیح نه دي، ځکه چه مني آرډر کې دا شرط دی چه اجرت مخکې اخستل کیږي، او حمال ته د وړاندې نه اجرت ورکول شرط نه دي، بلکه د ورکونکي احسان دی، که مخکې ئې ورنکړی نو جمال شرعاً یا عرفاً هغه غوښتلی نه شي، او مني آرډر خو هغه وخت پورې نه روانیږي ترڅو چه د وړاندې نه اجرت وانخلي، د دې نه علاوه عمرو یوه بل وجه هم بیانوي، هغه وائي حمال باندې قیاس د دې وجې نه صحیح نه دی چه د حمال سره چه څه وخت پورې بوج وي هغه امین دی، که د هغه نه ورک شي نو تاوان ترې نه اخستل کیږي، لکه ځنګه چه د امین نه نه اخستل کیږي، او که د مني آرډر روپۍ د ډاکخانې والا نه چیرته ورکې شي نو د هغوئ نه تاوان اخستل کیږي، او ډاکخانې باندې دا شرط دی که روپۍ ورکې شي نو تاوان به ورکوي، د دې نه علاوه د ناجائز کیدو یوه بله وجه هم بیانوي، حمال نه ته همغه څیز اخلې او په مني آرډر کې همغه روپۍ نه ملاویږي، زید وائي چه عموم بلوی ودفع حرج او تعامل د علماو نه هم بعضې ناجائز څیزونه هم جائز کیږي، او دا خو مباح الاصل دی، دا به ولې ناجائز وي، مثلاً د غلې لَو او په هغې کې چارپایان متیازې هم کوي، دې باندې ټول پوهیږئ بیا عموم بلوی ورفع حرج د وجې نه ټول ورته حلال وائي، او دا غله ټول استعمالوي، همداسې که مني آرډر هم بالفرض ناجائز وي نو جائز به شي، اوس د شریعت د مخې د دې خبرې فیصله وکړئ، او غوڅه خبره وکړئ چه زړه ته مو تسکین ملاو شي؟

**جواب** : قاعده کلیه ده، "الاقراض تقضی بامثالها" او منصوص دي چه په قرض کې کموالی او زیاتوالی ربوا (سود) دی، اوس په دې پوهیدل پکار دي چه د مني آرډر روپۍ کومې چه په ډاکخانه کې لیږل کیږي، آیا هغه امانت دی او د ډاک والا مزدور یا قرض دی، او د ډاک والا قرضدار، نو



چونکه معلومیږي چه هغه روپۍ بعینه نه لیږل کیږي، او دا قانون دی چه که اتفاقاً هغه د ډاکخانې نه ضائع شي نو د ډاک والا تاوان ورکوي، د دې دواړو کارونو نه معلومه شوه چه امانت نه دی، بلکه قرض دی، چه بل ځای کې ادا کیږي، نو فیس هم د قرض حصه شوه، او وصولیدو په مقام کې چونکه د فیس کمولو سره ادا کیږي نو په قرض کې کموالی او زیاتوالی لازم شو، دا وجه د دې د منع کیدو ده، بلکه دا فیس هم نه وي بیا هم د قاعده کلیه موافق کل قرض به نفعا فهوا ربوا، نو دا مکروه دي، "فی الدر المختار کتاب الحوالة وکراهة السفجة" او چونکه دا د اجارې عقد نه دی لکه ځنګه چه بره ذکر شول نو د حمال سره د دې هیڅ تعلق نشته، "کما هو ظاهر" او عموم بلوی په طهاراتو او نجاساتو کې موثره ده، نه په حلت او حرمت کې او تعامل دې ته نه وائي، بلکه هغه د اجماع یو قسم دی، او په دې کې د اجماع شرائط موندل کیدل ضروري دي، من جمله د دې نه هم چه د یوې زمانې علماء دا بغیر د نکیر نه قبوله کړي، په متنازع فیه کې دا امر مفقود دی، نو ځکه دا تعامل نه دی، یو عامیانه رواج دی چه شرعا حجت نه شي کیدی، د دې سره د مذکوره نظائرو د زید جواب وشو، والله اعلم. د ډیرې خولې ویستلو نه وروستو د دومره تاویل ګنجائش کیدی شي چه فیس ته د کتابت او فارم اجرت وویل شي، دې سره خو به د زیاتوالي حرمت ختم شي مګر د سفتجه کراهت به باقي وي، والله اعلم. ۱۸ ذیقعده، ۱۳۲۰هـ، (امداد جـ۲، صـ۲۷، وحوادث اول صـ۱۲).

## د مني آرډر متعلق د شبهاتو حل

**سوال** :(۱۹۲) ایا د مني آرډر د جواز دا تاویل کیدی شي او که نه؟ چه دې معاملې ته مزدوري او د روپو رسولو فیس وویل شي، او په دې باندې چه کومې دوه شبهې دي یو دا چه بعینه روپۍ نه رسول کیږي، دویم دا چه تاوان پرې نشته دی، د دې دا جواب کیدی شي او که نه چه روپۍ د نغدیدو د وجې نه تعینیدی نه شي، بلکه د هر مثلي دا حکم دی چه په معنی کې تعین نه کیږي، لکه ځنکه چه هګئ چه خلقتاً مثلي ده، او چهترئ چه صنعتاً مثلي ده او اجیر مشترک باندې په داسې صورت کې ضمان چه د اجیر په فعل سره نه وي هلاک شوی ګویا چه هغه هلاک ممکن الاحتراز وي، د صاحبینو په نزد مشروع دي، بینوا توجروا؟

**جواب** : دا تاویل صحیح نه دی، د دغه دوه شبهو دوجې نه چه په سوال کې ذکر دی او د دې چه کوم جوابونه ورکړی شوي دي په هغې کې خو اول جواب بالاجماع صحیح نه دی ځکه چه دا

عدم تعین صرف عقودو کې دی، باقي په اماناتو او مغصوباتو کې نقود هم متعین دی، همدا وجه ده
چه که د چا روپۍ چا سره امانت وي نو هغه له دا جائز نه دي، چه دا هغه روپو خرچ کولو بدل
ورله ورکړي، البته که اجازت سره داسې وکړي نو بیا به قرض شي، همداسې که ئې د چا روپۍ
غصب کړی او هغه موجود وو، پکار ده چه دا واپس نه کړم، او د خپل ځان نه دویم له ورکړم نو
مالک له د انکار کولو او بعینه د خپلو روپو اخستلو حق لري او په نوزو مثلیاتو غیر نقودو کې خو
دا حکم ډیر ظاهر دی، مثلاً چا د چا سره د چرګې لس انډې امانت کېښودلې، یا دا چه هغه غصب
کړي، او د هغې په موجودګۍ کې هغه امین یا غاصب د مالک د رضا نه بغیر دا وغواړي چه هغه
انډې ورنه کړم، بلکه نورې انډې ورکړم نو هغه دا حق نه لري او که په رضا سره داسې وشي نو
هغه به د امانت یا رد مغصوب نه وي، بلکه مبادله او بیعه کې به داخل شي، او په ذوات القیم کې دا
حکم نور هم ظاهر دی، ګویا چه په ظاهري نظر کې ځیز مثلث معلومیږي.مثلاً یو کس د بل سره خاص
نمبر چهترۍ امانت کېښوده، یا ئې غصب کړه که دا امین یا غاصب وغواړي چه دا د ځان سره کیږدي
او هغه له بل نمبر ورکړي نو دا ناجائزه ده د کوم وجه چه صرف دا ده چه هغه متعینه ده، بهرحال په
اماناتو او مغصوب کې پخپله نقود هم متعین کیږي، فقهاو د دې قاعدې تصریح هم کړې ده او د حدیث
الفاظ علی الید ما اخذت هم په دې باندې صفا دلالت کوي نو د موول دا جواب صحیح نه شو.

او د دویمې شبهې جواب اول خو د امام صاحب په قول صحیح نه دي، دویم دا که روپۍ بعینه تللي
نو د صاحبینو په نزد صحیح کیدی شوی، او کله چه داسې نه ده نو هغه اجاره ده چه ډاکخانې ته
په کې اجیر مشترک وویل شي نو بیا د صاحبینو په قول هم دا جواب نه چلیږي، دریم که د دې نه
قطع نظر هم وکړی شي بیا خو هم اوله شبهه په هر حال کې باقي ده، نو د دې معامله په نه اجاره
چه کوم دلیلونه وو غایه ما في الباب هغه په منتفی شي مګر کوم چه پاتې دي هغه هم د دعوې
ثابتولو لپاره کافي دي ځکه چه د دعوې لپاره د مطلق دلیل حاجت دی، نه چه د خاص دلیل همدا
وجه ده چه اهل فن د دې تصریح کړې ده، چه د نفي دلیل خاص لره مستلزم نه دي ځکه چه د
خاص په نفي سره د عام نفي نه راځي.

خلاصه دا ده چه د مني آرډر د جواز تاویل کوم چه تپوس کونکي نقل کړی دی، صحیح نه دي او
دا د اقراض او استقراض په معامله کې داخل دي، اګرچه د متعاقدینو دا قصد نه وي، لکه ځنګه چه
امانت په اجازت سره مصرفولو کې هغه قرض کیږي، اګر که د هغې قصد ئې نه وي، البته فیس نه د



لیکلو او د فارم لیږلو اجرت ویلو سره د دې حرمت رفع کولی شو، مګر د سفتجه د کراهت دفع
کولو هیڅ خیال ذهن ته نه راځي، د ابتلاء عام د وجې نه زړه ضرور غواړي چه د دې هم څه وجه
راووځي، او اکثر غور هم کیږي او د دې هم منتظر یو چه که بل عالم مو خبر کړي، کـه دا هـم
صحیح نقل سره معلوم شي چه د سفتجه د جواز طرف ته د څلورو ائمه و نه یو امام هم تللی دی،
نو بیا هم د ضرورت دوجې نه به په هغې باندې عمل وکړی شي، لیکن د حق قواعدو نـه د وتلـو
جرات نشته، او حدیث "اجروهم علی الفتیا اجروهم علی النار" نه ویریږم. کتبه اشرف علي. ۲۲ جمادی الاخری
۱۳۳۱ھ، (حوادث ۲۰۱ صـ۲۴).

## د مني آرډر تحقیق

**سوال** :(۱۹۳) د مني آرډر په ذریعې سره چه کومې روپۍ لیږل کیږي نو دا معامله نه خو اجاره ده
ځکه چه دا روپۍ بعینه نه رسیږي او نه قرض، په دې صورت کې به مني آرډر ولې صـحیح وي، او
که مني آرډر لیږل صحیح نه وي نو په دې کې خو لویه ګناه ده، ځکه چه اول خو ئې لیکل مکروه،
نوټ او بعضې وخت په بټه باندې هم نه ملاویږي، نو په دې صورت کې ډیره مشکله ده که لـږې
روپۍ لیږل وي، مثلاً د ۱۵ روپو نه کم نو نه خو د هغې نوټ ملاویږي او نه هنډي، په دې وخـت
کې به د دې نه علاوه بل کوم صورت کیږي، چه په لیږونکي پخپله روپۍ یوسي او په دې کې ډیره
زیاته تنګي ده نو په دې صورت کې څه وکړی شي؟

**جواب** : مني آرډر د دوه معاملو مرکب دی، یو فرض چه د اصل روپو متعلق دی، دویم اجاره کوم
چه د فارم په لیکلو او لیږلو باندې د فیس په نوم ورکول کیږي، او دواړه معاملې جائزې دي، نو د
دواړو مجموعه هم جائزه ده او چونکه په دې کې ابتداء عامه ده نو ځکه دې تاویل کولو سـره د
جواز فتوی مناسب ده. ۹ شوال ۱۳۲۲ھ، (حوادث ۲۰۱ صـ۱۵۴).

## د نوټ خرڅولو او ګنو سالې د اعانت نه د بچ کیدو تدبیر

**سوال** :(۱۹٤) دلته د مالګې تجارت کیږي او په درې ځایونو کې کارخانې دي، یو آړهتي راته ډیر
معتبر ملاو شوی دی، او د روپو رالیږلو طریقه مو دا اینښې ده چه کله مال خرڅ شـي نـو نـوټ
رالیږي، یو ځل چه په ما باندې روپۍ پاتې وې او هغه ته ناوخته ورسیدې، نو هغه رابانـدې سـود
ولګولو ما ورله سود ورنکړو او ورته مې وویل چه زمونږ مذهب کې سود اخستل او ورکول حرام

دي، هغه وویل چه مونږ به سود نه اخلو او دا معامله هم وشوه چه کله به هم سود لین دین نه کوو، البته کله چه نوټ رالیږي نو کموالي سره ئې رالیږي، مثلا في سیکړه دوه آنې یا دری آنې کټ کوي، د دې د کمولو شرحه په مختلفو وختونو کې مختلفو طریقو سره کیږي، او څه روپۍ مونږ ته د ګوساله په نوم هم کموي، صرف مونږ نه نه، بلکه دا قاعده د هر چا ده، نو دا سوال کوم چه آیا دا کارونه ناجائز نه معلومیږي، نو په دې باره کې باید څه وکړی شي..... که هغه ته دا وویل شي چه مونږ به دا معامله نه کوو نو هغه به ئې کله هم ونه مني، ځکه چه په نوټ کې کموالی دلته په سود کې نه شمیرل کیږي، نو زمونږ دپاره چه نوی قانون جوړ نه کړي نو اوس کومه حیله وکړی شي په کوم سره چه معامله د شریعت موافق وشي، او دا هم ولیکئ که هغه داسې معامله کوي نو په ما باندې به اُخروي مواخذه وي او که نه؟ او د نوټ کموالی زیاتوالی صرف د مسلمانانو ترمنځ ناجائز دی یا که یو طرف ته مسلمان او بل طرف ته کافر وي نو جائزه ده او که نه؟ د ټولو کارونو جواب تفصیل سره ولیکئ؟

**جواب**: د نوټ حقیقت حواله ده او په حواله کې کموالی او زیاتوالی کله چه معروف او مشروط وي نو دا سود دی، البته که بغیر د شرط او عرف نه وي نو په بعضې صورتونو کې د صلحې تاویل کیدی شي مګر اوس ممکنه نه ده زما په پوهه کې خو د دې تدبیر د دې په ځاي چه نغدې روپۍ ترې واخستل شي بل څه نه راځي یا هغه باندې دا خبره ثابته کړی شي چه زمونږ په مذهب کې دا سود دی، یا د هغې څه حق ور زیات کړی شي او دا تدبیر غالبا اسان دی، پاتې شوه د ګوساله قصه، که هغه ستا مشتري او ته بائع وې نو بیا خو د خط ثمن په تاویل سره دا جائزه کیداي شوه ګویا چه خپلې روپۍ هلته ورکوي او هغه قیمت کم ورکوي، لیکن آړهتي وکیل وي، هلته دا تاویل ممکن نه دی، نو ځکه زما په نزد دی هغه داسې پوهه کړی شي چه د آړهتي حصه او د ګئوساله حصه دې ټوله د آړهتي په حق کې شمار کړی شي، بیا که ئې هغه هر څنګه لیکي په دې کې حرج نشته. فقط والله اعلم. (حوادث او ۲، صــ۸۴).

## د سود ورکونکي د ګناه نه د براءت شبهه

**سوال**: (۱۹۵) یو کس سود اخلي او خلک ئې ترې هم په سود اخلي، کله چه د خلکو بیچاره ګانو څه سامان نه وي بیا مجبورا قرض اخلي نو په دې حالت کې به آیا سود اخستونکی او



ورکونکی ګناهګار وي، هغه بیچاره خو ئې د مجبورئ نه اخلي کله چه سامان بالکل نه وي، کنه نو نه به ئې اخستلو، که بل چا بغیر د سود نه اخستلې نو ولې به ئې داسې کول، نو په دې حالت کې به صرف اخستونکی ګناهګار وي او که ورکونکی؟

**جواب**: کوم خلک چه سودي روپۍ اخلي تراوسه چه کتل شوي دي فضول ئې اخلي او څوک چه ئې دضرورت نه هم اخلي نو د خپل کور ذخیره او اسباب محفوظ ساتل غواړي چه دا هم راسره وي او په قرضو هم کار وچلیږي، نو دا هم په ضرورت کې اخستل نه شو، هغه ضرورت داسې هم پوره کیدلی شي چه اول خپل ټول څیزونه خرڅ کړې، یا چه خپل شان کې مزدوري کول عار ګڼي نو عقلا او شرعا دا ضرورتونه د اعتبار قابل نه دي، بیا د دې نه وروستو د اضطرار په حالت کې سوال کول د داسې مردارئ خوړلو نه صحیح دي نو په سود باندې اخستل په یو حالت کې هم درست نه دي نو ځکه به ګناهګار وي، فقط والله اعلم. ۲۵ شعبان ۱۳۲۱ هـ، (امداد جـ۳ صـ۳۳).

## د هغه روپو حکم چه ملازمینو له د سرکار نه د سود په نوم په لاس ورځي

**سوال**: (۱۹۶) بعضې کسان د حکومت نوکران دي، یعنې په رساله کې نوکران شوي دي، د چا ۱۶ کاله وشو، او د چا ۱۸ کاله او کله چه نوکران شوي وو نو دا قاعده نه وه کومه چه اوس د ده څلورو کالو نه جاري شوې ده، یعنې هره میاشت سرکار پنځه روپۍ کټ کوي، کله چه ۲۵۰ شي بیا ئې نه کټ کوي، او هغه روپۍ په بینک کې جمع کیږي، او کوم کسان چه د سود اخستلو نه انکار کوي حکومت ترې دستخط اخلي او د سود روپۍ هم د اصل سره یوځاي کوي، او هغه روپۍ په خپل مصرف کې راوړي، یعنې که د سپور اس مړ شي نو حکومت ورله په همدې روپو باندې اس اخلي، او د چا چه اس مړ نه شي حکومت ورله هره میاشت سود ورکوي، غرض دا چه د بچ کیدو هیڅ صورت نشته چه د هغه روزګار هم قائم وي، او د سود نه هم بچ وي، مګر که اس ئې مړ نه شي نو کله چه نوکري پریږدي نو ټولې روپۍ د سود سره حکومت ورکوي او که هغه غواړي چه جمع واخلم او سود وانخلم نو د هغه جمع شوې روپۍ هم وهل کیږي او تنخواه د میاشتې ۳۰ روپۍ ده؟

**جواب**: خاص په دې صورت کې چه حکومت کوم د سود په نوم ورکول کوي دا سود نه دی، د دې اخستل صحیح دي، لیکن د خداي دپاره نور صورتونه دي، په دې باندې قیاس نه کړی شي. "لان ماله مباح برضاهم وانما یلحق فی بعض الصور اثم العقد ولا عقد بالجبر". لیکن که د سود اندازه روپۍ

په مسکینانو مصرف کړی شي نو ډیره ښه ده."دع ما یریبك الى ما لا یریبك فقط".

## د ریل په محکمه کې د ملازمینو د تنخواه چه کومه

## حصه کټ کیږي او د سود سره ملاویږي د هغې حکم

**سوال** :(۱۹۷) په ریلوی محکمه کې چه کومو ملازمینو ته ۱۵ روپۍ یا د دې نه زیاته تنخواه د میاشتې ملاویږي، د هغو د تنخوا دولسمه حصه کټ کیږي، او حکومت ئې جمع کوي یعنې یو کال کې د یوې میاشتې تنخواه حکومت جمع کوي، په دې باندې د ریلوی منافع او آمدن سره حساب ملاویږي، یعنې وخت د دغه روپو برابر او بعضې وخت زیاتې او بعضې وختونو کې کمې"، غرض دا چه څومره فائده وشي هغومره ملازم ته ملاویږي، په دې باندې هم سود ملاویږي، درې روپۍ فې صدي یا څلور روپۍ في صدي د دې ریاست په ریلوی کې چه څومره مسلمانان دي هغوئ ټول دا منافع اخلي، او سود اکثر نه اخلي او بعضې ئې اخلي، د تنخواه دولسمه حصه د هغه چا کټ کیږي چه ملازمت ئې مستقل وي، او ۱۵ روپۍ یا ته تنخواه ئې وي، د نورو نه نه کټ کیږي، دا ټولې روپۍ صرف هغه وخت ملاویږي کله چه ملازمت پریږدي، او داسې کار ئې نه وي کړی چه بدنامي سره شړل کیږي، کنه نو نه ملاویږي، که د ملازمت په دوران کې ئې څوک وصولول وغواړي نو نه ئې شي کولی، د حکومت ملازمت کې پنشن ملاویږي او دلته صرف دا روپۍ ملاویږي، ملازم هم په مجبورئ سره دا روپۍ کټ کوي څکه چه بله چاره ئې نشته دی، او نه اختیار لري تاسو د دې منافع د روپو په باره کې څه فرمائي؟ دا په سود کې خو نه شمارل کیږي دا قاعده په هر ریلوی کې ده؟

**جواب** : اخستل جائز دي او داسود نه دی، د دې په وجه باندې لیکلو سره نه شي پوهیدی. ۲۷ جمادی الاخری ۱۳۳۷هـ، (حوادث او ۲ صـ۳۳، تتمه اولی صـ۱۶۸).

**سوال** :(۱۹۸) حکومت دا تپوس کوي چه هر ملازم دې د سرکاري تنخواه ۲/۱ ۶، نه ۲/۱ ۱۲ روپۍ صدي حساب سره هره میاشت په سرکاري خزانه کې جمع کوي او کله چه ملازمت پریږدي، که پنشن شي او که پخپله ئې پریږدي، ۴ روپۍ في صدي سود سره ملاویږي؟

**جواب** : د دې مسئلې جواب دا دی چه د تنخواه یوه حصه داسې کمول او بیا په یو ځل اخستل اګرچه د هغه سره د سود په نوم سره څه روپۍ ملاو شي، دا ټوله جائزه ده څکه چه دا په حقیقت کې سود نه دی، څکه چه د تنخواه کومه حصه چه وصول شوې نه ده او د دغه ملازم په ملکیت



کې نه ده داخله شوې، نو هغه زیاتې روپۍ د هغه د مملوک ځیز انتفاع نه شوه بلکه ابتدائي تبرع ده اګر که حکومت ورته په خپله اصطلاح کې سود ووائي، فقط. ۲۷ ذی الحجه ۱۳۲۷هـ، (حوادث او ۲ صـ۳۴، وتتمه اولی صـ۱۷۰).

**سوال** :(۱۹۹) د ریلوی ملازمینو ته پنشن نه ملاویږي، د دې په ځاي هلته دا قانون دی چه د ملازم د تنخواه نه مثلا في صدي دوه روپۍ کموي او دا قانون دی که څوک راضي وئ او که نه وي او څومره چه میاشت په میاشت لرې کوي نو کمپنئ یا حکومت هم هومره روپۍ هغه له ږدي، او بیا دا مجموعه چه میاشت په میاشت د کمپنئ د طرف نه تجارت له ورکول کیږي او د هغې سود برابر د هغه لپاره ږدي، کله چه د ملازمت زمانه ختمه شي نو دا ټولې روپۍ په یو ځل ورکوي، د تنخواه نه چه څه کمې کړي هغه خو د هغه حق دی، او په حلالیدو کې ئې هیڅ شک نشته، او کمپنئ چه د خپل طرف نه کومې ډبلې روپۍ د هغه لپاره ږدي هغې ته هم عطاء سلطاني یا انعام ویل کیدی شي، پاتې شو سود نو آیا هغې ته سود ویل او حرام وویل شي یا به هغه هم په انعام کې حسابیږي، د کمپنئ والا هغې ته سود وائي، حال دا چه هرې درې میاشتې پس د هغې حساب رالیږي، آیا دا نه شي ویل کیدی چه دا هم انعام او جائزه ده که هغوئ ورته سود وائي او که بل څه؟ ما پرې ډیر غور وکړو نو خیال هم دې طرف ته زیات ځي، تاسو څه فرمائئ؟

**جواب** : زما هم د یوې مودې نه خیال وو چه دا صله ده په نوم سره حرمت نه راځي. ۸ ذی الحجه ۱۳۳۸هـ، (حوادث خامسه صـ۳۶).

**سوال** :(۲۰۰) بعضې سرکاري ملازمین حکومت سره دا خبره د کاغذاتو په ذریعې سره کوي چه زمونږ د تنخواه نه دې مثلا لس روپۍ وضعه کړی شي او مثلا شل کاله بعد چه په دې روپو باندې څومره جمع شي یو وار دې مونږ ته راکړی شي، که دا ژوندی وئ نو بیا خو ئې ورکوي او که مړ شو نو حکومت همدومره روپۍ د هغه وارثانو له ورکوي، اګر که ملازم دوه میاشتې وروستو مړ شي او د ژوند اوسیدو په اندازه باندې په جمع شوې باندې څه اضافه والی هم ورکول کیږي، بعضې خلک دا په قمار کې داخلوي، حال دا چه تعریف پرې صادق نه راځي، څکه چه مال من الجانبین نه دی، څکه چه د تنخواه خصه غیر مقبوض تراوسه پورې د هغې په ملکیت کې نه ده داخله شوې لکه څنګه چه د جناب د حوادث الفتاوی د ۳۵ صفحې ظاهریږي، اوس د دې مسئلې متعلق د جواز او عدم جواز تصریح وکړئ، او دا شبهه هم رفع کړئ چه د فقهي کتابونو موافق که په اجاره کې د

درې شروطو نه يو شرط موندلو سره هغه مملوک کيږي تعجيل يا شرط تعجيل يا استيفاء د منافع، اوس چه کله ملازم يوه مياشت کار وکړو، نو د يوې مياشتې د منافع استيفاء خو وشوه، لهذا د يوې مياشتې د اجرت هم مملوک کيدل پکار دي، اګر که قبضه نه وي کړې شوي، د دې نه علاوه اګرچه د تعجيل شرط نشته دی، المعروف کالمشروط قاعده چه فقهاء استعمالوي، دلته ولې جاري نه کړی شي، حال دا چه دستور العمل هم دا تائيد کوي چه د مياشتې تنخواه باقاعده نه ملاويدو باندې ملازمت پريښودل کيږي، اوس غير مقبوض حصه چه مملوک نه ده د هغې مدلل او موجه کولو تکليف ورکول کيږي او دا هم معلومول مقصود دي چه مطلقا د اجاراتو دا قاعده ده يا د ملازمت سره صرف دا مختص ده؟

**جواب**: اصل مدار د دې معاملې جواز اباحة مال حربي برضائه دی، کوم علماء چه دې ته جائز وائي د هغوئ په نزد په دې کې ټول مذکور صورتونه داخل شوي، باقي ما دا غوښتل چه په يو عقد غير مختلف فيه کې داخل کړم، هغه وخت د حوادث والا توجيه په خيال کې راغله، او استيفا معقود عليه سره ملک کيدل په ذهن کې نه وو، مګر کله به ما احساس کولو، نن سبا سود تنبيه د وجې نه د (جزاکم الله خيرا) مې کتاب وکتلو نو زما هغه بناء غلطه ثابته شوه، (وکذا فی الهداية باب الاجر متی يستحق) اوس دا توجيه د جواز په مدار کې پاتې نه شوه، صرف اوله بنا باقي پاتې شوه کومه چه مختلف فيه ده، او کوم چه تاسو د تعجيل په نسبت سره ذکر کړي دي هغې باندې پوهه نه شوم ځکه چه د تعجيل مطلب دا دی چه استيفاء د منافع نه وړاندې ورکړی شي او هغه دلته نشته.

۱۹جمادی الاول ۱۳۴۲هـ، (ترجيح خامس ص۱۳۷).

**سوال**: (۲۰۱) بعضې محکمو کې حکومت جبراً تنخواه کټ کوي، او څومره چه کټ کوي تقريبا تقريبا هغومره خپل ځان سره د سود په نوم جمع کوي، بيا د پنشن نه وروستو هغه روپۍ ملاويږي، په مينځ کې که څه ضرورت پيدا شي نو د درې مياشتو د تنخواه په اندازه ورکول کيږي، کوم چه ۲۴ مياشتو کې په قسطونو وصوليږي، ليکن سود هم ورکوي، شرعاً داسې روپۍ راويستل جائز دي او که نه، ځکه چه په دې کې سود ورکول کيږي، ګويا چه هغه په خپل حساب کې جمع کيږي؟

**جواب**: په دې سوال کې دوه جزءونه د تحقيق قابل دي، يو د خپلې تنخواه په روپو باندې د حکومت نه سود اخستل نو دا مسئله خو مختلف فيه ده، نو دداسې کس خو خصوصيت سره دا ګنجائش دی، د کوم تنخواه چه جبراً کيښودل کيږي، دويم هغه روپۍ چه مينځ کې اخستل کيږي د



هغې سود ورکول نو هغه په دې مسئله مختلف فيها کې خو داخل نه دي، ځکه چه هغه د سود اخستلو مسئله ده، او دا د سود ورکول دي، د کوم حرمت چه مخصوص عليها دی، ليکن په دې کې يو تاويل کيدی شي هغه دا چه دا کس د حکومت نه قرضه نه اخلي، بلکه د دې چه کوم قرض د حکومت په ذمه دی، د هغې د يوې حصې مطالبه کوي، د کوم چه هغه ته شرعاً حق دی، بيا چه څه وخت دا روپۍ واپس کوي دا روپۍ د قرض ادا کول نه دي، بلکه د نورو جمع شوو روپو په شان دا هم حکومت ته قرض ورکوي، او کله چه واپس کړی شوې، روپۍ د هغه ملکيت دی، او سود د بل چا په روپو باندې وي، نو دا چه د سود په نوم سره ورکړی شوې دي، سود نه دی، نو هغه له ورکول هم سود نه دي، نو جائز به ورته ويل کيږي، بلکه د مذکور اخستلو حلت خو مختلف فيه دی، او د دې ورکولو حلت به په دې تاويل باندې متفق عليه وي، البته په آخر کې چه په دې روپو باندې کوم سود د حکومت نه اخستل کيږي، هغه به بيا اخذ مختلف فيه وي کما سبق.

والله اعلم. ۱۲ شوال ۱۳۵۳هـ، (النور ۹، ربيع الاول ۵۴هـ).

## د پراميسري نوټ نفع

**سوال**: (۲۰۲) د انګريزي پراميسري نوټ د حکومت نه نفع اخستل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا؟

**جواب**: "فی الهداية ولا ربوا بين المسلم والحربی دلت هذه الرواية بعد تفصيلها بتعليلها علی کون المال الذی حصل من حربی برضاه بلا عذر ولم بالعقود الفاسدة او الباطلة مباحا عند ابی حنيفة واباحة المال لا يستلزم اباحة العقد کما اذا باع الحرمن المستقرض الجاحد لاستيفاء حقه والوعيد الوارد فی النصوص لم ينحصر فی اکل المال بل يعم الاکل والعقد والاعانة کما روی لعن الله اکل الربوا وموکله وشاهديه وکاتبه (الحديث) فاقتضی هذا المجموع ان المال فی الصورة المسئول منها مباح وهذا العقد حرام اثم فالاخذ من المسلم والذمی ياثم باثمين ومن حربی باثم واحد هذا اذا ثبت کون الدار حرب ولم يثبت قوة دليل الجمهور والافلا مساغ لاباحة المال ايضاً والله اعلم. ۹ ربيع الثاني ۱۳۲۲هـ، (امداد ج۳، ص۳۴، حوادث او ۲، ص۸۶).

## د هندوستان ربوا (سود)

**سوال**: (۲۰۳) په هندوستان کې د يهودو او نصاراو نه سود اخستل د مولانا شاه عبدالعزيز رحمه الله په رايه باندې درست معلوميږي، او د مولانا عبدالحي رحمه الله په وينا صحيح نه دی، د تحقيق د مخې د چا قول معتبر دی ؟

**جواب**: احقر د دواړو بزرګانو تحریر نه دی کتلی، کنه نو د هغې متعلق به مې څه ویلي وی، بهر حال په نفس مسئله کې چه زما په ذهن کې څه راغلي دي هغه دا دي: "لایباح العقد لکونه ربوانهی عنه نصاً قطعیاً ویباح المال الماخوذ لان مال الحربی مباح برضاه بلاعذر به ولم ارا احدا من اصحاب الفتاوی حکم بحل العقد مقصودا والله تعالی اعلم وعلمه اتم. ۱۶ شعبان ۱۳۲۲ھ،

## د بره سوال متعلق سوال

(د مذکور سوال توضیح): "اقول یختلج فی قلبی اما اولا فان العلامة الدهلوی قد صرح بجواز اخذ الربوا من الحربی کما یدل علیه کلامه المنقول ولم یقل صراحة ولا اشارة ان المال مباح دون العقد واما ثانیا فلان العقد الربوی من الحربی لایخلو عن ان یکون اما صحیحا او فاسدا او باطلاً فعلی الاول لایصح الحکم بعدم اباحة العقد کما هو ظاهر وعلی الثانی الحکم بعدم اباحة العقد صحیح اما الحکم باباحة المال فغیر صحیح لان فساد العقد یورث خباثته فی المال کما هو مصرح فی الفقه وعلی الثالث فحکم العقد والمال ظاهر ولم نجد فی الکتب نوعا من العقد بحیث یکون العقد فاسداً او باطلا والمال حلالا واما ثالثا فان النص المحرم قوله تعالی احل الله البیع وحرم الربوا قطعی والخبر لا ربوا (الحدیث) لیس متواتراً ولا مشهورا فبای حجة خصص اصحابنا نصاً قطعیا فعلیکم الجواب بالدلیل لیشقی العلیل". د مولانا شاه عبدالعزیز صاحب قدس سره د عبارت محرره لاندې بیان شوی دی: مجموعه فتاوی مولانا عبدالعزیز قدس سره، جـ اول صـ ۳۲، (سوال) تمام اقلیم نصاری باتفاق دار الحرب هست یا نه، اگر هست اهل اسلام را ازان نصاری سود گرفتن جائز است (جواب) بشرطیکه در دار الحرب وروایات فقهیه مذکور است ملاحظه باید نمود چنانچه برخی ازان. درین قرطاس ثبت خواهد شد درین اقلیم آن مشروط راباید جست اگر متحقق شدند پس دار الحرب قرار یافت، "وبحکم اذا ثبت الشیئ ثبت بلوازمه" هرگاه دار الحرب شد ربوا گرفتن ودادن بکفره آنجا جائز شد، زیراکه در هدایه مذکور ست، "ولا ربوا بین المسلم والحربی في دار الحرب وقاعده مقرر است که الاطلاق في الروایات نفی عن تعمیمه" پس هر دو صورت اخذ واعطاء در نفي داخل لیکن مسلمان رابایدکه در دادن سود بحربی احتیاط کند بی ضرورت ندهد، ایضافیه ۲۸، (سوال) سود دادن بحربیان درست است یا نه؟ (جواب) عبارات کتب فقهیه عام واقع شده اند دادن وگرفتن را شامل اند مثل لا ربوا بین المسلم والحربی في دار الحرب، وقاضي ثناء الله صاحب پانی پتی در رساله توجیه دادن سود نیز نوشته اند این وقت فقیر را یاد نیست لیکن این قدر ظاهر است که گرفتن سود از حربیان باین وجه حلال است که مال حربي مباح است



اگر در ضمن آن نقض عهد نباشد وحربی چون خود بخود بدهد بلاشبه حلال خواهد بود دادن سود بحربیان باین وجه حلال ست که خورانیدن حرام بمسلمان درست نیست، وآنها حرام خوارند اگر چیزی بطریق سود داده خواهد شد بیش ازین نیست که حرام خواهد خورده اند؟

**جواب**: "قد رایت کلامه رحمه الله تعالی الدال علیما فهمتم فی قولکم اولا ولکن حجیة الدال تتوقف علی صحته فی نفسه وثبوته بالدلیل ولم یثبت ثم اطلاقه فی الاخذ والاعطاء مخالف لما صرح به فی الشامیة ان الفتح موید آله بالسیر الکبیر من ان مرادهم ما اذا حصلت الزیادة للمسلم لا مطلقا وما قلتم ثانیا فاقول عن العقد عندی فاسد او باطل ولا نسلم استلزم فساد العقد او بطلانه لخبیث المال الاتری ان عقد بیع الحر حرام او باطل لکنه لوراع من مدیونه الجاحد للدین بمثل دینه وقبض المال نادیا للاستیفاء بحقه یحل المال مع بطلان العقد ویتاید بما فی رد المختار من قول الدر المختار مطلقا بقوله ای ولو بعقد فاسد تحت قوله لان ماله ثمه مباح فیحل برضاه مطلقا آه فحکم بکون العقد فاسد او کون المال حلالاً وما قلتم ثالثا فالنص محرم للعقد وهو فیما ذهبت الیه فی فهم مراد اصحابنا حرام ولم ارا احدا من اصحاب الفتاوی فی المذهب حکم بحله مقصودا اما حل المال فالآیة غیر متعرضة له اثباتا او نفیا فلا دلالة ولا تخصیص؛ والله اعلم. ۱۳ ذیقعده ۱۳۲۱ھ،

(امداد، جـ۳، صـ۳۴، وحوادث او ۲ صـ۸۶).

## د هندوستان ربا

**سوال**: (۲۰٤) امداد الفتاوی جلد دریم کتاب الربوا صـ۳۴، ۳۵، ما مطالعه کړو، په هغې کې (لا یباح العقد الخ) او د "ولم ارا احدا من اصحاب الفتوی الخ) متعلق د بدائع الصنائع عبارت نه زمونږ په ناقص فهم کې څه شک پیدا کیږي، نو ځکه هغه بعینه نقل کوم، "لهما (ای لابی حنیفة ومحمد) ان مال الحربی لیس بمعصوم بل هو مباح؛ فی نفسه الا ان المسلم المستامن منع من تملکه من غیر رضاه لما فیه من الغدر والخیانة فاذا بدله باختیاره ورضاه فقد زال هذا المعنی فکان الاخذ استیلاء علی مال مباح غیر مملوك وانه مشروع مفید للملك کالاستیلاء علی الحطب والحشیش وبه تبین ان العقد ههنا لیس بتملك بل هو تحصیل شرط التملك وهو لرضاء لان ملك الحربی لایزول بدونه وما لم یزل ملکه لایقع الاخذ تملکا لکنه اذا زال فالملك للمسلم یثبت بالاخذ والاستیلاء لا بالعقد فلا یتحقق الربوا لان الربوا اسم لفضل یستفاد بالعقد (بدائع الصنائع جلد ۵ فصل شرائط جریان الربوا صـ۱۹۲). په کوم عبارت باندې چه کرښې دي هغه د امداد الفتاوی د ظاهر عبارت مخالف ګنړم که غیر مناسب ئې وګنې نو دا شک راله رفع کړې؟

**جواب**: ظاهره خو همغه ده په کوم چه تاسو پوهه شوئ لیکن دومره سوال نور هم باقي پاتې کیږي، چه پخپله د تلفظ بصیغة العقد څه حکم دی، آیا دې تلفظ ته به معصیت نه وایو لکه د مسلمانې

فاسقې سره نکاح موقوف ده، د هغې په رضا باندې که هغه رضا موقوف وي د کومې فسق کلمې په تلفظ باندې نو د دې تلفظ به څه حکم وي، زما همدا مراد دی ځکه چه د عقد اصلي حقیقت د صیحه خاصه تلفظ دی، اګر که کوم دلیل سره غیر تلفظ د تلفظ قائم مقام شي. (النور ۱ صـ۳، شعبان ۱۳۵۲هـ).

## رساله رَافِعُ الضَّنک عن منافع البنک

## د بینک نه د سود اخستلو حکم

**سوال** :(۲۰۵) د حنفي علماو نه د لاندې سوالونو تپوس کیږي، جوابونـه ئـې د حـوالې سره راولیږئ، سیونګ بینک او بنګال او لندن بینک د کوم شاخونه چه اکثره ځایونو کې په هندوستان کې دي، د انګریزي سرکار سرمایه ده، په هغې کې روپئ داخلول او سود پرې اخستل شرعاً څنګه دي، جائز دي او که نه؟انګریز حکومت ته په هندوستان کې قرض ورکول او د هغې سود شرعاً اخستل جائز دي او که نه؟ د وقف آمدن په داسې بینکونو کې بیا قرضونو کې مصرفول او دا سود بیا په وقف کې مصرفول جائز دي او که نه؟

**جواب** : اول څو اصول د مقدمې په طور لیکم بیا به جواب ولیکم:

**مقدمه اولی**: کومه مسئله چه زمونږ په ملګرو کې مختلف فیه وي، د هغې د ترجیح په قواعدو کې "بعد تطبیق بین الاقوال المختلفه" دا فیصله ده چه کوم کس د دلیل قوت باندې پوهیږي هغه دې هغه قول واخلي چه دلیلا قوي وي. "فی مقدمة ردالمختار رسم المفتی ان ما اتفق علیه اصحابنا فی الروایات الظاهرة یفتی به قطعا واما اختلف فیما اختلفوا فیه اولا صح کما فی السراجیة وغیرها انه یفتی بقول الامام علی الاطلاق ثم بقول الثانی ثم بقول الثالث ثم بقول زفر والحسن بن زیاد صحیح فی الحاوی القدسی قوة المدرک وفی ردالمختار قوة المدرک ای الدلیل وبه عبر فی الحاوی قال والذی یظهر فی التوفیق ای بین ما فی الحاوی وما فی السراجیة ان من کان له قوة ادراک بقوة المدرک یفتی بالقول القوی المدرک والا فالترتیب اقول یدل علیه قول السراجیة والاول اصح اذا لم یکن المفتی مجتهدا فهو صریح فی ان المجتهد یعنی من کان اهلا للنظر فی الدلیل یتبع من الاقوال ما کان اقوی دلیلا والا اتبع الترتیب السابق وعن هذا تراهم قد یرجحون قول بعض اصحابه علی قوله کما رجحوا قول زفر وحده فی سبع عشرة مسیلة فتتبع ما رجحوه لانهم اهل النظر فی الدلیل".

**مقدمه ثانیه**: د مسلمان او حربي ترمنځ ربوا مختلف فیه ده، امام صاحب او امام محمد د څو قیدونو سره د ربوا د جواز طرف ته تللی دی، او ابو یوسف او درې واړه امامان د عدم جواز طرف ته."فی



الدر المختار باب الربوا، ولا بین حربی ومسلم مستامن ولو بعقد فاسد او قمار ثمه لان ماله ثمه مباح فیحل برضاه مطلقا بلا عذر خلافا للثانی والثلاثة وحکم من اسلم فی دار الحرب ولم یهاجر کحربی فللمسلم الربا معه خلافا لهما الی قوله قلت ومنه یعلم حکم من اسلما ثم ولم یهاجرا وفی ردالمختار احترز بالحربی عن المسلم الاصلی والذمی وکذا عن المسلم الحربی اذا هاجر الینا ثم عاد الیهم فانه لیس للمسلم ان یرابی معه اتفاقا کما یذکره الشارح".

**مقدمه ثالثه**: اعانة علی المعصیة معصیت دی؛"قال الله تعالی تعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان".

**مقدمه رابعه**: که د چا لپاره د بل چا قول یا فعل د وقوع في المعصیة سبب شي، او هغه د ضرورت حد ته نه وي رسیدلی، نو د هغې پرېښودل په هغه باندې واجب دي، ډیر فقهي فروع په دې اصل باندې مبني دي.

**مقدمه خامسه تتمه للرابعه**: د تهمت او بدنامۍ ځایونو نه بچ کیدل ضروري دي.

**مقدمه سادسه**: د نهي اسباب مختلف او متعدد کیدی شي، نو د یو په رفع کولو سره د باقي رفع کول لازمیږي، وهذا ظاهر.

**مقدمه سابعه**: د چا د جواز د فتوی نه بعد هغه کار پرېښودل د فتوی د صاحب مخالفت نه دی، البته د وجوب د فتوی نه بعد هغه کار پرېښودل یا د حرمت د فتوی نه بعد د هغې کول بې شکه مخالفت دی.د دې مقدماتو د تمهید نه بعد اوس جواب عرض کوم چه د دویمې مقدمې نه معلومه شوه چه دا مسئله مختلف فیه ده، او د قائلین بالجواز په نزد هم په کې دومره قیود دي: (۱) هغه ځای دار الحرب وي.(۲) د حربي سره سودي معامله وي.(۳) اصلي مسلمان یا ذمي سره نه وي، او اصلي مسلمان هغه دی چه د دار الاسلام نه ئې دار الحرب ته امن راوړئ وي، هغه مسلمان چه په دار الحرب کې ئې اسلام راوړی وي، هغه اصل مسلم نه وي چه په دار الحرب کې اوسیږي، د دې څلورم قید تصریح مې چیرته د مخې نه نه ده تیره شوې، مګر د دې قاعدې تصریح ده چه د فقهي روایاتو مفاهیم حجت دی، نو په دې بنا باندې د بره روایتونو قید لازم دی، د دې نه بعد چه د دواړو قولو نه په دلائلو نظر واچول شو نو د ابو یوسف دلائل قوي دي، نو مفصلاً په رساله تحزیر الاخوان کې ذکر کړی شوې ده، د هغې نه صرف یو دلیل اوس ذکر کوم؛ د ربوا په تحریم کې ارشاد دی:"یا ایها الذین آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربوا ان کنتم مومنین". او ظاهره ده چه د باقي ربوا معامله چه کله شوې ده، ورکونکي او اخستونکي ټول حربیان وو، نو که د تحریم نه بعد د حربي سره داسې معامله جائزه وی نو د تحریم نه وړاندې خو به په درجه اولی جائز وي،

اوهغه روپۍ به حلالې وي، نو د دې پرېښودل به ولې فرض وي، او دا نص دلالــة او ثبوتــا دواړه قطعي دي، او د طرفينو دليل يا خو خبر واحد ده، يا قياس کوم چه ظني دی، او د قطعي تقديم پــه ظني باندې اجماعي دي، د امام صاحب نه اعتراض داسې لرې کيدی شي چه د دې قطعي نه بعضې افراد مخصوصيدو باندې دلالت ظنۍ شو، مګر دا عذر د اعتراض دافع کيدی خو شي مګر د دليل د قوت دپاره فائده مند کيدی نه شي، دا خو به هغه دليل کې ثبوتاً کلام دی، او دلالة دا احتمــال دی چه د حديث الفاظ دا دي، "لا ربوا بين المسلم والحربي" په دې کې احتمال دی چه دا نفــي د نهي لپاره وي، لکه څنګه چه قرآن کې دي، "لا رفث ولا فسوق ولا جدال في الحج" کې بعينه همدا معنی ده، چونکه د حربي د مال غير معصوم کيدو شبهه د دې جواز کيدی شو، نو نبي ﷺ د دې جواز نفي وفرمايله او په فقهي کتابونو کې هم په دې معنی مفهوم راغلی دی. "ففی الدر المختار عقیب الروایات المذکورة فلوهاجر الینا ثم عاد الیهم فلا ربوا اتفاقا جوهرة وفی رد المختار ای لایجوز الربوا معه فهو نفی بمعنا النهی کما فی قوله فلا رفث ولا فسوق فافهم". کله چه د ابو يوسف د دې قول قوي کيدل ثابت شول نو په دې به عمل کيږي، لکه څنګه چه په اوله مقدمه کې ذکر کړی شول، نو په دې قول باندې اوس د دې متعلق د ټولو سوالونو جواب دا دی چه که لا يجوز او که علي سبيل التنزل د امام صاحب قول واخستل شي نو بيا هم هغه فائده منده ده، د مذکوره قيودو سره او په دې کې دا کلام دی:

(۱) هندوستان ته ډېرو علماو دار الاسلام ويلي دي، د دې خبرې دليل په تحذير الاخوان کې ذکر دی.

(۲،۳) د دار الحرب کيدو په تقدير باندې ډېر خلک د غيرٔ حربي سره معامله کوي، يعنې د اصــل مسلمان او هغه کافرو سره چه د دار اسلام کيدو د وخت نه ذميان راروان دي.

(۴) د دې نه هم قطع نظر سره مسلمانان چه کومه معامله کوي هغوي همدلتــه اوسيږي، د دار الاسلام نه نه دی راغلی، په دې کې د بينک سره معامله کوونکی هم داخل دی، چه دا څلورم قيد په هغوئ کې نه موندل کيږي، نو په دې صورت کې پخپله د امام صاحب په قول بانــدې هــم دا معامله جائزه نه شوه، او که د دې قيودو نه کلا يا بعضا قطع نظر هم وکړی شي نو بيا بــه هــم د بينک په معامله کې دا تفصيل وي چه په کوم بينک کې ئې روپۍ داخلې کړې دي، آيا هغــه علی الاطلاق د سرمائې او سود ذمه وار دي، که يا هغه نفع کيږي او که نقصان، يا داسې نه ده بلکــه نقصان کيدو سره په حصه دارانو باندې هم نقصان اچول کيږي، که دويم صــورت وي نــو د دې حقيقت شرکت دی، قرض نه دی، او يو شريک يا د هغه ملازمين د نورو وکيلان دي، او د وکيــل



فعل شرعا د موکل طرف ته منسوبيږي، او د بينک والا چه څنګه حصه دارانو ته ســود ورکــوي، همداسې د نورو قرضدارانو نه سود اخلي، او په هغې قرضدارانو کې د کفر يا اسلام قيد نه وي، نو د وکالت په ذريعې سره ګويا هغه د نورو مسلمانانو نه هم سود واخستلو، کوم چې د هيڅ چا په نزد هم جائز نه دی، او په اول صورت کې خو دا محذور نه دی لازم شوی، ځکه چه دا د بينک والاو په ذمه قرض او د هغوئ ملکيت شو، ليکن دا دويم محذور ضرور لازم شو، چه دې کس هغه خلکو ته قرض ورکړو، چه د هغوئ نه به د سود نفع حاصلوي، نو دا د هغوئ اعانت او مدد شــو، پــه معصيت باندې کوم چه د دريمې مقدمې د مخې معصيت دی، بيا د دې قول په اخستلو سره چه کوم اعتقادي او عملي مفاسد شائ کيږي، مشاهده ده چه عوام به د ټولو قيودو نه صرف نظــر کولــو سره د دې صورتونو مرتکب شي، کوم چه بالاجماع ناجائز دي، نو ځکه به چاته په دې قول د عمل کولو اجازت نه وي، لکه څنګه چه په څلورمه مقدمه کې ذکر شول، بيا دا مشاهده هم ده چــه د کفارو په ژبه باندې عموما، د مسلمانانو او جاهلانو په ژبه باندې خصوصا علماء سخت بدنام شوي دي، چه دغه خلکو سود حلال کړو، او تفصيل او تقيد څوک ذکر کوئ، د دې تهمت نه بچ کيدل هم واجب دي، او هغه د دې قول په پرېښودلو باندې موقوف دي، لکه څنګه چه په پنځمه مقدمــه کې ذکر شول، اوس دلته دوه شبهې هم زائلې شوې چه که مونږ ټول د قيودو رعايت وکــړو نــو اجازت پکار دی، يا دا چه د دې قول په پرېښودلو سره د امام صاحب مخالفت لازميــږي، د اول جواب دا دی چه د قيدونو په رعايت سره غايت ما في الباب نه دا لازم شول چه د نهي يو ســبب مرتفع شو، مګر د دويم سبب د نهي ارتفاع لازمه نه شوه، د کوم ذکر چه په مقدمه ثالثه و رابعه و خامسه کې دی، او د دې لپاره يو سبب کافي دی، نو باقي پاتې نه شو لکه څنګه چه پــه شپږمه مقدمه کې ذکر شول او د دويم جواب دا دی چه امام صاحب دې ته واجب نه دي ويلي، چه د دې پرېښودل مخالفت وګڼل شي، لکه څنګه چه په اوومه مقدمه کې ذکر دي، او چونکه دا جواب پــه دې باب کې د الله جل جلاله په فضل جامع او مانع واقع شو او که مستقلاً شائع شي نو انشاء الله چه فائده مند به وي، نو ځکه مناسبه معلومه شوه چه د دې يو بل لقب هم کيښودل شي، نو "رافع الــضنک (بمعنی الضيق) عن منافع البنک" ورله تجويز کوم. (لسبع عشرين من ربيع الاول ۱۳۴۴هـ، (تتمه خامسه صـ۳۰۲).

## د مسلمانانو د افلاس د وجې نه د سود د حلالوالي شبهه دفع کول

**سوال**:(۲۰۶) د مسلمانانو موجوده حالت ته په کتلو سره آیا د سود لین دین که خپل منځ کې وي او که د غیر قوم سره، شرعاً جائز دی او که نه؟

**جواب**: کله چه د تحریم آیات نازل شو نو هغه وخت غریبي د دې نه زیاته وه، او ډیر سود د دې معاملات باقي وو، کوم چه د جاهلیت او کفر په زمانه کې شوی وو، په هغې کې هم دا حکم وشو چه سود پریږدئ، کنه نو د الله ﷻ او د هغه د رسول جنګ ته تیار شئ، کله چه د کفر سود وصولول جائز نه شو نو ابتداءاً به داسې معاملې ته څنګه جائز وویل شي، د نزول وحي په وخت چه کوم کفار بني اسرائیل وو، د هغوئ شکایت په قرآن کې موجود دی، "واخذهم الربوا وقد نهوا عنه" کله چه کفارو له اجازت نشته چه د بعضې علماو په نزد مخاطب بالفروع هم نه دی، او په دې بنا باندې د ذمي ربوا د دې نه مستثنی کوي، "کما في کتاب الغصب من الهدایة" نو مسلمانان چه اجماعاً مخاطبي بالفروع دي ته به ولې اجازت وي، او رحمت مهداة په باب الصلح بیهقي کې حدیث ذکر کړی دی، چه نبي ﷺ د نجران والاو سره په څه باندې صلحه کړې وه په هغې کې یو شرط دا هم وو، "مالم یحدثوا حدثا اویاکلوا الربا" کله چه کفار د دې د خوړلو نه منع شول نو مسلمان له څنګه حلال دي؟

"وما فی الکتب الفقهیه من انه لا ربوا بین المسلم والحربي فلا یستلزم اباحة المال اباحة العقد، والله اعلم.

۲۳ ذیقعده ۱۳۲۲هـ، (امداد صـ۳۶، جـ۳، حوادث ۲۰۱ صـ۸۹).

## د بیمه کمپنۍ حکم

**سوال**:(۲۰۷) دا مسئله د تپوس کولو لائق ده چه تاسو ته به معلومه وي چه په هندوستان کې اکثره کمپنیانې داسې دي چه د ځان او مال بیمه کوي، او طریقه ئې دا ده چه هغه د مشترک تجارت جماعتونه چه قائم دي هغه په منقوله او غیر منقوله مال باندې د کال یو کمیشن ورکوي، او که په کال کې هغه مال د اور د وجې نه خراب شي، نو په څومره مال ئې چه کمیشن ورکړی وي نو هغومره مال په یوځل مالک ته ورکوي، اکثره خلک د خپل جائیداد بیمه کوي، دا طریقه دومره رواج شوې ده چه غالباً تاسو ته هم ترې خبر یاست نو د تاسو نه تپوس کوم چه آیا داطریقه د بیمې شرعا جائز کیدی شي او که نه؟ تمثیلاً دا هم عرض کوم چه اکثره خلک نوټ وغیره د رجسټر شوې لفافې په ذریعې سره په ډاک لیږي، د کوم مقصد چه صرف د نوټ حفاظت وي، نو که بیمه کول



ناجائز وي نو رجسټري کول او لیږل به هم د شریعت خلاف وي، امید دی چه معاف مې کړئ؟

**جواب**: دا اشتهاري او تجارتي کمپنیانې چه مالک ته په خاصو صورتونو کې معاوضه ورکوي، صورةً خو هغه عوض دی، د هغه تلف شوي مال مګر په واقع کې د هغه روپو عوض دی، چه میاشتې یا کال کې داخلیږي، ځکه چه د دوئ مقصود همدغه دی، کنه نو د مال ضائع کیدو سره هغوئ ته څه فائده حاصلیدی شي، نو په دې صورت سره خو دا قمار دی. "لانه تعلیق الملك علی الخطر والمال فی الجانبین". او قمار او سود دواړه حرام دي، نو دا معامله یقینا چه حرامه ده، همداسې د ځان بیمه د رشوت هغه صورت دی. "لان المال فیه عوض من غیرمتقوم وهوالنفس". او حقیقتاً سود دی، "لعین مامر في المال" پاتې شوه د ګانې وغیره بیمه کومه چه په ډاکخانه کې کیږي، د دې حقیقت جدا دی، او د ډاک عمله مزدوران دي، او بیمه د اجرئ او مزدورئ زیاتوالی دی، اود هغوئ دا ذمه واري د تاوان شرط کول ضما ن علی الاجیر دی، کوم ته چه بعضې فقهاو جائز ویلي دي، د مذکوره بیمه کمپنیانو په خلاف چه په دې مال یا ځان کې کوم عمل نه کوي په دې کې دا تاویل متحمل نه دی. "فی الدر المختار باب الودیعة واشتراط الضمان علی الامین الخ وفی رد المختار وانظر حاشیة الفتال وقد یفرق بانه ههنا مستاجر علی الحفظ قصداً بخلاف الاجیر المشترك فانه مستاجر علی العمل تامل وفی الدر المختار باب ضمان الاجیرولا یضمن ما هلك فی یده الی قوله خلافا للاشباه وفی رد المختار ای من انه ان شرط ضمانه ضمن اجماعا وهومنقول عن الخلاصة وعزاه ابن الملك وللجامع اه قلت وفی هذا العقد الذی یقال له بیمة یستاجر بالزیادة علی الحفظ قصدا فکان اولی بالجواز من الاجر المشترك یضمن علی العمل، والله اعلم. ۱۵ رمضان ۱۳۲۳هـ، (امداد صـ۳۷ جـ۳، حوادث ۲۰۱ صـ۸۹).

## د آلو او شکرقند تبادله په قرضو سره او د هغې حکم

**سوال**:(۲۰۸) آلو یا شکرقند ورکولو سره د هغې په بدل کې څه زمانه وروستو غله اخستل څنګه جائز دي؟ مثلاً یو روپۍ من حساب سره آلو خرڅیږي، نو اوس یو من آلو ورکول او د غلې وخت معینولو نه بعد په هغه نرخ بادې په کوم باندې چه هغه وخت بازار کې غله خرڅیږي یا اوسني نرخ باندې په دې حساب به ئې ورکول په تفصیل سره ئې ولیکئ؟

**جواب**: "فی الدر المختار باب الربوا وان وجد احدهما ای القدر وحده او الجنس حل الفضل وحرم النساء ولو مع التساوی وفی رد المختار فی الصفحة الاتیة وعلته القدر هو القدر المنفق کبیع موزون اومکیل بمکیل بخلاف المختلف کبیع مکیل بموزون نسیئة فانه جایز اه". او غنم او وربشې د طرفینو په نزد د نص د وجې نه د

همیشه لپاره دي، او د امام ابو یوسف په نزد زمونږ د عرف په وجه وزني دی، "کما خرج به في کتب الفقه" او آلو او شکر موزون دي، نو د الو او شکر په عوض کې که وربشې یا غنم په قرض خرڅ کړی شي نو د امام ابو یوسف په نزد خو بالکل جائز نه دي، "لما مر من الدر المختار" او د طرفینو په نزد که د غلې وزن معین شي چه مثلا شل سیره به اخلو، که نرخ اوسنی یا آئنده د دې نه کم وي او که زیات وي، مثلا دا ناجائزه ده، او که د غنمو او وربشو نه علاوه نورې غلې وښودل شي نو بوجه لزوم نسیه په متحد القدر څیزونو کې ناجائز دي، لکه څنګه چه بره ذکر شول، والله اعلم وعلمه اتم. ۲۰ شوال ۱۳۲۳هـ، (امداد صـ۳۸، جـ۳).

## د حربي په رضا باندې د حاصل شوي مال په خباثت د شبهې لرې کول

**سوال** :(۲۰۹) "مال الحربی فی دار الحرب للمسلم مباح لا مملوك والملك يحصل اما بالبيع الصحيح او بالهبة او بالاحراز فی دار الاسلام فظهر ان الملك كما يحصل بالبيع الصحيح صحيحا كذلك يكون بالفاسد فاسدا وخبيثا فينبغی ان یکون مال الربوا مع كونه مباح الاصل خبيث الملك والعجب ان فقهائنا لم يصرحوا بخبثه بل يتبادر من كلامهم انه طيب فعليكم بدفع هذا الاشكال فقط"؟

**جواب** : الجواب عن السوال الخاص انه لا دليل على انحصار اسباب الملك فيما ذكر فان الماء والكلاء سواء وجد فی دار الاسلام او فی دار الحرب يحصل الملك فيهما بمجرد اليد من غير اشتراط الاحراز فی دار الاسلام فلما اخذ المسلم المستامن مال الحربی بشرط ان لا يغدر فانه حرام حصل به الملك من حيث انه اخذ مع قطع النظر عن قيد خارج عن حقيقة كالقصر يتعلق بمجرد السفر من غير نظر الى وصف كونه معصية ليكون القصر ايضا غير مشروع كما قالت به الشافعية والله تعالى اعلم. (امداد جـ۳، صـ۳۹).

## د سود باطلولو حیله په تلوسو ورکولو او روپۍ اخستلو

**سوال** :(۲۱۰) زید ته د څه روپو ضرورت وو، عمرو ته ورغلو او څه روپۍ یې وغوښتې، عمرو ورله ۱۹ روپۍ او ۱۲ تکې ورکړې او دغه وخت کې د یوې روپۍ ۲۴ تکې ملاویږي، او زید نه عمرو پوره شل روپۍ ولیکلې، یعنې ۱۹ ئې ورکړې او شل ئې پرې ولیکلې، او د مقرر وخت په ختمیدو باندې ئې د هغه نه وصولي کړې، دا شرعا جائزه ده او که نه؟

**جواب** : ۱۹ روپۍ خو یقینا قرض دی، او په ۱۲ تکو کې دوه احتمالونه دي، یو دا چه قرض دی، او بل دا چه بیعه ده، اول باندې د شرعي قاعدې موافق الاقراض تقضی بامثالها، دا شرط ګرځول حرام دي چه د دې په عوض کې به پوره اته آنې اخستل کیږي، او په تقدیر باندې چونکه دا بیع د قرض شرط دی، د



مقرض د طرف نه، یا دا بیعه په قرض مشروطه ده، د مستقرض د طرف نه نو د دې وجې نه د حدیث موافق لا یحل سلف وبیع حرام دی، غرض دا چه په دواړو صورتونو کې دا معامله حرامه ده، سود خورو داسې حیلې ایجاد کړې دي نو که په تکلف سره په کومه قاعده باندې منطبق هم کړی شي بیا به هم د فساد د غرض د وجې نه ممنوع وي، فقط. ۲۰ صفر ۱۳۲۵هـ، (امداد صـ۳۹، جـ۳).

## د پیشګي وصولولو په شرط سره په کرایه کې رعایت

**سوال** :(۲۱۱) زمونږ په ملک کې د سود نه بچ کیدو دپاره دا حیله راویستلې ده د چا څه روپو ته ضرورت محسوس شو هغه بل ته یې داسې وویل چه که ته ماله د پنځو کالو کرایه دوړاندې نه راکړې، نو د څلورو روپو څمکه به په دوه روپۍ درکړم، په دې هغه راضي شو، لس روپۍ ئې ورکړې او پنځه کالو دپاره ئې په څمکه باندې قبضه وکړه، دا صحیح ده او که نه؟

**جواب** : دا صحیح دي. "مع الکراهت کبیع العنیة کما في الهدایه". ۳ ربیع الثاني (امداد صـ۳۹، جـ۳).

## د بعضې سکولونو کې د سود د روپو نه د انعامونو تقسیمول

**سوال** :(۲۱۳) حاجي محسن شیرازي چه په هګلي کې وو، هغه یو فنډ انګریز سرکار ته وقف کړی دی، د هغې د سود نه چه کوم مسلمانان په انګریزي کالجونو او سکول کې انګریزي وائي، د هغوئ د کامیابۍ په وخت بخشش ورکول کیږي، آیا دا روا ده او که نه؟

**جواب** : د دې آمدن نه چه انعام وغیره څه ورکول کیږي، اخستل ئې جائز دي، لیکن د دې جواز نه باید دا ونه ګڼل شي چه د انګریزانو سره د سود معامله کول درست دي، لکه څنګه چه بعضې خلک پوهه شول، بلکه د دې د جائز کیدو بناء بل امر دی، کوم چه مختصر لیکلو سره نه شي واضحه کیدی، او د اوږد لیکلو وخت نشته، والله تعالی اعلم. ۲۸ جمادی الاول ۱۳۲۵هـ، (امداد صـ۴۰، جـ۳).

## د سود اخستونکي او ورکونکي د مساوي توب او تفاوت تحقیق

**سوال** :(۲۱۴) د سود په اخستونکي او ورکونکي دواړو باندې به یو شان عذاب وي او که نه څه فرق به وي ؟

**جواب** : د حدیث د اطلاق د وجې نه خو دواړه برابر معلومیږي، لکه څنګه چه د جابر رضي الله عنه نه روایت دی: "قال لعن رسول الله ﷺ اکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء، رواه مسلم".

مګر د حدیثو د تشریح کونکو د کلام نه دا معلومیږي چه د ګناه په اندازه کې تفاوت شته، اګرچه نفس ګناه کې دواړه شریک دي، "کمافی المرقاة تحت الحدیث المذکور فی الاثموان کانوا مختلفین فی قدره الخ". شاید د دې وجه دا وي چه ورکونکي ته خو به د مصرفولو ګناه وي، او اخستونکي ته د اخستلو هم او د مصرفولو هم، یا دا چه د ورکونکي د اخستونکي په نسبت څه اضطرار شته دی، والله اعلم بحقیقت الحال. لیکن کله چه په دواړو کې ګناه ده نو اوس کم او زیاتیدو سره حرمت خو نه زائله کیږي، لکه څنګه چه ډکې متیازې هم ګنده دي، او تشې متیازې هم ګنده دي، اګرچه د یو بل نه زیاتې ګنده دي، مګر ګندګي په دواړو کې ده، د ټولو نه بچ کیدل پکار دي. (تتمه ثالثه ص۵۳).

## طرق جائز تجارت مرغان

**سوال** :(۲۱۵) د رتجارت مرغان کدام طریق برای شرکت جائز است وکدام ناجائز است؟

**جواب** : اګر دو کس یا زیاده رقمهائی خود مخلوط کرده مرغان را خرید کنند ودر منافع ومحاصل شیریک باشند جائز است واګر مرغان ازان یک کس رابا شند ودیګری خدمت آنها کند ودر حاصل شرکت قرار یا بد ناجائز ست واګر صورتی دیګر مراد سائل باشد بعد بیانش جواب ممکن ست. (تتمه اولی ص۳۱۴).

## د دانن په چا باندې دین په کمه خرڅول

**سوال** :(۲۱٦) (۱) د زید لس روپۍ د عمرو په ذمه قرض دي، خالد زید ته وویل چه ستا کومې روپۍ چه د عمرو په ذمه دي هغه په ما خرڅې کړه، زه به ئې وصولې کړم؟(۲) یا داسې ووائي چه د لسو ماته پاوکم لس واخله، زه به د عمرو نه لس وصولې کړم؟

**جواب** : (۱) بیعه جائز نه ده.(۲) حرامه ده. (تتمه اولی ص۱٦۹).

## د انګریزي سکې قرض په حیدر آبادي سکې باندې ادا کولو حکم

**سوال** :(۲۱۷)حیدر آبادي او انګریزي سکه کې همیشه دپاره فرق وي، د حیدر آباد روپۍ د انګریزي روپۍ نه کمه وي، مګر هغه کموالی کله هم معین نه دی، د انګریزۍ سلو روپو په بدل کې کله هلته ۱۱۰، کله ۱۱۲، او کله ۱۱۴، او د دې نه زیاتې ملاویږي، که په دې صورت کې په حیدرآباد کې چاته انګریزي روپۍ داسې ورکړی شي چه هلته ۱۱۰ باندې چلیږي، نو همغه به



راکوي او ۱۰۵ باندې چلیږي، یا برعکس په انګریزي علاقه کې ئې ۱۰۵ حیدرآبادي راوپۍ واخستلې او د انګریزي ۱۰۰ برابرې وې، او اوس هغه دا ۱۰۵ حیدرآبادي روپۍ په داسې وخت کې واپس کوي چه قیمت ئې ۹۵ انګریزي روپی دی، په دې دواړو صورتونو کې د قرض ورکونکي نقصان شوی دی، دا نقصان په کومې قاعدې سره د مقروض نه اخستل ممکن دي او که نه؟ او کوم صورت به چه د دې دواړو بالکل برعکس وي په هغې کې به د مقروض نقصان وي، مثلا هغه انګریزي ۱۰۰ روپۍ په داسې حالت کې واخستلې چه د حیدر آبادي ۱۱۰ برابرې وې، او اوس د ورکولو په وخت د ۱۲۰ حیدرآبادي سره برابرې دي، نو انګریزي ئې ورکړې، داسې نفع یا نقصان خو به سود نه وي؟

**جواب** : الاقراض تقضی بامثالها، د قاعدې د مخې چه ئې څه رقم روپۍ قرض اخستلې وې، همغه شان به واجب الادا وي، تفاوت في القيمت له به اعتبار نه وي، د دې تفاوت په بنا باندې د نقصان شرط په عقد کې کول، یا بغیر د شرط نه اخستل، کله چه متعارف وي، ربوا او حرامه ده، البته که متعاقدین بغیر د شرط او عرف نه د ادا کولو په وخت رضامند شي، چه د موجوده نرخ په اعتبار سره چه څومره پیسې د داسې قسم قرض وي، هغه پیسې ادا کړي، نو جائزه ده، مګر شرط دا دی چه په همدې مجلس کې ټول حساب ختم کړی شي، او که دومره پیسې نه وي نو څومره چه موجود وي د هغومره حساب دې وکړي، نورې دې بیا دمذکور شرط موافق بیا واخلي. ۱٦ رمضان ۱۳۳۹ھ، (حوادث خامس ص۴۱).

## د سود اخستونکي نه د خیر په کارونو کې د مدد غوښتنه

**سوال** :(۲۱۸)کوم کس چه سود اخلي د هغه په روپو سره په کار خیر کې مدد اخستل جائز کیدی شي او که نه؟

**جواب** : شریعت کې اعتبار غالب لره دی. "لان فی التحرز عن القلیل کثیر حرج وما جعل الیه فی الدین من حرج". پس که حلال غالب وي نو بیا په کار خیر کې صرف کول جائز دي ورنه خرچ کول ئې حرام دي. "لقوله ﷺ ان الله طیب لایقبل الا الطیب رواه مسلم وقوله ﷺ لایکسب عبد مال حرام فیتصدق منه فیقبل منه؛ رواه احمد؛ (تتمه ثالثه ص۵۳).

## وقت جائز بودن بیع ثمر انبه

**سوال** :(۲۱۹) وقت جائز بودن باغ انبه بخریدن آخر وقت آن کدام است یعنی وقتی که انبه بدرخت نمایان شود که تخمینه آن کرده شود که في درخت این مقدار ثمر خواهد بود بیع جائز است یا که ثمر پخته شدن شرط ست همچنین حکم سائر ثمرات رامثل فالسه وغیره هست، یا حکم هر کدام جداگانه است؟

**جواب** : "فی الدر المختار ومن باع ثمرة بارزة اما قبل الظهور فلا یصح اتفاقا ظهر صلاحها ولا صح فی الاصح ولو برز بعضها دون بعض فلا یصح فی ظاهر المذهب وصححه السرخسی وافتی الحلوانی بالجواز لو الخارج اکثر ویقطعها المشتری فی الحال وان شرط ترکها علی الاشجار فسد البیع وقیل قایله محمد لا یفسد اذا تناهت الثمرة آه مختصرا وفی رد المختار تحت قوله وافتی الحلوانی قال فی الفتح قد رایت روایة فی نحو هذا من محمد فی بیع الورد علی الاشجار فان الورد متلاحق وجواز البیع فی الکل الی قوله والاصح انه لا یجوز لان المصیر الی مثل هذه الطریقة عند تحقق الضرورة ولا ضرورة ههنا لانه یمکنه ان یبیع الاصول الخ؛ جـ۴، صـ۵۹".

ازین روایت چند امور مستفاد شد، اول وقت نمایان شدن ثمر بیع او جائز است لیکن اشتراط ترک او بردرختان چنان که متعارف است جائز نیست دوم هرگاه ثمر بایدن ختم شود، بیش مع شرط ترک مذکور بقول امام محمد که بعضی برآن فتوی نقل کرده اند جائز ست، سوم شمار دو قسم مي باشد، بعضی آن که در ظهور مجتمع می شود مثل انبه وغیره وبعضی مجتمع نمي شوند بلکه علی سبیل التعاقب والتلاحق ظاهر می باشد مثل امرود وغیره پس حکمی که مذکور است برائی قسم اول ست، اما قسم دوم پس شرط جواز بیعش ظهور بعضی است ولیس. (تتمه اولی صـ۳۱۴).

## مدرس ته د سود د حساب تعلیم ورکول اگر که د سود عنوان په کې وي جائزه ده

**سوال** :(۲۲۰) احقر دریمې او څلورمې درجې ته په مدرسه کې تعلیم ورکوي، او څلورمې درجې ته آخري څلور میاشتې په کال کې د سود راویستلو قاعده وربنائي، او مشقي سوالونه ورته حل کوي، د دې نه علاوه په باقي زمانه کې او په دې زمانه کې حساب هم وربنایم، او په مدرسه کې هندوان او مسلمانان هر قسم طالبان دي، لهذا دې درجې ته تعلیم ورکول زما لپاره جائز دي او که نه؟ په دریمه درجه کې د نور حساب تعلیم دی د سود نه؟ فقط.

**جواب** : تاسو د تعلیم ورکولو نه وړاندې وواییٔ چه زه چه کله د سود لفظ وایم نو زما مطلب به ترې فائده وي، کوم چه بغیر د شرط نه پخپله نیت وکړي چه زه به چه کله د ده قرض ادا کوم نو



د خپل زړه نه او خوشحالۍ سره به بغیر د هغه د استحقاق او مطالبې نه دومره حساب سره تبرعاً زیاتې ورکوم، نو دومره ویلو سره دې حساب وربنائي، د تعلیم ګناه خو هغه وخت لاړه، اوس که څوک د دې نه ناجائزه فائده اخلي نو وبال به په هغه وي، فقط. ۲ ذي الحجه ۱۳۳۰هـ، (تتمه اولی صـ۱۸۴).

سوال ۲۱۹ (په بره جواب باندې): احقر چه کومه مسئله د سود په باره کې تپوس کړې وه، د هغې جواب تاسو دا لیکلی: (تاسو د تعلیم ورکولو نه وړاندې وواییٔ چه زه چه کله د سود لفظ وایم نو زما مطلب به ترې جائزه فائده وي، کوم چه بغیر د شرط نه پخپله نیت وکړي چه زه به چه کله د ده قرض ادا کوم نو د خپل زړه نه او خوشحالۍ سره به بغیر د هغه د استحقاق او مطالبې نه دومره حساب سره تبرعاً زیاتې ورکوم، نو دومره ویلو سره دې حساب وربنائي، د تعلیم ګناه خو هغه وخت لاړه، اوس که څوک د دې نه ناجائزه فائده اخلي نو وبال به په هغه وي، فقط). اوس عرض دا دی چه مذکوره سوال خو د اول نه شرط کول او شرح مقرریدل ظاهر دي، لکه څنګه چه د لاندې سوالونه د نمونې په طور لیکم:

**سوالونه**

(۱) د ۴۰۰ روپو د ۴ اپریل نه ۱۶ جون پورې د ۳ فیصدي په شرحې سره سود وښایۍ؟

(۲) د څومره اصل به ۹۰۰ روپۍ په پنځه کالو کې د ۴ فیصدي په شرحې سره راځي؟

(۳) څومره کالو کې به روپۍ فیصدي په شرحې سره د خپل ځان نه درې چنده شي؟

(۴) په کومې شرحې سره د ۳۰۰ روپو ۳۳۷ روپۍ ۵،۸ کالو کې شي؟

(۵) یو سړی خپل دوست له ۱۲۵۰ روپۍ ۴ فیصدي باندې سود په دې شرط ورکړو چه هغه به د سود سره ۱۶۶۶ روپۍ ۸،۱۰ پائی ورکړي، نو وواییٔ چه هغه کس دا روپۍ څومره وخت د خپل ځان سره ایښودلی شي؟ دا پورته سوالونه زه وربنایم، ما چه سوالونه لیکلي د حساب کتابونو نه مې نقل کړي دي، په همداسې سوالونو کې سالانه امتحان اخستل کیږي، نو په همدې وجې سره د ځان نه سوالونه جوړولی او ایښودلی نه شو، د دې په باره کې چه د شریعت څه حکم وي هغه ولیکۍ، ترڅو د هغې مطابق عمل وکړی شي؟

**جواب** : چونکه د حربي نه سود اخستلو کې څه شرعي خطاب نشته دی، نو ځکه به ورته حرام نه ویل کیږي، نو د سود یو قسم داسې راووتلو چه حرام نه دی، او مسئله دا ده چه په کوم کار کې یو صورت هم حلال وي د هغې تعلیم اعانت علی الحرام نه دی، نو دې نیت سره ئې ښایۍ. ۲ صفر ۱۳۳۱هـ، (تتمه اولی

ص۔۱۸۴، حوادث ۲۰۱ ص۔۴۰).

## د سلو روپو په دعوه کې د (۸۰) ډګري

**سوال** :(۲۲۱) که یو کس د خپلې مطالبې تعداد او شل ورسره د سود ملاو شي، نو جائزه ده او که نه؟ د سلو روپو دعوه ئې وکړه، عدالت د ۱۰۰ په ځاي د ۸۰ ډګري صادره کړه، او د مدعي د خواهش خلاف ئې سود هم ورکړو، نو اوس مدعي د ۸۰ روپو ډګري نه علاوه ۲۰ روپۍ د سود په مد کې اخستلی شي او که نه؟

**جواب** : اخستلی نې شي. (تتمه اولی ص۔۱۷۱ وحوادث ۲۰۱ ص۔۳۵).

## که د سلو روپو دعوه او ۱۴۰ روپئ د سود سره ملاو شي نو جائز دي که نه

**سوال** :(۲۲۲) یو کس په خپله مطالبه کې د سلو روپو دعوه وکړه، عدالت خلاف د اصلیت نه د سلو روپو په ځاي ۱۲۰ روپو ډګري ورکړه، نو مدعي له صرف سل روپۍ اخستل جائز دي او که ۱۲۰؟

**جواب** : صرف سل روپۍ. (تتمه اولی ص۔۱۷۱، وحوادث ۲۰۱ ص۔۳۵).

## د ډګري خرڅول جائز دي او که ناجائز

**سوال** :(۲۲۳) بره ډګري (یعنې سوال نمبر ۲۲۰) دغه کس د اصل ډګري په قیمت یعنې ۸۰ روپۍ خرڅوي، پخپله خو سود نه اخلي لیکن د هغه په علم کې دا خبره شته چه هغه به سود اخلي، یا د هغه نه نفع اخلي د کوم سبب د وجې نه هغه دا ډګري خرڅوي آیا په دغه خرڅونکي باندې څه مواخذه شته دی او که نه؟

**جواب** : که دا خرڅونکی د شرعي حکم نه خبر او خیرخواهانه ئې منع کړي، او بیا خرڅونکی ترې لرې شي، مګر پخپله ډګري خرڅول د خبرې محل دی، ځکه چه د روپۍ روپۍ مبادله او بیعه شرط ده، د لاس په لاس کیدو سره او هغه دلته مفقود دی، د دې تدبیر دا دی چه دا خرڅونکی دې د اخستونکي نه ۸۰ روپۍ قرض واخلي او اخستونکي ته دې ووائي چه زمونږ دومره قرض د مدعي علیه په ذمه دی، زه تاته په هغه حواله درکوم ته ئې د هغه نه وصول کړه، داسې صحیح ده، مګر په دې کې یو مشکل شرط دا دی چه هغه مدعي علیه به هم په خوشحالئ سره رضامند شي، او که نه شي نو یو بل تدبیر دی چه دا خرڅونکی دې د اخستونکي نه قرض واخلي او هغه دې وکیل جوړ



کړي چه ته ئې د مدعي علیه نه وصول کړه، او د وصولولو نه بعد ئې ته پخپله قرضه کې کیږده، داسې صحیح دي. ۱۰ صفر ۱۳۲۹ھ، (تتمه اولی ص۔۱۷۱، وحوادث ۲۰۱ ۳۶۲).

## د مسلمان او کافر د سود اخستلو تحقیق

**سوال** :(۲۲٤) آیا د کافر او مسلمانانو نه به د سود اخستلو کې مواخذه برابره وي او که نه؟

**جواب** : نصوص تحریم ربوا خو فارق نه دی، نو ظاهراً معلومیږي چه په دواړو کې به برابره مواخذه وي، لیکن که د مسلمان د مال د احترام دوجې نه فرق وي نو لرې خبره نه ده، والله اعلم. (تتمه ثالثه ص۔۵۳).

## سود سره روپو کې خباثت نه راتلل

**سوال** :(۲۲۵) یو مسلمان د هندو نه د ضرورت په موقع باندې سود قرض اخلي، او هغې سره خپل کاروبار چلوي، یا کومه ځمکه اخلي څو ورځې بعد هغه قرض د سود سره ادا کوي، باقي مانده ملکیت پاک ملکیت ګڼي، او دا عقیده هم لري چه د سود ورکولو سره پخپله ګناهګار شو، مګر د دې حرمت به باقي مانده ملکیت کې نه ګرځي، دا خیال کوي ځکه چې دې کس سود ورکړی دی، اخستلی خو ئې نه دی، نو د دې ملکیت څه حکم دی؟

**جواب** : دې کس چه څه ګڼل صحیح ئې ګڼلي دي. (تتمه اولی ص۔۱۷۲).

## دار الحرب کې د ربوا په حرمت باندې استدلال کونکي آیت "یا ایها الذي آمنوا اتقوالله وذروا ما بقي من الربوا ا ن کنتم مومنین" باندې د ربو ا شبهې جواب

**سوال** :(۲۲٦) در تفسیر آیة شریف الربوا الآیة در سوره بقره پاره تلک الرسل چون رسیدم واستنباط ګرامي درباره اخذ ربوا بحکم حرمت در دار الحرب نیز بنظر کشیدم اشتبا هی در خاطر پیدا شد که محض بغرض استفاده وتعلم نه یه خیال بحث ومناظر در خدمت عرض می دارم امید که برائی رفع این اشتباه ودفع این خلجان کلماتی چند از کلک ګوهر سلک به معرض بیان خواهند آورد "وللارض من کاس الکرام نصیب" وآن اننکه مستدل جناب در آیة شریف این است که هر ګاه این معامله عقد ربوا در مکه معظمه که درآن وقت مقام اهل شرک ودار حرب بود بوقوع آمده حکم رد آن ګردیده است لهذا این حکم مستنبط مي شود که ربوا در دار حرب نیز حرام ست، "هذا

ما قلتم" درین تقریر از دو وجه بحث ست اول این که در صدر آیت خطاب است که "یا ایها الذین آمنوا" یعنې این حکم مخصوص بمومنان است، دوم از روایت شان نزول آیه شریف که هم - اب در عاشیه تفسیر خود آورده اند معلوم مې شود که مورد آیة شریف هودو یعنې ربوا گیرنده ودهنده از اهل اسلام بودند واین معنی خارج البحث است چرا که مجوزین رامیگویند که "ربوا بین الحربي الغیر المستامن والمسلم جائز است خواه در دار الاسلام خواه در دار الحرب نه بین المومنین؟"

**جواب** : قولکم، این حکم مخصوص بمومنان است، قولی غور باید فرمود که کدام حکم یعنی این حکم که معامله سودي که در دار الحرب بوقوع آمده بود وآن هنگام متعاقدین مسلم نبودند، بلکه حربي بودند اگر آن وقت این معامله مباح بودی مالی که بحکم این معامله مباح واجب شده بود گرفتنش حلال بودی، "کما یظهر من نظیره المذکور فی التفسیر من تبایع النصیر اینین الخمر" غالبا وقت سوال برین قید نظر ساني نگماشته که آن هنگام متعاقدین مسلم نبودند ودر روایت مذکوره حاشیه این قید مصرح است، "حیث ذکر فیها ان الني مخزوم کانوا یداینون بنی المغیرة فی الجاهلیة بالربوا، قولکم" از اهل اسلام بودند الخ قولي وقت نزول آیت ریب از اهل اسلام بودند نه که وقت تعاقد که دران روایت قید في الجاهلیة صریح است واگر باوجود این تصریح دعوی اسلام متعاقدین در وقت تعاقد کرده شود تاهم این قدر مسلم باشد که در وقت عقد مکه معظمه دار الحرب بود ومتعاقدین هما بخا مقیم بودند ومجوزین ربوا اباحتش را مخصوص بحربی غیر مستامن ومسلم نمیگویند بلکه عام میگویند مسلم غیر مهاجر راواورادرین باب در حکم حربي قرار مید هند، "کما صرح به الفقهاء حیث قالوا بعد قولهم ولا بین حربي ومسلم ما نصه وحکم من اسلم فی دار الحرب ولم یهاجر کحربي للمسلم الربوا بنفسه کذا فی الدر المختار وغیره" پس هرگاه استنباط او رباب مسلمین غیر مهاجرین تسلیم فرمودند بنا بر روایت فقهیه مذکوره صحت عمومش هم واجب التسلیم باشده "هذا هو المطلوب" باز مدار استدلال برین آیت منحصر نیست من دلائل دیگر هم دارم فقط. ۱۱ ربیع الثاني ۱۳۳۰ھ، (تتمه اولی ص ۱۷۲).

## د سرکاري ضمانت په روپو باندې د زیادت اخستلو حکم

**سوال** :(۲۲۷) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زید سرکاري ملازم وو، هغه وخت کې ئې د ضمانت په طور څه روپۍ په ډاکخانه کې جمع کړې وې، اوس زید ملازمت پریږدي، نو د دې سره د سرکار نه ۲۵ روپۍ سود ملاویږي، زید هغه پخپل تصرف کې راوړل غواړي نو څه پرې وکړي،



آیا خیرات ئې کړي یا په چنده روم کې ئې ورکولی شي او که نه؟ په کوم مصرف کې ئې ولګوي؟ ثواب ئې کیږي او که نه؟ که ثواب ئې نه کیږي نو ګناهګاریږي خو به نه؟

**جواب** : د بعضې علماو په نزد د هغې اخستل جائز دي، که په دې قول باندې عمل وکړی شي نو ګنجائش شته دی، او بهتره ده چه د ترک مجروحینو په امداد کې ورکړی شي، انشاء الله ګناه به ئې نه کیږي. ۱۲ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ، (تتمه ثانیه ص ۲۸).

## د سرکاري سود په عنوان سره د مقدمې خرچه وصولول

**سوال** :(۲۲۸) په مدیون باندې رپورټ کولو باندې (که زمینداره قسمه وي او که بغیر د لین دین نه وي) پخپله ډګري شوې د هغه اندازې نه چه مدعي ئې د خپل حق په ثابتولو کې مصرفوي، لازمي طور سره ډیر کم وي، د زیات خرچ د مدیون نه د وصولولو هیڅ صورت نشته دی، نه عدالت ډګري ورکوي، البته عدالت د سود لګولو اجازت ورکوي، مذهبا ناجائز دي، آیا دا جائزه ده چه مدعي سود ولګوي او دعوه وکړي او د سود په اندازه کې خپل زیات خرچ حساب کړي، که د خرچ تعداد د سود نه زیات وي هغه زیات سود مدیون ته ادا کړي؟

**جواب** : د کومو اهل علمو په نزد چه خرچ اخستل جائز دي هغوئ د دې اجازت هم ورکوي. ۱۹ ج ۲، ۱۳۳۳ھ، (تتمه ثالثه ص ۱۴۰).

## په سیم باندې د زرو په قرض بدلول

**سوال** :(۲۳۰) زید د خپل ملازم بکر په لاس څلور اشرفۍ په دې غرض سره عمرو ته ولیږلی چه د دغه اشرفو روپۍ راوړي، عمرو څلور واړه اشرفۍ واخستلې او دننه لاړو، او هلته ئې د بل ملازم په لاس بکر ته د څلورو اشرفو روپۍ راولیږلې، یا پخپله عمرو روپۍ راوړې او بکر ته ئې حواله کړې، بکر دا روپۍ زید ته ورکړې آیا دا طریقه صحیح ده او که نه؟

**جواب** : نه په یو مجلس کې لاس په لاس لین دین ضروري دی. ۱۹ محرم ۱۳۳۲ھ، (تتمه ثانیه ص ۱۱۸).

## د قرض په وجې سره د نفع حرامیدل

**سوال:** (۲۳۱) عمرو د بکر نه سل روپۍ قرض واخستلې، او څه روپۍ عمرو بکر ته د پنځه کالو دپاره په دې شرط ورکړې چه ۵ کالو پورې به د دې پیداوار ستا وي، بیا ۵ کاله بعد زما ځمکه راکړه آیا دا جائزه ده؟

**جواب:** ظاهره خو همدا ده، چه دا رعایت چه عمرو د بکر کړی دی، د قرض په وجه ئې کړی دی، ځکه دا حرام او سود دی. ۹رجب ۱۳۳۲هـ (تتمه ثانیه صـ ۱۵۲).

## ربوا

**سوال:** (۲۳۱) بکر څو زره روپۍ په مشین کې چه تیل وباسي دا شرط ئې لګولی دی چه په دې روپو چه څومره تیل اخستل کیږي، په هغې باندې به یوه روپۍ فیصدي سود ورکول کیږي، غرض دا چه د دې د خرید وفروخت دوریه جاري وي، او کمیشن به هم ملاویږي، او کال دوه کالو کې چه ئې څومره روپۍ ورکړې وې هغه به هم ملاویږي، د کمیشن حساب ئې په شپږ میاشتې باندې اینښی دی، او څه حساب چه برابر شي نو د قرض پوره کولو پورې به اصل روپۍ مستغرقي وي، دا صورت جائز دی او که نه؟

**جواب:** مذکوره معامله قرض دی، نو د اصل روپو د ختمولو شرط د دې ظاهري دلیل دی، او څه چه کمیشن مقرر شوی دی هغه زیاده علی القرض دی، نو دا صریح سود دی. ۲۵ ربیع الاول ۴۳هـ.

## د بره سوال تتمه

**سوال:** (۲۳۲) که یو کس د خپلو روپو د وصولولو نه بعد سود جمع کړي او څه وخت چه د روپو د نشتوالي د وجې نه د بینک نه قرض واخلي او د سود د غوښتنې په وخت د هغه مد نه چه بینک په دغه حساب سره جوړې کړې دي، ادا کړي نو دا صورت به د سود لین دین جائز وي او که نه؟ د دغه کس نیت صرف دا دی چه نه د سودي روپو نه پخپله فائده واخلي او نه بینک، که د خپل طرف نه څه ورکړي ګویا "عطائی تو بلقائی تو" بینوا توجروا؟

**جواب:** عن التتمة: کومو اهل علمو چه د بینک نه د سود اخستلو ګنجائش ورکړی دی، د هغوئ په نزد خو چه کوم سود هلته جمع شوی دی، هغه د دغه کس ملکیت دی، نو په هغې کې ورکول



داسې دي لکه د خپل کور نه ورکول، په دې تقدیر باندې حیله کافي نه ده، او د مسلمان کافر ته سود ورکول د یو په نز هم جائز نه دي، او کوم اهل علم چه د سود اخستلو ته حرام وائي، د هغوئ په نزد چه کوم سود هلته جمع دی، هغه د دې کس ملکیت نه دی، د هغوئ په نزد دا حیله کافي ده، البته روپو جمع کولو په وخت چه کومه معامله د سود د بینک والا سره شوې ده، همداسې د قرض اخستلو په وخت هم د سود ورکولو وعده کړې ده، البته د دغه حضراتو په نزد د ګناه موجب شو، بهرحال په ذکر شوي صورت کې دا کس د ګناه نه په یو حال کې هم محفوظ نه شو، که د سود اخستلو ګناه وي او که د ورکولو.

## د خاصو روپو د نفع په بدله کې د اخبار جاري کول

**سوال:** (۲۳۳) بعضې اخبار والا داسې کوي چه دومره روپۍ دفتر کې جمع کولو سره چه څو پورې هغه روپۍ هلته جمع وي، اخبار د روپو د مالک په نوم جاري وي، او کله چه هغوئ روپۍ واپس راوغواړي د کوم د راغوښتلو اختیار چه هر وخت لري اخبار به بند کړی شي، د معاملې دا صورت جائز دی او که نه؟

**جواب:** دا روپۍ د قرض په طور دي، او اخبار د هغې په نفع کې نو ظاهره ده چه حرام دی او سود دی. ۴ ربیع الثاني ۱۳۳۱هـ (حوادث ۲۰۱ صـ ۱۷).

## په ډاکخانه کې بغیر د سود نه روپۍ جمع کول او

## د ډاکخانې نه د سود اخستلو حکم او بیا صدقه کول

**سوال:** (۲۳٤) (۱) ډاکخانه کې بغیر د سود نه روپۍ جمع کول جائز دي او که نه؟

(۲) په ډاکخانه کې سودي روپۍ جمع کول او هغه روپۍ ضرورت مندو ته ورکول جائز دي او که نه؟ دا محکمه د کافرو ده، او په دې کې د تاوان احتمال ډیر کم وي، د نه کیدو ته نزدې دی، ځکه چه ډاکخانه کې روپۍ بغیر د سود نه د امانت په طور دي، څه وخت چه وغواړې واپس ئې اخستلی شي، څه اعتراض نشته دی، او څوک چه سود نه اخلي نو نه ئې ورکوي، خپل ځان سره به ئې بېدي، زما څه روپۍ بغیر د سود نه جمع دي؟

جواب : د ډاکخانې په معامله کې کله چه د خسارې احتمال قریب نه وي نو په دې کې د علماو اختلاف دی، ځکه څو شرطونو سره ګنجائش دی.

(۱) د دې اظهار ونه کړی شي چه ما روپۍ داخلې کړې.

(۲) کوم بل سند ونه نیسې.

(۳) پخپله دا د معاملې والا نور فاسد معاملات په دې قیاس او جائز ونه ګڼې.

(۴) د سود نه اخستلو په صورت کې د ډاکخانې والا دا روپۍ په ناجائزه مصرفولو کې خرچ نه کړي، او د هغه ځاي نه اخستل او حاجت مندو ته ورکول د همدې اختلاف په بنا ګنجائش لري.

او په ۴ شرط کې چه کوم د ناجائزه مصرف ذکر دی، په هغې کې دا هم راغلي چه ډاکخانې والا په هغې باندې سود اخلي، او که دا ۴ شرط متحقق نه شي، نو د هغوي سره دې سود نه پریږدي، او دا سود د هغه چا لپاره تفصیل دی چا چه روپۍ داخلې کړېوي، کنه نو په اصل کې هلته روپۍ نه داخلول مناسب بلکه واجب دي ځکه چه په هر حال کې دا کس په معاصي کې د هغه معین جوړیږي. ۲۷ صفر ۱۳۴۳هـ، (تتمه خامسه صـ۳۲۴).

## د نوټ نه سکه کیدل بلکه د قرض سند کیدل

سوال :(۲۳۵)نوټ کاغذي سکه ده، د نورو سکو په شان ده او که نه؟

جواب : نــه. ۱۱ رجب ۱۳۲۷هـ، (حوادث ۱، ۲ صـ۳۴).

## د سرکاري نوټ د قرض کیدو سند

سوال :(۲۳۶)ګزارش دا دی چه حسن العزیز جزو مجالس الحکمت (اربعین مصطفائي) د مجلس سیم کتلو سره د نوټ د مال سند کیدل معلوم شول د کوم نه چه یو شک پیدا کیږي کوم چه لیکم امید دی چه صحیح جواب راکړئ:

یو سړی د بل نه ۱۰۰ روپۍ نغدې قرض واخستلې، او د ادا کولو په وخت ئې د ۱۰۰ روپو نوټ ورکړو، اوس که دا نوټ د روپو اخستونکي سره وسوزي یا بل صورت کې هلاک شي نو هغه مدیون کس د قرض ادا کولو نه بري شو یا به هغه نورې سل روپۍ ورکوي،د سرکاري قانون مطابق خو هغه سل روپۍ ادا شوې ځکه چه سرکار نوټ نفس مال ګرځولی دی، د دې پهښا اکثر دا



مشاهده شوې ده چه نوټ د سوزیدو او د نمبر د موجودیدو باوجود د حکومت نه د هغه د سوو روپو مال وصول نه کړی شو، ځکه چه د سرکار په نزد د نفس نوټ ښودل ضروري دي، اګر که هغه سوزیدلی یا شلیدلی ولې نه وي؟

جواب : کله چه سوزیدونکي نوټ باندې روپۍ ملاویږي، د دې مطلب خو دا دی چه حکومت هم دا د مال سند ګڼي، که مال وي، کېره واخلي او هغه وسوزي نو آیا د هغې سوزیدلې ښودلو سره کوم کس روپۍ اخستلی شي.

سوال (د بره سوال ضمیمه): او د شریعت د قانون موافق د نوټ په وجه نفس مال یا به حکم کې مال نه ګرځولو هغه سل روپۍ ادا نه شوې لکه څنګه چه د نفس نوټ نه زکات نه ادا کیږي، اوس په دې امر کې تردد دی چه د هغه سوزیدلې نوټ ۱۰۰ روپۍ قرض کې ادا شوي او که نه؟

جواب : (ضمیمه بالا): چونکه د مال د سند کیدو په صورت کې دا حواله ده، چه د دواړو په رضا سره شوې ده، او په حواله کې مدیون بالکل بري کیږي، نو ځکه قرض ادا شو، البته دومره شبهه ضرور ده چه په حواله کې د توی په صورت کې قرض راګرځي، نو آیا د نوټ داخلیدل په توی کې دي او که نه، دې کې زما د ډیر وخت نه شک دی، تراوسه پورې پرې نه یم پوهه شوی نو د علماو نه دې تحقیق وکړی شي. ۱۳۳۸هـ، (حوادث خامسه صـ۳۳).

## د مشین والا د یو بل سره وره ګډول

سوال :(۲۳۷) کله چه مشین ته غله ولیږل شوه او ومې لیدل چه د اکثره خلکو د وړو نه هغوی راوویستل او د بعضې بعضو په وړو کې د نورو راوتل کوم چه جمع وو، هغه واچول نو د دې څه بندوبست کول پکار دي، بلکه دا خبره ناممکنه ده، چه څومره د سړي غله کیږي هومره وړه دې ملاو شي، بلکه د نورو ورسره ملاووي او پوره کوي ئې؟

جواب : کله چه د ټولو نه راوویستل او ګډوډ ئې کړل نو دا خلک د دې مالکان په ملک خبیث سره شول، بیا چه کله د نورو د وړو سره هغه ملاو کړی شول چونکه دا په مقدار کې داخل وړو نه کم دي، نو ځکه د غالب اعتبار کولو سره به ټولې ته حلال وویل شي، خصوصا کله چه ئې انتظام اختیاري نه وي، معاف به ورته وویل شي. یکم شعبان المعظم ۱۳۳۴هـ، (تتمه اربعه صـ۷۴).

## په خاص صورت کې په بینک کې روپو اېښودلو حکم

سوال :(۲۳۸) په بینک کې د جمع کولو دوه صورتونه دي (۱) میعادي، (۲) غیر میعادي. میعادي هغه دی چه د معلومې نیټې لپاره بینک کې اېښودل کیږي، او بینک پرې سود ورکوي لیکن د اصل نیټې نه وړاندې نه شي ملاویدی، غیر میعادي هغه دي چه د مجهول وخت دپاره بینک کې کېښودل کیږي او بینک په هغې باندې سود نه ورکوي، بینک چه څنګه د خلکو روپۍ خپل ځان سره جمع کوي، داسې قرض هم ورکوي، نو اکثر بلکه ټول تاجران د خپل وقتي ضرورت دپاره د بینک نه روپۍ قرض اخلي لیکن بینک پخپله په یو صورت کې سود ورکوي، او خلي بهر صورت او ورکولو کې څوک هم مستثنی نه دي، نو که یو کس خپلې روپۍ میعادي جمع کړي، او د بینک نه سود وصول نه کړي د هغې حساب جدا خلاص کړي او کله چه د خپل ضرورت په وخت د بینک نه روپۍ قرض واخلي او بینک د ادا کولو په وخت د سود مطالبه وکړي نو دا به همدې حساب سره د وصولولو اجازت ورکړي نو داسې سودي لین دین به جائز وي او که نه؟ دا کار هم د لحاظ قابل دی چه څومره لوئې تجارتونه چه دي د قرض نه بغیر نه شي چلیدی، فقط بینوا توجروا؟

جواب : په دې تدبیر او متعارف لین دین کې هیڅ فرق نشته دی، آیا دا ممکنه نه ده چه غیر میعادي جمع کړی شي، په کوم باندې چه سود نه ملاویږي، او کله چه ضرورت وي نو د خپلو اصلي روپو نه ئې واخلي، سود هم ورنه کړی شي. ۸ جمادي الثاني ۱۳۳۲ھ، (حوادث ۲۰۱ ص ۱۳۷).

## د ربوا وغیره په باب کې د عموم بلوی غیر موثر کیدل او د بعضې معاملاتو د حلالوالي او حراموالي صورتونه او د بعضې هغه تجارتونو جواز چه ظاهراً په کې د سود اشتباه وي

سوال :(۲۳۹) د بمبئ نه د مال راوغوښتلو درې طریقې کیدی شي:

(۱) پخپله لاړ شي او هغه واخلي.

(۲) د دکان د مالک نه د خط په ذریعه راغوښتل شي.

(الف) روپۍ پیشکي ورکولو سره.

(ب) د "وي پي" په ذریعې سره.



په اول صورت کې خو هلته د تللو او خرچ دومره حرج دی چه هومره ګټه نه کیږي، دا صورت د تجارت فوت کیدو په غرض سره نه شي اختیاریدی. په دویم صورت کې د دکان مالک فرمائش نه اوري، ځکه چه د دې رواج نه دی، چه د دغه خلکو نه په دې ذریعې سره څه واخستل شي، نو صرف دریم صورت تعین شو د هغې صورت: (الف) کې اکثره نقصان کیږي، ځکه چه کله روپۍ د هغوئ لاس ته ورسیږي نو څنګه چه غواړي هغه شان مال رالیږي، او خامخا به ئې اخلو نو نقصان کیږي، په کوم کې چه د تجارت غرض (فائده) فوت کیږي.(ب) صورت کې کومه تجارتي خدشه نشته ځکه چه مال راتللو باندې قیمت ورکوو او واپس کولو اختیار هم راسره وي، لیکن په دې صورت کې د نورو مدونو سره یو مد د آړهت او یو د سود هم وي ځکه چه دلال یا خو قرض اخلي، او که مالدار وي نو د خپل طرف نه مال رالیږي، او د هغه روپو سود لګوي، نن صبا چه علی العموم څومره لوئې تجارتونه دي په هغې کې ضرور سود ورکول کیږي، او بل کوم صورت د سفر کولو نه علاوه په تجارت کې شته دی، آیا په دې صورت کې د عموم بلوی د وجې نه داسې سود اخستل جائز دي او که نه، بینوا توجروا؟

جواب : عموم بلوی په حلالو او حرامو کې موثره نه وي، صرف د دې وجې نه سود ورکول نه شي جائز کیدی، که داسې حیله وکړی شي چه دلال پوهه کړی شي چه مونږ ته د سود عنوان لیکلو په ځاي د اطلاع ورکول لپاره په دې عنوان لیکل کوي، چه مونږ په اصل قیمت کې دومره زیاتوالی کوو او دا تاجران دې دا قبلوي، نو په دې کې د جواز ګنجائش شته دی، ځکه چه د عقد پوره کیدو نه بعد زیادة في الثمن بتراضی متعاقدین جائز دی، مګر شرط په کې دا دی چه دلال مال واخلي او په هغه تاجر ئې خرڅ کړي.۸ جمادن الاخرن ۱۳۳۲ھ (حوادث ۲۱ص ۱۳۸).

تتمه سوال بالا ۲۴۰: دا حیله د مجبورئ د وجې نه کړی شوې ده او په دې کې د شارع د کوم غرض ابطان نه راځي، ځکه چه د سود د حرمت په زرګونو طریقې اوس هم باقي دی، په کوم کې چه بالکل حیله نه چلیږي، د اسقاط زکات په خلاف چه اول خو هلته څه اضطرار نشته، دویم دا چه په هغې کې د شارع د غرض ابطال لازمیږي، نو که ټول داسې وکړي نو د شارع په اهلِ اموال باندې د زکات فرض کول لغوه کیږي، او د زکات د فرضیت به هیڅ صورت باقي پاتې نه شي، د اهل نصاب د موندل کیدو باوجود دا غرض خو د تشریع متعلق دی، دویم غرض به دا باطل شي چه

د زکات مقصد د مسکینانو غنیان کول دي، د دې به نوبت نه راځي دا غرض د تشریع د غایت متعلق دی. فشتان ما بینهما. ۹ جمادی الاخری ۱۳۳۲ھ، (حوادث ۲۰۱ ص ۱۳۸).

## په هندو باندي د سود ډګري کول

**سوال**: (۲۴۰) یو مسلمان زمیندار په هندو باندې د درې سوه روپو مقدمه وکړه، او سود ئې ۲۷ ولګولو، هغه مسلمان وائي چه سود مې د دباو د وجې ولګولو، زه به ئې په خپله ډګري نه مصرفوم کوم غریب ته به ئې ورکړم، دا سود هغه له لګول جائز دي او که حرام؟

**جواب**: فقه کې داسې روایت دی په کوم کې چه مسلمان له د هندو نه د دغه ۲۷ روپو اخستلو ګنجائش شته دی، مګر په دې کې شرط دا دی چه هغه هندو ئې په رضا ورکړي او رضا هم د ورکولو په وخت معتبره ده، نه چه د معاهدې کولو په وخت، نو که هندو په دې ډګري باندي په زړه کې راضي وي نو ډګري ورکول جائز دي او که هغه په دې راضي نه وي نو جائزه ده او د ډګري نه بعد هم ورکول د هغه مرضي ده، جبر کول پرې صحیح نه دي. ۲۸ رمضان ۱۳۳۳ھ، (حوادث سوم ص ۱۵۳).

## د ضامن د ملازم نه سود اخستل چه ضمانت ئې ورله کړی وو

**سوال**: (۲۴۱) په سرکاري ملازمتونو کې او خصوصاً په محکمه ډاګ کې چه کوم کس د ملازمت امیدوار وي هغه له نغدې یا جائیداد ضمانت داخلول وي، او څوک چه د غریبۍ په وجه داسې نه شي کولی د هغوۍ ضمانت یوه کمپنۍ کوي کوم چه ضمانت نامه د هغه په درخواست باندې په سرکاري محکمه کې داخلوي، او په خپل مقرر نرخ باندې د دغه ضمانت سود د هغه ملازم نه اخلي، د کوم ضمانت چه هغه کړی وي، نو که هغه ملازم باندې څه تاوان راځي نو باضابطه هغه روپۍ بینک نه ورکول کیږي، کنه نو څه پورې چه د ملازمت په سلسله او دا ضمانت قائم شي ماهوار سود یا روپۍ د تنخواه نه کټ کیږي، یا ئې هغه ورلیږي، نو دا ضمانت شرعاً جائز دی او که نه؟ او څوک چه حاجت مند وي او د عذر د وجې نه داسې وکړي نو په دې کې شرعاً څه ګنجائش شته دی او که نه؟

**جواب**: د قاعدې د مخې خو دا د شریعت خلاف ده ځکه چه د تاوان مقتضا صرف دومره ده چه څومره روپۍ کمپنۍ ورکړې وي، هومره دې د هغه کس نه وصول کړي، زیات اخستل ظاهره ده ناجائز دي، لیکن مضطر له دا زیاتي ورکول امید دی چه د عفو قابل به وي، لیکن همیشه لپاره



دې استغفار وائي او کله چه بله لاره پیدا شي نو هغه دې پریږدي. ۵ رجب ۱۳۳۵ھ، (تتمه اربعه ص ۷۳).

## د قرض د سبب د وجې نه د ځمکې په اجرت کې د کموالي عدم جواز

**سوال**: (۲۴۲) یو کس خپله ځمکه په مزارعت ورکوي چه پیداوار کې به نیمه د کروندګر او نیمه به د ځمکې د مالک وي، او چونکه د ځمکې خواهشمند نور هم دي، اوس کروندګر د ځمکې مالک ته څه روپۍ قرض ورکوي، ترڅو د قرض ادا کولو پورې بل چا له ځمکه ورنکړي نو دا قرض اخستل به جائز وي؟

**جواب**: "کلیه کل قرض جر نفعا فهو ربوا" کې داخلیدو د وجې نه دا حرام دي. ۲۲ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ، (تتمه اربعه ص ۱۹).

# كشف الدجى عن وجه الربوا

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى وبعد فقد اطلعنا على الاستفتاء الذي ورد علينا من الصدارة العالية والمحكمة الشرعية للدولة الاصفية في حقيقة الربوا فاردنا ان نخرج للمستفتي ما عندنا من العلم وفق طلبه ونوضح له طريق الحق ومحجة الصدق انجاحا لمراده ومآربه وبالله اعتضد فيما اعتمد وهو حسبي ونعم الوكيل ولنذكر قبل الشروع في الجواب اصولا موضوعة ليتيسر لنا بها طريق الايجاز في بيان الصواب.

ترجمه: الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى اما بعد:

په دې زمانه کې یوه رساله صدارت عالیه او محکمه شرعیه دولت آصفیه حیدرآباد دکن نه د استفتاء په عنوان شائع شوې ده په کوم کې چه د دې کار د ثابتولو کوشش کړی شوی دی، د سود صرف په اخستلو او خرڅولو کې کیږي، په قرض کې نه شي راتللی، چونکه دې رسالې سره د عوامو او د بعضې خواصو د ګمراهۍ اندیښنه وه نو ځکه راته دا ضروري معلومه شوه چه د هغې تفصیلي جواب ورکړی شي، او دغه تلبیسات ښکاره کړی شي په کوم باندې چه خلکو ته د دوکې ورکولو کوشش کړی شوی دی، نو د الله ﷻ په توکل مونږ د سود د حقیقت واضحه کولو دپاره قلم اوچتوو او د جواب نه وړاندې یو څو اصول موضوعه بیانوو، ترڅو جواب کې اختصار آسان شي.

**الاصل الاول:** ان اجماع المجتهدين حجة لا يجوز لاحد خلافه والائمة المجتهدون اذا اختلفوا في مسيلة في اي عصر كان على اقوال كان اجماعا

**اول اصل:** د مجتهدینو اجماع او اتفاق حجت دی، چا له د هغې د مخالفت اجازت نشته او د ائمه مجتهدینو نه چه کله په یوه

منهم على ان ماعداها باطل ولايجوزلمن بعدهم احداث قول اخر(نور الا نوار صفحه ۲۲۳) وكذاصرح به الاصوليون قاطبة ومن اراد التفصيل فليراجع التوضيح والتلويح واحكام الاحكام وفواتح الرحموت وغيرها.

زمانه کې مختلف اقوال نقل وي نو د هغوئ نه وروستو زمانه کې د هغه اقوالو نه بغير د بل نوي قول قائل کيدل جائز نه دي، (نور الانوار صـ۲۲۳). دا قاعده ټول اهل اصـولو صراحةً بيانه کړې ده، څوک چه د تفصيل شوق لري هغه دې توضيح و تلويح، احکام الاحکام او فـواتح الرحموت وغيره مطالعه دې وکړي.

**الاصل ثاني** :العامي ومن ليس له اهلية الاجتهادوان محصلالبعض العلوم المعتبرة في الاجتهاد يلزمه اتباع قول المجتهدين والاخذ بفتواهم عند المحققين من الاصولين (احكام الاحكام للامدى صـ۳۰۶ جـ۴) اى ولايجوز الاجتهاد في القران والحديث والعمل باجتهاده مالم يظهر موافقته لقول المجتهدين.

**دويم اصل:** په کوم کس چه د اجتهاد اهليت او قابليت نه وي که هغه محض عامي وي يا ئې دا علوم څه ناڅه حاصل کړي وي کوم چه د اجتهاد د شرائطو نه دي، دغه دواړو له د خپلو مجتهدينو د قول او فتوی اتباع لازمه ده، د محققين اهل اصولو همدا مذهب دی، د احکام الاحکام للآمـدي صــ۳۰۶، جــ۴) يعـني څـوک چـه د اجتهـاد قابليـت نـه لـري هغه لهپخپله د قرآن او حديث نه مسائل مستنبط کول او په هغې بيا عمل کول جائز نه دي، ترڅو چه د دغه قول د مجتهدينو د قول سره موافقت ظاهر نه شي.

**الاصل الثالث** :الثابت بدلالة النص ماثبت بمعنآ النص لغة لا اجتهادا وليس المراد به معناه اللغوى الموضوع له بل معناه الالتزامى كالايلام من التافيف والحاصل انه اذاوجد في معنى النص علة يفهم كل من يعرف اللغة ان الحكم في منطوق لاجلها فدلالة النص والثابت بدلالت النص كالثابت بالعبارة والاشارة في الثبوت بالنظم والقطعية وهوفوق القياس لان المعنى في القياس مدرك رايا لا لغة بخلاف الدلالة اه نور الانوار صـ۱۴۸، والتوضيح مع التلويح صـ۱۳۶ مصري).

**دريم اصل:** دلالة النص او قياس دوه جدا جدا څيزونه دي، ځکه د قياس نه چه کومه خبره مفهوميږي هغه د عقل او فهم په مدد سره مفهوميږي، او د دلالة النص نه چـه کومـه مسئله معلوميږي په هغې باندې پخپله د خبرې دلالت دی په کومه چه هر ژبه پوهيـدونکی بنه پوهيږي، دْ دلالة النص حاصل دا دی چه دْ کلام په معنی کې يو علت داسې موجـود دی، چه هره ژبه پوه پرې پوهيږي، او په دې کلام کې چه کوم حکم ذکر شوی دی هغـه په دغه علت باندې مبني دی، لکه څنګه چه د الله تعالـی ارشـاد دی: "فـلا تقـل لهمـا اف ولا تنهرهما" چه مور او پلار ته اف هم مه کوئ، ځکه مسخ کړی شوی چه هغوئ تـه اذيـت ونـه رسيږي، او همدا به ترې مراد اخلي چه کله إف حرام دی، نو کنځل کول او وهل خو پـه طريقـه اولی حرام دي، او دې ته قياس نه شي ويلی، ځکه چه قياس سره په يوه خبره باندې پوهيـدل د يـو مجتهد کار دی، او دلالة النفس باندې هر ژبه پوهه پوهيږي، نو د دلالة النص درجه د قياس نه اوچته ده، او په دې سره چه کومه مسئله معلومه شي هغه به همداسې قطعي او يقيني وي لکه څنګه چـه د عبارة النص او اشارة النص وغيره مدلول کيدل قطعي وي. (نور الانوار صــ۱۴۸، توضح تلويح مصري ۱۳۹ جـ۱)



**الاصل الرابع** :مدار التصحيح والتضعيف للحديث ليس على الاسناد فقط فاذاقيل هذاحديث صحيح فمعناه قبلناه عملا بظاهر الاسناد لا انه مقطوع به في نفس الامر لجواز الخطاء والنسيان على الثقة واذاقيل هذاحديث ضعيف فمعناه لم يصح اسناده على الشرط المذكور لانه كذب في نفس الامر لجواز صدق الكاذب واصابة من هو كثير الخطا اه (تدريب الراوى صـ۱۹،۱۸) المجتهد لما استدل بحديث كان ذلك تصحيحا له منه كذافي التحرير لابن الهمام وغيره اهـ (شامى صـ۵۷ جـ۳) قال ابوالحسن بن الحضار في تقريب المدارك على موطامالك قد يعلم الفقيه صحة الحديث اذالم يكن في سنده كذاب بموافقة اية من كتاب الله اوبعض اصول الشريعة فيحمله ذلك على قبوله والعمل به اه (كذافي تدريب الراوى صـ۲۶) وقال المحقق ابن الهمام في الفتح اذاتايد الضعيف بمايدل على صحته من القراين كان صحيحا اه (صـ۲۸۳ جـ۱) وقد يحكم للحديث بالصحة اذاتلقاه الناس بالقبول وان لم يكن له اسناد صحيح قال ابن عبد البر في الاستذكار لما حكى عن ترمذى ان البخارى صحيح حديث

**څلورم اصل:** د حديث ضـعيف او صــحيح کيدو مدار صرف په سند باندې نه دی، نـو کله چه دا وويل شي چه دا حديث صــحيح دی، نو د دې مطلب به دا وي چـه مونـږ ظاهري اسناد ته کتلي او دا مو قبول کـړي دي، او دا معنی به نه وي چه واقعي دا حديث قطعي او يقين دی، ځکه چه د ثقه راوي نه هم څه هيريدلی شي، او کله چه دا وويل شي چه فلانی حديث ضعيف دی، نو د دې مطلب دا وي چه د دې سند د شرائطو موافق صحيح نه دی، دا مطلب نه وي چه واقعاً دا حـديث غلط دی، ځکه چه د دروغجن هم رشتيا ويل او د غلطي کولو والا کله کله په درسـتوالئ راتلـل ممکـن دي، (تـدريب الـراوي صــ۱۹،۱۸) د مجتهد د کوم حـديث نـه استدلال کول د هغوئ په نزد د حديث پـه صحيح کيدو باندې دلالـت دی. (شـامي

البحر هو الطهور ماءه، واهل الحديث لا يصححون مثل اسناده لكن الحديث عندي صحيح لان العلماء تلقوه بالقبول اه (من تدريب الراوي ص ۱۵) والقبول يكون تارة بالقول وتارة بالعمل عليه قال المحقق في الفتح وقول الترمذي العمل على عنده.

ص ۵۷، ج ۴) بحواله تحرير ابن همام وغيره). ابو الحسن بن حضار مالكي په خپل كتاب تقريب المدارک کې فرمايلي دي چه فقيه ته بعضې وختونو کې د حديث صحيح كيدل د شريعت د اصولو يا د قرآن كوم آيت

نه هم معلوميږي، د كوم د وجې نه چه هغه د هغې قبلولو ته او عمل كولو ته مجبوره شي، پسه دې شرط چه د حديث په سند کې كوم كذاب (ووضاع) نه وي (تدريب الراوي ص ۱۶). محقق ابن همام فتح القدير کې فرمائي چه ضعيف حديث تائيد چه كله په داسې قرائنو سره كيږي چه د هغې په صحيح كيدو دلالت كوي نو هغه به صحيح شي (ص ۲۸۳، ج ۱). تلقی بالقبول د وجې نه هم د حديث د صحت حكم كيږي، او د تلقي بالقبول معنى دا ده چه علماء عام طور سره حريت قبول كړی نو حافظ ابن عبدالبر د ترمذي دا قول چه بخاري د حديث البحر[1] هو الطهور ماءه ته صحيح ويلې دي، نقل كوي او فرمائي چه گويا چه محدثين داسې سند ته صحيح نه وائي، مگر زما پـه نـزد دا حديث صحيح دی، ځكه چه علماو دا په لاسونو قبول كړي دي (تدريب ص ۱۵) او د علماو د ير حديث قبلول كله په قول سره وي او كله عمل سره، نو محقق ابن همام په فتح القدير کې فرمايلي دي چه د ترمذي حديث بيانول او دا ويل چه د اهل علمو په همدې باندې عمل دی، د حديث اصل قوي كيدو باندې دلالت كوي، اگر كه د دې خاص سند ضعيف دی، (ص ۱۸۸، ج ۱) حافظ سيوطي په تعقباتو کې فرمايلي دي چه حديث ([2])من جمع بين صلوتين من غير عذر فقد اتى بابا من الكبائر، ترمذي روايت كړی دی، او ويلي ئي دي چه د دې راوي حسين ته احمد وغيره ضعيف ويلي دي، ليكن د اهل علمو په همدې باندې عمل دی، نو ترمذي په دې خبره اشاره كړې ده چه د اهل علمو په قول سره جديث قوت شو، او ډيرو علماو د دې كار تصريح كړې ده چه د حديث د صحيح كيدو يو دليل دا هم دی چه داهل علمو فتویٰ د دې موافق وي، اگر كه سند ئې د اعتماد قابل نه وي (ص ۱۲).

---

۱- دسند راويه بالكل صفادی ۱۲.

۲- چاچې دوه لمونځونه بغير د كوم عذر نه يوځای وكړل (جمع بين صلوتين) يې وكړ هغه ديوې لويې گناه مرتكب شو. ۱۲



**الاصل الخامس:** الحديث المرفوع الضعيف اذا تأيد باقوال الصحابة او قول اكثر العلماء فهو مقبول محتج به كالمرسل عند من لا يحتج به اذا تأيد بشيء من ذلك كان حجة اتفاقا ومن اراد التفصيل فليراجع تدريب الراوي ورسالتنا المسماة بانهاء السكن وقد مر في الاصل الرابع ما يويده ويشيده.

**پنځم اصل:** كه د حديث مرفوع صحيح تائيد د صحابه و د اقوالو يا اكثره علماو د اقوالـو نه كيږي، نو حديث به مقبول وي، او په هغې به استدلال صحيح وي لكه څنگه چه مرسل د بعضو په نزد حجت نه دی، مگر كله چه هغه د صحابه و د اقوالو يا اكثرو علماو نه مويد وي نو اتفاقاً حجت دی، څوک چه تفصيل گوري هغه دې تدريب الراوي او زمونږ رساله "انهاء السكن" دې مطالعه كړي او په څلورم اصل کې هم د دې څه مويدات ذكر كړی شوي دي.

**الاصل السادس:** ان الاجل لا قيمة له مستقلا عند الشارع صرح به الفقهاء قاطبةً واعترف به المستفتي في هذا الاستفتاء ايضا (صفحه ۸ سطر اخير).

**شپږم اصل:** د زمانې او مودې دپاره بالاستقلال په شريعت کې څه قيمت نشته ټولو فقهاو د دې تصريح كړې ده او پخپله مستفتي هم په اتمه صفحه کې د دې اعتراف كړیٔ دی.

**الاصل السابع:** علة حرمة الربوا كونه ظلما وغبنا قوله تعالى فان تبتم فلكم رءوس اموالكم لا تظلمون ولا تظلمون الايه فما كان من معاملات المال بحيث يكون الظلم فيه اكثر كان اولى بكونه ربا من غيره لضرورة وجود المعلول مع وجود العلة قال ابن رشد في بداية المجتهد وذلك انه يظهر من الشرع ان المقصود بتحريم الربا انما هو لمكان الغبن الكثير الذي فيه وان العدل في المعاملات انما هو مقاربة التساوی اه (ص ۷۹ ج ۲).

**اووم اصل:** د سود د حراميدو علـت دا دی چه هغه د ظلم فرد دی، الله جل جلاله فرمائي، "وان تبتم فلكم رءوس اعمالكم لا تظلمون ولا تظلمون" نو په كوم مالي معاملاتو کې چه ظلم زيات وي هغه به په ربوا کې د نورو معاملاتو خلاف په درجه اولى داخل وي ځكه چـه د علت موجوديدو سره د معلول موجوديـدل ضروري دي، قاضي ابن رشد بداية المجتهد کې ليكي چه د شريعت نه دا خبره ظاهره ده چه د سود حرامولو منشا دا ده چه په سود کې ډيـر ظلم دی، او په معاملاتو کې عدل دا دی چه فريقين قريب قريب مساوي وي.

**الاصل الثامن:** اقوال التابعين في تفسير الآيات حجة قال ابن القيم في الاعلام ومن تأمل كتب الايمة ومن بعدهم وجدها مشحونة بالاحتجاج

**اتم اصل:** د آياتونو په تفسير کـې دتـابعينو اقوال حجت دی، علامه ابن القيم پـه اعلام الموقعين کې ليكي چه څوک چـه د ائمـه و او

بتفسير التابعي اه.صــ۲۳۲جــ۲) وبعد ذلك فلنشرع في الجواب وبيان الحق والصواب فيما سيلنا عنه فنقول الفضل المشروط في القرض ربا محرم لا يجوز للمسلم اخذه من اخيه المسلم ابدا الاجماع العلماء المجتهدين على حرمته فلم يقل احد منهم لجواز الفضل المشروط في القرض ومن ادعى غير ذلك نسيله هل هو مجتهد او غير مجتهد فان ادعى الاجتهاد وتيسر الامة له ودونه خرط القتاد فليجعل نفسه عرضة للامتحان لكي يكرم او يهان وايضا فلا يجوز له وان كان مجتهد احداث قول قد اجمع السابقون من المجتهدين على بطلانه فقد قال رحمة الامة واذا اقترض رجل من رجل قرضا فهل يجوز ان ينتفع بشيء من مال المقترض اولا يجوز ذلك ما لم تجر عادة به قبل القرض قال ابو حنيفة ومالك واحمد لا يجوزوان لم يشرطه وقال الشافعي ان كان من غير شرط جاز والخبر محمول على ما شرط اه (صـ۷۳) وهذا هو مختار الكرخي منا وقال شمس الايمة الحلواني بمثل ما قال الثلثة كما سياتي قد اجمعوا على حرمة الفضل المشروط في القرض واتفقوا ايضا على الاحتجاج بحديث النهي عن كل قرض جر نفعا وانما اختلفوا في تاويله واستدلال المجتهد بحديث تصحيح له كما تقدم في الاصل الرابع فبطل ما زعمه المستفتي انه غير ثابت ولا اصل له (صـ۱۳) وانه متروك العمل باتفاق الامة (صـ۱۱) وان اعترف بقصوره عن درجة الاجتهاد قلنا له فلا يجوز لك الاستنباط من القران والحديث بل يلزمك اتباع اقوال المجتهدين المقتدى بهم في الدين فارنا نصا منهم على جواز ما ادعيت جوازه وان لم تفعل

د هغوئ نه وروستو علماو په كتابونو كښې تامل وكړي نو هغه به د تابعي د تفسير نه وړک وګوري، (صــ۲۳۲، جــ۲) اوس مونږ د موضوعه اصولو نه بعد مذكوره استفتاء ليكل شروع كوو او وايو چه په قرض كښې دا شرط لګول چه د اصل نه به زيات وصولوو حرام دي او زياتي روپئ سود دی، كوم چه يو مسلمان له د بل مسلمان نه اخستل بالكل جائز نه دي، ځكه چه د ائمه مجتهدينو د دې په حرمت باندې اجماع ده چا هم په قرض كښې د زياتوالي شرط ته جائز نه دي ويلي او څوک چه د دې د خلاف مدعي وي مونږ د هغه نه دا سوال كوو چه هغه مجتهد دی، او كه غير مجتهد كه هغه د اجتهاد مدعي وي نو ځان دې امتحان ته تيار كړي ترڅو د هغه د عزت او ذلت راز ظاهر شي، بيا مجتهد له هم د داسې خبرې ايجادول جائز نه دي، د كوم په باطليدو چه د سابق مجتهدينو اجماع وي، نو په رحمة الامة كښې دي چه كله يو كس بل نه قرض واخلي نو آيا هغه له دا جائز دي چه د قرض اخستونكي نه څه فائده واخلي؟ يا دا جائزه نه ده مګر كله چه د قرض نه وړاندې هم دا عادت جاري وي نو امام ابو حنيفة، امام مالک او احمد فرمايلي دي چه جائزه نه ده، اګر كه بغير د شرط نه حاصل شوي وي،



ولن تفعل ابدا فاتق الله ولا تلق بيديك الى التهلكه بالقول في دين الله بغير علم ولا هدى ولا كتاب منير ولم تات المستفتي بدليل على جواز الفضل المشروط في القرض من اقوال المجتهدين بل حاصل كلامه كله ان لا دليل على حرمته من القران والحديث وحيثما اطلع في كلام الفقهاء على حرمته وانه ربا يرده بقوله ان لا دليل عليه ونحوه ولم يدر المسكين ان قول المجتهد بمجرده دليل في حق العامي وان كان محصلا لبعض العلوم المعتبرة وهو حجة ملزمة لا يجوز للعامي خلافه كما تقرر في الاصل الثاني.

او امام شافعي فرمايلي دي چه كه بغير د شرط نه نفع حاصله شي نو جائزه ده، او هغه حديث په كوم كښې چه د قرض د نفع حاصلولو ممانعت دی د شرط په صورت باندې مجهول دی،اهـ (صــ۷۳). د احنافو نه امام كرخي د امام شافعي قول اختيار كړی دی، لكه څنګه به چه آئنده كښې معلوم شي نو د رحمة الامة نه دا لاندې كارونه مستفاد شول:(۱) دا چه د شرط سره نفع حاصلول اجماعا د ټولو په نزد حرام دي.(۲) دا چه په كوم حديث كښې په قرض د نفع حاصلولو نه ممانعت كړی شوی دی، د هغې ټول اعتراف كوي نو په دې صورت كښې به مونږ په ادب دا ووايو چه تا لره د قرآن او حديث نه بلا واسطه د بل څه نه مسئله راويستل جائز نه دي، بلكه تا له د مجتهدينو د اقوالو اتباع لازمه ده، اوس تاسو د مجتهدينو كوم داسې قول وښايئ چه په هغې كښې هغوئ دې صورت ته جائز ويلي وي، د كوم دجائز كيدو چه تاسو دعوه كوئ، او كه داسې ونه كړئ نو ترقيامته به ئې ونه كړی شئ، نو د الله ﷻ نه وويريږئ، او په دين كښې خپلې رائې داخلولو سره خپل ځان مه تباه كوئ، غضب دا دی چه مستفتي په قرض كښې د شرط سره نفع حاصلولو جواز باندې د مجتهدينو د اقوالو نه كوم دليل ندی راوړی، بلكه د دې د ټولو تقريرونو حاصل دا دی چه د دې حرام كيدو باندې د قرآن او حديث نه كوم دليل نه ملاويږي، او د فقهاو په اقوالو كښې چه چيرته د حرام كيدو او ربوا كيدو ثبوت د نظر نه تيريږي، هغه دې ويلو سره رد كوي چه دا دعوه بې دليله ده، حال دا چه د عاميانو په حق كښې هغه څه علوم هم حاصل كړې وي، په خپله د مجتهد قول دليل دی، او داسې قوي حجت دی، د كوم د مخالفت چه عامي هيڅ حق نه لري. (ملاحظه كړئ اصل ۲).

ولعل هذا القدر كاف لجواب هذا الاستفتاء بطوله واف للمستفتي في انجاز سوله وانجاح ماموله ولكن نريدان نتكلم على ما ابداه من الدلايل

زمونږ دا اميد دی چه دې مختصر تقرير سره د مستفتي د لوئې استفتاء جواز وشو او مستفتي مدعي د دې نه پوره شوه مګر مونږ

بالتفصیل حیث یشفی به الغلیل ویتمیز الصحیح من العلیل فنقول قد زعم المستفتی ان الامة بعد اتفاقها علی ان المعنی اللغوی للربا لیس مرادا فی الایة تشعبت فرقتین فالایمة وجمهور العلماء عینوا هذه الافراد بالسنة فالربا عندهم منحصر فی البیع لاغیر وذهب البعض الی ان اللام فی الربا للعهد والمراد به ربا الجاهلیة الخ قلت اما الایمة فلم یرد منهم تصریح باجمال الایة اصلا ومن ادعی فلیرنا نصوصهم واما المتاخرون من العلماء فقد ذهب بعضهم الی ما قال المستفتی وقد بقی قول اخر ذکره ابن العربی فی احکام القران له وصححه ونصبه قال علماءنا الربا فی اللغة هو الزیادة؛ ولابد فی الزیادة من مزید علیه تظهر الزیادة به فلاجل ذلک اختلفوا هل هی عامة فی تحریم کل ربا او مجملة لا بیان لها الا من غیرها والصحیح انها عامة وکان الربا عندهم معروفا الی ان قال ان من زعم ان هذه الایة مجملة فلم یفهم مقاطع الشریعة فان الله تعالی ارسل رسوله صلی الله علیه وسلم الی قوم هو منهم بلغتهم لو انزل علیه کتابه تیسیرا منه بلسانه ولسانهم والربا فی اللغة الزیادة والمراد به فی الایة کل زیادة لم یقابلها عوض اه ملخصا (ص۱۰۲ ج۱) فان قیل لو کان الربا باقیا علی حکمه فی اصل اللغة لما خفی علی عمر لانه کان عالما باسماء اللغة لکونه من اهلها قلنا لفظ الربا کالمیسر فالمیسر اشتقاقه فی اللغة من المیسر (٦) او الیسار سمی به اللعب بالازلام ای القمار عرفا لما فیه من اخذ المال بیسر وسهولة من غیر کد ولا تعب

په مفصلې طریقې سره د دې د دلائلو جواب هم ورکول غواړو ترڅو تپوس کونکي ته د دې پوره تسلي وشي او هغه د صحیح او غلط ترمنځ فرق وکړی شي، نو مونږ وایو چه مستفتي دعوه کړې ده چه امت په دې باندې اتفاق وکړي، چه په ربا کې د ربا لغوي معنی مراد نه ده، د دوو ډلو طرف ته تقسیم شوې دي، ائمه و او جمهورو علماو خو دا ویلي دي چه د ربا لفظ په آیات کې مجمل دی، او ددې د افرادو تعین د حدیث نه معلومیږي، نو د هغوئ په نزد ربا په بیعه کې منحصره ده، د دې نه سوا په بل یو صورت کې هم ربا نه شي کیدی، او بعضو ویلي چه ربا کې د لام لفظ د عهد دپاره دی، د کوم نه چه مراد د زمانه جاهلیت ربا ده الخ، زه وایم چه د ائمه و نه خو په دې باره کې هیڅ تصریح نقل نه ده، څوک وائي چه دعوه کوي د هغې نصوص دې پیش کړي، او د متاخرینو علماو نه دا عبث نقل دي، په کوم کې خو بعضو هغه څه ویلي چه مستفتي ذکر کړي دي، او یو قول بل هم باقي پاتې شو، کوم چه علامه ابن العربي په احکام القرآن کې ذکر کړي دي، هغې ته ئې صحیح ویلي دي، او کوم حاصل چه دا دی چه په لغت کې خو ربا زیاتوالي ته وائي او زیاتوالی هغه وخت متحقق کیدی شي

٦ - قاله الامام الفخر الرازي في تفسير قوله تعالى "يسئلونك عن ... ر والميسر ١٢.



اولانه سبب الیسار والغنی اه فکذلک الربا کان فی اللغة عاما لکل زیادة ولکن خص فی العرف بکل زیادة لا یقابلها عوض بدلیل تفرقتهم بین البیع والربا کما یشعر به قولهم انما البیع مثل الربا ولا شک ان البیع والتجارة یقصد بهما الربح والزیادة فثبت ان مطلق الزیادة لم یکن ربا عندهم فبقاء لفظ الربا علی حکمه فی اصل اللغة لا یتصور اصلا بل المراد بقاءه عاما لکل ما کان یطلق علیه الربا فاولو کان الشارع اقتصر فی تحریم الربا علی ما کان یطلق علیه فی العرف لما خفی علی عمر لکونه من اهل العرف ولکنه حرم مع ذلک وادخل فیه صورا اواخر ما کان یطلق علیه لفظ الربا فی العرف فاستشکله عمر رضی الله عنه لخفاء العلة الجامعة بین تلک الصور ولاجل ذلک اختلف العلماء المجتهدون فی علة الربا فقال ابوحنیفه علتها اتحاد الجنس والقدر وقال الشافعی الجنس والطعم والثمنیة

کله چه بل څیز هم په مقابله کې موجود وي، د کوم په نسبت سره چه د کوم څیز زیاتیدل معلوم وي، نو ځکه علماو په دې کار کې اختلاف کړی دې چه آیا دا آیات د هر سود په حرامیدو باندې عام دی، یا داسې مجمل دی چه بلې خبرې سره ئې سړی په معنی پوهیدی شي پخپله د دې هیڅ معنی نه مفهومیږي، او صحیح دا وه چه د ربا آیات عام دي، او د ربا معنی عربو ته معلومه وه او چا چه دا دعوه کړې ده چه دا آیات مجمل دی هغه د شریعت په مقاصدو نه دی پوهه شوی، ځکه چه الله تعالی خپل رسول ﷺ داسې قوم ته رالیږلی وو چه هغوئ د وروری خلک وو، د هغوئ ژبه د هغوئ ژبه وه، او الله تعالی پرې کتاب هم په دغه ژبه نازل کړو، کومه چه د هغه د قوم ژبه وه. او د ربا لغوي معنی خو د زیاتوالي ده د کوم په مقابله کې چه کوم عوض نه وي. سوال: که د ربا معنی مجمله نه وي او لغوي معنی مراد وي نو بیا حضرت عمر رضي الله عنه باندې د دې معنی ولې پټه وه (لکه څنګه چه د بعضې روایتونو نه معلومیږي چه حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل رسول الله ﷺ وفات شو او د ربا تفسیر ئې ونه کړو) حال دا چه حضرت عمر رضي الله عنه په ژبه پوهیدو، لغوي معنی د هغوئ نه پټه نه شي پاتې کیدی؟جواب: د ربا لفظ د میسر په شان دی، لکه څنګه چه میسر په لغت کې د یسر نه اخستل شوی دی، د کوم معنی چه اساني ده،بیا ئې په عرف کې میسر قمار ته وویل ځکه چه په دې کې آسانئ سره مال ملاویږي، یا به دې سره غنا حاصلیږي،همداسې د ربا لفظ په لغت کې خو ډیر زیات تمام دی، لیکن عرف کې د زیاتوالي سره مخصوص کړی شوې ده، د کوم په مقابله کې چه هیڅ عرض نه وي، د دې دلیل دا دی‌چه عربو به په بیع او ربا کې فرق کولو او دواړه ئې جدا جدا څیزونه ګڼل، لکه څنګه چه د هغوئ قول انما البیع مثل الربا نه معلومیږي، او

تول پوهیږي چه بیعې او تجارت سره نفع او زیاتوالي مقصود وي، د دې نه معلومه شوه چه هر زیاتوالي ته ئې ربا نه ویله، نو د ربا لفظ په خپله اصلي لغوي معنی باندې محمولول خو بالکل نه شي صحیح کیدی، بلکه کوم خلک چه د ربا لفظ ته عام وائي د هغوئ مطلب دا دی چه په کومو ضرورتونو کې چه په عرف کې د ربا په لفظ اطلاق کیدلو دا لفظ هغه ټولو ته عام دی، اوس که شارع صرف د همدې صورتونو په حرامیدو باندې اکتفا کړې وي کوم چه عرفاً د ربا نه معلومیږي، نو حضرت عمر رضي الله عنه ته به هیڅکله هم په دې کې اشکال نه وو پیدا شوي، ځکه چه هغه پخپله د اهل عرف نه وو، لیکن شارع په ربا کې بعضې داسې صورتونه هم داخل کړي دي په کوم باندې چه په عرف کې د ربا اطلاق نه کیدلو، نو ځکه حضرت عمر رضي الله عنه ته دا اشکال پیښ شو، ځکه د دې ټولو صورتونو د حرامیدو علت جامع او مخفي وو، او د دې وجې نه د علماو ترمنځ د ربا په علت کې اختلاف پیدا شو، امام ابو حنیفه د دې علت اتحاد جنس او قدر ګڼلی امام شافعي جنس طعم او ثمنیة علت ګڼلي.

وقال مالك القوت والادخار مع الجنس فهذا وهو سبب خفاءه على عمر رضى الله عنه لا ما زعمه بعضهم من الاجمال فى الاية فان قيل فما معنى قول من وقال بالاجمال فى اية الربا قلنا ليس معناه انها مجملة من اصلها وان العرب لم تعرف الربا الا ببيان الرسول ﷺ كيف وقد حكى الله قولهم انما البيع مثل الربا الدال على تفرقتهم بينهما وامرهم بترك ما بقى له من الربا الدال على اخذهم اياه ويمتنع الاخذ بدون المعرفة بل معناه انها صارت مجملة حين ادخل الشارع فيه اشياء لم يكن يطلق عليها الربا عرفا فقد قال ﷺ الربا ثلثة وسبعون بابا الحديث وسياتى ونظيره قوله تعالى وامسحوا برءوسكم فانه ظاهر فى وجوب المسح على الراس مجمل فى

او امام مالک جنس او قوت او ادخار علت ګڼلي دي، نو د حضرت عمر رضي الله عنه د اشکال دا منشا وه نه دا چه د ربا لفظ مجمل دی لکه څنګه چه بعضو ګڼلي. سوال: بیا چه کومو کسانو د ربوا آیات ته مجمل ویلي د هغې څه مطلب دی؟جواب: د هغوئ دا مطلب خو بالکل نه دی چه دا آیات د اصل نه داسې مجمل دی، چه اهل عرب د رسول الله ﷺ د بیان نه وړاندې ربا پیژندله او پرې نه پوهیدل او دا څنګه کیدی شي او الله تعالی په قرآن کې د مشرکینو دا قول نقل کړی چه "انما البیع مثل الربوا" کوم چه دا خبره ښائي چه د اهل عربو د ربا او بیعې ترمنځ فرق کولو اوهغه ئې جدا جدا ګڼل، او الله تعالی هغوئ ته د باقي پاتې سود د پریښودلو حکم وکړو،

مقداره ولا يصح القول بانه مجمل من كل وجه ولا بيان له الا من السنة بل لو لم يرد بيان المقدار من السنة لوجب المسح على كل الراس او على ادنى ما يصح اطلاق مسح الراس عليه فكذا ههنا فالآية ظاهرة فى تحريم الربا العرفى ومجملة فى تحريم غيره من انواع الربا الشرعية هكذا ينبغى ان يفهم المقام فالربا اثنان عرفى وشرعى كما قال الرازى ونصه اعلم ان الربا قسمان ربا النسية وربا الفضل اما ربا النسية(۱) فهو الامر الذى كان مشهورا متعارفا فى الجاهلية.

۱ - اورد عليه المستفتي ان رباء النسية لا يكون الا في البيع وهو الثمن الموجل اي والفضل المشروط في القرض ليس برباء النسئة لكون القرض غير البيع صـ۲۴، صـ۴۰، صـ۶، قلت لا شک ان لفظ النسئة قد يطلق مقيد ابا لبيع الى اجل ايضا وما انه لا يطلق على القرض فباطل لان النساء والنسئة هو التاخير لغة وعرفا والنسئة الاخيرة واستنساه ساله ان ينساه دينه (اي يوخره) كذا في القاموس وهو يعم البيع والقرض جميعا يقال النقد خير من النسئة اي العاجل ولا يجوز تخصيصه بالبيع كما لا يخفى على من قلة مسكة باللسان واحتج الجصاص في احكام القرآن له على عدم جواز التاجيل في القرض بقوله ﷺ انما الربا في النسئة وقال لم يفرق بين البيع والقرض فهو على الجميع اه (صـ۶۸، جـ۱) وهذا صريح في عموم النسئة البيع والقرض جميعا فبطل ما زعمه هذا المستفتي بمجرد رايه ۱۲ منه.

د کوم نه چه معلومه شوه چه هغه خلکو سود اخستلو او بغیر د پوهیدو نه د یوې معاملې لین دین سخت دی، بلکه د هغوئ مطلب دا دی چه کله شارع په ربا کې داسې صورتونه هم داخل کړل په کوم باندې چه عرف کې د ربا اطلاق نه کیدو نو دغه وخت کې ربا مجمله شوه نو د رسول الله ﷺ ارشاد دی چه د سود ۷۳ قسمونه دي، او دا حدیث په آئنده کې راځي، او د دې مثال داسې دی لکه د الله جل جلاله فرمان "امسحوا برءوسکم" د سر په مسح کولو باندې صفا صفا بیان دی، مګر د اندازې په باره کې مجمل دی، د کوم بیان چه د حدیث نه کیدی شي، نه بلکه که د حدیث نه د مسحې مقدار معلوم نه وي، نو د ټول سر مسحه کول به فرض وي، یا د هغه ادنی اندازې چه عرف کې پرې د مسحې اطلاق کیږي، همداسې دلته هم وګڼه، غرض دا چه دا د ربا آیات په عرفي کې حرام ګرځولو کې خو ظاهره ده او کوم صورتونه چه شریعت د دې سره ملحق کړي دي، د هغې په باره کې مجمل دي، ښه پوهه شه، نو د ربا دوه قسمونه‌شول یو عرفي ربا او بله شرعي ربا، لکه څنګه چه امام رازي فرمایلي دي چه پوهیدل پکار دي چه سود په دوه قسمه دی:(۱) ربا النسیئة (۲) ربا الفضل.ربا النسیئة خو هغه ده چه د جاهلیت په زمانه کې مشهوره او معروفه وه،

وذلك انهم كانوا يدفعون المال على ان يأخذ واكل شهر قدرا معينا ويكون راس المال باقيا ثم اذا حل الدين طالبوا المديون براس المال فان تعذر عليه الاداء زادوا في الحق والاجل فهذا هو الربا الذي كانوا في الجاهلية يتعاملون به واما ربا النقد فهو ان يباع من الحنطة بمنوين منها وما اشبه ذلك اذا عرفت هذا فنقول المروي عن ابن عباس انه كان لا يحرم الا القسم الاول فكان يقول لا ربا الا في النسية وكان يجوز ربوا النقد ثم انه رجع عنه اه (ص۳۵۱ ج۲)

قلت وخلاف ابن عباس في ربا النقد دليل على ان الربا الحقيقي هو الاول دون ربا النقد والالزم كون الحقيقي مختلفا فيه مخفيا عن مثل ابن عباس وذلك بعيد وابعد وانما يتصور الاختلاف والخفاء في الغير الحقيقي الملحق بالحقيقي وقال الجصاص الرازي فمن الربا ما هو بيع ومنه ما ليس ببيع وهو ربا اهل الجاهلية وهو القرض المشروط فيه الاجل وزيادة مال على المستقرض اه (ص۳۶۹ ج۱).

د کوم صورت چه دا وو چه خلکو به خپل مال د معین مودې دپاره په دې شرط قرض ورکولو چه هره میاشت به څه اندازه مقرروي او اصل روپۍ به محفوظې وې، کله به چه موده ختمه شوه نو مدیون نه به ئې د اصل روپو غوښتنه کوله، که هغه به دا نه شو ادا کولی نو اصل روپۍ بـه ئـې زیـاتولې او د زیاتوالي په وجه به وخت هم زیاتیدلو، دا د ربا هغه صورت وو چه د جاهلیت په زمانه کې به پرې لین دین کیدلو، او ربا النقد دا ده چه مثلاً سیر غنم په ۲ سیره باندې خرڅ کړی شي کله چه په دې پوهه شوې نو اوس واوره: د عبدالله بن عباس نه روایت دی چـه هغـه صرف د ربا اول قسم حرام ګڼلو، او فرمایل به ئې چه ربا صرف نسیئة کـې ده، او ربـا النقد ته به ئې اول جائز ویل، بیا ئې د دې نه رجوع وکړه اهـ، (صـ ۳۵۱ جـ ۲) زه وایم چه ربا النقد کې د ابن عباس اختلاف د دې امر دلیل دی چه حقیقي ربا ربا النسیئة ده، کنه نو دا به لازم شي چه حقیقي ربا په ابن عباس باندې مخفي وه، او د حقیقي ربا حرمت متفق علیه نه وي، مختلف فیه وي، او په دې کې چه څومره لرې والی دی، ظاهره دی بلکه اختلاف او خفاء خو صرف په ربا غیر حقیقي کې کیدی شي، کومه چه د حقیقي سره ملحقه ده، (نو دې سره د هغه علمـاو تائیـد کیږي چا چه د جاهلیت ربا ته حقیقي ربا او د حدیث ابو سعید وعباده ته غیر حقیقي ربـا ویلـې ده، لکه څنګه به چه آئنده راځي) او په ربا النسیئة کې چه کوم تاویل مستفتي کړی دی، مونږ پـه حاشیه عربیه کې د دې جواب ورکړی دی، او امام جصاص رازي فرمایلي دي چه د ربا یو قسم خو هغه دی چه په بیعه کې وي او یو قسم هغه دی چه د بیع نه علاوه وي، او دا د اهل جاهلیت ربا ده



کومه چه قرض اخستلو والا باندې یو خاص مدت پورې او دڅه زیات اخستلو شرط کول وي، (د دې نه هم معلومه شوه چه د ربا دوه قسمونه دي).

وبه ظهر بطلان قول المستفتي فالربا عندهم منحصر في البيع لا غير الخ وهذه والله فرية بلا مرية وكيف يجوز القول بحصره في البيع وسياق الاية يدل على التفرقة بينهما قال تعالى حاكيا عن المشركين ذلك بانهم قالوا انما البيع مثل الربوا (وهل يمثل الشيء ويشبه الا بغيره) واحل الله البيع وحرم الربوا فكل من سمع هذه الاية من اهل اللسان تبادر الى فهمه التغاير بين البيع والربا وان الربا الذي نعاه الله الى اهله وذمهم لاجله ليس عين البيع ولا منحصرا فيه ويا لجراة هذا المستفتي كيف عزى القول بحصر الربا في البيع الى الايمة والجمهور وهذا الجصاص الرازي وهو من الحفاظ الحديث ومن طبقة القدماء من فقهاء الحنفية وهذا الفخر الرازي وهو من افاضل المتاخرين كلاهما مصرحان بكون الربا المتعارف في الجاهلية (الذي نهى القران عنه) غير البيع ولم نر احدا من القدماء ولا المتاخرين رد عليهما ما قالاه غر هذا المستفتي الذي نشا في الهند في الماة الرابع عشر وهو زمان انقراض العلم وقبض العلماء فلا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم ولا ريب ان الجصاص والفخر الرازيين اعلم الناس باقوال الجمهور من العلماء في عصرهما فكيف يجوز ان ينسب الى الجمهور القول بحصر الربوا في البيع مع تصريح هولاء بخلافه وقال الحافظ في الفتح واصل الربا الزيادة اما في نفس الشيء كقوله تعالى اهتزت وربت واما في مقابلة كدرهم بدرهمين فقيل هو حقيقة فيهما وقيل حقيقة في الاول مجاز في الثاني زاد ابن سريج انه في الثاني حقيقة شرعيه(۱) ويطلق الربا على كل بيع محرم اه (ص۲۶۴ ج۴)

د اهل زبان نه چه څوک هم دا آیات واوري هغه به په دې سره په بیعه او ربا کـې تغـایر ګڼي، او په دې به هم پوهه شي چه د کـوم سود د وجې نـه چـه الله تعالـی د سـود اخستونکو مذمت کړی دی هغه عین بیع نـه ده، نه په بیعه کـې منحـصره ده، مونـږ د مستفتي په جرات باندې تعجب کوو چه هغه د جمهورو ائمه و طرف ته دا خبـره ولـې منسوب کړه چه هغوئ ربا پـه بیعـه کـې منحصره ګڼي حال دا چه جـصاص رازي د حدیثو د حافظ کیدو سره د حنفي فقهاو پـه اعلی طبقه کـې دي او امـام رازي چـه د متاخرینو افاضل دی دواړه دا خبره صفا صفا بنائي، چه د جاهلیت ربا په بیعه کې نه وه بلکه قرض کې وه، او مخکني او وروستني علماو کې چا هم د هغوئ قول نه دی رد کړی، نو دا مستفتي چه هندوستان کې په داسې زمانه کې پیدا شو چه مسلمانان درګور او مسلماني په کتاب کې ده، "ولا حول ولا قوه الا بالله العلي العظیم" او یقینا امام جصاص او فخـر رازي د خپلې زمانې د علماو او جمهورو پـه اقوالو ښه پوهیدونکي وو، نو بیـا څنګـه د جمهورو طرف ته دا خبره منسوبیدی شي چه

۱ - قلت بل حقيقة عرفية يدل على تفرقة المشركين بين الربا والبيع واليه يشير كلام ابن العربي كما تقدم ذكره ۱۲ منه.

لایخفی ان الزیادة فی المقابلة تعم البیع والقرض وغیرهما جمیعا وهذه حقیقة شرعیة وعرفیة وقد یطلق الربا علی کل بیع محرم سواء کان فیه زیادة اولا کبیع حبل الحبلة وبیع مالم یضمن ونحوهما واطلاق الربا علیه مجاز شرعا ولغة وعرفا وقال الفقیه ابوالولید القاضی ابن رشد فی بدایة المجتهد له اتفق العلماء علی ان الربا یوجد فی شیئین فی البیع وفیما تقرر فی الذمة فهو من بیع وسلف وغیر ذلک فاما الربا فیما تقرر فی الذامة صنفان صنف متفق علیه.

هغوئ ربا په بیعه کې منحصره ګڼي، حال دا چه داسې علماء د دې خلاف تصریح کوي او حافظ ابن حجر په فتح الباري کې فرمایلي دي چه د ربا اصل معنی د زیاتوالي ده که هر څیز پخپله د خپل ذات نه زیات شي لکه څنګه چه الله تعالی فرمائي، "اهتزت وربت" چه څمکه باران سره خوزیږي او راټوکیږي، یا د بل څیز په مقابله کې زیات

وي، لکه د یو درهم په بدله کې چه دوه درهمه واخستل شي بیا د بعضو قول دا دی چه دواړه حقیقي معنی ګڼي دي، او د بعضو قول دا دی چه اوله معنی حقیقي ده، او دویمه معنی مجازي، ابن سریج وائي چه دویمه معنی د شریعت په اصطلاح کې حقیقي ده او په هره ناجائزه بیعه باندې هم د ربا اطلاق کیږي، او ظاهره ده چه د یو څیز د بل په مقابله کې زیاتیدل بیعې او قرض دواړو ته شامل دی، دا نو د ربا معنی شرعا وعرفا دا حقیقي ده او کله هرې ناجائزې بیعې ته هم ربا وائي، په هغې باندې د ربا اطلاق مجازي دی شرعا هم او لغة او عرفا هم، او فقیه ابو الولید قاضي ابن رشد بدایة المجتهد کې فرمائي چه علماو په دې باندې اجماع کړې ده چه ربا په دوه صورتونو کې موندل کیږي، یو په بیعه کې، او دویم په هغه قرض کې چه په ذمه واجب وي که د بیعې د وجې نه واجب شوې وي یا د قرض وغیره د وجې نه، بیا چه کومه ربا واجب في الذمه وي نو د هغې دوه قسمونه دي، د یو په حرمت باندې خو د ټولو اتفاق دی،

وهو ربا الجاهلیة الذی نهی عنه وذلک انهم کانوا یسلفون بالزیادة وینظرون وکانوا یقولون انظرنی ازدک وهذا هو الذی عناه علیه الصلوة والسلام بقوله فی حجة الوداع الاوان ربا الجاهلیة موضوع واول ربا اضعه رب العباس بن عبد المطلب والثانی ضع وتعجل وهو مختلف فیه واما الربا فی البیع فان العلماء اجمعوا علی انه صنفان نسیة وتفاضل ...اصار جمهور الفقهاء الی ان ان الربا

او هغه د جاهلیت ربا ده د کوم نه چه الله تعالی منع فرمایلې ده، د هغې طریقه دا ده چه خلکو به د زیاتو روپو اخستلو شرط اېښودلو، او بل له به ئې قرض ورکولو، او داسې به ئې ویل چه مونږ ته مهلت راکړه، او تاته به څه روپئ زیاتي درکړو، او دا هغه ربا ده د کوم متعلق چه نبي ﷺ حجة الوداع کې فرمایلي



فی هذین النوعین لثبوت ذلک عنه ﷺ اه (ص۷۷، ج۲) وهل بعد اجماع العلماء علی کون الربا فی البیع وفیما تقرر فی الذمة سلف اوغیره القول بحصر الربا فی البیع فقط الاجراة علی الله وشریعته وعلم من ذلک ان جریان الربا فی النوعین ای القرض والبیع ثابت عنه ﷺ فبطل ما زعمه المستفتی من عدم ثبوت الربا فی القرض عنه ﷺ وسیاتی الکلام فیه بالبسط وفیه دلیل ایضا علی ان الربا الذی یکون فیما تقرر بالذمة من البیع لیس من ربا البیع بل هو قسیمه وسیاتی تفصیل الکلام فیه فانتظر فالفضل المشروط فی القرض ربا منصوص محرم قطعا قد اتفقا العلماء علی کونه ربا الجاهلیة فافهم ولاتکن من الغافلین، وقال فی المقدمات المهدات له الربا فی الصرف وفی جمیع البیوع وفیما تقرر فی الذمة من الدیون حرام محرم بالکتاب والسنة واجماع الامة اه (ص ج۲)

وو او د جاهلیت ربا ټوله ختمه شوه، او د ټولو نه وړاندې چه زه کومه ربا ختموم هغه د عباس بن المطلب ربا ده، او دویم قسم هغه ده چه قرض ورکونکي ته قرضدار داسې ووائي چه ته ماته دومره معاف کړه او د وخت نه مخکې ئې وصول کړه، نو په دې کې اختلاف دی او کومه ربا چه بیعه کې ده د هغې په باره کې د علماو اتفاق دی، چه د دې هم دوه قسمونه دي، یو بیع النسیئة او بل بیع بالتفاضل او علماء په دې دواړو قسمونو کې د ربا څکه قائل دي چه رسول الله ﷺ نه ثابت دي، زه وایم چه د اجماع نه بعد هم د دې کار قائل کیدل چه ربا صرف په بیعه کې منحصره ده په الله ﷻ باندې د جرات نه علاوه

نور څه دي، نو معلومه شوه چه د ابن رشد د خبرې نه په لاندې خبرو رڼا اچول کیږي:(۱) د ربا په قرض او بیعه دواړو کې متحقق کیدل د رسول الله ﷺ نه ثابت نه دي.(۲) کومې روپئ چه د بیعې د وجې نه واجب في الذمه وي کله چه هغې کې د ربا تحقق وي نو هغه به ربا البیع کې نه داخلیږي، د دې نه هم د مستفتي یوه غلطي ظاهریږي چه هغه د جاهلیت ربا په ربا البیع کې د داخلولو ناکام کوشش کړی دی، لکه څنګه به چه زر بیان کړی شي.نو په قرض کې په شرط سره زیاتي روپئ وصولول قطعا حرام او صریحه ربا ده د کوم چه د جاهلي ربا کیدو باندې د علماو اتفاق او اجماع ده،

وتفسیر الدیون بالاثمان الواجبة فی البیوع لایصح فی کلامه لفصله الدیون عن البیوع ولقوله فی بدایة المجتهد وفیما تقرر فی الذمة من بیع اوسلف اوغیر ذلک اه فعلم ان المراد بالدین کل ما تقرر فی الذمة سواء کان بالبیع اوبالقرض ونحوه والربا یجری فیهما جمیعا وان کل ذلک محرم بالکتاب والسنة

ښه پوهه شه نو علامه ابن رشد په مدونه مقاماتو کې فرمایلي دي چه ربا په بیع صرف او ټولو بیوعو کې او په هغه قرضونو ئې چه واجب الذمه وي حرامه ده، قطعا حرامه ده، د قرآن نه هم حدیث نه هم او د امت د اجماع

وبالاجماع والعجب من المستفتى كيف لم يفتح عينيه ولم ينظر الى هذا الكلام الواضح وجعل ينقل من اقوال ابن رشد مالا يضرنا ولا ينفعه شيئا وايضا فتخصيص (۱) الدين بالواجب فى الذمة بالبيوع باطل بل هو يعم القرض لغة وعرفا قال فى القاموس الدين ماله اجل ومالا اجل له فقرض والموت وكل ماليس حاضرا وادنته اعطيته الى اجل او اقرضته وادان هو اخذه رجل مديان يقرض كثيرا ويستقرض كثيرا ضد ودانيته اقرضته واقرضنى اه (صـ۸۷۶) واما ذكره المستفتى عن الفخر الرازى ان القرض لا يجوز فى الاجل والدين يجوز فى الاجل وكذا ما نقله عن الكليات لابى البقاء (صـ۳۰) فلا حجة فيه لكونهما ليسا فى معرفة اللغة كصاحب القاموس وايضا فبحثهما عن جواز الاجل فى القرض وعدم جوازه فيه مشعر بانهما ليسا بصدد بيان اللغة على طريقة اللغويين بل بصدد بيان الحكم الشرعى لهما عند الفقهاء.

نه هم. او دمستفتي دا قول چه د دين نه مراد هغه قيمت دى چه په بيعه كې واجبيږي، د علامه ابن رشد د. كلام په تفسير كې نه شي صحيح كيدى، ځكه چه علامه ديون د بيوع نه عليحده ذكر كړې دي، دويم پــه بداية المجتهد كې هغوئ صراحةً د دين تعليم وركړى دى، كه د بيع نه ذمه واجب وي يا قرض نو د دې حقيقت نه انكار نه شي كيدلى، دين هر واجب في الذمة ته عام دى، كه په بيع ســره وي او كه په قرض سره او ربا په دواړو كې جاري كيږي، او د دې حرمت د كتاب الله، حديث او اجماع نه ثابت دي. نــو مــستفتي باندې تعجب دى چه هغــه د دې واضــحې خبرې نه خو ستركې بندې كړي او خامخا ئې د علامه ابن رشد هغه اقوال نقل كړي چه هغه له هيڅ مفيد نه دي، او مونږ ته هيڅ ضرر نه رسوي، او د مستفتي دا دعوه بالكل باطله ده، چه دين صرف دهغې واجب في الذمــه سره خاص دى، چه د بيعې نه لازم شــي بلكه حقيقت دا دى چه لفظ دين لغــة او عرفا قرض ته هم شامل دى لكه څنګه چه د قاموس نه واضح دي چه دين هغه څه تــه وائي چه حاضر نه وي، او ادنة معنى دا ده چه د يوې مودې لپاره يو څيز وركړو يا ئې قــــرض وركـــــړو او

---

۱- اشارة الى ما ذكره في صفحة ١٦ من قول ابن رشد في تفسير قول ابن عمر اسلف سلفا فلا يشترط الفضل منه وان كان قبضه من علف فهو ربا اه اي انه مقيس على الربا المحرم بالقرآن ربا الجاهلية اه وسيأتي الكلام فيه بالبسط ١٢. قال المستفتي في صفحه ٣٠ وصـ٣١. ان القرض غير الدين والقرض لا يندرج في الدين المؤجل وبني عليه ان الآثار الواردة في تفسير رب الجاهلية لا تشمل القرض قلت وهذا كله بناء الفاسد كما ستعلم ١٢من. سيأتي جواز التاجيل في القرض عند مالك وشافعي فقوله ماله اجل لعيم الدين المؤجل والقرض المؤجل جميعا ١٢منه



مديان هغه كس دى چه قرض ډير وركوي يا اخلي او مدينة د قرض دين ته وائي، او مستفتي چه كوم د علامه فخر الرازي او ابو البقاء وغيره نه نقل كړي دي چه په قرض كې دوخت تعين جائز نه دى، او په قرض كې جائز دى، اول خو دا قول حجت نه دى ځكه چه په علم لغت كې دا خلک د قاموس دصاحب برابر نهَ دي، دويم د جواز او عدم جواز نه د دې بحث صفا ښائي چه هغوئ لغــت نه بيانوي بلكه شرعي او فقهي حكم بيانوي.

واما قول صاحب المغرب القرض مال يقطعه الرجل من امواله فيعطيه عينا فاما الحق الذى يثبت له دينا فليس بقرض اه فلا دلالة فيه على ان الدين لايطلق على القرض بل معناه ان القرض لايطلق على كل دين فان من الدين ما هو حق يثبت الداين على المديون من غير ان يعطيه عينا كدين المهر للزوجة ولا يصح اطلاق القرض عليه فبينهما عموم وخصوص مطلقا فكل قرض دين ولا عكس فان المديون اذا استهلك العين التى استقرضها صار حقا واجبا فى ذمته فهو دين عليه واما من قال ان القرض لايجوز فيه الاجل فان اراد عدم جوازه فى مذهبه فمسلم وان زعم جوازه لغة فهو محجوج بقول الشافعى ومالك فانهما قايلان بجواز الاجل فى القرض ولزومه قال فى حاشية الهداية نقلا عن الكفاية واعلم ان القرض مال يقطعه من امواله فيطيعه وما ثبت عليه دينا فليس بقرض والدين يشتمل كل ما وجب فى ذمته بعقد او استهلاك وما صار فى ذمته دينا باستقراضه فهو اعم من القرض وقال مالك التاجيل فى القرض لازم لانه صار دينا فى ذمته بالقبض فيصح التاجيل فيه كساير الديون اه (صـ۶۰ جـ۳) وفى احكام القران للجصاص واجاز الشافعى

او صاحب مغرب چه څه ويلي دي چه قرض هغه جصه مال دى چه انسان ئې د خپل مال نه جدا او چاته ئې وركړي، او كوم چه د چا په ذمه واجب شي هغه قرض نه (بلكه ديــن دى) نو د دې دا مطلب نه دى چه قر باندې د دين اطلاق نه كيږي بلكه د دې مطلب دا دى چه هر قرض ته دين نه وائي ځكه د دين يو قسم هغه هم دى په كوم كې چه مــديون باندې يو مال حق واجب وي، حال دا چــه هغه ته نغد مال هيڅ نه وركول كيږي، لكه د ښځې د مهر دين چه په هغې باندې د قــرض اطلاق نهِ كيږي، خلاصه دا چه دين او قرض كې د عموم او خصوص مطلب نــسبت دى، چه هر قرض خو دين دى، مګر هر دين قرض نه دى، او كوم خلک چه دا واي چه په دين كې د مودې تعينول جائز دي او قرض كې نه دي، نو كه مسلم دا مطلب وي چه لغةً جائز نه دى، نو دا غلطه ده ځكه چه امام شافعي او امـــــام مالـــــك د

التاجیل فی القرض صـ۳۹۹ جا) ومالك والشافعی اعلم الناس باللغة فی عصرهما واعرف بها ممن تاخر عنهما فیطل قول المستفتی ان شرط الاجل مناف لحقیقة القرض فالقرض لایندرج فی الدین الموجل فلایجوز ان یرادبالدین القرض اذاکان فیه اجل الخ (صـ۳۰۳ ج۲) بل الحق ماذکره الراغب الاصفهانی وابن الاثیر والقاضی محمد اعلی التهانوی انه ای الدین یشمل القرض وهو التحقیق الانیق وبالقبول حقیق قال الجصاص فی احکام القران له قوله تعالی اذا تداینتم بدین الی اجل مسمی ینتظم لسایر عقود المداینات التی یصح فیها الاجال ولادلة فیه علی جواز التاجیل فی سایر الدیون لان الایة لیس فیها بیان جواز التاجیل فی سایر الدیون وانما فیها الامر بالاشهاد اذاکان دینا موجلا ثم یحتاج ان یعلم بدلالة اخری جواز التاجیل فی الدین وامتناعه وقد احتج بعضهم فی جواز التاجیل فی القرض بهذه الآیة اذلم تفرق بین القرض وسایر عقود المداینات وقد علمنا ان القرض مما شمله الاسم ولیس ذلك عندنا کما اذکر لانه لادلالة فیها علی جواز کل دین ولاعلی جواز التاجیل فی جمیعها وانما فیها الامر بالاشهاد علی دین قد ثبت فیه التاجیل فی القرض مغفل فی استدلاله ومما یدل علاآن القرض لم یدخل فیه ان قوله تعالی اذا تداینتم بدین قد اقتضی عقد المدینة ولیس القرض بعقد مداینة اذلایصیر دینا بالعقد دون القبض اه (صـ۴۸۳ ج۱) وفیه تصریح بان القرض شمله اسم الدین لغة وانه یصیر دینا بعد القبض وان عدم جواز التاجیل

دوي د موده تعین ته جائز وائي، کفایه کې دي چه قرض هغه مال دی چه هغه د خپل مال نه جدا کړی شي، او بل ته ورکړی شي او کوم ال حق چه د چا په ذمه واجب شي هغه قرض نه دی بلکه دین دی، او دین هر واجب في الذمه ته شامل دی، که هغه د عقد د وجې نه واجب شي او که د بل څیز تلف کولو سره یا قرض اخستلو سره نو دین د قرض نه عام دی، او د امام مالک قول دی چه که په قرض کې موده مقرر کړی شي نو هغه لازمیږي ځکه چه د قبضې نه بعد د قرض روپۍ هم دین کیږي، نو د مودې تعینول په دې کې هم د نورو قرضونو په شان جائز دي، او احکام جصاص کې دي چه د امام شافعي په نزد په قرض کې د مودې تعین جائز دی او یقینا امام مالک او شافعي په لغت باندې د متاخرینو نه زیات پوهیدونکی وو، نو دمستفتي دا قول باطل دی چه د مودې شرط لګول د قرض د حقیقت منافي دی، او دین موجل ته قرض نه شو ویلی، او د لفظ دین نه قرض مراد نه شو اخستلی بلکه حق دا دی چه لفظ دین قرض ته هم شامل دی لکه څنګه چه امام راغب اصفهاني او حافظ ابن اثیر او قاضي محمد اعلی تهانوي فرمایلي دي او همدا تحقیق د قبول وړ دی، اما جصاص رازي هم د مداینې

۱- مصنف کشاف اصطلاحات الفنون وهو کتاب یدل علی تبحر مولفه وعلی جودة معرفته بالفنونسة نظره فیهما رحم الله.



فی وانما هو لدلیل اخر قد افاده شرعا قال المستفتی وذهب البعض الی ان اللام فی الربو للعهد والمراد به ربا الجاهلیة فالمال علی هذه التفسیران القران حرم ربا الجاهلیة وکان لم یثبت صورة بالجاهلیة من حدیث مرفوع متصل الی الان لم یلتفت الایمة والجمهور الیه وقالوا ان ربا القران مجمل والحدیث مفسر له اه (صـ۲) قلت کبرت کلمة تخرج من افواههم ان یقولون الاکذبا؛ وهل یقدر المستفتی علی ان یرینا نصا من واحد من العلماء یفید ان ان علة قولهم بالاجمال فی آیة الربا عدم ثبوت ربا الجاهلیة عندهم ولذا لم یلتفتوا الیه وان لم یفعل ولن یفعل ابدا فلیتق النار التی اعدت لاهل الربا؛ وکیف یجوزهم القول بان الربا مجمل راسا یحتاج الی بیان الرسول ﷺ من اصله وقد کان الربا فاشیا فی مشرکی العرب واهل الکتاب قبل نزول الایة وبیان الرسول فحکی الله عن المشرکین ذلك بانهم قالوا انما البیع مثل الربوا؛ واحل الله البیع وحرم الربوا؛ وقال فی اهل الکتاب فبظلم من الذین هادوا حرمنا علیهم طیبات احلت لهم وبصدهم عن سبیل الله کثیرا واخذهم الربا وقد نهوا عنه واکلهم اموال الناس بالباطل؛ الآیة فلو کان الربا لایعرف الا ببیان الرسول فیکف اخذه اهل الکتاب وذموا لاجله وکیف فوق المشرکین بین البیع والربا وقاسوا احدهما بالاخر قبل علمهم بیان الرسول فان بیان الرسول متاخر عن نزول (۱) الایة قطعا فلا بد من القول بان الربا کان معلوما عند العرب واهل الکتاب قبل نزول الایة وبیان الرسول وهو

پـه آیات کې د دې تصریح کړې ده د دین لفظ قرض ته هم شامل دی، او په قرض کې د مودې تعینول نه جائز کیدل، دنورو شرعي دلائلو نه ثابت دي، (قول مستفتي) او بعضې علماء دې طرف ته تللي دي چه قرآن کې د الربا لام د عهد لپاره دی، د دې نه د جاهلیت د زمانې ربا مراد ده، لیکن تراوسه پورې د کوم حدیث مرفوع متصل نه ده، دجاهلیت د ربا صورت نه دی ثابت شوی نو ځکه ائمه او جمهور دې طرف ته نه دي تللي بلکه هغوئ ټولې د دې قائل دي چه په قرآن کې د ربا لفظ مجمل دی او حدیث د دې تقسیم کوي.

الجواب: زه وایم دا ډیره غټه خبره ده چه د دې مستفتي د خولې نه ووتله او یقیناً غلطه ده، که مستفتي کولی شي نو د علماو کوم یو صریح قول دی مونږ ته په دې کې وښائي چه هغوئ په آیات کې د اجمال قائل ځکه وي چه د هغوئ په نزد د جاهلیت د ربا صورت نه دی معلوم شوی، هغوئ د دې خبرې ولې قائله کیدی شي چه قرآن کې د ربا لفظ مجمل دی، د کوم معنی لپاره چه د رسول الله ﷺ د تفسیر معلومولو ضرورت دی، حال دا چه د ربا لین دین د دې آیات د نزول او د رسول الله ﷺ د بیان نه وړاندې مشرکین عرب او اهل کتابو کې عام طور سره خور

۱- ضرورة تاخر البیان عن المبین کما هو ظاهر وصرح به الطحاوي ایضا کما سیاتي ۱۲ منه.

الذی نعاه الله الی اهله وذمهم لاجله فی القرآن واتفقت الامة واجمعت الایمة علی حرمة الربا الذی کان علیه اهل الجاهلیة وبینوا صورتها کما مر ذکره فی کلام ابن ارشد والامام الحافظ الجصاص والفخر والرازیین وهل بعد الاجماع یحتاج احد الی السند المتصل ومن الذین بینوا صورة ربا الجاهلیة وذهبوا الی عدم الاجمال فی الایة الامام العلامة الطحاوی حیث قال فی شرح الآثار له فی تاویل حدیث ابن عباس رضی الله عنه عن اسامة رضی الله تعالیعنه (انما الربوا فی النسیة ان ذلك الربوا انما عنی به ربا القران الذی کان اصله (۱) فی النسیة وذلك (۲) ان الرجل کان یکون له علی صاحبه الدین فیقول له اجلنی منه الی کذا وکذا بکذا وکذا درهما ازید کها فی دین فیکون مشتریا لاجل بمال فنهاهم الله عزوجل عن ذلك بقوله؛ "یا ایها الذین آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقی من الربوا ان کنتم مومنین" ثم جاء السنة بعد ذلك بتحریم الربا فی التفاضل فی الذهب بالذهب والفضة بالفضة وسایر الاشیاء المکیلات والموزونات فکان ذلك ربوا حرم بالسنة وتواترت به الاثار عن رسول الله ﷺ حتی قامت به الحجة والدلیل علی ان ذلك الربوا المحرم فی هذه الاثار وهو غیر الربوا الذی رواه ابن عباس

وو، "ذلک بانهم قالوا انما البیع مثل الربوا" او آیات "وبصدهم عن سبیل الله کثیرا واخذهم الربوا وقد نهوا عنه" نه معلومیږي نو که د ربا معلومول د نبي ﷺ په بیان باندې موقوف وي نو د نبي ﷺ د بیان نه وړاندې اهل کتابو د دې لین دین څنګه کولو او قرآن کې ئې مذمت څنګه راغلو، او مشرکینو په ربا او بیعه کې ولې فرق کولو، ځکه چه د رسول الله ﷺ بیان د آیات نازلیدو نه متاخر دی، نو لامحاله به د دې منل پکار دي، چه د ربا معنی د دې آیات د نزول او د رسول الله ﷺ د بیان نه وړاندې اهل کتابو او عربو ته معلومه وه، او هغوئ به د دې لین دین کولو، د کوم خبر چه قرآن کې ورکړی شوی دی، او ددي وجې نه د هغوئ مذمت کړی شوی دی، او ائمه و او جمهورو علماو د ربا جاهلیت صورت بیان کړی او د هغې په حرمت ئې اجماع او اتفاق کړی دی، بلکه ابن رشد او امام جصاص او د امام فخر رازي د اقوالو نه چه بره معلومه شوه نو آیا د اجماع نه بعد هم چاته د سند متصل حاجت باقي پاتې کیدی شي! (بالکل نه) او امام علامه طحاوي هم کوم چه حافظ حدیث صاحب د تنقید او جرح او مجتهد او حجت او رئیس الحنیفیة دی د دې علماو نه دی چه د ربا الجاهلیة صورت بیانوي او آیت الربوا ته مجمل نه وائي او حافظ حدیث وناقد حجت

۱ - قلت فی جزم مثل الطحاوي الحافظ الناقد الحجة الامام المجتهد بذلک اکبر دلیل علی ثبوت تفسیر ربا الجاهلیة عنده فانه حض قول المستفتي ان تفسیر ربا الجاهلیة لم یثبت الی الآن ۱۲ طه.

۲ - المراد بالدین القرض وکل ما ثبت في الذمة بدلیل نامر عن الجصاص والفخر الرازیین ان رب الجاهلیة کان في القرض وقد فرغنا من تحقیق معنی الدین فلا دلیل للمستفتي في حمله علي ثابت في الذمة لاجل البیع وکذا حمله النسئة علی البیع بالنسئة لغو باطل بل المراد به اعم من ذلک قد ذکرنا عموم ... نسئة للقرض فتذکر ۱۲ منه.



عن اسامة رضی الله تعالی عنه عن رسول الله ﷺ رجوع ابن عباس رضی الله تعالی عنه الی ما حدثه به ابو سعید رضی الله تعالی عنه عن رسول الله ﷺ فلو کان ما حدثه به ابو سعید من ذلك فی المعنی الذی کان اسامة رضی الله تعالی عنه حدثه به اذا لما کان حدیث ابی سعید رضی الله عنه عنده باولی (۱) من حدیث اسامة رضی الله تعالی عنه ولکنه لم یکن علم بتحریم رسول الله ﷺ هذا الربوا حتی حدثه به ابو سعید رضی الله تعالی عنه فعلم ان ما کان حدثه به اسامة رضی الله عنه عن رسول الله ﷺ کان فی ربوا غیر ذلك الربوا اه (صـ۲۳۲؛ جـ۲). قلت واذا کان ربا الفضل الذی حدث به ابو سعید غیر ربا القران الذی حدث به اسامة لم یکن حدیث ابی سعید بیانا للایة ولا هی مجملة لکون البیان عین المبین لا غیره کما تقرر فی الاصول بل ربوا الفضل الذی جاءت به السنة ملحق بربا القران الذی کان علیه اهل الجاهلیة ولا دلیل علی حرمته الا بالسنة المتواترة دون القران فثبت ان الفضل المشروط فی القرض حرام محرم بآیة الربا المفسرة بربا الجاهلیة لا یقال ان معنی حدیث اسامة انما الربا فی النسیة ان لا تبیعوا غایبا بناجز فی المکیلات والموزونات ولا دلیل فیه علی حرمة الفضل

پخپله یو مستقل دلیل دی، ځکه چه داسې کس بغیر د خبرې د صحت او ثبوت نه کومه خبره جزماً نه بیانوي. نو هغه په شرح الاثار کې د ابن عباس رضي الله عنه حدیث "انما الربا في النسئة" بیانوي او تفسیر ئې کوي چه د دې ربا نه مراد هغه ربا ده چه قرآن کې ذکر ده کومه چه په اصل کې په قرض کې کیږي، او د دې صورت داوو چه د یو کس نه په بل باندې قرض وو[2]، بیا به مدیون دائن ته وویل چه ماله دومره وخت مهلت راکړه زه به تاته د قرضې نه دومره زیاتي درکړم، په دې صورت کې هغه دا موده د مال په بدله کې اخلي، الله تعالی فرمائي، "یا ایها الذین آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربوا ان کنتم مومنین" کې د دې نه خلک منع کړي دي، بیا د دې نه وروستو حدیث راغلو او ربا تفاضل ئې هم حرامه کړه؛ لکه سره په سرو او سپین په سپینو او داسې نور مکیلاتو او موزوناتو کې نو دا هغه ربا ده چه حدیث سره حرامه شوه او د دې متعلق د رسول الله ﷺ نه متواتر آثار راغلي دي په

۱ - لا یقال حدیث ابي سعید متواتر بخلاف حدیث اسامة فکان اولی منه لانا نقول ان تواتره انما هو بالنسبة الینا لکوننا جمعنا آثار الصحابة کلها في الباب واما بالنسبة الی ابن عباس فلا فانه رجع عن الافتاء بحدیث اسامة بمجرد قول ابي سعید وروایة کما دلت علیه الآثار فافهم منها ما ذکره الحافظ في الفتح عن ابي مجلز ان ابا سعید لقي ابن عباس فذکر الحدیث فقال ابن عباس استغفر الله واتوب الیه فکان تنهی عن اشد النهي اه (صـ۳۱۹: جـ۴).

۲ - مونږ مخکې ویلي دي چه دین قرض ته هم عام دی. پس د مستفتي دې لره د ثمن مبیع سره خاص کول غلط دي، خصوصاً کله چه امام جصاص او فخر رازي صراحةً بیان کړي دي، چه ربا به په جاهلي قرض کې وه ۱۲ منه.

المشروط فی القرض؛ لانا نقول قصره علی البیع بالنسیة لا یصح لوجوه الاول ما قدمنا عن الجصاص وغیره ان لفظ النسیة عام لغة وعرفا وشرعا للثمن الموجل فی البیع وللقرض جمیعا لکونه بمعنی الدین وعمومه للقرض ظاهر کما مر یقال النقد خیر من النسیة والثانی ان حدیث اسامة رواه البعض بلفظ النسیة ورواه بعضهم بلفظ لا ربوا الا فی الدین اخرجه الطحاوی بسند صحیح (ص۲۳۲ ج۲) ولا یطلق الدین علی البیع اصلا کما لا یخفی وعمومه للقرض ظاهر والاحادیث یفسر بعضها بعضا فالمراد بالنسیة فی حدیث اسامة انما هو الدین لا غیر او اعم منه ومن البیع بالنسیة ومعنی حدیث اسامة لا ربوا الا فی النسیة ای الربا الاغلظ الشدید التحریم المتوعد علیه بالعقاب الشدید کما تقول العرب لا عالم فی البلد الا زید مع ان فیها علماء غیره؛ وانما القصد ففی الاکمل لا نفی الاصل قاله الحافظ فی الفتح (ص۳۱۹ ج۴) وفیه ایضا یحمل حدیث اسامة علی الربا الاکبر والله اعلم. قلت ولا یستقیم هذا المعنی لو حملناه علی البیع بالنسیة فی المکیل والموزون فان بیع الذهب بالذهب مثلا بمثل نسیة لیس باشد من بیعهما متفاضلا بل البیع متفاضلا اشد لتحقق معنی الربا فیه صریحا وحقیقة بخلاف البیع بانسیة متماثلا فان تحقق معنی الربا فیه لیس الا شرعا فلا یجتری عاقل علی حمل قول النبی ﷺ لا ربوا الا فی النسیة وانما

کوم سره چه حجت قائم شو، او د دې دلیل چه په کومو آثارو کې دا ربا حرامه کړې شوې ده هغه د هغې ربا نه علاوه دي، کوم چه ابن عباس د اسامه په واسطه د رسول الله ﷺ نه روایت کړی دی، دا ده چه ابن عباس د ابو سعید خدري حدیث طرف ته رجوع وکړه، نو که د ابو سعید د حدیث همغه مطلب وي کوم چه د اسامه د حدیث مطلب وو نو په دې صورت کې د ابو سعید په نزد به د اسامه حدیث اولی نه وي، بلکه عبدالله بن عباس ته د دې ربا دحرمت علم وو، کوم چه ابو سعید بیان کړه د هغې اوریدو سره هغه پوهه شوه چه اسامه چه کوم حدیث د رسول الله ﷺ نه د ربا متعلق نقل کړی دی هغه ویل ربا متعلق دی، کوم چه د دې ربا نه علاوه دي د کوم چه ابو سعید بیان کړو))هـ. زه وایم چه کله د طحاوي په نزد ربا الفضل د کوم حدیث چه ابو سعید ذکر کړی، د قرآن لپاره بیان دی او نه قرآني آیات د هغوئ په نزد مجمل دی، ځکه چه بیان خو د مبین عین وي نه غیر، لکه څنګه چه اصولو کې ثابت شوي دي، بلکه ربا الفضل د کوم چه په حدیثونو کې ذکر دی، د قرآني ربا سره ملحق دی، او قرآني ربا هغه ده چه جاهلیت په زمانه کې رواج وه نو ثابته شوه چه قرض کې شرط

۱ - فان الدین ضد العین عند العرب ما کان حاضرا والدین وما کان غائبا قال الشاعر وعدتنا بدر همنا طلاء وشعراء معجلا غیر دین؛ ولا یطلق الدین علی البیع اصلا وانما یطلق علی الثمن الموجل انه دین فلا یصح اطلاقه علی المبیع اصلا وانما یطلق علی الثمن الموجل انه دین والنسئة بمعنی الدین فلا یصح اطلاقه علی البیع وانما یقال باعه وهذا البیع بالنسئة مقید فافهم ۱۲ منه.



الربوا فی النسیة علی الربا الاصغر الذی لا یتحقق فیه معنی الربا حقیقةً فلا بد من حمله علی الربا الاکبر ولیس هو بیع المکیل بالمکیل والموزون بالموزون متفاضلا لعدم اطلاق النسیة علیه ولکون ابن عباس کان ینکره اولا ولا یحرمه فلم یبق الربا الذی کان علیه اهل الجاهلیة وهو زیادة فی الدیون والقروض وبالجملة فلا یصح قصر قوله ﷺ لا ربوا الا فی النسیة علی البیع بالنسیة بل المراد به الربا فی الدین لا غیر او اعم منه ومن البیع بالنسیة کما قلنا اولا فافهم ولا تکن من الغافلین؛ فظهر مما ذکرنا ان الربا المذکور فی القران لیس بمجمل راسا بل کان معلوم المعنی واضح المراد عند العرب وانما حدث الاجمال فیه عند من قابل بالاجمال فی ایة الربا بعد ما ادخلت السنة فیه اشیاء

سره زیاتې روپئ وصول د قرآني نص نه حرام دي. سوال: د حدیث "انما الربا فی النسئه" دا معنی هم کیدی شي چه مکیلاتو او د موزونات د غائب په بدله کې په قرضو مه خرڅوئ، په دې صورت کې دا حدیث په قرض کې دزیاتو روپو په اخستلو د حرمت دلالت نه کوي؟ جواب: لفظ نسیئه د ثمن موجل سره خاص کول څو وجوهو سره غلط دي، اول مونږ د جصاص وغیره د اقوالو نه د دې ثبوت ورکړی دی چه لفظ نسیئه لغة وعرفا وشرعا ثمن موجل او قرض دواړو ته عام دي، ځکه چه د نسیئه او دین یوه معنی ده او د دین قرض ته شاملیدل ظاهر دي، محاوره کې ویل کیږي، "النقد خیر من النسئة" (نغدې د قرض نه بهترې دي) او دا څوک د ثمن موجل سره نه خاص کوي، دویم دا چه دې حدیث کې بعضو خو لفظ نسیئه روایت کړی دی، او بعضو "لا ربوا الافی الدین" ویلي دي دا محاوري په صحیح سند سره روایت کړی دی، او مبیع ته دین نه ویل کیږي، او د دین قرض ته شاملیدل ظاهر دي، او یو حدیث نه د بل تفسیر کیږي، نو حدیث "انما الربا فی النسئة" کې خو مراد یا صرف دین دی، یا عامه معنی مراده ده، چه قرض نه هم او قرض ورکولو ته هم شامله ده، او د دې حدیث معنی دا ده چه سخته ربا چه حرمت ئې د اعلی درجې دي، په کوم باندې چه د سخت عذاب دهمکي ده، صرف دین کې دي، لکه څنګه چه محاوره کې ویل کیږي چه په دې ښار کې د زید نه علاوه بل هیڅ عالم نشته، حال دا چه په هغې کې نور علماء هم وي،

لم یکن العرب یعرفها بالربا ودلیل ذلک اتفاق القایلین بالاجمال وغیرهم علی بیان ربا الجاهلیة فی تفسیر الایة وعلی حرمته قطعا منهم الجصاص والفخر الرازیان وابن الهمام حیث فسر قوله تعالی یا ایها

مګر مقصود د اکمل نفي کول وي، چه پوره عالم د زید نه سوا بل هیڅوک نشته، دا تفسیر حافظ ابن حجر په فتح الباري کې بیان کړی دی، حافظ دا هم ویلي دي چه د اسامه په

الذین آمنوالاتاکلواالربا" بقوله ای الزاید فی القرض والسلف علی القدر المدفوع والزاید فی بیع الاموال الربویة عند بیع بعضها بجنسه وتبعه فی ذلک الشیخ ثناء الله فی تفسیره المظهری قاله المستفتی صـ۲۳ فهولاء مع کونهم قایلین بالاجمال فی الایة منفقون علی تفسیر الربا فی الایة بالزاید فی القرض والسلف ومجمعون علی انه هوالربا الذی کان علیه اهل الجاهلیة کما تقدم ذکره عن ابن رشد وغیره فلو کان الربا مجملا غیر معلوم المراد عند العرب لم یذکروا ربا الجاهلیة فی تفسیره بل اقتصروا علی تفسیره بالسنة فقط.

حدیث کې د ربا اعلی درجه ذکر ده. زه وایم چه دا معنی هله صحیح کیدی شي چه کله "انما الربوا فی النسیئة" په جاهلي ربا باندې محمول کړی شي چه په قرض او دین کې به وه، په ربا البیع باندې محمولو سره دا معنی صحیح نه ده ځکه چه د ربا البیع دوه صورتونه دي یو ربا الفضل چه سره د سرو په بدل کې یا سپین د سپینو په بدل کې د کموالي او زیاتوالي سره خرڅ کړی شي، دویم ربا النسئة او هغه دا چه سره او سپین برابر خرڅ کړی شي، مګر قرض په نغدو نه، او ظاهره ده چه په دویم صورت کې د ربا حقیقي معنی نه متحقق کیږي، ځکه چه په ظاهر کې هلته څه زیادت نشته دی، نو دې ته د ربا اعلی درجه نه شو ویلی، او اولی صورت د دې نه اشد دی، مګر حدیث په دې باندې هم نه شو محمولولی، ځکه چه اول خو په دې باندې د نسیئة اطلاق نه کیږي، دویم عبدالله بن عباس په ربا الفضل ته اول حرام نه ویل نو د ربا اعلی درجه چه په کومه باندې حدیث محمولولې شو هغه ربا ده چه د اهل جاهلیت پرې عمل وو، او هغه په قرض او دین کې کیږي، د دې تقریر نه دا خبره ظاهره شوه چه د ربا لفظ کوم چه په قرآن کې دي، هغه بالکلیه مجمل نه دي، بلکه کوم خلک چه دې ته مجمل وائي د هغوئ مطلب دا دی چه د عربو په نزد خو د دې معنی واضحه وه مګر کله چه حدیث د دې لاندې بعضې داسې صورتونه هم داخل کړل کوم ته چه عربو ربا نه ویله، نو هغه وخت کې اجمال پیدا شو او د دې دلیل دا دی چه کوم علماء چه په دې آیات کې د اجمال قائل دي هغه هم ټول د ربا الجاهلیة سره د دې آیات تفسیر کوي او د هغې حرمت ته قطعي وائي، د هغوئ د جملې نه امام جصاص او فخر رازي او ابن الهمام ذي، نو ابن الهمام د آیات "یا ایها الذین آمنوا لا تاکلوا الربوا" داسې تفسیر کړی دی چه قرض او سلف کې د هغې نه زیات واخلئ چه تاسو ورکړی دی، همداسې چه کله اموال ربویه د هم جنس په عوض بیعه کړئ نو زیات مه اخلئ، او قاضي ثناء الله صاحب هم په تفسیر مظهري کې د دې موافق تفسیر کړی دی، نو دا علماء اګرچه په آیات الربا کې د اجمال قائل دي، بلکه ټول د ربا په تفسیر کې داسې وائي چه قرض کې زیاتې رواخ



احستل هم په دې کې داخل دي او د ټولو علماو په دې باندې اجماع ده چه د جاهلیت د زماني ربا همدغه وه، لکه څنګه چه د ابن رشد وغیره په حوالې سره اجماع بیان وړاندې تیر شو، نو که د هغوئ په نزد د ربا لفظ داسې مجمل وي چه عربو ته ئې هم معنی نه وه معلومه، نو دې حضراتو به ربا جاهلي په دې تفسیر کې نه وه بیان کړې، بلکه صرف حدیث به ئې د دې تفسیر کې ذکر کړی وو.

والمستفتی حیث لم یعرف بمرادهم فقال موردا[1] علی ابن الهمام فی تفسیر الایة هذا خلاف ما قال اولا من ان الربا بیع وایضا هو صرح بنفسه فی التحریر ان الایة مجملة والحدیث یفسرها فکیف یصح منه هذا القول اه (صـ۲۳) ولم یدر المسکین ان الفقهاء والمصنفین اذا ذکروا الربا فی باب البیوع یریدون به ربا البیع دون المعنی العام الشامل لربا الدین ایضا ولذا یقولون فی باب البیوع هو ای الربا من البیوع المنهیة قطعا ویعرفونه بما یشعر بکون الربا بیعا فظن المستفتی ان الربا لا یتحقق الا بالبیع وهذا باطل قطعا فان الربا الذی هو فرد من افراد البیع یسمی بربا البیع ویقال له ربا السنة ایضا واما ربا الذین ویقال له ربا القران وربا الجاهلیة ایضا فلیس من افراد البیع وهذا هو معنی قول الفقهاء ان الربوا خص من قوله تعالی واحل الله البیع بقوله وحرم الربوا ای خص ربا البیوع من قوله واحل الله البیع ولا یلزم من کون قسم من اقسام الربا داخلا فی البیع ان یکون جمیع اقسامه من افراد البیع داخلا فیه کما زعمه المستفتی والمراد یکون الایة مجملة ما ذکرناه مرارا فلا نعید فتذکر ویرشد الی ما قلنا قول الشاه

او مستفتي خو د دې حضراتو په مراد باندې پوهه شوی نه دی، او خامخا ئې هغوئ باندې اعتراضونه شروع کړل، نو د ابن الهمام په دې تفسیر باندې هغه دا اعتراض کړی دی چه دا تفسیر دهغوئ دهغه قول خلاف دی کوم چه وړاندې تیر شوی دی، چه ربا بیعه ده او ابن الهمام په تحریر کې خپله تصریح کړې ده چه دا آیات مجمل او حدیث ئې مفسّر دی، بیا دا خبره څنګه صحیح کیدی شي چه د قرض روپو نه زیاتې وصولول په ربا کې داخل دي، زهٔ وایم چه مصنفین او فقهاء چه کله په بـاب البیوع کې د ربا ذکر کوي نو د هغې ربا یو قسم ربا البیع مراد وي، عامه معنی ئې مراد نه وي، کوم چه ربا الدین ته هم شامله ده نـو ځکه په کتاب البیوع کې هغوئ داسې وائـي چه ربا هم د هغه بیوعو نه ده چه قطعا منع ده او د هغې تعریف هم داسې الفاظو سره کوي په کوم کې چه ربا بیعه کیـدل مفهومیـږي، مستفتي د دې نه دا هم وګڼله چه د ربا تحقق د بیعې نه بغیر نه شي کیدی حال دا چـه دا سراسر غلط دي، ځکه چه کومه ربا چه د

1- ذکر الاقوال کلها المستفتي في صـ۲۳، ۲۴، ۲۵، مولف.

ولی الله حکیم الامة فی الحجة البالغة وکذلك الربا وهو القرض علی ان یودی الیه اکثر وافضل مما اخذ سحت باطل الی ان قال واعلم ان الربا علی وجهین حقیقی ومحمول علیه اما الحقیقی فهو فی الدیون والثانی ربا الفضل والاصل فیه الحدیث المستفیض الذهب بالذهب الحدیث وهو مسمی بربا تغلیظا وتشبیها بربا الحقیقی وبه یفهم معنی قوله ﷺ لا ربا الا فی النسیة؛

بیعې فرد دی د هغې نوم ربا البیع دي، او هغې ته ربا حدیثي هم وائي، پاتې شو دویم قسم چه کوم قرض او دین کې وي، کوم ته چه ربا قرآني او ربا جاهلي هم ویل کیږي هغه د بیع فرد هیڅکله نه دي، او همدا د فقهاو د قول مطلب دی، چه "احل الله البیع" نه ربا مستثنی ده، "وحرم الربوا" په دلیل یعنې داحل البیع نه "رباالبیع" مستثنی ده، ځکه چه هغه حلاله نه ده او د ربا البیع مستثنی کیدو سره دا نه لازمیږي چه ربا مطلقا بیعه ده او که د ربا یو قسم په بیعه کې داخل وي نو د هغې نه دا نه لازمیږي چه د دې ټول اقسام دې په بیعه کې داخل وي لکه ځنګه چه مستفتي ګڼلي دي او د ایات د مجمل کیدو مطلب مونږه بار بار بیان کړو د هغې د بیا راګرځولو هیڅ ضرورت نشته او زمونږ د دې تحقیق تائید حکیم الامة شاه ولي الله قدس سره د قول نه هم کیږي، کوم چه حجة الله البالغة کې ذکر دي، هغه فرمائي چه ربا هم حرامه او باطله ده، د کوم مطلب چه دا دی چه قرض په دې شرط سره ورکړی شي چه د اصل نه به زیاتې وصولیږي، د دې نه وروستو فرمائي چه پوهیدل پکار دي چه د سود دوه قسمونه دي، یو حقیقي او بل الحاقي، حقیقي ربا نو هغه ده چه په دین کې وي او الحاقي هغه ده چه د کموالي او زیاتوالي د وجې نه وي، او د دې اصل حدیث مشهور المذاهب وغیره دي او دا ئې د زجر او تنبیه په طور سره د ربا حقیقي سره مشابهت د وجې نه اینبودلی دی، او د همدې نه رسول الله ﷺ ارشاد "لا ربا الا في بالنسیئة" مطلب باندې پوهه شو (چه اصل رب هغه ‌دي چه په دین او قرض کې وي).

ثم کثر فی الشرع استعمال الربا فی هذا المعنی حتی صار حقیقة شرعیة فیه ایضا اه وقال ابن الهمام فی الفتح باب الصرف ان اسم الربا تضمن الزیادة من الاموال الخاصة فی احد العوضین فی قرض او بیع اه وفی الملتقی الربا فضل مال خال عن عوض شرط لاحد العاقدین فی معاوضة مال بمال

بیا په شریعت کې د ربا الفضل استعمال هم په ربا کې په کثرت سره وشو، تردې چه د ربا شرعاً په حقیقي معنی کې شمار کړی شوه ددې نه صفا معلومه شوه چې د ربا صورتونه په بیع کښې منحصر نه بلکه ربا رحقیقي او اصلي هغه ده چې د بیع علاوه په قرض او دین کې وي ۱۲. او ابن الهمام د فتح القدیر په باب الصرب کې فرمایلي دي چه خاص امولو کې د ننه دیو



وذکر العلامة شیخ زاده فی شرح العاقدین البایعین او المقترضین اه ومن فهم منه کون القرض بیعا کما ذکره المستفتی عنه وعده من الاعلام فقد سها سهوا(۱) ظاهر بل معناه ما حققناه ان الربا منه ما یکون فی البیع ومنه ما یکون فی القرض کما قاله الجصاص وابن رشد ونقل الکل علیه وذکره الطحاوی ایضا وصرح به الشاه ولی الله وقبله ابن الهمام وغیره کابن القیم والفخر الرازی واورد علیه المستفتی (فی حاشیة ص۶۳) ان هذا لیس بصحیح لان جمهور العلماء قالوا باجمال الایة ویکون الحدیث مفسر اللایة فهذا یکون ربا حقیقیا لانه لیس فی القران ربا سوی ما ثبت کونه ربا بالسنة فلا نجتری علی ان نقول ان ما ثبت کونه ربا من القرآن والحدیث هو ربا غیر حقیقی والذی لم یرد فیه حدیث ولا اثر خال عن العلة یکون ربا حقیقیا الخ والجواب ان قوله لیس فی القران ربا سوی ما ثبت کونه ربا السنة غلط ظاهر کما حققناه قبل وذکرنا ان الطحاوی صرح بکون ربا القران غیر الربا الذی ورد به السنة وهذا وهو الحق والا لزم کون العرب واهل الکتاب غیر عارفین بمعنی الربا قبل علمهم بالسنة وهذا لا یقوله من له ادنی معرفته باللسان والشرع واما قوله ان الربا الذی جعلوه ربا حقیقیا لم یرد به اثر خال عن العلة فابطل وبطل سنتکلم علیه فیما

عوض په زیاتوالي سره ورکولو ته وائي، که په قرض کې وي او که بیعه کې او ملتقي کې د ربا تعریف داسې دی چه ربا هغه زیات مال دی چه په مالي معاوضه کې د عاقدینو د طرف نه بغیر د عوض نه مشروط وی. علامه شیخ زاده د دې په شرحه کې فرمائي چه لفظ عاقدین بائع او مشتري او قرض ورکونکي او اخستونکي ټولو ته شامل دي، او د ملتقي وغیره د عبارت نه کوم چه مستفتي په علماء اعلام کې شمار کړي دي دا ګڼلي دي چه قرض هم په بیعه کې داخل دی، د دې سهوه کیدل ظاهر دي بلکه د دې عبارتونو مطلب همغه دی چه مونږ بره ثابت کړی دی، لکه ځنګه چه امام جصاص او ابن رشد بیان کړی دی، او د ټولو علماو اتفاق پرې نقل کړی شوی دی، امام طحاوي هم د همدې قائل دی او شاه ولي الله هم د دې تصریح کړې ده، او د دوئ نه وړاندې علامه ابن الهمام او ابن القیم او فخر رازي هم د دې تصریح کړې ده. مستفتي د دې حضراتو په تحقیق باندې اعتراض کړی دی چه ربا القرض ته حقیقي ربا ویل صحیح نه دي ځکه چه جمهورو علماو د ربا ایات مجمل او حدیث مفسر منلي نو حقیقي ربا همغه ده (کوم چه حدیث کې ذکر ده) ځکه چه قرآن کې صرف د هغه ربا

۱ - فان القرض غیر البیع حتما نعم ان اراده ان القرض المشروط بالفعل في حکم البیع فصحیح لکون شرط اکفصل فیه مودیا الی الشرط صونا للعقد عن الانقلاب عن حقیقة فیبطل العقداد بلغوا ۱۲ منه.

سیاقی وان سلمنا فقیام الاجماع علی کونه ربا الجاهلیة الذی نهی الله عنه فی القران اغنانا عن تحقیق سنده واورد علیه (فی حاشیة صـ۲۳) ایضا بقوله والعجب ان ما یدعی انه ربا حقیقی فلاذکر له علی لسان الشرع واما المحمول علیه والمشبه به فهو مروی عن جماعة من صحابة وکذلک الفقهاء لایذکرون الربا الحقیقی الاتبعاً واستطراداً،

ذکر دی د کوم چه ربا کیدل د حدیث نه ثابت دي، نو مونږ په دې خبره باندې جرات نه شو کولی چه د کوم صورت چه ربا کیدل د قرآن او حدیث نه ثابت دي هغې ته غیر حقیقي ربا ووایو، او د کوم متعلق چه حدیث یا اثر خالي عن العلت نه دی راغلی هغې ته حقیقي ربا ووایو. (جواب): زه وایم چه د مستفتي دا خبره سراسر غلطه ده چه قرآن کې صرف د هغه ربا ذکر دی د کوم چه ربا کیدل د حدیث نه ثابت دي، ځکه چه مونږ د طحاوي قول بره ذکر کړی دی، چه د هغوئ په نزد ربا قرآن د هغه ربا نه جدا ده کومه چه حدیث کې ذکر ده، او همدا حق ده کنه نو د دې نه دا لازمیږي چه عرب او اهل کتاب د حدیث پوهیدو نه وړاندې د ربا معنی سره اشنا نه وو، او څوک چه د عربي او شریعت سره لږ واقفیت هم لرې هغه د داسې خبرې جرات نه شي کولی، پاتې شوه دا چه کومې ربا ته چه حقیقي ربا ویل کیږي نو د هغې متعلق کوم حدیث خالي عن العلت نه دی راغلی الخ. دا هم بالکل باطله ده او مونږ به ډیر زر په دې باندې هم بحث وکړو که د لږ وخت لپاره د مستفتي خبره ومنل شي نو کله چه علماو په دې خبره باندې اجماع وکړه چه د جاهلیت ربا همغه ده د کوم نه چه قرآن کې منع کړی شوې ده، او هغه به په قرض کې وه نو بیا هغوئ له د دې آثارو د سند د بحث او لټولو کوشش ضرورت نشته، مستفتي په مذکور تحقیق باندې دا اعتراض هم کړی دی چه دا څنګه عجیبه خبره ده چه کومې ربا ته چه حقیقي ربا ویل کیږي د هغې خو د شریعت په ژبه هیڅ ذکر نشته دی، او کوم ته چه ربا الحاقي او مشابه حقیقي ویل کیږي نو د صحابه و د جماعت نه همغه منقول دی، او د فقهاو نه هم.

ویأتون جمیع الفروع والتفاصیل فی باب الربا الغیر الحقیقی آه؛ والجواب عنه اولا ان الشرع لم یذکر من احکام البول والعذرة الاحکم النجاسة ولم یتعرض لحرمة اکلهما وشربهما وکذلک الفقهاء ثم یتعرضوا لها وانما ذکروا جمیع الفروع والتفاصیل فی باب النجاسة فقط فهل یجتری احد من الجهلاء فضلا [عن] العقلاء علی القول بحل تناولهما اکلا

د ربا حقیقي ذکر صرف تبعاً کوي او ټول تفصیل او تفریع ربا غیر حقیقي بیانوي (د دې جواب) اولاً دا دی چه شریعت د ډکو او تشو متیازو متعلق صرف د نجاست حکم ورکړی دی، د خوراک او څښاک سره ئې تعرض نه دی کړی همداسې فقهاو هم ټول



وشربا کلالن یجتری احد، علی القول بمثل ذلک* ابدا فکذا الربا فی القرض ان سلمنا قلة تعرض الشارع والقهاء له فلیس ذلک لکونه جایزا واقل من ربا البیع حرمة بل سببه عدم الحاجة الی التعرض به لکون الربا فی القرض والدین معلوما کونه ربا عرفا بل هو الذی کانت العامة تعرفه بالربا وربا البیع کان خافیا علی الناس لم یکونوا یعدونه ربا فلذا العرض له الشارع والفقهاء اکثر من الاول فافهم ولا تکن من الکابرین فان حرمة الربا لیست مختصة بالشریعة الاسلامیة بل هی محرمة فی الادیان والملل کلها فانشدک الله ان تسیل اهل الادیان والملل والجهلا من المسلمین عن الربا ما هو عندهم فلا تجد احد اینکر کون للقرض المشروط بالزیادة ربا نعم ربا البیع لایعده کثیر منهم ربا واذا کان کذلک فالشارع الحکیم وکذا نوابه الفقهاء لا یتعرضون الا لتفصیل ما کان ظاهرا بادیا وثانیا انا لا نسلم قلة تعرض الشارع ونوابه الفقهاء الربا القرض الذی هو ربا حقیقی فقد صح عنه ﷺ انه قال لا ربا الا فی النسیة وهو حدیث صحیح اخرجه البخاری ومسلم وغیرهما عن ابن عباس عن اسامة وقد ذکرنا

تفصیل او تصریح د نجاست بیان کړی دی، د خوراک او څښاک حرمت سره ئې غرض نه دی کړی، اوس عاقلان خو پریږده زه تپوس کوم چه کوم جاهل هم د دې د ویل جرات کولی شي چه د دې خوراک او څښاک جائز دی، (ځکه چه شریعت د دې سره غرض نه دی کړی) یقیناً نه ئې شي کولی نو که اوس ومنو چه شارع او فقهاو د ربا القرض لږ تعرض کړی دی، نو د دې دا سبب نه دی چه دا جائزه ده یا په ربا البیع کې د حراموالي نه لږ کمه ده، بلکه د دې سبب صرف دا دی چه د دې سره د زیات تعرض ضرورت نه وو، ځکه چه د ربا القرض ربا کیدل ټولو ته ښه معلوم وو، بلکه عامو خلکو به صرف همدې ته ربا ویله، ربا البیع ته به ئې ربا نه ویله نو ځکه شارع او فقهاو د ربا البیع سره زیات تعرض وکړو، ښه پوهه شه او ضد مه کوه، ځکه چه د ربا حرمت صرف په اسلامي شریعت کې نه دی، بلکه ټول دینونه او ملتونه د دې په حرمت باندې متفق دي؛ اوس زه تاته د الله ﷻ قسم درکوم چه ته د ټولو اهل مذهبونه او د جاهلو مسلمانانو نه د ربا د معنی تپوس وکړه نو یقیناً د ربا القرض د ربا کیدو نه به څوک هم انکار نه کوي، او داسې به ډیر ملاو شي چه ربا البیع نه به

۱ - (تنبیه) قال المستفتي في آخر في الآخر الاستفتاء لو جوب اعتبار العرف والعادة وحال الزمان في الاحكام فنقول ان عرف اهل الاسلام يقتضى تخصيص آية الربا بالقرض لا غير فانهم لا يعرفون غير ذلک بالربا وكذا حال الزمان تقتضي تحريم رب القرض اشد تحريم لفشو الافلاس وكثرة الاعسار في المسلمين واضطر ارهم الى الاستقراض من ارباب الاموال وقليل ما هم وبتجويز الاسترباح على القرض لا يزول افلاس المفاليس بل يقضى ذلک الى استباحة بيضتهم وخروج الديار والعقار مرسله موهم كما هو مشاهد ففيه ترک مصالح العامة لمراعاة الخاصة وليس ذلک من العدل في شئ وانما العدل ترجيح مصالح الاكثرين على الاقلين فافهم ۱۲ منه.

انه محمول على الربا الاكبر وقال ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حديث حسن لغيره صرح به العزيزي في شرح الجامع الصغير للسيوطي؛ (صـ۸۷ جـ۳).

ناخبره وي كله چه حالت دا دى نو شارع حكيم او د هغه نائبين فقهاء ته د دې ځيز سره د غرض لرلو ضرورت نه وو، كوم چه د خلكو نه پټ وي، او كوم ځيز چه ظاهر وي د هغې سره د تعرض څه ضرورت دى. (دويم جواب): مونږ له دا هم مسلّم نه دي چه شارع او فقهاو حقيقي ربا يعنې ربا القرض سره تعرض كم كړى دى ځكه چه د رسول الله ﷺ فرمان دى چه ربا د قرض او دين نه سوا نور په هيڅ كې نشته، دا حديث صحيح دى، دا بخاري او مسلم وغيرهما د حضرت اسامه نه روايت كړى دى، او مونږ وښودل چه د دې معنى دا ده چه د سود لويه درجه قرض او دين ده، او د رسول الله ﷺ فرمان دى چه كوم قرض د نفع سبب جوړ كړى شي هغه ربا ده، او دا حديث حسن لغيره دى. (وګورئ عزيزي شرح جامع صغير سيوطي صـ۸۷، جـ۳).

والحسن لغيره حجة ايضا كما لا يخفى على من مارس الحديث والفقه وسيأتي ذكر الاثار فيما بعد انشاء الله تعالى واما الفقهاء فقد تعرضوا الكلام القسمين من الربا ولكنهم يبحثون عن ربا البيع في ابواب البيوع وعن ربا الدين في باب القرض ولما كان ربا البيع طويل الذيل دقيق المباحث كثر بحثهم عنه واشتغلوا بتفصيل احكامه وتفريع شعوبه بخلاف ربا الدين فلم يطولوا في ذكره لضبط احكامه وقلة فروعه وظهور حقيقته على الناس كلهم كما لا يخفى واكثر الفقهاء عرفوا الربا بما يعم كلا القسمين ربا المبايعة وربا الدين فقد قال في الهداية الربوا هو الفضل المستحق لاحد المتعاقدين في المعاوضة وفي الملتقى الربا فضل مال خال عن عوض شرط لاحد العاقدين في معاوضة ومال بما وفي العالمگيرية الربا في الشريعة عبارة عن فضل مال لا يقابله عوض في معاوضة مال بمال وفي النقاية الربوا هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعي بشرط احد المتعاقدين

او حديث حسن لغيره هم حجت دى، لكه څنګه چه د حديث او فقهې په لوستونكو او داسې وركونكو باندې پټه نه ده او وروستو به مونږ نور اثار هم ذكر كړو او فقهاو خو د ربا دواړو قسمونو سره تعرض كړى دى، مګر هغه په كتاب البيوع كې د ربا البيع نه بحث كول او باب القرض كې د ربا د تعرض نه. او دا ضرور ده چه ربا البيع مباحث چونكه دقيق او طويل الذكر دى، نو ځكه ئې په تفريع او تفصيل كې زيات مشغول وو، د ربا القرض په خلاف چه هلته ورته د اوږدوالي ضرورت پيدا نه شو ځكه چه احكام ئې منضبط وو، او فروع ئې زيات نه وو، او د حقيقت نه ئې هم ټول خبر وو، او اكثره فقهاو د ربا تعريف داسې الفاظو سره كړى



في المعاوضة ذكر الاقوال؛ كلها المستفتي نفسه (صـ۲۵،۱۰) وفي تنوير الابصار هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعي مشروط لاحد المتعاقدين في المعاوضة والمستفتي حمل تلك التعريفات كلها على البيع وحمل المتعاقدين على البايع والمشتري وزعم ان القرض ليس من المعاوضة وهذا باطل قطعا فقد قال في رد المحتار تحت تفسير صاحب الدر للمتعاقدين بقوله اي بايع ومشتر ما نصه اي مثلا فمثله المقرضان والراهبان قهستاني اه (صـ۲۷۴ جـ۴) وكذا فسر العلامة الشيخزاده لفظ المتعاقدين في شرح الملتقى بالبايعين او المقترضين كما ذكره المستفتي نفسه صـ۲۵).

دى، چه د ربا دواړو قسمونو ربا البيع او ربا القرض ته عام دى نو په هدايه كې دي چه ربا هغه زيات ځيز ته وائي چه د معاوضې په وخت د عاقدينو نه د يو لپاره ثابت كړى شي او ملتقي كې دى، چه ربا هغه زيات مال دى چه بغير د عوض نه په معاوضه ماليه كې د عاقدينو نه د يو لپاره مشروط وي، دا ټول اقوال پخپله مستفتي ذكر كړي دي او تنوير كې دي چه ربا هغه زيات مال دى چه د قاعده شرعي موافق د عوض نه خالي وي، او په عاقدينو كې د يو لپاره مشروط وي دا ټول تعريفونه د ربا البيع اور ربا القرض دواړو كې شامل دي؛ مګر مستفتي دا ټول د ربا البيع سره خاص كړي او د عاقدينو نه ئې بائع او مشتري اخستلي دي، او دا دعوه ئې كړې ده چه قرض عقد معاوضه نه دي، ددې لپاره دعقد معاوضى قيد قرض ددې تعريف نه وباسي. او دا دعوه بالكل باطله ده ځكه چه په در مختار كې چه كوم تفسير د عاقدين د بائع او مشتري سره مذكور وو، علامه شامي قهستاني حوالې سره ئې د هغې په شرحه كې فرمايلي دي چه دا تفسير د مثال په طور دى، كنه نو بائع او مشتري د قرض وركونكي او اخستونكي په شان دي، او راهن او مرتهن هم په دې كې داخل دي، همداسې علامه شيخ زاده هم شرح ملتقي كې د عاقدينو تفسير بائع لو مشتري او قرض وركونكي او اخستونكي سره كړى دى لكه څنګه چه پخپله د مستفتي اقرار دى.

قلت فكل من ذكر لفظ البيع او البايع والمشتري من الفقهاء في حد الربا فهو تمثيل وليس مراده قصر الربا وحصره في البيع كما زعمه المستفتي ووجه ذكرهم البيع والبايعين في حد الربا تمثيلاً لكثرة بحث الفقهاء عن ربا الفضل لكثرة شعوبه ودقة احكامه يدل عليه قول ابن عابدين موردا على احد الربا الذي ذكره في تنوير الابصار بما نصه وهذا لا يدخل في رباء النسية ولا البيع الفاسد الا اذا كان

اوس زه دا وايم چه كومو علماو چې د ربا په تعريف كې لفظ د بيع يا بائع او مشتري ذكر كړې دى هغه صرف د مثال په طور دى، د هغې دا مطلب بالكل هم نه دى چه آيا په بيعه كې منحصره ده لكه څنګه چه مستفتي وګڼل او د مثال په طور سره هغه چه د ربا تعريف كوم لفظ د بيع او بائع او مشتري سره كړى

فسادة لعلة الربا ثم اجاب عن هذا الایراد بقوله فالظاهر من كلام المصنف تعریف ربا الفضل لانه المتبادر عند الاطلاق اه (ص۲۷۲ج۴) ای فی كلام الفقهاء لكثرة بحثهم عنه لما ذكرنا بهذا اظهر لك صدق ما قلنا انفا ان الحدود التی ذكرها الفقهاء فی معنی الربا منها ما هو حد لاحد قسمیه ای ربا البیع ومنها ما هو حد حقیقی له یعلم كلا القسمین له وقد اغتر المستفتی برویته لفظ البیع فی بعض الحدود فزعم ان الربا مختص بالبیع منحصر فیه لا غیر واما قوله ان القرض لیس من المعاوضات فباطل كیف وقد صرح الفقهاء بكونه معاوضة انتهاء فیكف لا یكون داخلا فی المعاوضة المذكورة فی حد الربا الا ان یقیم الدلیل علی ان المراد بالمعاوضة فیه المعاوضة ابتداء وانتهاء فان قدر علی ذلك فلیرنا نصا من واحد من الفقهاء المقتدی بهم فی الدین یفید تخصیص المعاوضة بالمعنی الذی ذكره واما نحن قد ارایناه ما یشعر صریحا بان ذكر البیع والبایعین فی حد الربا انما هو للتمثیل لا للقصر فكون القرض غیر البیع لا یستلزم خروجه عن المعاوضه ایضا لا سیما القرض المشروط بالفضل فانه معاوضة ابتداء فان الهبة لما تغیرت عن كونها تبرعا محضا باشتراط العوض فیها الی كونها معاوضة انتهاء فی حكم البیع بعد التقابض كما فی الهندیة لا بد ان یتغیر القرض عن كونه معاوضة انتهاء الی كونه معاوضة ابتداء وانتهاء بشرط الفضل فیه ومن ادعی غیر ذلك فلیات ببرهان من كلام الفقهاء ولا یقبل دعواه فی حكم البیع فی كلام الامام مالك والشافعی واما ما نقله المستفتی من تصریحات الفقهاء یكون

دی چه فقهاء د ربا الفضل نه زیات بحث کوي ځکه چه فروع ئې زیات او احکام ئې دقیق دي، د دې دلیل دا دی چه علامه شامي اول په دې تعریف باندې چه تنویر کې ذکر دي اعتراض کړې دی چه د ربا النسیئه او بعضې فاسدو بیوعو ته شامل نه دي، بیا ئې پخپله وویل چه په ظاهره کې خو مصنف په دې تعریف کې صرف د ربا الفضل تعریف کړی دی، ځکه چه د اطلاق په وخت د فقهاو په کلام کې متبادر هغه دی،اهـ د دې نه زمونږ د وعدې رشتنې کېدل تاته واضحه شول چه فقهاو چه د ربا څومره تعریفات کړي دي او بعضې حقیقي تعریفات دي چه د ربا دواړو قسمونو ته شامل دي، مګر مستفتي په بعضې تعریفونو کې د بیع په لیدلو سره دوکه شو، او دا ئې وګڼله چه ربا په بیعه کې منحصره ده د بیعې نه سوا بل صورت کې د ربا تحقق نه شي کیدلی، پاتې شوه د مستفتي دا دعوه چه قرض په معاوضاتو کې داخل نه دی، او دا هم غلطه ده اودا صحیح کیدی ځنګه شي کله چې فقهاو د دې تصریح کړې ده چه قرض د مغاوضې انتها ده،او بیا د ربا په تعریف کې چه کوم د معاوضې لفظ ذکر دی، په هغې کې به قرض ولې داخل نه وي او که مستفتي په دې باندې دلیل قائم کړا شي چه دلته د معاوضې نه



القرض تبرعاً ابتداءً بخلاف البیع (فی ص۲۷۲ج۴) فكلها فی القرض الغیر المشروط بالفضل والمنفعة وهو عند الجمهور معاوضة انتهاءً ولا عبرة بقول من جعله عاریة وقال انه من باب الارفاق لا من باب المعاوضات مطلقا فغلطه بین لكونه خلاف المشاهد وخلاف عرض العاقدین ولكونه منافیا لحد القرض فان العاریة مردودة بعینها ولذلك لا یصح عاریة الاثمان والمكیل والموزون ضرورة استهلاك عینها ولا كذلك القرض ولو لم یكن من باب المعاوضات لم یستحق الداین المطالبة عن المدیون اذا اعسر والمریق عنده شیی كالعاریة اذا اهلكت بلا تعد واطلاق لمنحة علیه فی الحدیث للترغیب والتخصیص علیه كاطلاق الصدقة فهل یستدل باطلاق الصدقة علیه علی عدم وجوب الرد علی المدیون اصلاً.

هغه مراد دي چه ابتداءً او انتهاءً معاوضه وي نو د فقهاو د کلام نه دې کوم دلیل پیش کړي، کنه مونږ د دې فقهاو تصریحات ښودلي دي، د کوم نه چه دا کار واضح دی، چه ربا په تعریف کې بیع او بائع او مشتري ذکر کیدل صرف د تمثیل دپاره دی، د حصر لپاره نه، نو د قرض د بیعې نه جدا کیدل د دې مستلزم نه وي، چه هغه د معاوضاتو نه هم خارج وي، خصوصاً هغه قرض په کوم کې چه د زیات وصولولو شرط هم لګول شوی وي، ځکه چه هغه خو ابتداءً او انتهاءً هر رنګه معاوضه ده، وګورئ هبه چه تبرع محض ده که په دې کې د عوض شرط وکړاې شي نو اوس به هغه تبرع محض نه وي بلکه انتهاء معاوضه بحکم بیع به شي لکه څنګه چه په عالمګیري کې مذکور دي، نو ضروري ده چه کله قرض بدون شرط انتهاء معاوضه ده او څوک چه د دې خلاف وعده لري، هغه دې د فقهاو نه په دې خبره دلیل راوړي، صرف دعوه به ئې نه اوریدل کیږي، او تردې به د امام شافعي او امام مالک خبرې نه مونږ د دې ثبوت ورکړو، چه کله په قرض کې د زیاتوالي شرط ولګولی شي نو هغه به د بیعې په حکم کې وي او مستفتي چه کوم تصریحات د فقهاو د مضمون نه نقل کړي دي چه قرض تبرع ده او د بیعې په خلاف نو دا ټول تصریحات د هغه قرض متعلق دي په کوم کې چه د زیاتو وصولولو د منافع حاصلو شرط نه وي، هغه هم د جمهورو په نزد صرف ابتداءً تبرع دی، او انتهاءً معاوضه ده، او کومو خلکو چه قرض ته رعایت ویلی دی او دا ئې ویلي دي چه قرض مطلقاً د معاوضاتو د قسم نه نه دی، بلکه د احسان د قسم نه دی، د هغې غلطي ظاهره ده ځکه چه دا د مشاهدې خلاف او د قرض د تعریف هم خلاف ده ځکه چه عاریت نو بعینه واپس کیږي، او ځکه د روپو پیسو او مکیل او موزون عاریت باطل دی، ځکه چه هغه خرچ او په کار راوړل کیږي او بعینه

نه واپس کیږي، او د قرض دا شان نه دی او که قرض د معاوضاتو د قسم نه نه وي نو کله چه مدیون تنګلست شي او د هغه سره هیڅ پاتې نه شي هغه وخت کې دائن ته د مطالبې حق باقي نه دي پاتې کیدل پکار، لکه هلته چه عاریت بدون تعدي هلاک شي نو مالک د مطالبې حق نه لري او په حدیث کې چه کوم قرض ته عطیه ویل شوې ده هغه صرف د ترغیب د وجې نه لکه په بعضې روایاتو کې چه قرض باندې د صدقې اطلاق وارد وي نو آیا د صدقې په اطلاق سره د دې کار استدلال صحیح کیدلی شي چه په مدیون باندې د قرض ادا کول اصلا واجب نه دي.(ځکه چې هغه صدقه وه .داګفتګو دهغه قرض په باره کې وه په کوم کې چې زیاتوالې اومنفعت شرط نه وي ۱۲)

واما القرض المشروط بالفضل والمنفعة فلم يقل احد انه من باب الارفاق بل اتفقوا على كونه مثل البيع ثم اختلفوا فقال الشافعى ومالك ببطلان عقد القرض اما قول الشافعى فذكره العزيزى فى شرح حديث كل قرض جر منفعة فهو ربا اى فهو حرام وعقد القرض باطل (صـ۸۷ جـ۳) وقول مالك ذكره فى المدونة وسيأتى؛ وقال الحنفية يبطل الشرط لكونه منافيا للعقد ويبقى القرض صحيحا وقولهم ببطلان الشرط لكونه منافيا للعقد فيه تصريح بان القرض اذا كان مشروطا بالمنفعة يلزم منه انقلابه بيعا ولذا ابطلوا الشرط حفظا للعقد عن الانقلاب والا لم يكن لا بطالة معنى ومرادهم بكون القرض صحيحا والشروط باطلان المستقرض اذا قبض الدراهم التى استقرضها بالشرط يصير دينا عليه ولا تكون امانة غير مضمونة واما ان الاقراض والاستقراض بالشرط جايز فكلا فقد صرح فى الدر عن الخلاصة القرض بالشرط حرام والشرط لغو وفيه ايضا واعلم ان المقبوض بقرض فاسد كمقبوض بيع فاسد سواء اه (صـ۲۶۶ وصـ۲۷۰ جـ۴) فثبت بذلك ان القرض المشروط بالنفع كالبيع عندهم ولذا ابطل الشافعى ومالك عقد القرض

ربا هغه قرض چه په کې د زیاتوالي او نفع حاصلولو شرط دی، هغه چا هم د احسان په باب کې نه دی داخل کړی بلکه اتفاقاً ټولو د بیع په شان ګرځولی دی، په دې کې بیا اختلاف پیدا شو چه دې شرط سره به د قرض عقد باطلیږي او که نه، د امام شافعي او امام مالک په نزد خو به د قرض عقد باطل شي او د احنافو په نزد به شرط باطل شي ځکه چه هغه د عقد منافي دی او د قرض عقد به صحیح وي، مګر د احنافو دا شرط د عقد منافي ګڼل او باطلول صراحةً داددې کار تسلیمول دي، چه په قرض کې د زیاتوالي او فائدې شرط لګولو سره د دې حقیقت بدلیږي او د بیعې طرف ته اوړي کنه نو د شرط باطلولو څه ضرورت وو، او په دې صورت کې قرض ته صحیح او د شرط باطلولو مطلب صرف دا دی چه قرض اخستونکی چه کله په دغه روپو قبضه وکړي نو دا به د هغه په ذمه شي، صرف امانت



والحنفية ابطلوا الشرط صونا له عن معنى البيع فافهم فقول المستفتى ان القرض من التبرعات دون المعاوضات عند الفقهاء غلط بين ان اراد به انه من التبرعات المحضة وليس من المعاوضة فى شيى فانهم لما عرفوا الربا بفضل خال عن عوض لاحد من المتعاقدين فى المعاوضة وفسروا المتعاقدين بالبايعين والمقترضين وصرحوا بان ذكر بعضهم البايع والمشترى فى تفسير المتعاقدين انما هو مجرد تمثيل ظهر بذلك كون القرض والاقتراض من المعاوضة والاكان قيد المعاوضة منافيا لتعميم المتعاقدين للمقترضين ولا يلزم من كونه معاوضة كونه بيعا فان الرهن ايضا من المعاوضة وليس من البيع فافهم فقد ظهر بذلك بطلان ما اراده المستفتى باثبات المغايرة بين القرض والبيع (فى ۲۶؛ ۲۷؛ ۲۸؛ ۲۹؛ ۳۰) وحاصله ان الربا مختص بالبيع والقرض ليس منه وهذا كله بناء الفاسد على الفاسد فقد بينا ان الربوا لا ينحصر فى البيع بل يجرى فى المعاوضات باسرها والقرض من المعاوضات لا سيما القرض المشروط بالنفع فانه مثل البيع واكبر ما استدل به المستفتى على عدم جريان الربا فى القرض وقصره على البيع ان تحقق الربا لا يتوقف على الشرط بل الزيادة بلا شرط ربا ايضا كما صرح به ابن عابدين فى شرح الدر؛ (صـ۲۷۴؛ جـ۴).

به نه وي، تاوان به هم پرې لازم وي، او دا مطلب نه دی چه د نفع شرط کولو سره د قرض لین دین جائز دی، ځکه چه در مختار کې د خلاصې په حوالې سره د دې تصریح موجوده ده چه د شرط سره د قرض معامله حرامه ده او شرط باطل دی، او په دې کې دا هم ذکر دی چه په کوم څیز کې قرض فاسد باندې قبضه وکړی شي د هغې همغه حکم دی چه کوم بیع فاسد کې د قبضې نه بعد حکم دی، د دې نه معلومه شوه چه د ائمه و پر نزد قرض شروط د بیعې په شان دي، نو ځکه شوافعو او مالکیانو په دې صورت کې قرض ته باطل ویلي دي او احنافو شرط ته باطل وویل ترڅو د قرض حقیقت د انقلاب نه محفوظ وي،) اواګرکه دشرط دپابندي سره دقرض په رقم قبضه واچول شی نودهغې هغه حکم دی په کوم چې دبیٔة فاسدې دقبضې باندې چه کوم حکم دی ۱۲(بنه پوهه شه نو د مستفتي دا قول چه د فقهاو په نزد قرض د تبرعاتو نه دی، معاوضاتو نه نه، که د دې دا مطلب وي چه قرض خالص تبرع ده په یوه درجه کې هم معاوضه نه ده نو دا صراحة غلطه خبره ده، ځکه چه فقهاو د ربا تعریف داسې کړی دی چه ربا هغه زیات مال

دی چه د عوض نه خالي وي او په مالي معاوضه کې د متعاقدینو نه د یو لپاره ثابت وي، او د متعاقدینو تفسیر بائع او مشتري قرض ورکونکي او اخستونکي سره کړی شوی دی، اوددې تصریح یې کړې چاچې دمتعاقدینوتفسیربائع اومشتری کړی هغه حصر قصد نه دی کړی،بلکه صرف د تمثیل په طور ئې د بائع او مشتري ذکر کړی دی، د دې نه صفا ظاهریږي چه قرض هم د معاوضې قسم دی، کنه نو د

ربا په تعریف کې د معاوضې لفظ بیانولو نه بعد د متعاقدینو لاندې قرض ورکونکي اواخستونکي داخلول صحیح نه وو، او د قرض په معاوضه کې داخلول د دې خبرې مستلزم نه دی چه هغه په بیعه کې داخل شي، وګورئ د رهن عقد معاوضه ده مګر بیعه نه ده، پوهه شه، نو مستفتي چه کوم په بیع او قرض کې د منافاتو ثابتولو دا نتیجه راویستلې ده چه ربا د بیع سره خاصه ده او قرض بیع نه دی نو ځکه قرض کې د ربا تحقق نه کیږي، د دې باطل لغوه کیدل او بناء فاسد علی الفاسد واضح شو ځکه چه مونږ وښودل چه ربا په بیعه کې منحصره نه ده بلکه ټولو معاوضاتو کې د دې تحقق کیږي، او قرض هم په معاوضه کې داخل دی، خصوصا هغه قرض په کوم کې چه د زیاتوالي او نفع شرط وي چه هغه خو د بیعې په شان ده.مونږ اوس د مستفتي د یو لوې دلیل جواب ورکول غواړو په کوم باندې چه هغه ډیر ناز کوي، هغه ربا په بیعه کې د منحصر کولو او د قرض نه د جدا کولو استدلال سره دا مقدمه بیان کړې ده، "چه د ربا تحقق په شرط باندې موقوف نه دی بلکه بغیر د شرط نه هم ربا حرامه ده، علامه ابن عابدین په شامي کې د دې تصریح کړې ده"

قال ودلیله ما فی المدونة ان ابابکر الصدیق رضی الله تعالی عنه راطل ابارافع الحدیث(۷) قال المستفتی فی دلالة علی ان الزیادة فیه القرض لیست ربالانه لوکانت ربالحرمت بدون شرط ایضا ولم یقل به الفقهاء علا انه ثبت بالاحادیث الصحیحة ان النبی ﷺ زادوقت الاداء فی القرض اه(ص۸) اقول ما استدلاله باثر الصدیق علی ان الربالایتوقف تحققه مطلقا علی الشرط فغیر تام لوجوه الاول ضعف الاثروشدة وهنه فان فی سنده محمد بن السایب الکلبی متروك بالمرة متهم بالکذب ورمی بالرفض کما فی التقریب (ص۱۸۲) وتهذیب التهذیب (ص۱۷۸ ج۹) وهو یروی عن اخیه سلمة بن السایب وهو مجهول لایعرف له راوغیراخیه محمد بن السایب الکلبی ولم یثبت سماع سلمة بن السایب عن ابی رافع والعجب من الذی یضعف حجة المجهول بحدیث کل قرض

او د مدو نه د یو روایت نه هم د دې تائید کیږي چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه د ابو رافع نه د سپینو زرو خلخال د سپینو زرو په بدلهٔ کې واخستلو، خلخال لږ شان رازوړند وو، نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه د هغې کمول وغوښتل، نو ابو رافع وویل تاسو داسې مه کوئ، زه زیاتوالی ستاسو دپاره حلالوم، نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمایل تا حلال کړل، نو الله او د هغه رسول ﷺ خو نه دي حلال کړي، غرض دا چه هغه ئې کټ او برابر ئې کړل، مستفتي وائي چه د دې نه معلومه شوه چه د قرض نه زیات وصولول سود نه دی، ځکه چه که سود وي نو بغیر د شرط نه به هم حرام وي، حال دا چه فقهاء د



جر منفعة فهوربا کیف یوسن بنیان دعواه علی مثل هذا الاثر الواهی فلم یبق له دلیل فی عدم توقف تحقق الربا علی الشرط سوی قول ابن عابدین فی ذلك حجة له فلیکن قوله فی تفسیر اللمتعاقدین مثل المقترضین والراهنین حجة علی ایضا وهو یفید جریان الربا فی القرض وکونه من المعاوضة خلاف مازعمه المستفتی وثانیا ان سلمنا صحة الاثر فغایة مافیه ان تحقق الربا فی المراطلة (ای بیع الذهب بالذهب والورق بالورق) لایتوقف علی الشرط فان الاثر انما ورد فی ربا البیع وربا الفضل ولا یلزم منه عدم توقف تحققه علی الشرط فی ربا الدین ایضا وثالثا انا لانسلم ان تحقق الربا فی القرض موقوف علی الشرط عند الفقهاء مطلبا بل فیه تفصیل عندهم حاصله ان المنفعة الحاصلة من المقترض لا تخلوا اما ان تکون قبل اداء الدین اوبعده.

شرط نه بغیر قرض کې زیادت ته جائز وائي، د دې نه علاوه چه رسول الله ﷺ نه په صحیح احادیثو کې ثابت دي چه هغوئ د قرض ادا کولو په وخت زیات ادا کړی اهـ.
جواب: د حضرت ابوبکر رضيَ الله عنه د حدیث نه په دې خبره استدلال کول "د ربا تحقق صرف په شرط موقوف نه دی" د څو وجوه نه پوره نه دی اول دا چه دا اثر ضعیف او ډیر کمزوری دی، ځکه چه په سند کې ئې محمد بن سائب الکلبي دی چه بالکل متروک او کذب ورفض سره متهم دی، بیا هغه د خپل وروروسلمه یاابوسلمه نه روایت کوي او هغه مجهول دی، او دا د محمد بن سائب نه بل چا هم نه دی روایت کړی خوبیا د سلمه بن سائب (ابوسلمه)

سماع د ابو رافع نه ثابته نه ده، مستفتي له شرم کول پکار دي چه هغه حدیث "کل قرض جر نفعا فهو ربا" ته ضعیف وائي، د کوم نه چه د جمهورو په نزد احتجاج کړی شوی دی او پخپله د داسې کمزوري سند والا حدیث دلیل راوړی (چه په یوه درجه کې هم د حجت قابل نه دی) نو اوس د علامه شامي نه سوا د دې دعوې دلیل هیڅ پاتې نه شو لیکن که د علامه شامي دا قول حجت دی نو دا څوک ئې هم حجت کیدل پکار دي، چه ربا په تعریف کې د متعاقدینو په لفظ قرض ورکونکي او اخستونکي ته هم عام دی، د کوم نه چه د مستفتي خلاف دا ثابتیږي چه ایا په قرض کې هم متحقق کیږي او د معاوضاتو د قرض د قسم نه دی، دویم که مونږ د صدیق اثر صحیح وګڼو نو د دې نه به صرف دومره ثابتیږي چه کله سپینو ته د سپینو، یا سرو په بدله کې بیعه وکړا شي نو هغه وخت کې د ربا تحقق په شرط باندې موقوف نه وي ځکه چه دا اثر د ربا البیع متعلق دی، د دې نه دا څنګه لازمه شوه چه د ربا تحقق صرف په شرط باندې موقوف نه دی، ځکه چه د ربا د یو قسم په شرط باندې موقوف نه دی ځکه چه د ربا د یو قسم په شرط باندې نه موقوف کیدو نه دا نه

لازمیږي چه د ربا تحقق مطلق شرط باندې موقوف نه دی، دریم مونږ دا هم نه منوچه په قرض کې د ربا تحقق د فقهاو په نزد په هر حالت کې په شرط موقوف دی بلکه د هغوئ په نزد په دې کې دا تفصیل دی د کوم چه خلاصه دا ده چه مدیون نه چه کوم منفعت او فائده حاصلیږي د هغې دوه قسمونه دي، یو دا چه د قرض نه وړاندې یا وروستو ئې قرض ورکونکي ته هدیه ورکړې یا دې دعوت ورکړی، دویم دا چه د قرض ورکولو په وخت فائده حاصله شي او د دې بیا دوه قسمونه دي یو دا چه دغه منفعت د اوصاف قسمونو سره وي،

کان یهدی الغریم الی الداین اویطعمه الطعام ونحوه اوتکون وقت الاداء وهذا الاخیر علی وجهین اما ان تکون المنفعة الحاصلة من جنس الجودة اومن جنس الزیادة فی الوزن والکیل فهذه صور ثلث والاولان [1] تتوقف حرمتهما علی الشرط عند البعض والثالث حرام مطلقا سواء کان مشروطا اولا الا ان تکون زیادة قلیلة لا تظهر فی موازین الوزنین کزیادة دانق فی ماته درهم ونحوها اوتکون الزیادة بطریق الهبة من صحتها فی المشاع فیما لا یقسم وعدم صحتها فی مشاع یقسم وصرح مالك باشتراط ان تکون هبة الزیادة فی غیر مجلس قضاء الدین ولا تجوز ان لم تتبدل المجلس قال الشامی فی رد المختار تحت قول الدر فلو استقرض الدراهم المکسورة علی ان یودی صحیحا کان باطلا وکذا لو اقرضه طعاما

مثلا د قرض ورکونکي روپئ کوټه وي، مدیون نه وي ادا کړي، دریم دا چه د وزن او مقدار په صورت کې وي، دا درې قسمونه شو، اول دوه حرام خو د بعضې فقهاو په نزد به شرط موقوف وي، او دریم صورت مطلق حرام دی، که شرط وي او که نه وي، البته که زیاتوالی په لږه اندازه وي چه وزن کې ظاهریږي او بل څه کې نه ظاهریږي، لکه په سلو درهمو یوه پیسه یا د زیاتو دی، او هبې په طریقې سره نو جائزه ده مګر په دې صورت کې به د هبې د شروطو رعایت کول لازم وي، مثلا مشاع غیر قابل تقسیم شوه نو دا زیاتوالی به جائز وي او امام مالک په نزد دا شرط هم دی چه دا زیاتوالی دی، د ادا کولو په مجلس کې هبه نه کړی شي بلکه بل مجلس کې دې هبه کړی شي، کنه نو دا زیاتوالی به جائز نه وي، در مختار کې دي که چا مات شوي درهم په دې شرط سره په قرض واخستل چه روغ به ورکوي نو دا

[1] - اي المنفعة الحاصلة قبل الاداء او بعده والحاصلة وقت الاداء من جنس الجودة ۱۲منه، وهذا هو معنى قول الشافعي في الام ان اسلفه شيئا ثم اقتضى منه اقل فلا باس لانه متطوع له بهبة الفضل وكذلك ان تطوع له القاضي اكثر من وزن هبه فلا باس الى ان قال فلا باس اذا كان هذا متطوعا وان كان هذا عن شرط فلا خير فيه لان هذا حينئذ ذهب بذهب اكثر منها اه صــ۲۸، ۳۰، جــ۳، وفيه دلالة على ان القرض ينقل بيعا بالاشتراط فافهم ۱۲ منه.



بشرط رده فی مکان اخر وکان علیه مثل ما قبض فان قضاه اجود بلا شرط جاز ویجبر الداین علی قبول الاجود وقیل لا بحراه ما نصه وذکر الشارح اعطاء الاجود ولم یذکر الزیادة وفی الخانیة وان اعطاه المدیون اکثر مما علیه وزنا فان کانت الزیادة تجری بین الوزنین ای بان کانت تظهر فی میزان دون میزان جاز واجمعوا علی ان الدایق فی المایة یسیر یجری بین الوزنین وقدر الدرهم والدرهمین کثیر لا یجوز واختلفوا فی نصف الدرهم قال الدبوسی انه فی الماءة کثیر یرد علی صاحبه فان کانه کثیرة لا تجری بین الوزنین ان لم یعلم المدیون بها ترد علی صاحبها وان علم واعطاها اختیارا ان کانت الدراهم المدفوعة مکسرة اوصحاحا لا یضرها التبعیض لا یجوز اذا علم الدافع والقابض وتکون هبة المشاع فیما یحتمل القسمة وان کان یضره التبعیض وعلما جاز وتکون هبة المشاع فیما لا یحتمل القسمة اه (صــ۲۷۰، جــ۳).

صورت باطل دی، که چاته همداسې د غلې په شرط سره قرض ورکړی شو چه بل ځاي کې به ئې ادا کول لازم وي، او د مدیون په ذمه د همغه شان خبر ادا کول واجب دي کوم چه ئې اخستلی وي او که بغیر د شرط نه د هغې نه ښه ادا کړي نو جائزه ده، او قرض ورکونکی به ښه څیز په اخستلو مجبورول کیږي، او یو روایت کې دي چه نه مجبورول کیږي، علامه شامي د دې لاندې فرمائي چه شارح خو د ښه ادا کولو ذکر کړی دی، مګر د زیاتو ادا کولو په وخت په وزن کې زیاتوالی وکړي نو که لږ وي چه په کوم ترازو کې ظاهره نه شي نو جائزه ده او په دې باندې د فقهاو اتفاق دی، چه سلو درهمو کې د یوې پیسې زیاتوالی ډیر کم دی، چه په هر وزن کې نه شي ظاهریدی، او د یو درهم او دوه درهمو زیاتول ډیر دي او هغه جائز نه دي او نیم درهم کې اختلاف دی، د ابو زید دبوسي قول دا دی چه سلو کې د نیم زیاتوالی دیر دی هغه مالک ته حواله کول پکار دي، او په ډیر زیاتوالي کې تفصیل دا دی چه مدیون ته د هغې خبر نه وي چه زه زیات ورکوم نو بیا خو ئې واپس کول واجب دي او که قصداً زیات ورکوي نو که دا درهم مات وي او که روغ مګر ماتولو کې ئې نقصان نه وي نو زیات جائز نه دی، ځکه چه په دې ځاي کې به د مشاع قابل تقسیم هبه راځي، (او هغه صحیح نه ده) او که د درهمو ماتول ضرر لري او قرض ورکونکي او اخستونکي دواړو ته د دې زیاتوالي علم وي نو جائزه ده ځکه چه په دې صورت کې به د متاع غیر قابل تقسیم هبه وي (کومه چه صحیح ده).

ومثله فی الخلاصة (ص۱۰۲ ج۳) وفی العالمگیریة فی قبول هدیة الغریم واجابة دعوته بعد ذکر الاختلاف بین الکرخی وشمس الایمة الحلوانی فقال الاول لاباس به اذا لم یکن مشروطا فی القرض وقال الثانی انه حرام مانصة قال شمس الایمة ماذکر محمد (فی کتاب الصرف انه لاباس به) محمول علی ما اذا کان یدعوه قبل الاقراض اما اذا کان لایدعوه اویدعوه قبله فی کل عشرین یوما وبعد الاقراض جعل یدعوه فی کل عشرة ایام اوزاد فی الباجات فانه لایحل ویکون خبیثا واذا رجع فی بدل القرض ولم یکن الرجحان (۱) مشروطا فی القرض فلاباس به کذا فی المحیط وان اعطاه المدیون اکثر مما علیه وزنا فان کانت الزیادة تجری بین الوزنین جازو اجمعوا علی ان الدانق فی المأة یسیر یجر بین الوزنین وقدر الدراهم والدرهمین کثیر لایجوز اختلفوا فی نصف الدرهم قال الدبوسی نصف الدرهم فی المأة کثیر یرد علی صاحبه فان کانت الزیادة کثیرة لاتجری بین الوزنین ان لم یعلم المدیون بالزیادة یرد صاحبها وان علم المدیون بالزیادة فاعطاه الزیادة اختیارا هل یحل الزیادة للقابض ان کانت الدراهم المدفوعة مکسرة او صحاحا لایضره التبعیض لایجوز اذا علم الدافع والقابض واما اذا کانت الدراهم صحاحا یضرها الکسر فان کان الرجحان زیادة یمکن تمییزها بدون الکسر بان کان یوجد فیها درهم خفیف یکون مقدار الزیادة لایجوزوان کان الرجحان زیادة لیمکن تمییزها

خلاصه کې هم د دې په شان دي، او عالمګيري کې اول مديون هديه او دعوت قبلولو حکم بيانوي، کرخي او شمس الائمه د حلوائي اختلاف ذکر کړی دی، چه د کرخي په نزد د مديون هديه او دعوت قبلول جائز دي، کله چه شرط کړی شوی نه وي او شمس الائمه د شرط نه هم ورته حرام وئيلي دي، هغه وائي چه امام محمد رحمه الله چه ورته جائز ويلي دي د هغه قول په دې صورت محمول دی چه مديون د قرض معاملې نه وړاندې دعوت کوي که د دې نه مخکې ئې دعوت نه کولو، يا ئې کولو مګر په ورځو کې او اوس ئې په ۱۰ ورځو کې کوي يا ئې خوراکونه زيات کړي وي نو دا دعوت زيات حلال نه دی، بلکه خبيث دی.

د دې نه بعد د زياتوالي حکم ئې داسې بيان کړی دی چه که د قرض ادا کولو په وخت مديون څه اندازه زياته کړه او په قرض کې شرط نه وه نو د دې څه باک نشته، او که مديون د قرض نه څه زيات ورکړل په کوم سره چه وزن زيات شو نو که دا زياتوالی هر وزن کې ظاهر نه وي نو جائز دي او د فقهاو په دې خبره اتفاق دی چه ۱۰۰ درهمو کې يوه پيسه ډيره معمولي ده چه په هر وزن کې نه معلوميږي او يو درهم او دوه درهمه

(۱) المراد الرجحان القليل او ما يكون هبة بدليل ما سياتي ۱۲ منه.



بدون الکسر یجوز بطریق الهبة کذا فی المحیط اه (ص۱۱۱ ج۳) وبهذا التفصیل اندفع ما عسی ان یتوهم.

زيات دي، دومره زياتوالی جائز نه دی، او د نيم درهم په باره کې اختلاف دی، امام

بوسي فرمائي چه دا هم زيات دی، د کوم مالک چه واپس کول لازم دي او کوم زيات چه زياتوالی وي په هر وزن کې ظاهر وي د هغې په حکم کې تفصيل دا دی چه که مديون ته د دې د زياتوالي علم نه وي نو د هغې واپس کول لازم دي، ليکن هغه قصدا په خپل اختيار سره زياتې ورکوي نو آيا د هغې اخستل قرض ورکونکي ته جائز دي، په دې کې تفصيل دا دی هغه دا چه دا درهم کوم چه په قرض کې ادا کړی شوي دي مات وي، يا پوره وي مګر ماتولو کې ئې نقصان نه وي نو زياتوالی جائز نه دی، کله چه دائن او مديون دواړو ته د زياتوالي علم و ي و دا دراهم پوره وي او د هغې په ماتولو کې نقصان وي نو په دا زياتوالي د درهمو نه بغير درهم جدا کړی شي مثلا د دې درهمو په منځ کمی کوم سپک موجود وي چه د زياتوالي برابر وي، نو بيا هم دا زياتوالی جائز نه دی، که د درهمو د ماتولو نه بغير دا جدا نه کړی شي نو په دې صورت کې دا زياتوالی د هبې په طريقې سره جائز دی، محيط کې داسې دي، زه وايم دې تفصيل سره دا وهم لرې شو

ان مدار جواز الرجحان فی الوزن فی بدل القرض علی اشتراط الرجحان وعدم اشتراطه کلا بل الرجحان ان کان مشروطا لایجوز مطلقا لا قلیلا ولا کثیرا وانما الکلام فی الغیر المشروط فیجوز بطریق الهبة اذا کان مشاعا فیما لایقسم ولا یجوز فیما یقسم الا مفرزا متمیزا فلو کان مدار الجواز علی عدم الشتراط لم یحتاجوا الی مثل هذا الطویل والتفصیل فیما یقسم ولا یقسم وفیما یجری بین الوزنین وفیما لایجری بینهما فافهم وصرح ابن القاسم فی المدونة عن مالك فی الرجل یتسلف الدراهم فیقضی اوزن اواکثر قال لا یعجبنی ان یقضیه فضل عددلا فی ذهب ولا فی طعام عند ما یقضیه ولو کان ذلك بعد ذلك لم ار بذلك باسا اذا لم

چه د دې زياتوالي د جائز کيدو او دنه جائز کيدو مدار په شرط کيدو يا نه شرط کيدو باندې دی؟ بالکل نه بلکه که زياتوالی مشروط نو هغه خو به په يو حال کې هم جائز نه وی، که لږ وي او که زيات، دا ټوله خبره خو د غير مشروط زياتوالي په باره کې ده، چه مشاع قابل تقسيم کې د هبې په طريقې سره جائز دي، او که د دې د جواز او عدم جواز مدار او شرط کيدو يا نه کيدو باندې وي نو فقهاو له د دې تفصيل څه ضرورت وو، چه هغه زياتوالی هر وزن کې ظاهروي او که نه؟ او مشاع قابل تقسيم کې دي يا غير قابل تقسيم کې وغيره وغيره. مګر صرف دومره

يكن في ذلك عادة(١) ولا موعد ومعنى قوله بعد ذلك اى بعد مجلس القضاء الذى يقضيه فيه يزيده بعد ذلك واما حين يقضيه فلا يزيده في ذلك المجلس اه (صـ٧ ١٠؛ جـ٣) قلت والزيادة بطريق الهبة يجوز في بيع الصرف ايضا كما ستذكره وعلى هذا فاثر ابى بكر الصديق الذى نقله المستفتي عن المدونة محمول عندنا على التورع والتنزه على تقدير صحته لان ابا رافع كان قد احل له الزيادة اى وهبها له والخلخال مما يتضرر بالكسر وينتقص به وهبة المشاع فيما لا يقسم جايزة ومع ذلك لم يرض بها للصديق وردها عليه فذلك من ورعه رضى الله تعالى عنه وتقواه قال في الدر فليس الفضل في الهبة ربا فلو شرى عشرة دراهم وزاده دانقا ان وهبه منه انعدم الربا ولم يفسد الشراء وهذا ان ضرها الكسر لانه هبة مشاع لا يقسم كما في المنح عن الذخيرة عن محمد وفي الخلاصة لو باع

ويل كافي وو چه که مشروط نه وي نو جائزه ده، ښه پوهه شه، او ابن قاسم په مدونه کې د امام مالک نه صراحة دا مسئله نقل کړې ده چه يو کس څه درهم قرض کړي بيا د هغې نه زيات ادا کړي که په وزن کې وي او که شمار کې نو د دې څه حکم دی، وېې فرمايل چه زما دا خبره خوښه نه ده چه د قرض ادا کولو په وخت په شمار کې زياتوالی وکړی شي نه په سر زرو کې او نه په غله کې، او که د دې نه بعد ئې څه زيات ورکړل نو په دې کې څه باک نشته، په دې شرط چه د عرف يا وعدې د وجې نه نه وي او د ورروستو ورکولو معنی دا وه چه په کوم مجلس کې قرض ادا کول په هغې کې څه زيات ورنکړي بلکه د دې مجلس نه بعد بل مجلس له ورکړي، زه وايم چه د هبې په طور سره زيات ورکول په بيع صرف کې هم جائز دي، لکه څنګه به چه رامعلومه شي نو د حضرت صديق هغه اثر کوم چه مستفتي مدونه نه نقل کړی دی که صحيح هم وګڼل شي نو زمونږ په نزد به هغه په تقوی، ورع او احتياط باندې مبني وي، څکه چه ابو رافع د حضرت صديق لپاره زيادت حلال کړی وو؛ او د خلخال ماتول د ضرر موجب او د قيمت د نقصان سبب دی، او د مشاع غير قابل

١ - اي عرف متعارف ولا بد من هذا القيد عدنا ايضا فان المعروف كالمشروط كما صرح به فقهاءنا في (بقيه برص ٢٣١) (بقيه حاشيه صـ ٢٣٠) غير ما موضع واما ما ذكره الحموى تحت قول الاشباه لوجرت عادة المقترض برد ازيد مما اقترض هل يحرم اقراضه تنزيلا لعادته بمنزلة الشرط اه، ما نصه قيل الذي يؤدي اليه نظر الفقيه انه لا يحرم لانه على المكافات على المعروف وهو مندوب اليه شرعا حيث دفعه المقرض قرضا محضا فجازاه عليه ولم يشترط ودفعه المستقرض لا على وجه الربوا اه (صـ٨٢) ففيه انه لا يحل الافتاء من القواعد والضوابط وانما على المفتي حكاية النقل الصريح كما صرح به الحموى بعد ذلك بقليل فالقول الذي حكاه بقيل لا حجة فيه مع كونه خلاف القاعدة المشهورة المشروط عرفا كالمشروط شرعا وان سلم فلا راحة فيه للمستفتي لاتفاق هذا القائل على حرمته اذا كان مشروطا والله اعلم ١٢ منه.

٢ - قال الشافعي في مسئلة مراطلة الذهب اي بيعهما بالوزن ما نصه وان رجحت احدى الذهبين فلا باس ان يترك صاحب الفضل فضله لصاحبه لان هذا غير الصفقة الاولى اهـ (صـ ٢٩، جـ ٣) لكونه هبة والهبة صفقة اخرى غير البيع والله اعلم ١٢ منه.



درهما بدرهم واحدهما اكثر وزنا فحلله زيادته جاز لانه هبة مشاع لا يقسم اه قال ابن عابدين تحت قوله وزاده دانقا اى ولم يكن مشروطا في الشراء كما هو في عبارة الذخيرة المنقول عنها الى ان قال فلو مشروطة وقع العقد على الكل ووجب نقض العقد.

تقسيم هبه جائزه ده، د دې باوجود هم حضرت صديق هغه زياتوالی قبول نه کړو، نو دا صرف د احتياط دوجې نه وو؛ در مختار کې دي کوم چه د هبې د زياتوالي صورت دی هغه ربا نه ده نو که چا لس درهمه په لس درهمه خرخ کړي او يوه پيسه ئې زياته ورکړه نو دا سود نه وي، او نه به عقد فاسد وي، په دې شرط چه د دراهمو ماتول د نقصان موجب وي، څکه چه په دې صورت کې به د مشاع غير قابل تقسيم هبه کيږي، (او هغه صحيح ده ١٢) په مخ کې د ذخيرې نه د امام محمد نه داسې نقل کړی شوي دي خلاصه کې دي، چه که چا يو درهم د يو په بدله کې خرخ کړو او دې کې يو د زيات وزن والا وي او د هغې مالک د بل لپاره زياتوالی حلال کړو نو جائزه ده څکه چه دا د مشاع غير قابل تقسيم هبه ده، علامه شامي د دې په حاشيه کې ليکي چه زياتوالی هغه جائز دی چه د اول نه مشروط نه وي او که مشروط وي نو په عقد مجموعه به واقع کيږي او په دې صورت کې به د عقد شرعي د وجې نه هغه ماتول واجب وي.

حقا للشرع ثم قال وان الزيادة انما تصح اذا صرح بكونها هبة فتكون هبة بشروطها ومع عدم التصريح فهى باطلة وهو الذى في المجمع اه (٢٨٥؛ ٢٨٦؛ جـ٤) قلت وبعد ذلك ظهر لك البطلان قول المستفتي ان الفضل في البيع اى بيع الصرف ونحوها ربا مطلقا لا دخل فيه لتراضى العاقدين الخ (٧٠) وكذا تفرقته بين ربا البيع وربا الدين بان الاول لا يتوقف تحققه على الشرط والثاني يتوقف تحققه عليه بل الحق ان الزيادة التى لا تجوز في البيع الربوى مطلقا لا يجوز في الدين كذلك والتى تجوز في الدين بلا شرط كقبول الهدية واجابة الدعوة قبل ادايه او بعده لا مع الاداء تجوز في بيع الصرف كذلك ايضا وكذا المنفعة الحاصلة من جهة الجودة والوصف تجوز بلا شرط في الصورتين وكل ما استدل به المستفتي من الاثار على جواز الزيادة على

د دې نه وروستو فرمائي چه دا زياتوالی هغه وخت صحيح دی چه د دې د هبې تصريح وکړی شي بيا په دې کې د هبې د شرطونو رعايت کيږي، او که د هبې تصريح ونه کړی شو نو دا زياتوالی باطل دی، زه وايم چه د دې تصريحاتو نه د مستفتي د دعوې غلطيدل ثابت شول، چه په بيع صرف کې زيادت مطلقاً رباده او دعاقدينو رضاله په کې څه دخل نشته (څکه چه مونږ ثابته کړه چې زيادت دهبې له لياري دلته هم جائز دی ١٢) همدارنګه دمستفتي ربا البيع او ربا القرض کې دا فرق ظاهرول هم غلط شول چه د ربا البيع تحقق خو په شرط باندې موقوف نه دي او د ربا القرض تحقق په شرط باندې موقوف دي بلکه حق دا دی چه کوم صورت

القرض (فی ۱۹:۱۸) لا حجة له فيه اما حديث جابر انه صلی الله علیه وسلم قال لبلال زن فارجح فی الميزان فاعطانی اوقية من ذهب وزادنی قيراطا ففيه انها زيادة قليلة لا تظهر فی الوزنين فان القيراط هو نصف عشر الدينار فی اكثر البلاد وعند اهل الشام جزء من اربعة وعشرين منه وكذا فی مجمع البحار (ص ۱۳۳؛ ج ۲) والاوقية وزن اربعين درهما كما فيه ايضا (ص ۵۵ ج ۱) قلت هذه اوقية الفضة واما اوقية الذهب فهی قد تساوی مائتی درهم المساوية لعشرين دينارا كما ورد فی رواية عند البخاری عن ابی نضرة عن جابر رضی الله عنه اشتراه بعشرين دينارا (ص ۳۷۵؛ ج ۱). فنسبة القيراط الی الاوقية اقل من نسبة نصف درهم الی مائة درهم ومثل هذه الزيادة جايزة وانما اختلفوا فی نصف الدرهم وايضا فان تلك الزيادة انما كانت فی ثمن الابل وهی ملحقة بالعقد اذا كان المبيع قايما وجايزة بالاتفاق فی غير الصرف لاسيما فی ما نحن فيه لعدم جريان الربا بين الاوقية والحيوان فافهم واما روی ابوهريرة ان رجلا اتی النبی صلی الله علیه وسلم يتقاضاه قد استسلف منه شطر وسق فاعطاه وسقا فقال نصف وسق لك ونصف وسق من عندی الخ وفی رواية جاء صاحب الوسق يتقاضاه فاعطاه وسقين فقال وسق لك ووسق نايل من عندی الخ؛ ونحوه من الاثار ففيه تصريح من النبی صلی الله علیه وسلم بكون الزيادة هبة ونايلا من عنده وما تصريح فيه به يحمل عليه لكون الاحاديث بعضها يفسر بعضا وهو محمول علی انه صلی الله علیه وسلم وهبه زيادة مقررة متميزة عن حقه الذی قضاه وما لك يزيد فيه قيد تبدل المجلس ايضا بان

په بیع صرف کې مطلق جائز نه دی هغه په دین او قرض کې هم جائز نه دی. او کوم زیادت چه قرض کې بدون شرط جائز دی لکه هدیه او دعوت وغیره قبلول هغه په بیع صرف کې هم داسې جائز دي نو کوم زیاتوالی چه د اوصافو د قسم نه دی، مثلا د زرو په بدله کې نوې ورکول، هغه هم په دواړو کې بغیر د شرط نه جائز دي په بیعې کې هم اوپه قرض کې هم او د کومو اثارو نه چه مستفتي په دې مدعا باندې استدلال کړي دی چه په قرض کې د اصل نه زیاتې اخستل مطلقا جائز دي، د دې نه د هغه مدعا نه شي حاصلیدی نو اول هغه د حضرت جابر دا حدیث پیش کړی دی چه رسول الله ﷺ (د هغوئ نه په یوه اوقیه باندې اوښ واخستلو او مدینې ته رارسیدو سره ئې قیمت ادا کړو) اوبلال رضي الله عنه ته ئې وفرمایل چه ده ته یوه اوقیه سره زر وتله او درانه ئې وتله، نو بلال یو قیراط زیات ورکړو الخ، د دې جواب دا دی چه اول خو دا معمولي زیاتوالی دی چه په هر وزن کې نه شي ظاهریدی ځکه چه قیراط د دینار ۲۰ یا ۲۴ حصه ده،او اوقیه د څلویښت (۴۰) درهم سره برابر وي او د سرو زرو اوقیه د شلو (۲۰) دینارو هم برابره ده او دلته هم هغه مراد دی لکه څنګه چه د بخاري یو روایت نه معلومیږي د کوم الفاظ چه دا دي چه رسول الله ﷺ د جابر رضي الله عنه



قضاه حقه اولا ثم لما قبضه واستوفاه واراد ان يذهب به وهبه الزيادة بعده.

اوښ په ۲۰ دیناره اخستلی وو آه. او کله چه اوقیه د ۲۰ دینارونو شوه او قیراط دیو دینار ۲۴مه حصه شوه نو د قیراط نسبت د هغې نه هم کم شو، کوم نیم درهم چه د سلو درهمو حاصل دی او د دومره خبرې څه باک نشته او که نیم پوره شي نو په دې کې اختلاف دی، دویم د دې زیاتوالي حاصل دا وو چه د اوښې په قیمت کې اضافه کړی شوې ده، او په ثمن کې چه کوم زیاتوالی د مبیع د بقا په حالت کې هغه به د اصل عقد سره ملحق وي او د بیع صرف نه سوا په ټولو بیوعو کې اتفاقاً دا صورت جائز دی، خصوصا صورت مبحوث عنها کې ځکه چه اوقیه او حیوان کې د ربا تحقق نه شي کیدی، ښه پوهه شه. پاتې شو دا حدیث کوم چه د حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ د یو کس نه نیم وسق قرض اخستلی وو، هغه دا تقاضا وکړه او نبي ﷺ ورته یو وسق ورکړو او وېې فرمایل نیم وسق ستا د طرف نه وو او نیم زما د طرف نه او یو روایت کې دي چه نبي ﷺ د یو کس نه وسق قرض اخستلی وو هغه تقاضا وکړه نو هغوئ ورله دوه وسقه ورکړل او وېې فرمایل چه یو خو ستا دی او بل زما د طرف نه الخ. د دې جواب دا دی چه په دې کې خو د نبي ﷺ صفا تصریح موجوده ده چه زیاتوالی د هبې په طور سره وو (اوبره معلوم شول چه دهبې په طور زیات ورکول چه قرض اوبیعې دواړو کې جائز دی ۱۲) او په کوم روایت کې چه دا تصریح مذکور نه وي نو هغه دې مصرح باندې محمول کړی شي ځکه چه احادیث د یو بل تفسیر کونکي وي (اوکله چې دا زیادت په طور دهبې وي نو) په دې کې به دا قید ولګول شي چه نبي ﷺ دې زیاتوالي ته مستقل او زیاتوالی عطا ویلي وو، او امام مالک به د دې سره دا قید هم زیاتوي چه نبي ﷺ زیاتوالی په دغه مجلس کې نه وو کړی په کوم کې چه قرض ادا کړی شوی وو بلکه بل مجلس کې کړی شوی وو،

فان قيل واين الدلالة فی الاثار علی مثل تلك القيود قلنا ومن اين الدلالة فی هذه الاثار علی كون تلك القضايا وقعت بعد نزول احكام الربا وتشريعها لم لا يجوز(۱) ان تكون قبله كما قالت الحنفية فی استقراضه صلی الله علیه وسلم الابل اذ ذلك كان قبل تحريم الربا ثم نهی صلی الله علیه وسلم عن الحيوان بالحيوان نسية

که په دې باندې دا سوال وکړ ی شي چه په دې اثارو کې قیود چیرته دي؟ نو د دې جواب دا دی چه په دې اثارو کې دغه قید چیرته دی چه دا واقعات د ربا د احکامو نازلیدو او د ربا د تحریم د د اشاعت نه بعد واقعه شوه، دا احتمال ولې نه شي کیدی چه دا واقعات د ربا نه وړاندې وي لکه څنګه چه په بعضې روایتونو کې د نبي علیه السلام او

۱- واما تاخر اسلام الراوي فلا ينا في ذلك لاحتمال ان يكون رواه بالارسال عن صحابي قديم الاسلام كما قلنا مثل ذلك في حديث ابي هريرة عن قصة الكلام في الصلوة ۱۲ منه

قال الطحاوی فی معانی الاثار له؛ (ص۲۲۹؛ ج۲). فان سلمنا کون تلك القضایا وقعت بعد تحریم الربا نقیدها بقیود عرفناها من نصوص اخر غیرها والا فلا لوم علینا ان قلنا بنسخها بایة الربا وبالاحادیث الواردة فیه فافهم واما ما نقله المستفتی عن العینی بلفظ وفیه ما یدل ان المقرض اذا اعطاه المستقرض افضل مما اقترض جنسا او کیلا او وزنا ان ذلك معروف وانه یطیب له اخذها الخ؛ فهو محمول علی الزیادة القلیلة التی لا تجری بین الوزنین او علی ما تکون بطریق الهبة والنایلة من المستقرض والا فنقول ان اطلاق هذا الحکم منسوخ بدلیل نسخ استقراض الحیوان الوارد فی هذا الحدیث واذا کان جزء من الحدیث منسوخا لا یصح الاستدلال بما فیه لحدوث احتمال النسخ فیه والعجب من المستفتی کیف یحتج باستدلال العینی هذا ولا حجة فیه علی احد ولا یحتج بنقله الاجماع بقوله وقد اجمع المسلمون نقلا عن النبی ﷺ ان اشتراط الزیادة فی السلف ربا اه مع کونه حجة فی النقل لکونه ثقة فیه عارفا بمذاهب العلماء بل قدح فیه (فی حاشیة ص۷۱) بان العلامة العینی شرح الهدایة بعد شرحه للبخاری بکثیر من الزمان واعترف فیه بانه لم یثبت فی هذا الباب النهی عن النبی ﷺ وهو المعتبر لانه اخر اقواله الخ ومنشاء القدح عدم ادراکه بمراد العینی ولذا ظن قولیه متعارضین ولا تعارض بینهما فان کلامه فی شرح الهدایة علی سند حدیث کل قرض جر نفعا معناه بعد صحة النقل ان هذا الحدیث لم مثبت بهذا الطریق

بعضې صحابه و نه قرض اوبن اخستل وارد دي، او احنافو په دې کې همدا تاویل کړی دی، چه دا واقعه د ربا د حرمت نه وړاندې وخت ده، بیا نبي ﷺ حیوان د حیوان په بدله کې په قرضبو خرڅولو نه منع وکړه، (نو دحیوان په قرض اخستل هم منع شول) که مونږ دا فرض کړو چه دا واقعات د ربا د حرمت نه وروستو دي نو مونږ به د نورو دلائلو په وجه دا د نورو قیودو سره مقید کړو کنه نو به مونږ داسې ووایو چه دا اثار آیات ربا او احادیث ربا نه منسوخ دي نو بیا هم په مونږ باندې الزام نه شي عائد کیدی او مستفتي چه د علامه عیني کوم قول نقل کړی دی چه د دې حدیث نه معلومه شوه چه که مدیون قرض ورکونکي ته د هغه څیز نه کوم چه هغه قرض اخستلی وي افضل څیز ادا کول که هغه جنس وي او که په مقدار کې یا وزن نو دا یو احسان دی، او قرض ورکونکي له ئې اخستل حلال دي الخ. دا په هغه زیاتوالي باندې محمول دي چه لږ وي چه په دوه وزنونو کې نه شي ظاهریدی، یا به هغه زیاتوالي باندې محمول دي چه د مدیون د طرف نه د هبې په شان بلاشرط وي کنه نو مونږ به ووایو چه دا قول د اطلاق په صورت کې منسوخ دی، د کوم دلیل چه دا دی چه د



حیواناتو قرض اخستل د کوم چه حدیث کې ذکر دی منسوخ شوی دی، او کله چه د حدیثو نه یو جزء منسوخ شو نو د دې د باقي اجزاو نه هم استدلال صحیح نه دی ځکه چه په دې کې هم د نسخ احتمال موجود دی، او مونږ مستفتي ته حیران یو. چه هغه د علامه عیني د استدلال صحت بیانوي، حال دا چه دا په هیڅ هم حجت نه دی. حال دا چه هغه صفا لیکي چه مسلمانانو د رسول الله ﷺ نه نقل کولو سره په دې خبره اتفاق کړی دی چه په قرض کې د زیاتوالي شرط لګول ربوا ده او د علامه عیني نقل حجت ځکه چه هغه په نقل کې ثقه او علماو د مذهب نه واقف دي، بلکه مستفتي په دې قول باندې اعتراض کولو سره دا رد کړی دی چه علامه عیني د هدائې او بخاري په شرحه کې چه ډیره زمانه وروستو ئې لیکلې ده.

عن النبی ﷺ علی طریقة علم الاسناد ومعنی کلامه فی شرح البخاری ان النهی ثبت عن النبی ﷺ بطریق اجماع المسلمین علیه نقلا عنه ولا یلزم من عدم ثبوت النقل بطریق الاسناد عدم ثبوته بطریق الاجماع والتلقی فقد مر فی الاصل الرابع ان مدار الصحة لیس علی الاسناد فقط بل قد یصح بالتلقی واستدلال المجتهد به وان لم یکن له سند یعول علیه فیا التلبیلس هذا المستفتی کیف یحرف الکلم عن مواضعه ویخدع الجهلاء بتناقض هذا الکلام وتدافعه مع انه بری من کل ذلك وابعد عنه بمراحل او نقول حاصل کلامه فی شرح الهدایة عدم ثبوت النهی عن کل منفعة مشروطة کانت او غیر مشروطة وفی شرح البخاری ثبوت النهی عن اشتراط الزیادة فی القرض وکونه ربا باجماع المسلمین نقلا عن النبی ﷺ فافهم ولا تعجل فی رد بعض الاحکام ببعض ونقصه به واما استدلال المستفتی بکون ایة الربا مجملة والاحادیث بیانا لها فقد فرغنا عن الجواب عنه فان قیل حاصله ان الربا کان معلوم المراد عند العرب ثم صار مجملا حین ادخل الشارع فیه اشیاء لم یکن

او شرح هدایه کې ئې اقرار کړی دی چه په دې باب کې (یعنی د قرض نه فایدې حاصلولو په باره کې ۱۲ منه) د رسول الله ﷺ کوم ممانعت نه دی ثابت شوی، او چونکه دا آخري قول دی نو ځکه معتبر دی، مګر د دې اعتراض منشا صرف دا ده چه مستفتي د علامه عیني په مطلب نه دی پوهه شوی نو ځکه ورته په دواړو قولونو کې تعارض ښکاره شو حال دا چه په دواړو کې هیڅ تعارض هم نشته دی، ځکه چه په شرح هدایه کې خو هغوئ په حدیث کل قرض جر نفعا فهو ربا باندې خو کلام کړی دی، د کوم مطلب چه د نقل د صحت نه بعد د مستفتي دا دی چه دا حدیث د علم اسناد په طریقه د رسول الله ﷺ نه ثابت نه دي، او د بخاري په شرحه کې چه کومه خبره ذکر ده د هغې مطلب دا دی چه رسول الله ﷺ نه د نقل په طریقه د دې صورت ربا کیدل ثابت دي، او د اسناد په

العرب يعرفه بالربا ومقتضاه حديث والاجمال في الاية بسبب الاحاديث مع ان الفقهاء جعلوا السنة بيانا لها ولا يجوز كون البيان سببا للاجمال قلنا سبب الاجمال من الاحاديث بعضها وهي التي تدل على ان للربا معنى شرعيا اعم من العرفي كحديث ان الربا بضع وسبعون شعبة والبيان منها بعضها كحديث ابي سعيد وعبادة ومثل ذلك جايز حتما وحاصله كون الاية مجملة في الربا الشرعي ظاهرة في العرفي الذي كان اهل الجاهلية يتعارفونه ويتعاملون به وهو الذي نعاه الله اليهم ثم نقول لو سلمنا الاجمال في ربا القرآن مطلقا فلا نسلم كون ربا البيع منصوصا وربا الدين رباقياسيا بل نقول بان كلاهما منصوص اما الاول فببيان السنة المشهورة والثاني بدلالة النص وبالاجماع وبالاثار الواردة في تفسير ربا الجاهلية وبحديث كل قرض جر نفعا فهو ربا اما دلالة النص فبيانها ان الامة والايمة قد اجمعت على كون حرمة الربا معللة سوى من شذ من اهل الظاهر فلا عبرة بقوله ولا يقدح به الاجماع لكون مذهبهم في انكار القياس وتعليل النصوص باطلا بالكتاب والسنة واجماع الصحابة ومن بعدهم ولتفصيل هذا البحث موضع اخر وعلة حرمة الربوا انما هو كونه ظلما خلاف العدل كما تقرر في الاصل السابع اذا كانت الزيادة.

طريقې سره که کوم نقل ثابت نه شي نو هغې سره دا نه لازميږي، چه د تلقي په طريقې سره هم ثابت نه شي ځکه چه ځلورم اصل کې مونږ دا ثابت کړل چه د حديث د صحت مدار په الفاظو باندې نه دی، بلکه تلقي او د مجتهد استدلال د وجې نه هم هغه صحيح کيدلی شي، يا داسې ووېل شي چه د شرح هدايه د قول مطلب دا دی چه د هر منفعت نه مطلقاً که هغه مشروط وي او که غير مشروط ممانعت ثابت نه دی، او د بخاري د شرحې د قول حاصل دا دی چه په قرض کې مشروط زياتوالی ربا کيدل د مسلمانانو په اجماع د رسول الله ﷺ نه په نقل سره ثابت دي، نو د عقل نه کار واخله او يو کلام د بل معارض ګرځولو سره مه رد کوه، او ايات ته مجمل او حديث ته د هغې بيان ويلو سره چه مستفتي کوم بيان کړی دی د هغې د جواب نه مونږ فارغه شوي يو. سوال: د دې جواب حاصل دا وو چه د ربا معنی عربو ته معلوم وه مګر اجمال په کې هغه وخت پيدا شو کله چه شارع د ربا لاندې داسې صورتونه داخل کړل چه عربو ورته ربا نه ويله او د دې مقتضی دا ده چه د ربا په ايات کې د احاديثو نه اجمال راغی حال دا چه فقهاو خو حديث ته د ايات بيان ويلی دی او د بيان د اجمال سبب کيدل جائز نه دي؟جواب: د اجمال سبب خو هغه احاديث دي د کوم نه چه صرف دومره معلوميږي چه ربا شرعي معنی د عرفي معنی نه عامه ده لکه څنګه چه حديث د سود د



۷۰ نه زياتې شعبې دي، او بيان هغه احاديث دی په کوم کې چه د شرعي ربا صورتونه ذکر دي لکه د ابو سعيد او عباده رضي الله عنه وغيره، او په دې کې هيڅ اشکال نشته چه بعضې حديثونو نه ايات کې اجمال راشي او بل حديث سره ئې تفصيل او د جواب حاصل دا دی چه دا ايات د ربا په شرعي معنی کې خو مجمل دی او په ربا عرف کې مجمل نه دی بلکه ظاهر دی ځکه هغه خو په اهل جاهليت کې مشهور او معمول به وو او د دې وجې نه الله تعالی په هغوئ باندې وعيد کړی دی، او که مونږ دا هم تسليم کړو چه د ربا ايات مجمل دی نو مونږ له دا مسلم نه دي چه د ربا البيع حرمت منصوص دی، اول قسم يو د مشهور سنت په بيان سره ثابت دی، او دويم قسم دلالة النص او اجماع او هغه اثارو نه ثابت ذی کوم چه د ربا جاهليت په تفسير کې راغلی دی، او د حديث کل قرض جر نفعا فهو ربا نه هم د دې ثبوت کيږي، د دلالة النص تقرير خو دا دی چه د ټول امت او ټولو ائمه و په دې اجماع ده چه ربا حرمت معلل دی، (يعنې په دې کې علت ضرور شته دی او د اهل ظاهر نه علاوه په کې د بل چا اختلاف نشته مګر د هغوئ خلاف معتبر نه دی او نه د هغوئ د خلاف په اجماع څه اثر شته دی، ځکه چه د قياس او تعليل نه انکار کوم چه د هغوئ د مذهب بنياد دی کتاب الله او سنت او اجماع صحابه او تابعينو نه هغه باطل شوي دي نو په نورو ځايونو کې د دې تفصيل موجود وو، او د ربا د حرمت علت دا دی چه هغه ظلم دی، او د عدل خلاف دی، لکه څنګه چه په اووم اصل کې ثابت شو.

مع الحلول في بيع مد جيد بمدين رديين او بيع درهم مضروب بدرهمين مكسورين وبيع حلي من الفضة باكثر من وزنها وان كانا يساويانه في المعنى حيث تكون الزياد في مقابلة جودة او صفة او سكة ونحوها ربا محرما فكون الزيادة المشروط في القرض حيث لا مقابل لها الا مجرد الاجل اولى بكونها ربا محرما ممنوعا وكذا اذا كانت زيادة الاجل في بيع الدرهم بدرهم مثله نسية ربا محرما فالزيادة الحقيقة على دراهم القرض بان ياخذ المقرض مكان المائة مائة وعشرين اولى بكونها ربا محرما لكون الزيادة ليست الا لاجل الزمان ولا جل لا قيمة له شرعا كما تقرر في الاصل

او کله چه د يو ښه مد بيع د خراب مدونو په بدله کې يو روغ او منقوش درهم د دوه ماتو په بدله کې... هم ربا ده حال دا چه يو اعتبار سره په دې کې مساوات موجود دي ځکه چه کوم طرف ته چه د وزن زياتوالی دی هغه طرف ته په اوصافو کې نقصان راځي، نو دا زياتوالی د بل ښه والي په مقابله کې کيدی شي نو په قرض کې چه د کوم زياتوالي شرط لګول کيږي، د هغې په ربا کې داخليدل په درجه اولی سره ضروري دي ځکه چه په دې

السادس؛ وهذا مما لاینکره الامکابر معاند افان کون ذلك ربا وظلما مما لایخفی علی آحاد من المسلمین بل ولاعلی احد من اهل الملل بل هذا هو الربا عند الناس کلهم دون الزیادة عند الحلول ودون بیع الدرهم بالدرهم نسیة فالعامة ولاتعده من الربا ولا تتهم من یفعل ذلك باکل الربا؛ قال العلامة الحافظ ابن القیم فی الاعلام انه ای الشارع حرم التفرق فی الصرف وبیع الربوی بمثله قبل القبض لیلا یتخذ ذریعة الی التاجیل الذی هو اصل باب الربا فحماهم من قربانه باشتراط التقابض فی الحال ثم اوجب علیهم فیه التماثل وان لایزید احد العوضین علی الاخر اذا کان من جنس واحد حتی لایباع مد جید بمدین ردیین وان کان یساویانه سد الذریعة ربا النساء الذی هو حقیقة الربا وانه اذا منعهم من الزیادة مع الحلول حیث تکون الزیادة فی مقابلة جودة او صفة او سکة او نحوها فمنعهم منها حیث لا مقابل لها الا مجرد الاجل اولاً فهذه حکمة تحریم ربا الفضل التی خفیت علی کثیر من الناس حتی قال بعض المتاخرین لایتبین لی حکمة تحریم ربا الفضل وقد ذکر الشارع هذه الحکمة بعینها فانه حرمه سد الذریعة ربا النساء فقال فی تحریم ربا الفضل فانی اخاف علیکم الرما والرما هو الربا فتحریم الربا نوعان نوع حرم لما فیه من المفسدة وهو ربا النسیة ونوع حرم تحریم الوسائل وسد الذرایع اه (ص۱۹۶،۱۹۷ ج۲) وهذا والله کلام فی غایة القوة والعجب من المستفتی انه کیف قلب الامر فجعل ربا القرض الذی هو اصل الربا وظهرت حکمة حرمته للناس اقیاسیا وسعی.

صورت کې د دې زیاتوالی عوض بغیر د اجل او مودې څه قیمت نشته(او دشپږم اصل نه معلومه شوې چې په شریعت کې داجل او مدت هیڅ قیمت نشته ۱۲) او د دې له انکار د سرتنګۍ نه علاوه نور هیڅ هم نه شي کیدی، ځکه چه د دې ربا کیدل د کوم جاهل مسلمان بلکه د یو مذهب پالونکو باندې هم پټ نه دی بلکه عام طور سره خلک هم دې ته ربا وائي او د نورې بیعې په صورت کې د یو جنس د بل جنس نه زیاتیدل یا یو درهم په یو درهم قرض خرڅول د عامو خلکو په نزد سود نه دی، او نه به داسې کس سود نور ګڼي. حافظ ابن القیم په اعلام الموقعین کې فرمائي چه شارع په بیع صرف کې د هر ربوې مال په بیعه کې کله چه د هغې په مقابله کې هم جنس وي د قبضې نه وړاندې د بیعې د مجلس نه جدا کیدلو ته حرام ویلي دي، ترڅو هغه د مودې او نیتې د بیعې ذریعه ونه ګرځول شي کوم چه د ربا د باب اصل بنیاد دی، نو شارع د نغدو د قبضې شرط لګولو سره د ربا خوا ته هم پرې نه بنودل کله چه عوضین د یو جنس نه وي نو دا ئې هم واجب کړل چه دواړه برابر وي، یو بل نه زیات نه وي ترڅو چه یوه ښه مد(مد: یوه پیمانه ده چې د یو صاع ربع کیږي ۱۲) ئې په دومره خرابو مدنو عوض کی هم خرڅول جائز نه کړل اګر که د قیمت په لحاظ سره دواړه برابر وي ترڅو دا د ربا النسیئه ذریعه ونه ګرځول شي



لتعلیله اشد السعی وجعل ربا الفضل الذی خفیت حکمة تحریمه علی بعض العلماء ربا حقیقیا منصوصا قطعیا مع کونه مختلفا فیه بین الصحابة اولا وهل هذا الا الضلال.

کوم د ربا حقیقت دی او کله چه شارع د نغدو په صورت کې د زیاتوالي نه منع وکړه حال دا چه دا د نوي والي یا بل صفت د وجې نه وي نو چېرته چه د زیاتوالي عوض د مدت او عوض نه نور څه نه وي نو هلته نو بدر چه اول دا حرام دي نو د رباالفضل د حرامیدو حکمت دا دی کوم چه په ډیرو خلکو باندې مخفي دي، تردې پورې چه بعضې متاخرینو ویلي دي چه د رب الفصل د حرامیدو حکمت زما په ذهن کې نه راځي، مګر پخپله شارع د دې حکمت بیعه همغه بیان کړې دي د کوم چه مونږ وښودلو چه د دې وجې نه حرام کړی شوي دي چه دا د ربا النسیئه ذریعه جوړه نه کړی شي، نو د رباالفضل حرمت بیانولو سره هغوئ وفرمایل چه زما په تاسو باندې د ربا اندیښنه ده، نو د ربا حرمت په دوه قسمه دی، یو قسم خو ځکه حرام کړی شوی دی چه په دې کې خو پخپله مفسده ده او دا ربا النسیئة ده، او دویم قسم ځکه حرام کړی شوی دی چه هغه د اصلي ربا ذریعه جوړیږي، او قسم په خدای دا خبره ډیره مضبوطه ده، زه مستفتي ته حیرانیږم چه هغه حقیقت الامر څنګه بدل کړو، چه ربا القرض کومه چه حقیقي ربا ده د کوم د حرمت حکمت چه ټولو ته ظاهر دی، ربا قیاس ظاهروي، او د هغې د جائزولو دپاره کوشش کوي، او ربا لفضل ته ربا حقیقي قطعي منصوص وائي د کوم حرمت حکمت چه په بعضې علماو باندې مخفي دی، او د صحابه و ترمنځ هم ابتداءاً په دې کې اختلاف وو، او ګمراهي د همدې نوم دی.

فمن قال بتحریم ربا الفضل لزمه القول بتحریم ربا الدین بالاولی لما فیه من الظلم والعدوان وسفك دم العدل ما لیس فی ربا الفضل کما لایخفی علی من شم رایحة من العقل والدین وایضا فالقول بجواز ربا الدین یقتضی ان لایکون فی تحریم ربا الفضل حکمة سوی تضییع الزمان واتعاب النفوس بلا فایدة فانه لایشاء احد ان یبتاع ربویا باکثر منه من جنسه الا قال اقرضتك مائة درهم بمائة درهم وعشرین من الصبح الی العصر او الی الغد ونحوه واذا کان هذا جایزا وبیع مائة

نو کوم کس چه رباالفضل ته حرام وائي په هغې باندې ربا القرض حرام ګڼل په درجه اول لازم دي ځکه چه په دې کې ظلم او تعدي او انصاف ختمیدل په کې دومره دي چه په ربا لفضل کې د دې په بدله کې هیڅ هم نه دي څوک چه عقل او دین لږ هم لري هغه پرې ښه پوهیدی شي، دویم ربا القرض ته د جائز ویلو معنی دا ده چه د ربا الفضل په حرامولو کې د وخت ضائع کولو او مخنوق ته بغیر د

درهم بمائة وعشرين حراما فهل يبتاع هذا بذالك الاحمق اومجنون واى حاجة له الى البيع اذا كان يتخلص من الربا بالاقراض والاستقراض فلا يعجز احد عن استحلال ما حرمه الله قط بادنى حيلة فيا سبحان الله ايعود الربا الذى قد عظم الله شانه فى القران واوجب محاربة مستحله ولعن اكله وموكله وشاهديه وكاتبه وجاء فيه من الوعيد مالم يجى فى غيره الى ان يستحل بادنى حيلة لا كلفة فيها اصلا فكيف يستحسن ان ينسب نبى من الانبياء فضلا عن سيد الانبياء بل ان ينسب رب العلمين الى ان يحرم هذه المحرمات العظيمة وتوعد باغلظ العقوبات وانواع الوعيد على بيع درهم جيد بدرهمين رديين حالا مع كونهما يساويانه معنى ولا ظلم فيه على احد ثم يبيح تلك المحرمات والزيادات كلها بحيلة الاقراض والاستقراض مع وجود الفضل والزيادة فى ذلك حقيقة وفيه من الظلم ما لا يخفى فلا حول ولا قوة الا بالله العلى العظيم؛ فاذا كانت اية الربا محرمة لربا الفضل فى البيع فهى محرمة بدلالة النص لربا القرض والدين بالاولى كدلالة تحريم القول باف للوالدين على تحريم ايلامهما بالضرب والشتم بالاولى ودلالة النص ليس من القياس بل هى فوقه وانها قطعية كعبارة النص ونحوها كما تقرر فى الاصل الثالث.

فائدې نه پریشانه کولو هیڅ حکمت هم نه وي ځکه کله چه پاو باندې ۱۰۰ درهمو په بدله کې قرض ورکول جائز او بیعه حرامه ده نو کوم احمق به وي چه بیعه به وکړي کله چه هغه د قرض په وجې سره د ربا د حرمت نه بچ کیدی شي نو د دې د بیعې څه حاجت دی بلکه هغه چه د کوم څیز په بدلې سره د هغې هم جنس زیاته اندازه اخستل غواړي هغه له به د یو ساعت یا یوې ورځې لپاره اخستلی شي او په صورت ئې هر کس حرامه ربا په یوه وړه حیله سره هم حلالولی شي، سبحان الله! هغه ربا کوم ته چه الله تعالی سخته خطرناکه وویله او حلال ګڼونکي سره ئې ورله د جنګ اعلان وکړو او د هغې خوړونکي، ورکونکي، لیکونکي او ګواهانو باندې ئې لعنت وکړو، داسې یو سخت وعید ئې راولیږلو، په یوه اسانه حیله سره چه سختي هم په کې نشته حلالیدی شي، نو بیا دا خبره ولې د هغوئ طرف ته منسوبیږي چه نوي درهم په زړو دوه درهمو باندې د خرڅولو دومره سخت وعید او حراموالی ئې بیان کړو، په حقیقت کې دا دواړه مساوي دي، او په دې کې په چا څه ظلم هم نشته دی، بیا دا ټول محرمات او زیاتوالی د قرض په حیلې سره جائز کړی حال دا چه په دې کې حقیقة زیاتی او صریح ظلم موجود دی، "فلا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم" غرض دا چه د ربا ایت که بیع کې ربا الفضل حراموي نو د دلالة النص په طریقې سره ربا القرض



په درجه اولی حراموي لکه والدینو ته اف ویل دا لازموي چه د هغوئ وهل او بد رد ورته ویل د دې نه زیات دي، او د دې دلالت قطعي دی لکه څنګه چه وړاندې تیر شو.

واما الاجماع فقد ذكره القاضى ابو الوليد بن رشد فى بداية المجتهد له وقد ذكرناه قبل وحاصله ان العلماء قد اتفقوا على ان الربا يوجد فى شيئين فى البيع وفيما تقرر فى الذمة من بيع اوسلف اوغير ذلك فاما الربا فيما تقرر فى الذمة فهو صنفان صنف متفق عليه وهو ربا الجاهلية الذى نهى عنه وذلك انهم كانوا يسلفون بالزيادة وينظرون وكانوا يقولون انظرنى ازدك الخ وذكره العلامة العينى ايضا فى شرح البخارى بقوله وقد اجمع المسلمون نقلا عن النبى ﷺ ان اشتراط الزيادة فى السلف ربا اه؛ وقد ذكرناه ايضا وقد صرح الطحاوى بكون ربا الدين الذى كان متعارفا بين اهل الجاهلية ربا القران وكذا صرح الفخر الرزاى وابن حجر الهيثمى فى تقرير حجة ابن عباس وسياتى وكذا صرح الجصاص الرازى بكون الربوا نوعين منه ما هو فى القرض ومنه ما هو فى البيع وكذا صرح ابن القيم والشاه ولى الله يكون ربا الدين ربا حقيقيا اولى بالتحريم وربا البيع غير حقيقى حرمه الشارع ﷺ سد اللذرايع وفى كل ذلك دليل على اجماع الامة والايمة كلهم على تحريم ربا القرض قطعا لم يقل احد منهم بجوازه اصلا؛ واما الآثار الواردة فى تفسير الربا الجاهلية الذى هو ربا القرآن فمنه ما رواه مالك فى الموطا عن زيد بن اسلم فى تفسير الآية قال كان الربا فى الجاهلية ان يكون للرجل على الرجل حق الى اجل فاذا حل قال اتقضى ام تربى فان قضاه اخذ والا زاده فى حقه وزاده الاخر فى الاجل وروى طبرى من طريق عطاء ومن طريق

او د اجماع قاضي ابن رشد په بداية المجتهد کې بیان کړې ده لکه څنګه چه بره تیر شول د کوم خلاصه چه دا ده چه علماو په دې خبره باندې اتفاق کړی دی، چه د ربا تحقق په دوه صورتونو کې کیږي، یو په بیع او بل په هغه دین کې چه په ذمه واجب وي که هغه بیع سره واجب شي او که په قرض وغیره سره، او کوم چه د دین ربا واجب في الذمه وي نو د هغې دوه قسمونه دي، د یو حرامیدل اتفاقي دي او هغه د جاهلیت ربا ده د کوم صورت چه دا وو چه خلکو به د زیاتوالي په شرط قرض ورکولو او مهلت به ئې ورکولو او یا به ئې ورته داسې ویل چه ته مهلت ورکړه او زه به زیاتې پیسې، او علامه عیني هم د بخاري په شرحه کې د اجماع ذکر دې الفاظو سره کړی دی چه ټولو مسلمانانو د رسول الله ﷺ نه په نقل سره په دې خبره اجماع کړې ده چه په قرض کې د زیاتوالي شرط لګول ربا ده او طحاوي هم د دې تصریح کړې ده چه کومه ربا چه اهل جاهلیت کې متعارفه وه په قرآن کې د همغه ربا ذکر دی، همداسې امام فخر رازي او علامه ابن حجر هیثمي د عبدالله بن عباس

مجاهد نحوه کذا قاله الحافظ فی فتح الباری (۲۶۳، ج۳) وقد التزم الصحة او الحسن فی الاحادیث المزیدة فی الشرح فهذه الاثار کلها صحاح او حسان ولفظ مجاهد عند الطبری قال الربا الذی نهی الله عنه کانوا فی الجاهلیة یکون للرجل علی الرجل الدین فیقول لك کذا وکذا وتوخر عنی فیوخر عنه (۲۶۷، ج۳) وروی عن قتادة ان ربا اهل الجاهلیة یبیع الرجل البیع الی اجل مسمی فاذا حل الاجل ولم یکن عند صاحبه قضاء زاده واخر عنه اه اسناده صحیح او حسن ایضا لکون الحافظ ذکره فی الفتح وقد تقدم فی الاصل الثامن ان اقوال التابعین فی تفسیر القران حجة لاسیما زید بن اسلم؛

دليل بيانولو سره د دې تصريح کړې ده او جصاص رازي هم بيان کړی دی چه د ربا دوه قسمونه دي، يو په بيعه کې کيږي او يو قرض کې او حافظ ابن القيم او شاه ولي الله صفا صفا فرمايلي دي چه حقيقي ربا هغه ده چه په قرض کې وي او د دې حرمت اصلي دی، او په بيع کې چه کومه ربا ده هغه غير حقيقي ده، هغه رسول الله ﷺ د سد باب په طور سره حرامه کړې ده، د دې ټولو اقوالو نه ثابته شوه چه ټول امت او ټول ائمه د

رباالقرض په قطعي حرمت باندې متفق دي، چا دې ته بالکل هم جائز نه دي ويلي، اوس ته هغه اثار هم وګوره چه د ربا جاهل په تفسير کې راغلي دي، او د کوم چه قرآن مجيد کې ذکر دی، نو امام مالک په موطا کې دزيد بن اسلم نه د ربا تفسير نقل کړی دی، هغه فرمائي چه جاهليت کې د ربا صورت دا وو چه که د يو کس به په بل حق وو د کوم ادا کول به چه يوه موده باندې معين وو، کله به چه هغه وخت پوره شو نو د حق والا به ويل چه زما حق راکوې او که سود زياتوې، که هغه به حق ادا کولو نو وابه خستل شو او که نه نو سود به د اصل سره زياتيدو او د حق والا به وخت زياتولو، طبري د عطاء په واسطې سره او د مجاهد په واسطې سره هم داسې روايات کړي دي لکه څنګه چه فتح الباري کې ذکر دي، او چونکه حافظ ابن حجر په فتح الباري کې د دې التزام کړی دی، چه شرح کې چه کوم احاديث زيات کړی شي هغه به صحيح وي، يا حسن دا څکه چه دا ټول اثار صحيح يا حسن دي، او طبري د مجاهد نه دا مضمون په دې الفاظو سره روايت کړی دی، چه د کومې ربا نه چه الله تعالی منع فرمايلې ده، هغه دا ده چه د جاهليت په زمانه کې د يو په بل باندې قرض وو، نو مديون به ويل چه زه به تاله دومره درکړم، ته ماله مهلت راکړه، او قتاده نه ئې داسې روايت کړی دی چه د جاهليت والا د ربا دا طريقه وه چه يو کس به په بل باندې کوم څيز قرض خرڅ کړو کله به چه هغه موده پوره شوه او خريدار به قيمت ادا نه کړی شو نو هغه به په دې کې اضافه والی کولو او بائع به دې ته مهلت ورکولو، د دې سند هم صحيح يا حسن دی، څکه چه



حافظ دا په فتح الباري کې ذکر کړي دي او په اتم اصل کې دا خبره ثابته شوې ده چه د قرآن د تفسير په باره کې د تابعينو اقوال حجت دی.

ومجاهد وعطاء وقتادة فهولاء اجلة التابعين روس علماء التفسير فی زمانهم وقد صرح العلماء بان مراسیل موطا مالك ومقاطیعه وبلاغه کلها مستندة من غیر طریق مالك الاربعة کما فی تزیین الممالك للسیوطی عن ابن عبدالبر (۵۷) وهذا لیس منها فانه حص بذلك قدح المستفتی فی هذه الاثار بالانقطاع وعدم الاتصال وقد اغرب المستفتی حیث قال ان هذه الاثار کلها مختصة بربا البیع لما فی اثر قتادة من ذکر البیع (ص۳۶، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۰) ولم یدر المسکین ان ذکر شیء لا یستلزم نفی غیره لاسیما اذا لم یکن بینهما منافاة وههنا کذلك فان اثر زید بن اسلم ومجاهد وغیرهما عام للبیع والقرض جمیعا واثر قتادة خاص بالبیع ولا تنافی بین العام والخاص بل (۱) یجری العام علی عمومه ویحمل الخاص علی التمثیل کیف وان سیاق القران یابی تصر الربا المذکور فیه علی ربا البیع لدلالة القول المحکی عن المشرکین فیه انما البیع مثل الربوا علی تفرقتهم بین البیع والربا کما لا یخفی وایضا فالربا الذی ذکره قتادة لیس بربا البیع الذی ورد به السنة المشهورة الذهب بالذهب والفضة بالفضة الحدیث فان ربا البیع منحصر فی ما یکون مع البیع

خصوصاً د زيد بن اسلم او مجاهد او عطاء او قتاده اقوال څکه چه دا حضرات تابعين او د خپلې زمانې د تفسير امامان وو او علماو دا تصريح کړې ده چه د مالک د موطا مراسيل او مقاطيع او بلاغات بلې طريقې سره متصل ثابت دي لکه څنګه چه علامه سيوطي د حافظ عبدالبر په حوالې سره بيان کړی دی، نو د مستفتي په دې آثارو کې انقطاع او عدم اتصال سره اعتراض کول لغو او باطل دی، د دې نه لويه خبره مستفتي دا وکړه چه هغه دا ټول آثارو ربا البيع سره خاص کوي، صرف د دې وجې نه چه د قتاده اثر کې د لفظ بيع ذکر راغلی دی، مګر هغه دا ونه ګڼل چه د يو شي ذکر د بل څيز دنفې مستلزم نه دی، خصوصا کله چه په دواړو کې څه منافات هم نه وي، تفي او دلته همداسې دی، څکه چه زيد بن اسلم او د مجاهد وغيره اثار خو د بيع او قرض لپاره عام دي، او د قتاده په اثر کې خاص د بيعې ذکر دی، او په عام او خاص کې منافات نشته دی، بلکه عام به په خپل عموم وي، او خاص به په تمثيل وغيره باندې محمول کړی شي، د دې خلاف څه کيدی شي. کله چه د قرآن سياق په صفا توګه د ربا

۱- ذکر الزیلعي في نصب الرایة عن السغناقي قاعدة محصلها انه اذا ورد حدیثان احدهما عام والاخر خاص فان علم تقدیم العام علی الخاص خص العام بالخاص وان علم تاخیر العام کان العام ناسخا للخاص هذا اذا علم التاریخ اما اذا ثم یعلم فان العالم یجعل آخرا لما فیه من الاحتیاط اه (ص۴۰۸، ج۱) مولف.

فی وقت العقد کما لایخفی علی من عرف حدہ وانواعہ ولیس فی اثر قتادہ تقیید الربا بوقت البیع بل فیہ تصریح بانہم انما کانوا یربون اذا حل الاجل ولم یکن عند المشتری قضاء ولایخفی ان البیع یتم بالایجاب والقبول ویتفرق العاقدین عن مجلس العقد اجماعا فالربا الذی یوجد بعد تمام البیع عند حلول الاجل لیس من ربا البیع فی شیء وانما ہو من ربا الدین الذی لم یبینہ السنۃ المشہورۃ ولافرق بینہ وبین ربا القرض اصلا بل کلاہما غیر ربا البیع الذی ورد بیانہ فی السنۃ فذکر لفظ البیع فی اثر قتادۃ لایجد المستفتی شیئا وقد صرح الجصاص فی احکام القران بان العرب لم یکونوا یعرفون البیع بالنقد واذا کان متفاضلا من جنس واحد ربا الی ان قال ولم یکن تعاملہم بالربا الاعلی الوجہ الذی ذکرنا من قرض دراہم او دنانیر الی اجل مع شرط الزیادۃ اھ (ص۴۶۵؛ج۱) ومن ادعی خلافہ فعلیہ البیان والافالجصاص ومثلہ من العلماء الذین قصروا ربا الجاہلیۃ علی ربا الدین حجۃ علی من ناواہم والعجب من المستفتی انہ کیف یفرح بتفسیر قتادۃ وبتفسیر سعید بن جبیر والشافعی وابن العربی المالکی وبتفسیر الواحدی وغیرہم من المفسرین ولا (راحۃ لہ فی شیء من ذلک فان ہولاء جمیعا بل کل من ذکر لفظ البیع فی تفسیر ربا الجاہلیۃ متفقون علی ان العرب کانوا یقولون اذا حل الاجل اتقضی ام تربی فان لم یقض زادوا فی الثمن علی ان یوخروا، وہذا لایصدق علیہ حد الربا الذی ذکرہ المستفتی بقولہ الربا ہو الفضل الخالی عن العوض فی البیع (ص۴۴) فان الزیادۃ فی

په بیعه کې منحصر کیدو نه انکار کوي ځکه چه "انما البیع مثل الربوا" نه بیع او د ربا جدا جدا معلومیږي، دویم د بلې ربا ذکر چه د قتاده په اثر کې دی، هغه د ربا بیعه نه ده کوم چه حدیث مشهور الذهب بالذهب لفضة بالفضة الخ بیان کړی دی ځکه چه ربا البیع هغه ده چه د بیع عقد سره وخت وموندل شي، او د ربا په باره کې چه کوم اثر د قتاده مذکور دی، هغه به د بیع په وخت کې نه وه بلکه په دې کې تصریح ده چه اهل جاهلیت به د ربا معامله هله کوله کله به چه وخت پوره شو او خریدار به روپۍ نه شوې واپس کولی، او دا خبره هر چا ته معلومه ده چه د بیعې معامله خو بالاتفاق ایجاب او قبول او تبدل مجلس سره ختمیږي، اوس چه کومه ربا د بیعې چه ختمیدو باندې د وخت پوره کیدل وموندل شي هغه د بیعې سره څه تعلق دی، او هغې ته ربا البیع وویل، څنګه صحیح کیدی شي بلکه دا خو ربا القرض ده کوم چه مشهور سنت نه دی بیان کړی، او په دې او ربا القرض کې اصلاح فرق نشته دی، نو د قتاده په اثر کې د لفظ بیع ذکر راتلل مستفتي له څه فائده نه ورکوي، او امام جصاص په احکام القرآن کې تصریح کړې ده چه اهل عربو د نغدې بیعې دننه د یو هم جنس په بل



الثمن الموجل عند حلول الاجل لیس بالفضل الخالی عن العوض بعد انقراض البیع وقد تقدم عن ابن رشد فی بدایۃ المجتہد لہ اتفق العلماء علی ان الربا یوجد فی شیئین فی البیع وفیما تقرر فی الذمۃ من بیع او سلف الخ وفیہ تصریح بان الربا الموجود فیما تقرر فی الذمۃ من بیع لیس من ربا البیع الذی ہو النوع الاول بل ہو من نوع الثانی الذی یکون فیما تقرر فی الذمۃ فبطل ما زعمہ المستفتی من دخولہ فی ربا البیع فان قیل ان الزیادۃ فی الثمن والحط منہ یلتحقان باصل العقد قلت ذلک مشروط () بقیام المبیع وبغیر الصرف وبان لاتکون الزیادۃ والحط فی مقابلۃ الاجل واما بعد ہلاک المبیع ولو حکما وکذا ان کانت الزیادۃ والحط فی مقابلۃ الاجل فلا یلتحق بالعقد کما لو قال المشتری اخر عنی وازیدک او قال البایع عجل واضع عنک فکلاہما باطل کما صرح بہ غیر واحد من علمائنا ومنہم الجصاص فی احکام القرآن لہ؛ (ص۴۶۷؛ج۱). فظہر بما ذکرنا ان الزیادۃ التی کانت العرب تزیدہا عند حلول الاجل فی مقابلۃ التاخیر لم تکن ملحقۃ بالعقد اصلا والالم تکن ربا بل کانت جایزۃ والمبیع قایم ولکن الاثار واقوال المفسرین کلہا مطبقۃ علی کون ہذہ الزیادۃ التی کانت العرب تفعلہ ربا محرما فادخال ہذہ الزیادۃ فی الثمن والحاقہا بالعقد باطل قطعا بل انما ہو من ربا الدین واذا کان کذلک وایۃ الربا مجملۃ عند المستفتی لابیان لہا بالسنۃ المشہورۃ وہی واردۃ فی ربا البیع عندہ لاغیر فمن این قال المستفتی بحرمۃ الذی ورد ذکرہ فی

۱- صرح بالاولین في الدر ورد المختار وغيره في باب التصرف في الثمن ولزم الثالث بطلان اخرعنی واز یدک وعجل واضع عنک ۱۲ منه.

باندې زیاتیدو ته ربا نه ویله، دوئ په نزد د ربا صرف هغه صورت وو کوم چه مونږ وړاندې بیان کړی دی، چه هغوئ به درهم او دینار د یوې مودې لپاره په قرض ورکول او د زیاتو وصولولو شرط به ئې لګولو، څوک که د دې خلاف دعوه کوي نو دلیل دې پیش کړي کنه نو امام جصاص او ټول علماء چا چه ربا جاهلي په قرض کې منحصره کړې ده په هر مخالف باندې حجت دی، او زه مستفتي ته حیرانیږم چه هغه قتاده، سعید ابن جبیر، امام شافعي او ابن العربي او واحدي وغیره د تفسیر نه بغیر د څه وجې خوشحالیږي، حال دا چه د هغه د خوشحالۍ په کې کوم ځاي نشته ځکه چه حضرات او نور ټول علماء چا چه د جاهلیت د ربا تفسیر د بیعې لفظ سره کړی دی په دې متفق دي چه عربو کې به چه کله وخت پوره شو نو هغه وخت به ئې ویل چه روپۍ راکوي او که سود راکوې، په دې باندې به که هغه روپۍ ادا نه کړې نو په قیمت کې به ئې زیاتوالی کولو، او خریدار ته به ئې مهلت ورکولو او په دې صورت باندې د ربا تعریف صادق نه راځي کوم چه پخپله مستفتي بیان کړی دی چه ربا هغه زیاتوالی دی چه په بیعه کې د عوض نه خالي وي ځکه چه په ثمن موجل

اثرقتادہ وسعیدبن جبیروقول الشافعی وابن العربی والواحدی وغیرھم من المفسرین

کې د وخت تماميدو نه وروستو چه کوم زيادت کړى شوى دى، هغې ته فضل خالي عن العوض في البيع نه شو ويلى، بلکه دا خو فضل خالي عن العوض بعد تمام بيع دى، او د علامه ابن رشد دا خبره بره تيره شوې ده چه علماو په دې خبره اتفاق وکړو چه ربا دوه ځيزونو کې متحقق کيږي، يو په بيعه کې او بل په هغه دين کې چه په ذمه باندې واجب وي که هغه د بيع د وجې نه واجب شوې وي او که د قرض د وجې نه او په دې کې صفا تصريح ده چه کومه ربا چه په دې قرض کې متحققه ده او بيع سره واجبه شوې هغه په اول قسم يعنې ربا البيع کې داخله نه ده بلکه دويم قسم يعنې ربا القرض کې داخله ده، نو د مستفتي دا په ربا البيع کې داخل ګڼل غلط دي او که دا وويل شي چه په قيمت کې زياتوالى او کموالى کول خو د اصل عقد سره ملحق وي، پس په ثمن مؤجل کښې دمشتری دطرفه چه کوم زيادت وی هغه به دعقدبيع سره جمع کيدوسره ثمن دمبيع ګرځولې شی. اوبه دې کښې چه کومه ربا وی هغه به ربا البيع وی ربا القرض به نه وى، نو د دې جواب دا دى چه د زيادت في الثمن اصل عقد سره ملحق کيدل د څو شرطونو سره مشروط دي، اول دا چه هغه وخت پورې مبيع په خپل حال قائم وي، دويم دا چه دا عقد بيع صرف نه وي، دادريم دا چې زيادت د اجل او مودې په مقابله کې نه وي او که په ثمن کې زياتوالى کموالى د مبيع د هلاکيدو نه بعد وکړى شو يا د اجل او مودې په مقابل کې وشو نو دا به د عقد سره ملحق نه وي مثلا خريدار داسې ووائي چه ماله مهلت راکړه زه به قميت زيات کړم يا بائع داسې ووائي چه ته د معين مدت نه وړاندې قيمت راکړه، زه به تاته څه کم کړم او دواړه صورتونه باطل دي، لکه څنګه چه جصاص په احکام القرآن کې د دې تصريح کړې ده، د دې نه وروستو خبره ظاهره ده چه عربو به د ثمن موجل د وخت پوره کيدو نه بعد کوم قيمت چه د تاخير اخستلو هغه بالکل هم د عقد سره ملحق نه وو، کنه نو په ربا کې به داخل نه وي بلکه د مبيع د قيام په حالت کې به دا مباح وي؛ حال دا چه د مفسرينو اقوال او د صحابه واثار ټول دې ته بالاتفاق حرام وائي، نو دا زياتوالى په ثمن کې داخلول او د بيعې عقد سره ملحق کول قطعا غلط دي، بلکه هغه خو د ربا القرض د قسم نه ده او کله چه داسې ده او د مستفتي په نزد د ربا آيات مجمل دى د کوم بيان چه د سنت مشهوره نه علاوه نور هيڅ نشته نو اوس دې مستفتي ووائي چه هغه ربا د کوم اثر چه د قتاده او سعيد بن جبير، امام شافعي ابن العربي او واحدي وغيره مفسرينو په اقوالو کې موجود دي، په کوم دليل سره حرام ووېل،

فان قال قلت بحرمته لکونه داخلا فی (رباالبیع الذی وردبیانه فی السنة فقدظهربطلان ذلك

که هغه داسې ووائي چه زه دا په ربا البيع کې داخل ګڼلو کې ورته حرام وايم نو دا خو



قلت بحرمة ودخوله فی الربا باثر بماذکرناوان قال قلنا فیلزمك کون الاثر قتادة وباقوال المفسرین بیانا للایة وقد انکرته(۱) فی الموقوف الغیر القطعی (ص-۱۶) وایضا یلزمك القول بحرمة الفضل المشروط فی القرض بالاثار الخالیة عن ذکر البیع العامة للقرض وغیره وباقوال العلماء الذین فسروا ربا الجاهلیة بالزیادة فی القرض وایضا نطالبك بالفرق بین الزیادة فی الثمن الموجل عند حلول الاجل بشرط التاخیر والزیادة المشروطة فی القرض فان قلت بان الزیادة فی الاول بمقابلة المبیع فقدظهر بطلانه وان قلت بانها بعد حلول الاجل لا فی ابتداء العقد وفی الثانی تکون الزیادة مشروطة من الاول العقد قلنا فالثانی اولی بالحرمة لان الجاهلیة کانوا یزیدون فی الدین عوض الاجل اذا لم یقضه المدیون عند حلوله وارتکب المطل(۲) الذی هو ظلم شرعا وعرفا بخلاف المقرض اذا اشتراط الزیادة علی القرض من اول الامر من غیر ان یوجد من المدیون مطل فان هذه الزیادة لیست الا فی مقابلة الاجل وایضا فلو تبایع

صحيح نه دي لکه څنګه چه ستاسو مخکې تقرير نه واضحه شول او که دا ووائي چه دا زه د قتاده د اثر او د مفسرينو د اقوالو د وجې نه په ربا کې داخل ګڼم نو مونږ به ووايو چه په دې صورت کې به تا ته اثرموقوف ظني د آيات بيانول مني او ته د دې نه انکار کوې، نو د دې عامو اثارو د وجې نه چه په بيعه کې ذکر نشته او د هغه علماو د اقوالو د وجې نه کوم چه د ربا جاهلي تفسير ربا القرض سره کوي، د دې حرمت زياتوالى هم قائل کيږي کوم چه په قرض کې مشروط وي، مونږ د تاسو نه د هغه قرض د زيادت د وجې نه د موجل ميعاد د تيريدو د وجې نه د مهلت په عوض سره کيدى شي اودا زيادت کوم چه په قرض کې مشروط وي د فرق تپوس کول غواړي که نه په دواړو کې دا فرق وښائي چه په اول صورت کې د مبيع عوض زياتوالى دى؛ نو د هغې بطلان خو د اوس نه ظاهر شو او که دا ووائي چه اول صورت کې خو د ميعاد تيريدو نه وروستو زياتوالى دى، ابتداءً په عقد کې نه دي، او دويم صورت ابتداءا په عقد کې نشته دى، او په بل صورت کې ابتداءا د عقد سره زياتى مشروط دى، نو مونږ به ووايو چه په دې بنا باندې په بل

۱- ولا يصح القول بان المجمل لا يصير مفسر ابخبر الواحد فقد صرح في التوضيح بجواز التفسير لكتاب بجز الواحد وكذا جعل في نور الانوار واخبار الاحاد بيانا لمجمل الكتاب وقال الآمدي لا يمتنع ان يكون البيان اما بدليل قاطع او ظني اقترن به من القرائن ما اوجب العلم بمدلول كلامه اه (صـ٥٦، جـ٣).

۲- ذكر المستفتي هذا الفرق في صـ٤٣، مولف.

۳- حاصله ان ربا الجاهلية كان في مقابلة الاجل مع كونه عقوبة المطل والفضل المشروط في القرض ليس الاعوض الاجل من غير عقوبة اصلا فحرمة الثاني اولى من الاول لا بالقياس بل بدلالة النص كما ان حرمة ايلام الابوين بالضرب والشتم اولى من حرمة قول اف لهما فافهم ١٢ منه.

الرجلان بثمن الموجل واشترطا من اول العقد ان المشتری اذا لم یقض الثمن عند حلول الاجل یزاد علیه درهم فی کل شهر فهل یقول المستفتی بجواز ذلك لکون الزیادة مشروطة من اول العقد فان اجترء علی ذلك فقد جعل نفسه سخرة للصبیان حیث ادخل الزیادة فی الثمن عند حلول الاجل بعد انقراض البیع وانتهایه فی ربا البیع ولا یجعل الزیادة المشروطة فی العقد داخلا فیه وان قال بحرمته فقد ابطل الفرق الذی ابداه فی ربا الجاهلیة والفضل. المشروط فی القرض وایضا فلو استقرض رجل من اخر مأة درهم الی شهر ولم یشترطا الزیادة من اول الامر فاذا مضی الشهر قال المقرض للمستقرض اتقضی ام تربی هل یجوز الك ام هو ربا محرم فان قال بالاول نطالبه بالفرق بینه وبین ربا الجاهلیة فان هذه زیادة بعد حلول الاجل ایضا لا فی ابتداء العقد وان قال بالثانی فقد ابطل الفرق الذی ابداه وبالجملة فلم یأت المستفتی فی رسالته الا بالاباطیل والاغلوطات التی یتعجب منها کل عاقل لبیب او عالم اریب هذا ونقول ثالثا فی جواب الاستدلال بالاجمال بانا لو سلمنا اجمال الایة فلا نسلم ان بیانها حدیث ابی سعید وعبادة الذهب بالذهب والفضة بالفضة الخ؛ فقط بل بیانها هذا الحدیث مع حدیث کل قرض جر نفعا فهو ربا ومع حدیث انما الربا فی النسیة وغیرهما ولا یلزم من ذکر اهل الاصول حدیث ابی سعید وعبادة وجعلهم ایاه بیانا للایة ان لا یکون غیره بیانا لها فان ذکر شیء لا یستلزم نفی ما عداه فیحمل ذکرهم له علی

صورت باندې په درجه اولی حرام ویل پکار دي، ځکه چه د جاهلیت والا خو دین د اجل په عوض هغه وخت زیاتولو کله چه مدیون ئې په وخت نه ادا کوي، او د قرض زنول شرعا وعرفا هر رنګه مذموم دي، د دې په خلاف چه قرض ورکونکی د ابتدا نه د قرض نه زیات وصولول شرط کوي، حال دا چه تراوسه پورې د مدیون د طرف نه سستي او ځنډ هم نه شي متحقق کیدی، نو دا زیاتوالی صرف د مهلت او مودې په بدله کې دي، بیا مونږ د تاسو نه تپوس کوو چه که دوه کسان خپل مینځ کې اخستل او خرڅول د ثمن موجل سره وکړي او د عقد د ابتداء نه دا شرط نه کړي، وېې ویل که خریدار د وخت په تیریدو باندې قیمت ادا نه کړي نو د هغه نه به هره میاشت یو درهم زیات اخستل کیږي، نو آیا مستفتي په دې صورت کې په دې بنا جائز ووائي نو په دې کې ابتدائي عقد کې د زیاتوالی مشروط دی، که هغه په دې باندې جرات وکړي نو د ماشومانو لوبې کوي ځکه چه د بیع عقد پوره کیدلو او د ثمن موجل وخت تیریدو باندې چه قیمت ئې کوم زیاتوالی وکړی شي هغه به ربا البیع کې داخلول او د بیعې د عقد په وخت د کوم زیاتوالي چه شرط کړی شي هغه د ربا البیع نه



التمثیل واما ان خبر الواحد لا یصح بیانا للقطعی کما زعمه المستفتی فقد رددناه وبینا ان الحق جوازه کیف واکثر ما ذکروه من امثلة البیان من اخبار الاحاد فافهم.

خارجول د مستفتي په عقل کې راتلی شي هغه د ربا البیع نه خارجول د مستفتي په عقل کې راتلی شي، یو جاهل هم د دې نه شي قائله کیدی او که هغه دا هم حرام ګڼي نو هغه فرق باطل شو کوم چه هغه په ربا جاهلیت او په ربا القرض کې پیدا کړي وو، نو که یو کس سل درهمه د یوې میاشتې په وعده د بل نه په سود واخلي او په ابتداء کې زیاتوالی شرط نه کړی شي بلکه د میاشتې په ختمیدو باندې قرض ورکونکی قرض اخستونکي ته داسې ووائي چه ته روپۍ راکوې او څه زیات راکول غواړې، دا صورت جائز دی او که نه؟ که جائز وي نو مونږ د مستفتي نه په دې صورت کې او د ربا جاهلیت په صورت کې د فرق تپوس کول غواړو ځکه چه دلته د وخت تیریدو نه بعد زیاتوالی کړی شوی دی، او که حرام او ربا وي نو هغه فرق باطل شو کوم چه مستفتي بیان کړی وو. الغرض مستفتي په خپله رساله کې صرف بیهوده او لغوه خبرې کړې دي، د کوم په لیدو سره چه هر عالم او عاقل تعجب کوي او د ایات د اجمال نه چه مستفتي کوم استدلال کړی دی د هغې دریم جواب دا دی چه که مونږ ایات مجمل وګڼو نو مونږ دا نه تسلیموو چه د دې بیان صرف د ابو سعید او عباده رضي الله عنهما حدیث الذهب بالذهب والفضة بالفضة دی، بلکه د هغې بیان دا حدیث کل قرض جر نفعا فهو ربا هم دی، او حدیث "انما لربا في النسیئة" وغیره هم او اصولیونو چه کوم حدیث د ابو سعید او عباده ته د ایات بیان ګرځولي دي نو دې سره دا نه لازمیږي چه نور احادیث ئې بیان نه وي ځکه چه د یو بیان د بل نفي له مستلزم نه دی، نو د هغوئ یو حدیث بیانول صرف په تمثیل باندې محمول دي، پاتې شوه دا چه خبر واحد ایات د قطعي ایات بیان نه شي کیدی لکه څنګه چه مستفتي دعوه کړې ده نو مونږ هغه رد کړه او ومو ښودل چه حق دا دی چه هر واحد د قطعي بیان کیدی شي، حال دا چه فقهاو څومره مثالونه هم بیان کړي دي هغه ټول اخبار احادي دي

واما حدیث کل قرض جر منفعة فهو ربا فبیانه ان المنفعة فیه عامة لکل منفعة سواء کانت من قبیل الوصف کالجودة ونحوها او من قبیل الزیادة کالارجاح فی الوزن اوغیرهما کالهدیة والدعوة ونحوهما اما المنفعة التی هی من قبیل الوصف او من جنس الهدیة والدعوة فاختلفت

اوس مونږ د حدیث کل قرض جر نفعا فهو ربا، بیان کوودې ترجمه داده چه دکوم قرض نه چې نفع حاصله شی هغه ربا ده او په دې کې د منفعت لفظ هرې فائدی ته عام دی، که هغه دو صف د قسم نه وي، یا د نوي والی یا وزن کې د

اقوال العلماء في حرمتها مع اتفاقهم عليها اذا كانت مشروطة وذهب شمس الائمة الحلواني منا الى حرمة قبول الهدية واجابة الدعوة من غير شرط ايضا اذا لم يجر بها عادة قبل الاقراض وقامت قرينة على كونها لاجله وهو الحق عندنا لكونه مويدا بالآثار، وقال الكرخي لا بأس بها اذا لم تكن مشروطة واما التي من جهته الارجاح في الوزن والعدد فاتفقوا على حرمتها سواء كانت مشروطة اولا الا ما قل منها كدانق في مائة دراهم او تكون بلفظ الهبة او ما يجري مجراه وقد مر تفصيل الاقوال في هذه المسئلة من قبل ووجه الفرق في احكام هذه الانواع من المنفعة ظاهر على كل من له مسكة بالفقه فان الوجودة والرداءة ونحوهما من الاوصاف هدر في الاموال الربوية فان الشارع قد جعل الدرهم الردي والجيد سواء وكذا الصاع الردي من التمر والجنيب منه كلاهما سواء؛ فاذا قضى المديون درهما جيدا مكان درهم ردي من غير شرط لا يصدق عليه انها منفعة جرها القرض لكون الوصف هدرا في الاموال الربوية نعم اذا اشتراطا المقترض ان الجودة مثلا صارت مقصودة لهما فيصدق عليها انها منفعة جرها القرض وهدية الغريم ودعوته منفصلا كلاهما عن مجلس القضاء ووقته اجنبي عن القرض ظاهر الكونه من غير جنس الدين منفصلا عن قضايه.

زیاتوالي قسم نه وي یا د دې دواړو نه علاوه وي لکه دعوت او هدیه وغیره پاتې شو هغه منفعت چه د وصف قسم یا هدیې او د دعوت قسم سره وي، د دې په حرامیدو کښې د علماو اقوال مختلف دي، مګر په دې باندې د ټولو اتفاق دی، چه که په دې کې د منافع شرط وي نو حرامه ده، د شمس الائمه دا قول دی چه د مدیون هدیه او دعوت قبلول بغیر د شرط نه هم حرام دي کله چه د قرض نه وړاندې د هدیې او دعوت عادت نه وي او قرائنو سره دا ثابته شي چه دا هر څه د قرض د وجې نه کیږي او زمونږ په نزد همدا حق دی ځکه چه اثارو سره د همدې تائید کیږي، اودکرخي قول دا دی چه که شرط نه وي نو د دعوت او هدیې قبلول حلال دي، او کوم منفعت چه د وزن یا عدد د زیاتوالي د قسم سره وي د هغې په حرمت باندې د ټولو اتفاق دی، که دا شرط ئې وي او که نه وي، البته که زیاتوالی په لږه اندازه وي لکه په ۱۰۰ درهمو کې یو پیسه، یا هغه د هبې په طور وي، نو څه خبره نشته، لکه څنګه چه تفصیل سره بره معلوم

شوي دي او د دغه منفعت په احکامو کې فرق ظاهر دی، چه د سخا او رواءت وغیره اوصاف په اموال ربویه کې د اعتبار قابل نه دي ځکه شارع جید وردي درهم او ښه او خرابه خرما مکیل ګرځولې ده، نو که مدیون بغیر د شرط نه د خرابو درهمو په ځای ښه درهم ادا کړي نو هغه ته دا نه شي ویل کیدی چه قرض نه منفعت حاصل کړی شوی دی ځکه چه په ربوي اموالو کې اوصافو له



اعتبار نشته دی، او که د قرض ورکولو والا سخا شرط وکړي نو دغه وخت کې چونکه دا وصف مقصود شوی دی نو ځکه پرې دا خبره صادقه راځي، چه په قرض باندې فائده حاصله کړی شوې ده، همداسې که مدیون د قرض ورکونکي دعوت وکړي یا هغه له هدیه ورکړي کوم چه د قرض ادا کولو په وخت په همدغه مجلس کې پیش نه کړی شي نو چونکه په ظاهر کې دا د قرض نه بالکل علیحده څیز دی، ځکه چه د دې جنس هم نه دی، او د ادا سره هم نه

ووصل الاجنبي بالاجنبي لايكون الا برابط فلا يقال في كل هدية ودعوة ان القرض جرهما الا اذا كانتا مشروطتين عند الاقراض اوقامت قرينة علآ جره لهما بخلاف الزيادة والرجحان في دراهم القرض عند قضايه وان جر القرض لها ظاهر لكونها مقرونة بقضاءه ومن جنسه فلا تجوز مطلقا الا اذا كانت قليلة لا يعتد بها او كان قد صرح المديون بكونها هبة فان القليل يتعذر الاحتراز منه والتصريح؛ بالهبة ينفي الربا لكونها عقدا مستقلاً اجنبيا عن الاقراض الا اذا كانت الهبة مشروطة فيصد عليها انها منفعة قد جرها القرض فلا تجوز واذا علمت ذالك ظهر لك بطلان قول المستفتي ان الفقهاء لم يتمسكوا بهذا الحديث ولاثر من لدن رسول الله صلى الله عليه وسلم الى زماننا هذا ولم يفتوا بحرمته امثال هذه المنافع بل اتفقوا على انه لا يكون ربا الا يكون مشروطة في العقد وهذا خلاف ما دلت عليه هذه الاثار والاحاديث الواردة في هذا الباب على ما فيها لانها تدل على حرمة كل منفعة سواء شرطت اولم تشترط مع انها بدون الشرط جايزة بالاتفاق اه ص۱۲۶؛ فهذه والله فرية مرية فان الفقهاء من الصحابة والتابعين واتباعهم لم يزالوا يستدلون علآ حرمة منافع القرض بهذا الحديث ومعناه وصرح

او د اجنبي څیز تعلق د اجنبي سره بغیر د ربط نه نه شي کیدی، نو ځکه په هره هدیه او دعوت باندې دا خبره صادقه نه راځي چه قرض نه منفعت حاصل کړی شوی دی، البته که د قرض ورکولو په وخت دا شرط کړی شي یا کومه قرینه داسې قائمه شي چه دا هدیه وغیره د قرض د وجې نه ورکړی شوې ده نو په دغه وخت کې دې ته د قرض نفع ویل کیدی شي، د دې په خلاف چه د قرض د روپو د ادا کولو په وخت کې څه زیاتې روپۍ ورکړی شي یا وزن زیات کړی شي نو همغه د قرض منفعت کیدل او د قرض په وجه حاصلیدل ظاهر دي ځکه چه دا زیاتوالی د قرض ادا کیدو سره متصل هم دی او د هغې د جنس نه هم دی، نو دا په یو حال کې هم جائز نه ده او که معمولي زیاتوالی وي کوم چه د اعتبار قابل نه وي، یا مدیون صراحةً د هبې په طور ورکړی وي نو جائزه ده ځکه چه د لږ نه ځان ساتل سخت دي، او د هبې

بعضهم کشمس الایمة منا ومالك واحمد بحرمتها مطلقا سواء شرطت اولم تشترط والذين قيد واحرمت بالاشتراط فانما قيدوها به عملا بهذا الحديث لا اعراضا عنه لما فيه من لفظ الجر فقالوا ان القرض لا يجر الى نفسه منفعة اجنبية كالهدية والدعوة او منفعة قد هدرها الشارع كالجودة ونحوها الا بالاشتراط فمن شاء الاختلاف فى التقييد بالاشتراط النظر الى لفظ الجر والى صدق مفهومه بدون الاشتراط اوعدمه وقول المستفتى مع انها بدون الشرط جايزة بالاتفاق باطل منشاء قلة المراجعة الى مذهب العلماء فقد ذكرنا عن رحمة الامة.

تصريح سره ربا منتفی کيږي، ځکه چه هغه مستقله معامله ده، کومه چه د قرض نه جدا ده البته که د قرض سره د هبې شرط وکړی شي نو په دغه صورت کې به دا خبره صادقه شي چه د قرض په ذريعې سره نفع حاصل کړی شوې ده او دا جائزه نه ده، کله چه په دې پوهه شوې نو د مستفتي قول درته باطل معلوم شو، چه فقهاو د امر او اثر د رسول الله ﷺ د زماني نه تراوسه پورې پرې تمسک نه دی کړی او نه ئې د داسې منافع د حرمت فتویٰ ورکړې ده بلکه هغوئ ټول په دې خبره باندې متفق دي چه دا منافع ترڅو پورې مشروطه نه وي نو تر هغه وخته به په ربا کې نه داخلیږي، او دا خبره د هغه حديث او ټولو اثارو چه په دې باب کې روايت دي خلاف ده، ځکه چه هغه اطلاق سره د هر منفعت په حراميدو دلالت کوي که مشروط وي او که نه وي، حال دا چه بالاتفاق بغير د شرط نه دا منافع جائزې دي، په خداي چه دا صريح بهتان دی، ځکه چه فقهاو، صحابه وو، او تابعينو او تبع تابعينو د هميشه نه د قرض منافع په حرمت باندې د دې حديث يا هم معنی حديث باندې استدلال کړی او راروان دی، او بعضې علماو د دې منافع حرمت اطلاق سره بيان کړی دی، که هغه مشروط وي او که نه وي، لکه څنګه چه شمس الائمه او امام مالک او واحد نه نقل دی، او کومو خلکو چه د حرمت شرط د قيد سره مقيد کړی دی، هغه هم په دې حديث کل قرض جر نفعا باندې د عمل کولو قيد لګوي، نه چه د دې نه اعراض کوي ځکه چه حديث کې د جر لفظ موجود دی، نو هغوئ وائي چه قرض داسې فائده چه بهرنۍ وي خپل طرف ته نه شي کش کولی، نو د شرط سره د حرمت په مقيد کولو کې چه کوم اختلاف دی د هغې منشا لفظ جر دی، چه د دې مفهوم د شرط نه بغير صادقيږي، او که نه پاتې شو د مستفتي دا قول چه بغير د شرط نه دا فائدې بالاتفاق جائزې دي، بالکل غلطه ده، د کوم منشا چه د علماو د مذهب نه ناواقفي ده، ځکه چه مونږ د رحمة الامة په حوالې سره وښودل.



ان اباحنيفة ومالكا واحمد ذهبوا الى حرمتها مطلقا الا اذا جرت العادة بها بين المقترضين من قبل وهو قول شمس الايمة الحلوانى وذهب الشافعى الى جوازها من غير شرط وهو قول الكرخى منا ويشير اليه كلام محمد فى بعض كتبه وهذا الاختلاف انما هو فى المنافع التى هى من جنس الجوادة او الهدية والدعوة واما ما كان من جنس الزيادة فى الوزن والعدد فلا اختلاف فى حرمتها (١) مطلقا كما قد مناه ومن ادعى الاختلاف فيه فعليه البيان وظهر بذلك بطلان قول المستفتى ان الفضل المشروط فى القرض ليس ربا منصوصا لان الفقهاء استدلوا على حرمة بحديث كل قرض جر منفعة وجعله الفقيه ابو الوليد مقيسا على الربا المحرم بالقرآن ربا الجاهلية وكذا جعله العلامة الكاسانى شبيها بالربا (٢) واطلق محمد عليه الكراهة لا الحرمة فلو كان الفضل المشروط فى القرض ربا منصوصا لم يستدلوا عليه بمثل هذا الحديث الغير المشهور الذى ضعفه بعض المحدثين ولم يجعلوه مقيسا على الربا وشبيها له ولصرحوا بحرمته اهملخصا بمعناه (صـ ۱۲، ۱۳) فان استدلالهما بالحديث ليس على حرمة الفضل الذى يكون بالزيادة فى الوزن والعدد بل على حرمة الفضل يعمه المنفعة التى تكون من جهة الوصف كالجودة او من جنس الهدية

چه امام ابو حنيفه او مالک او احمد دې منافع ته مطلقا حرام وائي مګر کله چه د قرض معاملې نه وړاندې هم دغه خلکو کې د هديې او دعوت عادت جاري وي نو څه باک نشته، د شمس الائمة حلواني همدا قول دی، او امام شافعي بغير د شرط نه دې منافعو ته جائز وائي، او د کرخي هم همدا قول دی، او په بعضې کتابونو کې د محمد کلام هم دې طرف ته اشاره کوي، او دا اختلاف په هغه منافعو کې دی چه وصف سخا يا هديه او د دعوت قسم وي او کوم زيادت چه د عدد او وزن قسم وي د هغې په مطلق حراميدو کې د چا هم اختلاف نشته دی، او څوک چه ئې د خلاف دعوه کوي هغه دې دليل بيان کړي، دې تقرير سره د مستفتي د هغه خبرې بطلان هم ثابت شو چه په قرض کې چه کوم زياتوالی مشروط وي هغه صريحه ربا نه ده ځکه چه فقهاو د دې په حرمت باندې د حديث کل قرض الخ نه استدلال کړی دی، او قاضي ابو الوليد دې په ربا جاهلي باندې مقيس ويلي دي، او علامه کاساني (صاحب بدائع) دې ته مشابه بربا ويلي دي، او محمد په دې باندې د کراهت اطلاق کړی دی نه چه د حرمت، نو هغه زياتوالی چه په قرض کې مشروط وي صريح ربا وي، نو فقهاو به

١ - اي الا اذا كانت قليلة لا يعتد بها او كانت بطريق العطاء والهبة كما مر ١٢.

٢ - وفيه ان ملک العلماء قد صرح بان الاحتراز عن شبهة الربا واجب ايضا فلا ندرى كيف صرح المستفتي بنقل كلامه وايضا صرح محمد بان الكراهته بمعنى الحرمة قال في الهداية والمروى من محمد نصا ان كل مكروه حرام اه (صـ ۴۳۶، جـ ۴).

والدعوة ونحوهما وهذا لاننكر كونه شبيها للربا الحقيقي، ومكروها مع ان اطلاق الكراهة لاينفى الحرمة فان اطلاق المكروه على الحرام شايع فى كلام الفقهاء الاترى محمد بن الحسن يقول فى موطا، فى بيع المضامين والملاقيح وحبل الحبلة هذه البيوع كلها مكروهة ولا ينبغى آه وقد اجمع العلماء على حرمتها لثبوت النهى عنها على لسان الشارع ﷺ ومثل ذلك فى كلامه كثير وكذا فى كلام غيره من الفقهاء وفى الدر كل قرض جر نفعا فهو حرام وفيه ايضا عن الة القرض بالشرط حرام اه (ص۲۷۰ج۴) باب القرض، فمن اطلق على المكروه يريد به الحرام لاسيما اذا كان هذا الاطلاق فى كلام الصحابة فانهم كانوا لا يفرقون بين المكروه والحرام والواجب والفرض لكون الاصطلاح حادثا بعدهم فاندحض قول المستفتى ان الصحابة اتفقوا على كراهته وهو دليل على عدم كونه ربا والا كان حراما (ص۳) فالفرق بين المكروه والحرام فى كلامهم باطل لما قلنا واما الفضل المشروط فى القرض من جهة الوزن والعدد فلم يستدلوا على حرمة بحديث كل قرض جر نفعا فقط بل استدلوا عليها باية الربا التى فى القرآن وجعلوه من ربا الجاهلية واحتجوا عليها بالاجماع ايضا كما مر كل ذلك مفصلا فافهم ولا تكن من الغافلين واذا عرفت ذلك فقد علمت انا لانحتاج الى تصحيح حديث كل قرض جر نفعا فى جواب هذا الاستفتاء الذى ورد علينا لما بين ان حرمة الفضل المشروط فى القرض لا تتوقف عليه ولكن نتكلم على ذلك تبرعا فنقول قد مر نقلا عن العزيزى شارح جامع الصغير للسيوطى ان حديث كل قرض جر منفعة

د دې په حرمت باندې د دې غير مشهور حديث نه استدلال نه کول کوم ته چه بعضې محدثينو ضعيف هم ويلي دي، او دا به ئې په ربا هم نه قياس کولو، او د هغې مشابه به ئې ورته نه ويل، بلکه د دې د حرمت صراحت به ئې کولو، د بطلان وجهٔ دا ده چه فقهاو د دې حديث نه د دې زياتوالي په حرمت باندې استدلال نه دی کړی، چه په وزن او عدد کې وي، بلکه د هغه منافعو په حرمت ئې استدلال کړی دی، چه د وصف اوسخا يا د هديې قسم وي، او د دې مکروه او مشابه بربا کيدل مونږ هم منو، او د کراهت په اطلاق سره د حرمت نفي نه لازميږي، ځکه چه د فقهاو په کلام کې په حرام باندې د مکروه اطلاق ډير شائع دی، نو امام محمد په مضامين وملاقيح وحبل الحبله په بيعه باندې مکروه اطلاق کړی دی، حال دا چه ټول علماء د دې په حرمت باندې متفق دي، ځکه چه د شارع په ژبه د هغې صراحةً ممانعت ثابت دی، او د محمد او نورو فقهاء کرامو د دې نور ډير مثالونه دي، او در مختار کې صفاموجود دي او کوم قرض چه د نفع سبب جوړ شي هغه حرامه ده او د خلاصې په حوالې سره همدې کې دا هم دي چه د شرط سره قرض ورکول حرام دي، نو کومو حضراتو چه دې



فهو حرام حسن لغيره فاندحض بذلك قول المستفتى، غير ثابت ولا اصل له قال ابن حجر فى الحارث بن اسامة واسناده ساقط واعد عبد الحق بسوار بن مصعب وقال انه متروك الخ ص ۱۳ فان الكلام فى طريق لا ينفى حسن الحديث ولا صحته لغيره فان الحديث بتعدد الطرق قد يصل اليرتبة الصحيح مرة والى درجة الحسن اخرى وهذا الحديث قد بلغ بتعدد طرقه وبشواهده الى درجة الحسن كما قاله السيوطى فالقول بانه غير ثابت ولا اصل له لا يجترى عليه الا من لا علم له ولا مساس بالحديث بل نقول ان الحديث قد بلغ الصحة والشهرة لتلقى الامة له بالقبول. ولما له من الشواهد والاحتجاج الايمة المجتهدين به وذكر الفقهاء اياه فى معرض الاستدلال اما شواهد فمنها ما ذكره ابن تيميه فى المنتقى وعزاه الى ابن ماجة عن انس وسيل الرجل منا يقرض اخاه المال فيهدى اليه فقال قال رسول الله ﷺ اذا اقرض احدكم قرضا فاهدى اليه اوحمله على الدابة فلا يركبها ولا يقبله الا ان يكون جرى بينه وبينه قبل ذلك اه واشار الشوكانى فى النيل الى تضعيفه (ص۹۹ج۵) واغتر

۱- قلت ولا يخفى ما في هذا النقل من التحريف فان الحافظ لم يقل فيه الحارث بن اسامة الشعر بضعف الحارث وانما قال رواه الحارث بن ابي اسامة (وهو صاحب المسند كما في كنزل العمال في ذكر الكتب التي استمد بها في تاليف جمع الجوامع صـ٦ جـ١، وثقه ابن جان وابو حاتم وابراهيم والدار قطني وغيرهم من ائمة الحديث كما في بستان المحدثين لمحدث الدهلوي) وانما قال الحافظ اسناده ساقط لان فيه سواء بن مصعب مع ذلك لم يقل ان الحديث غير ثابت ولا اصل بل قال وله شاهد ضعيف من فضالة بن عبيد البيهقي وآخر موقوفا عن عبدالله بن سلام عند البخاري اه اي والاسناد الضعيف اذا تائيد بالشواهد تقوى كما لا يخفى على من مارس علم الاسناد ۱۲ منه.

منفعت ته مکروه ويلي دي د هغوئ مراد هم حرمت دی، خصوصاً کله چه دا اطلاق د صحابه و په کلام کې وارد شي ځکه چه هغه خو مکروه او حرام کې او فرض او واجب کې فرق نه کوي، دا ټول اصطلاحي فرقونه وروستو ظاهر شول نو د مستفتي دا قول باطل شو چه صحابه و د دې په فائده باندې چه کراهت اتفاق کړی دی، او دا د دې د نه ربا کيدو دليل دی کنه نو حرام به ئې ورته ويلی، دا خبره خو په منافعو کې وه، چه د وصف جودت يا هديه او دعوت قسم سره وي، هغه منفعت چه د قرض په روپو کې يا وزن يا عدد کې زياتوالي په صورت کې چه کومه فائده حاصله شي نو د هغې په حرمت باندې صرف د حديث کل قرض الخ نه استدلال نه دی شوی، بلکه د دې په حرمت باندې د ربا په آيت زيات استدلال کړی شوی دی، او دا په ربا جاهلي کې داخل کړای شول او د دې په حرمت باندې د اجماع نه هم استدلال کړی شوی دی لکه څنګه چه مفصل تير شوي دي، بنه پوهه شه او ناپوهه د ځان نه مه جوړوه کله چه دا خبره معلومه شوه نو مونږ له د مستفتي د استفتاء په جواب کې د حديث کل قرض الخ د صحت ثابتولو حاجت

بکلامه المستفتی فقال والراوی عن انس مجهول وکذافیه عتبة بن حمید الضبی البصری قال ابوطالب عن احمد هو ضعیف لیس بالقوی وفیه اسمعیل بن عیاش الحمصی وهو مختلف فیه وضعیف بالاجماع اذا روی عن غیر اهل بلده اه والجواب عن ماذکره ابن القیم فی الاعلام صـ۲۱۲۰ جـ۱ وهو اعرف بالفن من الشوکانی ومن الف مثله بما نصه قال شیخنا رضی الله عنه و(یحیی) هذا (الراوی عن انس) یحیی بن یزید الهنائی من رجال مسلم وعتبة بن حمید معروف بالروایة عن النهائی قال ابوحاتم مع تشدیده هو صالح الحدیث () واسمعیل بن عیاش ثقة فی حدیثه علی الشامیین (فیه دلالة علی کون عتبة من اهل الشام ولکن صرح الحافظ فی التقریب والتهذیب بکونه بصریا ۱۲) قلت وقد وثق بعضهم اسماعیل بن عیاش مطلقا وفصل اکثرهم روایة عن اهل بلده عن روایته عن غیرهم کما یظهر من تهذیب التهذیب وقال السیوطی فی اللالی المصنوعة نقلا عن القول المسدد للحافظ بن حجر وقد ثقة (ای اسمعیل بن عیاش) بعضهم مطلقا اه (صـ۱۵۶ جـ) فبطل الاجماع الذی ذکره المستفتی وبالجملة فحدیث انس هذا ان لم یکن صحیحا فلا اقل من ان یکون حسنا واما قول المستفتی ومع هذا هو خلاف ما علیه الامة من لدن رسول الله ﷺ الی یومنا هذا (صـ۲) فجراة شدیدة وفریة بلامریة فقد ذکرنا عن رحمة الامة ان قول ابی حنیفة

نشته ځکه چه مونږ وښودل چه د قرض نه د زیات وصولولو د حرمت ثبوت په دې حدیث موقوف نه دی، لیکن مونږ تبرعاً په دې هم خبره کول غواړو او وایو چه عزیزي شارح جامع صغیر سیوطي حوالي سره مخکې تیر شوی دی چه دا حدیث حسن لغیره دی، د دې نه د مستفتي دا قول چه دا حدیث باطل او بې اصله ده، ابن حجر وائي چه د دې سند کې حارث بن اسامه دی، د هغه اسناد ساقط دي، عبدالحق د سوار بن مصعب د وجې نه دې ته معلل ویلي دي، او سوار ته ئې متروک ویلي دي، دا ټول باطل شول، ځکه چه جدا جدا هر سند کې خبره کیدل د حدیث د صحیح لغیره یا حسن لغیره منافي نه دی ځکه چه د کثرت طرف د وجې نه کله حدیث د صحیح درجې ته رسیږي، کله د حسن درجې ته او دا حدیث د کثرت طرف د وجې نه د حسن درجې ته رسیدلی لکه څنګه چه علامه سیوطي فرمایلي دي، نو دې ته د باطل او بې حیله ویلو جرات هغه کولی شي څوک چه علم حدیث نه لولي، بلکه مونږ ترقي کوو وایو چه دا حدیث تلقي بالقبول، کثرت شواهد او د مجتهدینو د استدلال د وجې نه چه فقهاء ئې د استدلال

---

وذکره ابن حبان فی الثقات کما فی تهذیب التهذیب ۱۲.



لما فی الحدیث انس هذا وهو ومالك واحمد موافق. نعم مختار شمس الایمة الحلوانی کما ذکره فی الهندیه؛ ذهب الشافعی الی جواز قبول هدیة الغریم ودعوته اذاکان من غیر شرط والیه مال الکرخی منا وقال الشوکانی فی النیل فی شرح حدیث ابی هریرة فی استقراض النبی ﷺ سنا من الابل وقضایه سنا فوقه ما نصه وفیه جواز زد ما هو افضل من المقترض اذا لم تقع شرطیة ذلك وبه قال الجمهور وعن المالکیة ان کانت الزیادة بالعدد لم یجد وان کانت بالوصف جازت ویرد علیهم حدیث جابر المذکور فی الباب فانه صرح بانه ﷺ زاده قیراطا (قلت لا یرد ذلك علیهم فانهم انما منعوا الزیادة عددا فی القرض وحدیث جابر وارد فی الزیادة فی ثمن الابل ولا خلاف فی جوازها والعجب من المستفتی انه مع تفرقته بین القرض والدین یجعل الاول من التبرعات والثانی من مبادلة المال بالمال کیف یستدل بحدیث جابر هذا علی جواز الزیادة فی اداء القرض ۱۲). قال الشوکانی واما اذا کانت الزیادة مشروطة فی العقد فتحرم اتفاقا (وفیه رد صریح علی المستفتی حیث جواز الفضل المشروط فی القرض وخالف الاجماع ۱۲) قال والحاصل ان الهدیة والعاریة ونحوهما اذا کانت الاجل التنفیس فی اجل الدین اولاجل رشوة صاحب الدین اولاجل ان یکون لصاحب الدین منفعة فی مقابل دینه فذلك محرم لانه اما نوع من الربا او رشوة (فیه رد صریح علی المستفتی فان الفضل المشروط فی القرض لایخلو من احد هذه الاغراض ۱۲) وان کان ذلك لاجل عادة

په موقع بیانوي دصحیح او مشهور حدیث درجې ته رسیدلی دی، نو د دې یو شاهد هغه دی کوم چه منتفی کې د ابن ماجه په حوالې سره د انس رضي الله عنه په روایت سره بیان کړی شوی دی، چه د حضرت انس رضي الله عنه نه تپوس وکړی شو چه که یو کس خپل مسلمان ورور ته قرض ورکړی وي بیا ورله مقروض هدیه ورکړي نودې حکم څه دی ویې فرمایل چه که څوک سود چا له قرض ورکړي او هغه ورله هدیه ورکړي یا ئې پخپله سورلۍ سپور کړي، نو د هغه په سورلۍ دې نه سپریږي، او نه دې ورله هدیه قبلوي، البته که د قرض نه وړاندې دا سلوک د هغوئ ترمنځ وي (نو بیا څه خبره نشته) علامه شوکاني په نیل الاوطار کې د دې حدیث ضعیف کیدو ته اشاره کړې ده او مستفتي هم دُ هغوئ کلام لیدلو سره دوکه شو چه حضرت انس چه دا حدیث روایت کړی دا ضعیف دی، د دې په سند کې عتبه بن حمید ابضي بصري هم دی، کوم ته چه احمد د ابو طالب په روایت کې ضعیف ویلي دي، او په دې کې اسماعیل بن عیاش حمصي هم دی د کوم چه په ثقه کیدو اختلاف دی، او کله چه هغه د اهل شام نه علاوه د بل چا نه روایت کړي نو بالاجماع ضعیف دی ددې جواب علامه ابن القئم

جاریة بین المقرض والمستقرض قبل التداین فلابأس وان لم یکن ذلك لغرض اصلا فالظاهر المنع لاطلاق النهی عن ذلك (فیه دلیل علی کون حدیث انس معمولا به خلاف ما ذکره المستفتی جراة علی دین الله وتقولا بالرای ۱۲) قال واما الزیادة علی مقدار الدین عند القضاء بغیر شرط ولا اضمار.

کوم چه د شوکاني په شان د زړکونو نه زيات د فن حديث پوهيدونکی دی په اعلام الموقعين کې داسې ورکړي دي چه زمونږ شيخ وفرمايل چه د حضرت انس نه چه کوم يحيی نومې سړي روايت کوي هغه يحيی بن يزيد هنائي دی چه د مسلم په روايتونو کې دی، او عتبه بن حميد په شاګردانو کې مشهور دی، ابو حاتم د تشدد باوجود دې ته صالح الحديث ويلي دي او اسماعيل ابن عياش د اهل شام نه په روايت کولو کې ثقه دي، زه وايم چه علامه سيوطي د حافظ بن حجر رسالې القول المسدد په حوالې سره نقل کړي دي چه بعضې محدثينو اسماعيل بن عياش ته مطلقا ثقه ويلي دي، (لکه داهل شام نه روائت کړن نابغتر داهل شام نه ۱۲)نو مستفتي چه کوم اجماع نقل کړې ده هغه باطله شوه الغرض که دا حديث صحيح نه وي نو دحسن نه خو کم نه دی، پاتې شوه د مستفتي دا خبره چه دا حديث د رسول الله ﷺ د وخت نه تراوسه پورې د امت د عمل خلاف دی، نو دا سخت بې باکي او صريح بهتان دی، ځکه چه مونږ د رحمة الامه په حوالې سره بيان کړل، چه د امام ابو حنيفه،مالک او احمد قول د دې حديث بالکل موافق دی،او د عالمګيري نه معلوميږي چه شمس الائمه حلوائي همدا اختيار کړی دی، او امام شافعي د مقروض هديه او دعوت قبلول جائز ګڼلي دي، کله چه شرط کړی شوې نه وي او د علامه کرخي مثلان هم دې طرف ته دی، او علامه شوکاني په نيل الاوطار کې د حضرت ابو هريره (رض)نه د دې حديث په شرحه کې چه کوم کې چه د نبي ﷺ د يو کس نه اوبن اخستل او د هغې نه ښه ادا کول مذکور دي، فرمايلي دي چه د دې حديث نه معلومه شوه چه کوم څيز قرض اخستلی شوی وي د هغې نه بهتر ادا کول جائز دي، کله چه هغه شرط کړی شوی نه وي، جمهور د همدې قائل دي او د مالکيانو نه روايت دا دی چه که شمار زيات او ادا کړی شي نو جائز نه ده، او په هغې باندې به د جابر رضي الله عنه د حديث نه اشکال وارد شي، ځکه په هغې کې تصريح ده چه نبي ﷺ د هغه قرض نه يو قيراط زيات ورکړو، زه وايم چه دې سره په مالکيانو اشکال نه وارديږي ځکه چه مالکيانو په قرض کې د عدد زياتوالی ممنوع ګرځولی دی او د جابر په حديث کې د قرض معامله نشته بلکه د اوبن په قيمت کې د زياتوالي ذکر دی او د دې په جواز کې څوک هم اختلاف نه لري ځکه چه ترڅو پورې چه مبيع موجود وي ترهغه وخته پورې به قيمت کې چه څه کموالی او زياتوالی وکړی شي نو د اصل عقد سره به ملحق وي او زه مستفتي ته تعجب کوم چه د دې باوجود چه د هغه په نزد د دين او قرض حکم جدا جدا دی، بيا هم هغه د جابر رضي الله عنه د حديث نه په قرض باندې زياتوالی ولې ثابتوي، (ځکه چې دې لکې دقرض ذکرشون ندن ۱۲)د دې نه وروستو علامه شوکاني فرمائي چه که د قرض په عقد کې د زياتوالي شرط وکړی شي نو بيا خو اتفاقاً حرام دی، (په دې



کښې دمستفتی دقول صفا اوصریح رد دې، ځکه چه هغه شرط سره هم دقرض نه زیات اخستلو ته جائز وئیلي او داجماع خلاف کوی ۱۲)د دې نه وروستو علامه شوکاني د خلاصې په طور فرمايلي دي چه هديه او عاريت که په دې غرض سره وي چه د دين په وخت کې څه توسيع وشي يا قرض ورکونکي ته د رشوت وغيره په طور باندې هديه ورکړی شي يا دا غرض وي چه څه فائده راورسيږي نو دا ټول صورتونه حرام دي ځکه چه په دې کې خو به يا د ربا کومه نوعه موندل کيږي يا د رشوت،(په دې کښې هم دمستفتی صريح رد دې ځکه چه په قرض کښې کله د زيات وصولولو شرط وی نو ددې اغراضو نه به يو غرض ضرور موندلې کيږی ۱۲)که دا هديه وغيره د هغه عادت او معمول موافق وي کوم چه د وړاندې نه د قرض ورکونکي او اخستونکي ترمنځ وي نو بيا څه خبره نشته، او که د دې نه يو غرض او سبب هم نه وي نو ظاهره ده چه په دې صورت کې هم هديه وغيره ورکول قبلول منع دي، ځکه چه حديث کې ممانعت د اطلاق سره وارد (ددې نه معلومه شوه چه حديث دانس معمول به دې متروك العمل نه دې، لکه چه مستفتی زړه ورتيا او بې پرواهۍ سره دعوی کړې ده ۱۲) شوکاني فرمائي چه د قرض ادا کولو په وخت مقدار زياتوال چه په عقد کې نه وي شرط شوې او په زړه کې هم (زيات ورکول او اخستل دمخکی نه هم) اراده نه وي.

فالظاهر الجواز من غیر فرق بین الزیادة فی الصفة والمقدار والقلیل والکثیر؛ (قلت لم ینسبه الشوکانی الی احد من الایمة بل ذکر من قبل خلاف المالکیة فی الزیادة بالعدد والمقدار وقول الحنفیة مثل قولهم کما ذکرناه قبل فلا حجة لاحد بقول الشوکانی وحده ما لم یظهر موافقته لقول واحد من المجتهدین اللهم الا ان یحمل علی الزیادة بطریق الهبة فتجوز والا فلا وان سلمناه بلا تاویل فلا راحة للمستفتی فیه لکونه قد قید الجواز بان یکون من غیر شرط ولا اضمار ۱۲) قال الشوکانی قال المحاملی وغیره من الشافعیه یستحب للمستقرض ان یزدا جود مما اخذ (قلت هذا من الزیادة فی الوصف ولا خلاف فی ذلك اذا کان من غیر شرط) قال ومما یدل علی عدم حل القرض الذی یجر الی المقرض نفعا ما

په ظاهره جائز دي، که هغه زيادت وصف کې وي او که مقدار کې او مقدار لږ وي او که زيات. زه وايم چه شوکاني دا خبره د کوم مجتهد طرف ته نه ده منسوب کړې بلکه د دې نه وړاندې هغه پخپله د مالکيانو خلاف په عدد او مقدار کې د زياتولو ذکر وکړو او د احنافو قول هم د مالکيانو په شان دی، لکه څنګه چه مونږ په تفصيل سره بيان کړل، نو تنها د شوکاني قول په چا باندې حجت نه دی ترڅو پورې چه د يو مجتهد د قول نه د دې موافقت معلوم نه شي او که د دې دا مطلب واخستل شي چه که د هبې په طور

اخرجه البيهقى فى المعرفة عن فضالة بن عبيد موقوفا بلفظ كل قرض جر منفعة فهو وجه من وجوه الربا ورواه فى السنن الكبرى عن ابن مسعود وابى بن كعب وعبدالله بن سلام وابن عباس موقوفا عليهم اه (صـ١٠٠٩٩ جـ ٥) قلت فى كلامه دلالة على صلاحية الاثار كلها للاحتجاج به وانها باجمعها بمعنى اثر فضالة بن عبيد فبطل ما ذكره المستفتى من الكلام فى بعض هذه الاثار وان بعضها خال عن ذكر الربا، صـ٢٢٤٢ فان جميع هذه الاثار مشتمل على المنع من منفعة جرها القرض والنهى اصله التحريم ولما ورد فى بعضها مفسرا ان علة المنع كونها ربا والاحاديث يفسر بعضها بعضا يحمل الكل على ذلك حتما قال المستفتى اما اثر ابى ابن كعب انه قال لزر بن حبيش انك بارض الربا فيها كبير فاش فاذا قرضت رجلا فاهدى اليك هدية فخذ قرضك واردد هديته ففيه كلثوم بن الاقمر مجهول اه صـ٢؛ قلت كلا بل هو معروف ذكره ابن حبان فى الثقات وقال روى عن جماعة من الصحابة روى عنه اهل الكوفة وهو اخو على بن الاقمر كذا فى اللسان؛ (صـ٤٨٩) وكذا اجزم عمران بن محمد بن عمران الهمدانى فى طبقات رجال همدان بانه اخوه وتبع فى ذلك ابن سعد كما فى التهذيب (صـ٢٨٤؛ جـ ٧) وعلى بن اقمر من الرجال الجماعة معروف

زيادت وي نو بيا جائزه ده كنه نو نه، نو دا صحيح كيدى شي او كه مونږ د علامه شوكاني خبره بغير د تاويل نه هم تسليم كړو بيا هم هغې نه مستفتي ته څه فائده نه شي رسيدلى، ځكه چه علامه دا د هغه قيد سره جائز كړى دى چه د قرض په وخت مشروط هم نه وي او په زړه كې اراده هم نه وي؛ علامه شوكاني د دې نه بعد فرمائي چه محاملي وغيره د شافعي قول دى چه قرض اخستونكي له مستحب دا دي چه هغه چه كوم قرض اخستلى دى د هغې نه ښه او بهتر ادا كړي.زه وايم چه دا خو وصف كې زياتوالى شو او كه داسې د شرط نه بغير وي نو د هغې په جواز كې د چا خلاف هم نشته دى، د دې نه وروستو ئې فرمايلي دي چه كوم قرض چه د نفع حاصلولو لپاره ذريعه جوړه كړى شي د دې د حراميدو دليل هغه دى كوم چه بيهقي د فضاله بن عبيد نه موقوفاً روايت كړى دى چه كوم قرض د نفع ذريعه جوړه كړى شي هغه هم د ربا په يو قسم كې

داخله ده، او سنن كبري كې بيهقي د ابن مسعود او ابي بن كعب او عبدالله بن سلام او ابن عباس نه هم موقوفا دا روايت كړى دى.زه وايم چه د شوكاني د كلام نه معلومه شوه چه دا ټول آثار د احتجاج قابل دي او دا ټول د فضاله بن عبيد د حديث هم معنى دي، نو د مستفتي د دې اثارو نه د بعضو په سند باندې كلام كول او دا ويل چه په بعضو كې د ربا ذكر نه دى راغلى لغو او باطل دي؛



ځكه چه په دې ټولو اثارو كې د هغه نفع نه منع كړى شوې ده كوم چه قرض باندې حاصل كړا شي، او ممانعت په اصل كې د تحريم دپاره وي او كله چه په بعضې اثارو د ممانعت علت دا ښودل شو چه دا نفع په ربا كې داخله ده نو ټول به په دې علت باندې محمول كړى شي ځكه چه يو حديث سره د بل تفسير كيږي، مستفتي د ابي ابن كعب په دې اثر كې چه هغوئ زر بن حبيش ته وفرمايل چه ته په داسې ځمكه كې اوسيږې چيرته چه ربا ډيره خوره ده نو كله چه ته چا له قرض وركړې او هغه تا له څه هديه دركړي نو خپل قرض خو وصول كړه او هديه واپس كړه، دا كلام ئې كړى دى او د دې په سند كې كلثوم بن اقمر مجهول دى اهـ. زه وايم چه بالكل نه بلكه هغه معروف دى، ابن حبان په ثقاتو كې شمار كړى دى، او ويلي دي چه دوئ د صحابه و نه روايت كړى دى، او د دوئ نه د كوفې والا روايت كوي او دا د علي بن اقمر ورور دى، عمران بن محمد بن عمران په طبقات همدان كې د ابن سعد سره موافقت كولو سره ښه په جزم سره د علي بن اقمر ورور ښودلى دى او علي بن اقمر د صحاح په راويانو كې مشهور دى، نو دا اثر هم د حسن نه كم نه دى؛

قال وكذلك ما روى ابن سيرين ان ابى بن كعب اهدى الى عمر بن الخطاب من تمر ارضه فردها فقال ابى لم وردت على هديتى وقد علمت انى من اطيب اهل المدينة تمرة فخذ عنى ما ترد على هديتى وكان عمر اسلفه عشرة الاف درهم قال البيهقى هذا منقطع اه صـ٢؛ قلت وماله؛ فان مراسيل ابن سيرين صحاح عندهم صرح به ابن عبدالبر فى اوايل التمهيد كما هو الجوهر النقى (صـ٣٢٣؛) قال وكذلك ما روى ابو صالح عن ابن عباس قال فى رجل كان له على رجل عشرون درهما فجعل يهدى اليه فجعل كلما يهدى اليه هدية باعها حتى اذا بلغ ثمنها ثلثة عشر درهما فقال ابن عباس لا تاخذ منه الا سبعة دراهم لان ابا صالح لم يسمع عن ابن عباس وكذلك ما روى سالم بن ابى الجعد كان لنا جار سماك عليه لرجل خمسون درهما فكان

همداسې مستفتي د ابن سيرين په دې اثر كې چه ابي بن كعب حضرت عمر ته په خپل باغ كې ځواري هديه وركړې نو حضرت عمر رضي الله عنه هديه رد كړه، ابي بن كعب وفرمايل چه تاسو زما هديه ولې واپس كړه حالانكه تاته معلومه ده چه د ټول مديني والا نه زما چواري پاكې دي، (او حلالې دي) تاسو زما نه هغه څيز واخلئ د كوم په وجې سره مو چه زما هديه واپس كړه (يعنې خپل قرض وصول كړئ) او حضرت عمر رضي الله عنه هغوئ ته ١٠٠٠٠ درهمه قرض وركړى وو، دا خبره ئې كړې ده او بيهقي ورته منقطع ويلي دي.زه وايم بيا څه وشو د

يهدى اليه السمك فاتى بن عباس فقال قاصه بما اهدى اليك اه ص۲۱؛ قلت اما قوله ان ابا صالح لم يسمع ابن عباس فان كان ابو صالح هذا اسمه ميزان البصرى فقد صحح ابن حبان حديثه عن ابن عباس فى زيادة النساء للقبور واورده فى صحيحة كما فى التهذيب؛ (ص۳۸۵؛ ج۱) والمنقطع ليس بصحيح عندهم ففيه دليل على سماع ابى صالح عن ابن عباس وان كان هو باذام اوباذان مولى ام هانى بنت ابى طالب فعدم سماعه عن ابن عباس ليس بمجمع عليه وانما؛ هو قول البعض قال الشوكانى فى النيل قد قيل انه لم يسمع ابن عباس اه؛ (ص۲۳۳؛ ج۳) وقد تابعه سالم بن ابى الجعد على رواية مثل تلك القصة عن ابن عباس وعدم سماع سالم منه لم تر احدا قاله غير المستفتى كيف وقد صرح سماعه عن ابن عمرو عند البخارى وعبدالله بن عمرو اقدم موتا عن ابن عباس كما فى دول الاسلام للذهبى وسمع عن جابر بن عبدالله عندهما كما فى كتاب الجمع بين رجال الصحيحين؛ (ص۱۸۸) وهو اى سالم اقدم موتا من عكرمة مولى ابن عباس كما يظهر من التقريب فكيف لا يسمع ابن عباس وايضا فان المرسل اذا تايد بمرسل اخر هو حجة عند الكل كما فى تدريب الراوى وغيره.

ابن سيرين مراسيل خو د محدثينو په نزد صحيح دي، حال دا چه په جوهر نقي كښ د حافظ ابن عبدالبر په حوالې سره د دې تصريح موجوده ده، مستفتي وائي داسې هغه حديث هم منقطع دى، كوم چه ابو صالح د ابن عباس نه روايت كړى دى، چه عبدالله بن عباس د يو كس متعلق د چا چه ۲۰ درهمه د بل په ذمه وو او هغه به ورله هديه وركوله، ده به د هغه هره هديه خرخوله تردې چه قيمت ئې ۱۳ ته ورسيدو، وېې فرمايل چه د ده نه صرف ۷ درهمه واخله (اوزياتې نه وي) ځكه چه د ابو صالح سماع د حضرت ابن عباس نه ثابته نه ده داسې د سالم بن ابي الجعد دا روايت هم (منقطع دى) چه زمونږ ګاونډي ماهي نيوونكى وو، هغه باندې د چا ۵۰ درهم قرض وو، هغه به ورته ماهيان په هديه كې وركول، نو هغه قرض وركونكي د حضرت ابن عباس خوا له (دمسئلې دپوښتنې لپاره) راغى، عبدالله بن عباس ته وفرمايل چه دا هديه هم په خپل قرض كښ محسوب كړه.زه وايم چه د مستفتي په دې

قول كې د ابو صالح سماع د ابن عباس نه ثابت نه دي، زمونږ دا كلام دى چه كه دا ابو صالح هغه وي د كوم نوم چه ميزان بصري دى، نو د هغه حديث خو ابن عباس نه د ښځو د قبرونو د زيارت كولو كې ابن حبان په خپل صحيح كې داخل كړي دي او منقطع د محدثينو په نزد صحيح نه شو، د دې نه معلومه شوه چه د ابو صالح سماع د ابن عباس نه ثابته ده، او كه د ده نوم باذام يا باذان مولى امهاني دى نو د ابن عباس نه د دې سماع نه كيدل متفق عليه نه دي، بلكه د بعضو دا قول دى لكه



ښكه چه د علامه شوكاني د بيان نه معلوميږي بيا سلم ابن ابي الجعد هم داسې قصه د ابن عباس نه روايت كړې ده لكه ښكه چه ابو صالح بيان كړې دي، او د سالم ابن ابي الجعد د ابن عباس نه سماع نه كيدل د مستفتي په خبره كې نه دي كتل شوي او د مستفتي دا دعوه څكه چليدى شي، حال دا چه د سالم بن ابي الجعد سماع د عبدالله بن عمرو بخاري په نزد او د عبدالله بن عمرو وفات د عبدالله بن عباس نه وړاندې شوى وو، او سالم د جابر بن عبدالله صحابي نه اوريدلى دى، او د سالم وفات د عكرمه مولي ابن عباس نه وړاندې وشو.بيا به د عبدالله بن عباس نه د دې سماع ولې نه كيږي، د دې نه علاوه دا به د يو مرسل تائيد كله چه د بل مرسل سره وشي نو دا بالاتفاق حجت دى،

قال المستفتى واثر فضالة بن عبيد مع ضعفه ايضا ليس فيه لفظ الربا بل لفظه كل قرض جر منفعة فهو وجه من وجوه الربا فظاهره يدل على انه ليس بربا بل له شبه من الربا اه وقال فى الحاشيه اخرجه البيهقى بسند ابراهيم بن سعد عن ادريس بن يحيى عن عبدالله بن عياش وعبدالله بن عياش منكر الحديث وابراهيم لم يعرف حاله وكذا حال ادريس ويمكن ان يكون ادريس بن يحيى الخولانى ذكره ابن حبان فى ثقاته اه ص۲۱؛ قلت عبدالله بن عياش روى له مسلم استشهادا وقال ابو حاتم ليس بالمتين صدوق يكتب حديثه وذكره ابن حبان فى الثقات كما فى التهذيب (ص۳۵۱؛ ج۵) ومنكر الحديث ليس يجرح فى كلام غير البخارى مالم يعرف ان النكرة منه اومن هو فوقه ودونه ومالم يعرف قلتها من كثرتها فعبد الله(1) هذا احسن الحديث البتة لا سيما وقد استشهد به مسلم فى صحيحه وابراهيم بن سعد وادريس بن

د دې نه وروستو مستفتي وائي چه د فضاله بن عبيد په اثر كې د ضعف نه علاوه دا خبره هم ده چه په دې كې د ربا لفظ نشته دى بلكه الفاظ ئې دا دي چه كوم قرض چه د نفع حاصلولو ذريعه جوړه شي هغه هم د ربا په صورتونو كې يو صورت دى، د دې نه په ظاهره دا معلوميږي چه دا ربا نه ده بلكه ربا سره مشابه ده او مستفتي د كتاب په حاشيه كې ليكلې دي چه د دې په سند كې عبدالله بن عياش منكر الحديث دى، او د ابراهيم بن سعد او ادريس بن يحيى حال معلوم نه دى.زه وايم چه د عبدالله بن عياش نه.مسلم په خپل حديث كې د استشهاد په طور روايت كړى دى، او ابن حبان هغه په ثقاتو كې شمار كړى دى، ابو حاتم ورته رشتينې ويلي دي او لفظ منكر الحديث كه د بخاري نه سوا د بل په كلام كې وارد وي نو په دې سره جرحه نه لازميږي ترڅو پورې چه دا معلومه نه وي چه

1 - فان قلت فلم ضعف الحافظ بن حجر اثر فضاله في بلوغ المرام قلت كملة احج قول من ضعف عبدالله بن عياش هذا ولكنه لا يمشى على اصلنا فان التعديل مقدم عندنا على الجرح اذا كان غير مفسروان كان عدد المضعفين اكثر ۱۲ منه.

یحیی لم یضعفهما الذهبی فی المیزان مع التزامه ان لایحذف اسم احد ممن له بتلیین مافی کتب الایمة فهما ثقتان ومن هنا قال الهیثمی فی مجمع الزواید (صـ۱۳ جـ۴) ان شیوخ الطبرانی الذین لم یضعفوا فی المیزان ثقات اه فالحدیث حسن اما قوله فظاهره یدل علی انه لیس بربا بل له شبه من الربا ففیه ان هذا الظاهر خفی عندنا بل الظاهر ان المراد بوجه الربا مارواه عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنهم اجمعین عن النبی ﷺ قال الربا ثلاث وسبعون بابا ایسرها مثل ان ینکح الرجل امه رواه الحاکم وقال صحیح علی شرطهما کذا فی الترغیب للمنذری وبمعناه اثارا عدیدة (صـ۱۳۳) فالمعنی ان کل قرض جر منفعة فهو باب من ابواب الربا التی ادناها ان یزنی الرجل بامه وایضا فان الاحتراز عن شبة الربا واجب ایضا وهذا اذا لم تکن المنفعة مشروطة والا فهی اشد الربا واعظمه لکونه من ربا الجاهلیة التی نهی عنه القران ومن شواهده ما رواه مالک فی الموطا انه بلغه ان رجلا اتی عبدالله بن عمر فقال یا ابا عبدالرحمن انی اسلفت رجلا سلفا واشترطت علیه افضل مما اسلفته فقال عبدالله بن عمر فذلك الربا وقال مالک انه بلغه ان عمر بن الخطاب قال فی رجل سلف رجلا طعاما علی ان یعطیه ایاه فی بلد اخر فکره ذلك عمر وقال فاین الحمل یعنی حملانه قال المحشی نقلا عن المحلی ای اجرة الطعام وصار ذلك قرضا جر منفعة وهو ربا بالنص اه قال مالك انه بلغه ان ابن مسعود کان یقول من اسلف سلفا فلا یشترط افضل منه وان کان قبضة من علف فهو ربا اه (صـ۲۸۳) قلت

نکارت د دې طرف نه دی، یا د هغه د مشائخو او شاګردانو طرف نه دی، او نکارت لږ دی او که زیات دی، پس د عبدالله بن عیاش حدیث یقینا حسن دی، خصوصا کله چه مسلم د دې نه استشهاد کړی دی او ابراهیم او ادریس امام ذهبي په میزان کې ضعیف نه ښودل حال دا چه هغوئ د دې التزام کړاې دی چه په کوم راوي کې کله هم کلام وي هغه به په میزان کې ضرور بیانوي، د دې التزام په بنا باندې حافظ حیشمي په مجمع الزوائد کې تصریح کړې ده چه د طبراني کومو شیوخو ته چه په میزان کې ضعیف نه دي ویل شوي هغه ټول ثقات دي، نو د فضاله بن عبید دا اثر حسن دی، پاتې شوه دا خبره چه په ظاهره د دې نه دا معلومیږي چه دا ربا نه ده بلکه د ربا مشابه ده د دې جواب دا دی چه دا ظهر زمونږ په نزد خفي دی، بلکه زمونږ په نزد په ظاهر کې د دې معنی هغه ده کوم چه د عبدالله بن مسعود د حدیث معنی ده چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه د سود ۷۳ شعبې دي، په کوم کې چه د ادنيٰ شعبې ګناه داسې ده لکه څوک چه د خپل مور سره زنا وکړي، دا حاکم روایت کړی او د شیخینو په شرط ئې صحیح ښودلي دي، په ترغیب کې همداسې



وبلاغات مالك کلها مسندة صحاح سوی اربعة لیست هذه منها کما تقدم.

مذکور دي، او په دې معنی نور روایتونه هم دي، نو مطلب دا شو چه کوم قرض د فائدې سبب شي هغه هم د ربا د شعبو نه یوه شعبه ده، د کوم چه ادنی درجه په ګناه کې داسې ده لکه د مور سره زنا کول، د دې نه علاوه چه شبیه ربا (کیدو د وجې نه د دې جائز کیدل څنګه معلو[م] شوه بلکه د شبیه ربا) نه هم بچ کیدل واجب دي او دا خبره نو هله ده چه کله په قرض کې نفع نه وي شرط شوې او که مشروط وي نو هغه خو ربا سنګینه درجه ده څکه چه هغه خو د ربا جاهلي یو قسم دی، کوم چه قرآن حرامه کړې ده، او د حدیث کل قرض جر نفعا الخ یو شاهد هغه دی کوم چه مالک په موطا کې بیان کړی دی، چه هغوئ ته دا خبر رارسیدلی دی چه یو کس د حضرت عبدالله بن عمر خوا له راغی او تپوس ئې ترې وکړو چه ما یو کس ته قرض ورکړی وو، دا مې پرې شرط کړی دی چه د خپل قرض نه به افضل وصولوم عبدالله بن عمر ورته وفرمایل چه دا خو سود دی، امام مالک فرمائي چه هغوئ ته دا خبر هم رارسیدلی دی چه د حضرت عمر رضي الله عنه نه سوال وکړی شو چه یو کس بل ته غله په دې شرط سره ورکړه چه بل ښار کې ئې ماته راکړه نو حضرت عمر رضي الله عنه د دې کراهت ظاهر کړو او وې فرمایل چه هغه د مال باروول څه شول.محشي د محلي په حوالې سره د دې په شرحه کې ویلي دي چه د مال وړلو نه مراد مزدوري ده، مطلب دا دی چه دا خو هغه قرض کې داخل شو چه د فائدې سبب کړی شي، څکه چه قرض ورکونکي قرض ورکولو سره د بار وړلو اجرت نه ځان بچ کول غواړي، امام مالک فرمائي چه هغوئ ته خبر رارسیدلی دی چه حضرت عبدالله بن مسعود به فرمایل چه کوم کس بل ته څه قرض ورکړي نو د هغه نه د بهتر وصولولو شرط دې نه لګوي. که یو موټی چاره هم زیاته واخلي نو هغه به ربا وي، زه وایم چه د مالک بلاغات ټول صحیح دي او دا د هغې نه نه دي

ومن شواهده ایضا ما اخرجه البخاری عن عبدالله بن سلام انه قال لابی بردة بن ابی موسی انك بارض فیها الربا فاش فاذا کان لك علی رجل حق فاهدی الیك حمل تین او حمل شعیر او حمل قت فلا تاخذه فانه ربا کذا فی النیل (صـ۲۲۲ جـ۵) وقول المستفتی انه متروك العمل باتفاق الامة صـ۲۲۲ باطل قطعا وفریة بلامریة

او د حدیث کل قرض جر نفعا یو شاهد هغه دی کوم چه امام بخاري د عبدالله بن سلام نه روایت کړی دی چه هغوئ ابو برده ابن ابي موسی ته وفرمایل چه ته په داسې ځمکه اوسیږې چیرته چه ربا ډیره عامه ده، نو کله چه ستا په چا حق وي او هغه تاته هدیه درکړي نو هغه ترې مه اخله

حتماً كما ذكرناه غير مرة وقوله انه مضطرب كما في صـ... دعوى بلا بينة منشاها الغفلة عن معنى الاضطراب ومن شواهده ايضا ما رواه حماد بن سلمة في جامعه (عن ابي هريرة مرفوعا) بلفظ اذا ارتهن شاة شرب المرتهن من لبنها بقدر علفها فان استفضل من اللبن بعد ثمن العلف فهو ربا كذا في نيل الاوطار (صـ١٠٢ جـ٥) ومعناه اذا اذن الراهن للمترهن في شرب لبنها بالنفقة والا فقال الشافعي وابوحنيفة ومالك وجمهور العلماء لا ينتفع(١) المرتهن من الرهن بشيء بل الفوايد للراهن والمون عليه كما في النيل ايضا واذا كان ما استفضل من اللبن بعد ثمن العلف ربا مع كونه في مقابلة العلف ويصح مقابلة اللبن الكثير بالعلف القليل في البيع وانما منع عنه في الرهن لكون الراهن لا يرضى بذلك الا لما عليه من ثقيل الدين وضلع القرض كان الفضل المشروط في القرض ربا حتما لكونه ليس في مقابلة شيء غير الاجل فافهم واما تلقى الامة هذا الحديث بالقبول فدليل ذلك اتفاق فتاوى المجتهدين على حرمة المنفعة التي جرها القرض وعدهم اياها من الربا قال محمد في الآثار اخبرنا ابوحنفية عن حماد عن ابراهيم.

ځکه چه دا سود دی، او د مستفتي دې تـه د امت په اتفاق متروک العمل ویل قطعا باطـل او صریح بهتان دی، لکه څنګه چه څو ځل مونـږه بیان کړی دی او دې اثر ته مضطرب ویل دعوت بلا دلیل د کوم منشا چه د اضطراب د معنی نـه ناواقفیت دی او د دې حدیث یو شاهد هغه دی کوم چه حماد بن سلمي په خپل جـامع کـې د حضرت ابو هریره نه مرفوعـاً پـه دې الفـاظو روایت کړی دی چه کله یو کس د چا چیلـۍ ګرو کړي نو مرتهن د چارې د قیمت په اندازه د هغې شیدې څښلی شـي او د چـارې قیمـت وصولولو نه بعد چه کومې شیدې زیاتې شي هغه ربا ده (نیل الاوطار) مراد دا دی چه کله راهـن مرتهن ته اجازت ورکړي چه د چارې په بـدل کې دې شیدې څښې هغه وخت کې دا حکـم دی کنه نو د امام شافعي، ابو حنیفه او امام مالک په نزد مرتهن له د مرتهن نه هـر قـسم فائـده اختسل جائز نه دي بلکه منافع هم د راهن دی، او د خاروي مصارف هم د هغه پـه ذمـه دي، اوس پوهه شه چه د چارې د قیمت نـه زیـاتو شودو ته چه هم کله نبي ﷺ ربا وویله حـال دا چه دا شیدې د چارې په بدل کې اخستل کیږي او د بیعې په صورت کې لږه چاره ډیرو شـودو عوض جوړول جائز دي مګر د رهن په صورت کې د دې وجـې نـه نـه دي جـائز کـړی

١ - وما ذكر في بعض كتب الفتاوى من جواز الانفاع بالمرهون باذن الراهن فلا يصح اصلا وانما هو قول بعض المتاخرين ولا عبرة بـه اذا كان خلاف المنقول عن الامام ومعارضا للحديث وان سلم فلا راحـة للمستفتي فيه لا تفاقهم على حرمة الانتفاع به اذا كان مشروطا قـال الطحاوي، والغالب من احوال الناس انهم انما يريدون عنـد الـدفع الانتفاع ولولاه لما اعطاه الدراهم ندا بمنزلة الشرط فـان المعـروف كالمشروط هو مما يعين المنع والله تعالى اعلم؛ كذا فـي رد المختـار صـ٤٧٨، جـ٥، فقط.



شوي چه راهن به د قرض د دباو د وجې نه په دې باندې راضي وي او په خوشحالۍ سره به راضي نه وي نو کله چه په قرض کې د زیات وصولولو شرط وي نو هغه به ولې ربا نه وي ځکه چه دا زیاتوالی خـو د مودې او اجل په مقابله کې دی، د بل څیز نه، اوس ښه پوهه شه، اوس پاتې شوه دا خبره چه امـت ددې حدیث په قبلولو سره د دې خبرې تلقي کړې ده، د دې دلیل دا دی چه د ټولو مجتهـدینو فتـاوي د دې منفعت په حرمت باندې متفق دي کومې چه په قرض سره حاصل کړی شي او ټولو دا په ربا کـې شـمار کړې ده، امام محمد په کتاب الاثار کې د ابراهیم نخعي نه روایت کړی چه:

قال كل قرض جر منفعة فلا خير فيه وبه ناخذ وهو قول ابي حنيفة اه (صـ١١١) وقوله لا خير فيه لا ينافي الحرمة لما مر ان الفقهاء ربما اطلقوا المكروه ولا خير فيه على الحرام واصحاب المتون والشروح من العلماء اعرف بما اراد صاحب المذهب من غيرهم وقد صرح في الدر والخلاصة بحرمته كما مر فهي المرادة وقال في المدونة الكبرى لمالك وقد سيل عن رجل له على رجل دين ايصلح له ان يقبل منه هدية قال مالك لا يصلح ان يقبل منه هديته الا ان يكون رجلا كان ذلك بينهما معروفا وهو يعلم ان هديته ليس لمكان دينه فلا باس بذلك قال ابن وهب عن محمد بن عمرو عن ابن جريج عن عطاء بن ابي رباحة [illegible] له رجل الى اسلف رجلا فاهدى لي قال لا تاخذه قال قد كان يهدى الي قبل سلفي قال فخذ منه قال عطاء الا ان يكون [illegible] اوحاصتك لا يهدى لك لما تظن فخذ منه وعن يحيى بن سعيد انه قال اما من كان يتهادى هو وصاحبه وانكان عليه دين اوسلف فان ذلك لا يتقابحه احد ثم ذكر اثر ابي بن كعب في اهدايه الى عمر هدية فردها اليه وقد مراه (صـ١٩٩ جـ٣) وقال في

کوم قرض چه د منفعت حاصلولو ذریعه جوړه شي په هغې کې خیر نشته، محمد فرمائي چه مونږ هم د دې قائل یو او د امام ابو حنیفـه محمد همدا قول دی، او ابراهیم نخعـي دا ویل چه په دې کې خیر نشته، د حرمت منافي نه دی ځکه چه فقهاء بعضې وختونو کې پـه حرامو الفاظو باندې هم دا اطلاق کوي او د صاحب مذهب مراد او د متونو او شـروحو اصحابو باندې د نورو نه ښه پوهیږي، او در مختار او خلاصه وغیره کې د دې د حرمـت تصریح مو[illegible] ده، نو د لا خیر فیه نه حرمت مراد دی، او مدونه کبری مالکیه کې دي چه د ابن قاسم نه سوال وکړی شو چه د یو کس په بل باندې قرض وي نو ایا هغه به د هغـه هدیه قبلول جائز دي، امام مالک فرمایلي دي چه قبلول ئې جائز نه دي، البتـه کـه د دې دواړو ترمنځ د دې نه وړاندې د دې معمول وي او په دې پوهیږي چه د قرض د وجې نه

باب السلف الذی یجر منفعة وکذلك ان اقرضه دنانیر اودراهم طلب المقرض المنفعة بذلك لنفسه ولم یعلم بذلك صاحبه الا انه کره ان یکون فی بینه واراد ان یحرزها فی ضمان غیره فاقرضها رجلا قال مالك لایجوز هذا قلت ارایت ان قال المقرض انما اردت بذلك منفعة نفسی ایصدق فی قول مالك ویاخذ حقه قبل الاجل قال لا یصدق ولکنه قد جرح فیما بینه وبین خالقه قلت وان کان امرا معروفا ظاهر یعلم انه انما اراد المنفعة لنفسه اخذ حقه حالا ویبطل الاجل فی قول مالك قال نعم لانه لیس بسلف(۱) والتمام الی الاجل الحرام وانما مثل ذلك الذی یبیع البیع الحرام الی اجل فیفسخ الاجل اویکون علیه قیمته نقد فیفسخ الاجل اذافاتت السلعة ولا یوخر القیمة الی الاجل قال وسمعت مالکا یحدث ان رجلا اتی عبدالله بن عمر فقال یا اباعبدالرحمن انی اسلفت رجلا سلفا واشترطت علیه افضل مما اسلفته فقال عبدالله ذلك الربا، فقال کیف تامرنی یا اباعبدالرحمن قال السلف علی ثلاثة وجوه سلف ترید به وجه الله فلك وجه الله وسلف ترید به وجه صاحبك لیس لك الاوجه صاحبك سلف تسلفه لتاخذ خبیثا بطیب فذلك الربا قال فماذا تامرنی یا اباعبدالرحمن فقال اری ان تشق الصحیفة فان اعطاك مثل الذی اسلفته قبلته وان اعطاك دون ما اسلفته فاخذ به اجرت الحدیث قال ابن عمر ان القرض منحة وقال القاسم

۱ - فیه دلیل علی ان القرض اذا ارید به المنفعة فلیس هو بقرض وانما هو کالبیع ۱۲ منه.

۲ - اي ترید ارضاه، لمصالح دینویة لا لکونه اخاك في الاسلام ۱۲ منه.

نه دی، هدیه کړاي شوي نو څه باک نشته، ابن وهب د محمد ابن عمرو نه هغه د ابن جریح نه روایت کوي چه عطاء بن ابي رباح ته یو کس عرض وکړو چه ما یو کس ته قرض ورکړی دی، هغه ماته هدیه راکوي نو ویې فرمایل مه ئې اخله، هغه وویل چه ماته به ئې د قرض نه وړاندې هم هدیه راکوله نو ویې فرمایل بیا ئې ترې واخله، عطاء وفرمایل چه که ستا څوک خاص عزیز یا دوست وي چه د هغه په هدیه ستا دا ګمان نه وي (چه د قرض د وجې نه ئې راکوي) نو د هغه نه ئې واخله او د یحیی بن سعید نه ئې روایت کړی دی چه هغه فرمائي چه د کومو خلکو ترمنځ د هدیې لین دین وي که په هغوئ کې د یو په بل باندې قرض هم وي نو د هغه هدیه څوک بده نه ګڼي بیا ئې د ابي بن کعب اثر بیان کړو چه هغوئ حضرت عمر له هدیه ورکړې وه او هغوئ واپس کړه. په مدونه په دویم باب کې چه قرض د نفع حاصلولو په باره کې څه ویلي دي چه که چاته درهم یا دینار قرض ورکړی شي او قرض ورکونکی د خپل ځان لپاره د نفع غوښتونکی وي مګر قرض اخستونکی د هغې خبر نه ورکوي بلکه (د هغه په زړه کې دا خبره ده چه) خپل کور کې روپۍ ساتل نه خوښوي، قرض ورکوي



وسالم انه لاباس به (ای بان یستسلف بافریقیة دینار جرجیریا ویرده بمصر منقوشا) مالم یکن بینهما شرط وقال ابن عمر من اقرض قرضا فلا یشترط الاقضاءه وقال ابن وهب عن رجال من اهل العلم عن ابن شهاب وابی الزناد وغیر واحد من اهل العلم، ان السلف معروف اجره علی الله فلا ینبغی لك ان تاخذ من صاحبك فی سلف اسلفته شیئا ولا تشترط الا الاداء قال عبدالله بن مسعود لمن سلف سلفا واشترط افضل منه وان کان قبضة من علف فانه ربا ذکره عن مالك، بن انس قلت ارایت ان اقرضتك حنطة بالفسطاط علی ان توفیها بالاسکندریة قال مالك ذلك حرام(۱) قال مالك نهی عنه عمر بن الخطاب اه (صـ۱۹۳، ۱۹۵ جـ۳) وقال عطاء کانوا (ای الصحابة) یکرهون کل قرض جر منفعة اخرجه ابن ابی شیبة بسند صحیح عنه کما ذکره المستفتی وقد مر وقال المستفتی ان جمهور الفقهاء یستدلون علی حرمة منافع القرض بحدیث کل قرض جر منفعة فهو ربا اه (صـ۳) قلت فقد اعترف بان الایمة والامة تلقوه بالقبول وقد ذکرنا فی الاصل الرابع ان مدار تصحیح الحدیث لیس علی الاسناد فقط بل قد یکون صحیحا اذا تاید بما یدل علی صحته من القراین او تلقاه الناس بالقبول اما القول واما بالعمل علیه والافتاء به وای قرینه اقوی من موافقته اجلة الصحابة له. ومطابقة فتوی الفقهاء ایاه واتفاق الصحابة ومن بعدهم علی کون

۱ - قلت فیه دلالة علی ارادة الحرام بلفظ الکراهته فان الروایة فان الروایة عن عمر انما هي بلفظ الکراهته کما تقدم عن الموطا ۱۲ منه.

او په بل چا باندې روپۍ ساتي امام مالک وفرمایل چه دا صورت جائز نه دی، ابن قاسم ته وویل شول چه که قرض ورکونکی دا دعوه وکړي چه ما د قرض ورکولو په وخت د نفع قصد کړاۍ وو نو ایا د مالک په نزد به د هغه د دې قول تصدیق کیږي، او هغه به خپل حق د معین وخت نه وړاندې واخستلی شي، ویې ویل د هغه د قول تصدیق به نه کیږي، مګر باطنا د الله ﷻ په نزد ګناهګار شو، ابن قاسم ته وویل شول چه که د قرض ورکونکي د حالت نه صفا طور سره دا معلومیږي چه هغه د خپل ذاتي نفع لپاره قرض ورکړی وي نو ایا په دې صورت کې د هغه خپل حق اخستلی شي او د وخت تعین به د مالک په نزد باطل شي، ویې فرمایل هو، ځکه چه دا قرض نه دی او د دې موده پوره کول حرام دي، او د دې مثال داسې دی لکه یو کس چه حرامې طریقې سره یوه موده مقرره کړي او بیعه وکړي نو موده به فسخه شي او که مبیع هلاک شو نو هغه وخت کې نغد قیمت په خریدار ادا کول واجب دي، د معلومې مودې پورې به مهلت نه ورکول کیږي، ابن قاسم وفرمایل چه ما د امام مالک نه اوریدلي دي چه هغوئ به حدیث بیانولو چه یو کس د عبدالله بن عمر خوا

اشتراط الزيادة والمنفعة فى القرض ربا كما قاله عطاء والعلامة العينى وابن رشد المالكى وغيرهم من العلماء واذا تقرر ذلك فقول امام الحرمين والغزالى الى انه (اى حديث كل قرض جر منفعة فهو ربا ۱۲) صح كما ذكره الحافظ فى التلخيص ولم يرده عليهما (۲۳۵ ج ۲) صحيح لاغبار عليه واما قول الشوكانى فى النيل لاخبرة لهما بالفن منشاء عدم الفهم لوجه قولهما فانهما لم يصححاه على طريقة علم الاسناد بل صححاه لتلقى الناس له بالقبول واتفاق عملهم وفتاواهم عليه مفافهم ولا تكن من الغافلين والحديث اذا تلقاه الامة بالقبول يصير بذلك مشهورا فوق الاحاد حتى يجوز به الزيادة على الكتاب كما صرح به الاصوليون فى غير موضع هذا ومما يدل على كون الربا غير البيع خلاف ما رواه الاوزاعى عن النبى ﷺ انه قال ياتى على الناس زمان يستحلون الربا بالبيع قال ابن القيم والحديث وان كان مرسلا فانه صالح للاعتضاد به بالاتفاق وله من المسندات ما يشهد (۱) له كذا فى النيل (ص ۰٫ ج ۵) فلو كان الربا بيعا لم يكن لاستحلا له بالبيع معنى فان الشيى انما يستحل باسم غيره من المباحات كما فى الحديث عن ابى مالك الاشعرى انه سمع رسول الله ﷺ يقول تشرب ناس من امتى الخمر يسمونها بغير اسمها يخسف الله بهم الارض ويجعل الله منهم القردة والخنازير رواه ابن ماجه وابن حبان فى صحيحه

له راغی او ورته وې فرمايل چه ای ابو عبدالرحمان ما يو کس له قرض ورکړی دی او په هغه مې دا شرط کړی دی چه د دې نه به بهتر اخلم، وېې فرمايل دا خو سود دی، هغه عرض وکړو چه تاسو ماته دا حکم څنګه راکوئ؟ وېې فرمايل د قرض درې قسمونه دي، يو هغه چه په هغې کښې د الله ﷻ ذات مطلوب وي، نو هغې سره خو به د الله ﷻ رضا حاصليږي، يو قرض هغه دی په کوم سره چه د خپل دوست راضي کول مقصد وي، په هغې کې به د دوست د رضا حاصلولو نه نور هيڅ هم ملاو نه شي (او ثواب حاصل شي)، او يو قرض دا دی چه خپل پاک مال ورکړې او ګنده مال اخستل وغواړې (يعنې قرض ورکولو سره نفع حاصلول وغواړې) نو دا سود دی، وېې ويل نو بيا تاسو ماته څه حکم راکوئ؟ وېې فرمايل چه دا کاغذ (کوم کې قرض مقدار شرط وغيره ليکل شوي دي) وشلوه (او قرض ورکونکي ته ووايه چې مونږ دې شرط نه رجوع کړي) نو که بيا هغه تاته د قرض برابر درکړي نو قبول ئې کړه او که کم درکړي نو ثواب به درته ملاو شي الخ. ابن عمر وفرمايل قرض يوه عطيه ده او د قاسم او سالم قول دی چه که يو کس په افريقه کې د چا نه صفا دينار قرض واخلي او په مصر کې نقشين دينار ورکړي نو دې کې څه خبره نشته کله چه هغه شرط کړی شوې نه وي، او د ابن عمر ارشاد دی چه څوک چه چا له قرض ورکړي نو په هغه باندې دې د قرض ادا کولو نه سوا

---

۱ - منه ما مرني قول ابن القيم في ص ۲۷، من هذا الكتاب ولفظه وقد ذكر الشارع هذه الحكمة بعينها فانه حرمه سد الذريعة رب النساء فقال في تحريم ربا الفضل فاني اخاف عليكم الدما والدما هو الربا آه واللفظ رواه مالک في موطاه عم عمرو فيه اني اخاف عليكم الربا بالماء ص ۲۶۱، ۱۲ مولف.



كما فى الترغيب (ص ۳۱۷) فعلم بذلك ان الربا الحقيقى هو غير البيع واما البيوع التى عدها الاشارع عليه السلام من الربا فهى ربا غير حقيقى الحقت بالحقيقى سد اللذرايع وهذا هو الذى يدل عليه لفظ القرآن ذلك بانهم قالوا انما البيع مثل الربوا واحل الله البيع وحرم الربا فانه مشعر بالتفرقة بينهما خلاف ما زعمه المستفتى من كون الربا من البيع ومعنى الاية واحل الله البيع لذاته (الا ما حرمه لعارض سد الذريعة الى الربا ۱۲) وحرم الربا لذاته (وما هو تعارفه اهل الجاهلية ۱۲) فالربا والبيع شيبان مفترقان هذا حرام لذاته وهذا حلال لذاته فافهم فان الحق لا يتجاوز عنه وهو الذى صرح به غير واحد من العلماء كما تقدم.

نور هيڅ هم نه شرط کوي، ابن وهب د ډيرو علماو په واسطې سره د ابن شهاب او ابو الزناد او د ډيرو اهل علمو قول بيان کړی دی چه قرض يو احسان دی د کوم ثواب چه د الله ﷻ په ذمه دی، نو تاته د قرض په ورکولو څه زيات اخستل جائز نه دي، او د قرض اخستلو نه علاوه نور هيڅ هم مه شرط کوئ او ابو مسعود فرمايلي دي چه کوم کس چا ته قرض ورکوي او د هغې نه د زيات وصولولو شرط ولګوي که يو موټې چاره هم وي نو هغه ربا ده. دا مالک بن انس د ابن مسعود نه روايت کړی دی، ابن قاسم ته وويل شول چه که زه تاته فسطاط مصر کې په دې شرط غله درکړم چه تاسو ئې ماته په اسکندريه کې ادا کړئ نو دا شرط څنګه دی؟ وېې فرمايل چه امام مالک دې ته حرام ويلي ديچه صحابه و به د هغه قرض نه کراهت کولو د کوم نه چه نفع حاصله کړی شي دا ابن ابي شيبه په صحيح سند سره روايت کړی دی. او مستفتي پخپله ويلي دي چه جمهور فقهاء د قرض د منافع په حرمت باندې د کل قرض جر منفعة الخ نه استدلال کول نو هغه پخپله اقرار وکړو چه ټولو ائمه و او امت په قبول سره د دې حديث تلقي کړې ده نو په څلورم اصل کې مونږ وښودله چه د صحيح حديث مدار صرف سند باندې نه دی بلکه کله قرائنو سره هم حديث صحيح کيږي، او تلقي القبول سره هم که تلقي عملا وي او که قولا او د دې حديث د صحت لپاره به د دې نه بله لويه قرينه څه وي چه لويو صحابه و د دې موافقت کړی دی او د فقهاو فتوی ګانې د دې موافق دي، او صحابه و او تابعينو وغيره په دې باندې اجماع کړې ده چه په قرض کې د زياتوالي يا فائدې شرط لګول ربا ده لکه څنګه چه عطاء او علامه عيني او ابن رشد مالکي او د هغوئ نه سوا د نورو علماو د اقوالو نه ثابت شول اوس پوهه شه چه امام الحرمين او غزالي چه کوم حديث کل قرض الخ ته صحيح ويلي دي لکه څنګه چه ابن حجر په تلخيص جبير کې بلا تردد ذکر کړی دی، د هغوئ قول بغير د غبار نه صحيح دی او علامه شوکاني چه دې ويلو سره دا قول

رد کړی دی چه دا دواړه د حدیث د فن سره واقفیت نه لري، د هغوئ منشا دا ده چه شوکاني د هغوئ د قول د وجې نه نه دی پوهه شوی، ځکه چه امام الحرمین او غزالي د علم اسناد په طریقې سره د دې تصحیح نه ده کړې بلکه د امت تلقي بالقبول او د فقهاو د فتاوی ګانو او د عمل د موافقت د وجې نه ئې دې حدیث ته صحیح ویلي دي، ښه پوهه شه، او ځان نه جاهل مه جوړوه او کله چه امت یوه خبره تلقي سره قبوله کړي نو د هغې د وجې نه هغه حدیث د احاد درجې نه د مشهور درجې ته رسیږي تردې چه په کتاب الله د هغې زیادت جائز وي، لکه څنګه چه اصولیینو په مختلفو مواقعو کې د دې تصریح کړې ده او د هغه دلائلو د جملې نه د کوم نه چه د ربا او بیع جدا جدا کیدل معلومیږي هغه حدیث دی کوم چه اوزاعي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کړی دی، چه رسول الله ﷺ وفرمایل په خلکو به یوه زمانه راشي چه په هغې کې به ربا په بیع (لوحه) سره حلالوي ابن القیم وائي چه دا حدیث اګرچه مرسل دی مګر د تائید لپاره بالاتفاق قابل دی، د دې په معنی کې متصل احادیث هم موجود دي، د دې حدیث نه د مستفتي دا دعوه چه ربا په بیعه کې منحصره ده باطل شو ځکه چه که ربا وي نو بیع په نوم سره د حلالولو څه معنی؟ قاعده خو دا ده چه حرام څیز د بل مباح څیز په نوم سره حلالوي نو د ابو مالک اشعري په حدیث کې دي چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه زما په امت کې به بعضې خلک شراب څښي او نوم به ورله بل ږدي، الله تعالي به ئې په ځمکه کې دننه کړي او بعضې به د بزوګانو او خنزیرانو په شکل مسخ کړي الحدیث. دا ابن ماجه په صحیح کې روایت کړی دی، د دې نه معلومه شوه چه حقیقي ربا د بیع نه جدا ده او کوم بیوع چه شارع په ربا کې شمار کړي دي هغه حقیقي ربا نه ده بلکه هغه ئې انتظام او سد باب د وجې نه ربا سره ملحق کړې دي، د قران الفاظو نه هم دا مفهومیږي ځکه چه الله تعالی فرمائي چه کفارو ته به دا سزا ځکه ملاویږي چه هغوئ داسې وویل چه بیعه خو هم د ربا په شان ده حال دا چه الله ﷻ بیعې ته حلال او ربا ته حرام ویلي دي، د دې نه صفا معلومیږي چه بیع او ربا دواړه جدا جدا دي او مطلب دا دی چه الله ﷻ بیع لذاته حلاله کړې ده د کوم عارض د وجې نه که حرامه شي بیله خبره ده او ربا ئې لذاته حرامه کړې ده نو ربا او بیع دواړه جدا جدا دي، دا په خپل ذات کې حرامه ده او هغه په خپل ذات کې حلاله، ښه پوهه شه چه حق همدا دی، دا ډیرو علماو صفا صفا بیان کړې ده لکه څنګه چه وړاندې مفصل معلوم شول.



قال المستفتی اخرا واذا کان القرض عبادة وصدقة فحکم الاستیجار والاستنفاع علیه کحکم الاستیجار علی الصدقات والعبادات کالاستیجار علی تعلیم القران وتعلیم الفقه والحدیث والاستیجار(ا) علی قران لتراویح وسایر امور الدین من الوعظ والتذکیر والافتاء الخ (ص۳۳) والجواب ان البغاث بارضنا لایستنسر وهذا کله من الاغلوطات والاباطیل التی لایلتفت الیها مسلم فی قلبه حب الله ورسوله ابدا فان القرض فی الاصل من المعاوضات ولذا یذکره الفقهاء فی المعاوضات والمعاملات لا فی العبادات والطاعات وانما هو تبرع ابتداء فقط کما مر مفصلا وایضا فان حرمة الاستیجار علی الطاعات لیس بمتفق علیها بین الامة والایمة ولم یرد فی حرمته نص قاطع بل النصوص فیها مختلفة بعضها تفید حله وبعضها حرمته قال النبی ﷺ ان احق ما اخذ تم علیه اجرا کتاب الله اخرجه البخاری فی صحیحه عن ابن عباس مرفوعا وبه احتج الایمة الثلاثة علی جواز الاستیجار علی الطاعات وحملوا ما یعارضه ان ثبت علی من تعین علیه التعلیم ولذا افتی المتاخرون من الحنفیة بقول الایمة الثلثة فی مثل ذلک لتعذر حفظ الدین والاحکام بدونه بخلاف الاستیجار والاستنفاع علی القرض فحرمته متفق علیها قد اجمعت الامة والایمة علیها کما قدمناه مفصلا فقیاس الحرمة المجمع علیها علی الحرمة المختلف فیها قیاس مع الفارق باطل لا محالة وانما افتی المتاخرون من الحنفیة بجوازه

مستفتي اخري خبره دا کړې ده چه کله قرض صدقه او عبادت دی نو په قرض کرایه اخستل داسې شول لکه په نورو عباداتو اجرت اخستل مثلاً د قران، فقهې، حدیث او تراویح باندې د اجرت اخستل جائزشونوهمدارنګه په قرض کرایه اونفع اخستل هم جائزوي ۱۲. د دې جواب دا دی چه زمونږ مځکې داسې کمزورې خبره نه شي چلیدی، دا بیهوده خبرې بل چا ته وکړئ، د چا په زړه کې چه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ څه لږ محبت وي هغه دې طرف ته توجه نه ورکوي ځکه چه قرض اصل کې عقود معاوضه دی نو ځکه فقهاو د اسباب معاوضات ومعاملات کې بیان کړي دي، د عباداتو او طاعاتو په باب کې ئې نهٔ دي بیان کړي، او ابتداءً دا تبرعات ګڼل شوي لکه څنګه چه په تفصیل سره وړاندې تیر شول،(پس پدی باندې دطاعاتواوعباداتوقیاس کول غلط دي ۱۲) دویم دا چه په مذکوره طاعاتو باندې اجرت اخستل خو د ائمه و په نزد بالاتفاق حرام نه دي او نه د دې په حراموالي کې قطعي نص راغلی دی بلکه په دې کې مختلف نصوص دي د بعضو نه د دې جواز معلومیږي او د بعضو نه حرمت، نو رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه په کومو څیزونو چه ته اجرت اخلې په هغې کې د ټولو نه زیات مستحق اجرت د قران دی، دا بخاري په خپل صحیح کې د ابن عباس رضي الله عنه

۱- لا یخفی ما فیه فان الاستیجار علی قرآن التراویح لم یجوزه الحنفیة اصلا ۱۲ منه.

لضرورة دينية لما شاهدوا في الناس من التكاسل والتقاعد في امور الدين وتعذر بقاء الدين وحفظه بدون الافتاء بمذهب الغير ولا ضرورة للدين الى اجازة الاستيجار (على القرض والاستنفاع منه بل فيه توهين الاسلام وتحقيره في عيون المخالفين وجعله اضحوكة بين الانام فان حرمة هذا الاستيجار واستقباحه مما جبلت عليه اهل الاديان كلها والناس كلهم يعدونه ظلما وعدوانا وينسبون فاعله الى البخل الذى لاداء دواء منه ولا يرضى به الا طايفة قليلة من الاغنياء الذين جمعوا المال وعددوه وقليل ما هم واما المعسرون والمفاليس وهم اكثر الناس عددا والموسرون الذين لا يجمعون المال فلا يرضون بربا القرض ابدا والواجب على وضع القانون مراعاة الاكثرين دون الاقلين فتحريم الربا من محاسن الشريعة الاسلامية ومناقبها التى جذبت القلوب اليها فالضرورة الدينية داعية الى تحريم ذلك حرمة ابدية والعجب من المستفتى ومن جراته على الاجتهاد من غير علم كيف يرضى بجعل الاسلام اضحوكة بين الانام وبزلته في عيون العقلاء اولى الافهام بتجويز الظلم الصريح الذى لا يجوزه الا طايفة من اللئام الطغام الذين قالوا انما البيع مثل الربا وذهلوا ان الله احل البيع وحرم الربوا هذا ولنجب بعد ذلك عن الاسيلة التى عرضها علينا المستفتى في خاتمة الكتاب مع الجواب والى الله المشتكى من تخليطه ولبسه الحق بالباطل والخطاء بالصواب.

نه روايت کوي او په همدې سره ائمه مالک، شافعی، احمد، ثلاثه هم په طاعاتو باندې د اجرت اخستلو جواز بيان کړی دی، او د دې معارض روايات ئې د ثبوت په شرط سره په دې صورت محمول کړي دي کله چه هغه کار په يو خاص کس باندې منحصر کړی شوي وي نو چونکه دا حرمت اتفاقي نه وو نو ځکه احنافو په دې مسئله کې د ائمه ثلاثه و په قول فتوي ورکړې ده ځکه چه د دې نه بغير د دين او د احکامو حفاظت کول سخت شوي وو، په قرض باندې د نفع او کرايه اخستلو خلاف چه د دې په حرمت باندې د ټولو ائمه و او ټول امت اجماع ده نو داسې حرمت چه اجماعي دی په هغه حرمت باندې قياس کول چه اختلافي دي بيهوده قياس دی، بيا حنفي متاخرينو په بعضې طاعاتو باندې د اجرت اخستلو ته صرف د ديني ضرورت د وجې نه جائز ويلي دي، کله چه هغوئ د مسلمانانو په دين کې سستي وليده او د دين بقاء او حفاظت سخت شو نو ځکه ئې د خپل مذهب خلاف د نورو امامانو په مذهب فتوا ورکړه او په قرض باندې کرايه او فائدې

اخستلو ته جائزولو کې ديني ضرورت هيڅ هم نشته بلکه د دې جائزولو کې نو د مخالفينو په نظر کې د اسلام توهين او تذليل دی، او اسلام د نورو مذهبونو والا دپاره د مشق تخته جوړول دي ځکه چه په [illegible]ض باندې کرايه او نفع اخستل عام طور باندې د ټولو اهل ايمان په نزد قبيح دي، ټول خلک دې ته



ظلم او تعدي وائي او داسې کوونکی د بخل په نوم بدناموي، د کوم نه چه بل کوم غټ عيب نشته او د دې فعل نه علاوه د سرمايه دارانو سره چه څومره مال او دولت جمع دی بل څوک نه خوشحاليږي او د سرمايه دارانو شمار په دنيا کې ډير کم دی، پاتې شو مفلس او تنګدست او زيات شمار د هغوئ دی، نو هغه غنيان چه مال نه جمع کوي د هغوئ نه هيڅکله نه خوشحاليږي (چې په قرض کرايه او نفع واخستل شي) او په وضعي قانون باندې دا لازمه ده چه د قوم د زياتو افرادو د نقصان رعايت وکړي نه چه د لږو نو د سود حراموال په اسلامي شريعت کې د هغه محاسن نه دي چه زړونه ئې خپل طرف ته مائله کړل نو د ديني ضرورتونو تقاضا دا وه چه ربا القرض د هميشه هميشه لپاره حرام کړی شي او د مستفتي دې جرات او بيباکانه اجتهاد ته حيرانيږو چه هغوئ اسلام د دنيا د تمسخر او د مشق تخته جوړولو او د عاقلانو په نظر کې د هغوئ ذليلولو باندې ځنګه راضي شو چه داسې صريح ظلم جائز ول غواړي کوم چه د يو کمينه جماعت نه علاوه دا خيال دی چه بيعه خو د ربا په شان ده او چا ورته جائز نه دي ويلي مګر دې خلکو دا خبره هيره کړه چه الله تعالي خو بيعه حلاله کړې ده او ربا حرام. بيا پوهه شه د دې نه وروستو مونږ د مستفتي د سوالونو هغه سلسله وار سوالونو جوابونه ورکول غواړو کوم چه هغه د کتاب په اخر کې د جواب سره ليکلي دي او په هغې کې چه هغه څومره تخليط او تلبيس نه کار اخستلی دی، او صواب ئې د خطا سره مشتبه کړی دی د دې فرياد مونږ صرف د الله ﷻ نه کوو.

(۱) فنقول لفظ الربا في اية احل الله البيع وحرم الربوا ليس بمجمل عرفا بل كانت العرب تعرفه وتفعله قبل نزول الاية وكذلك اهل الكتاب فان الله تعالى قد ذم المشركين وهل الكتاب لاكلهم الربوا وقد نهوا عنه ولم يكونوا يعرفونه حديث عبادة ولا غيره كما هو مصرح في قوله فان تبتم فلكم روس اموالكم وهو يقتضى وقوع الربا قبل نزول الاية حتما والسنة متاخرة عن الاية قطعا فلو كانت لفظة الربا في القران مجملة لا بيان لها الا بالسنة لكان اكلهم الربوا قبل (نزول الاية وقبل) معرفتهم بالسنة مستحيلا ولا يقول بذلك ولا

(۱) سوال دا دی چه ايات "احل الله البيع وحرم الربوا" کې د ربا لفظ مجمل دی او که نه دی خصوصا د احنافو په نزد، او که مجمل وي نو د دې تفسير قران او حديث کې ځنګه بيان شوی دی، د دې جواب دا دی چه لفظ ربا د عربو په عرف کې مجمل نه دی بلکه اهل عرب او اهل کتاب ټول د دې ايات د نزول نه مخکې ربا پيژنده او د دې لين دين به ئې کولو، حال دا چه ابوسعيد او عباده ئې پيژندل هم نه، نو د اهل کتابو مذهب په

يحمل كلام العلماء عليه الامن اعمى الله قلبه وجعل على بصره غشاوة بل مراد من قال بالاجمال فيها ان لفظ الربوا معروف المعنى وظاهر المراد عند اهل العرب ولكنه صار مجملا لما الحق الشارح به بعض ما لم يكن العرب يعرفه بالربا قال ﷺ الربا ثلث وسبعون بابا كما تقدم وقد ذهب الطحاوى من الحنفية وهو اعرف الناس بمذهبهم ومذاهب العلما الى ان ربا القران غير ربا السنة كما قدمناه فالقول بان الربا المذكور مجمل عند الاحناف وغيره من الائمة حتى يصح ان يقال اتفقت عليه الامة كما قال المستفتى صـ۲۳۲ باطل قطعا كيف وقد صح ابن العربى المالكى فى احكام القران له كونه غير مجمل كما مر مفصلا ولو سلمنا كونه مجملا لا نسلم ان بيانه حديث الذهب بالذهب والفضة بالفضة الخ فقط بل بيانه هذا وحديث كل قرض جر منفعة الخ وانما الربوا فى النسية ايضا.

ايات "اكلهم الربا وقد نهوا عنه" کې موجود دی (چه اهل کتاب سود خوري، حال دا چه د هغې نه منع کړی شوي دي) او "وان تبتم فلكم رءوس اموالكم" نه هم معلومیږي چه د دې ايات د نزول نه وړاندې د مشرکينو د ربا لين دين وو او يقينا حديث ابو سعيد او عباده د دې ايت نه وروستو ارشاد وشو نو که په قران کې د ربا لفظ مجمل وي چه معنی ئې د حديث نه بغير په ذهن کې نه شوه راتللی نو اهل کتاب او مشرکينو کې د نزول ايات نه مخکې د ربا لين دين بغير د پيژندو نه څنګه کيږي او کومو خلکو چه د ربا ايات ته مجمل ويلي دي د دې مطلب دا دی چه د ربا لفظ معني د عربو په عرف کې خو ظاهره

وه مګر کله چه شارع د هغوئ سره د معاملاتو بعضې هغه صورتونه ملحق کړل کومو چه عربو ربا نه ګڼله لکه څنګه چه د نبي ﷺ د دې ارشاد نه معلومیږي چه د ربا ۷۳ شعبې دي، دې وخت کې په دې لفظ کې د شرعي معنی په لحاظ سره اجمال راغلو او امام طحاوي کوم چه د حنفي مذهبونو او د نورو مذهبونو بنه پوهيدونکی دی، د دې خبرې قائل دی چه په قران کې چه د ربا کوم ذکر دی هغه د دې ربا نه علاوه دی د کومو چه په حديث کې بيان دی. (د دې نه صفا معلومه شوه چه د هغوئ په نزد ربا قراني مجمل او حديث د دې بيان نه دی کنه نو دواړه به متحد وی).نو دمستفتي دا قول چه مذكوره ربا په قران کې د احنافو او د هغوئ نه سوا د نورو ائمه و په نزد هم مجمل دی، تردې چه دا ويل صحيح دي چه امت په دې باندې اتفاق کړی دی، بالکل باطل دی، او څنګه به نه وي او علامه ابن العربي المالكي صفا ويلي دي چه صحيح دا ده چه قران کې د ربا لفظ مجمل نه دی او که مونږ هغه مجمل هم وګڼو نو دا نه منو چه د دې بيان صرف ابو سعيد او عباده د حديث نه (کوم چه د بيعې متعلق دی) بلکه د دې سره حديث کل قرض الخ او حديث انما الربا في



النسئة هم د دې بيان دی (او د ټولو يوځاي کولو نه دا حاصله شوه چه ربا په بيع کې هم کيداي شي او قرض کې هم، نو د دې نه د مستفتي دا دعوه باطله شوه چه ربا صرف په بيع کې منحصر ده).

(۲) الربا ان يوخذ للاجل عوض، هذا هو الربا الحقيقى الذى كان العرب يعرفه بالربا صرح به الجصاص فى احكام القران له (صـ۳۶۷) والطحاوى فى معانى الآثار (صـ۲۳۲ جـ۲) بلفظ فيكون مشتريا لاجل بمال اه واتفقت الاثار على كون ربا اهل الجاهلية الذى نهى الله عنه كما ذكره مالك فى الموطا وابن جرير فى تفسيره واتفق العلماء على ذلك ايضا كما حكاه ابن رشد المالكى فى بداية المجتهد له واما ما ذكره الفقهاء ان الربا هو الفضل الخالى عن العوض فى البيع فهو حد لربا البيع الذى هو ربا السنة او يقال ان زيادة لفظ البيع فيه تمثيل وليس للحصر كما تقدم بيان ذلك عن ابن عابدين وغيره.

(۲) سوال دا دی چه د ربا جقيقت د قران او حديث نه وښايئ؟ د دې جواب دا دی چه د ربا حقيقت دا دی چه د اجل او مودې معاوضه واخستل شي حقيقي ربا کوم ته چه اهل عربو ويله همدا ده، جصاص په احکام القران کې او طحاوي په معاني الاثار کې د دې تصريح کړې ده او ټول اثار په دې باندې متفق دي چه د اهل جاهليت ربا د کوم نه چه الله تعالی په قران کې منع فرمايلې ده همدا ده لکه څنګه چه د موطا، مالک او تفسير ابن جرير د طبري د روايات نه واضحه دي او علماو هم په دې باندې اجماع کړې ده لکه څنګه چه ابن رشد مالکي په بداية المجتهد کې بيان کړې دي او فقهاو چه د ربا کوم تعريف دې لفظونو سره بيان کړی دی چه ربا هغه زياتوالی دی چه په بيعه کې د عوض نه خالي وي دا د غير حقيقي ربا تعريف دی، يعنې د ربا البيع يا دې داسې وويل شي چه په دې کې د بيع لفظ د تمثيل دپاره دی، د حصر لپاره نه، لکه څنګه چه د علامه شامي وغيره د اقوالو نه معلوميږي.

(۳) الفضل المشروط فى القرض ربا منصوص وهو الربا الحقيقى الذى كانت العرب تعرفه بالربا ونهى عنه القران دون ربا البيع الذى ورد بيانه فى السنة فان العرب لم يكن تعرفه ربا صرح به الجصاص وغيره من العلماء كالطحاوى وابن الهمام وابن رشد والفخر الرازى وغيرهم ودل عليه الاثار الواردة فى تفسير ربا الجاهلية.

(۳) سوال دا دی چه په قرض کې د خاص اندازې نفع مشروط وي نو دا ربا منصوص ده او که غير منصوص؟ د دې جواب دا دی چه دا ربا منصوص او قطعي ده بلکه حقيقي ربا کوم چه اهل عرب ورته ربا وائي همدا ده او ربا البيع د کوم ذکر چه حديث کې دی د

هغوئ په نزد ربا نه وه لکه ځنګه چه امام جصاص، علامه طحاوي، ابن الهمام، ابن رشد، او فخر رازي وغيرهم د تصريح نه وړاندې معلوم دي او د ربا جاهليت تفسير کوم چه په اثارو کې وارد دی هغه هم همدا ښائي.

(۴) الدليل على حرمة الفضل المشروط فى القرض اجماع العلماء على ان ربا الجاهلية الذى نهى الله عنه فى القران بقوله واحل الله البيع وحرم الربا هو هذا الفضل المشروط فى القرض والدين كما تقدم تفصيله مستوفى وقال الهيثمى فى الزواجر (صـ۱۸۷ جـ۱) وهواى الربا ثلثة انواع ربا الفضل وهو البيع مع زيادة احد العوضين المتفق الجنس على اخر وربا اليد وهو البيع مع تاخير قبضهما اوقبض احدهما عن المجلس بشرط اتحادهما علة وان اختلف الجنس وربا النساء وهو البيع للمطعومين اوللنقدين المتفقى الجنس او المختلفيه لاجل وزاد المتولى نوعا رابعا وهو ربا القرض ولكنه فى الحقيقة يرجع الى ربا الفضل لانه الذى فيه شرط بجر نفعا للمقرض فكانه اقرضه هذا الشئ بمثله مع زيادة النفع الذى عاد اليه وكل من هذه الانواع الاربعة حرام بالاجماع بنص الايات المذكورة والاحاديث الاتية وكل ما جاء من الوعيد شامل الانواع الاربعة وربا النسية هو الذى كان مشهورا فى الجاهلية لان الواحد منهم كان يدفع ماله لغيره الى اجل على ان ياخذ منه كل شهر قدرا معينا وراس المال باق بحاله فاذا حل طالبه براس ماله فان تعذر عليه الاداء زاد فى الحق والاجل وهذا التنوع مشهور الان بين الناس وواقع كثيرا. وكان ابن عباس لايحرم الا ربا النسية محتجا بانه بينهم فينصرف النص اليه [illegible] صحت الاحاديث بتحريم الانواع الاربعة

(۴) سوال دا دی چه په قرض کې د نفع شرط لګول که ربا وي نود فقهاو په نزد د هغې ربا کيدل معتبر دليل څه دی؟ د دې جواب دا دی چه د دې ربا کيدو دليل د علماو په دې خبره اجماع کول دي چه کومه د جاهليت ربا چه الله تعالى په خپل ارشاد "واحل الله البيع وحرم الربوا" کې حرام کړي دي هغه همدا دي چه قرض او دين کې ئې نفع وکړه او د زيات وصولول دې شرط کړی شي، لکه ځنګه چه بره تفصيل سره بيان شو، علامه ابن حجر هيثمي په کتاب الزواجر کې د ربا څلور قسمونه ربا الفضل، ربا اليد، ربا النساء، ربا القرض بيان کړي دي، او فرمايلي ئې دي چه دا څلور واړه قسمونه بالاجماع په مذکوره احاديثو کې د ائنده نصونه حرام شوي دي او څومره وعيدونه چه د ربا متعلق راغلي دي هغه دې څلورو واړو قسمونو ته شامل دي، او د جاهليت په زمانه کې ربا النسئه مشهوره وه د کوم صورت چه دا وو چه يو کس خپل مال د بل په لاس د معلومې مودې لپاره په دې شرط ورکړي بيا چه کله موده پوره شي نو د هغه نه راس المال مطالبه



السابقة من غير مطعن ولانزاع لاحد فيها ومن ثم اجمعوا على خلاف قول ابن عباس على انه رجع عنه اه. قال المستفتى النفع المشروط فى القرض لما لم يثبت كونه ربا بالقرآن وبالحديث استدل على كونه ربا تارة بالقياس وتارة بحديث كل قرض جر نفعا الخ (صـ۳۵) قلت ان اراد بالنفع المشروط اشتراط الجودة والسكنة ونحوها او اشتراط الاداء ببلد المقرض ونحوه فاستدلال الفقهاء على حرمته بهذا الحديث مسلم وقد قدمنا انه حديث التلقى الامة له بالقبول وان كان حسنا لغيره من حيث الاسناد ولاحاجة الى القياس بعد وجود النص وربما يذكر الفقهاء العلة القياسية مع وجود النص تاييدا له لا احتجاجه كما هو داب صاحب الهداية والبدايع والطحاوى وغيرهم فمن فهم من ذلك كون الحكم قياس فقد خلع ربقة الفقة عن عنقه.

وکړي که هغه نه شي ادا کولی نو راس المال زياتولو سره به مال زياتيدو او د بيعې مودې کې به هم اوږدوالی راوستل کيدو، او دا صورت نن صبا هم ډير مشهور او کثير الوقوع دی، او ابن عباس رضي الله عنه به صرف همدې صورت دربا النسئه ته حرام ويله او دليل به ئې دا بيانولو چه عربو کې همدا متعارف وو نو ځکه به نص د دوئ طرف ته راجع وي مګر چونکه صحيح احاديث د مذکوره څلورو قسمونو نه حرمت ثابت شوی په کوم کې چه نه د چا طعن شته دی او نه نزاع ده نو ځکه علماو د ابن عباس د قول خلاف په دې اجماع کړې وه، د دې

نه معلومه شوه چه په قرض کې چه کومه نفع او زياتوالی مشروط وي هغه هم ربا منصوصي ده او د هغې په حرمت هم اجماع ده او د دې کلام نه زمونږ د هغه خبرې تائيد هم وشو چه د ربا لفظ عرفا مجمل نه دی، البته کله چه شرعا څلورو واړو قسمونو ته کړی شو نو اجمال په کې پيدا شي نو د ربا کوم صورت چه د ايات د نزول نه وړاندې متعارف وو د هغې په حرمت باندې دا ايات د ټولو نه وړاندې دال دي، او د نورو صورتونو حرمت باندې ورروستو يا د دې حرمت صرف د احاديثو او اجماع نه ثابت دی، د ډې نه ورروستو مستفتي وائي چه د قرض فائده مشروط ربا کيدل چونکه د قران او حديث نه ثابت نه ذي نو ځکه د دې حرمت کله خو د قياس نه ثابت کړی شو او کله د حديث کل قرض جر نفعاً نه.زه وايم چه د نفع مشروط نه که د هغه مراد وصف جودت او د سکې وغيره شرط وي نو بيا خو دا مسلمه ده چه فقهاو د دې په حرمت باندې د حديث کل قرض جر نفعاً نه ثابت کړي دي او مونږ وښوډل چه دا حديث د تلقي بالقبول د وجي نه صحيح دی، ګويا چه د سند د لحاظ نه حسن لغيره دی او د نص موجوديدو سره د قياس څه ضرورت نه وو مګر د فقهاو عادت

دی چه د نص موجودیدو سره هم د تائید په طور قیاس علت بیانوي لکه څنګه چه صاحب هدایې او صاحب بدائع او امام طحاوي طرز دی، د دې نه حکم قیاسي ګڼل د فقهې نه د نابلده کیدو دلیل دی،

لکون ذلك منضیاالی ان لایوجد حکم منصوص فی الشرع اصلافانهم لایذکرون النص فی مسیلة الاویذکرون معه علة قیاسیة ایضاوان اراد بالنفع المشروط الفضل والزیادة المشروطة فیه وزناوعددافقوله انهم یسدلون علی کونه رباتارة بالقیاس وتارة بحدیث کل قرض جرمنفعة غیرمسلم بل باطل قطعافان دلیله عندهم الاجماع علی حرمته وکونه من رباالجاهلیة الذی نهی الله تعالی عنه مع الاثار الواردة فی تفسیر رباالجاهلیة کما تقدموانما یذکرون هذالحدیث والقیاس تاییداقال المستفتی ولوسلم صحة القیاس ففیه ان الاحکام القیاسیة تقبل التغیر بتغیرالازمان الخ (صه۳) قلت هذا کله بناء الفاسد علی الفاسد فقدبینا ان حرمة الفضل المشروط فی القرض لیست بقیاسیة بل هی منصوصة ومجمع علیها بین الامة والایمة کلهم وایضافقوله ان الاحکام القیاسیة تقبل التغیر بتغیرالازمان علی الاطلاق باطل بل اذاتغیرت العلة بتغیرالزمان ومثل ذلك یقبله الحکم المنصوص ایضا کما فی خروج النساء الی الاعیادوالجمعات والجماعات فکان جایزافی الصدر الاول ای زمان النبی ﷺ لعلته الامن من الفسادالاناداراثم تغیرالحکم بتغیرالزمان لتغیر العلة وکوقوع الطلقة الواحدة بقول الرجل للمدخول بها انت طالق، طالق، طالق، فی الصدرالاول لعلة سلامة الصدروصدق اللسان وقلة الافتراق اذ ذاك فاذاقال الرجل مااردت به؛ لاواحدة قبل قوله قضاءودیانة ثم لماتتابع الرجال فی الطلاق ولم یبق فیهم سلامة الصدر

څکه چه د دې نه خو به دا لازمیږي چه په شریعت کې حکم منصوص یو هم نه وي څکه چه د هدایې والا خو په هره مسئله کې د نص بیانولو نه بعد علت قیاسي هم ضررور بیانوي او که د نفع مشروط نه هغه زیاتوالی وي چه په وزن او عدد کې د قرض نه زیات واخستل شي نو د هغې متعلق دا صحیح نه ده چه فقهاء د دې حرمت کله قیاس سره ثابتوي او کله حدثث کل قرض جرنفعاً الخ نه ، بلکه دا قول قطعا باطل دی څکه چه د دې د حرمت لوي دلیل خو د امت په حرمت باندې اجماع ده او په دې امر اتفاق کول چه جاهلي ربا د کوم نه چه الله تعالی په قران کې منع کړې ده همدا ده او هغه اثار هم په کوم کې چه د ربا جاهلي تفسیر راغلی دی د هغې په حرمت دلالت کوي او د دې حدیث او قیاس ذکر خو صرف د تائید په درجه کې کیږي.د دې نه وروستو مستفتي د علت قیاسیه په ذکر کولو سره دا اعتراض کړی دی بیا ئې وویل که دا قیاس هم صحیح وګڼل شي نو د قیاس احکام د زمانې د تغیر سره تغیریدی شي، زه وایم دا ټوله ګفتګو بناء الفاسد علی الفاسد ده څکه چه مونږ وښودل چه په قرض کښې نفع او زیاتوالی اخستل حرام دي، ائمه و او امت په دې حرمت اتفاق کړی دی، په قیاس د دې د حرمت مدار نشته دی، نو بیا د مستفتي علی الاطلاق دا دعوه کول چه احکام قیاسیه د زمانې په تغیر سره تغیریدی



وصدق اللسان کماکان قبل قضی عمربایقاع الثلث قضاءوان لایقبل نیته الواحدة الادیانة.

شي بالکل غلطه ده بلکه احکام قیاسیه کې د زمانې بدلیدو سره هغه وخت تغیرېږي کله چه د زمانې تغیر سره د حکم علت بدل شي او داسې تغیر خو په احکام منصوصه کې هم کیږي، وګوره د رسول الله ﷺ په زمانه کې ښځو له د جمعې، جُمعې او اخترونو مونځ له تلل جائز وو څکه چې هغه وخت د فساد اندیښنه نه وه بیا کله چې تغیرد زمانې شو نو چونکه د فساد اندیښنه وه نو حکم هم بدل شو، همداسې به ئې اول وختونو کې منکوحه مدخول بها ته "انت طالق انت طالق" ویل نو یو طلاق به وو، کله چه سړئ دا دعوه وکړي چه ما د یو نیت کړی وو څکه چه وهغه وخت په زړه کې سلامتي وه، خلکو رشتیا ویله او د طلاق واقعات کم وو نو څکه د سړي قول هم قبول د قضا لپاره وو، او دیانةً معتبر دی، قضاءاً نه ژبې ئې رښتونې وې، اود طلاق واقعې به کمې پیښیدلې، په دې وجه دسړی دقضاء قول به هم قبول وو، او دیانةً هم، بیا کله چه د طلاق واقعات زیات شول، اوپه زړونو کښې سلامتیا اوپه ژبه کښې رښتینوالي کم شو، نوحضرت عمر(رض) په دې صورت کښې د دریو طلاقو واقع کیدلو فیصله اوکړه، اواوس دسړی دا دعوی چه ما خو دیو طلاق نیت کړې وو، صرف دیانةً معتبر دې دقضاء په طور معتبر نه دې.

ومن زعم ان الاحکام القیاسیة تتغیر بتغیرالزمان مع بقاء العلة فقد افتری علی الایمة کذباولیس منه الافتاء بمذهب غیرامامه فی مسیلة للحاجة فبذلك لم یتغیرمذهب الامام بتغیرالزمان بل هو علی حاله وانما غایته ترك تقلید الامام فی المسیلة واختیار قول الاخرین من المجتهدین فیها لکون اختلاف الامة رحمة فلم یتغیرالحکم وانما تغیرالتقلید واما مانقله المستفتی هناك فی الحاشیة عن بعض الفقهاء من اعتبار العرف والزمان واختلاف الاحکام باختلافه فانه لم یدرك مرادهم ولم یفهمه حق الفهم وحاصل ماذکروه ان ماکان من الاحکام مبنیا علی الالفاظ المتعارفة کالیمین والطلاق فلابد فیه من اعتبار عرف کل قوم فی کل زمان فلوقال لااضع قدمی فی دارفلان والتعارف عندهم به الدخول بحکم بالحنث بالدخول لایوضع القدم من غیرالدخول وقس علی ذلك الفاظ الطلاق

او کوم کس چه دا دعوه وکړي چه قیاس احکام د علت باقي پاتې کیدو باوجود د زماني تغیر سره تفسیرېږي هغه په ائمه و باندې افتراء کوي او په یوه مسئله کې د ضرورت په وخت د خپل امام مذهب پرېښودل بله خبره ده، دا په تغیر حکم تغیر زمان کې نه شو داخلولی، څکه چه په دې صورت کې دامام مذهب خو د زمانې بدلیدو سره بدل نه شو بلکه په خپل حال باقي پاتې دی، یا دا ووایه چه تا د علماو اختلاف رحمت وګڼلو او د خپل امام خبره دې پرېښوده او د بل چا قول دې اختیار کړو (پس په حکم کې تغیر رانغی بلکه ستا په تقلید کې تغیرراغی)، مستفتي په دې ځاي کې د کتاب په حاشیه کې څه نقل کړي دي چه په احکامو کې د عرف او زمانې لحاظ هم کیږي او د عرف او زمانې تغیر سره احکام بدلیږي،

وغیرہ فلو تعارف قوم بلفظ الطلقة البتته الثلثة المغلظة یفتی بوقوع الثلث حتما وما کان منها لاینبنی علی الالفاظ المتعارفه بل علی الدلایل الفقهیة فاختلفوا فی کون العرف دلیلا لها اولا فزعم بعضهم ان تعارف المسلمین عملا فیما فی دیارهم من زمان من غیر نکیر دلیل ایضا علی جوازه شرعا لکونه داخلا فیما راه المسلمون حسنا ولکونه نوعا من انواع الاجماع العملی ولاشك فی ان تعامل الصحابة وتعارفهم عملا من غیر نکیر حجة لکونهم عدولا خیارا لایخالفون النص فی عملهم عمدا اصلا واما تعامل غیرهم لاسیما تعامل من بعد القرون الثلثة المشهودة لها بالخیر ففی اعتباره تفصیل ذکره ابن عابدین فی رسالة نشر العرف والعجب من المستفتی انه ذکر منه شیئا یسیرا وترك منه ما یخالفه وهل هذا الاتباع الهوی الذی من اتبعه فقد غوی وهل هذا الالبس الحق بالباطل وبیع العاجل بالاجل اعاذنا الله منه قال ابن عابدین قد صرحوا بان الروایة اذا کانت فی کتب ظاهر الروایة لایعدل عنها الا اذا صحح المشایخ غیرها کما اوضحت ذلك فی شرح الارجوزة فکیف یعمل بالعرف المخالف لظاهر الروایة وایضا فان ظاهر الروایة قد یکون مبینا علی صریح.

مګر هغه ئې په مطلب پوهه نه شو، د فقهاو د اقوالو حاصل خو صرف دومره دی چه د احکام دوه قسمونه دي، بعضې هغه دي چه په الفاظ متعارضه باندې مبني وي لکه یمین، طلاق وغیره د دوئ نه خو چه هرې زمانې کې د هر قوم عرف قابل اعتبار دی، مثلاً که څوک دا ووائي چه د فلانې کس په کور کې به قدم نه ږدم نو که هغه بغیر د قدم کیښودو نه کور ته داخل شي مثلاً په کوم انسان یا حیوان باندې سوروړشي نو قسم به مات شي او که قدم کیږدي مګر داخل نه شي (مثلاً یو قدم بهروي) نو قسم نه ماتیږي، همداسې که د یو قدم په عرف کې د البته نه درې طلاقه مفهومیږي، نو د درې طلاقونو فتوا به ورکول کیږي، او بعضې احکام هغه دي چه الفاظ متعارفه باندې مبني نه دی بلکه فقهي دلائلو باندې مبني دي، په هغې کې د فقهاو ترمنځ خبره شوې ده لکه څنګه چې کتاب وسنت اجماع او قیاس ددې احکامو دلائل دي داسې د مسلمانانو په عرف هم د هغه احکامو دلیل جوړیدی شي او که نه نو د بعضو دا قول دی چه د مسلمانانو ترمنځ د یوې زمانې بلا خلاف یو کار د دې د جائز کیدو دلیل کیدی شي ځکه چه "ما راه المسلمون حسناً" کې داخل دي، دویم دا عرف هم د اجماع عملي یو قسم دی، او په دې کې خو شک نشته چه په یوه معامله باندې د صحابه و بلا نکیر تعامل او تعارف کیدل خو واقعي حجت دی ځکه چه دا حضرات ټول نیک عادل او متقیان وو هغوئ عمداً د نص خلاف تعامل نه شو کولی، او د صحابه و نه سوا د نورو تعامل خصوصاً د تابعینو او تبع تابعینو نه بعد نو د هغې په معتبر او غیر معتبر کیدو کې تفصیل دی کوم چه علامه شامي په خپله رساله نشر العرف کې بیان



کړی دی، مونږ مستفتي ته حیرانیږو چه هغه د دې رسالې مختصر عبارت نقل کړی او خپل خدمت ئې د مضمون مطلب پریښودو نو ایا د دې نوم اتباع شوه او که نه د کوم انجام چه ګمراهي ده او ایا دې ته به تلبیس بالباطل نه ویل کیږي کوم چه د دې مسئلې مصداق دی، "از بهر دنیا دهددین بباد" نعوذ بالله منه، علامه ابن عابدین په خپله رساله کې فرمائي چه فقهاو د دې تصریح کړې ده چه کله یوه مسئله د روایت په ظاهر کې موجوده وي نو هغه نه شي پریښودل کیدی، مګر ترڅو پورې چه مشائخو د هغې خلاف ته صحیح ویلي وي بیا چه کوم عرف د ظاهر روایت خلاف وي په هغې کې څنګه کیدی شي، دویم دا چه ظاهر روایت کله په صریح نفس باندې مبني وي،

من الکتاب او السنة او الاجماع ولا اعتبار للعرف المخالف للنص لان العرف قد یکون علی باطل بخلاف النص کما قاله ابن الهمام وقد قال فی الاشباه العرف غیر معتبر فی المنصوص علیه قال فی الظهیریة من الصلوة وکان محمد بن الفضل یقول السرة الی موضع نبات الشعر من العانة لیست بعورة لتعامل العمال فی الابداء عن ذلك الموضع عند الاتزار وفی النزع عن الشرعی فان خالفه من کل وجه بان الزم منه ترك النص فلاشك فی رده کتعارف الناس کثیرا من المحرمات من الربا وشرب الخمر ولبس الحریر والذهب وغیر ذلك مما ورد تحریمه نصا وان لم یخالفه من کل وجه بان ورد الدلیل عاما والعرف خالفه فی بعض افراده او کان الدلیل العادة الظاهرة نوع حرج وهذا ضعیف وبعید لان التعامل بخلاف النص لایعتبر وفی الاشباه ایضا الفایدة الثالثه؛ المشقة والحرج انما یعتبران ان فی موضع الانص فیه واما مع النص بخلافه فلا الآن قال فنقول ان العرف نوعان خاص وعام وکل منهما اما ان یوافق الدلیل الشرعی والمنصوص علیه فی کتب ظاهر الروایة اولا فان

که هغه د قران ایات وي یا حدیث یا اجماع او کوم عرف چه د نص خلاف وي، هغه بالکل هم معتبر نه دي ځکه چه عرف بعضې وخت کوم کې ناحق هم وي او نص د حق خلاف نه شي کیدی لکه څنګه چه ابن همام فرمایلي دي او اشباه کې دي چه په منصوصه مسئله کې د عرف هیڅ اعتبار نه شي کیدی نو په ظهیریه کې د علامه محمد بن فضل دا قول چه نوم او پنڅیو ترمنځ حصه کوم باندې چه ویښته نشته په ستر کې داخل دي ځکه چه د مزدوري کوونکي کس تامل دا دی چه هغوئ لنګ تړلو سره دغه ځاي نه پټوي، او خلک د هغوئ د عادت نه لرې کولو کې تنګي ضرور وه ذکر کړې او ویلي ئې دي چه دا قول ضعیف او حق نه لرې دی ځکه د بعض خلاف چه کوم تعامل وي د هغې اعتبار نه شي کیدی، په اشباه کې د فائده ثلثه لاندې لیکلي دي چه د مشقت او تنګي په هغه موقع

وافقهما فلا کلام والافاما ان یخالف الدلیل الشرعی او المنصوص علیه فی المذهب فنذکر ذلک فی ما بین الباب الاول اذا خالف العرف الدلیل قیاسا فان العرف معتبران کان عاما فان العرف العام یصلح مخصصا ویترک به القیاس کما صرحوا به فی مسیلة الاستصناع ودخول الحمام والشرب من السقاوان کان العرف خاصا فانه لا یعتبر وهو المذهب کما ذکره فی الاشباه قال هل المعتبر فی بناء الاحکام العرف العام او مطلق العرف ولو کان خاصا المذهب الاول انتهاً ویتفرع علی ذلک لو استقرض الفا واستاجر المقرض؛ تحفظ مرآة او ملعقة کل شهر بعشرة وقیمتها لا تزید علی الاجر ففیها ثلاثة اقوال:

باندې لحاظ کیږي چیرته چه نص موجود نه وي او کوم ځاي کې چه نص موجود وي هلته به د دې اعتبار نه کیږي، د دې نه بعد ئې فرمایلي دي چه د عرف دوه قسمونه دي (۱) خاص (۲) عام او د دواړو قسمونه دي، یا خو به د شریعت او د روایت د ظاهري تصریح موافق وي یا مخالف، که موافق وي نو بیا خو څه خبره نشته او که د شرعي دلیل یا د ظاهر روایت د تصریح خلاف وي نو هغه به مونږ په دوه بابونو کې بیانول غواړو اول باب د هغه صورت متعلق دی چه کله عرف د شرعي دلیل خلاف وي چه په هغې سره د نص ابطال لازمیږي، بیا خو د عرف په مردود کیدو کې هیڅ شک نشته لکه نن چه ډیر خلک ډیر حرام کار کوي مثلا سود اخستل، شراب څښل، ریښم او سره زر استعمالول د کوم حرمت چه نص کې صراحةً راغلی دی، او که د هر جهت نه خلاف نه وي بلکه صورت داسې وي چه دلیل شرعي خو عام دی او عرف په بعضې خاص صورتونو کې د دې خلاف دی، یا دلیل قیاس دی، نو دغه وخت به د عرف اعتبار کیږي په دې شرط چه عرف عام وي ځکه چه عام عرف سره په نص کې تخصیص کیدی شي او قیاس پریښودل کیدی

۱ - انظر الی هذا القید فیما اذا کان الدلیل قیاسا انه لا بد من کون العرف عاما من غیر نکیر وحرمة الفضل المشروط فی القرض لیس بالقیاس بل بالنص والاجماع ولیس فی التعامل به عرف من المسلمین بل انما یرتکبه بعض الفساق والجهال من العوام الذین جمعوا مالا وحدوده وهولاء لشرذمة قلیلون واما المفالیس وکثیر ما هم وکذا الاغنیاء الذین لا یجمعون المال فلا یرضون به ابدا اولا یتعاملون الامضطرین ومنکرین الصلحاء والعلماء من المسلمین الا من کان من العلماء قد باع دینه ووقع حماره فی الطین ۱۲ منه.



شي لکه څنګه چه د استصناع او دخول حمام او سقاوې نه د اوبو څښلو په مسئله کې فقهاو تصریح کړې ده او که عرف خاص وي نو هغې له اعتبار نشته، مذهب همدا دی لکه څنګه چه اشباه کې مذکور دي چه د احکامو په بناء کې عام 19
عرف معتبر دی، هر عرف کې خاص هم وي، مذهب دا دی چه اول شق معتبر دی، (یعنې عام عرف) او په دې باندې مسئلې متفرع کیږي که یو کس د بل نه زر روپۍ قرض واخستلې او قرض ورکونکي ته ئې د خپلې یوې آئینې یا چمچې (کاشوغه) د حفاظت لپاره په لس درهمه باندې نوکر وساتي (ترڅو دې حیلې سره هغه ته به قرض څه نفع ورسوي) نو په دې کې درې اقوال دي.

(۱) صحة الاجارة بلا کراة اعتباراً العرف خواص بخاری. (۲) والصحة مع الکراهة للاختلاف. (۳) والفساد لان صحة الاجارة بالتعارف العام ولم یوجد وقد افتی الاکابر بفسادها الی ان قال وحاصله ان ماذکروا فی حیلة (۱) اخذ المقرض ربحا من المستقرض ملعقة مثلا ویستاجره علی حفظها فی کل شهر بکذا غیر صحیح لان الاجارة مشروعة علی خلاف القیاس لانها بیع المنافع المعدومة وقت العقد وانما جازت بالتعارف العام وقد تعارفوها سلفا وخلفا ولا یخفی انه لا ضرورة الی الاستیجا (۲) رعلی حفظ ما لا یحتاج الی حفظه باضعاف قیمته فانه لیس مما یقصده العقلاء ولذا لم یجز استیجار دابة لیجنبها

۱ _ دا چه د اجاره بغیر د کراهت نه صحیح ده د اهل بخاري د خاص عرف په بنا باندې. ۲_ دا چه مع الکراهت صحیح ده ځکه چه عرف مختلف دی. ۳_ دا چه اجاره فاسده ده ځکه چه د اجارې د صحت بنا په عام عرف باندې ده او هغه دلته موجود نه ده د دې نه وروستو ئې فرمایلي چه خلاصه دا ده چه بعضو علماو چه د قرض ورکونکو لپاره د قرض اخستونکو نه د نفع حاصلولو حیلې راویستلې دي چه قرض خواه به قرض ورکونکي ته مثلا یوه چمچه په کرایه ورکوي چه ته ددې حفاظت وکړه او د دې بدله به تاته د میاشتې ملاویږي، دا حیله صحیح نه ده ځکه د اجارې جواز په اصل کې د قیاس خلاف دی، ځکه چه په دې دور کې منافع بیعه کیږي مګر د عام عرف د وجې نه جائز کړی شو چه سلفو نه خلفو پورې په

۱ - قلت ولو کان الاستیجاره الاسترباح علی القرض جائز ولو عند احد من المجتهدین لم یحتاجوا الی مثل تلک الحیلة والویل کالویل لاهل الربا ان تلک الحیلة ایضا لا تجوز فی المذهب فیاجراة هذا المستفتی کیف اغمض عینیه عن کل ذلک وقال لجواز الاسترباح والاستیجار علی القرض نفسه مخالف الاجماع ولم یخش الله تعالی فی تحلیل الربا المحرم نعوذ بالله من الخذلان ۱۲ منه.

۲ - وکذا لا ضرورة الی استیجار الدارهم بل ولا یتحقق فیه معنی الاجارة اصلا لضرورة بقا المستاجر بالفتح والانتفاع بما فعه واما الاجارة علی استهلاک العین فباطلة قطعا ۱۲ منه.

اودراهم لیزین بهادکانه کماصرحوابه ایضافتبقی علی اصل القاس ولایثبت جوازه بالعرف الخاص فان العرف الخاص لایترک به القیاس فی الصحیح علی ان هذاالعرف لم یشتهر فی بلدة بل تعارفه بعض اهل بخاری دون عامتهم ولایثبت المتعارف بذلک اه (ص۱۱۸۱۱۶ ج۲).

تکسب کې د اجارې رواج همدا راروان دی، او ظاهره ده چه د کوم څیز د حفاظت ضرورت نه وي د هغې د ساتلو لپاره څوک په مزدورۍ ساتل فضول دي ځکه چه عاقلان کله هم داسې یا کوې نو دځان داس ساتل دجارې اخیستلولپاره د دکان جوړولو

لپاره دراهم په کرایه اخستل جائز نه دي لکه څنگه چه فقهاوو تصریح کړې ده یو دا اجاره به په اصل قیاس (باطله او فاسده) وي او خاص عرف کې قیاس نه شي پرېښودل کیدی، صحیح قول همدا دی، دویم دا چه دا عرف خو بل ښار کې هم نه رواج شوی بلکه د بخارا په خاصو خلکو کې موندل شوی دی، عام طور باندې هلته هم نشته دی، او دومره خبرې ته تعارف نه شي ثابتیدی (ص۱۶_۱۸ ج۲).

هذاآخرماأردناایراده فی جواب هذاالاستفتاالذی وصل صاحبه فی تحریف الاحکام وتبدیل الشرع غایة الانتهاء ولعمری ان الذین کانوایجوزون الربافی الهندمع الکفارلکونها دارالحرب هم احسن حالامن هذاالمستفتی وخیرمآلالکونهم اخذین بقول امام من الایمة ولوضعیفالایجوزالافتاء به عندنا الا لضرورة شدیدة واماهذاالمستفتی فقداتی بالعجب العجاب من تحلیل الحرام والی الله المشتکی مما احدثه المنتسبون الی العلم فی الاحکام وغیروامن شرع الله وشرع رسوله افضل الانام علیه صلوة الله وسلامه الی یوم القیام وعلی اله واصحابه البررة الکرام والحمدلله رب العلمین؛ اللهم توفنامسلمین والحقنابالصالحین واذا اردت بقوم فتنة فتوفنی غیرمفتون؛ آمین.

اوس مونږ د استفتاء جواب همدلته ختمول غواړو او صرف دومره ویل غواړو چه د استفتاء مولف د احکامو تحریف او د شریعت په بدلولو کې اول نمبر اخستلی دی، او حقیقت دا دی چه کوم خلک هندوستان کې د کفارو سره دار الحرب په پناه اخستلو سره سودې معاملاتو ته جائز وي هغوي د دې مستفتي نه د حالت په اعتبار سره ښه او د انجام په لحاظ سره بهتر دي، ځکه چه هغوئ د کوم امام یا مجتهد قول خو اخستلی دی گویا چه زمونږ په نزد هغه قول هم ضعیف دی په کوم باندې چه د سخت ضرورت نه بغیر عمل جائز نه دی، مګر دې مستفتي خو د حرام په حلالولو کې

غضب جوړ کړو، بس مونږ الله ﷻ ته د دې فتنې فریاد کوو، کوم چه د علم طرف ته نسبت لرونکو په شرعي احکامو کې نن صبا شروع کړی وي چه د الله ﷻ او د رسول ﷺ شریعت چه څنګه غواړي بدلوي ئې، د الله ﷻ په رسول افضل الخلق باندې دې د قیامت پورې درود او سلام وي او د هغوئ په ټول خاندان او اصحابو باندې چه نیک او کریم وو. والحمدلله رب العالمین اللهم توفنامسلمین والحقنابالصالحین واذااردت بقوم فتنة فتوفنی غیرمفتون؛آمین.

حرره المفتقر الی رحمة ربه الصمد عبده المذنب ظفر احمد النزیل بالخانقاه الامدادیه بتهانه بهون.... ۲۴ ذی الحجه ۱۳۴۷هـ حرره المفتقر الی رحمة ربه الصمد عبده المذنب ظفر احمد النزیل بالخانقاه الامدادیه بتهانه بهون.... ۲۴ ذی الحجه ۱۳۴۷هـ.



# تَتمةُ الکَلامُ (۱)

قداورد المستفتی فی اخر رسالته علی قول شیخ ثناء الله ونصه ان المراد بالربا معناه اللغوی وهو الزیادة وهی عبارة عن فضل یعلو علی المماثلة والمساوات فاوجب تعالی فی المبایعة والمقارضة المماثلة والمساوات فالمعتبر فیها المماثلة بالجزاء کیلا اووزنا ان اتحد جنس البدلین وکان من ذوات الامثال وعند اختلاف الجنس تکتفی المماثلة المغویه وهی القیمة وجعلت القیمة مماثلا للبدل لان مالکی البدلین رضیا عند علیه المبادلة فیصیر کل من البدلین مثلا لمجموع البدل الاخر باصطلاحهما انتهی بان المماثلة لا یوجد فی القرض لانه لیس فیه وجود الطرفین وبان القرض لیس فیه المبادلة عند الشرع وهذا الشیخ ایضا اقام علیه الادلة ثم قال اعطی الشرع لمثله حکم عینه وبانه علی هذا لا یجوز للمشتری ان یبیع ما شتراه باکثر من الثمن الذی اشتراه به لانه الفضل لغة مع انه جایز باتفاق الامه وعند الشیخ ایضا اه (ص۲۷) والجواب عن الاول والثانی بان القرض معاوضة انتهاءً فکیف لا یوجد فیها المبادلة والمماثلة من هذه الجهة وهذا هو مراد الشیخ قدس الله سره نعم لا مبادلة ولا مماثلة فی القرض ابتداءً لکونه تبرعاً من هذه الجهة فلا یصح القول بنفی المماثلة والمبادلة عن القرض مطلقا بل لابد من تقییده بالابتداء وهذا لا یضر الشیخ ولا ینفع المستفتی علی ان القرض کالبیع عند محمد کما صرح به ملک العلماء فی البدایع ونصه اما رکنه فهو الایجاب والقبول وهذا قول محمد واحدی الروایتین عن ابی یوسف وروی عن ابی یوسف اخری ان الرکن فیه الایجاب والقبول لیس برکن وجه قول محمد ان الواجب فی ذمة المستقرض مثل المستقرض فلهذا اختص جوازه بما له مثل فاشبه البیع فکان القبول رکنا فیه کما فی البیع اه (ص۳۹۴ ج۷) ویویده قول الهیثمی فی الزواجر بان ربا القرض یرجع فی الحقیقة الی ربا الفضل الخ کما مرذکره وعلی هذا فما حکاه المستفتی عن بعض الاعلام ان القرض یرجع فی الحقیقة الی ربا الفضل الخ کما مرذکره وعلی هذا فما حکاه المستفتی عن بعض الاعلام ان القرض لیس غیر البیع ومباینا له بل داخل فیه (الصواب ان یقال بل هو مثله۱۲) لان القرض مبادلة انتهاء فهو قسم من اقسام البیع لا غیر (الاصوب القول بانه فی حکم البیع۱۲) صحیح علی قول محمد ومن افقه فانه قاسمه علی البیع لاجل لمبادلة التی فیه وجعل الایجاب والقبول رکنین له کالبیع فافهم. وعن ثالث بان المماثلة المعنویة وهی القیمة عند اختلاف جنس البدلین لما کان مدارها علی اصطلاح العاقدین ورضاهما لابد وان تختلف باختلاف العاقدین والعقد فالثمن الذی اصطلح علیه العاقدان هو مثل بدله فی هذا العقد والثمن الذی تراضی علیه الاخران هو مثل هذا الشی فی ذلک العقد فیجوز للمشتری ان یبیع ما اشتراه باکثر من الثمن الذی اشتراه به لغیر البایع الاول ولهذا البایع ایضا بعد اداء الثمن فی العقد الاول لاختلاف العقد والعاقدین لسکون البایع مشتریا والمشتری بایعا فی العقد الثانی ولیس ذلک من الفضل لغة ولا عرفاً فان الفضل والزیادة لا یظهر لغة وعرفا الا فی المتحدة الاجناس فلا یقال ان مایة درهم ازید من الثواب ولا ان الدینار ازید من الفلوس فاذا ترضی

۱ ... ددی مضمون دترجمو ضرورت نشته . ځکه چې دقیق دی دعوامو دپوهې نه بهرده ۱۲

العاقدان فی المختلفة الاجناس علی ثمن کان مثل بدله مماثلة معنویة فافهم وکن من الشاکرین هذا جوابنا عن ایراد المستفتی علی کلام الشیخ ثناء الله واما دعویه بان الشیخ انما قال ذلك ای ان المراد بالربا معناه اللغوی بعد ما تنبه علی ان نفع القرض المشروط لایدخل فی الربا المحرم بالنص علی المسکین الخ فدعوی بلا بینة فان کلام الشیخ رحمه الله فی تفسیر آیة الربا صریح فی کون ربا القرض داخلا فی ربا القران محرما بالنص کما تقدم ذکره واعترف المستفتی بذلك نفسه ولکنه نسی ما قدمت یداه فذکر ثانیا خلاف ما اولا ابداه وذلك من دیدن المخلطین الملبسین یخبطون دائما خبط عشواء ولا یستقیمون لحظة علی منهج سواء والله تعالی اعلم (النور ص۳ محرم ۱۳۴۸).

## یو داسې کس ته قرض ورکول چه په دغه روپو باندې سود حاصلوي

سوال: (۲۴۳) یو کس هندو ته روپۍ قرض ورکوي په دې امید سره چه کله ګوره وشي نو مونږ به د هغه وخت په نرخ سره هغه واخلو مګر هغه مدیون هندو د نورو هندوانو نه په دې روپو سود اخلي او تقسیموي ئې، او د دغه خلکو نه ګوړه اخلي او دائن ته ئې ورکوي او دائن ته دا خبره معلومه ده چه مدیون سودي روپۍ تقسیموي نو ایا اصلي دائن اعانت علی المعصیة په جرم کې شرعا ماخوذ دی او که نه؟

جواب: چونکه قرض ورکولو سره دا روپۍ د هغه دلاس نه ووتلې، او روپۍ بالخصوص موضوع هم نه ده، د اقامت علی المعصیت لپاره بلکه جائز وجوهو نه هم منتفع به کیدی شي بیا قیمتونه په معاملاتو او مبادلاتو کې هم نه تقسیمیږي نو ځکه ظاهرا دا اعانت علی المعصیة نه دی، د صحابه و د یهودو "آکلین السحت" سره بلا نکیر داسې معامله کوله. والله اعلم، ۱۶ شعبان ۱۳۲۲هـ

**سوال د مذکور سوال متعلق:** چونکه د صفائي معاملات عبارت وکتل شو مګر د سود اخستلو والا اعانت ئې قرض سره وکړو او د ګناه موده ګناه ده نو د دې وجې نه په مسئوله صورت کې ښه پیدا شوه چه دلته هم د قرض په وجې سره اعانت علی المعصیة لازمیږي، او د غور او فکر باوجود په دواړو قرضونو کې ماته څه فرق معلوم نه شو د دې وجې نه ما هغه سوال پیش کړی دی او د صفائي معاملات پوره عبارت دا دی (ص۱۶) بعضې خلك په سودي بینکونو کې روپۍ امانت جمع کوي او د هغې نه فائده نه اخلي نو چونکه په بینك کې روپۍ بعینه محفوظ نه وي په کاروبار کې ئې لګوي نو ځکه هغه امانت نه وي بلکه قرض کیږي، او ګویا چه هغه کس سود وانه خستلو مګر د سود اخستلو والا مدد ئې په قرض سره وکړو او د ګناه مدد کول ګناه ده نو ځکه روپۍ داخلول بالکل صحیح نه دي؟



جواب: غور کولو سره دا فرق معلومیږي چه په بینك کې خو روپۍ د دې وجې نه اینبودل شوې دي بخلاف صورت مسئول عنها، او څومره تیقن لزوم او ضرورت چه وي په دوام اتفاقي کې نه وي لیکن په مسئوله صورت کې هم احتیاط بهتر دی؛ د تامل نه بعد په داسې بینك کې د روپو جمع کولو یوه بله وجه د منع کیدو په خیال کې راغله هغه دا چه دا خلط بالاذن دی، نو د شرکت موجب شو او شرکت د ملك زائلونکی نه دی، نو روپۍ والا په دې باندې ملك غیر مشروع شو. ۱۳ ذی القعده ۱۳۲۲هـ (امداد جلد دوم ص۱۶۲).

## متحد القدر مختلف الجنس کې د تشبیه نه کیدو شبهه

سوال: (۲۴۴) د صفائي معاملات په حوالې سره مطبوعه مطبع مجیدي کانپور د سود د عنوان لاندې ص۱۰، ۱۱ "کوم څیزونه چه متحد القدر غیر متحد الجنس دي په هغې کې کموالی او زیاتوالی خو جائز دی مګر قرض جائز نه دی". د دې نه معلومه شوه چه روپۍ پیسې که غله اخستل وغواړي نو په قرض به جائز نه وي؟

جواب: هو! په سرسري نظر کې دا شبهه کیدی شي مګر حقیقت دا دی چه د دواړو وزن کولو طریقې مختلفې دي نو ځکه په شریعت کې د دې حکم هغه شان دی لکه د غیر متحد القدر یعني اختلاف نوع د اختلاف قدر په ځاي دی. "کذا فی الهدایة باب الربوا تحت متن واذا عدم الوصفان فی قوله الا اذا اسلم النقود فی الزعفران ونحو یجوز الخ" یو وزني وي او بل غیر وزني. ۹ رمضان ۱۳۵۱هـ (النور رجب ۱۳۵۲هـ ص۷).

## د هغه نل اوبه چه د سود په روپو تیار کړی شوی وي

سوال: (۲۴۵) قدسیه مرحوم بیګمي حکومت له څه روپۍ ورکړې د کوم په سود کې چه تول ښار ته اوبه راځي په جوماتونو کې لوي حوضونه دي چه مفتیان او قاضیان په کې اوبه څښي او اودس کوي، آیا داسې اوبه جائزې دي او که نه؟ مونږ ټول په دې کې مبتلا یو مګر په دې کې شك نشته دی چه په دغه سود باندې دا اوبه جاري کړی شوې دي دا به د عموم بلوی د وجې نه جائز وي؟ غرض دا چه د دې مسئلې د جواز او عدم جواز نه مو ضرور خبر کړئ؟

جواب: په کوم څیز کې چه خبیث وي د هغې استعمال حرام دی، د شوي څیزونو هم ځکه چه مس بالخبیث د خبثد اسبابو نه په شریعت کې نه دی او نه مس بالکافر سره تلوث لازمیدل پکار دي، مګر په نل کې اګرچه خبث وي مګر هغه قوم نه استعمالوي ځکه هغه د اهل حکم په تصرف کې دي، نو هغوئ ئې استعمالونکي دي، او کومې اوبه هم استعمالوي هغه مباح دي اګر که د نل نه لګیدلې وي او د مس بالخبیث اسباب د خبث کې نه کیدل بره ثابت شول. والله اعلم. (حوادث ص۷۵). ۲۰ جمادي الاخری ۱۳۲۱هـ (امداد ص۱۵۳، ج۲).

## د موروثي کروندګر نه د سود په نوم اخستل

**سوال**:(۲۴۶) چیرته چه زه ملازم یم هلته په حکومت کې سودي لین دین کیږي او زه د سود حسابونه جوړوم، او بعضې وخت کې ئې وصولوم هم، نو د دې وجې نه غالبا دا ملازمت زما لپاره جائز نه شي کیدی، سوال دا دی چه که صرف کروندګر او خیلکاران نه زیاتې روپۍ د ګنجائش په اندازه وصولې کړی شي نو د جائز کیدو صورت ئې راوتلی شي او که نه؟

**جواب**:یو قسم له درسته ده چه دغه دخیلکارانو ته د تخم غورځولو نه وړاندې داسې وویل شي چه د نن نه به مونږ د خپلې ځمکې کرایه دومره اخلو که منظور نه وي نو پریږدئ، مثلا هغه ځمکه په دغه وخت کې په ۵۰ روپۍ ده نو مونږ هغه ته داسې ووایو چه د تا نه به ۱۰۰ روپۍ اخلو د دې نه وروستو که هغه کر وکړو نو شرعا به هغه ۱۰۰ روپۍ واجب شوې، اوس دا سل روپۍ چه په کوم نوم سره هم وصولیدی شي نو حلالې دي. (حوادث اول ص۹۹).

## د نغدو په قرض غله باندې د کروندګر سره بدلول

**سوال**:(۲۴۷) په یو کروندګر باندې د څا روپۍ وې هغه کروندګر وویل چه زه به د روپو په بدل کې په فصل کې دومره غله درکړم، د کوم اندازه چه پوخ ۱۰ منه شوه، کله چه فصل وشو نو ۹ منه غله ئې ورکړه، د باقي لپاره ئې وویل چه په آئنده فصل کې به ئې درکړم، نو دا صحیح ده او که نه؟ او که د دې په ځاي نوره غله ورکړي نو جائزه ده او که نه؟

**جواب**: بیع الکالئ په حدیث او فقه کې منع ده ځکه اول عقد جائز نه شو چه زه به د روپو په عوض کې فصل کې په دې نرخ غله درکوم، بلکه د دې مبادل د جواز صرف یو صورت کیدی شي چه د څومره روپو په بدل کې چه دا غله معلومه شوې ده هغه دې په دغه مجلس کې تسلیم کړی شي کنه نو ناجائزه ده ځکه چه اول عقد صحیح نه دی نو دویم خو په هغې باندې مبني دی هغه به څنګه جائز وي. (تتمه ثالثه ص۶۳).

## د ربا معامله فاسده بیعه ده او که باطله

**سوال**:(۲۴۸) د فاسدې او باطلې بیعې ترمنځ چه کوم حدودو او فروق بیان کړی شوي دي د هغې نه په ظاهر سره د ربوا معامله فاسده معلومیږي ځکه چه د جانبینو د طرف نه مال متقوم دی، که د یوې روپۍ په بدل کې ئې د دوه روپو وزن سپین زر واخستل نو دواړو طرفونو ته سال دی په کوم باندې چه ظاهرکې د بیع فاسد تعریف صادقیږي، نه چه د بیع



باطل په دې صورت کې د مشتري ملك کیدل پکار دي بلکه د خرڅونکي هم ملکیت خبیث کیدل پکار دي او په بیوع فاسده کې د ملکیت په بدل والي سره د بل په حق کې حکم حلت دی، په ربوا کې دا حکم جاري کیدی شي او که نه؟ او په قرض کې به هم دا حکم وي او که نه؟ یعنې قرض د سود په شرط ورکړی شو او د سود او اصل وصولولو نه بعد د خبیث ملکیت د بیع فاسد په شان وي او که نه؟ د سوال خلاصه دا ده چه سود خور چه اکثره مال ئې سود وي د هغه هدیةً خواه صدقةً اجارةً بیعاً ضیافةً څه روپۍ اخستل جائز دي او که نه؟ که جائز نه وي نو د مذکور شبهې جواب څه دی په عالمګیري کې یو جزئیه په نظر راغله چه سود خور چه اکثره مال ئې حرام وي د هغه دعوت او هدیه قبول جائز نه دي که دا صحیح وي نو د شبهې نه مې خلاص کوئ؟

**جواب**:د شبهې خو بنا هم ضعیفه ده ځکه چه په بیع فاسد کې دوه څیزونو خپل مینځ کې معاوضه کیږي، او ربا د زیادت بلا عوض نوم دی، نو هلته خو معاوضه نشته لهذا هغه په بیع باطل کې داخله ده، امید دی چه ټول شبهات کوم چه په دې متفرع وو لرې شوي وي که اوس هم باقي وي نو بیا ولیکئ. (تتمه اولی ص۱۵۳).

## د ربوا د عقد نه چه کوم مال حاصل شي د هغې دوه صورتونه

**سوال**:(۲۴۹) یو ځل ما ستاسو په خدمت کې لیکلي وو چه د فقهاو د تعریف په وجه ربا بیع فاسده معلومیږي، چه بعد القبض د ملکیت موجب کیږي، لهذا د ملکیت بدلوالی د حلت موجب کیدل پکار دي، یعنې د سود مال چه د بل لاس ته ورشي نو د فقهاو د قاعدې په بنا حلالیدل پکار دي، د دې په جواب کې تاسو لیکلي وو چه ربوی مال چونکه بغیر د عوض نه ده لهذا بیع فاسد نه بلکه باطله ده، در مختار کې لاندې مضمون په نظر راغلو د کوم نه چه شبهه پیدا شوه:"قال فی الدر المختار فیجب رد عین الربوی لو قایما لا یرد ضمانه لانه لا یملك بالقبض قنیة" او د بحر او شامي نه بزودي دا قول نقل کړی دی، "من جملة صور البیع الفاسدة جملة العقود الربویة یملك العوض فیها بالقبض" او د هدایې د بعضې عبارتونو نه هم دا مضمون مفهومیږي، لهذا په دې کې چه کوم تحقیق دی هغه ولیکئ، یو ځل حضرت مولانا ګنګوهي رحمه الله هم ورته فاسد ویلي وو، زباني تپوس مې ترې کړی وو؟

**جواب**:د کتاب کتلو فرصت خو نشته خو د قواعدو نه دا په ذهن کې راځي چه د دې دوه صورتونه دي، یو دا چه په مبادله کې بدل او زیاتوالی مجتمعا لاس ته راشي او دویم دا چه

مثلاً قرض ئې د چا نه واخستلو او د اصل په اندازه اخستلو نه بعد د سود په حساب کې څه ورکوي، نو د مولانا صاحب فتوی او د فقهاو قول د اول صورت متعلق دی، او زما قول د دویم صورت فلا تعارض. ۱۰ جمادی الاولی ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۱۵۹).

## د بچتي بینک وغیره د سود حکم

**سوال**: (۲۵۰) څه روپۍ مې ډاکخانه کې جمع کړې، ظاهره ده چه حکومت سود ورکوي.... ایا هغه سود ډاکخانې ته پرېښودل شي یا دې واخستل شي او غریبانو ته دې ورکړی شي کوم صورت بهتر دی، او په ډاکخانې کې د پرېښودو سره خو به د سود اخستلو گناه نه لازمیږي ځکه چه ډاکخانې خو د خپل طرف نه راکړو، بیا ولې نه چه هغه واخستل شي او غریبانو ته ورکړی شي؟

**جواب**: اول خو جمع کول نه دي پکار او که جمع کړې ئې وي نو واپس کول ئې پکار دي او څه چه سود جمع شوی وي هغه دې غریبانانو ته ورکړی شي. ۳ شعبان ۱۳۲۸ھ (حوادث اولی ص۳۵ وتتمه اولی ص۱۷۰).

**سوال**: (۲۵۱) د زید او عمرو ترمنځ چه ډاکخانه کې د روپو جمع کولو په نیت خبره روانه ده، زید وائي چه صرف د حفاظت د وجې نه په ډاکخانه کې جمع کول جائز دي، عمرو وائي چه دا روپۍ په سودي تجارتونو کې لگول کیږي، او د دې په جمع کولو کې د سودي تجارت اعانت دی، لهذا ناجائزه ده، زید وائي چه دټولو روپۍ تجارت کې نه لگیږي ځکه چه مونږ گورو چه کله یو کس خپلې روپۍ برآمدکول وغواړي نو روپۍ به راوویستل شي، بعضې روپۍ به په تجارت کې لگول کیږي یا لږ او ټول، بهر حال دا معلومیدل مشکل دي بلکه عادة ناممکن دي چه د چا روپۍ په تجارت کې ولگول شوې د چا نه دې لگول شوي یا کوم نیت باندې روپۍ لگول شوې دي ځکه چه د ټولو روپۍ جمع کیښودل کیږي، او بالفرض که ټولې روپۍ په تجارت کې لگول کیږي بیا هم اعانت علی المعصیت نه لازمیږي، ځکه چه دې قسم ته اعانت علی المعصیت نه دی خیال کړی شوی، مثلاً د ولایت په زرگونو څیزونه مثلاً کپړې، لوښي، گهړۍ وغیره په هندوستان کې خرڅیږي او مونږ ته یقینا معلومه ده چه جوړونکي ئې انگریزان دي، کوم چه د سودي لین دین او سودي تجارت عادي دی، او په بمبۍ، کلکته وغیره کې چه کوم مال اخستل شوی دی هغه هم د تجارت په ناجائز طریقه اخستل شوی دی، بیا مونږ ټول عوام او علماء او صلحاء دا څیزونه اخلو او استعمالو ئې، د



مسلمانانو دا اخستل شوي کاروبار ته ترقي ورکول دي او که نه؟ که داسې نه وي نو لږه ترقي خو ضرور ورکوي، مگر دا لږه ترقي خو به هم آخر حرامه وي او په اعانت علی المعصیت کې به داخل وي لکه څنگه چه په ډاکخانه کې روپو جمع کولو کې اعانت علی المعصیت دی، داسې بلکه غور سره وگوره نو د دې نه زیات په ولایتي څیزونو اخستلو کې اعانت علی المعصیت دی بیا څه وجه ده چه عمرودې ته جائز ویلي او هغې ته ناجائز، د دې نه علاوه زمونږ فقهاو لیکلي دي چه که د څادر یو طرف گنده شوی وي او یاد نه وي چه کوم طرف گنده شوی وو نو کوم طرف ته چه هم ووینځل شي هغه څادر پاک شو، دا جزء په یاد وساته او وگوره چه څادر به ولې پاک شي په ظاهره کې خو ورله پاکیدل نه دي پکار ځکه چه ممکنه ده چه هغه طرف ئې نه وي وینځلی چه ناپاک دی، نو صرف د شبهې د وجې نه هر طرف ته ناپاک نه وائي، د دې یو بل مثال هم د فقهې په کتابونو کې موجود دی، هغه دا دی چه کله د غلې غوبل کوي نو غویان په کې متیازې کوي د هغې متعلق فقهاو لیکلي دي چه که لږه حصه محتاجو خلکو ته ورکړی شي یا حصه دارانو باندې تقسیم کړی شي نو غله به پاکه شي، او وجه دا لیکي چه شبهه پیدا شوه چه شاید ناپاکه غله د بل حصه کې تللې وي او زمونږ په حصه کې نه وي، په دې کې شك نشته چه دا وجه او داسې نورې وجې ټولې کمزورې دي او د ټولو حاصل دا دی چه عموم بلوی، دفع حرج، تعامل علماء صلحاء، تعامل خلائق د وجې نه دا څیزونه حلال او پاك او جائز دي، په همدې دواړو صورتونو باندې په ډاکخانه کې د روپو په جمع کولو خیال وکړه لکه څنگه چه د شبهې نه ناپاك څادر او ناپاکه غله حلالیږي، داسې شبهو سره دلته د ډاکخانې حرامې روپۍ هم حلالیږي، (حرام او ناپاك ورته علی سبیل الفرض وویل شو کنه نو داسې نه دي) او که د داسې شبهو نه قطع نظر وکړی شي او هلته عموم بلوی دفع حرج وغیره نه حرام او ناپاك حلالیږي نو دلته هم داسې کیدل پکار دي چه دواړو کې د فرق کولو هیڅ وجه نشته که دا وویل شي چه کله چه ډاکخانې نه وې نو صرف د حفاظت په غرض سره به دې خلکو روپۍ چیرته کیښودې نو چیرته ئې چه کیښودلې خو اوس دې هم ږدي، وبه ویل شي چه کله ډاخانې نه وې او د مني آرډر په ذریعې سره روپۍ نه تللې نو خلکو به روپۍ څنگه لیږلې، اوس دې هم لیږي، اوس که هغه جائز وي نو د اولی ناجائز دي؟ او په دواړو کې څه فرق دی؟ که هلته د جواز څه وجه وي نو دلته هم د جواز څه وجه شته؟

جواب: قاعده کلیه ده چه که امانت د مالك په اجازت سره بل مال کې مخلوط کړی شي نو مجموعه مشترکه کیږي. "فی الدر المختار کتاب الایداع وان باذنه اشترکا شرکة املاك کما لو اختلطت بغیر صنعة کان انشق الکیس لعدم التعدی".نو کله چه د تپوس کونکي د سوال مطابق هغه روپۍ یوځاي اینبودل کیږي او ظاهره ده چه دا خلط بالاذن دی، نو څومره روپۍ به چه په ناجائز تجارت کې لګیږي، په هغې کې به د ټولو لرې لرې روپۍ ضرور وي، نو هر کس به د خپلې مشترکې حصې په اندازه په تجارت کې معین وي، او د معصیت مدد کول ضرور معصیت دی، او د څیزونو اخستلو ته اعانت علی المعصیت نه شو ویلی، لهذا مونږ چه کله کوم څیز واخستلو او د هغې قیمت مو ادا کړو نو هغه قیمت د هغه تجارت ملکیت شو، زمونږ روپۍ په معصیت کې مصرف نه شوې او دلته خو پخپله زمونږ روپۍ په حرام تجارت کې لګول شوې دي، او کوم فقهي مثالونه چه سوال کې ذکر دي د هغې ټولو جواب دا دی چه په دې کې بعضې اجزاء واقع کې اجزاء نجسه نه متمیز او منفرد دي نو د حرج لرې کولو لپاره د دې اعتبار وکړی شو او دلته بالیقین هرجزء کې د اشتراك په وجه اعانت علی المعصیة کیږي او د عموم بلوی جواب د مني آرډر په سلسله کې ذکر شوی دی، او مني آرډر او دې کې ئې چه د کوم فرق تپوس کړی دی او لځو فرق نه کیدل مضر نه دي ځکه چه هغه هم منع کیږي، لکه څنګه چه تفصیل سره ذکر شول بیا د اخري تاویل په اعتبار سره فرق کیدی هم شي چه په دې کې تراوسه پورې داسې تاویل نه دی راوتلی، فافترقا، البته که یقینا دا تحقیق وشي چه په دې روپو ناجائز کارونه نه کیږي نو بغیر د.سود اخستلو نه به جمع کول جائز وي، والله اعلم. ۱۸ ذیقعده ۱۳۲۰ھ (امداد ص۲۹ ج۳ وحوادث اول ص۱۳).

## د جهاز بیمه کولو څو صورتونه او د هغې جواز او عدم جواز

سوال:(۲۵۲) اول نمبرکوم مال چه بیمه او جهاز کې لیږل کیږي یعني کله چه جهاز تللو ته تیار ولاړ وي نو یو کس د دغه مال ذمه داري اخلي چه که دا مال فلانې ځاي ته خیریت سره ورسیدو او په لاره کې څه نقصان وشو نو زه به دغه نقصان پوره کوم او د مال مالك نه د بیمې والا اته زره په حساب سره پیشګي اخلي او جهاز ران ته د لنګر لرې کولو حکم ورکوي، دا معامله په شریعت کې جائزه ده او که نه؟

(۲): که دا بیمه د جهاز مالك وکړي، داسې چه معمولي کرایه سره دوه یا درې چنده کرایه واخلي او مال ډك کړي او د نقصان ذمه دار وي نو جائزه ده او که نه؟ که ناجائز وي نو کومه



بیمه چه پارسل یا ډاکخانه کې کیږي په هغې او دې کې څه فرق دی، د نقصان او ضائع کیدو احتمالات په دواړو ځایونو کې موجود دی؟

(۳) کوم مال چه بیمه او جهاز کې لیږل کیږي په هغه مال کې خو څه نقصان او خرابي نه راځي او د دې اخستل او خرڅول جائز دي او که نه؟

جواب (۱، ۲): اول دې څو مسئلې معلومې کړی شي بیا به د سوال په جواب پوهیدو کې اساني وي، د مضمون د حق سره کفاله خاص ده. "فی الدر المختار کتاب الکفالة واما کفالة المال فتصح به ولو المال مجهولا اذا کان ذلك المال دینا صحیحا هو مالا یسقط الا بالاداء اوبالابراء".

۲_ فی الدر المختار کتاب الایداع وهی امانة فلا تضمن بالهلاك الا اذا کانت الودیعة باجر الخ". د دې روایت نه معلومه شوه چه د کوم امانت په حفاظت چه اجرت واخستل شي په تلو سره د هغې ان لازمیږي.

۳_ فی الدر المختار باب اضمان الاجیر ولا یضمن (ای الاجیر المشترك) ما هلك فی یده وان شرط علیه الضمان لان شرط الضمان فی الامانة باطل کالمودع الی قوله خلافا للاشباه وفی رد المختار ای من انه من شرط ضمانه ضمن اجماعا وهو منقول عن الخلاصة وعزاه ابن الملك للجامع وفی رد المحتار قوله ولا یضمن الخ اعلم ان الهلاك اما بالفعل الاجیر اولا والاول اما بالتعدی اولا والثانی اما ان یمکن الاحتراز عنه اولا ففی الاول بقسمیه یضمن اتفاقا وفی ثانی الثانی لا یضمن اتفاق وفی اوله لا یضمن عند الامام مطلقا ویضمن عندهما مطلقا".د دې نه معلومه شوه چه د اجیر مشترك په لاس کې د هلاکیدو څو صورتونه دي په کوم کې چه د اصل مذهب په اعتبار سره تفصیل دی لیکن په اشباه کې ئې د اشتراط ضمان نه د ضمان فتوی ورکړې ده اوس د سوال جواب لیکل کیږي هغه دا جهاز والا اجیر مشترك دی، د اصل مذهب د وجې نه هغه په دوه صورتونو کې ضامن دی، یو هغه چه کله هلاك بفعل اجیر شي او د دې نه احتراز هم ونه کړی شي لکه غرق وغیره او په یو صورت کې اختلاف دی، په کوم ځاي کې چه هلاك بدون فعل اجیر وي او احتراز ئې وکړی شي نو که د جهاز والا دا نه وي شرط کړې چه مونږ ستاسو د تلف شده اسبابو ذمه دار او ضامن یو نو بیا خو به بعضې صورتونو کې هغه ضامن دې، او په بعضو کې نه او په بعضو کې اختلاف دی، په کوم باندې چه د عمل کولو ګنجائش شته دی، او که د جهاز والا ذمه داري اخستلې وي نو د اشباه په قول هغه په هر صورت کې ضامن دی، د دې تفصیل خو متعین شو، نورو صورتونو کې په کوم کې چه د جهاز والا په ذمه ضمان دی او په کوم کې چه د هغه په ذمه کې ضمان نه دی، او د دې ماخذ مسئله نمبر (۳) کې ده نو که د بیمې والا کمپني په مذکوره صورتونو کې په داسې یو صورت کې بیمه کړې وي په کوم کې چه د

جهاز والا په ذمه ضمان دی نو بیا خو بیمه جائزه ده او که په داسې صورت کې ئې بیمه کړي وي چه د جهاز والا په ذمه ضمانت نشته دی نو بیمه جائزه نه ده لکه څنګه چه (۱) نمبر مسئله کې ذکر شو چه د کفالت د صحت لپاره د دې حق مضمون کیدل شرط دي، دا څه چه ولیکل شول هله دې چه بله کمپنۍ بیمه وکړي او که جهاز والا پخپله بیمه وکړي نو د هغې حقیقت به دا وي چه د اجیر مشترك باندې د ضمان شرط وشو دا به د اشباه په قول هر حال کې واجب وي او د ډاکخانې بیمه په همدې کې داخله ده چه پخپله عامل د ضمان شرط قبلوي او که داسې صورت وکړی شي چه د مال رسولو معاوضه خو جهاز والاو ته ورکړی شي او د مال د حفاظت انتظام به د بیمې کمپنۍ له ورکړی شي چه هغه خپل خاص کس د مال د حفاظت لپاره په جهاز کې وساتي نو په دې صورت کې د کمپنۍ بیمه کول په هر حال کې جائز دي که جهاز والاو باندې شرعا ضمان وي او که نه وي لکه څنګه چه اوله مسئله کې ذکر شول، خلاصه دا چه خاص د جهاز والا بیمه او د کمپنۍ والا چه کله خپل کس په جهاز کې وساتي نو په دغه وخت کې د بیمې دا دواړه صورتونه مطلقا جائز دي، او که د جهاز والا بیمه ونه کړي او نه کمپنۍ خپل کسان په جهاز کې وساتي نو په کومو صورتونو کې چه جهاز والا باندې شرعا ضمان دی په هغې کې د بیمې کمپنۍ والا بیمه جائزه ده او په کومو صورتونو کې جهاز والا باندې ضمان (تاوان) نشته په هغې کې د کمپنۍ بیمه هم جائز نه ده او د دې صورتونو تفصیل بره لیکل شوی دی.

جواب (۳): د کومې بیمې د ناجائزد کیدو د وجې نه په مال کې خباثت نه راځي، والله اعلم ۱۵ صفر ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی صـ۱۸۰ وحوادث اولی صـ ۳۷).

## د سود نه د ځان ساتلو لپاره د سودا قیمت زیاتول جائز دي

سوال :(۲۵۳) زه د کپړې تجارت کوم او په هغې کې سود هم ورکول کیږي او صورت ئې دا دی چه معین وخت باندې چه کله د سود خور روپۍ ادا نه کړی شي نو هغه سود لګوي، ډیر ځل مې زړه پریښودلو ته غواړي لیکن په ظاهره کې بل څه د معاش صورت په نظر نه راځي، ډیر پریشان او مجبوره یم، دعا وکړئ چه الله ﷻ د دې هلاکت نه نجات راکړي او عرض دا دی چه که د سود خور سره په دې خبره فیصله وکړی شي چه مونږ هغه ته ۵ پیسې په حساب سره نفع ولګوو که ۶ پیسې د روپۍ په حساب سره نفع ورکړو نو هغه به راضي شي نو دا د



جواز صورت دی او که نه؟ اګر که په معین وخت د هغه روپۍ ادا نه شي کله چه د یوې پیسې زیاتوالی چه کوم کړی شوی دی هغه به سود خور د روپو وروستو کول بغیر د سود نه وګڼي؟

جواب: آو! داصورت جائز اومستحسن دی؛ چه د هغې فائده زیاته کړی شي او سود ورنکړی شي اګر که د معین وخت نه پرې څومره موده هم تیره شي. یکم ربیع الثاني ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه صـ۶۸).

## سود دادن بحر بیان الخ

سوال :(۲۵٤) سو دادن بحر بیان درست یا نه؟

جواب: عبارات کتب فقیهیه عام واقع شده اند دادن وګرفتن را شامل اند مثل "لا ربوا بین المسلم والحربي في دار الحرب" وقاضي ثناء الله صاحب پاني پتي در رساله توجیه دادن سود نیز نوشته اند این وقت فقیر رایا دنیست لیکن این قد ظاهر است که کرفتن سود از حربیان باین وجه حلال است که مال حربی مباح است اکردر ضمن آن نقض عهد نبا شد وحربی چون خود بخود بدهد بلا شبه حلال خواهد بود ودادن سود بحر بیان باین وجه حلال است که خورانیدن حرام بمسلمان درست نیست وآنها حرام خوراند اکر چیزی بطریق سود داده خواهد شد بیش ازین نیست که حرام خواهد خورد.

# کتاب الوکالة

## د صرف نه وړاندې د وکیل نه د روپو اخستلو جواز

سوال :(۲۵۵) په یوه ځمکه کې د طالبانو لپاره د څو کوټو جوړولو تجویز وشو، په کوم به چه تقریبا ۲۰۰۰ روپۍ خرچ کیږي، او ظاهراً هغه نه شي کیدی نو ځکه مو چنده وکړه دومره روپۍ پیدا نه شوې چه کمرې پرئ جوړې کړی شي بلکه ورکونکي تساهل هم کوي او وائي چه کومې چه ورکړی شوي دي او کومې چه وې هغه به همدې کمرو کې مصرفوو په دې ځمکه کې جومات هم جوړیږي مګر جوړونکی ئې بل کس دی، د کمرو چنده ورکونکو نه یو کس خپلې روپۍ واپس اخستل غواړي او په جومات کې ئې لګول غواړي او وایي چه چونکه کمرو جوړولو کې تساهل کوي نو زه خپلې روپۍ ولې معطلې کړم بلکه د جومات په جوړولو کې به ئې خرچ کړم، د کمرو په جوړولو هلې ځلې کونکیوائي چه تا دا د کمرو لپاره ورکړي دي ته ئې واپس اخستلی او په بل څه کې مصرفولی نه شې، نو په مذکوره صورت کې هغه خپلې روپۍ واپس اخستلی شي او که نه؟ او که هغه د رجوع حق نه لري او هغه په اصرار کولو سره د تحویلدار نه واخستلې نو دواړه به ګناهګار وي او که نه او تحویلدار به تاوان ورکوي او که نه؟

جواب: یو کس ته په خاص ځاي کې روپو مصرفولو سره هغه روپۍ د هغه د ملکیت نه نه خارجیږي. لهذا دا کس خپلې روپۍ واپس کولی شي او واپس کولو کې ورته اختیار دی، که په جومات کې ئې ورکوي او که چیرته وغواړي چه مصرف ئې کړي ځکهچاته ئې چه روپۍ ورکړې هغه وکیل دی او د وکیل لاس د موکل د لاس په شان دی نو څنګه چه دخپل ځان سره خارج عن الملك کیږي نه، همداسې وکیل ته د تللو سره هم دا روپۍ نه وقف کیږي چه د ګنجائش شبه وي. ۱۵ شعبان ۱۳۲۱ھ (امداد ص۴۰ ج۳).

## فضولي في البيع رانفع درمیان داشتن

سوال :(۲۵۶) زید د عمرو د کتابخانې مهتمم او د عمرو دوست دی، زید دا ګمان لري که زه په کتابخانه کې جزئي تصرف وکړم نو د عمرو خلاف به نه وي، په دې ګمان باندې زید د کتابخانې کتابونه خالد ته په وعده ورکوي، چه خالد دا کتابونه خرڅ او خپل کار وچلوي او



بیا چه کله د خالد سره هغه کتابونه موجود وي نو زید ته ئې ورکړي او زید به هغه کتابونه په کتابخانه کې داخل کړي. داسې کولو سره د عمرو د کتابخانې هیڅ نقصان نشته او د خالد کار هم روان دی، او چونکه د زید دا غالب ګمان دی چه عمرو د دې نه ئې تصرف کوم چه خالد څه د فائدې رسولو په غرض سره جائز به ورته ووائي نو ځکه تصریحا د هغه اجازت نه اخلي نو ایا زید له داسې تصرف جائز دی، په مذکوره صورت کې د اصلاح الرسوم او تعلیم الدین د کوم چه یو مجلد کې وو خالد ته ورکړل د خالد ایجنټ هغه خرڅ کړل د اصلاح الرسوم قیمت ۳ دی او د تعلیم الدین د ۴ جلدونو ۱ روپۍ ده، او د خالد په ذمه ټول ۱۰ لګول شوي دي کوم چه د دې کتابونو اصلي قیمت دی، بیا د خالد ایجنټ زید ته ۴ ورکړې او د تعلیم الدین قیمت ئې ورنه کړو بلکه د خالد په کتابونو کې د اصلاح الدین نسخې موجودې وې په هغې کې ئې د تعلیم الدین نسخه زید ته ورکړه دا نسخه زید په ۸ باندې خرڅه کړه.

(۱) اوس که شپږ د تعلیم الدین او ۴ د اصلاح الرسوم خرید او یوه آنه د جلد بندي ورکولو سره دواړه کتابونه ئې په یو مجله کې په کور کې همغه شان کیښودل او ۲ کوم چه په تعلیم الدین کې په خرڅیدو کې چه کومه نفع وشوه دا جائزه ده او که نه ده؟

(۲) یا اته کومې چه د تعلیم الدین خرڅولو کې زید ته ملاو شوې دي که دا اته زید خالد ته ورکړي او خالد بیا دویم تعلیم الدین چه قیمت ئې ۶ روپۍ دی. واخلي مجلد ئې کړي او په مذکوره طریقه ئې کتابخانه کې کیږدي نو جائزه ده او که نه؟ د تعلیم الدین عام او اصل قیمت ۶ روپۍ دی. لیکن خالد د کامیابیدو د وجې نه دلته ۸ ورکوي په دې بنا ئې په اته خرڅ کړو کنه نو په شپږ وو؟

جواب: اول دوه امرونو باندې پوهیدل پکار دي. اول دا چه تصرف د فضولي دی. او د فضولي تعرف د مالك د اجازت نه وروستو د وکیل د تصرف په شان دی. دویم کار دا چه حقیقت د دې تصرف اقراض او استقراض نه دی ځکه چه کتاب د ذوات القیم نه دی. د ذوات الامثال نه نه دی. د دې دواړو کارونو نه معلومه شوه چه زید د عمرو وکیل دی، او خالد د زید وکیل او ایجنټ د خالد وکیل نو د ایجنټ خرڅول بواسطه مثل بیع اصل مالك دی. او زید چه په خالد باندې کومې لس ولګولې چونکه زید سد مشتري نه دی بلکه ماذون في البیع دی، نو ځکه دا لس لګول داسې دي لکه موکل چه وکیل ته ووائي چه دا ځیزونه په ۱۰ باندې خرڅ کړه. نو په دې سره دا ۱۰ د هغه په ذمه نه شوې او که د دې نه په زیاتو ئې خرڅ کړي نو هغه د موکل ملکیت دی. د دې ساقل وکیل له جائز نه دي، اوس

اصلاح الرسوم او د جلد قیمت چه ۴ ورکړی شوی دی نو دا خرڅ شو او تعلیم الدین اوس هم د عمرو ملکیت دی، او تعلیم الدین دویمه نسخه کومه چه مبادله کړی شوه او دا اصل نسخه به د مبدل په طور سره د عمرو ملکیت شي، اوس چه زید په ۸ باندې خرڅه کړه نو دا ۸ هم د عمرو ملکیت دی، لهذا زید له ۲ ساتل حرامې دي.

(د دویم سوال جواب متعلق سوال اول) کله چه دا ۸ د عمرو ملکیت دی نو بشرط رضائي متیقن د عمرو که زید د هغه تعلیم الدین واخستلو نو دا بیعه به صحیح شي.

د کلام خلاصه دا ده چه زید به دې ټولو تصرفاتو کې غیر اصل د، نه پخپله د هغه کوم انتفاع جائز دی او نه کوم داسې تصرف چه په هغې کې دا شك وي چه عمرو راضي دی او که نه. ۱۲ رجب ۱۳۲۲ هـ (امداد ص ۴۱ ج ۳).

## د نابالغ د مال خرڅولو د توکیل لپاره د قرض ادا کول

سوال :(۲۵۷) کافر نابالغ مقروض دی، او ولي ئې نشته دی، اوس که نابالغ خپل مال د خرڅولو لپاره چه قرض پرې ادا کړي یو وکیل مقرر کړی، نو آیا دا وکالت به صحیح وي؟

جواب: د داسې کس ولي مسلمان حاکم دی، او که داسې نه وي خو عام مسلمانان د دې په حکم کې دي، نو که دوه څلور خیر خواه او د اثر والا مسلمانان د هغه توکیل جائز کړي نو جائزه ده. (تتمه اولی ص ۲۱۳).

## په مذکور توکیل کې د قیمت د کموالي او زیاتوالي اختیار شته او که نه

سوال :(۲۵۸) او که د همدې مال په قیمت کې د کموالي او زیاتوالي اختیار هم ورکړي نو ایا دا اختیار به هم ورته حاصل شي او که نه؟.

جواب: د غبن یسیر اجازت دی، یعنې کوم چه د عرف خلاف نه وي. (تتمه اولی ص ۲۱۴).

## د مدرسې مهتمم د چندې ورکولو والا د طرف نه وکیل دی او د زکات روپئ

## د مدرسینو په تنخواه کې نه شي مصرفولی او د دې لپاره متعارفه حیله ناجائز ده

سوال :(۲۵۹) د مدرسې مهتمم د طالبانو د طرف نه نائب دی، یا د چندې ورکونکي د طرف نه وکیل دی، که نائب وي نو قبضه د مهتمم خپله قبضه ده، همداسې صورت کې هر



شان مال د زکات او غیر زکات مخلوط کول او د مدرسې د هر یو ضرورت د مدرسینو د تنخواه او کتابونو اخستل او صرف کولو جائزیدل پکار دي او د کومې حیلې ضرورت نشته دی، مثلا د د صغیر ولي چه وي او که مهتمم د ورکونکي وکیل لوي نو بیچاره مهتمم به د ډیر تکلیف سره مخامخ وي، کله چه مدرسې ته اکثر مال د زکات او واجب صدقات راځي او په مدرسې کې زیات خرچ د تنخواه وغیره وي او خاص خوراك په طالبانو کم مصرفیږي، او هر یو مال جدا کول او نه ګډوډ کول ډیر مشکل دي، د دې نه د براءت څه شکل دی، بعضې ځایونو کې چه دا حیله کیږي چه یو طالب علم ته ئې ۲۰۰ یا ۵۰۰ روپئ ورکړې او بیا هغه په مدرسه کې داخلوي، ایا دا حیله کافي ده، او داسې هر مال ورسره مخلوطول او د مدرسې هر ضرورت به جائز وي، یا مهتمم په بعضې وجوهو کې نائب دی، او په بعضو کې وکیل نو د وکالت او نیابت په وجوهو سره دې تعین کړه چه په کوم صورت کې مهتمم نائب دی او په کوم صورت کې وکیل دی، بینوا توجروا؟

جواب: ظاهراً مهتمم د ورکونکي وکیل دی، نو ځکه دا د تنخواه وغیره په مصارفو کې مصرفول جائز نه دي، پاتې شو مخلوطول نو د مالکینو په نزد جائز دي، او کوم ځاي کې چه مهتمم معتمد امین ګڼل کیږي نو هلته د خلکو د عادت نه غایه دا ده چه د داسې کارونو اجازت وي البته احتیاط دا دی چه "رقوم واجبة التملیك وغیر واجبة التملیك" خپل مینځ کې مخلوط نه کړي، او که د طالبانو وکیل هم قرض کړی شي نو د هغه قبضه مثل قبضه طلبه ګڼل کیږي، لیکن که د طالبانو په قبضه کې دا مال ورغلی وي نو بیا ده تنخواه ګانو وغیره کې به ئې مصرفولی شي، همداسې مهتمم له هم د طلبه و خلاف د خاصو حوائجو بل طرف ته صرف کول نه دي پکار، لکه څنګه چه امیر المسلمین د فقراو نائب دی، مګر بیت المال نه روپئ په نورو مداتو کې نه شي خرچ کولی، او دا حیله متعارفه لا شیئ فقط ده. ۲۷ رمضان ۱۳۲۹هـ، (تتمه اولی ص ۲۱۴، حوادث اول ص ۴۹).

## عدم ضمان وکیل مصرف بالاذن رابعد موت موکل وعدم جواز صرف وکیل باقي بعد موکل را

سوال :(۲۶۰) زید په خپل ژوند کې عمرو ته ۱۰۰ روپئ خیر ورکړو او په فلاني ټاپو ئې خط ولیکلو چه دا روپئ چه په کوم کار خیر کې مناسب وي خرچ کړه، که کمیږي نو یوه به بله ورکړم، د یو پوخ کوهي انتظام ئې وکړو، د کنکر کنستلو او د نورو اسبابو په مهیا کولو کې تخمینا نیمه روپئ خرچ کړه د کوهي انتظام شوی وو، هغه ولیدو په دې وخت کې زید د

خپلې ښځې سره د خرچ حج له پوره روپۍ یوړې، واپسۍ کې په جهاز کې وفات شوه، د زید ښځې په لاره کې د یوې ښځې سره خپله خطبه وکړه کله چه بیا کور ته راغله د زید ښځې او صاحب خطبه بیانوي چه زید سل روپۍ قرض اخستلي او مړ شوی دی، او ویلي ئې دي چه کومې روپۍ چه د عمرو سره دي هغه واخله او قرض ئې ادا کړه، د دې باوجود چه زید د دې نه علاوه نوره ترکه هم پریښې ده او کوم حاجیان چه ورسره وو هغوئ وائي چه زید قرض نه دی اخستلی، اوس په دې صورت کې عمرو روپۍ چیرته خرچ کړي، آیا ښځې ته ئې واپس ورکړي، یا په کارخیر کې ئې خرچ کړي، یا د هغه یو ځوي نابالغ دی، د هغه لپاره ئې امانت کیږدي، او کومې چه خرچ شوې وې د هغې تاوان ورکړي کوم چه شرعي جواب وي هغه ولیکئ؟

**جواب**: کومې روپۍ چه خرچ شوې دي د هغې تاوان د عمرو په ذمه نه دی، ځکه چه د مالك په ژوند ئې د هغه په اجازت سره خرچ شوې دي، او کوم چه باقي دي په هغې کې د زید ښځه او د هغه د خطبې والادعوه شرعا بغیر د دلیل نه معتبره نه ده، لیکن د زید مړ کیدو سره هغه روپۍ امانت شوې او د خرچ کولو اجات ختم شو، نو ځکه باقي روپۍ به دزید ملکیت وي، او شرعا په هغې کې د هغه د وارثانو میراث جاري کیږي، یعنې تقدیم حقوق متقده علی المیراث د قرض وغیره په شان د هغه ښځې ته به ۱/۸ او ۷/۸ به د هغه نابالغه ځوي ته ورکول کیږي، او که بل کوم وارث هم وي نو د هغه ظاهرول او سوال کول پکار دي.

## استیفائی دَین از وکیل بقبض آ ن

**سوال** :(۲٦۱) یو کس د خپل قرض وصولولو دپاره یو کس وکیل جوړکړو او اطمنان لپاره ئې اول د هغه نه روپۍ واخستلې او د وصولولو نه وروستو ئې مجرا کړې دا جائزه ده او که نه؟

**جواب**: په دې تاویل سره جائز دی چه د وکیل نه هغه قرض واخستلو بیا ئې وصولولو سره په کې شمار کړي (۲شعبان / ۱۳۳۱ھ / تتمه ثانئه / صـ ۶۰)

## رعایت مهتمم مدرس را

**سوال** :(۲٦۲) کوم مدرس چه تقررئ باوجود د درس وخت نه پوره کوي، یا باني او یا مهتمم یا د مدرسي سرپرست پرې سترګې پټوي نو شرعا څومره ګناه ده؟

**جواب**: دمتعارف سترګې پټول جائز او ډیر ناجائز دي: ۲۰ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ، (حوادث اول صـ ۲۰)



## حکم ملعبه زمیندارا ن او نمبر داران

**سوال** :(۲٦۳) یوه روپۍ وي نمبردار ئې د زمیندارانو نه د روپو وصولولو په وخت في روپۍ څه ناڅه زیاتې جمع کوي د هغې د ټولو زمیندارانو نه د وصولولو د حکومت طرف نه اجازت دی، هغه ملبه نمبردار د زمیندار د مرضي مطابق په لاندې کارونو کې خرچ کولی شي:

۱_ کوم مولوي صاحب د وعظ لپاره راغلو د هغوئ نذرانه.

۲_ کوم غریب فقیر له ئې ورکړي.

۳_ د سرکاري سپاهیانو خرچه وشوه نو هغه د دې نه پوره شوه.

۴_ کوم سرکاري چپراسي راغلو هغه له ئې خوراك ورکړو.

۵_ کوم ناګهاني خرچ په کلي کې پیدا شو په هغې کې ئې ورکړو.

۶_ نمبردار د تحصیل جمع کولو لپاره لاړل، هلته چه تللو راتللو خرچ وشو په هغې کې ئې ولګول.

په اصل کې ما څه لرګي اخستلې دي د هغې قیمت وغیره مانه اخستل نه غواړي هغه نمبرداران ماته وائي چه یا خو د ملبې نه روپۍ ورکړي یا به ئې مونږ ورکړو نو دا وفرمایئ چه ملبه باندې اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: د بالغانو نه کله چه ئې په رضا ورکړي او په رضا باندې د خرچ کولو اجازت ورکړي نو اختسل ئې جائز دي، او د نابالغانو په روپو اخستل جائز نه دي، او که د لرګي قیمت کوم زمیندار د خپل طرف نه ورکړي نو هغې کې هم په دې شرط سره اجازت دی چه هغه روپۍ بالغ او په رضا ورکري. ۱۷ جمادی الاخری ۱۳۳۱ھ، (حوادث اول صـ۲۳).

## تحقیق صرف کردن خرچ متفرق سکول

**سوال** :(۲٦٤) مونږ چه کوم سکول کې اوسیږو، ګورنمنت سکول دی، د هغې د اخراجاتو لپاره د میاشتې ۵ روپۍ او د کال ۶۰ روپۍ د حکومت نه ملاویږي، او د دې لپاره مد مقرر دی، مګر په اته آنې کې د جارو کار ټوله میاشت کول ګران دي، او نوکر نه شي ملاویدی، او هغه ۸ خرچ نه شي نو د حکومت نه به هغه اخستل هم موقوف شي او د جارو والا اوسیدل ضروري دي، نو داسې سخت ضرورت کې جارو کش کار څنګه سر ته رسیدي او هغه ۸ پیسې بچ کیږي نور مدونه هم دي چه څه روپۍ ئې بچ کیږي اګرچه ۵ روپو پورې خرچ کولو سره او د هغې حساب ورکول که غلط هم وي نو سرکار ته څه وائي مګر د حساب نه ورکولو د وجې نه کیفیت طلب کوي او حساب میاشت په میاشت لیکل کیږي، نو په دې وخت کې

چه کومې روپۍ زیاتې کیږي په خپل ذات کې خرچ کول څنګه دي، همداسې ئې په دفتر کې تول اخلي، زمونږ نه مخکې هم چه څوك وو هغه به هم داسې کول او نورو مدرسینو ته به ئې ورکولې، نو نورو ته هم ورکول جائز دي او که نه؟

**جواب**: تاسو لیکلي دي چه د جارو والا دا کار په اته آنې نه ورکوي، همداسې پخپله او نورو کارونو کې مصرفول بالکل هم جائز نه دي ځکه چه دا کس د حکومت وکیل دی، او وکیل مالك نه بلکه امین وي، او د موکل د اجازت نه بغیر وکیل له په امانت کې تصرف کول جائز نه دي. ۲۸ محرم الحرام ۳۲ھ، (حوادث اولی ص۱۳۱).

## عدم جواز مخالفت موکل برائې وکیل وعدم جواز خریدن

## چیز یه که برائې فروخت از وکیل باشد... برائې نفس خود

**سوال**: (۲٦٥) که مذکوره سامان د متعلقه افسر د چا په ذریعې سره چه مال لیلامیږي هغه د کوم مستري نه د دغه سامان د قیمت تپوس وکړي چه موجوده صورت کې د دې سامان قیمت څه کیدی شي او بیا هغه افسر هغومره قیمت په سرکاري خزانه کې داخل کړي او سامان واخلي نو دا بیعه جائزه ده او که نه؟ کله چه هیڅ قسم بولۍ وغیره ونه کړی شي؟

**جواب**: که قانونا دغه کس ته د داسې کارروائي اجازت وي نو جائزه ده کنه نو شرعا هم جائزه نه ده. "لاالوکیل لایجوزله المخالفة ولاان یشتری لنفسه". ۱۱ جمادی الثاني ۱۳۳۲ھ، (حوادث اولی ص۱۴۱).

## رفعه شبه بر عدم جواز آمدنی وکالت

**سوال**: (۲٦٦) په هدایه کې تصریح ده چه په هغه طاعاتو باندې د اجرت اخستلو اجازت نشته چه د مسلمان سره مختص وي، د مظلوم نصرت اګرچه طاعت دی لیکن د مسلمان پورې مختص نه دی، نو د وکالت آمدن څنګه ناجائز دی لکه څنګه چه اعلی حضرت فرمایلي وو؟

**جواب**: همداسې د مذهب تعلیم هم مخصوص بمسلم نه دی، دا قید د اختصاص بالمسلم په غیر واجب معلومیږي، لکه نکاح او ذبحه دمظلوم د نصرت په خلاف یا د دین تعلیمي او واجب امورو نه دی، که اختصاص نه وي، والله تعالی اعلم وعلمه اتم. (۱۳ذی الحجه ۱۳۲۳ھ، امداد ثالث ص۶۳).



## توجیه وشرائط جواز پیشه وکالت

**سوال**: (۲٦۷) حضور د وکالت په باره کې استفتاء لیکلې وه که موکل رشتینې وي نو مظلوم دی او د هغه مدد واجب، واجب باندې اجرت اخستل ناجائز دي او که دروغجن وی نو ظالم دی او د ظالم مدد حرام او په حرام باندې هم اجرت اخستل حرام، لیکن که د وکالت فیس ته یا د حرام یا واجب اجرت ونه ویل شي بلکه د قاضي یا حاکم د نفقې په شان نفقه ورته وویل شي نو د جواز ګنجائش کیدی شي او که نه؟ او که دا تاویل نه چلیږي نو بیا دا تاویل کیدی شي چه وکیل د نصرت اجرت نه اخلي بلکه یو خاص وخت او خاص ورځ کې د راګیریدو اجرت اخلي ځکه چه غایت ما فی الباب وکیل باندې به موکل له قانون مشوره ورکول واجب وي، اوس موکل له پکار دي چه د دغه مشورې موافق عمل وکړي لیکن که پخپله د عمل په کولو قادر نه وي نو وکیل د هغه ذمه وار نه شي کیدی، د دې باوجود وکیل عدالت ته بوتلل او د خپل کار لپاره ئې بندول دا غالبا متقوم عند الشرح کیدی شي، په دې کې هم څه اندازه تائید کیدی شي چه بعضې وختونو کې په یوه مقدمه کې څو څو وکیلان نیسي، د کوم نه چه بعضې خبرې کوي او بعضې خاموش ناست وي، کله چه د عدالت وخت ختم او لاړ شي نو اوس هغه وکیلان چه خاموشۍ کې ئې د عدالت وخت پوره کړو د دې باوجود چه مقدمه کې ئې مدد نه دی کړی مګر فیس ئې واخستلو، د دې نه معلومه شوه چه صرف د حبس فیس ئې اخستلی دی، کنه نو هغوئ ته هیڅ هم نه وو ملاویدل پکار، ځکه چه په مقدمه کې ئې نصرت نه دی کړی، آیا په دې تاویل سره وکالت جائز کیدی شي او که نه، فقط بینوا توجروا؟

**جواب**: سائل چه د دې د حبس کوم توجیهات لیکلي دي هغه کافي دي، او هغه د دې تولو نه اسانه توجیه ده، چه فقهاو تصریح کړې ده چه حرمت استیجار مخصوص دئ طاعت مختصه بالمسلم اودمظلوم کومک منجمله طاعات عامه دی نو په دې کې به دا حرمت نه کیږي، حاصل دا چه د وکالت پیشه في نفسه جائز شول مګر شرط دا دی چه رشتینې مقدمات اخلم. ۲۷ رمضان المبارک ۱۳۳۲ھ، (حوادث اولی ص۱۵۳).

# كتاب الكفالة

### په کفيل د مهر دعوی

سوال :(۲۶۸) د دې علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د زيد نکاح هنده سره په ۱۵۰۰ روپۍ وشوه، او خالد د زيد پلار د مهر ادا کولو ضامن شو، شپږ اووه کاله بعد خالد خپل منقوله جائيداد د درې ځامنو عمرو، بکر او زيد ته او خپلې ښځې ترمنځ ئې زباني تقسيم کړل، او په خپله قبضه کې ئې وساتل، د دې نه څو ورځې بعد زيد وفات شو، وروستو خالد هم مړ شو، په دې حالت کې عمرو او بکر د دې جائيداد وارثان شول، اوس چه عمرو او بکر ته کومې حصې د خالد نه پاتې دي هغه د ډير کم قيمت دي، اوس د زيد ښځه د خپل ورور او ماما په معرفت سره په عمرو او بکر د خپل مهر مقدمه کوي، او څه ثبوت يا تحرير په دې باره کې نشته، او عمرو او بکر وائي چه مونږ ته کله خالد د خپل مهر ضامن کيدل نه دي بيان کړي، نو آيا د شريعت د مخې عمرو او بکر د مذکور مهر د ادا کولو مستحق کيدی شي او که کيدی شي نو څومره ميراث ئې چه اخستلی دی د هغې موافق به ئې ورکوي او که د نورو زيات ورکولو مستحق به هم وي، بينوا توجروا؟

جواب: پدې حالت کې چه دکفالت گواهان موجود دي کفالت به ثابت شي، او كفالة بالمال د کفيل مرگ سره نه باطليږي،نو د قيمت ادا کول د ميراث په کفاله مقدم دي، نو هنده د خالد په جائيداد کوم چه د عمرو او بکر په قبضه کې دي مهر وصولولی شي که جائيداد کفايت نه کوي نو د زيات مطالبه د عمرو او بکر نه نه شي کيدی، او عمرو او بکر به د زيد د ترکې نه د خپل حق په اندازه حق وصولولی شي په دې شرط چه كفالة د زيد په امر شوې وي کنه نو د زيد ترکې سره عمرو او بکر هيڅ تعرض نه شي کولی. "اما الكفيل بالمال فلا تبطل لان حكمها بعد موته فيوفى من ماله ثم ترجع الورثة على المكفول عنه ان كانت بأمره، شامی جلد۳ صفحه ۲۵۷. ۱۵ربيع الاول (امداد ثالث ص۴۲).

### د ريلوی کمپنۍ نه تاوان اخستل

سوال :(۲۶۹) که تالې ماتولو سره د کوم صندوق نه د ريل والا مال غلا کړو نو د کمپنۍ د عدالت نه وصولول صحيح دي او که نه؟

جواب: ريلوی کمپنۍ دمال ضامنه وي،نوځکه ترې وصولول درست دي. ۲ ذی الحجه ۱۳۳۰ھ، (تتمه اولی ص۱۷۳).



# كتاب الحوالة

### اشتراط رضاء محيل ومحتال عليه در حواله

سوال :(۲۷۰) يو کس د چا روپۍ منع کړې، بل په خپل نوم وصول او حيلې سره ئې ورکړې، يعني کوم چه اصل قرض ورکونکی وو هغه ته ئې ورکړې او وصل شوي کس ته ئې وويل چه ستا روپۍ مونږ هغه ته ورکړې نو هغه جواب ورنکړو نو دا معتبر شو او که نه؟

جواب: جائز اومعتبر نه دی. "يدل عليه اشتراط رضاء المحيل والمحتال عليه والمحتال فى الحوالة". ۲۷ ربيع الاول ۱۳۲۵ھ، (امداد ثالث ص۴۳).

### د يو کس په بل د قرض حواله ورکول

سوال :(۲۷۱) روپۍ پيسې يا بل څيز اخستلو معامله صحيح ده او که نه ؟ صورت ئې داسې دی چه يوه رساله په ۲ د عبدالحفيظ په لاس خرڅه شوه، هغه ماله يو چوانی راکړو او ويې ويل چه واپس ئې کړه،ما محمد يحيی ته د هغې مخکې وويل چه په تا چه د کتاب کومې روپۍ پاتې وې عبدالحفيظ ته ئې ورکړه، محمد يحيی منظور کړل او عبدالحفيظ هم وويل چه زه به ئې د محمد يحيی نه واخلم،اوس مې تا سره هيڅ کار نشته،دا اخستل ورکول څنگه دي؟

جواب: دا حواله ده او صحيح ده، مگر په دې خاص صورت کې يو ضرورت دا دیٔ چه تاسو عبدالحفيظ ته د باقي په نسبت صرف دومره ووائي چه زمونږ ته بالفعل قرض راکړه، او هغه ئې منظور کړه، بيا دا معامله د حوالې وکړئ. ۲۶ ربيع الاول ۱۳۳۱ھ، (تتمه ثانيه ص۲۲).

### د لرو نغدو په ډيرو قرضو باندې د حوالې مبادله

سوال :(۲۷۲) زيد د خپلو تيرو حساباتو په بنا باندې مثلا ۴۰۰ روپۍ نغدو ډگري باقاعده په انگريز حاصله کړه، انگريز څو مياشتو کې دا روپۍ ادا کوي چونکه زيد د لرې ځای اوسيدونکی وو او دلته نه شي اوسيدلی، لهذا هغه بل کس مثلا خالد ته چه دلته مقيم دی، هغه مذکوره ډگري په دې شرط حواله کوي چه هغه به ورته اوس په يوځل ۲۰۰ روپۍ ادا کوي او وروسته دې ۲۵۰ روپۍ وصول او خپل مصرف کې راوړي، د زيد به ورسره هيڅ کار نه وي، آيا خالد چه د دې ځای مقيم دی زيد ته په دې شرط شرعا دا روپۍ ورکولی شي او که نه؟ په دې کې کوم کار د شريعت خلاف خو نه دی؟

**جواب**: دا جائزه خو نه ده مګر داسې دې وکړي چه خالد دې وکیل کړي چه ته د هغه نه دا روپۍ وصول کړه او ۱۵۰ روپۍ ستا د دې کار اجرت او ۲۰۰ ماته قرض راکړه، هغه هم وصول او خپل قرض کې وساته. ۶ ربیع الاول ۱۳۳۱ه، (حوادث اول ص۱۶).

### په بل باندې د قرض حواله ورکول

**سوال**: (۲۷۳) د زید ۱۰ روپۍ په عمرو باندې دي، خالد زید ته وویل چه ته زما نه خپلې لس روپۍ واخله، زه به دا روپۍ د عمرو نه وصول کړم ؟

**جواب**: که درې واړه راضي وي نو جائزه ده.

## كتاب الوديعت

### جواز گرفتن مال تلف شده از موده بالاجر بحیله

**سوال**: (۲۷٤) د زید یو کس مودع بالاجر په ذریعې سره راغلو په کوم کې چه د ۱۰۰ روپو مال وو مګر په دې کې د ۵۰ روپو مال ترې غلا شو، زید ډیر کوشش وکړو چه کوم مال چه ورك شوی د هغې معاوضه ورته ملاو شي، مګر مودع بالاجر ورله هیڅ هم ورنکړل، اوس د زید یو بکس چه په کې د ۵۰ روپو مال وو د هغه مورع بالاجر سره ورك شو اوس مورع بالاجر د هغه ورك شوي مال فهرست غوښتلی دی، اوس زید د سابق ۵۰ روپو په ځاي داسې لیکلی شي چه زما د ۱۰۰ روپو مال ورك شوی وو، او مورع بالاجر ئې ورکړي نو دا صورت به جائز وي؟

**جواب**: جائز دی. ۱۷ ربیع الثاني ۱۳۳۷ه، (حوادث خامس ۲۶).

### توکیل مودع موَع را

**سوال**: (۲۷۵) زید به د عمرو سره وخت په وخت امانت کیښودلو او د ضرورت په وخت به ئې اخستلو او ورکولو، ګویا دا معامله یو وخت پورې راروانه وه مګر جانبینو څه ونه لیکل، یو ځلې زید د عمرو نه خپل امانت روپۍ وغوښتلې، عمرووویل چه ماته خو یاد دي چه صرف لس دي، زید زباني ورياد کړې؛ آخر عمرو پوره ورحواله کړې، اوس زید دوباره عمرو ته روپۍ ورکړې چه په فلاني میاشت کې فلانی شی واخله او ماته ئې راولیږه، عمرو راونه لیږلو هغه وخت کې ئې روپۍ واخستلې، او وعده ئې هم وکړه نو کله چه زید د تحریر په



ذریعې سره غوښتونکی شو نو عمرو ولیکل چه زما په ذمه ستا هیڅ هم نشته، بیا خو د هغه دا خبرې یوې مودې پورې وې، زید د معاملې ختمولو دپاره دا ولیکل چه ته دا پنځه روپۍ کومې مدرسې یا یتیم خانې ته ورکړې، په دې نیت چه ای الله ﷻ! که د زید روپۍ وي نو هغه ته او که نه نو ما ته ثواب ملاو شي، عمرو د زید په نوم روپۍ داخلې کړې، او وېې لیکل تا په ما باندې جبراً دا روپۍ داخلې کړې دي، نو اوس په دې مشتبه صورت کې چه د زید د تحریر خلاف عمرو روپۍ صدقه کړې نو زید له د عمرو ۵ روپۍ ورکول پکاردي او که نه، فقط؟

**جواب**: کله چه اول ځل یاد دهانۍ باندې عمرو د زید روپۍ ادا کړې نو د حال په دلالت ئې د هغې د وجوب اقرار وکړو کوم چه پرې حجت شو، اوس چه دوباره زید عمر ته ۵ روپۍ ورکړې هغه امانت دی، او عمرو له جائز نه وو نو دا خبره غلطه ده چه هغه پرې جبراً ورکړې دي، او دا صدقه د زید د طرف نه شوه او دا صدقه ورکول د زید د تحریر خلاف نه دی، د زید اصلي مقصود خو همدا وو چه زما د طرف نه دې ورکړی شي، دویمه خبره ئې صرف د لانجې ختمولو لپاره کړې وه نو د مقصد خلاف نه شو نو ځکه دا ۵ نه زید د عمرو نه اخستلی شي او نه د عمرو نه زید، والله اعلم. ۶ ذی الحجه ۱۳۲۱ه، (امداد جلد سوم ص۴۳).

### نزع امانت نابالغ از دست خائن

**سوال**: (۲۷٦) اګر عم در مال ایتام برادر اعیانی خو خیانت می کند ومال اوشان بی فائده مصروف می سازد ودرین صورت مال ایتام مذکور برائی محافظت وتصرف برآنان حواله شخص دیګر امین معتبر کرده شود جائز است یا نه، ونیز جد فاسد ومادر می دارند اګر بایشان حواله کرده شود درست است یا نه، بینوا توجروا؟

**جواب**: "فی الدر المختار باب الحضانة ولو الاب مبذراً یدفع کسب الابن الی امین کما فی سایر املاك اه".
ازین روایت ثابت شد که هر ګاه پدر که علی الاطلاق ولایت می دارد بتبذیر واتلاف ممنوع التصرف ومسلوب الولایت می شود پس تا بعم چه رسد ودر امین بتخصیص مادر نیست هر کس که اهلیت امانت وحفاظت داشته باشد احق ومقدم تر است، والله اعلم. ۱۵ رمضان المبارك ۱۳۲۴ه، (امداد جلد سوم ص۴۴).

## د چندي ورکونکو د رضا خلاف د متولي تصرف

**سوال**:(۲۷۷) په یو کلي کې د جامع جومات او عیدګاه د ترمیم دپاره وخت په وخت ضرورت پیدا کیږي، او د آسانۍ لپاره د یوې دائمي آمدن حاجت محسوس شو، نو ټولو اوسیدونکو دا صورت راوویستلو او اتفاق ئې وکړو چه ټول خلك دې د خرڅ په وخت په یوه روپۍ کې یو څلورم ادا کوي ترڅو رو رو روپۍ ډیرې شي او د خاص ضرورت په وخت د همدې جوماتونو په کار راشي، او مصرف کړی شي نو په دې باندې عمل کول شروع شول او د اهتمام او انتظام لپاره ئې د جامع جومات امام مقرر کړو او دا آمدن همیشه دپاره د امانت په طور د کلي خریدارانو سره جمع کیدلو، او د ضرورت په وخت به متولي د خریدارانو نه وصولولو، او په خصوصي مصارفو کې به ئې لګولو، او کله به یو خریدار د مقرره مصرفولو نه علاوه په نورو مصرفولو کې مصرفولو نو متولي د هغوئ نه پیسه پیسه وصولوله او داسې دا ډیر وخت نه راروان وو اوس څو خریداران چه صرف د امین په طور په دې روپو باندې قابض دي د ورکولو نه انکار کوي نو آیا دغه کسانو له شرعا دا روپۍ منع کول او د هغه جومات نه علاوه د کوم لپاره چه تخصیص وکړی شو نو په کوم جومات او کار خیر کې چه وغواړي مصرفولی شي او که نه، او متولي د دې وصولولو حق لري او که نه؛ بینوا بالکتاب؟

**جواب**: د چا سره چه دا روپۍ جمع شوې دي که په دې کې پخپله د دغه کس څه روپۍ وي نو په دغومره اندازه کې هغه ته اختیار دی چه وغواړي او تصرف په کې وکړي، او څومره چه د نورو روپۍ دي په هغې کې کوم د روپو خاوند دغه امین ته اختیارات او د تصرف اجازت ورکړې داسې هغه له هم په کې تصرف جائز دی، بلکه هغه د روپو خاوندانو ته یا کوم ته چه اختیار ورکړی شوی وي که متولي وي او که بل څوك دا اختیار حاصل دی او که د مجموعي روپو نه ئې څه خرچ کړې وي او د هغې نه وروستو دا لاتجه وي نو احکام مذکوره مفصله سابقه کې به د هر قسم روپو د رسیدو حصه ورکوي البته که کومې روپۍ ورسره نه وي یوځاي کړی شوې او جدا ئې ایښې وي نو په هغې کې به خاص هغه حکم مستقل جاري کیږي.دا خو د مذکوره سوال جواب وو، او یوه مستقله خبره د مذکوره سوال متعلق دا ده چه آیا داسې آمدن قانونا مقررول جائز دي او که ناجائز؟ چونکه د دې تپوس نه دی کړی شوی نو ځکه ورته د جواب سره تعرض نه دی کړی شوی لیکن چونکه د اکثره خلکو دې طرف ته التفات کم دی نو ځکه دومره اندازه اجمالا تنبیه وکړی شو او په کوموشرعي



قواعدو چه دا تقریر مبني دی چونکه هغه ډیر مصروف دي نو ځکه د کتاب د عبارت د نقل کولو حاجت ونه ګڼل شو. والله اعلم وعلمه اتم واحکم. ۱۲ ذیقعده ۱۳۲۴هـ، (امداد جلد سوم ص۴۴).

## ضمان مودع المودع

**سوال**:(۲۷۸) یوې ښځې زید له د چمپا کلي او جګنو د جوړولو لپاره ورکړل نو چونکه هغه معتکف و هغه عمرو له ورکړل هغه وائي چه ما په طاقچه کې مخامخ کینبودل او جامې مې اغوستلې او رانه هیر شو او لاړ» اوس دغه ښځه په زید دعوه کولی شي او که نه او زید په عمرو باندې او که نه؟

**جواب**: په مسئوله صورت کې دا ښځه موکله زید وکیل مودع او عمرو وکیل الوکیل په حکم مودع المودع کې دی، کما هو ظاهر او مودع المودع او مودع په شان د ذریعې د هلاکیدو سره نه ضامن کیږي، مګر په استهلاك سره کیږي، او هیریدل استهلاك دی، نو په تپوس شوي صورت کې عمرو ضامن دی، اوس ښځه اختیاردي که د زید نه هغه غواړي او که د عمرو نه. "فرع ولو قال وضعتهما بین یدی وقمت ونسیتها فضاعت یضمن (شامی جلد ۴ ص۵۰۰) وهی امانة فلا تضمن بالهالك مطلقا سواء امکن التحرز عنه امرلا در مختار قوله سواء امکن التحرز عنه امرلا ولیس منه النسیان کمالوقال وضعت عندی نفسیت وقمت بل یکون مفرطا بخلاف ما اذا قال ضاعت ولا ادری کیف ذهبت فان القول قوله مع یمینه ولا یضمن لانه امین حموی بتصرف طحاوی جلد ۳ صفحه ۳۷۲، ولو استهلك الثانی الودیعة ضمن بالاتفاق ولصاحب الودیعة ان یضمن الاول ویرجع علی الثانی وان یضیمن الثانی ولا یرجع طحاوی؛ جلد ۳ صفحه ۳۸۲؛ والله اعلم. ۹ شوال روز جمعه ۱۳۰۲هـ؛ (امداد جلد ۳ ص۴۶).

## حکم دستیابي قطعات اسټامپ

**سوال**:(۲۷۹) د انګریزي قانون موافق کرایه په سټامپ لیکل کیږي، د ۸ وي او که د ۴، او دلته دا رواج دی چه کله یو کور په کرایه باندې ورکول کیږي نو په کرایه باندې اخستونکی سټامپ اخلي او مالك ته ئې ورکوي، چه ویې لیکه دلته تراوسه پورې د انتخاب په وخت داسې سټامپونه راووتل چه بالکل جعلي وو، د هغې پته به ولګي او مالکانو ته واپس کول راته مناسب معلومیږي، لیکن کوم کسان چه بهرني دي یا مړه شوي دي، یا ئې څه پته نشته د هغوئ متعلق څه کول پکار دي، په هغوئ کې مسلمانان او هندوان دواړه دي؟

**جواب**: د کومو مالکانو څه پته ونه لګي هغه ستامپونه دې خرڅ او څه روپۍ چه لاس ته راشي هغه دې د مالکانو د طرف نه په کار خیر کې مصرف کړی شي.

# کتاب الضمان

## تلف ودیعت مع مال مودع یا بغیر آن

**سوال**: (۲۸۰) زر او مال که د بالغ وي او که نابالغ، که د امین یا ملازم یا خپلوان څه ورك یا پټ شي او د امین د طرف نه بد دیانتي او بې احتیاطي مخې ته رانه شي نو هغه به په امین ادا کول لازم وي، یا به شرعا د دغه تاوان نه محفوظ ساتل کیږي او که د امین مال هم په کې هلاك شوی وي او څه حصه د غلا یا تلف نه بچ شوې وي او د دواړو د زرو تعداد مساوي نه بلکه کم او زیات دی نو دواړه به په کوم حساب سره دا تقسیموي، د رسد په حصه یا بله طریقه باندې، او په یو مکان او یو بکس کې د امین ذاتي روپۍ او مال ایښودل شوی دی مګر تهیلۍ په کوم کې چه روپۍ دي دواړه جدا جدا دي او اتفاقاً د بد دیانتۍ د ظهور نه بغیر هغه امانت غلا شو او د امین ذاتي روپۍ بچ پاتې شوې، نو امین به د دغه روپو قرضدار وي او که نه؟

**جواب**: که امانتې جدا ایښی وو او د خیال ساتلو باوجود تلف شو نو امین به ضامن نه وي، تلف شوی او باقي مال د مالك دی، او که داسې څیز سره مخلوط وي چه تمیز کول ئې سخت وي نو که د شاملولو نه بغیر هم شامل کړی شو نو بیا دواړه شریك دي، تلف شوی او باقي مانده په دواړو به رسد حصه تقسیمیږي، او که په پوهیدو سره ئې شاملې کړې وې نو که د مالك اجازت سره ئې کړی وي نو بیا هم دواړه د وړاندې په شان شریك دي او د متلف او باقي دواړه حصه د رسد په شان ده، او که بغیر د اجازت نه ئې خلط کړې وي نو صرف خلط کولو سره به ضامن شي، څه چه تلف کیږي د امین به وي او د هغه امانت قیمت ادا کول به واجب وي. "وکذا لو خلطها المودع بماله بغیر اذن بحیث لا یتمیز الا بکلفة کحنطة بشعیر ودراهم جیاد بزیوف مجتبی ضمنها لاستهلاکه بالخلط (قوله لا یتمیز فلو کان یمکن الوصول الیه علی وجه التیسیر کخلط الجوز باللوز والدراهم السود بالبیض فانه لا ینقطع حق المالك اجماعاً شامی) او که امانت ترې لاړ شي او د امین ذاتي څیز بچ شي باوجود د حفظ نه ضامن نه دی. "امانة فلا تضمن بالهلاك مطلقاً سواء امکن التحرز عنه ام لا هلك معها شیئ ام لا ۱۲ والله اعلم". (امداد ج۳، ص۴۶).



## ضمان امین به ارسال امانت بدست اجنبي

**سوال**: (۲۸۱) د زید دوه پرچې کمیس عمرو خیاط بکر ته د زید ملازم چه عاقل او بالغ دی، په دې وینا سره ورولیږلو چه زید ته ئې ورسوه او بکر په خوشحالۍ سره خپل ملکیت کې کړو او روان شو، په لاره کې د بکر د غفلت د وجې نه یو قمیص ورك شو او اوس زید له د ده ورك شوي کمیس قیمت د بکر نه اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: فی الهدایة ومن استعار دابة فردها مع عبده او اجیره لم یضمن وکذا اذا ردها مع عبد رب الدابة او اجیره وان کان ردها مع اجنبی ضمن اه. ج۲، ص۲۶۶. د دې نه معلومه شوه چه عمرو خیاط له دا کپړې بکر ته سپارل جائز نه و نو ځکه ئې تاوان د عمرو نه اخستلی شي.

## ضمان نوټ ګم شده بعد دستیابی آن برکسی

**سوال**: (۲۸۲) علماء په دې باره کې څه فرمائي په دې مسئله کې چه د یو کس زید لوټ ورك شوی وو، مالك ځاي په ځاي بینکونو ته خبر ولیږلو چه زما لوټ ورك شوی دی، او د معلومولو لپاره ئې ورته ولیکل، کال یونیم پس د هغې لوټ پته ولګیده او د یو کس عمرو سره پیدا شو، پولیس د هغه ټولو کسانو چه لوټ باندې ئې دستخطونه کړي وو او هغه ئې چلولی وو اقرار واخستلو او د لوټ لاس په لاس مستعملیدو ثبوت ئې ترې واخستلو، لیکن آخري نوم بشیر مثلا مړ شوی وو، د هغه نه اقرار وانخستل شو، لیکن آخر دا معلومه شوه چه دې بشیر سره دا لوټ یا د غلا په طور یا د لقطه په طور پیدا کوونکی نه وي، او هغه د بل کس نه چه یا غل یا د لقطي په طور سره وو په دوکه ې ترې په ارزان قیمت اخستلی وي، لیکن د ناواقفۍ د وجې نه ئې ترې دستخط نه وي اخستلی، لیکن دا ظاهره ده چه په دې صورت کې هم واقف کار کوم چه د ناواقف نه لوټ اخستلی دی دا ضرور ثابت شي چه دا لوټ هغه د کوم ځاي نه موندلی وو او که غلا کړی ئې وو، او هغه کاتب هم مجرم ګرځیدلی شي، ځکه چه داسې مال اخستل هم ناجائز دي، الغرض کله چه داسې صورت واقع شي او هغه آخري کس بشیر مړ شي نو دغه کس شرعا مجرم ګرځولی او د هغه د مال نه روپۍ وصولولی شو او که نه؟

(د سوال تتمه): د قانون مطابق خو به د آخري کس نه اخستل کیږي او دلته روپۍ د مالك نه سوا د بل چا نه ضائع کیږي ځکه چه مفروضه صورت دا دی مثلا د زید مالك نه لوټ ورك شو، بشیر په ځمکه ولیدلو یا بشیر د مالك نه پټ کړو، بیا بشیر په خالد وچلولو، بیا خالد په بکر، بکر په عمرو او عمرو په بینك وچلولو، د بینك نه خو روپۍ عمرو ته ملاو شوې

لیکن د عمرو نوم او نشان د بینك ملازمینو په خپل کتاب کې ولیکلې او د لوټ مالك ته ئې خبر ورکړو، او بیا پولیسو د عمرو نه نیولی وو، بشیر پورې د ټولو کسانو پته ولګوله او نشان ئې د اقرار په ذریعې سره ثابت کړو، بشیر چونکه مړ شوی وو نو د هغه دستخط او د لوټ چلولو ثبوت په معتبر شهادت سره حاصل کړی شول اوس د قانون د مخې دا آخري کس بشیر د قانون مجرم دی لیکن مالك د شریعت د اجازت نه بغیر دا روپۍ اخستل نه غواړي، اوس چه د شریعت څه حکم وي د هغې نه مو خبر کړئ ترڅو په هغې باندې عمل وکړی شي، زه دا واقعه تفصیل سره عرض کوم د محمد ابوبکر خان رئیس ڈادن ضلع علي ګړه د ملازم نه د پنځو پیسو لوټ کال یو نیم مخکې روك شو، بیا خان صاحب ټولو بینکونو له خبر ورکړو چه زمونږ یو لوټ په فلانې نمبر او فلانې تاریخ ورك شوی دی، د هغې پته لګول پکار دي، بیا نوره قصه همغه ده کوم چه بره ذکر شوه، امید دی چه زر جواب راکړئ او په سرکاري قانون کې چه کوم آخري کس مجرم ګرځولی شوی دی نو ځکه چه د هغه نه بعد د بل چا دستخط په لوټ باندې نشته دی، او قانونا د دستخط کولو نه ناجائز دي لهذا هغه ئې مجرم ګرځولی، اوس تاسو د شریعت نه د دې په باره کې خبر راکړئ؟

**جواب**: لوټ پخپله مقصود بامعقود علیه نه وي، نو که د لوټ سوزیدلو نه بعد نمبر محفوظ وي نو د حکومت نه بل لوټ ملاویږي، که هغه پخپله معقود علیه وي نو هلاك المبیع بعد التسلیم کې به بائع ته د رجع الثمن حق نه وي، معلومه شوه چه هغه معقود علیه نه دی، بلکه معقود علیه روپۍ وې، او عقد حواله او لوټ د هغې سند او د حوالې په صحت کې محیل یعنې مدیون او محتال یعنې دائن او محتال علیه حواله (ولو لم یکن علیه للمحیل دین) د ټولو د رضا شرط ده، "کما صرحوا" نو د دې معاملې حقیقت کومه چه په سوال کې ذکر ده ترې دا دی چه کوم کس د ټولو نه اولً دا لوټ د سرکاري خزانې نه واخستلو خزانه د هغه مدیون ده، او هغه کس دائن او دی مدیون، د خپل قانون نفاذ نوټ کې ګویا خپله رضا ظاهره کړه، چه که ته دا لوټ په چا خرځ کړې یعنې ته د هغه نه روپۍ قرض واخلې او دا سند ورته حواله کړې نو مونږ به دا روپۍ هغه ته ورکړو بیا چه کله دې مشتري من الخزانه د چا په لاس خرڅ کړو او هغه واخستلو د کوم چه حقیقت هم هغه دی چه دین بائع د دې مشتري نه قرض واخستلو او په خزانه ئې حواله ورکړه او سند ئې ورکړو نو دا مشتري من الخزانه چه دائن وو او دا مشتري من هذا المشتري چه قبول کړې حواله ده په دې رضا شول همداسې دا سلسله لاتقف عند حد په رضامندئ سره راروانه وه او عقد صحیح کیږي، دا خو د لوټ د بیعې حقیقت دی، او مثلا که دې مشتري من الخزانه دا لوټ چاته



هبه کړو نو د دې دا معنی ده چه په خزانه چه زما کوم قرض دی په هغې باندې قبضه وکړه، او نه ئې مالك شي، بیا که دې موهوب له په چا باندې هغه خرڅ کړو نو هغه مشتري دی، موهوب له ته قرض ورکوي او دا موهوب له هغه مقرض ته په سرکاري خزانه باندې حواله ورکوي، او دا ټول قبلوي که د دې موهوب له په خزانه باندې کوم قرض نه وي لیکن د محیل د محتال علیه په ذمه د څه قرض کیدل ضروري نه دي نو ځکه به دا معامله هم صحیح شي کله چه د هغې حواله کول او حواله کې د ټولو رضا ثابته شوه، نو اوس په دې پوهیدل پکار دي چه کله د زید یعنې ابوبکر قاضي صاحب لوټ ورك شو نو د چا لاس ته هم چه ورغی هغه چه په چا خرڅ کړو د کوم حقیقت چه د مشتري نه قرض اخستل او حواله ورکول دي، که هغه بشیر وي او که بل څوك، نو په دې کې بیع صورة او حواله معنی واقع کیدل بلا اذن زید یعنې ابوبکر شول، انو دا عقد صحیح نه شو، مګر بل چا په بشیر باندې خرڅ کړو نو د بره تقریر په بنا دا معامله صحیح نه شوه، نو د بشیر روپۍ په هغه کس باندې شوې، همداسې چه بشیر په خالد خرڅ کړو دا هم حواله ده، او د خالد رضا معلقه ده د دې لوټ د نه غلا کیدو سره او هغه شرط مفقود (ورك) دی نو ځکه خالد هم راضي نه دی، د هغه روپۍ د بشیر په ذمه پاتې شوې همداسې د بکر د خالد په ذمه او د عمرو د بکر په ذمه او د بینك د عمرو په ذمه او د زید په بینك باندې ځکه چه په حواله کې اګرچه محیل بري کیږي لیکن کله چه د دائن حق سالم نه وي نو هغه مدیون ته رجوع کوي، کما صرحوا به او دلته ظاهره ده چه حق سالم پاتې نه شو، نو هر مدیون مشغول الذمه شو لکه څنګه چه بره ذکر شول نو د دې مقتضی دا وه چه بینك هغه روپۍ زید له ورکړې وي او خپلې ورکړل شوې ئې د عمرو نه اخستلې وې، او هغه د بکر او بکر د خالد او خالد د بشیر نه اختسلې وې، که بشیر ژوندی وي نو د هغه د مال نه او بشیر د هغه چا نه چه دوکه کړی وو مګر کله چه هغه معلوم نه دی، نو کالمعدوم دی، او تاوان اخر هم په بشیر راځي، او د ابوبکر خان صاحب ملازمم چونکه امین دی او د هغه د چا نه روپۍ اخستل او لوټ ورکول ثابت نه دي او امین باندې تاوان نه وي ځکه هغه بري دی، مګر چونکه سرکاري قانون داسې دی لکه څنګه چه په سوال کې ذکر دی او د لوټ معامله کولو والا د التزام د وجې نه په دې قانون راضي دی، نو ځکه به دا ویل کیږي چه دلته د حوالې سره کفالت هم دی، مثلا کله چه بشیر لوټ په رضا سره خرڅ کړو نو هغه ګویا دا کفالت هم وکړو چه که د ابوبکر خان صاحب روپۍ مثلا د بینك نه وصول نه شي نو زه کفیل یم، زه به ئې ورکړم، نو ځکه د بشیر یا د هغه د مال نه خان صاحب له اخستل د جواز په شرط جائز دي، او د جواز شرط دا دی چه د بشیر لوټ خرڅول شرعي صحت سره ثابت وي، مثلا د دوه شاهدانو

کتل، یا دا گواهي ورکړي چه بشیر زمونږ په مخامخ دا بیعه او اقرار کړی وو، یا د بشیر ورثه چه د مال موروث مالکان دي اقرار وکړي چه بشیر خرڅ کړی وو او که بعضې اقرار وکړي او بعضې ئې ونکړي یا بعضې بالغان وي او بعضې نابالغ نو صرف د بالغینو د اقرار په حصه کې به دا اقرار صحیح وي، مثلاً که د اقرار کونکو په سلطه کې ۲/۳ جائیداد وي نو داسې روپۍ دوه ثلث په دړې جائیداد نه اخستل کیږي، په باقي به هیڅ اثر نه پریوځي او که څوك اقرار ونه کړي نو صرف دستخط تړې شرعي حجت نه دی ځکه چه "الخط یشبه الخط مقرر عند الفقهاء" دی او "الامااستثنی وهذا لیس منه کما لایخفی علی اهل العلم".

خلاصه دا ده چه که دوه شاهدان د بشیر په بیعه باندې د اقرار یا شهادت ورکړي یا بالغه ورثه اقرار وکړي نو ابوبکر صاحب ئې د بره تفصیل مطابق اخستلی شي کنه نو شرعاً ئې د خزانې نه اخستلی شي مګر قانونا ئې د چا نه هم نه شي اخستلی. والله اعلم وعلمه اتم واحکم. اوائل رجب ۱۳۳۱ هـ، (حوادث اول ص۱۰۲).

### واجب بودن ضمان الخ

سوال :(۲۸۳) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه مثلا د زید غوا غلا شوه او د سیند نه په تیریدو سره هغه په ختیو کې ونښته او کله چه غلو نه ویستلی نه شوه نو کشتۍ والاو هغه وویسته او د هغوئ سره د هغوئ په ښاروو کې څریدله، شل ورځو پورې یا یوه میاشت د هغوئ مالونو سره هم څریده مګر نه ئې تهانه کې اطلاع ورکړه او نه د کلي والاو ته کوم داغ یانشان چه پرې وو هغوئ پرې بښه پوهیدل چه دا د فلاني کلي غوا ده کله چه مالك ته دا تول ځای تر ختیو پورې معلوم شو نو د هغوئ نه ئې خپله غوا وغوښتله نو هغوئ ورته وویل چه زمونږ نه ورکه شوې ده اوس دا معلومه نه ده چه رښتیا هم د هغوئ نه ورکه شوې ده یا ئې هضم کړه نو په هغوئ تاوان شته او که نه؟

جواب: "فی الدر المختار فی اللقطة فان اشهد علیه بانه اخذه لیرده علی ربه ویکفیه ان یقول من سمعتموه ینشد لقطة فدلوه علی وعرف الی ان علم ان صاحبها لایطلبها اوانها تفسد ان لقیت کانت امانته لم تضمن بلا تعد فلو لم یشهد مع التمکن منه اولم یعرفها ضمن ان انکر ربها اخذه للرد وقبل الثانی قوله بیمینه وبه ناخذ حاوی اه ملخصا وفی رد المحتار قوله فان اشهد علیه ظاهر المبسوط اشتراط العدلین فتح قوله مع التمکن منه ای من الاشهاد اما لولم یجد من یشهد عند الرفع اوخاف انه لو اشهد عنده یاخذه منه الظالم فترکه لایضمن قوله ان انکر ربها اما لو صدقه فلا ضمان اجماعا بحر قوله وبه ناخذ الخ وکذا ذکر الطحاوی کما فی النهر عن الاتقان قال فی البحر وفی الولوالجیة محل الخلاف فیما اذا اتفقا علی کونها لقطة لکن اختلفا هل التقطها للمالك اولا اما اذا اختلفا فی کونها لقطة فقال المالك



اخذتها غصبا وقال الملتقط لقطة وخذ اخذتها لك فالملتقط ضامن بالاجماع ج۳ ص۴۹۳_۴۹۴. دا غوا د هغوئ په لاس کې لقطه ده که کوم معقول عذر د اطلاع نه ورکولو نه وي او مالك ئې هم قبول نه کړي چه تا مالك ته د واپس کولو لپاره ساتلې وي او قسم وخوري چه مونږ د واپس کولو نیت کړی وو نو ضمان نشته کنه نو ضمان پرې لازم دی، دا د امام ابو یوسف د قول موافق همدا حکم دی، او همدا قول د متاخرینو ماخوذ به دی. (۲۰ ربیع الثاني).

## کتاب العاریه

### بطلان رعایت بموت وضمان عاریت بتعدی

سوال :(۲۸٤) خسر د اینګور نه څه مس او چیني لوښي د استعمال لپاره اخستلي وو او د هبې یا عاریت تصریح نه وه شوې، هغوئ دغه استعمالول بیا هغه اینګور مړه شوه او خاوند، مور او پلار او واړه بچي ئې پریښودل، په هغې کې ئې بعضې لوښي د مرحومې د مرګ نه وړاندې او څه وروستو مات شوي هم وو، اوس دړې خبرې د سوال لائقې دي:

۱_ دې ته به هبه ویلی کیږي او که عاریت؟

۲_ چه که عاریت وي اوس د مالك د مرګ نه بعد که د ورثه و په حکم سره وي او که پخوانې اجازت سره د هغې لوښو استعمال جائز دی او که نه؟

۳_ دا چه د ماتو شوو لوښو تاوان هم لازم دی او که نه؟

جواب: مذکوره صورت هر ځای کې متردد دی، د هبې او عاریت ترمنځ په دې کې کومه قوې قرینه موجوده نه ده، ضرورت به په عاریت باندې محمول وي ځکه چه هغه ادنی متیقن دی، لکه څنګه چه د تعارض په وخت د هبې او ودیعت په حمل باندې کیږي. "لان الاعطاء یحتمل الهبة لکن الودیعة ادنی وهو متیقن". در مختار مع الشامی ج۴ ص۴۹۳. چه عاریت ثابت شو نو عاریت مرګ معیر یا مستعیر سره باطلیږي. "اذا مات المعیر او المستعیر تبطل العاریة خانیه" شامی ج۴ ص۵۰۷. نو د ورثه و نه دوباره په عاریت اخستل ضروري شول، په هغوي کې خاوند، بچي او والدین د رعایت قابل دي. "قوله (وفی حکم العبد الماذون) یملك الاعارة وکذا الصبی الماذون شامي ج۴ ص۵۰۶". نو د هغوئ اجازت خو ممکن دی، البته طفل غیر ممیز نه پخپله د اجازت ورکولو مجاز او نه پلار له د هغوئ د مال عاریة ورکول جائز دي. "ولیس للاب اعارة مال طفله لعدم البلد وکذا القاضی والوصی" در مختار مع الشامی ج۴ ص۵۰۶. او د مشترك کیدو د وجې نه د

تقسیم نه بغیر د خپلې حصې په اندازه کې چاته هم اجازت نشته، نو قبل از تقسیم هغه له
رد کول واجب دي، او کوم لوښي چه د معیره د مرګ نه وروستو مات شول د هغې ضمان به
قطعاً راځي ځکه چه د استعارې د بطلان نه بعد د دې حکم د غصب په شان شو، چه تلف
سره ئې ضمان واجب دی، او د مرګ نه وړاندې په اعاره کې چه کوم په غفلت او تعدي سره
ضائع شوي وي د هغې ضمان لازم دی، او کنه نو نه."ولا تضمن بالهلاك من غير تعد در مختار مع
الشامي كتاب العارية ج۳ ص۵۰۳، والله اعلم. یکم رمضان روز شنبه ۱۳۰۳ھ، (امداد الفتاوی ص۴۷ ج۳).

## کتاب الاجاره

### اجرت برطاعات

**سوال** :(۲۸۵) مذهب قدماء کې په عباداتو اجرت اخستل او ورکول حرام دي، د دې
حضراتو دلیل څه دی، متاخرینو په کومو کومو عباداتو اجرت اخستلو ته جائز ویلي دي، او
مجوزه مصلحت څه وو، او هغه مصلحت مجوزه شامله دي او که غیر شامله، که شامله دي
نو اختصاص بعضي دون البعض واني! او که غیر شامله دي نو کوم دي په دلته زیارت شو،
صلوة وخیارت جنازتهلیل خوانی، قرآن خوانئ بر قبور فاتحه، ذبحه فتوی، نویسي،
فرائض نویسي، دستخط بر فتوی وغیره، عباداتو باندې اجرت اخستل کیږیغ او اجرت
اخستل او ورکول مشهور دي، داسې که د یو طرف نه د اجرت ذکر هم نه وي نو هم اجرت
ورکوي، که ئې ورنکړي خفه کیږي دا څنګه ده؟

**جواب**: اصل مذهب دا دی چه طاعات مقصوده باندې اجرت اخستل جائز نه دي، مګر په
کومو طاعاتو کې چه د دوام یا پابندئ ضرورت دی او هغه شعائر دین نه دي، چه د هغې
بندیدو سره به د دین اضلال لازمیږي، او هسې چاته دومره مهلت نشته نو داسې کارونه د
دې کلیې نه مستثنی کړی شوي دي، او ظاهره ده چه زیارت قبور اوتهلیل قران خوانئ قبور
په دې سره د دین په نظم کې خلل نه راځي، نو ځکه د دې کلیې نه مستثنی کیدی نه شي، على
هذا القیاس ګواهي نه ورکولو سره په دین کې بې رونقي نه راځي، پخپله پټونکی به ګناهګار
وي، په دستخط کې څه تکلیف نشته نه د دین د شعائرو نه دي. ذبحه عقد او فرائض نویسي
کې البته په دې وجې سره چه د عبادات مقصوده نه نه دي ګنجائش معلومیږي، د منصف طالب



لپاره همدومره کافي دي مګر علماء مجادلین لپاره د اوښ په بار باندې هم د قبولو امید نشته
نو ځکه په دې بس کړی شول، والله اعلم. اشرف علي عفي عنه (امداد ص۴۸، ج۳).

**سوال** :(۲۸۶) صاحبم کس بکسی چیز بدهد وبګوید که برائی من دعا بکنید جائز است یا نه؟

**جواب**: اګر عوض دعا داده است رشوت است واګر مستقلا درخواست دعاء نمود حتی که
اګر معلوم شود که دعاء نخواهد کرد باز هم ندهد مضائقه نیست واګر عوض دعاء دادن
مقصود نیست بلکه عوض وظیفه است اګرچه عقبش دعا هم باشد جائز است ودعا تبعا
خواهد بود. ۲۵ ربیع الاول ۱۳۵۱ھ، (النور ص۲۲ ذیقعده ۱۳۵۱ھ).

تپوس شوي مسئلې تحقیق چه نصف مال تهیکه دار واخلي او نیم مالك ته ورکړي پخپله
باطله معامله ده، که دغه ګرځ حلاله وي او که حرام، وجه دا چه دا معامله بیعه ده یا اجاره،
که بیعه وي نو اول خو مجهول، ثانیا موضع غرر کې مثل لبن فی الضرع. ثالثا چونکه
دواړه بدل د یو کس ملکیت دي ځکه دا بیع بیع الشيئ بملك نفسه ده،وهو باطل، ځکه د
بیعې ماهیت د دې مقتضي دی، چه یو بدل ملك بائع کې وي او بل د مشتري ملکیت کې
او که اجاره وي لکه څنګه چه ظاهره ده نو د داخلي قفیز الطحان دی، د کوم حاصل چه دا
دی چه د کوم اجرت تحصل د عامل په معمول باندې موقوف وي اجرت مقررول د عمل په
مقابله کې د دې عامل جرم دی، او دلته داسې دی ځکه چه د مزدورئ تحصیل یعنې د نیم
تارې موقوف او بره استخراج د هغه کس دی او دا نص منع دی‌ددې نه وروسته عبارت بائد
ترجمه شئ دشپږمئ دنثمایې نه تراخره (امداد ص۴۹، ج۳).

### تحقیق معصیت بودن اجاره فاسده

**سوال** :(۲۸۷) نن صبا فاسده اجاره ډیره زیاته ده، مثلا مطابع کې تصحیح او کتابت وغیره
یو خاص دستور دی، د هغې موافق اجرت ملاویږي، او نور هیڅ نه معلومول کیږي بلکه
بعضې وخت کې مزدور ته د ناواقفیت د وجې نه هیڅ هم معلوم نه وي، په دې خیال سره چه
څه هم راکړي هغه به واخلو کارځه کوي، د دې نه علاوه نور په زمانه کې رواج شوی اجرت د
دې متعلق سوال دا دی چه د فاسدې اجارې اثر صرف دینوي دی، یعني د اجر مثل ملاویدل
او د مسمي اجرت په صورت کې نه ملاویدل څه اخروي اثر هم شته دی، یعنې د عقوبت
استحقاق او ګناه او خبث اجرت وغیره؟

**جواب**: تصریحا د نظر نه نه دی تئرشوی مګر غالبا د معصیت نه خالي نه دی لارتکاب المنهی عنه او اجرت کې خبث نه راځي. "لمشروعیة باصله وان کان غیر مشروع بوصفه والله اعلم". ۱۸ ربیع الاول ۱۳۲۱ھ، (امداد ص۵۰، ج۳).

## تحقیق اجرت زانیه

**سوال**: (۲۸۸) شامي ص۲۸ ج خامس کې دي: "وفی غرر الافکار عن المحیط ما اخذته الزانیة ان کان بعقد الاجارة فحلال عند ابی حنیفة لان اجر المثل فی الاجارة الفاسدة طیب وان کان الکسب حراما وحراما عندهما وان کان بغیر عقد فحرام اتفاقا ولانها اخذته بغیر حق اهـ". تعجب دی چه زانیه چه کومې روپۍ د اجارې نه وروستو وګټي هغه حلالې شي، حال دا چه صریح لفظ د حدیث مهر البغی حرام وائي، د دې نه یوه لویه خبره دا ده چه در مختار ص۳۴ او نورو متنونو او شرونو کې دي: "لا تصح الاجارة بعسب التیس ولا لاجل المعاصی مثل الغناء والنوح والملاهی الخ".
علامه شامي همدې ته نزدې نقل کوي: "وفی المنتقی امراة نائحة او صاحبة طبل او زمر اکتسبت مالا روته علی زیآ ان علموا والا یتصدق به وان من غیر شرط فهو لها قال الامام الاستاذ لا یطیب والمعروف کالمشروط اه قلت وهذا امما یتعین الاخذ به فی زماننا لعلمهم انهم لا یذهبون الا باجر البتة اهـ". د زماره وغیره مال خو طیب نه وي او د زنا کسب طیب وي په دې کې څه توجیه کیدی شي، هیڅ په ذهن کې نه راځي او مذکوره روایتونو ته کتلو سره ډیر حیرانیږم هلته دومره سختي او هلته دومره مساهلت چه حلال طیب او د حدیث مخالفت د دې نه نور زیات دا چه تاسو په دې مسئله کې شافي جواب او قول فیصل ولیکئ او راویې لیږئ؟

**جواب**: "حلت ما اخذته الزانیة" د فساد علت ئې اجاره ګرځولې ده او فاسد دې ته وائي چه مشروع باطله او غیرمشروع بوصفه هغه وي او دا هره ظاهره ده چه زنا حرام کار دی، د دې اجاره د معقود علیه د حرمت د وجې نه مشروع باصله نه شي کیدی، نو د ایقیني دلیل دی په دې چه د دې نه مراد هغه صورت دی چه اجاره شوې ده په فعل مباح باندې مثل خبز وطبخ وغیرهما او په دې کې شرط دا شو چه تا سره به زنا هم کوي چونکه دا مشروع باصله او غیر مشروع بوصفه یعنې بشرط دی، دا اجاره به فاسده وي، ه دې صورت کې به چه کوم اجرت ملاویږي هغه به حلال وي، صاحبین یا خو خبث طریق مال ته خبث مال کې هم موثر وائي هغوئ شرط شطر ګرځولی دی، او امام صاحب د تصحیح عقد په واسطه باندې دې ته ط ویلي دي چه د عاقل بالغ تصرف مهما امکن صحیح کول اولی دي. د دې وجې نه



اختلاف پیدا شو او بغیر د عقد نه هغه عقد مباح مراد دی یعنې که عقد مباح شو صرف زنا کیده نو څه چه ماخوذ وي هغه به ماخوذ بالزنا وي څکه حرام دي، اګر که زنا ته ئې معقود علیه هم نه وي ویلي، لان المعروف کالمشروط او حاشا وکلا چه پخپله زنا معقود علیه جوړه کړی شي او هغې ته یو مسلمان فاسده اجاره او امدن ته ورله طیب ووائي یقینا هغه اجاره باطله او امدن ئې حرام او خبیث وي او د امام صاحب خو لوي شان دی، فقط والله اعلم. ۲۴ جمادی اولی ۱۳۲۱ھ، (امداد ص۵۰ ج۳).

## د مستفتي په دې جواب شبهه

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! د مسئلې تاویل ډیر ښه دی مګر لږه شبهه دا ده چه بحر الرائق جلد اتم ص۲۲ کې دي: "وفی المحیط ومهر البغی فی الحدیث هو ان یواجر امته علی الزنا وما اخذه من المهر حرام عندهما وعند الامام ان اخذه بغیره عقد بان زنی بامة ثم اعطاها شیئا فهو حرام لانه اخذته بغیر حق وان استاجرها لیزنی بها ثم اعطاها مهرها او ما شرط لها لا باس باخذه لانه فی اجارة فاسدة فیطیب له وان کان السبب حراما اه". د دې نه معلومیږي چه که خاص د زنا لپاره اجاره واقع شوې وي نو په هغې کې اجر طیب دی، دا ډیر صفا دی لکه څنګه چه ارشاد وو؟

**جواب**: په سرسري نظر کې واقعي قول شبهه ده، مګر لږ غور دې وکړا ئ شي نو پخپله تعلیل د حکم لانه فی اجارة فاسده د دې توجیه ښائي څکه چه دا دواړه مقدمې اجماعا مسلمې دي چه: ۱_ زنا حرامه بعینه ده او ۲_ د کوم معقود علیه چه حرام بعینه وي نو هغه اجاره باطله ده نه چه فاسده، نو کله چه ئې اجارې ته فاسد ویلي دي نو د دې نه معلومه شوه چه معقود علیه ئې زنا نه ده ګرځولې، نو لا محاله لیزني بها، ئې معقود علیه باندې محمول صحیح نه دي کنه نو د کلام اول او اخر به سره متعارض شي کوم چه زاني عاقل په کلام ئې هم محتمل نه دی، نه چه د افاضلو او اکابرو فقهاو په کلام ئې داسې واقع شي بلکه دا لازم دغایت او غرض دی، او د غرض غرض کیدل د غرضیت په تصریح باندې موقوف نه وي بلکه د قصد تعلق کافي دی مثلا اسلمت لادخل الجنة په صحت کې دا ضروري نه ده چه د اسلام په وخت د هغې شرط کول ووائي بلکه صرف قصد مراد دی نو د دې کلام معنی به دا وي چه استیجار شوی دی لکه څنګه چه مطلقا اجیر خاص وي چه تسلیم نفس معقود علیه وي تردې چه که اقا څه کار وانخلي مګر د اجیر د طرف نه تسلیم نفس وموندل شي نو اجرت واجبیږي نو مثلا یوه وینځه ئې د اجیر خاص په طور سره نوکره کړه او غرض او مقصد ئې

په زړه کې دا وساتلو چه د دې سره به بدکاري وکړم، نو چونکه معقود علیه د نفس تسلیمول دي لهذا اجاره به باطله نه وي او چونکه د اقرائن مقامیه یا مقالیه په دې اجاره کې دا شرط هم معلوم دی او د المعروف کالمشروط قاعده هم مقرره ده نو لکه څنګه چه صراحة معقود علیه تسلیم نفس وي او په هغې کې داسې شرط وي نو د مشروع باصله د وجې نه د غیر مشروع بوصفه سره اجاره فاسدیږي، همداسې به دلته هم کیږي بلکه که مونږ دا غرض هم مصرح قولاً هم وشو بیا هم دا مذکوره توجیه د اشکال دفع ده، یعنې مقصود علیه صرف مطلق تسلیم نفس ته وویل شي او په دې کې ئې د دې غرض هم تصریح وکړه نو بیا هم د مذکور تقریر موافق دا اجاره فاسده شوه او که خاص معقود علیه دا عقد خبیث وګرځوي نو د مال په حرامیدو کې هیڅ شبهه پاتې نه شوه، پاتې شوه دا چه بغیر د عقد نه ولې حرامه ده نو د دې وجه دا ده چه المعروف کالمشروط کله چه هغه څه عقد نه دی کړی او بیا ئې ورکړو نو د حال د دلالت نه ظاهره ده چه د دې تقابل کې دی د عقد مباح په خلاف چه تنصیص علی المباح باندې دلالت اعطاء علی الحرام دپاره ترجیح نه شي کیدی، "لان الدلالة لا یفوق الصریح" او که دا توجیه د ظاهر خلاف معلومه شي نو بیا هم د حدیث او قواعد مسلم فقیه د دې ارت کاب لازم دی، کنه نو مونږ له به د یو عبارت د حدیث اووه فقهي قواعدو باندې رد کول اسان وي، والسلام. یکم جمادی الاخری ۱۳۲۱ ھ، (امداد ص۵۰ ج۳).



# السر المسكنون

## سر مسكنون متعلق مسئله مذكوره

وفى المقام سر دقيق عميق هو مبنى لقول الامام رحمه الله لسمح بذكره للخواص ولا ناذن لهم باذاعته للعوام او من كان مثلهم وانه يقتضى سبق مقدمات الاولى فى الفتح وذكر فى الخلافيات للبيهقى عن على رضي الله عنه وهو فى مسند ابى حنيفة رحمه الله عن مقسم عن ابن عباس رضي الله عنه قال انه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ادروا الحدود بالشبهات وفيه ايضا فى اجماع فقهاء الامصار على ان الحدود تدرا بالشبهات كفاية ثانيه ان الشبهة كما فى الهداية حقيقتها ما يشبه الثابت لانفس الثابت الثالثة ان الاجارة كما قال الفقهاء عقد ترد على ملك المنافع الرابعة فى سنن الترمذى قال النبى صلى الله عليه وسلم ايما امراة نكحت بغير اذن وليها فنكاحها باطل فان دخل بها فلها المهر بما استحل من فرجها دل الحديث على ان وجوب المهر لا ينافى بطلان العقد اذا وجه شبهة ومن ثم قال علماءنا ان الوطى فى دار الاسلام لا يخلو عن حد او مهر الخامسة ان ما وجب اعطاوه لاحد لا يكون حراما عليه والا لزم كون اعطاء الحرام واجبا وهو باطل كيف واعطاء الحرام ليس بجايز فضلا عن ان يكون واجبا اذا تمهدت لك المقدمات فاعلم ان من استاجر امراة ليزنى بها وجد ههنا صورة الاجارة وان لم توجه حقيقتها لكون المعقود عليه حراما لعينه ما فى نكاح المحارم وجد صورة النكاح وان لم يوجد حقيقتها فتحقق شبهة الاجارة وترتب عليها شبهة ملك المنافع بالمقدمة الثانية والثالثة فاندرء الحد بالمقدمة الاولى فوجب العقر بالمقدمة الرابعة ولا يكون هذا العقر خبيثا للمرءة وكذا من اعطته للمقدمة الخامسة فالحكم بكون حلالا ليس من حيث كون اجرة بل من حيث كونه عقرا يجب اداوه على العاقد والعقر وان فسر على بعض الاقوال بمهر المثل لكن مهر المثل فى العقد الفاسد على ما فى الهداية ولا يزاد على المسمى عندنا خلافا لزفر فلذا لم يجب فى الاستيجار الا ما سمياه ومن ثم عبروا عنه بقولهم ما اخذته او المهر او ما شرط لها ولم يسموه اجرة هذا اذا عقد الاجارة اما اذا لم يستاجر يجب العقر فلا يكون الماخوذ حلالا لكون الحل مبنيا على العقرية فلما انتفى المبنى انتفى المبنى فبقى بدلا محضا عن الزنا اما الحديث الحاكم بكونه خبيثا فجوابه انه لما ثبت كونه مبينا ايضا على الحديث الامر بدرء الحدود بالشبهات وجب الجمع بين الحديثين بحمل حرمة مهر البغى على ما اذا لم يوجد التعد ولا يبعد مثل هذا التخصيص اذا اضطر الى الجمع بين الاحاديث كما لا يخفى على ذوى العلم ولما لم يعتبره الصاحبان شبهة اوجبا فيه الحد فلم يوجب العقد فيكون الحكم فى العقد وغيره عندهما سواء كما اعتبر الامام نكاح المحارم شبهة فى سقوط الحد ولم يعتبراه ويويد هذا كله ما فى الفتح ومن شبة العقد ما اذا استاجرها ليزنى بها ففعل لا حد عليه ويعزر وقالا هما والشافعى ومالك واحمد يحد لان عقد الاجارة لا يستباح به البضع فصار كما لو استاجرها للطبخ ونحوه من الاعمال ثم زنى بها فانه يحد اتفاقا وله ان المستوفى بالزنا المنفعة وهى المعقود عليه فى الاجارة لكنه فى حكم العين

فبالنظر الی الحقیقة یکون محلا لعقد الاجارة فاورث شبهة بخلاف الاستیجار للطبخ ونحوه لان العقد لم یضف الی المستوفی بالوطی والعقد المضاف الی محل یورث الشبهة فیه لا فی محل اخر وفی الکافی لو قال امهرتك کذا لازنی بك لم یجب الحد وهکذا لو قال استاجرتك اوعذی هذه الدراهم لاطأبك والحق فی هذا کله وجوب الحد اذا المذکور معنی یعارضه کتاب الله الزانیة والزانی فاجلدوا فالمعنی الذی یفید ان فعل الزنا مع قوله ازنی بك لا یجد معه للفظة المهر معارض له اه وقد بان لك بقول الفتح والحق الخ ان القول بعدم وجوب الحد مرجوح فکذا القول بکون المال حلالا الذی کان بناء علیه؛ وبالجملة لا یسع الاخذ یکون المال حلالا لکن لا مساغ للطعن علی الامام لانه قال ما قال بالحدیث لا بالرای وقد تاید ما قال بحدیث الترمذی المذکور فیما قبل حیث حکم بالبطلان واوجب المهر وهو مسقط للحد بالاتفاق هذا والله اعلم بالصواب فی کل باب. غرة جمادی الاخر ۱۳۲۱ھ، (امداد ص۵۳، ج۳).

### جواز اجرت تاذین وامامت وغیره تحقیق ثواب درین حالت

**سوال** :(۲۸۹) زه د ګوپال پیتهه د جوامات د جارو کولو، اوبو ویستلو، رڼا، اذان او د جومات خیال ساتلو لپاره د میاشتې تنخواه اخستلو او د مامور کیدو لپاره د دې ځاي خلك وائي په دې باره کې چه څنګه ارشاد وي هغه شان عمل به کیږي، صفا صفا ووایئ چه د میاشتې تنخواه اخستل او موذني یا امامت کول شرعا جائز دي او که نه؟ که جائز دي نو د روپو اخستلو باعث به په اخرت کې د دې کارونو ثواب ملاویږي او که نه؟ د تنخواه په اخستلو سره به ثواب زائله کیږي؟

**جواب**: جائزه ده او که نیت دا وو چه که د دې نه زیاتې روپئ ملاو شوې نو بیا به ئې پریږدم اوهغه کار به شروع کړم نو بیا خو به ثواب نه ملاویږي، او دې ته به اجرت محض ویل کیږي، او که دا نیت وي چه د زیات لپاره ئې هم نه پریږدم نو ثواب به نه ضائع کیږي او دې ته به اجرت نه ویل کیږي بلکه نفقه حبس وکفایت مثل رزق قاضي به ورته ویل کیږي. ۴ ذیقعده ۱۳۳۳ھ، (تتمه ثالثه ص۹۷).

### د رضا د تیقن په وخت د اجرت نه تقسیمولو حکم

**سوال** :(۲۹۰) زمونږ کار چه د ګنډلو دی که کپړې بغیر د قیمت ښودلو نه وګنډو او بیا هغه په هغې خوشحاله شي دا جائزه ده او که نه؟

**جواب**: جائزه ده. "وقد ذکر الفقهاء نظیره عقد البیع بعد استهلاك المبیع والتاویل التاویل". ۱۴ جمادی الثاني ۱۳۳۳ھ، (تتمه ثالثه ص۱۴۰).



### نقص اجرت پزاوه گر که ناتمام گذاشته بود

**سوال** :(۲۹۱) مونږ دلته جومات کې پزاویه لګولې وه او د پزاوه ګر سره دا معامله شوې وه چه نې هزار خښته به یوه روپئ اجرت ورکول کیږي، او تیل وغیره به زمونږ وي او د هغې د پخولو به چه کوم کار وي هغه ستا په ذمه نو اوس چه ئې کله خښتې کیښودې او اور ئې ولګولو د اور لګولو نه بعد خپل کور ته لاړ بیا ئې تپوس ونه کړو نو د دبائي نه کیدو د وجې نه هغې نه هوا وورتله کله چه ترې هوا ووتله نو ټول هر څه خراب شول او مونږ نه یې ۴۴ روپئ یوړې د هغه ۵۰ روپئ کیدی نو که مونږ اوس د هغ باقي روپئ او هغه اسباب چه پاتې دي ضبط کړو نو دا جائزه ده او که نه؟ ځکه چه هغه خو دوکه وکړه او زمونږ مال ئې خراب کړو، نیم ئې پینښودلو او بیا ئې ورله خبر وانخستلو اوس چه د شریعت څه حکم وي د هغې نه مو خبر کړئ؟

**جواب**: څومره کار چه د اجیر کیدو په حیثیت سره د هغه په ذمه وو ۵۰ روپئ محمولې د هغه کار اجرت وو نو کله چه کار پوره نه شو نو پوره روپئ هم نه واجبیږي، مګر هغه چه څومره کار کړی دی د هغې څه خاص اجرت نه وو معلوم شوی، چه که د پاتې کمه وه نو دومره مزدوري به درکړو او په داسې صورت کې شرعا اجر مثل واجبیږي، نو د دوه متدین تجربه کارانو نه تپوس کول پکار دي چه که په مقرر کړی کار کې دومره کموالی وشي نو څومره اجرت کمیدل پکار دي، که هغه شپږ یا زیاتې روپئ وښایي نو باقي ضبط کول پکار دي، او که دا پوره نه وي نو سامان ورله بندول پکار دي ترڅو چه د هغه نه روپئ وصول نه شي د دې مالك کیدی په اصل مذهب کې درست نه دي. ۲۱ رمضان ۱۳۳۳ ھ، (تتمه ثالثه ص۱۵۱).

### په شفاعت باندې اجرت

**سوال** :(۲۹۲) رسالة الامداد کې او تیر کال رمضان کې ما سره دا کار شوی دی چه اصل وکالت جائز دی چه هغه طاعت مختص بالمسلم نه دی او اجرت اخستل فقهاو د طاعت مختص بالمسلم ته حرام ویلي دي، نو ځکه د وکالت اجرت حلال دي په دې بنا باندې خو شفاعت وغیره باندې هم اجرت اخستل حلال معلومیږي ځکه چه هغه هم مختص بالمسلم نه دی ځکه چه وکالت طاعت لغیره دی، همداسې شفاعت هم طاعت لغیره دی؟

**جواب**: د منع کولو وجه صرف اجرت علی الطاعة کې منحصر نه دی دا هم احد الوجوه دی، دویم وجه د دې عمل د منع کیدو غیر متقوم عند الشرع کیدل دي لکه څنګه چه فقهاو د اشجار لتخفیف الشیاب ته منع ویلي دي نو شفاعت هم شرعا غیر متقوم دی. "لانه لم ینقل

تقومه وتقوم المنافع بغير القياس فما لم ينقل لا يجوز القول بتقومه وايضاً فلا تعب فى الشفاعة ولا يعطون الاجر عليها من حيث انه عمل فيه مشقة بل من انها موثرة بالوجاهة والوجاهة وصف غير متقوم فجعلوا اخذ الاجر عليها رشوة وسحتاً والله اعلم. ۱۷ شوال ۱۳۳۳ھ، (تتمه ثالثه ص۱۵۵).

### حکم لالئ متعارف

سوال :(۲۹۳) د فصل په کټ کولو کې نن صبا دا عام عرف دی چه کټ کونکي ته د دغه فصل کټ شوي نه څه ورکوي نو دا اجارت بسبب جهالت او اجرت کیدل د هغه څه چه د اجرت اخستلو نه په لاس تیار شوي دي فاسدیدل پکار دي نو د دې متعلق د سوالونو جواب راکړئ؟۱_ دا فاسده اجاره ده او که نه او که نه وي نو دلیل څه دی؟۲_ د اجاره مسطور د فاسیدو په بنا هغه اجرت کونکی د دغه اجرت بعد القبض ملك کیږي او که نه؟۳_ بنا په فاسد کیدو داجاري مذکوره کې کومه حیله دجوازلری اوکه نه، په دی کې خوعموم بلوی ده ددی څه اعتبارشته یانه ؟

جواب :د جهالت په نسبت خو دا توجیه کیدی شي چه مجهول محض نه وي یو انداز وي او جهالت یسیر فقهاو په ډیر ځایونو کې معفو کړی دی او د قفیزطحان د شبهې دا توجیه کیدی شي بلکه واقع هم ده چه عملاً که ئې د همدې محصود نه ورکوي مګر د دې شرط کیږي نه تردې چه که د تیرو ورځو په محصود کې څوك د اندازې لګولو نه انکار نه کوي ځکه دا عمل جائز ګنم. ۸ جمادی الاخری ۱۳۳۴ھ، (تتمه اربعه ص۴۱).

### دفع بقره بر نصف نماء

سوال :(۲۹٤) زید خپل سخی بکر له ورکړو نو د هغې پرورش ئې وکړو او د ځوانیدو نه بعد ئې د هغې قیمت ورکړو، زمونږ دواړو نه چه څوك وغواړي نو نیم قیمت به ورکړي و بل به ئې د ځان سره وساتي یا زید خالد له کنډك ورکړو او وعده ئې وکړه چه کله کال ختم شي نو بیا به پړتال کوو، کوم زیاتوالی چه په کې راشي هغه به خپل مینځ کې تقسیم کړو، دا دواړه عقدونه شرعا جائز دي یا قفیز طحان لاندې دي لکه څنګه چه عالمګیري جلد پنځم ص۲۷۱ مطبوع احمدي کې دي:"دفع بقرة الى رجل على ان يعلفها وما يكون من اللبن والثمن بينهما اتصافا والاجارة فاسدة"؟

جواب: "كتب الى بعض الاصحاب من فتاوى ابن تيمية كتاب الاختيارات ما نصه ولو دفع دابته او نخله الى من يقوم له وله جزء من نمايه صح وهو رواية عن احمد ج۴ ص۷۵ ص۱۳".نو د حنفیه و په نزد خو دا عقد



جائز دی، "کما نقل عن السوال عن عالمکیریه" لیکن د بعضې اصحابو د امام احمد په نزد په دې کې د جواز ګنجائش دی نو تحرز احوط دی او کوم ځاي کې چه ابتلاء شدیده وي نو سع کیدی شي. ۲۵ جمادی الاخری ۱۳۳۴ھ، (تتمه اربعه ص۴۵).

### دادن بعض پرندگان برائی پرورش کردن برشرط شرکت د رمنافع

سوال :(۲۹۵) زمونږ په ملك سنده کې خلك سمندري مرغۍ پالي او في توله ئې پشت په دیرش روپۍ خرڅوي کوم چه د لکونو روپو تجارت وي او په دې کې داسې شرکت کوي چه چا د دوه سوه روپو مرغۍ واخستلې او چا ته ئې په دې شرط ورکړې چه د دې ساتل ستا په ذمه یعنې صرف خدمت کول، باقي خوراك د هغه د آمدن نه نه ویستل کیږي، او څه چه پاتې شي اول به ترې زما دوه سوه ادا شي وروستو چه څه وي هغه به په نیمه وي، او نورې مرغۍ به د مرغو د مالك وي، نو دا جائزه ده او که نه؟ که ناجائزه وي نو د جواز کوم صورت ئې کیدی شي او که نه؟

جواب: دا دواړه صورتونه نه اجاره ده او نه شرکت لفقدان شروطهما او د نورو عقودو احتمال نشته دی، نو ځکه ناجائز دی البته داسې جواز کیدی شي چه مالك د دې مرغو نیم یا کم او زیات د هغه عامل په لاس خرڅ کړي او کومې منافع چه پیدا شي هغه دواړه به مشترکې وي د هغه عامل د حصې قیمت دې مالك په خپل قیمت کې اخلي او کله چه ټول قیمت ادا شي نو بیا دې منافع په خپل منځ کې تقسیموي لیکن په دې صورت کې به په عامل باندې جبر نه وي همغه دې خدمت کوي او هر وخت انکار کولی شي او که پخپله خوشحالۍ سره ئې کوي نو جائزه ده. ۲۸ رمضان ۱۳۳۱ھ، (حوادث ۲۰۱ ص۱۲۰).

### تردید در اجرت ټیکه دارا ن تالاب وغیره

سوال :(۲۹٦) دلته د قحط کالۍ د وجې نه حکومت د تالابونو او ټهرونو کار شروع کړی دی او قاعده ئې دا راویستلې ده چه کار ټیکه دارانو ته وسپارل شي چه هغوئ په کوشش سره د ټولو مزدورانو نه کار واخلي ځکه چه د قحط کالۍ والا مزدوران هغه سرکاري کار ګڼي او سم کار نه کوي حکومت ټیکه دارانو ته اندازه ښودلې ده چه دا کار په دې نرخ سره کیدل پکار دي که د دې نه کم وي نو مونږ به د تا نه پیسې کټ کوو ته د خپل طرف نه مزدورانو ته پیسې ورکړه او لس روپۍ في صدي کمیشن به ستاسو د محنت او مزدورۍ درکړو، که په

مذکوره شرط باندې او نرخ باندې کار وشو د مزدورانو نه په کار اخستلو کې غلطي وشوه نو مونږ به د هغوئ پیسې تاسو نه کټ کوو، په تپوس شوې صورت کې کوم قسم ربا خو نشته دی داسې ټیکه اخستل صحیح دي او که نه؟

**جواب**: د تعامل نه بعد دا ټیکه داران اجیر مشترك معلومیږي نو ځکه د کار تعین د تردید سره کول جائز دي که په دومره اندازه باندې کار وشو خو در به ئې کړو او که دومره اندازې سره وشو نو دا به درکوو لکه ځنګه چه فقهاو لیکلي دي که کمیس وګنډې نو دومره مزدوري که چپن وګنډې نو دومره مزدوري او لس روپۍ في صدي کمیشن دی، دې ته به هم د اجرت جزء ویل کیږي په دې بنا باندې د دې په عدم جواز کې څه وجه نه معلومیږي. ۳۰ محرم الحرام ۱۳۳۴ھ، (تتمه اربعه ص ۶۲).

## تحقیق محسوب شدن یا نه شدن وقت تامل

**سوال**: (۲۹۷) کوم سبق چه کس ته ویل وي په بعضې وختونو کې سبق د مدرسې په وخت کې په فارغه وخت کې ویل ضروري دي یا چه کوم سخت وي صرف هغه کتل کافي دي، ثانیا عرض دا دی چه که بغیر د کتلو نه اسان کتاب داسې کوم نو بعضې وختونو کې په هغې کې هم بعضې مضمون غور غوښتونکی راځي په کوم کې چه د تامل کولو حاجت وي او دا هم عرض دی چه ما به تراوسه پورې دا کتل چه کوم کتابونه به بغیر د کتلو نه نه ویل کیدل هغه به مې ولیدل او کوم به چه بغیر د لیدو نه درس کیدل و په تامل سره به مې د هغې مطالعه نه کوله په دې کې دا هم عرض دی چه په کتلو سره مې درس ورکولو نه په درس ورکولو کې به وخت کم مصرفیدلو د نه لیدو په نسبت باندې نو په دې صورت کې د مدرسې حق زما په ذمه باقي پاتې شو او که نه؟ او د دې حق ځنګه پوره کیدی شي او په دې باره کې څه معمول ساتل لازمي دي؟

**جواب**: زما په نزد به په دې باب کې دې قاعدې ته حکم ویل کیږي المعروف کالمشروط او په دې کې معروف همغه دی کوم چه تاسو د دې جملې سره شروع کړې دې چه ما به تراوسه پورې داسې کول الخ نو په داسې کولو کې د مدرسې هیڅ حق په تاسو نشته او آئنده هم همدا معمول کافي دی. ۱۴ شعبان ۱۳۳۵ھ، (تتمه خامسه ص ۲۴).



## حاشیه یکی از اهل علم

د دې تفصیل او توضیح چه کوم کتابونه مدرس په لږ تامل سره په مدرسه کې بغیر د سابقه مطالعې نه داسې ورکوي داسې که مطالعه ئې کړې وه نو د مدرسې به وخت کم شوی وو، اوس زیات مصرفیږي نو دا نقصان د مدرسې صرف دې حده پورې د اعتبار قابل نه دی او عفوه ده ترڅو چه عرف ورته بد ونه وائي مثلا شپږ ګهنټې درس وي او هغې کې درې ګهنټې په غور کولو کې تیر شي نو یقینا عرف به دې ته ښه ونه وائي او وبه وائي چه کور کې مطالعه کوه لهذا د دې تعین ضروري دی چه څومره وخت عرفا په مسئوله صورت کې معفو دی، زما په نزد في ګهنټه ۱۲ منټه معلومیږي.

## حکم نذرانه بمقابله مهلت دادن در ادائی محصول زمین

**سوال**: (۲۹۸) ما په یوه عریضه کې عرض کړی وو چه کروندګرو ته نذرانه وغیره اخستل او هغوئ ته د ټیکس ادا کولو کې مهلت ورکول بغیر د څه قسم نقصان نه د مالك ځنګه دي او داسې قسم نذرانه اخستل جائز دي او که نه؟ تاسو د دې هیڅ جواب نه وو راکړی اوس ئې ولیکئ؟

**جواب**: شاید دنظر نه به مو نه وي تیر شوي اوس یې لیکم چه اګر که د مالك نقصان نه وي مګر کتل دا دي چه آخر دا روپۍ د څه شي معاوضه ده او د کوم څیز معاوضه چه ده ایا هغه د معاوضې قابل دي او که نه؟ په دې باره کې دې خپل معلومات ظاهر کړی شي نو صفا جواب به درکړی شي.

## جواب استفسار در سوال بالا

د کروندګرو نه د ټیکس وصولولو لپاره حکومت د خریف قسط د ۱۰ اپریل او مئی او ربیع قسط ۲۵ اکتوبر نه ۲۶ نومبر پورې مقرر کړی دی، د دې مقرره وخت تیریدو نه بعد زمیندارانو ته دا اختیار ورکړل شوی دی چه که کروندګر مقرره وخت پورې ټیکس ادا نه کړي نو زمیندار به عدالت کې مقدمه کولی شي بعضې کسان خو د تاریخ تیریدو نه فورا بعد مقدمه کوي او بعضې ئې نه کوي، صاحب د اکتوبر په میاشت د خپلې مواضعاتو حساب د ما نه کوي او ټول کال چه د کروندګر نه کومې روپۍ وصولیږي هغه ما سره امانت وي که په مقرر تاریخ وصول شوې وي او که وروستو، د هغوئ د دې سره هیڅ سروکار نشته دی کوم کروندګر چه په وخت باندې یعني مقرر تاریخ باندې روپۍ نه ادا کوي نو هغه

کروندګر د خپل کارنده د مقدمې نه د بچ کیدو په غرض سره څه نذرانه تخمینا چه د عدالتي مقدمې د قیمت نه کمه وي ورکوي او د خریف واجب الادا روپۍ په ربیع کې یا د ربیع په خریف کې د ورکولو مهلت غواړي ځکه چه کروندګر دا خیال کوي چه که کارنده مقدمه وکړي نو په عدالت کې به مونږ د دې نه زیاتې روپۍ خرچ کوو او کارنده به هم خفه وي او کارنده ته د ورکولو په صورت کې د عدالت خرچ بچ کیږي او هغه هم خوشحاله وي نو داسې قسم نذرانه اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: جائز نه دي دا روپۍ د مهلت په مقابله کې دي کوم چه حرامې دي او نه د کارنده په ذمه دي چه خپل آقا د خپل خوا نه فارغ کړي که وصول کړې ئې وي او که نه که کارنده د دې کار نه لرې شي نو بیا به د نذرانې طرف ته ونه ګوري. ۱۳۳۶ھ، (تتمه خامسه ص۵۴).

### دادن عامه ونقد خطیب را

**سوال**: (۲۹۹) د اختر په خطبه کې یوه پګړۍ د څه نغدو سره د تحصیل د ظرف نه او یو د پولیس د طرف نه قاضي صاحب ته ورکول کیږي د هغې نه یوه پګړۍ قاضي صاحب ماته راکوي ما تراوسه پورې هغه پګړۍ په سر کړې نه ده، دوه پګړۍ څومره قیمتي دي که د هغې د استعمال شرعاً ګنجائش وي نو د اختر په ورځ ئې په سر کړم کنه نو خیر؟

**جواب**: په دې کې څو اسباب د اشتباه کیدی شي د هر یو متعلق خبرې کول اول خو به په ظاهره دا اجرت په طاعت معلومیدو لیکن عند الشامل دا اجرت نه دی بلکه اکرام دی، نو په واقع کې دا وجه مانع نه شي کیدی دویم کوم چه ورکونکی دی د دې په وجه چه رسم ئې ګڼي او کوي ئې او نه په ورکولو کې د بدنامۍ اندیښنه کوي نو ځکه د زړه د پاکوالي او صدق نه په ورکولو کې قوي شبهه ده او ظاهر انتفاء ده او د مال د حلالیدو د شرط نه طیب قلب معطی هم دی "واذا فات الشرط فات المشروط" دا وجه قوي مانع کیدی شي او دا وجه پخپله د پولیس او تحصیل والا په ورکولو کې او پخپله د یو امام بل امام ته په ورکولو کې مشترك او عام دي.دریم ورکونکی چه د کوم مال نه ورکوي هغه مال جائز وي، مثلاً د رشوت وغیره حکم دا دی چه که د معطی مال حلال غالب وي نو د اشتباه مانع نه ده او که حلال غالب نه وي نو دا اختلاط مانع دی خلاصه دا ده چه في نفسه دا اخستل ورکول جائز دي او اوله وجه منع موثر نه ده او د دریمې دا چه انتفا کې یقیني یا مظنون وي نو هم موثر ي المنع نه ده البته دویمه وجه قوي او غالب الوقوع ده نو ځکه دا اخستل ورکول ممنوع



لغیره او مکروه دي او پخپله اخستل بد دي اګر که استعمال هم نه کړی شي، والله اعلم. ۸ ذی الحجه ۱۳۲۴ھ، (امداد ج۲ ص۱۷۷).

### طیب بودن بچه ګاو در حق مالك اګر خرید کرده باشد از پس دادن ګاو بر حصه

**سوال**: (۳۰۰) د اصلاح الرسوم په آخري صفحه باندې د غوا او میښې بچي باندې حصه ورکولو والا معاملې ته حرام ویلی شوي دي او که د خدمت کونکي دغه څاروی ملکیت شي نو هغه ملکیت ئې خبیث او قرباني ئې مردود لیکلې ده اوس د دې متعلق سوال دا دی چه که هغه په حصه باندې ورکړی شوی څاروی د خدمت کونکي سره نه وي بلکه اصل مالك د خدمت کونکي حصه پخپله واخلي نو بیا به هم دغه ملکیت خبیث ګرځول کیږي او قرباني به پرې نه کیږي؟

**جواب**: په دې صورت کې به د اخیر مشتري په حق کې خبیث نه وي نه د فعل نه د مالك. ۵ ذی الحجه ۱۳۳۶ھ، (تتمه خامسه ص۷۶).

### حکم شیریني شاګردي ګرفتن وتقسیم کردن

**سوال**: (۳۰۱)زمونږ چه څومره هم ګنډونکي دي ټولو دا مقرر کړي دي چه څوك شاګرد ونیسي نو د هغه شاګرد نه به د لس روپو متیائي اخستل کیږي او ټولو ګنډونکو باندې دې تقسیم کړي که په خوشحالۍ ئې ورکوي او که نارضاوالي باندې مګر اخستل ترې ضرور پکار دي دا روپۍ اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: داسې جائز نه دي البته که دا وګرځول شي چه دومره ورځو پورې او دومره وخت پورې د زده کولو به مونږ لس یا د لسو روپو څیزونو اخلو داسې جائزه ده بیا به هغومره ورځې ورښودل کوي مګر دا روپۍ یا څیز به د هغه کس ملکیت وي تقسیمول ئې واجب نه دي مګر چونکه د نورو غوښتل ظلم دی او تقسیمول د دې ظلم مدد نو د تقسیمولو په جواز کې هم شبهه ده. قرب ۱۳۳۷ھ، (تتمه خامسه ۷۸).

### د مریضتیا په ورځو کې د طالبانو او وظیفه او د مدرسینو د تنخواه حکم

**سوال**: (۳۰۲) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه کوم طالبان او استاذان چه د اسلامي مدرسې مریضان شي هغوئ ه د بیمارۍ د ورځو تنخوان او وظیفه اختسل جائز دي؟

**جواب**: ظاهرا دا سوال د چندې متعلق دی نو اصل دا دی چه په داسې اموالو کې د چا د تصرف او عدم تصرف د جواز او عدم جواز معطین اموال په اجازت موقوف دی او د مدرسې مهتمم د دوئ وکیل وي نو هغه ته به د کوم تصرف اجازت کړی شوی وي، نو هغه تصرف دغه وکیل له جائز دی، نو کوم مهتمم چه مدرسین مقرر کړي دي که دغه مهتمم ته د چندې ورکونکو په دې صورت کې څه اختیارات ورکړي وي او مهتمم د دې مدرسینو نه د دې اختیار موافق څه شرط کړي وي نو بیا خو د دغه شرط موافق د تنخواه اخستل جائز دي، همداسې د وظیفې متعلق چه کوم اختیارات مهتمم ته ورکړی شوي دي د هغې موافق د هغې اخستل او ورکول به هم هغه له جائز نه وي او که تصریحا اختیارات او شرائط نه شو لیکن د مدرسې مدون قانون کې لیکلي دي نو هغه به هم د مشروط په شان وي او که مصرح وي او نه مصروف نو په نورو اسلامي مدرسو کې چه څه معروف وي د هغې اتباع به کي کیږي او که دا آمدن د کوم وقف جائیداد وي نو د هغې حکم جدا دی، فقط. ۱۹ صفر ۱۳۳۷هـ (تتمه خامسه ص۸۲).

## تحقیق استحقاق تنخواه در ایام مرض

**سوال** :(۳۰۳) مدرس مریض شو د مریضئ د ورځو تنخواه مستحق به وي او که نه که دې او هغه نه وي اخستلي نو اخستلی ئې شي او که نه؟

**جواب**: اگر قالاً یا حالاً د چندې والا رضا وګڼل شي نو دا شرط ګرځول صحیح دي چه د مرض د ورځو تنخواه به ورکول کیږي کنه نو صحیح نه دي بیا که شرط نه شول نو بیا خو استحقاق شته دی، او که شرط شو نو هغه مستحق دي بیا که د چندې والا رضا معلومه وي نو د چندې نه ورکول صحیح دي کنه نو چا چه مدرسې ساتلې وي هغه دې د خپل کور نه ورکړي. ۱۵ شعبان ۱۳۲۱ هـ (حوادث اولی ص۹۱).

## حکم تنخواه ایام تعطیل ووضع تنخواه ایام رخصت

**سوال** :(۳۰۴) په عربي مدارسو کې د رمضان شریف رخصت وي نو د هغې د تنخواه خو بلا معاوضه کیدل ظاهر دي باقي وخت هم مدرس په مدرسه کې نه تیروي چه د هغې ولې نه ئې واخستل شي نو دا هغه له اخستل څنګه درست دي که د مدرسې مهتمم د شعبان په ۲۹ تاریخ مدرسې د ملازمت نه جدا کړي نو دا مدرس د رمضان د تنخواه مستحق دی او که نه؟



مدرس په مدرسه کې بحال اوسیږي او د رمضان په تعطیل کې به د رمضان تنخواه کله مستحق کیږي کله چه ټول رمضان ختم شي یا د شعبان په ختمیدو باندې؟

**جواب**: تنخواه خو د عمل د ورځو ده مګر درحقیقت زمانه تبعاً د عمل د ورځو سره ملحق وي نرخو استراحت کولو سره د عمل په ورځو کې عمل وکړی شي د دې نه د ټولو اجزاو جواب راووتلو اول دا حکماء بغیر د کار د معاوضې نه نه دي، دویم دا چه د شعبان په آخر کې معزولیدو باندې به تنخواه نه ملاویږي او عدم عزل کې د رمضان په ختمیدو سره به تنخواه ملاویږي په دې شرط چه شوال کې ئې هم کار کړی وي. ۱۵ رمضان ۱۳۳۷هـ (تتمه خامسه ص۹۲).

**سوال** :(۳۰۵)د شعبان اواخر او د شوال اوائل او د رمضان ټوله میاشت او لو یاو غټ اختر کې رخصت وي، د دې ورځو د تنخواه مدرس مستحق دی او که نه؟

**جواب**: د چندې ورکونکو په رضا سره ئې د چندې نه ورکولی شي کنه نو په عدم اشتراط کې ئې حق نشته او په اشتراط کې د موجر په ذمه واجب دي لکه څنګه چه بره دوه جوابونو کې ذکر شول. ۱۵ شعبان ۱۳۲۱هـ (حوادث اول ص۹۲).

**سوال** :(۳۰۶) او د طالبانو نه د رخصتئ مشاهره اخستل یا مهتمم نه اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: المعروف کالمشروط په قاعدې سره جائز دي. ۴ذيقعده ۱۳۳۲هـ (حوادث ثانیه ۱۵۶).

## وضع تنخواه ایام رخصت

**سوال** :(۳۰۷)علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زید عمرو د یوې میاشتې لپاره په شل روپئ ملازم کړو، لیکن زید ملازم ته د خپلو ضرورتونو د وجې نه د رخصت ضرورت پیدا شو نو زید د عمرو نه اجازت واخستلو او لاړو کله چه میاشت ختمه او د تنخواه وخت شو نو د رخصت ورځو تنخواه ئې ترې کمه کړه کله چه زید څه ویل وغوښتل نو عمرو جواب وکړو چه دلته کال کې یوه میاشت رخصت ملاویږي که مریض وي که غم که ښادي، د دې نه علاوه نوره نه ملاویږي، او عمرو چه کله زید ملازم کولو نو هیڅ قاعده ئې نه وه ایښې او څو کالو پورې هیڅ خبره واقع نه شوه لیکن څو کاله بعد عمرو د زید سره د بره قاعدې پابندي شروع کړه، کله چه زید عمرو ته دا عذر پیش کړو چه تیرو کلونو کې تاسو ولې دا قاعده نه عملي کوله نو عمرو جواب ورکړو چه زما اختیار دی اوس رعایت نه کوم هغه وخت کې مې کولو دا صورت شرعا جائز دی او که نه؟

جواب: جائز دی او د رخصت تنخواه ورکول کله چه کوم شرط نه وي تبرع او احسان دی، البته که څه شرط شوي وي یا داسې عام عرف وي چه ټول پرې متفق وي هغه هم د شرط په منزلت دي نو دغه وخت کې په دغه شرط عملي کول واجب دي، فقط. ۲۹ رجب ۱۳۳۱ھ، (حوادث اول ص۱۰۸).

## تحقیق استحقاق اجرت زمانه رخصت رعایتي مدرسین

سوال :(۳۰۸) اکثره اسلامي مدارسو کې د مدرسینو لپاره دیوې میاشتې درعایتي رخصتي اعلان وي په کومه میاشت کې چه تعلیم نه کیږي نو هغوئ څنګه د تنخواه مستحق کیدی شي مهتمم یا اهل شوری داسې قواعد مقررولی شي او که نه؟

جواب: مهتمم او اهل شوری د چندې والا وکیلان دي نو که په تصریح یا قرائنو سره په دې قانون باندې د چندې والاته اطلاع او د هغوئ رضا ثابته وي نو چندې نه تنخواه ورکول جائز دي کنه نو ناجائز که رضا نه وي او شرط وي نو چا چه مدرسې نوکر کړی دی هغه دې د خپل طرف نه ورکړي. ۱۵ شعبان ۱۳۲۱ھ، (امداد ج۳ ص۵۴ وحوادث اول ص۹۱).

## حکم زمین موروثي کفار

سوال :(۳۰۹) که موروثي دار هندو وي نو د هغې نه فیس او خوراك بغیر د کومې طریقې د تقید نه اخستل جائز دي او که نه؟

جواب: ماته خو د مسلمان په شان حکم معلومیږي ځکه چه دا د عقد فاسده بالتراضی نه نه دی کوم چه تفاوت وي دا خو غصب دی چه د ټولو لپاره حرام دی. ۲۴ جمادی الثاني ۱۳۳۷ھ، (تتمه خامسه ص۸).

## حکم زمین موروثي ومنافع آن

سوال :(۳۱۰)کومه ځمکه چه کروندګر ۱۲ کالو پورې وکري نو د سرکاري قانون د مخې هغه ته یو حق حاصل دی چه هغه د ځمکې نه بې دخل کولی نه شي نو د کروندګر دا ځمکه د خپل ځان سره ساتل او د دې نه منقطع کیدل جائز دي او که نه او لله خیرات کول او د ثواب امید لرل یا جائز هدیه ورکول د دې آمدن نه جائز دي او که نه؟



جواب: "فی کتاب الغصب من الهدایة ومن غصب عهدا فاستغله فنقصت الغلة فعلیه النقصان ویتصدق بالغلة اه".
د دې نه معلومه شوه چه د کوم مغصوب څیز نه چه څومره نفع حاصلیږي د هغې نه انتفاع هغه غاصب له صحیح نه دي او کله چه دا غاصب دی نو ځکه د هغه چه څومره خرچ شوي دي هومره خو په پیداوار کې کینبودلی شي او کوم چه زیاته نفع شوې ده د هغې جواز پخپله استعمال صحیح دی نه چاته په کې هدیه وغیره ورکول جائز دي بلکه د ځمکې د مالك د طرف نه دې غریبانو او محتاجو ته ورکړي او پخپله دې د ثواب امید نه لري دا خو د پیداوار حکم شو او د ځمکې لپاره دا حکم دی چه د آئنده لپاره دا پریږدي کنه نو د ظلم او غصب په ګناه کې به مبتلا وي. ۱۴ ربیع الاول ۱۳۲۵ھ، (امداد ج۳ ص۸۵).

## موروثي کروندګر غاصب دی‌د دې مرتهن هم د غاصب په حکم کې دی

سوال :(۳۱۱) بکر د زید موروثي کروندګر دی، بکر موروثي پټی د عمرو سره په ۴۰ روپئ ګروي اینبودلی دی اوس عمرو پخپله موروثي پټی کري او د پټي ټیکس اصلي مالك ته ورکول لکه څنګه چه ئې زید له ورکولو:۱ـ نو عمرو له د دې ګرو ساتل جائز دي او که نه؟ ۲ـ که عمرو د الله ﷻ د ویرې نه ۴۰ روپو پورې نفع حاصلولو نه بعد د بکر پټی واپس کړي نو بیا به هم عندالله ماخوذ وي او که نه؟۳ـ که عمرو د ۴۰ روپو نه زیاته نفع حاصله کړې وي نو دا زیاته چاته ورکول پکار دي، زید ته او که بکر ته، عندالله ماخوذ نه وي یا د دې نه زیات معافي کول پکار دي نو په چا ئې وکړي په زید او که بکر؟۴ـ اوس عمرو د رهن د معاملې د ختمیدو نه بعد بیا دا پټی کرل غواړي او بکر راضي دی او عمرو له دې قسم له کر کول درست دي او که نه که درست وي نو څنګه، آیا د اصلي مالك راضي کولو ضرورت به وي یا صرف د بکر راضي کیدل کافي دي؟

جواب: بکر د دوه وجو نه غاصب دی، اول د موروثیت د دعوې د وجې نه دویم د دې ځمکې ګروئ اینبودلو سره د کوم چه هغه ته شرعا اختیار نشته دی او د غاصب نه عاریت یا اجاره یا رهن باندې اخستلو والا د غاصب په حکم کې دی او د غاصب حکم دا دی چه د خپل راس المال په اندازه د مغصوب څیز نه نفع حاصلولی شي زیاته نه د دې نه د ټولو سوالونو جواب راووتلو په جزءي طور ئې نقل کوم:۱ـ جائز نه دی.۲ـ په اصل معامله کې د مواخذې مستحق دی او دا راس المال نه ئې چونکه زیاتې نه دي وصول کړي نو دې حیثیت سره د

مواخذې قابل نه دی. ۳ــ که توقع وي چه بکر به زيات د اصل زيد طرف ته واپس کړي نو عمرو دې بکر له ورکړي کنه نو زيد ته ورکول پکار دي او معافي هم د هغه نه غوښتل پکار دي. ۴ــ چونکه بکر غاصب دی نو ځکه ورسره هيڅ معامله صحيح نه ده که اصل مالك راضي شي نو بيا ټولې پيسې اول مالك له ورکول پکار دي، والله اعلم. ۱۷ جمادی الاولی ۱۳۲۶ھ. (تتمه اولی ص۱۸۸ وحوادث ۲۰۱ ص۴۱).

## حکم حق موروثي

سوال :(۳۱۲) د انګريزي قانون مطابق کومه ځمکه چه دولس کالو پورې د يو کروندګر په قبضه کې وي نو په دغه ځمکه باندې د کروندګر د مقابضت حق ثابتيږي يعنې زميندار له نه د دې ځمکې د خرڅولو مجاز شته نه د مالګذارئ د زياتولو بلکه د خرڅولو حق کروندګر ته حاصل دی دا حق شرعا چاته حاصل دی او د خرڅولو نه وروستو به مبيع د مشتري ملك وي او که نه؟

جواب: دې کروندګر ته هيڅ شرعي حق نه حاصليږي که داسې کروندګر نه ئې څوك واخلي نو هغه بيا نه مالك کيږي. ۱۸ ربيع الثاني ۱۳۳۱ھ. (حوادث او۲ ص۱۸).

## برهن قبول کردن زمين خود از کاشتکار موروثي

سوال :(۳۱۳) بعضې کروندګر موروثي د خپل کر د ضرورت لپاره د کوم سود خور نه روپئ اخلي او هغه په رهن ورکوي او مرتهن د ځمکې د کر نه فائده اخلي په داسې صورت کې په ځاي د دې چه کروندګر موروثي بل کس نه روپئ واخلي او ځمکه ورسره ګرو کړي که زميندار د خپل طرف نه روپئ ورکړي او هغه کرونده پخپله وکړي نو په داسې حالت کې زميندار د مرتهن منافع اخستلی شي او که نه؟ يا د نورو رهنونو په شان دا منافع اخستل هم د هغه په حق کې حرام دي او زميندار چه عموما کومه کرونده خپل ځان سره ګرو بدي د هغې څلور صورتونه دي: ۱ــ کله د ټول کر تردد پخپله کوي. ۲ــ کله خپله يوه حصه کړي او يوه حصه دغه کروندګر يا بل ته ورکوي. ۳ــ ټوله ګرو شوې بل ته ورکوي او ټيکس پخپله وصولوي. ۴ــ کله ټول کر راهن ته حواله کوي او ټيکس زيات وصولوي.

جواب: دا موروثي چه د مالك د رضا خلاف ئې د کر دعوه کوي غاصب دی او مالك له هرې حيلې سره د خپلې ځمکې نه فائده اخستل مشروع دي نو دا رهن ځکه باطل دی چه اول خو د کر حق کوم مالي حق نه دی او د مرهون مال حق کيدل مشروط دي دويم ځکه چه مرتهن



پخپله دی او د مرتهن غير مالك کيدل شرط دي: "وقد عللوا بطلان بيع المرتهن من الراهن بأن ملكه باق كذا في رد المحتار ج۵ ص۵۰۷). ليکن د دې باطل کيدو معنی دا ده چه کالعدم دی نه دا چه ګناه ده. بهرحال که دا په بهانې سره خپله ګرو ځمکه واخلي نو بيا هم صحيح شوه او څومره چه انتفاع د خپلې ځمکې نه شرعا مباحه ده هغه به په دې صورت کې هم مباحه وي چونکه په سوال کې څلور صورتونه ليکل شوي دي هغه ټول صحيح دي البته د دې ګروئ په ساتلو کې چه کوم د ځمکې مالك دغه کروندګر ته ګروندي لپاره روپئ ورکړې دي هغه رشوت دی د کوم چه بغير د ضرورت نه ورکول حرام وو ليکن هغه د خپل حق د خلاصولو دپاره د مجبورئ نه دا کار کړی نو ګناه نه شوه. ۲۱ صر ۱۳۳۳ھ. (حوادث ثالث ص۱۳۱).

## جواز واپسي بحيله رقمي که کاشتکار موروثي برائی استخلاص حق خود داده

سوال :(۳۱۴) که يو کس د موروثي ځمکې د راويستلو د وجې نه مجبورا کروندګر ته روپئ ورکړي او خپله ځمکه د هغه نه جدا کړي نو هغه کس حق لري چه دغومره روپئ د هغه نه په څه ذريعې سره وصول کړي او که نه؟ آيا دا روپئ به په هبه بالاکراه کې داخلولو سره د بيع صحيح په شان شي او که نه؟

جواب: دا په رشوت کې داخل دي او در مختار کې دي "الرشوة لاتملك بالقبض" نو ځکه د دې روپو راګرځول په کومې حيلې سره جائز دي، اشرف علي. ۲۰ شعبان ۱۳۳۳ھ، (حوادث ثالث ص۱۴۵).

## دعوی موروثيت در زمين مملوکه سرکار بعد بيع کردن بدست زميندار

سوال :(۳۱۵) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه حکومت د يوې ځمکې مالك وو کروندګرو به په کې کر کولو او ټيکس به ئې حکومت ته ادا کولو، وروستو بيا حکومت دغه ځمکه په همدغې ټيکس سره د موروثيت په حالت کې د زميندارانو کروندګرو باندې خرڅه کړه نو تردې وخته پورې د دغه کروندګرو موروثيت راروان دی مګر د موروثيت ټيکس ۵ او ۲۰ په نسبت دی، په دې صورت کې عند الشرع هم د کروندې حق په زور ټيکس سره کروندګرو ته شته دی او که نه؟ او د ځمکې مالك له د هغې بې فصل کولو اختيار شته دی او که نه، بينوا توجروا؟

**جواب**: کله چه زمیندرانو باندې دغه ځمکه حکومت خرڅه کړه اوس د رضا نه بغیر د نوي زمینداارانو نه د دغه ځمکه استعمالول په زور حق سره جائز نه دي. ۲۵ محرم ۱۳۳۳هـ، (تتمه ثالثه ص۱۲۶).

## حکم کاشت زمین موروثي بعد اجازت مالک

**سوال** :(۳۱۶)یوه ځمکه انګریزي قانون موافق موروثي کړی شوه په هغې کې درې ورونه شریك دي یو کس مستعفي کیدل غواړي لیکن قانونا چه څو پورې د درې کسانو دستخط نه وي او درې واړه راضي نه شي نو که یو کس ته د ځمکې مالك په څه زیاتوالی ندي یا به قرض ورکړی نو دغه کس له د دې ځمکې کرونده جائز ده او که نه؟

**جواب**: د مسئلې جواب دا دی چه جائزه ده لیکن ضروري ده چه د یوې استعفی مضمون ولیکلې شي او مالك ته ورکړی شي چه د دې کس په قدرت کې همدومره دي ممکنه ده چه څه وخت په کومه طریقه باندې ساده لیکل کار وکړي، فقط. رجب ۱۳۳۶هـ، (تتمه خامسه ص۶۳).

## وصول حق وانج خود از کاشتکار موروثیت

**سوال** :(۳۱۷)د مسنون سلام نه بعد! سوال نامه ستاسو په خدمت کې ده او د دې په جواب کې التماس دی چه (سوال) د ځمکې مالك خپل حق کوم چه ئې غصب کړی وي الخ (جواب) د ځمکې د مالك حق کوم چه کروندګر موروثي غصب کړی دی هغه دا دی چه موروثي کروندګر خپل طرف ته مثلا چه کومه ځمکه یوه روپۍ في صدي بیګه کرایه باندې دی که په واقع کې دا ځمکه د هغه سره موروثي نه وي نو د هغه نه به في بیګه څلور روپۍ وصولیدلې نو په مذکوره صورت کې د ځمکې مالك له درې روپۍ في بیګه د کروندګر موروثي غصب کړي دي (سوال) او هغه به څنګه وصول کړی شي (جواب) د وصولولو صورت دا دی چه مثلا که موروثي کروندګر درې کالو پورې ټیکس نه وي ادا کړی نو د ځمکې مالك له دا جائزه ده که نه چه درې کالو پورې دومره روپۍ چه د سود په اندازه وي د خپل سود په عنوان یا د عدالت په ذریعې سره وصول کړي او سود ئې مقصد نه وي بلکه د خپل حق حاصلول ئې مقصد وي کوم چه مذکور کروندګر غصب کړي دي لکه څنګه چه بره عرض کړی شوی دی، بینوا توجروا؟

**جواب**: داسې وصولول درست نه دي ځکه چه هیڅ عقد نه دی موندل شوی د کوم نه چه دا تعین شي،چه دومره حق واجب دی، البته یو صورت ئې شته دی هغه دا چه په مذکوره



صورت کې مالك دې کروندګر ته یو ځل دا ووائي چه زه به یوه روپۍ في بیګه ځمکه باندې راضي نه یم بلکه ۴ روپۍ في بیګه به اخلم یا دې پریږدي او کنه نو ۴ روپۍ في بیګه به اخلم د دې نه بعد که ئې هغه پرې نږدي نو د هغه په ذمه به کرایه واجبه شي نو په مذکوره طریقه باندې د هغې نه وصولول جائز دي. ۲۰ ربیع الاول ۱۳۳۲هـ، (حوادث او۲ ص۱۳۳).

## د حکومت قانون دی الخ

**سوال** :(۳۱۸)د حکومت قانون دی چه د کوم زمیندار ځمکه چه کوم کس یو ځل واخلي هغه د هغه موروثي کیږي زمیندار دا حق نه لري چه هغه ئې بل کس ته ورکړي او کروندګر حق لري چه بل چاته ئې د کر لپاره ورکړي او کروندګر حق لري چه حاکم ته درخواست وکړي که د غلې ټیکس وي نو روپۍ دې ورکړي داسې في من یوه روپۍ کیږي مثلا که د کومې ځمکې ټیکس به روپۍ شي مګر هغې کې زمیندار ته ډیر نقصان کیږي، لیکن د دې کروندګر درخواست ورکولو سره د غلې روپۍ هغه وخت وي کله چه د هغه په ذمه هیڅ باقي نه وي کنه نو د زمیندار چه کله زړه وغواړي د ټیکس دعوه وکړي د کوم د ورکولو چه به وخت مقرر کیږي او په دغه زمانه کې د نه ادا کولو سره کروندګر د ځمکې نه ویستل کیږي، او زمیندار ته کلي د تصرف حق حاصل وي که زمیندار د دې نقصان نه د محفوظیدو لپاره لاندې صورت اختیار کړي نو دا د هغه لپاره شرعا جائز دی او که نه؟ چونکه د کروندګر درخواست ورکول او په غله باندې روپۍ کول د دې سره مشروط دي چه د دې په ذمه باقي نه وي نو ځکه زید د دې لپاره یو تدبیر کړی دی چه د کروندګرو نه ټیکس وصول کړي او هغه له رسید ورنکړي او کله چه کروندګر دا بره ناجائز قانون استعمالول وغواړي نو د هغه درې کالو[1] مقدمه او خپل قرض دې د کروندې په ذمه ثابت کړي ځکه چه د تحصیل په وخت هغه ته رسید نه دی ورکړی او د رسید وصولولو نه بغیر د ټیکس ادا کول قانونا معتبر دي لهذا کروندګر په ذمه دې د درې کالو ټیکس ثابت شي او هغه ایك دم د لږې مودې دپاره ادا نه کړی شي نو د ځمکې نه به بې دخل شي چونکه په دې صورت کې دروغ ویل کیږي او کروندګر ته د دروغو وعده ورکول کیږي نو ځکه ئې په جواز کې شك دی او عموما په دې

[1] درې کاله تقیید ددی لپاره دی چې ګورنمنټ قانون دی کوم شخص چې دټیکس یادچاپه ذمه وي نو دهغه څخه صرف درې کاله وصول کوی ددی څخه زیاتی ورځي نه وی ددی معیادرااووتو ۱۲ منه محمدغفرله!

صورت کې د دروغو د وعدې نوبت ډېر لږ راځي ځکه چه کروندګر باندې دباو وي د رسید نه موجودیدو د وجې نه بل څه نه کوي، والسلام؟

جواب: جائزه ده مګر د دې فتوا دې داسې کس ته ورنکړې شي چه کروندګر نه ئې په دویم خل وصول کړي یا د وصولولو نه بعد ئې ورته واپس نه کړي او د شبهې جواب دا دی چه زمیندار د کروندګر د دې دعوې استحقاق کې مظلوم دی او د ظلم دفع کولو لپاره داسې کوي. ۲۷ رجب ۱۳۴۹هـ.

### وجوب تحقیق اراضي در صورت اعتماد کاشتکار بر بیان مالک

### وعدم وجوب آن در صورت رضا مندي آن بر کمي وبیشي اراضي

سوال: (۳۱۹) یو کروندګر ته یوه قطعه ځمکه په پټه باندې د نمبر او رقبې په قید سره په ۵ روپۍ بیګه ورکړی شوه، په پټه کې چه زمیندار د طرف نه کروندګر ته ورکول کیږي دا شرط هم د نورو سره لیکلی شوی دی چه د ځمکې د کموالي او زیاتوالي په صورت کې به ټیکس ۵ روپۍ في بیګه په حساب سره کم او زیات کړی شي. د ځمکې د کموالي او زیاتوالي احتمال وي د دې وجې نه دا شرط ولیکل شو اوس د ټیکس ادا کولو په وخت کروندګر د مقرره ټیکس نه بغیر د څه عذر نه هغه په دباو سره ادا کړو یعنې د ځمکې د کمیدو او زیاتیدو ئې څه عذر ونه کړو بلکه کوم ټیکس چه مقرر شوی وو هغه ئې ادا کړو اوس سوال دا دی چه آیا زمیندار ته صرف په دې شبهه باندې چه ممکنه ده چه ځمکه کمه او زیاته وي نو شرعا د هغه په ذمه د دې ځمکې د اندازې معلومول ضروري دي او که نه؟ او که د کروندګر په رضا ټیکس وصول کړی شو او د ځمکې د اندازې متعلق څه معلومات ونه کړی شول نو هغه ټیکس حلال دی او که نه؟ او هغه په خپل تصرف کې راوړل جائز دي او که نه؟

جواب: که کروندګر په رضا سره ورکړې وي او دا د قرائنو نه معلومه شي چه په زمیندار ئې اعتماد نه دی کړی بلکه په کموالي او زیاتوالي راضي دی بیا خو صحیح ده او که د قرائنو سره معلومه شوه چه د زمیندار په بیان ئې اعتماد کړی دی بیا خو ئې معلومول ضروري دي. ۱۴ شوال ۱۳۳۷هـ، (تتمه خامسه ص ۱۰۰).



### عدم جواز خطوط نویسي در وقت کار دفتر

سوال: (۳۲۰) د دفتر په وخت کې ذاتي خط وغیره لیکل پکار دي او که نه؟

جواب: نه. (تتمه خامسه ص ۲۳۴).

### حکم کار خود کردن در وقت ملازمت

سوال: (۳۲۱) د مدرسې په وخت کې د مدرس څه کار پیښ شو او خپل کار ئې وکړو او په خارج وخت کې ئې په مدرسې کې د هغې په بدل کې تعلیم ورکړو نو آیا هغه په دې صورت کې د ټولې تنخواه مستحق کیدی شي او که نه؟

جواب: مدرسي کول د اجارې عقد دی که د اجارې وخت د عقد په وخت کې تخصیص شوی وي چه په فلاني وخت کې به کار کوي نو بل وخت کې کار کولو سره د اجر مستحق نه دی او که صرف اندازه معینه شوې وي او تخصیص نه وي شوې نو د اجر مستحق دی، فقط. ۱۵شعبان ۱۳۲۱هـ، (امداد جلد ۳ ص ۵۴، حوادث اول ۲ ص ۹۱).

### ملازم له د ملازمت د کار نه علاوه بل کار کول او د هغې مزدوري اخستل

سوال: (۳۲۲) (۱) یو ملازم چه د خپل ملازمت نه علاوه بل کار که هغه د خپل ځان متعلق وي او که د بل چا وکړي نو د هغې معاوضه یا حق المحنت اخستلی شي او که نه؟ (۲) یو ملازم د خپل مشر په ناخبرۍ یا د مرضۍ خلاف بل د خپل مفاد کار چه د هغه د نوکرۍ نه علاوه دی وکړي نو کولی ئې شي او که نه؟

جواب: که د نوکرۍ وخت معین وي نو بل وخت کې ملازم له خپل کار کول جائز دي په دې شرط چه هغه د بادار په کار کې خلل اچونکی نه وي او که د نوکرۍ وخت متعین نه وي نو د خپل بادار د اجازت نه بغیر خپل کار یا د بل کار کول ورله جائز نه دي. ۳ جمادی الاولی ۱۳۲۹هـ، (تتمه اولی ص ۱۷۸).

### عدم جواز عمل باجرت برائی اجیر خاص

سوال: (۳۲۳) السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، مولانا...... انبهټوي د مولانا صاحب...... صدر المدرسین مدرسه هذا ته ویلي وو چه زما یو شاګرد د اسلام نګر اوسیدونکی کوم چه په معززه عهده باندې حیدر آباد دکن کې ملازم دی ویلي وو چه زه به تا ته ۲۵ روپۍ د

میاشتې د خپل طرف نه او څه د بل چا نه چندې کولو سره درلیږم تاسو بل ځاي ته تشریف مه وړئ په یو ځاي اوسیږئ او تعلیم ورکوئ او دا روپئ به ماهوار د کوم امین سره جمع کیږي تاسو ته به دا اختیار وي چه څومره ستاسو پکاریږي هومره ترې اخلئ نو شاګرد صاحب دا روپئ په انبهټه کې د امین سره جمع کولې او زه د هغې نه د ضرورت په اندازه روپئ د خرچ لپاره اخلم که د مدرسې د سرپرستانو رائې وي نو زه به دا روپئ هلته منتقلې کړم او همغلته به تعلیم ورکوم او د ماشومانو نګراني به کوم د دې په باره کې مولانا صاحب حضرت مولانا صاحب ته په ژبه ویلي وو او هغه منظور کړي وو، بیا یو عریضه ولیږل شوه په هغې باندې مولانا صاحب دا ولیکل کوم چه د خدمت والا ته لیږلی شوې مولانا صاحب له د ابتدائي تعلیم انتظام ډیر ښه ورځي او دلچسپي ئې هم ورسره ده که مناسب وي نو مقرر ئې کړئ او د موصولو روپو نه علاوه به ۱۰ روپئ د مدرسې نه د میاشتې ملاویدې او په روپو کې به ورته د خرچ اختیار وي څنګه چه غواړي خرچ کوي دې څنګه چه ارشاد وي ویې لیکئ؟

جواب: مخدومی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! زما په دې کې یو شك دی که هغه لرې کړی شي نو دا صورت ډیر ښه دی بیا زما نه د دوباره تپوس کولو ضرورت نشته دی په دې کې غالب احتمال دا دی چه دا خدمت د تعلیم په مقابله کې مقصود دی صرف تبرع نه ده نو دا صورت به د اجیر خاص وي او اجیر خاص له د بل چا کار کول او اجرت اخستل جائز نه دي که د مدرسې والا د طرف نه تبرعا ورکړی شي نو دا هغوئ له جائز نه دي د دې اصلاح کیدی شي د دې صاحب د ټولو تجاویزو اطلاع دې وکړی شي او ودې لیکل شي چه د تعلیم کار مثلا په دې کوم او د انګریزي کار به د مدرسې د طرف نه کوم او عوض به ئې د مدرسې نه اخلم او هغه کس دې هم د چندې والا له اطلاع ورکړي یا دې د هغوئ د طرف نه وکیل مطلق کړی شي او د دې شبهې نه علاوه هم هغوئ ته د خبر په ورکولو کې مصلحت نشته نو که هغوئ ته د بل طرف نه خبر ور ورسیږي چه د دې مدرسې نه علاوه ئې هم اخلم نو خامن به په مشرانو باندې د حرص ګمان وکړي د کوم اثر او ثمره چه د ټولو لپاره بده ده، والسلام. ۴ صفر ۱۳۳۲ھ، (تتمه ثانیه صـ ۱۲۳).

## فیس گرفتن بر نظاره جانور عجیب

سوال :(۳۲٤) یو نادر الوجود ځناور په پرده کې ساتل او د خلکو نه د هغې په کتلو پیسې اخستل جائز دي او که نه؟



جواب: "فی الدر المختار لا تصح اجارة لدابة لیجنبها ولا یرکبها ولا أیضا لاجل ان یربطها علی باب داره لیراها الناس فیقال له فرس الی قوله لما قدمنا ان هذه منفعة غیر مقصودة من العین واذا فسدت فلا اجر الخ صـ۲۲؛ باب ما یجوز من الاجارة". د دې روایت په بنا باندې په صورت مسئله کې پیسې اخستل جائز نه دي. "الا ان یقصد اجارة ذاك البیت لتلك الساعة لدخولها وهو بعید کما تری". ۱۲ شعبان ۱۳۳۵ھ، (حوادث خامسه صـ۹).

## عدم جواز نشان دن در ریل کسی دور ابایں حیله که ملازم اوست

سوال :(۳۲۵)د یو کس سره چه ریلوی سره ملازم دی د خلکو سره ملاو شوی دی هر کس چه وړل وغواړي وړلی ئې شي شرعا خو څه جرم نشته دی؟ کله چه هغه دا ووائي چه دا زما کس دی که د هغه وي او که نه وي د ریلوی افسر ئې نه نیولی شي او نه څه جرم دی شبهه د دې وجې نهده چه کله چه د هغه خاص کس نه وي صرف دوست یا رشته دار دی نو شرعا دغه کس له شاید جائز نه وي؟

جواب: واقعي جائزه نه ده. (حوادث خامسه صـ۱۷).

## حلال بودن زر تنخواه که بحکم مالك مال از مال مسروقه او ادا کرده شود

سوال :(۳۲٦)عرض دا دی چه مونږ د یو انګریز سره نوکري کوو او خانسامئ ده چه د بازار نه سودا راوړي نو هغه په دغه روپو کې غلا کوي او همغه پیسې مونږ ته راکوي او د دې غلا والا خبره باندې صاحب پوهه دی نو آیا دغه پیسې مونږ له اخستل جائز دي او که نه؟ او پخپله انګریز وائي چه ورکړه (د همدغې غلا پیسې) نو دلته به کوم خبره حمل وکړی شي؟

## دلته دا تنقیح وکړی شوه

کله چه ته د انګریز نوکر ئې نو د انګریزانو د پیسو نه تاته تنخواه درکول پکار دي د خانسامئ روپئ څنګه ملاویږي په دې خبره پوهه نه شوم دا صفا ولیکئ نو جواب به راکړی شي؟

## دلته دا جواب ورکړی شو

مطلب اوس هم صفا نه شو شاید مطلب دا دی چه انګریز ټول کار په خانسامئ کوي یعنې سودا هم هغه باندې راغواړي او کوم قیمت چه هغه وښائي انګریز ئې ورکوي او همداسې ستاسو د تنخواه درکولو هم هغه مراد ورته وائي یا د حساب معلومیدو نه وروستو هغه

تنخواه هم ترې وباسي نو هغه مزدور چه کومې پيسې درکوي هغه ئې د غلا د پيسو نه
درکوي کومې چه د روزانه په سودا کې غلا کوي نو که همدا مطلب وي نو جواب دا دی چه
چونکه همغه روپۍ د انګريز دي نو تنخواه د انګريز د روپو نه ملاو شوه نو ځکه ستاسو
دپاره حلاله ده ځکه چه هغه روپۍ د خانسامۍ (مزدورۍ) په حق کې حرامې دي نه چه د
انګريز نو داسې دا انګريز چه ئې چاته وزکړي د هغه په حق کې هم حرامې نه دي او که بل
څه مطلب وي نو صفا ئې وليکئ. ۲۸ شوال ۱۳۳۶ھ، (حوادث خامسه ص۱۸).

## حکم عهده قضائی نکاح

**سوال** :(۳۲۷)حضور عالي درين روزګاره عهده قضائی عالمګیرست ومولویان بخواهش
تمام اختیار می کنند این عهده جائز ست یا نه ونیز کورنمنټ قانون نافذ ساخته که در هر
دلیل نکاح یا طلاق یك روپیه فیس کرفته شود لیکن قاضیان رائد از مقدار معین مي
کیرند وبعض قاضي می کویند که قانون سرکاری در حلت وحرمت موثر نیست چه حلت
شرعی است نه سرکاری ونیز می کویند که ملایان درخواندن نکاح دوسه روپیه جبرا می
کیرند واین باتفاق علماء درست است ورجستری نکاح نیز از همین قبیل است پس چرا جائز
نخواهد شد ، امید که جواب مرحمت فرمایند ، بینوا توجروا؟

**جواب**: (من مولانا محمد اسحاق) اجرت نکاح خوانی مثل اجرت دیگر امور مباح است نه
این استیجار علی الطاعة است ونه استیجار علی المعصیت که ناجائز باشد پس اکر
تیراضی طرفین اجرتی مقرر شود بشرط یه که در ان جبر واثر وجاهت وغیره نباشد جائز
است لیکن نکاح خوانان طریقه جبر وتعدی وتاذی اختیار نمودند لهذا مفسد هابر پامی
شوند وغریب رعایا بجان می آیند لهذا حکام وقت نکاح خوانی راتحت ضابطه آورده
بشخصیکه بزعم ایشان معتبر می دانند ، چند دیهات یا محلات متعلق می کنند که
ساکنان آنجا خواهند که از بی ضابطکی فلان فلان کسان دستکاری می خواهند پس فلان
شخص راطلبیده رجستری نکاح کنند وباضابطه رسید وغیره کیرند که اکر نوبت بخصومت
رسد یا واقعه پیش آید بذریعه بهی سرکاری اثباتش معتبر نباشد باقاضی معتمد مدوش
کند وهرکاه مقصود رفاه عام است، واز عدم تحدید اجرت سلوك طریق جبر وتعدی ممکن
بود لهذا فیس نکاح مقرر شده عام که رعایا آکاه شده بسهولت بانجام دهی امر قادر شوند
وتحدید فیس از روئی فقه نیز درست است چنانچه در قسمت اموال فی الهدایه ص۳۹۴ "کتاب



الکتاب القسمة وینبغی للقاضی ان ینصب قاسما برزقه من بیت المال یقسم بین الناس لغیر اجر لان
القسمة من جنس عمل القضاء من حیث یتم به قطع المنازعة فاشبه ارزاق القاضی فان لم یفعل نصب
قاسما یقسم بالاجر معناه باجر علی المتقاسمین لان النفع لهم علی الخصوص وقدر (اجر مثله کیلا یتحکم
بالزیادة الخ" پس غرضی را که مد نظر داشته احداث این عهده شده یعنی از اثر ووجاهت
خویش قضاة اجرت زائد نه کیرند بلکه ازین ممنوع اند پس قضاة زمانه بر خلاف آن روند
پس علاوه قلب موضوع وخلاف ورزي حکام مخالف روایت فقهی نیز ست پس آنان که از
فیس مقرر زائد می کیرند اکر آن رابطیب نفس اهل نکاح می دهند (واین تقریبا مفقود
است) جائز شدن میتواند اکر بغیر طیب نفس از اثر دوجاهت خودزراز اجرت مقرره زائد می
کیرند همانا که رشوت است پس اکر این عهد قضا را که حسب قانون ایجادش شده قضاة
زمانه جائزی پندارند پس آثارش که مترتب برآن ست چرا منکر اند حال یه که عهد وفیس هر
دواز قانون سرکاری مستفاد شده پس قانون در جواز این عهده موثر باشد وبرحکمش که
ثمره آنست موثر نباشد چه معنی دارد بهرحال قبول عهده قضا درست است وبر فیس معینه
کهٔ یك روپیه است زیاده کرفتن بغیر طیب نفس رشوت است.قال الله تعالی:"یاایها الذین
آمنوا لاتاکلوا اموالکم بینکم بالباطل الا ان تکون تجارة عن تراض منکم؛والله اعلم".

## تصحیح از صاحب فتوی

جواب صحیح است آری بعض اجزائی جواب قابل توضیح است:
**قوله نمبر** (۱): فی الجواب اکر بتراضی طرفین الخ فی الحال مشاهد ست که عاقد این
اجاره بقاضی ولی دختر می باشد واجرت از زوج یا ولی از بجر می دهاند.
**قوله نمبر** (۲): فی الجواب ساکنان آنجا اکر خواهند الخ فی الحال مشاهد است که اکراهل
معامله نخواهند تا هم قضاة یا نائبان ایشان برآنان جبر می کنند ودرج رجستر کرده بزور
اجرت می کیرند واین حرام است همچنین اکر دیکری نکاح خواند هم میکیرند خواه نائب
اوباشدي یا اجنبی وهمچنین از نائب خود باجود عدم عمل روپیه میکیرند محض بر بنائی
انابت واین صریح رشوت است.
**قوله نمبره** (۳): فی الجواب وعدم تحدید اجرت سلوك طریق الخ فی الحال این تحدید
موجب تعدی شده که اکر اهل معامله برآن مقدار راضی نباشند قضاة بجرمی کیرند ومثل

آن دیکر مفاسد نیز هست پس اسلم واسد للباب همین ست که از قبول این عهده منع کرده شو. ۹ذیقعده ۱۳۳۶هـ، (حوادث خامسه صـ۱۹).

### عدم جواز نذرانه در ترک کردن بیدخل کاشتکاران در صورت جواز

**سوال**: (۳۲۸) ما درې کروندګر د ځمکې نه لرې کولو دپاره مقده تیاره کړه چه باضابطه لرې کړا شي کنه نو په دوه درې کالو کې موروثي کیږي او چه هغه زمینداري کې څو شریکان هم دي کله چه د هغوئ نه یو کس خبر شو نو هغه ماته لس روپۍ نذرانه راکړې چه ما مه بیدخل کوه نو ما هغه لس روپۍ واخستلې او مقدمه مې پرې ونه کړه او ومې ویل چه دا به واخلم او آئنده کې به ئې پرې وکړم او یا به خپلې روپۍ واپس ورکړم او کنه نو نه؟ په دې کې زما شك دی چه جائز دی او که ناجائز؟ که جائز وي نو چه اوس بې واپس کړم؟

**جواب**: دا ناجائزې دي مګر یو تاویل باندې جائز کیدی شي هغه دا چه د هغه سره کوم اجرت د ځمکې شوی دی په هغې کې دومره زیاتوالی وکړی شي اګر که د یو کال لپاره وي. قرب ۱۳۳۷هـ، (حوادث خامسه صـ۲۳).

### ترجیح صورت ملازمت مدرسه که جزو آمدنی آ ن

### محکمه شراب ا ست برآ ن که کل آمدنی آ ن از سود ا ست

**سوال**: (۳۲۹)د سود ورکولو او اخستلو سخت ممانعت کړی شوی دی په لاندې مسئله کې مقابلة کوم صورت د روزګار په اعتبار سره اختیاریدی شي؟ ۱ـ یو کس په مدرسه کې د یو ریاست ملازم دی، د ریاست والي په بینك کې ډیرې روپۍ جمع کړي چه د دغه سود نه د مدرسې اخراجات راوځي که د بلې مدرسې نه سود راهم شي مګر مستقل آمدن د سود دی؟ ۲ـ یوه بله مدرسه د بل ریاست ده په کوم کې چه کوم خاص آمدن نه دی وقف کړی شوی او تنخواه د ریاست د سرکاري خزانې نه ورکول کیږي په کوم کې چه د محکمه شراب آمدن هم شامل دی لیکن اثر الذکر د ریاست د سکې تبادله د انګریزي سکې سره ضرور کیږي او هغه د خپلې تنخواه نه لږه حصه کټ کړي کوم چه د ریاست والا د پنشن په وخت د څه زیاتوالي سره واپس کړي د کوم په نسبت چه دا تصریح نشته دی چه هغه په بینك کې جمع کیږی او که تجارت کې لګول کیږي د مجبورئ د وجې او بې روزګارئ نه په دې صورتونو د اختیارولو قابل دی؟



**جواب**: دویم. ۲۸ شعبان ۱۳۳۷ هـ، (حوادث خامسه صـ۲۷).

### تحقیق استحقاق اجرت وقت غیر حاضری یا کمی طلبه

**سوال**: (۳۳۰) مدرس مدرسې ته راغلو او طالبان مریضان دي یا د سبق د کموالي د وجې نه ټول مشغول نه دي نو په دې صورت کې به د ټولې تنخواه مستحق وي او که نه؟

**جواب**: دا اجیر خاص دی. تسلیم نفس سره به د اجرت مستحق شي نو که په دغه وخت کې حاضر وو نو مستحق دی او که نه وو نو نه دی. ۱۵ شعبان ۱۳۲۱هـ، (حوادث صـ۹۱ وامداد جـ۳ صـ۵۴).

### تحقیق استحقاق تنخواه سعی چنده در حالت عدم سعی

**سوال**: (۳۳۱) مهتمم یو ساعی د چندې لپاره مقرر کړو او هغه له ئې تنخواه مقرر کړه او د هغه سعی سره چنده مقرره شوه اوس هغه شان سعی چه مخکې به ئې کوله اوس نه کوي بلکه د محرر وغیره نګراني کوي او څه وخت چه نګراني کوي د هغه وخت د تعلمي وغیره تنخواه هغه اخلي نو په دې صورت کې هغه د چندې د سعی د تنخواه مستحق کیدی شي او که نه؟

**جواب**: کله چه عمل نشته نو د اجرت حق هم نه لري لکه څنګه چه ظاهر دي. ۱۵ شعبان ۱۳۲۱هـ، (حوادث اول صـ۹۲، وامداد جلد ۳ جـ۵۵صـ).

### جواز اخذا اجرت اراضی زائد از تعیین سرکاری

**سوال**: (۳۳۲)د کروندګر نه د حکومت مقرر کړې روپو نه زیاتې وصولول جائز دي او که نه؟

**جواب**: د دې سوال په معنی چه زه څومره پوهه شوی یم هغه دا ده یعنې زمیندار ته حکومت دا قانون ورکړی چه ته د دې اندازې نه زیاتې روپۍ نه شې اخستلی که همدا مطلب وي نو جواب دا دی چه کله مالك وي نو غیر مالك اجرت نه شي معلومولی نو ځکه دا حکم شرعاً غیر معتبر دی او زمیندار ته بې شکه دا حق حاصل دی چه کروندګر مجبور کړي چه دومره به راکوي کنه نو اجازت د کر نه ورکوم که د دې نه وروستو ئې هغه زیات کړي نو د زمیندار لپاره حلال او پاك دي او که زیات ئې نه کړي نو د داسې ځمکې په کرلو به هغه ګناهګار وي او که د سوال بل څه مطلب وي نو د هغې توضیح نه بعد جواب ممکن دی. ۲۴ جمادی الاولی ۱۳۲۲هـ، (امدد جلد سوم صـ۵۷).

## د دلال د بعضې احکامو تحقیق

**سوال**: (۳۳۳) (۱) دلال اجیر مشترك دی او که خاص؟(۲) په بیع وشراء کې د دلالۍ کوم اجرت جائز دی؟(۳) د تیل، چیني او کپړې تجارت مال آړهت والاته لیږي د آړهت والا مال په حفاظت سره خپل ذکان کې ږدي کله چه خریدار راشي نو د آړهت چه به ۲ یا ۱ في صدي مقرروي هغه ترې اخلي آیا داسې اجرت صحیح کیدی شي او که نه؟(۴) د کپړې آړهتیانو ته فرمایشي لیکل او لیږل کیږي د آړهت والا د فرمائش مطابق کپړه اخلي او رالیږي ئې او د آړهت کوم حق چه ۲ في صدي مقرر دی اخلي آیا دا صحیح دي؟(۵) په بعضې ځایونو کې د دلالانو دلالي في روپیه یوه پیسه مقرره وي یعنې د څو روپو کپړه چې وي خرڅه دې کړي او في روپۍ یوه پیسه دلالي اخلي داسې دلالي جائزه ده او که نه؟(۶) د چیني دلالي په هر ګاړي کې ۲ دلالي مومي دا درسته ده او که نه؟(۷) بعضې ځایونو کې دا رسم دی چه د هغه ځاي قوّم اتفاق کوي او بعضې کسان دلالان مقرروي د هغوئ په ذهن کې هغه خاندان دلال متصور کیږي او څومره اولاد چه د هغه په خاندان کې وي دلال ورته ویل کیږي او د دلالۍ حق لري ایا دلالي داسې څیز دی په هغې کې توریث جاري کیدی شي؟(۸) د نکاح په دلالۍ کې بعضې خلك بصرت اخلي او ورکوي دا صحیح دي او که نه؟

**جواب**: (۱) اجیر مشترك دی.(۲) په دې پوهه نه شوم. (۳) "في شرح الطريقة المحمدية للخادمي الجزء الرابع منه عن لب الاحياء واما اعانته على عمل معين الى قوله اومباحا فيه تعب بحيث يجوز الاستيجار عليه حل اخذه وهو جعل اه وفي رد المحتار عن جامع الفصولين للقاضي ان يأخذ ما يجوز لغيره الى قوله جواز اخذ الاجرة الزايدة وان كان الحمل شقة قليلة ونظرهم لمنفعة المكتوب له اه قلت ولا يخرج ذلك عن اجرة مثله فان من تفرغ لهذا العمل كثقاب اللآلي مثلا لا يأخذ الاجر على قدر مشقة فانه لا يقوم بمومنة ولو الزمناه ذلك لزم ضياع هذه الصنعة فكان ذلك اجر مثله اه جلد خامس ص۸۶".د دې روایت نه معلومه شوه چه په آړهت کي تکلیف او عمل موجود دی نو ځکه اجرت صحیح دی.(۴) لکه څنګه چه په بره صورت کې بیعه کې مشقت وو په دې صورت کې په اخستلو کې مشقت دی لهذا په دې کې هم اجرت درست دی.(۵) کله چه د دغه اجرت جواز ثابت شو او د دې د شرائطو نه د اجر تعین دی او د تعین دا هم یو صورت دی نو ځکه جائز معلومیږي.(۶) په دې کې هم د ۴ نمبر په شان تعین دی لهذا صحیح معلومیږي.(۷) دلالي عقد اجاره ده او اجاره محل توریث نه دی نو فقهاو تصریح کړې ده چه که موجر یا مستاجر مړ شي نو اجاره فسخه کیږي د هغه ته قائم مقام نه وي البته که په خپله خوشحالۍ سره د هغه د اولاد سره معامله وساتي دا



جدا خبره ده لیکن جبر نه شي کیدی نه د موجر د طرف نه او نه د مستاجر د طرف نه. (۸) "في شرح الطريقة المحمدية بعد العبارة المذكورة في نمبر۲ ما نصه اولا تعب فيه ككلمة اوفعلة من ذي الجاه حرم اخذه اذ لم يثبت في الشرع تعويض عن الجاه".د دې نه معلومه شوه چه چیرته اجرت د جاه په مقابل کې وي هغه حرام دی او په نکاح کې یقینا د ساعي د خبرې قبلول موقوف دي که د هغه په جاه باندې بل کوم غیر ذي جاه (مخور) د دې نه زیات کوشش وکړي او کامیاب په کې نه شو نو هغه ته به بالکل همدومره عوض نه ورکول کیږي او په شریعت کې مخورتوب کوم د اجارې قابل څیز نه دی‌نو ځکه دلالي حرامه ده. ۱۶ شعبان ۱۳۲۲ه.

## سوالات متعلقه سوالات بالا

ما په شعبان کې څو سوالونه رالیږلي وو د هغې جواب راغلو مګر شکونه ختم نه شول، د دلالۍ په باره کې دلته مختلفې رائې دي، د کتابونو عبارتونه نور شکونه هم پیدا کیږي د دې وجې نه د کتابونو عبارت نقل کول او بالتفصیل خپل شکوك عرض کوم امید دی چه شافي جواب راکړی شي:

(د دویم سوال توضیح) چونکه نقل شوي عبارات منقوله نمبر ۱، ۲، ۵، ۶ نه صفا ثابتیږي چه د وخت متعین کولو نه بغیر زمونږ په مذهب کې دلالي صحیح نه ده او کله چه وخت تعین شي نو دلال اجیر مشترك نه شي کیدی بلکه هغه اجیر خاص دی د دې وجې نه زما شك پیدا کیږي چه کله دلال اجیر مشترك دی نو په بیع وشراء کې د هغه کوم قسم دلالي جائزه ده.

(د دریم سوال توضیح) آړهت دار اګرچه مال خپل کور کې ږدي مګر د هغه لپاره کوم وخت متعین نه دی بلکه مجهول دی که دوه میاشتو پورې مال خرڅ نه شي نو بیا هم د آړهت حق اخلي او که یو ورځ کې خرڅ شي او که وویل شي چه هغه د ځاي اجرت نه دی بلکه دلالي نو دلالي د دې قسم په حنفي مذهب باندې صحیح کیږي لکه څنګه چه د منقوله عبارت نه واضحه دي د دې وجې نه تامل کیږي چه دآړهت قسم ته جائز وویلی شي او که نه.

(توضیح نمبر ۴، ۵، ۶) چونکه په دې صورت کې د وخت تعین نشته دی نو د امام په مذهب کې صحیح کیدل نه دي پکار نو عبارات منقوله شاهد دي.

## عبارات کتب معتبره

(۱) فتاوی قاضي خان جـ۳ صـ۵۳، کې دي:"رجل امر سمسار اليشتری له الكرابيس اودلالا ليبيع له هذه الاثواب بدرهم لا يجوز هذه الاجارة لان البيع لا يتم بالدلال وانما يتم به وبالمشتری ولا يدری متی يجی المشتری فان ذكر لذلك وقتا ان ذكر الوقت اولا ثم الاجرة بان قال استاجرتك اليوم بدرهم اليوم على ان تبيع لی كذا اجازوان ذكر الاجرة اولا ثم الوقت بان قال استاجرتك اليوم بدرهم اليوم على ان تبيع لی كذا اوتشتری لا يجوز وهذه ومسيلة تذرية الكدس سواء واذا افسدت الاجارة والعمل واتم العمل كان له اجر مثله علآ ما هو العرف فی اهل ذلك العمل وذكر محمد الحيلة فی استيجار السمسار وقال يامره ان يشتری شيئاً معلوما او يبيع ولا يذكر له اجرا ثم يواسيه بشی اما هبة او جزاء عمله فيجوز ذلك لمساس الحاجة كما جاز دخول الحمام باجرة غير مقدرة ثم يعطی الاجر عند الخروج فكذا الرجل شرب الماء من السقاء ثم يعطی له فلسا اوشيئا وكذا الختان والحجام واذا اخذ السمسار اجر مثله هل يطيب له ذلك اختلفوا فيه قال الشيخ الامام المعروف بخواهر زاده يطيب له ذلك وهكذا عن غيره واليه اشار محمد فی الكتاب وهو نظير ما لو اشتری شيئا شراء فاسدا فهلك المبيع عنده واخذ البايع قيمته طابت القيمة للبايع وقال بعضهم لا يطيب للدلال والسمسار اجر مثله لانه مال استفاده بعقد فاسد هذا اذا امر السمسار بالبيع والدلال بالشراء ولم يذكر له وقتا اما اذا ذكره له وقتا بان قال استاجرتك اليوم بدرهم على ان تبيع لی هذا الاثواب اوتشتری لی كذا حتی جازت الاجارة كان له المسمی فيطيب له عند الكل اه.

(۲) او فتاوی عالمكيري جلد ۴ صـ۶۲۲ کې دي:"اذا استاجر رجلا يبيع له بكذا اويشتری له بكذا فهی فاسدة فان باع وقبض الثمن فهو امانة كذا فی الغياثية وان ذكر لذلك وقتا فان ذكر الوقت اولا ثم الاجر بان قال له استاجرتك اليوم بدرهم على ان تبيع لی وتشتری لا يجوز الخ الی ان قال هكذا فی فتاوی قاضی خان".

(۳) رد المحتار جلد ۵ صـ۲۹ کې دي:"قال فی البزازية اجارة السمسار والمنادی والحمامی والصكاك وما لا يقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به الحاجة ويطيب الاجر الماخوذ لو قدر اجر المثل اه ايضا فيه صـ۳".

(۴) قال فی التتارخانية وفی الدلال والسمسار يجب اجر المثل وما تواضعوا عليه ان فی كل عشرة دنانير كذا فذاك حرام عليهم وفی الحاوی سيل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال ارجوا ان لا باس به وان كان فی الاصل فاسد الكثرة التعامل وكثير من هذا غير جايز فجوزوه لحاجة الناس اليه كدخول الحمام اه".

بخاري شريف جزو ۹ کې دي؛"باب اجرة السمسرة ولم يرا ابن سيرين وعطاء وابراهيم والحسن باجر السمسار باسا" فتح الباري جزو تاسع صـ۴۱۴ کې دي،"كان المصنف اشار الی الرد على من كرهها وقد نقله ابن المنذر عن الكوفيين وايضا فيه صـ۴۱۵".

(۵) ثم اورد المصنف حديث ابن عباس الماضی فی البيوع والمراد منه قوله فی تفسير المنع لبيع الحاضر للبادی ان لا يكون له سمسارا فان مفهومه انه يجوز ان يكون سمسارا فی بيع الحاضر للحاضر ولكن شرط الجمهور ان [illegible] الاجرة معلومة وعن ابی حنيفة ان دفع له الف على ان يشتری بها بزا باجرة عشرة فهو فاسد فان اشتری



فله اجرة المثل ولا يجوز ما سمی من الاجرة وعن ابی ثور اذا جعل له فی كل الف شيئا معلوما لم يجز لان ذلك غير معلوم فان عمل فله اجر مثله وحجة من منع انها اجارة فی امر لابد غير معلوم وحجة من اجازة انه اذا عين له الاجرة كفی ويكون من باب الجعالة والله اعلم اه". او په عمدة القاري شرح بخاري جـ۵ صـ۶۴۵ کې دي:

(۶) وهذا الباب فيه اختلاف العلماء فقال مالك يجوز ان يستاجره على بيع سلعة اذا بين لذلك قال وكذلك اذا قاله له بع هذا الثواب ولك درهم انه جايز وان لم يوقت له ثمنا وكذلك ان جعل له فی كل ماية دينار شيئا وهو جعل وقال احمد لا باس ان يعطيه من الالف شيئا معلوما وذكر ابن المنذر عن حماد والثوری انهما كرهما اجره وقال ابو حنيفة ان دفع له الف درهم يشتری بها بزا عشر دراهم فهو فاسد وكذلك لو قال اشتر ما ته ثوب فهو فاسد فان اشتری فله اجر مثله ولا يجاوز ما سمی من الاجر وقال ابو ثور اذا جعل له فی كل الف شيئا معلوما لم يجز لان ذلك غير معلوم فان عمل ذلك فله اجره وان اكتراه شهرا على ان يشتری له ويبيع فذلك جايز". او د دلالۍ مسئلې په باره کې يوه شبهه دا هم پيدا کيږي چه کله هغه اجاره فاسده شوه نو اجرت مثل به ورته ملاويږي، او اجرت مثل موازنه او تخيمنه هغه وخت کيدی شي چه د کوم فرد هغه جائز ثابت وي، مګر د کتابونو د عبارت نه نه ثابتيږي چه د بيع وشراء کې دې د يو هم دلالي جائز وي؟

## الجوابات

(د دويم سوال د جواب توضيح): فی الواقع د دي عباراتو همدا تقاضا ده ليکن د عام حاجت د وجې نه بزازيه درج شوی نمبر ۳ او د حاوي روايت ۴ باندې فتوا ورکول ارفق بالناس دي، "هذا ما رايت والله اعلم داري".

(د دريم سوال د جواب توضيح): د ۳ نمبر جواب تصريح دا ده په کوم کې چه دا د آړهت والا دلال دی. "وقد علم حكمه آنفاً".

(د ۴؛۵؛۶ سوال د جواب توضيح): دا هم په بره تحقيق باندې متفرع او مبني دی، "فحكمه حكمه والله اعلم". او آخره شبهه به د جواز ثابتيدو سره پخپله دفع شي، والله اعلم وعلمه اتم واحكم. ذيقعدة ۱۳۲۲هـ، (امداد جـ۳ صـ۵۷).

### اجرت بر سماع قرآن بغرض فتح

**سوال**: (۳۳٤) د قرآن اوريدو اجرت او د قرآن ويلو په اجرت کې څه فرق دی چه دويم حرام دی او اول حلال؟

جواب: د قرآن اوریدو کې غرض دا دی چه چیرته ترې هیر شي هلته به ئې وروښائي نو دا تعلیم دی او په تعلیم د اجرت ورکولو جواز باندې فتوا ده د قراءت په خلاف چه په دې کې تعلیم مقصود نه دی نو ځکه کلیه حرمت اجر علی الطاعت کې داخل دی، فقط والله اعلم
۱۱ رمضان ۱۳۲۲ھ (امداد جلد ۳ ص۶۱)

## حکم حیله واجرت بر تعلیم قرآن یا تبلیغ احکام

سوال: (۳۳۵) کوم کس چه قرآن باندې د اجرت اخستلو قائل نه وي او چا له تنخواه ورکولو باندې د قران ویل ناجائز ګڼي که هغه د دغه ماشومانو د سرپرستانو نه چا ته چه قران شریف وائي په مخصوصو وختونو کې یعنې د زکات او صدقاتو په وخت څه روپئ اخلي او هغه معلم د دې روپو اخستلو والا نه ځان زیات مستحق ګڼي او د دغه ماشومانو د سرپرستانو هم همدغه خیال دی نو که هغه له دومره روپئ ورکړی شي څومره چه نورو له ورکړی شوي وي نو د هغوئ د خفګان باعث به نه وي بلکه اخستل او نه اخستل یو شان ګڼي زمونږ په زمانه کې لکه څنګه چه مرض خور شوی دی چه مریدان څه کوي او په کوم خاص وخت کې یا بل څه وخت چه هم مریدانو ته وررسیږي نو هغوئ ته څه روپئ ملاویږي که روپئ ملاو نه شي نو اګرچه په خوله څه وائي مګر په زړه کې خفه ضرور وي د داسي روپو اخستل او ورکول څنګه دي او که داسي خبره نه وي او ورکول او نه ورکول مساوي ګڼل کیږي نو څنګه ده؟ حاصل د کلام دا چه که مذکور تعلیم عبادت وګڼل شي په دې تقدیر د ماشومانو ورثه و ته د خاطر دارئ وجې سره څه ورکول جائز دي او که نه؟ اګر که دا مزدوري ونه ګڼل شي او د مرشدانو او پیرانو حال څه دی په دې صورت کې چه هغوئ هم د خاطر دارئ وجې سره د تلقین او تذکیر روپئ ورکړی شي نو د عبادت د وجې نه دا روپئ هغوئ له اخستل جائز دي او که نه؟ او د مریدانو ورکول په دې ټولو صورتونو کې جائز دي او که نه؟

جواب: که داسي اخستل او ورکول عام عرف سره متعارف شي چه اخستل او ورکول ضروري وګڼل شي نو بیا خو د قاعده المعروف کالمشروط په بنا دا صریح عوض او اجر دی او که د مرستې لپاره ناجائز اتفاقا او د معلم لپاره مختلف فیه وي مګر د ورکونکي زکات به نه ادا کیږي او که د معروف درجې ته نه وي رسیدلی نو د نه ورکولو د وجې نه په زړه کې خفګان او شکایت راتلل د نیت د فساد او حرص او قصد عوض دلیل دی، او د حرص په ظلمت او وبال کې به اختر وي لقوله علیه السلام "انما الاعمال بالنیات" لیکن زکات به ادا شي پاتې شو د



دې روپو حلال او غیر حلال کیدل نو که ورکونکی ئې پخپله رضا ورکوي نو بیا خو حلال دی، مګر که په تنګئ سره ئې ورکوي نو حلال نه دی لقوله "لا یحل مال امرء مسلم الا بطیب نفسه" البته که صرف د محبت د وجې نه ئې ورکوي اګر که د مرشد او معلم کیدو دوجې نه ئې ورسره محبت وي نو دا مسنونه هدیه ده لکه څنګه به چه صحابه کرامو د نبي ﷺ په خدمت کې پیشي کوله او ظاهره ده چه دغه محبت د نبوت د وجې نه وو مګر دې به د احکامو د تبلیغ عوض نه ویل کیږي او دا ټول کارونه ډیر ظاهر دي. ۱۶ رمضان ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳ ص۶۱)

## شیر گرفتن از کاشتکار در ابواب زمینداری

سوال: (۳۳۶) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زید د بکر ملازم باختیار مختار عام دی او بکر د طرف نه د هغه د کلي د زمینداری روپو حاصلولو له ځي. دوه درې یا څلور ورځې هلته تیروي او تحصیل کوي او د خوراکي څیزونو انتظام خو پخپله کوي لیکن شیدې او ماسته د کروندګرو د کور نه نمبر په نمبر راغواړي بعضې ئې په خوشحالئ او بعضې ئې په نارضاوالي سره ورکوي لیکن جبر او تعدي په هغه هم نه کیږي په کلي کې خرڅیږي نه نو زمیندار د ضرورت په اندازه شیدې او ماسته بغیر د قیمت نه د ضرورت په اندازه اخلي د کروندګرو نه په کلي کې د اوسیدو او خاورو خرولو هیڅ معاوضه نه اخستل کیږي دا دې هم لحاظ وکړی شي چه د زید روزمره خوراك هم د بکر په ذمه دی، په سفر او حضر کې په هغه باندې خوراك ورکول دي نو په دې صورت کې دا شیدې او ماسته د هغه لپاره حلالې دي او که نه؟

جواب: قاعده کلیه دا ده چه د حقوق واجبه نه علاوه کوم آمدن چه د حکومت په واسطې سره وي هغه د رشوت په اقسامو کې یو قسم دی او د زمیندار او کروندګر علاقه شرعا د حاکم او محکوم نه ده بلکه د موجه او مستاجر ده نو هر هغه څه چه د کروندګر نه اخستل کیږي هغه د اوسیدو یا زرعي صحرائي ځمکې معاوضې یعنې د اجرت یوه حصه ګرځولی شو البته د اجرت د شرائطو نه د اجرت معین او معلومیدل هم دي نو په تپوس شوي صورت کې د قاعدې المعروف کالمشروط په بنا دا د ځمکې په اجرت کې داخل دي نو ځکه په اصل کې جائز ندي لیکن شرعا په دې صورت کې دومره فساد دی چه مقدار ئې معین نه دی نو د دې اصلاح داسې واجب ده چه د اجارې یا معاهدې اضافه کولو په وخت هر کروندګر ته تصریحا داسې وائي چه ته مونږ له په کال کې یا ۶ میاشتو کې دومره شیدې راکوه بیا دې د هغې حساب په ذهن کې ساتي یا دې لیکي چه د فلاني فلاني کروندګر نه دومره راغلل چه

د دې نه زيات رانشي که کم راشي نو څه خبره نشته دی، په داسې مقررولو کې که چيرته د خفګان سره هم وصول کړي نو حلال به وي او که داسې ئې مقرر نه کړل نو د فاسدې اجارې د وجې نه د هغې اخستل او خوړل درست نه دي که پخپله ذمه ئې خوري او که د خپل آقا په ذمه که لږه توجه وکړی شي نو د جواز شرط اهتمام څه سخت نه دی، فقط. ۱۶ ربيع الاول ۱۳۲۳ھ، (امداد ج۳ ص۶۲).

# الصراح فی اجره الانكاح

## رساله در تحقيق حكم اجرت نكاح خواني

بعد الحمد والصلوة والسلام لله تعالى وعلى رسوله وآله واصحابه الكرام.

د ډيرو ورځو نه مې په ذهن کې دا خيال وو چه د دې نکاح خواني د اجرت په باره کې څه تحقيق وکړی شي ليکن اتفاق سره نن صبا د دې يوه استفتار راغله چونکه جواب ئې لږ مفصل ليکلی شوي دي د کوم د وجې نه چه دوي وړې رسالې برابر شو نو ځکه مې ورله نوم مضمون الحق الصراح فی اجرة النکاح کيښودو او داراته مناسبه معلومه شوه د استفتاء وجه دا وه چه احقر يوځاي کې حافظ صاحب د نيابت نه منع کړی وو نو ځکه د منيب ځوي خپل والد ماجد ته چه د هغوئ قيام په بل ځاي کې دی د حکم شرع اطلاع ورکولو په باره کې تحقيق کولو وويل، فبارك الله تعالى فهيم العبد، محمد اشرف علي عفي عنه.

**سوال** :(۳۳۷) حضور اقدس جناب مولوي صاحب مدظله العالئ السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! حافظ صاحب د نکاح رجسټري ويلو سره واپس کړي دي چه مولوي صاحب فرمائي چه اول خو دا آمدن ناجائز دی او که طوعا وکرها جائز هم شي نو داسې ناجائزه کيږي چه د دې نه ته څه حصه قاضي صاحب ته ورکوې کوم چه رشوت مقدمه ده رشوت جريه خو جائز دی مګر دا رشوت طبعي دی بغير د څه دباو نه صرف د استفاع لپاره ناجائزه ده. والد صاحب دلته نشته چه دا کار ئې پخپله کولو يا ئې بل انتظام کړی وی لهذا غرض دا دی چه د هغوئ په خدمت کې د عريضې په ذريعې سره ټول احکام د جواز او عدم جواز ذکر کړم ترڅو انتظام کې سهولت وي کنه نو الله ﷻ پوهيږي چه څه انتظام وشو په ناحقه کې ګناه کې رانشو؟نو ګزارش دی چه جناب مو د ضروري احکامو نه خبر کړي او د دې نه دې هم خبر راکړي چه ايا د تنخواه دار په طور سره که د کوم کس نه دا کار واخستلی شي نو جائزه ده او



که نه؟اطلاعا دا هم ګزارش دی چه خلك د نکاح خوان حق صرف څلور آنې خيال کوي باقي يوه روپۍ د قاضي صاحب په نوم وي کوم ته چه عطيه يا نذرانه چه څه هم وي ويل پکار دي او اکثرداسې شوي هم دي چه د قاضي صاحب د نوم روپۍ هغوئ نکاح خوان ته نه دي ورکړي پخپله راغلي او هغه له ئې ورکړي دي مکرره دا ده چه که حافظ صاحب دا کار ونه کړي نو د نورو خلکو نه دا اميد نشته چه هغوئ به دمسائلو تحقيق وکړي نو ډير نکاح ګانې به د شريعت خلاف وي؟

**جواب**: د دې مجمل جواب خو دا دی چه مولانا محمد اسحاق دهلوي رحمه الله په مسائل اربعين کې د همداسې يو سوال په جواب کې د خزانة الروايات نه استدلال کولو سره د دې د ناجائز کيدو فتوی ورکړې ده چنانچه هغه سوال د روايت سره نقليږي.

(سوال) مسئله بعد نکاح بقاضی ووکيل وشاهدان که از طرف عروس می آيند بخوشی خود بدون مطالبه شان چيزی دادن جائز است يا نه؟

**جواب**:دادن اين مرد مان بدون مطالبه وجبر از طرف ايشان مباح است واګر جبر کنند خواه مخواه بکد واصرار طلب نمايند وبګيرند، پس مباح نيست چنانچه درکتاب خزانة الروايات مرقوم است، "ومما سنه القضاة فی دار الاسلام ظلم صريح وهوان ياخذوا من الانکحة شيئا ثم يجيزوا اولياء الزوج والزوجة بالمناکحة فانهم مالم يرضوا بشی من اولياءهما لم يجيزوبذلك فانه حرام للقاضآ والمناکح انتهآ الجواب المذکور قلت فکما ان الاجازة غير متقومة لا يحل العوض عنها کذلك الجاه والعقود الفاسده التی هی المنشاء فی الاکثر لهذا الاخذ کما سياتی غير متقومة لايحل العوض عنها".

اومفصل جواب دادې چه کوم څيزچاته ورکولې شی دهغې دوه حالتونه دی يائې په عوض سره ورکوی يا بې عوضه، اوکوم چه عوض سره ورکولې شی هغه هم د دوه حالتونو نه خالی نه دی. ياخودداسې څيزعوض دې کوم چه شرعاً متقوم اوقابل دعوض دې اويا دداسې څيز عوض دې چه هغه شرعاً متقوم اوقابل دعوض نه دې. که هغه حقيقتاً وی لکه څنګه چه په عقودباطله کښې کيږی. يا حکماً وی لکه چه په عقود فاسده کښې کيږی. اوکوم چه بې عوضه ورکولې شی هغه هم ددوه حالتونونه خالی نه دی ياخوبه خاص په خوشحالئ او آزادئ سره ورکولې شی يا په ناخوښئ اود زړه په خفګان سره ورکولې شی اګرچه دغه ناخوښی او خفګان زيات وی اوکه کم وی. دا ټول څلور قسمونه شول.

**رومبی قسم:** کوم چه د متقوم څیزپه عوض کښې حاصل شی. **دویم قسم:** کوم چه د غیرمتقوم څیز په عوض کښې حاصل شی. **دریم قسم:** کوم چه بغیر عوض دزړه په خوشحالئ سره ملاؤ شی. **څلورم قسم:** کوم چه بغیرعوض په ناخوښئ سره حاصل شی. **رومبی قسم** د اجرت یا ثمن کیدوپه وجه او **دریم قسم** د هدیه او عطیه کیدوپه وجه حلال دې او **دویم قسم** د رشوت یا حقیقی یاحکمی ربوا کیدوپه وجه، او **څلورم قسم** دظلم یا جبر فی التبرع کیدوپه وجه حرام دې. اوس کتل پکاردی چه د نکاح خوانئ آمدنی په کوم قسم کښې داخل ده. چه دهغې هم هغسې حکم وی ځکه چه څوك پخپله نکاح وئیلو له لاړنه شی. هلته خو ددې احتمال هم نشته. البته د نکاح خوان په اعتبارسره ظاهراً ددې شبه کیدې شی چه دا دنکاح خوان ددې عمل اجرت دې خود غور کولونه پس دا احتمال صحیح نه پاتې کیږی. ځکه چه د اجارې دصحت دپاره شرعاً څه امورلازم دی. هغه داچه کاراخستونکی ته پوره اختیاروی چه دچانه غواړی کارواخلی. اوکار کونکی ته پوره اختیاروی چه کارکوی اوکه نه کوی. اودغسې د اجرت مقدار مقررولوکښې کاراخستونکی ته پوره اختیاروی. چه څومره غواړی کم اووائی. اوپه زیات باندې راضی نه وی اوکارکونکی ته هم پوره اختیاروی چه څومره غواړی زیات اوغواړی. په دې امورو کښې خپلې آزادئ او اختیارسره په منتفع کیدوکښې په یوکس باندې دبل دطرفه هیڅ ملامتیا اوطعن مانع نه وی. اودا ټول امور په مذکوره مسئله کښې مفقوددی. ځکه چه اګرچه کاراخستونکی ته په دې کښې آزادی خوحاصل ده. چه په چا باندې مفت نکاح اووائی. لیکن که هغه په اجرت باندې په یونوی کس باندې نکاح اووائی مثلاً په حاضره مجمع کښې اتفاقاً یوسړی ته اووائی. چه ته اووایه. اوهغه به تاته اجرت درکړی. یاهم دغې مقررنکاح خوان ته اووائی چه ته په بل ځائې کښې دومره اخلې مونږ خوبه ددې نه نیم درکوو. اوکه نه وائې نومونږ به بل څوك راولو. یا دغسې که کارکونکې نه خوپخپله لاړشی اونه دخپل طرفه دچا دلیږلو اهتمام اوکړی. بلکه صفا جواب ورکړی چه زمونږ په ذمه هیڅ نشته. یاداسې اووائی چه اګرچه بل ځائې کښې یوه روپۍ اخلم خو ستاسو نه به لس روپۍ اخلم که غواړې بومې څه، که غواړې مه مې بوځه. نوضروربه په دې څلور واړه صورتونوکښې دیوبل دطرفه هم اود عام اوریدونکو دطرف نه سخته ملامتیا اوشی. چه



دا صاحب خود همیشه راسې دومره اخلی. اوس ئې نوې خبره اوکړه. اوټول به څه معقولی خبره کولوسره په دې قدیم رسم باندې هغه مجبوره کوی. پس هرکله چه د اجارې دصحت شرائط مفقود دی. نواجاره مشروع پاتې نه شوه. بیا دې ته داجرت وئیلوڅۀ ګنجائش پاتې نه شو. بیا غورکولوسره داهم معلومیږی چه نکاح خوان د رابلونکی اجیرنه ګڼرلې کیږی بلکه پخپله داصل قاضی په خیال کښې هم اود نورعوامو په خیال کښې هم داصل قاضی نوکر ګڼرلې کیږی. اودغه قاضی چه کله غواړی معزول کولې شی. اوپه دې صورت کښې ددې غیرمشروع کیدل نورهم زیاته ښکاره ده. ځکه چه نوکر دچا او اُجرت دچا په ذمه، دا پخپله باطل دې. اوپه شریعت کښې ددې هیڅ مثال نشته. اوکه په دریم قسم کښې داخل کړې شی. لکه څنګه چه پخپله دنکاح ویونکی په نسبت ددې ظاهراً احتمال کیدې شی. ځکه چه کوم سړې نکاح وئیلو دپاره تلې دې. هلته خو دمفت ملاویدو احتمال هم نشته. البته د غیرنکاح خوان په اعتبارسره ظاهراً دقسم اول په عکس ددې شبه کیدې شی چه داهغه ته دعطیه اوهدیه په طور ورکړې کیږی. لکه چه سوال کښې هم داخبره شته. خود غورکولونه پس احتمال هم صحیح نه پاتې کیږی. ځکه چه د هدیه د مشروعیت دپاره هم څه امورلازم دی. هغه داچه نه خو ورکونکې ددې داخستونکی اونه پخپله اخستونکې داخپل حق ګڼړی. اوورکول هم ضروری اونه ګڼرلې کیږی. اودغسې دهدیه په مقدارکښې ورکونکی ته اختیاروی چه پخپله کم ورکړی یا زیات ورکړی. غرض داچه په نه ورکولوکښې هم ملامتیا نه وی. اوپه کم ورکولو کښې هم ملامتیا نه وی. اوپه مذکوره مسئله کښې داامورهم مفقوددی. ځکه چه اګرچه بعضې خلقوته په دې کښې آزادی حاصل ده. چه بالکل ورنه کړی. ځکه چه کوم خلق ددې نه پوره خبردی. چه دده هیڅ حق نشته هغوی ئې بالکل نه ورکوی. اوهغوی ملامته کولې هم نه شی. لیکن په عواموکښې چه کوم خلق ورکوی هغوی ئې بیشکه په دې خیال ورکوی چه دده حق دې. اګرچه د پخوانه ددوی د مشرانو نه داخبره راروانه ده. اوپه دې خیال سره وی چه ده لره په دې کارباندې سرکار مقررکړې دې. که د زمیندارئ په وجه وی چه مونږ دده رعایا یو. لکه څنګه چه مختلفو ځایونوکښې مختلف عادات اوخیالات دی. غرض ورکونکې هم حق ګڼړی او اخستونکې هم. بعضې خوهسې هم حق ګڼړی. لکه چه بعضې

خلق دا دقرض خواهانو په شان په غوښتلو غوښتلوسره لیږی. اوبعضې تدبیراتو او
تقریراتو سره ددې کوشش کوی چه په عواموکښې داخیالات موجوددی چه داددوی حق
دې تردې چه دویم دده په شان داکار کول شروع کړی. نوهم په هغې پسې لګی. چه دا
زمونږپه کارکښې خلل اچوی. دغسې که څوك د روپئ په ځائې آنه یا دوه آنې ورکول
غواړی نوپخپله اخستونکې هم اونورخلق هم ددې مقرر طریقې خلاف ګڼړلوسره ملامته
کوی. هرکله چه د مشروع هدیه شرائط پکښې مفقود شو. بیا دهدیه ورکولو ګنجائش
چرته پاتې شو. هرکله چه ددې آمدنئ په قسم اول اودریم کښې نه داخلیدل ثابت شو. پس
لامحاله به قسم دویم اوڅلورم کښې داخل وی. چه ددې وجه دمنفیین د دواړوقسمونو د
نفی دتقریرنه پخپله ظاهره شوې ده. اود دوباره تنبیه کولودپاره ددې خلاصه بیا عرض
کوم. چه دنکاح وئیلونه بغیر لکه څنګه چه اکثر منیبینوته ملاویږی. یا خود هغوی د
قدامت او زمینداریئ په عوض کښې ملاویږی. اودا ټول غیرمتقوم دی بیاخوبه دا ورکول
رشوت وی اویا درسم د پابندئ په وجه دحق ګڼړلوپه وجه دی. نودا به جبرفی التبرع وی.
او نکاح وئیلوسره ورکول لکه چه اکثر نائب ته یا منیب ته ملاویږی داپه اجاره فاسده
باندې مبنی ده. اوخصوصاً کله چه نائب دقاضی نوکر اوګڼړلې شی. نودا آمدنی د اجاره
غیرمشروع به حکماً ربوا وی. کله چه داپه قسم دویم یا څلورم کښې داخلیدل ثابت شو
نوددې دواړو قسمونوچه کوم حکم وو یعنی عدم جواز، هغه هم ثابت شو. اودا تقریر خو
ددې عمل دنفس حقیقت په اعتبارسره وی. اوکه دې سره یو خارجی امرهم اوکتلې شی.
چه داپه واقع کیدوکښې دې سره یوځائې دی. هغه داچه اکثر ځایونوکښې عادت دې چه
د نکاح خوانئ دپاره رابلونکې خود وادۀ جینئ وی. اود نکاح خوانی ورکولې شه د وادۀ
په زلمی باندې، اودا درسم د پابندئ په وجه خامخا ورکوی. چه دا شرعاً خالص ناجائز
دی. چه د وجوب شرعی نه بغیر دچا نه څه رقم ضروری اولازمی ګڼړلوسره وصول کړې
شی نوددې عارض په وجه ددې عدم جواز نورهم مؤکد کیږی. غرض داچه په اعتبار
دنفس عمل سره هم اوپه اعتبار ددې عارض سره هم دا رقم ناجائزشو. اوټول بحث پخپله
د اخستونکی په اعتبارسره دې. اوبل ته ورکول لکه څنګه چه دنائب په ذمه ګڼړلې شی.
چه هغه یوه لویه حصه ددې رقم خپل نائب ته ورکړی. نودا ورکول خاص په دې وجه



باندې وی چه ده ماته ددې کار دپاره اجازت راکړې دې. اوظاهره ده چه دا اجازت ورکول
په شریعت کښې دغیرمتقوم امر په عوض کښې ورکول رشوت دې. او رشوت دظلم
ددفع کولونه بغیرضرورته ورکول حرام دی. پس دې ورکونکی ته یوه ګناه د رشوت
ورکولو بله زیاتی هم اوشوه. غرض داچه کوم صورتونه ددې مشهوردی. په دې کښې
چاته نه اخستل جائزدی. اونه ورکول جائزدی. اوپه دې کښې نائب اومنیب او واده والا
ټول راغلل. لکه چه مکمل وضاحت سره تفصیل تیرشو. اوس ددې مشهورصورتونونه
علاوه دوه صورتونه نورهم پاتې شول. چه په دې کښې ظاهراً احتمال معلومیږی یوداچه
داجارې په طورقاضی چالره نوکر کړی اودهغه تنخواه مقرر کړی. اودهغه نه
کارواخلی. چه دې ته په سوال کښې هم اشاره شوې ده. دویمه داچه په طوردشرکت دتقبل
دقاضی دبل سړی په خپل مینځ کې قرارداد اوشی چه دواړه دې نکاح وائی. اوکومه چه
د دواړوآمدنی وی هغه دې په دې نسبت سره خپل مینځ کښې تقسیموی. نود
غورکولونه پس په دې کښې هم جوازنه معلومیږی. مثلاً په اول صورت کښې که ده ته
اجیرخاص اووئیلې شی نوپه دې کښې نوره نوکری نه شی کولې. حالانکه په دې کښې
نائب ته ددې ممانعت نه وی. اوکه اجیرمشترك ورته اووئیلې شی. نواجیر مشترك
دهرسړی چه کوم کارغواړی کولې شی. حالانکه یقینی خبره ده چه که قاضی ته معلومه
شی چه دا نائب څه نکاح زما دطرفه وائی اوڅه دبل دطرفه، چه دا اتفاقاً دقاضی په شان
دې هم هغه کارکوی نویقیناً چه دا نائب به معزول کړی. بیا په دواړو صورتونوکښې
مشترك خبره داده چه پخپله قاضی کښې او وادۀ والوکښې خپل مینځ کښې هیڅ د
اجارې عقد نه کیږی. بیابه دې قاضی له اجرت اخستل څنګه جائز وی. اوکه اووئیلې
شی چه هم دا نائب وکالةً وادۀ والوسره عقداجاره اوکړی چه دا به دقاضی دقبول په شان
وی، ددې یوجواب خوپه دې باندې ددواړو صورتونو جداجدا خبرونه معلومه شوه، ځکه
چه دجواز اوعدم جواز مقتضیات جمع کیدوسره به دعدم جواز مقتضٰی مؤثروی. دویم
جواب روسته د شرکت تقبل په رسمونوکښې راځی. داخو داول صورت تحقیق
شو. اودویم صورت یعنی شرکت تقبل اولاً خوداسې نه واقع کیږی ځکه چه قاضی ته څه
ملاویږی دهغې نه نائب ته هیڅ نه شی ورکولې. دویمه داچه په هدایه کتاب القسمة

کښې تصریح ده چه کوم خلق د تقسیم کار په اجرت باندې کوی داسلام حاکم له پکار دی چه دوی خپل مینځ کښې شرکت ته پرې نږدی. چه د تقسیم د عمل اجرت مشکل نه شی. هم دا حال د نکاح خوانئ هم دې چه ددې ضرورت د دین د نیا دواړو په اعتبار سره هر سړی ته پیښیږی. او اکثر نکاح خوان خلق وجاهت والاوی که ټول جدا جدا وی نو هر سړې به ارزان ملاویږی. او که ټول شریك شو نو ګرانه به شی. دریمه خرابی هغه ده کومه چه د دریم قسم په نفی کښې ذکر شوې ده. چه عرفاً دا د قاضی خاص حق ګڼړلې کیږی، ظاهره ده چه د اختصاص هیڅ استحقاق نشته. او کوم سړې چه قاضی یا د قاضی نائب راغواړی. ددې استحقاق او اختصاص په وجه ئې راغواړی. نو د قاضی اجیر جوړول چه هر کله په دې بناء فاسد باندې مبنی ده. نو که هغه بالانفراد اجیروی لکه څنګه چه اوس په اول صورت کښې ذکر شو. چه په دې کښې حواله هم ددې ممنوع رسمونو ورکړې شوې ده. او که بالاشتراك اجیروی لکه چه په دې دویم صورت کښې فرض کړې شوې ده. په هر حال کښې به د بناء الفاسد علی الفاسد په وجه ناجائزوی. پس تیر شوی مشهور صورتونه او آخری مشهور صورتونه ټول ناجائز اوګرځیدل البته که د نورو په شان معمولی اجارات تعلیم داطفال او فرائض نویسی او نور صنعتونه او حرفتونه ددې هم خیال او ساتلې شی. چه دچا زړه غواړی څوك غواړی راوبلی. او دچا خصوصیت اونه ګڼړلې شی. او په کوم اجرت چه غواړی جانبین رضامند شی. نه څوك خپل ځان اصل مستحق اوګڼړی. نه د بل چا په ذهن کښې دا پیدا کړی شی. او که اتفاق سره بل څوك دا کار اوکړی د هغه نه څه خفګان اونه کړې شی. که نائب نیابت پریږدی او په خپله مستقل طور باندې داکار شروع کړی. ددې شکایت هم نه وی. او په ښار کښې چه څومره غواړی دا کار اوکړی. دا ټول آزاد اوګڼړلې شی. البته څوك چه ددې اهل نه وی هغه له به په خپله هم جائز نه وی هغه به د یو عارض په وجه بندولې شی. لکه یو امام که قرآن صحیح نه شی لوستلې د امامت نه به بندولې شی لیکن نور ډیر خلق چه ددې اهل وی هغوی به مختلف ګڼړ سړی ددې کار کولو اختیارمند ګڼړلې شی. د غسې دې نکاح سره معامله اوکړې شی او رابلونکې د خپل طرفه اجرت ورکړی، د وادهٔ د خلمی کورو الاتخصیص نه وی د غسې جائز او صحیح ده. غرض دا چه د نورو د اجرت په کارونو کښې او په دې کښې هیڅ فرق



اونه کړې شی. دا تحقیق ددې نکاح خوانئ د اجرت متعلق شو. او کوم مضمون چه آخر کښې د مکرر عنوان سره لیکلې شوې دې د هغې جواب بالکل واضح دې چه د بل کس دین جوړولو د پاره خپل دین ورانول څنګه هم صحیح کیدې نه شی. چه کله ددې بله طریقه هم ممکن وی لکه څنګه چه ما اوس عرض اوکړو چه دا پیشه عامه اوساتلې شی خو نااهل راونه غوښتلې شی. ددې کارکونکې په خپله یا د یو علم والا نه تپوس کولو سره انتظام اوکړې شی. دویمه دا چه په دې مشهور انتظام کښې هم مشاهده کولې شی چه ډیر ځایونو کښې نا اهل داکار کوی. بیا ددې انتظام پابندئ سره شرعاً کومه نفع خاص شوه. او پابندی نه کولو سره کوم خاص نقصان اوشو. بیا دا چه شرعی قاعده ده چه کله په یو امر کښې مفسده او مصلحت جمع شی مفسده به مؤثروی، مصلحت مؤثر نه وی. پس که دا مصلحت او منلې شی نو بیا هم ددې قاعدې په بناء باندې به ددې عمل اجازت نه ورکولې کیږی والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم. ۲۱ محرم ۱۳۲۴ھ (امداد جلد سوم صفحه ۶۳)

### احکام اجاره ارض برائی بنا

**سوال**: (۳۳۸) علماء دئن او مفتئان شرع متئن ابقاهم الله الی ئوم الدئن په دې مسئله کې څه فرمائي چه یو کس غورزیدلې ځمکه د یو دوه کالو لپاره په اجاره واخستله او ځکرئې پرې واچولو څو ورځې وروستو ئې څپر لرې کړو او د مالك د اجازت نه بغیر ئې خام کور جوړ کړو د کرایه والا وویل چه د خپل آرام لپاره مې جوړ کړی دی د ځمکې مالك هر کال کرایه اخستله اوس ۱۵ کاله وروستو د ځمکې مالك وائي چه زما کور د ملبې سره خالي کړه نو او هغه ملبه د مالك ده او که د کرایه دار او څه وخت چه ځمکه په کرایه ورکری شوې وه هغه وخت هیڅ مقرره وعده نه وه شوې چه مونږ به ۱۰ یا ۱۵ کاله پورې کرایه اخلو کله چه کال تیر شو نو کرایه ئې ورکړه اول چه کله ئې ځمکه واخستله نو د یو کال په وعده وه همداسې دا ټول وخت تیر شو؟

**جواب**: "فی الهدایة ویجوزان یستاجر الساحة لیبنی فیها او لیغرس فیها نخلا او شجرا ثم اذا انقضت مدة الجارة لزمه ان یقلع البناء والغرس ویسلمها فارغة الا ان یختار صاحب الارض ان یغرم له قیمة ذلك مقلوعا ویتملکه فله ذلك وهذا برضاء صاحب الغرس والشجر الا ان ینقص الارض بقلعها حینئذ یتملکها بغیر رضاه اه؛ وفیها ومن استاجر دارا کل شهر بدرهم فالعقد صحیح فی شهر واحد فاسد فی بقیة الشهور الا ان یسمی

جملة الشهور معلومة فان سكن ساعة من الشهر الثاني صح العقد فيه وليس للمواجر ان يخرجه الى ان ينقضي وكذلك كل شهر سكن في اوله اه". د دې عبارت نه څو کارونه ثابت شول.۱_ د مالك د اجازت نه بغير كور جوړول نه وو پكار.۲_ كه د جوړولو نه وروستو كه مالك اجازت نه وي وركړى نو هغه ته دا اجازت دى چه كور وران كړي.۳_ او كه د جوړولو نه بعد ئې اجازت وركړى وي نو په هغې كې دا حكم دى چه كوم وخت چه د كال كرايه ختمېږي كله چه هغه ورځ راشي نو په هغه ورځ خو د ځمكې خالي كولو اختيار لري او كه د كال په مينځ كې ئې خالي كول وغواړي نو د كرايه دار په رضا ئې خالي كولى شي كه د كال په مينځ كې د ځمكې مالك دا ووائي چه كله چه دا كال ختم شي نو نور د ځمكې په كرايه دركولو راضي نه يم. د كرايه وخت به د كال په تيريدو ختموو نو بيا هر وخت د كال نه بعد اختيار لري چه هغه لرې كړي.۴_ د ځمكې مالك له د بره تفصيل موافق كله چه هغه ته د ځمكې خالي كولو شرعاً اختيار وي كرايه دار له انكار كول جائز نه دي.۵_ كله چه د ځمكې خالي كولو وخت راشي كه دغه وخت كې كه د ځمكې او كور مالك دواړه په دې خبره رضا وي چه د ملبې كوم قيمت چه د ودريدو په حالت كې دى د ځمكې مالك دى هغه تهِ وركړي نو دا هم جائزه ده او كه دواړه اتفاق ونه كړي ـو د كور والا دې خپله ملبه لرې كړي او د ځمكې والا دې خپله ځمكه واخلي ملبه د ځمكې والا نه ده، والله اعلم بالصواب فقط. ۵ جمادى الاولى ۲۵هـ، (امداد ج۳ ص۷۰).

## استيجار بر محصل چنده بر نصف حاصل

**سوال**:(۳۳۹) كه د چندې وركونكى د مدرسې والا د چندې حاصلولو لپاره په دې شرط وساتي چه كوم آمدن چه كيږي نو د هغې څلورمه نيمه، دريمه يا پنځمه حصه به دركوو نو د اوسنۍ زمانې د ضرورت د وجې نه داسې كول مباح دي؟

**جواب**: د احنافو په نزد دا فاسده اجاره ده او د نورو مذهبونو تحقيق نشته، فقط. ۱۲ ذيقعده ۱۳۲۵هـ، (امداد ج۳ ص۷۱ وحوادث اولى ص۹۲).

## استيجار بر اخذ سمك

**سوال**:(۳۴۰) كه يو كس ته مزدوري وركړى شي چه ماهيان ونيسي نو خوړل ئې درست دي او كه نه؟



**جواب**: دا نيول شوي ماهيان به د هغه نه په زور اخستل صحيح نه وي، كه په خوشحالۍ ئې دركړي نو صحيح ده او دا اجاره باطله ده. ۱۵ ذى الحجه ۱۳۲۵هـ، (امداد جلد سوم ص۷۱).

## ايضاً

**سوال**:(۳۴۱) كه يو كس دوه يا درې كسان مقرر كړي چه د تالاب نه ماهيان ونيسئ او راوړئ مونږ به تاسو ته هغومره مزدوري دركړو صحيح ده او كه نه؟ او د ماهيانو خوړل درست دي او كه نه؟

**جواب**: اجاره باطله ده ماهي د اخستونكي ملكيت دى او كه په خوشحالۍ ئې وركړي نو جائزه ده. "والدليل عليه ما في الدر المختار استاجره ليصيد له او يحتطب له فان وقت لذلك وقتا جاز والا لا وفي رد المحتار قوله جاز لانه اجير وحد وشرطه بيان الوقت قوله والا لا اى والحطب للعامل جه ص٥؛ وفيه فلو لم يوقت وعين الحطب فسد والحطب للمستاجر وعليه اجر مثله". ۱۵ ذى الحجه ۱۳۲۵هـ، (امداد ج۳ ص۷۱).

## نوكر داشتن ماهي گير

**سوال**:(۳۴۲) د معمار وغيره په شان كه ملاح خپل جال واخلي او په معلومه مزدورۍ ئې په اوبو كې واچوي كه ماهي ملاو شي او كه نه نو دومره وخت پورې به ئې په كې اچوي جائزه ده او كه نه؟

**جواب**: جائزه ده. ۳ جمادى الاولى ۱۳۳۱هـ، (تتمه ثانيه ص۲۶).

## نوكري كردن كاسبان حرام يا چيزى فروختن بدست ايشان

**سوال**:(۳۴۳) علماء په دې باره كې څه فرمائي چه يو كس كسبي يا سود خور يا د شراب خرڅونكى نوكري وكړي او د درې واړو آمدن صرف حرام دى اوس چه هغه ته د حرام مال نه كومه تنخواه ملاو شوې ده هغه حلاله ده او كه نه؟ يا يو كس خپل غيهو يا بل څه د شراب خرڅونكي په لاس خرڅ كړل او هغه ورله قيمت د ناجائز آمدن نه وركړو نو دا اوس هغه له حلال دي او كه نه په دې مسئلې ښه تشريح وكړئ؟

**جواب**: د چا آمدن چه بالكل حرام او خالص حرام وي لكه كسبي يا شراب خرڅونكى يا سود خور د هغوئ نوكري كول جائز نه دي او كومه تنخواه چه ورته ملاويږي هغه حلاله نه ده او همداسې يو څيز ئې د هغه په لاس خرڅ كړى نو د هغه د حرام مال نه ئې قيمت اخستل حلال وي. قال الله تعالى "ولا تتبدلوا الخبيث بالطيب" نو خپل پاك مال په ګنده بانديي بدلول ناجائز

شول. "وقال رسول الله ﷺ لایحل ثمن الکلب ولا حلوان الکاهن ولا مهر البغی ص۳۰ وقال عمان الله حرم الخمر وثمنها ص۲۷ وعن ابن عباس قال رایت رسول الله ﷺ جالسا عند الرکن قال فرفع بصره الی السماء فضحک فقال لعن الله الیهود ثلاثا ان الله تعالی حرم الشحوم فباعوها واکلوا اثمانها وان الله تعالی اذا حرم علی قوم اکل شیی حرم علیه ثمنه ص۲۷ لعن رسول الله ﷺ اکل الربا وموکله ص۲۷ سنن ابی داود جلد ثانی وغیرذلک من الایات والاحادیث". او د کومو کسانو آمدن چه مشتبه او مختلط الحلال وی او حرام غالب الحلال وی مثلا دا کسان نوره حلاله پیشه هم کوي نو هغه وخت کښې نوکري او خپل څیز د هغوئ په لاس خرڅول جائز دي په دې شرط چه د حرامو روپو نه قیمت ادا کړي باقي د غالب الحلال نه ورکړي. "نهانا ﷺ عن کسب الامة الا ما عملت بیدها وقال هکذا باصابعه نحو الخبز والغزل والنقش؛ ابوداود ج۲ ص۱۳۰". وجه دا چه مشتبه نه تحرز متعذر او سخت دی پس ضرورت جائز دی. "لان الضرورات تبیح المحظورات ولا یکلف الله نفسا الا وسعها". اګرچه دا د تقوی خلاف دی چه: "دع ما یریبك ما لا یریبك وهو الموفق". ۱۳ محرم ۱۳۰۱ھ، (امداد ج۳ ص۷۶).

## اخذ اجرت از مال حرام ومس کردن زن وندان سازرا

**سوال:** (۳٤٤) یو کس غاښونه جوړوي او ځوك دپردۍ ښځه غاښونه پرې جوړول غواړي او د دغې ښځې حرامه او فحش پیشه ده غالبا اجرت به هم د دغه حرام نه راکوي نو په دغه وخت کښې د غاښ جوړولو په وجې د غیر ښځې بدن سره لاس لګول او د حرامې ګټې نه اجرت اخستل صحیح دي او که نه؟

جواب: په دې کښې دوه سوالونه دي مس کول او اجرت اخستل نو د پردۍ ښځې مس کول د ضرورت په وخت جائز کړی شوي دي لکه د مرض په وخت، نو که غاښونه د ضرورت نه بغیر کیښودل کیږي نو مس کول جائز نه دي لکه احتقان چه د ضرورت په وخت جائز کړی شوي دي او بعضې منفعت بلا ضرورت لپاره حرام "کذا فی الشامیة الجزء الخامس ص۳٦۵" او د حرام مال نه اجرت اخستل حرام دي البته که هغه قرض واخلي او ور ئې کړي او د هغه یقین راشي نو صحیح ده، والله تعالی اعلم واعلمه واتم. ۲ ذی الحجه ۱۳۲۲ ھ، (امداد ج ۲ ص۱٦۸).



## حلت یا حرمت بتنخواه مرتشی

**سوال:** (۳٤۵) علماء په دې باره کښې څه فرمائي چه زید د بکر ملازم دی او رشوت اخلي په داسې حالت کښې هغه معینه تنخواه د بکر نه حاصلوي هغه حلاله ده او که حرامه؟

**جواب:** "قال الله تعالی ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل". یعنې د خلکو مال په باطله طریقه مه خورئ، نو رشوت چونکه اخلي بالباطل دی نو ځکه حرام دی او کومه معینه تنخواه چه د نوکرئ په مقابل کښې ملاویږي که هغه نوکري د شریعت خلاف نه وي نو چونکه هغه اکل بالباطل نه دی نو حلاله ده او که د شریعت خلاف وي نو هغه نوکري حرامه ده د دې تنخواه هم حرامه ده. ۱۵ ربیع الاول ۱۳۰۱ھ، (امداد ج۳، ص۷۳).

## نوکري آبکاري

**سوال:** (۳٤٦) سرشته مسکرات مثل افیونو ته اوبه ورکول وغیره کښې د مسلمانانو نوکري کول څنګه دي او داسې ملازمت د امامت قابل دی او که نه؟

**جواب:** په داسې کارخانو کښې کار کول جائز نه دي چه دا اعانت علی المعصیت دی. "قال الله تعالی؛ ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان". "وعن انس قال لعن رسول الله ﷺ فی الخمر عشرة عاصرها وشاربها وحاملها والحمولة الیه ساقیها وبایعها واکل ثمنها والمشتری لها والمشتری له؛ رواه الترمذی وابن ماجة خیر المواعظ". او د افیونو استعمال چه په کومو صورتونو کښې ناجائز دی د هغې په اعتبار سره خو د شرابو په حکم دی. "فالمعین فی ذاك کالمعین فی هذا القوله ﷺ الا ان کل مسکر حرام وکل مفتر حرام وکل مخدر حرام رواه ابونعیم خیر المواعظ". او په کوم صورت کښې چې ئې استعمال جائز دی په هغې اعتبار سره د هغې د بیعې نه نور منع کول ظلم دی او د ظلم اعانت هم حرام دی په هر حال کښې دا د ناجائز کار معین د مدد کونکي دي او دا کسان هم فاسقان او امامت ئې مکروه دی، لما مر.

ای قدم برداشته ازراه دین — از چه شد ماکول وملبوست چنین
چند مال شبه ناك آرا بکفچند — جاکټ پوش باشي خوش علف
عاقبت ساز وترا از دین بري — این تن آرئ واین تن پروري

کتبه محمد اشرف علي عفي عنه (امداد ج۳ ص۷۳).

## حقوق زميندارې عطاء سرکار برکاشتکار

سوال :(۳۴۷)د برهما په علاقه کې هر ۵۰ کورونو باندې يو کس د حکومت د طرف نه مقرر دی کوو ته چه رُواسُوګري وائي. رُوا محله سل کسان ګري لوي يعنې د محلې لوئي کس دې خلکو ته دومره اقتدار او حکومت ورکړی شوی دی چه د مختصرو څو مقدمو فيصله وکړي صرف پنځه روپو پورې جرمانه وکړي او يو شپه او يو ورځ پورې سړی قيد کړي او د فريادي سره بعضې سياست هم وکړي او صرف يوه روپئ فيس رواسوګري د خپل ځان لپاره وصول کړي که هغه په آئنده مقدماتو کې کامياب شي او که ئې وبيلي مګر د کاميابئ په صورت کې کله چه فريادي هغه وګټي نو هغه د جرمانې يا تعزيرانو نه علاوه يوه روپئ فيس د مدعا عليه نه وصولوي او فريادي ته ئې ورکوي د يوې روپئ فيس نه علاوه د هغه د حکومت نه څه تنخواه نشته دی د دې روپئ نوم کوائمبو روپئ ده يعنې د پان خرچ روپئ يعنې پان وخوري او دا کار سرته ورسوي او دا يوه روپئ کله چه مقدمه شروع شي رواسوګريو ته به ملاويږي اګر که وروستو صلحه وشي او د سرکار نه څو رجسټري هم ورکول کيږي سرکار ته جرمانه هم ملاويږي او يوه روپئ في مقدمه رواسوګري ته ملاويږي ګويا دا د هغه تنخواه ده نو په کچهري کې په کورټ فيس ستامپ لګوي او درخواست ورکوي هغه په سرکار کې جمع کيږي د احکامو تنخواه جدا ورکوي نو دلته صرف رجسټر کې ليکل کيږي رواسوګري ټول اخلي.

سوال دا دی: (۱) دا چه يوه روپئ د فريادينه وصولول د تنخواه په طور د رواسوګري لپاره حلال دي او که نه؟

(۲) دا جرمانه او قيد درست ذی او که نه؟ په دې کې به عندالله ماخوذ وي او که نه؟

(۳) که څوك فيس واخلي او حکومت جاري وساتي نو د مواخذې نه بچ کيدی شي او که نه؟

(۴) که فيس واخلي او خپل مينځ کې صلحه وکړي د جواز ګنجائش شته او که نه؟

(۵) دا ملازمت څنګه دی؟

(۶) همداسې که د فريقينو د جګړې ختمولو لپاره يوه روپئ ظاهر او باهر کوم ثالث مقرر کړي او هغه د شريعت مطابق فيصله وکړي نو هغه روپئ اخستلی شي او که نه؟ اوس بيت الممال نشته دی د مفت کار کولو والاکم دي د دې په پرېښودلو کې بې شکه مفاسد زيات وي؟ (السائل منشی احمد ضلع اکیاب پوسټ راسیدنګ موضع چاتګانه).



جواب: دا نوکري او فيس ترکومه حده چه سوال کې ليکلی شوې دي په يو تاويل سره جائز دي په دې شرط چه دا د بلې مفسدې ذريعه جوړه نه کړی شي باقي فتوی دا ده چه ځان ترې وساتي، والله اعلم بالصواب. ۱۰ رجب المرجب ۱۳۳۱ھ، (حوادث ۱،۲۰ ص۷).

## بعض حقوق زميندارې مقرره زميندارې

سوال :(۳۴۸)بوس، لرګی، کنډې، د جوارو ګډئ، تمباکو، خربوزه، ګازرې، ساګ وغيره د ټيکس نه علاوه دلته د قوم نه اخستل کيږي؟

جواب: که دا ټول ليکلی شوي وي يا صرف په خوله معاهده کړی شوي وي نو جائزه ده په بيګار کې هم اندازه مقررول شرط دي.

سوال :(۳۴۹)کله چه په قوم کې د لور يا ځوي واده وي نو مبلغ ۴ عبه نغدې او څه وړه يا خوراك کوم چه د هغه سره وي اخستل کيږي؟

جواب: چونکه دا په بعضې ځايونو کې کيږي او بعضې ځايونو کې نه نو ځکه صحيح نه دي البته که دا معاهده وشي چه هر کال به ۲ عبه او دومره وړه اخلو او بيا داسې وکړي چه که واده وي نو هغه واخلي او که نه نو پرېږدي دا صحيح دي. (حوادث ۱،۲۰ ص۹).

ایضاً

سوال :(۳۵۰) او کله چه يوه کونډه ښځه خپله دويمه نکاح وکړي چه اصطلاح کې ورته کراو وائي نو مبلغ ۸ نغدې زميندار اخلي دې ته دستور دهي ويل کيږي؟

جواب: په دې کې هم د بره په شان تفصيل دی.

ایضاً

سوال :(۳۵۱) دلته او کومو ځايونو کې چه نيازمند اوسيږي يوه ځمکه ده چه په هغې کې هغه خشاك چه څيزونه ترې جوړيږي پيدا کيږي د دې حفاظت د زميندار د طرف نه کيږي کله چه تيار شي نو خرڅيږي؟

جواب: جائزه ده. (حوادث ۱،۲۰ ص۹).

ایضاً

سوال :(۳۵۲)دلته د دواده د تيارئ نه وړاندې د چارپايانو څرولو اجازت ورکول کيږي نو د يو څاروي په سر ۴ يا ۸ اخلي په دې کې د آبپاشي وغيره اهتمام نه وي؟

**جواب**: جائز نه دي. (حوادث ۱، ۲ ص۹).

ایضاً

**سوال** :(۳۵۳) په دې باره کې علماء څه فرمائي چه زید مثلاً د عمرو نه ځمکه اخستل غواړي او عمرو ئې په دې شرط خرڅول غواړي چه في بیګه قیمت به ۱۰۰ روپۍ اخلم او هر کال به في بیګه ع۸ د مالکانه حق په طور اخلم د زید اخستونکی تر ژوند پورې به زما د ځمکې سره هیڅ تعلق نه وي لیکن هغه ته به د ځمکې خرڅولو اختیار نه وي البته د رهن اختیار به لري که د هغه نه بعد د هغه نارینه اولاد وو نو هغه به د زید په شان قابض ګڼل کیږي او که جینکۍ وې نو تر واده پورې به ورسره وي وروستو نکاح نه به زه یم، که اولاد ئې نه وي نو ښځه به ئې وي که نه اولاد لري او نه ښځه نو زه به پرې قابض یم عمرو دې ته د موروثي نوم ورکوي او وائي چه زمونږ د حکومت دا قانون دی زه د دې خلاف نه کوم في الحال د بیعې په وخت اګرچه عمرو دا شرط مفصل نه ذکر کوي صرف په دې عبارت ئې خرڅوي چه زه فلانۍ ځمکه بیع موروثي باندې خرڅوم او د مال قیمت نه علاوه دومره روپۍ مالکانه حق اخلم د کوم تفصیل چه بره ذکر دی مګر په سرکاري قانون کې بره شروط ملحوظ وي د دې وجې نه د خرڅولو په وخت د دې تفصیلونو ضرورت نه وي د مذکوره شروطو سره بیعه شرعاً جائزه ده او که نه؟(۱) او که مذکور شرط د عقد اصل (صلب) نه وي قبل عقد بعد عقد وي نو جائزه به وي او که نه؟(۳) که جائز وي نو د زید د تسلیمولو باوجود به عمرو د مذکوره شروطو مستحق وي او که نه؟ او په زید مشتري به ئې پوره کول واجب وي او که نه؟جواب مفصل راکړئ چونکه د زید مشتري په علاقه کې د دې شروطو نه بغیر چه بره ذکر شو ځمکې نه خرڅیږي او د زید ځمکې ته ضرورت دی نو په دې صورت کې د ضرورت د وجې نه بیعه جائزه ده او که نه؟

جواب: (۱) جائزه نه ده.(۲) المعروف کالمشروط په قاعدې سره په وړاندې یا وروستو هم د عقد د صلب په شان وي او ناجائزه به وي.(۳) د هوس ضرورت شرعاً معتبر نه دی آیا د ځمکې مالک کیدو ته کوم ضروري حاجت بند دی. ۶ شعبان ۱۳۳۰هـ، (حوادث ۱، ۲ ص۹).

### معاف کردن پیداوار زمین تا مدت معلومه بعوض مبلغ

**سوال** :(۳۵٤)د یو سړي ځمکه ۲۰ بیګه ده هغه ته ئې ۴۱ روپۍ په دې اقرار ورکړې چه ۱۰ کالو پورې مونږ د دې پیداوار اخلو او کوم محصول چه د سرکاري پټه ده اصلي مالك به ئې



ادا کوي مګر ۴۱ روپۍ به لس کاله بعد د ځمکې د مالك نه د پیداوار خوړونکی واپس نه اخلي او لس کاله بعد به مالك پخپله ځمکه قبضه وکړي داسې خوراك صحیح دی او که نه؟

**جواب**: معلوم نه دي چه په دې ځمکه کې د پیداوار څه شی شته دې یا دا چه د کرایه په طور ئې ځمکه اخستلې ده چه هغې کې څنګه وغواړي فصل وکړي او پیداوار واخلي نو که دویم صورت دی نو دا د اجارې عقد دی لس کالو پورې ئې په ۴۱ روپۍ دا ځمکه اجاره اخستلې او دا جائزه ده څه باك په کې نشته څه چه ئې خوښه وي هغه دې وکري او خرڅ دې کړي مګر په دې کې شرط دا دی چه دا اجاره د قرض د دباو نه بغیر وي او که مقصد ئې ۴۱ روپۍ قرض اخستل وو او د قرض ورکونکي په دې غرض سره دا حیله وکړي چه نفع حاصل کړي نو دا رعایت د قرض د وجې نه شو او دا حرامه ده او سود دی، او که په دې ځمکه کې کوم آمدن وغیره موجود وي لکه باغ نو دا عقد جائز نه دی ځکه چه اجاره خو نه شي کیدی ځکه چه اجاره کې تملیك منافع وي او دا تملیك عین دی نه رهن کیدی شي ځکه چه په رهن کې پیداوار قیمت لګیږي او دلته د مخکې نه معلوم شوی نه وي وصولیږي دلته موده معلومه شوې ده او دا بیع معدوم ومجهول ده او بیعه معلوم او موجودیدل پکار دي بیا په ځمکه باندې قبضه یې معنی ده نو کله چه د عقد د صحیحه نه یو هم نه شي کیدی نو معامله باطله شوه حاصل دا چه که په دې ځمکه کې د پیداوار کوم څیز موجود نه وي او د روپو والا ئې لس کالو پورې په اجاره وساتي او فائده ترې حاصله کړي نو دا جائزه ده مګر شرط په کې دا دی کوم چه بره ذکر شو او که کوم څیز موجود وي نو دا معامله باطله ده او که څه ځمکه د اجارې په طور وي او څه په کې موجود وي نو که د هر یو جدا معامله وکړي نو د اجارې معامله به جائزه وي او بله معامله باطله او که د دواړو یوه معامله وکړي نو بسبب شیوع فساد ټول به باطل وي، والله اعلم فقط. ۲ صفر ۱۳۰۱هـ، (امداد ج۳ ص۷۴).

### ترك کردن نوکري خلاف شرع

**سوال** :(۳۵۵) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د کوم کس زړه داسې نوکرې چه د قواعدو د وجې په کې مونځ قضا کیږي او انګریزي یادول او ویل پرې وشي او اصل مقصد د قواعدو نه دا دی چه کوم ځاي کې جنګ وشي نو قواعد دان هلته ولیږل شي، نه غواړي او والدین د دې په پریښودو ناراضه وي او نوکرې کولو باندې خوشحاله وي د دې جواب خو تپوس کونکي له ورکړئ؟

**جواب**: دا نوکري په دې وجه چه مونځ په کې قضا کيږي او د کفارو او مسلمانانو د مقابلې په وخت په کې د کفارو تائيد کيږي او هغه وخت باندې انکار نه شي کيدی ناجائزه ده او دا پرښودل پکار دي اګر که مور او پلار ناراضه وي د الله تعالى په وړاندې د چا اطاعت هم نشته دی. "قال الله تعالى: ان الحكم الا لله الآية. وايضا: قال جل شانه: وان جاهداك على ان شترك بي ما ليس لك به علم فلا تطعهما الآية. وقال رسول الله ﷺ: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق الحديث والله اعلم فقط". ۷ محرم ۱۳۰۱ھ (امداد ج۳، ص۷۵).

## ټیکه دادن زمین بهاکه دار

**سوال**: (۳۵۶) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه يو کس خپله ځمکه چه مثلا هغې کې دهاکه ونې وي چاته د دوه کالو لپاره په ټيکه ورکړي او چاته چې ئي ورکړي هغه ته ئې وويل چه دومره وخت پورې دا ځمکه ستا په قبضه کې ده تاته اختيار دی که ته دا ونې کټ کوې او که ساتې ئې؟ د معلومې مودې نه وروستو به زه دا ځمکه تا نه اخلم آيا دا معامله کول جائز دي او که نه او د عدم جواز وجه څه ده؟ (مولوي عبدالرحمن مراد آبادي).

جواب: دا معامله صحيح نه ده ځکه چه د خبرې دا معنى شوه چه ۲ کالو پورې چه څومره ونې ته کټ کړې هغه ستا په لاس کې بيعه ده او د هغه ونو تعداد معلوم نه دی چه په دوه کالو کې به څومره کټ کيږي نو دا د مجهول بيعه شوه او دا جائز نه دي. محرم ۱۳۰۱ھ، (امداد ج۳، ص۷۵).

## مدرس ته د خوراک په ځاي نغدي روپۍ ورکړی شي نو

## د رخصت په ورځ کې به هم دا روپۍ ورکړی شي او که نه؟

**سوال**: (۳۵۷) د يو عربي مدرس لس روپۍ تنخواه ده او روپۍ هم د مدرس په ذمه دي د خوراك د بد نظمۍ دوجې نه مذکور مدرس دا درخواست وکړو چه ماته دې نغدې راکول شي دا مدرسې قبول کړو او درې روپۍ ئې ورله مقرر کړې اوس د ۱۰ روپو په ځاي ۱۳ روپۍ ورکوي لکه څنګه چه د مقرره مدارسو قاعده ده چه رمضان د مياشتې د تعطيل د وجې نه مدرس کور ته ځي د دې تنخواه د مدرسې نه ورکول کيږي اوس مذکور مدرس دا درې روپۍ تنخواه متصور کيږي او که نه؟ او د رمضان تنخواه به لس ورکول کيږي او که ديارلس؟



**جواب**: د دې مدار په عرف باندې دی کله چه خاصه تصريح نه وي او زما په نزد عرف دا دی چه کله د خوراك په ځاي داسې نغدې تعين کړی شي چه هغه مستقلې شي داسې چه بيا د عود طعام احتمال بعيد شي نو هغه نغدې د نورې تنخواه په شان شي او د چوټې په ورځو کې به هم ۱۳ ورکوي البته که د کوم کس خلاف عرف محقق شي نو د دې موافق به حکم وي. ۱۸ رجب ۱۳۲۷ھ، (تتمه اولى ص۱۷۴ وحوادث ۲۰۱ ص۳۶).

## د غوا په څرخولو باندې د يوې ورځې شيدې په عوض کې ورکول

**سوال**: (۳۵۸) يو کس د شيدو والا غوا واخستله يوه ورځ ئې خپله وابنه ورکړل او يو کس ته ئې په دې وعده ورکړل چه دوه ورځو پورې دې له وابنه راوړي او ويې څروي غرض دا چه د هغې ټول خدمت وکړي او د دواړو ورځو شيدې مالك ته ورکړي بيا د بلې ورځې شيدو باندې آيا داسې عهد جائز دی او که نه؟

**جواب**: چونکه اجر او عمل معلوم دی لهذا جائز دی ځکه چه د اجرت تعجيل پخپله جائز دی البته دا شرط دی چه صرف د څرولو شرط وي د ونو کټ کولو او ورکولو شرط ونه شو ځکه چه اجاره د استهلاك عين باندې جائز نه دي. (تتمه اولى ص۱۷۵).

## اجير ته اجرت د کار نه وړاندې ورکول

**سوال**: (۳۵۹) مثلا د کجهورو غونچه يوه ورځ جاله مزدوري وکړه او راکوز ئې کړو او نيمه غنچه ئې ورکړه او د هغه نه ئې دا وعده واخستله چه سبا له به ټوله غنچه ماله راکوي د سبا مزدوري نن درکوو داسې ئې څو ځل وکړل آيا دا جائز دي او که نه؟

جواب: دا هم جائزه ده مګر په دواړو مسئلو کې دا هر ځل ورکول جدا اجاره ده لهذا انکار کولو باندې د جبر حق نشته دی. ۱۸ شعبان ۱۳۲۷ھ، (تتمه اولى ص۱۷۵).

## د يوې ورځې شيدو په بدل کې د غوا څرولو او د ونو کټ کولو

## او خوراک ورکولو باندې مزدور ساتل او شيدې د ونو اجر مقررول

**سوال**: (۳۶۰) زيد شيدې ورکونکې غوا واخستله او هغه ورځ ئې خپل خوراك ورکړو او بکر ته ئې په دې وعدې سره د هغه ورځې شيدې ورکړې چه غوا او بچی به ئې دوه ورځې څروي او په کور کې به ئې ساتي او د دواړو ورځو شوده به مالك له ورکوي بيا دويمه وعده وشوه

چه د دویمې ورځې شپدې اخله او دوه ورځې ئې بيا ټول خدمت کوه، على هذا القياس، لیکن وښو کټ کولو یا اخستلو سره د خپل طرف نه د خوراك ورکولو وعده هم وشوه او په خپل کور کې تړلو په دې طريقه چه نيم د شودو او نيم د بوسو قيمت دی او نیم د خدمت حق، یا داسې چه شوده د خدمت حق دی او نیم د غوا د بچي د وښو قيمت يا لکه شوده د خدمت حق واخستلو او وابښه او بوس ئې تبرعا ورکړل یا د بوسو او وښو ئې د ټیکې په طريقې سره تخميني بالمقطع قيمت د يو کال مثلا لس روپئ مقرر شوې يا يو سير شوده روزانه د وښو او بوسو قيمت ورکړی شي او نيم د بچي د خدمت حق د يو کال لپاره نو دي کې کوم صورت جائز دی، فقط؟

**جواب**: ټول صورتونه ناجائز دي. "ولوجه عدم وجدان شرايط الاجارة والبيع كما هو ظاهر والله اعلم". ۲ رمضان ۱۳۲۷ھ، (تتمه اولی ص۱۷۵).

## د ثواب رسولو په خاطر د قرآن په لوستلو مزدوري اخستل

**سوال**: (۳۶۱) بعد د تعظيم او تکريم نه عرض دا دی: چونکه مخالفين د تاويلاتو نه بغير د کتابونو نه کوم معتبر دليل نه شي ورکولی فی الحال يو کتاب حقيقت الاسلام دی د دې کتاب نه دليل ورکوي او هغه کتاب د قاضي ثناء الله پاني پتي تصنيف دی او هغه دليل دا دی:

"صورت سوم آن که شخصی حسبة الله ثواب خوانده خود را بکسی بخشد یا بقصد ثواب او خواندن آغاز کند وهرگز خیال معاوضه در خاطر او خطور نکند وآن کس بطریق مکافات بعد ازان یا در اثنائی خواندن آن بوی چیزی بدهدیا احسانی نماید شخصی باشد که از سالها بر شخصی انعام واحسان می کند وآن کس در مکافات آن قرآن وکلمه تهلیل وامثال آن برائی او مي خواند وثوابش بوی بخشد، این صورت جائز است بلا شبه بلکه مستحب زیرا که مکافات احسان احسان ومناسب وموافق است، چنانچه که بحدیث قدسي آمده است "من صنع الیکم معروفا فکافوه" غوری می باید اگر نیت در خواند احسان اوست جائز ومستحب است، اما اجاره نشد واگر خیال معاوضه باشد جائز نیست، پس بوقت خواندگي تامل در کار است". جناب د حديث شريف نه لاندې چه کوم عبارت دی د دې نه د جواز ورکولو زيات زور ورکوي کنه نو بل کوم نوی دليل نشته دی. جناب اما عرض اوس دا دی چه د عبارت چه کوم مضمون دی هغه صحيح دی او که نه دی/ او کوم د مکافاتو او معاوضې طرق چه بيان کړی شوی دی دا هم صحيح دی او که نه؟ او څه چه ئې ليکلي چه د



احسان خيال کولو سره ئې لوستل صحيح دي د بدل (قيمت) اخستلو لپاره ئې لوستل صحيح نه دي دا هم صحيح ده او که نه؟ د احسان معنی او تعريف څه دی؟ او د حديث دپاسه چه کوم عبارت دی د هغې معنی به په کوم صورت کې مطابق وي ځکه چه دې طرف ته د قيمت (بدل) نه اخستلو خيال سره دا نه کيږي. جناب د دې ټولو صورتونو تحقيق وکړئ او جواب راکړئ؟

**جواب**: د حديث شريف لاندې چه کوم عبارت دی د دې نه د جواز استدلال کول هسې بې معنی دي ځکه چه په دې کې تصريح ده چه اگر خيال معاوضه باشد جائز نيست او ظاهره او متيقن ده چه کوم ځاي کې چه د دې عادت دی هلته د ورکونکي او اخستونکي دواړو خيال د بدل (قيمت) وي که کومه خبره جوړه او د خلکو نه ځان خلاص کړي نو الله ﷻ خو نيت ته گوري د هغه نه به څنگه بري کيږي.

خلق راکیرم که بفریبی تمام — در غلط اندازی تاهر خاص وعام

کار هابا خلق آری جمله راست با — خدا تزویر وحیله کئ رواست

کاربا اور است باید داشتن — رایت اخلاص وصدق افراشتن

او کوم فرق چې ئې د مکافاتو او بدل (معاوضې، قيمت) بيان کړی دی نو د هغې نه مقصد د اثارو او اماراتو فرق بيانول دي. عاقل د دې نه او د نورو اثارو او قرائنو نه هم په دې دواړو ئې فرق کولی شي او ستا دا ويل نيك دي چه دلته د قيمت نه اخستلو خيال بالکل شته دی نه. نو دجواز گنجائش نشته. والسلام. ۲۹ ذی الحجه ۱۳۲۷ھ، (تتمه اولی ص ۱۷۶).

## د شاه عبدالعزيز صاحب د فتوی نه د ثواب رسولو په خاطر د قرآن په ويلو باندې د اجرت اخستلو په جواز باندې د استدلال جواب

**سوال**: (۳۶۲) در فتاوی شاه عبدالعزيز صاحب می نويسند شخصی قرآن رانه بروجه طاعت بلکه بنا بر قصد مباحی می خواند وبران اجر می گير ومثل رقيه وتعويذ وختم بعض سور قرآن برائی حصول بعض مطالب دينوي ويا برئی استخلاص از عذاب گوريا برائی انس زنده يا مرده بصورت خوش واين قسم نيز جائز است بلا کراهت وهمين است مراد اين حديث "ان احق ما اتخذتم عليه اجرا" کتاب الله پس اگر نيت طاعت وثواب نباشد استخلاص از عذاب

گوروانس مرده چه معنی دارد واین عبارت را طاعت فروشان این دریار سند می کردند وشنیده ام که در رساله حقیقت الاسلام قاضي ثناء الله صاحب نیز نوشته اند که برائی استخلاص از عذاب گور قرآن بر اجرت خوانده جائز است؟

جواب: اولا انتساب این فتوی بشاه صاحب محتاج سندست ودونه خرط القتاد، ثانیا اصل قاعده که ممهد کرده شده است وهمان مقصود ست صحیح است که شخصی قرآن را الخ البته استخلاص از عذاب گورر اورا امثله اش داخل کردن بالیقین صحیح نیست خواه از کبوه جواد باشد یا از تحریف نسا خان ومتفق علیه ست که اگر مثالی بر قاعده منطبق نباشد آن مثال قابل طرح میباشد پس هرگاه ثابت است که استخلاص از عذاب گور بدون ثواب نمیشود قرآن خواندن باین غرض داخل طاعت گشت وآن قابل استیجار نیست وعبارت قاضي صاحب ا وقتیکه نشود برآن کلام نتوان شد از ناقلان مطالبه تصحیح نقل می باید کرد فقط. ۲۹ ذی الحجه ۱۳۲۹ھ، (تتمه اولی ص ۱۷۷).

## د تاړي راویستلو لپاره د کجوري په اجاره اخستل

**سوال**:(۳٦۳) په اکثره ښارونو کې مثلا سورت وغیره کې د کجورو ونې پخپله پیدا کیږي د نورو ونو په شان او بعضې کرل کیږي او بیا هغه په اجاره باندې ورکوي او اجاره دار د دې ونې نه تاړي راوباسي د تاړې نه علاوه ئې په نفع مقصود نه وي او تاړي مسئله ده نو عند الشرع د دې ونو په اجاره ورکول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا، بحواله کتب معتبره وعبارات واضحه؟

**جواب**: د دې نه په صرف نظر سره چه په دې کې اعانت علی المعصیة شته او که نشته پخپله دا معامله ځکه ناجائزه ده چه دا اجاره خو ځکه نه ده چه اجاره استهلاك منافع باندې وي او دلته استهلاك عین باندي شوې دۀ او بیعه ځکه نه ده چه مبیع مقدور التسلیم بلکه بعضې صورتونو کې موجود هم نه ده. ۲۸ ذی الحجه ۱۳۲۸ھ، (تتمه اولی ص۱۷۸).

## د کجورې، کوېرې ونې په اجاره ورکول

**سوال**:(۳٦٤)د کجورې یا کوېرې ونې د سیندهي په اجاره باندې په معینو نغدو باندې ورکول لکه څنګه چه په هندوستان کې رواج دی جائز دي او که نه؟
جواب: جائز نه دي. (تتمه اولی ص۱۸۳).



## کرایه دار که د مشروط وخت نه وړاندې کور

## خالي کړي نو کرایه به ټوله ورکوي او که بعضې

**سوال**:(۳٦۵)کرایه دار د کورونو، بنګلو یا دکانونو وغیره د کور د مالك نه د یو کال یا شپږو میاشتو په معینه وعده باندې کور په کرایه اخلي نو بیا که په دغه موده کې دلته دغه کور خالي کړي نو ایا د کور مالك دا حق لري چه کرایه په شرط شوي وخت باندې وصوله کړي؟

**جواب**: دا خالي کول که کوم عذر سره وي نو ټوله کرایه به نه ورکول کیږي کنه نه وصولیږي. هغه له عذر بیانول پکار دي. ۲۹ ربیع الثاني ۱۳۲۹ھ، (تتمه اولی ص۱۷۸).

## اجیر خاص له د بل چا کار کول

**سوال**:(۳٦٦)د کوم کارخانې ملازم یا د مدرسې ملازم له د ملازمت د وخت نه بعد یعنې مازدیګر یا د شپې په بل کارخانه کې ملازمت کولی شي او که نه؟
جواب: کوم چه اجیر خاص وي د هغه لپاره چه څومره وخت معین شوی وي په هغې کې بل کار کول بغیر د اجازت نه جائز نه دي او اجازت هم د عطاء یا وکیل مطلق صاحب عطاء والا معتبر دی. ۸محرم ۱۳۳۲ھ، (تتمه ثانیه ص۱۱۲).

## د اجیر موجر له دوکه ورکول او زیاتې روپئ وصولول

**سوال**:(۳٦۷) د حکومت په چاپه خانه کې د چا تنخواه مقرر نه ده ټول خلك په ټیکه باندې کار کوي حکومت د ټولو خلکو د ترقئ یوه طریقه مقرره کړې ده چه هر کال کې د جنورې، فرورې او مارچ حساب کتلی کیږي که کوم کس ته په دې میاشتو کې ۴۰ روپئ ورکړی شوي وي.نو د هغه به ترقي کیږي او د هغه به ۳ ګهنټه مقرریږي، که د ۴۰ نه کمې ورکړی شوي وي نو ترقي به نه ورکول کیږي نو داسې څوك هم نشته چه یواځې د ۴۰ روپو کار وکړی شي اوس څو کسان دا کوي چه دوه کسان صلاح کوي او د حکومت د حکم نه خلاف په شرکت کې کار کوي کله چه وې دواړه په شریکه په میاشت کې د ۶۰ روپو کار وکړو نو یو کس به خپل ځان پښې ۴۰ ولیکي او بل ۲۰ مګر د تنخواه ملاویدو به دواړه پوره پوره حصه تقسیموي چا چه خپل ځان پسې ۴۰ روپو کار لیکلی صرف د دې وجې نه چه د هغه ترقي وشي کله چه کال ختم شي د هغه ترقي ضرور کیږي حکومت ته دوکې ورکولو سره

ترقي وکړی شوه او حکومت خو دا وکتله چه ده یواځې د ۴۰ روپو کار په ۳ میاشتو کې وکړو او د حکومت دا حکم دی چه یو کس دې خپل مینځ کې د شراکت کار نه کوي تول دې جدا جدا کوي نو که حکومت ته معلومه شي چه ځوکسان په شرکت کې کار کوي نو په هغوئ به جرمانه وکړی شي یا به وویستل شي نو داسې کار کول شرعا جائز دي او که نه؟ او دا روپئ شرعا حلالې دي او که نه، فقط؟

**جواب**: دا داجارې عقد دی او د اجیر په خاص صفت باندې د مزدورئ زیاتنی ورکولو د حکومت د طرف نه رضا ده نو کله چه هغه د اجیر په صفت کې نه دی نو هغه زیاتوالی په دوکې او چل سره کړی شوی دی لهذا دا جائزه نه ده او ځومره دوکې سره چه ئې ترقي کړې ده هومره دا روچئ خبیثې دي. ۱۶ جمادی الاؤلی ۱۳۲۹هـ (تتمه اولی ص۱۷۸ وحوادث ۱، ۲ ص۳۷).

### په امامت او وعظ باندې مزدوري اخستل

**سوال**: (۳۶۸) په امامت او وعظ باندې مزدوري اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: استیجار علی الطاعات کوم چه ناجائز دي د هغې نه امامت مستثنی دی او وعظ هم بعضو مستثنی کړی دی او بعضو په عدم جواز کې داخل کړی دی تطبیق دا دی چه که د وعظ نوکري ئې کوله د امامت په شان نو مزدوي اخستل ورله جائز دي او که نوکرئ نه وي او په عین وخت باندې ئې مزدوري معلوم کړي نو جائزه نه ده لکن عین وخت باندې چه د امامت روپئ غوښتل شروع کړي، فقط. ۱۱ شعبان ۱۳۲۹هـ (تتمه اولی ص۱۷۹).

### صحرائي یا د اوسیدو جائیداد کوم کس ته په

### ټیکه ورکول او د ټیکې قیمت وړاندې وصولول

**سوال**: (۳۶۹) په دې مسئله کې تاسو څه فرمایئ چه یو کس خپل صحرائي جائیداد کوم چه د ټیکه نامې په ذریعه د کروندګر سره په معینو روپو باندې وي یا د اوسیدو جائیداد هم داسې وي او په کې کمي او زیاتی نه کیږي د لسو یا دولسو کالو پورې ئې ورکړی وي او د دې د آمدن ځلورمه حصه یا څه کم او زیات چه د کروندګرو او ټیکه دارانو نه وصولیږي هغه پریږدي او په ټیکه ئې ورکړي او د نفع او نقصان ذمه دار پخپله ټیکه دار وي که د هغې [illegible]ایه وصول کړی شي او که نه شي که په آسانئ سره وي او که د عدالت په ذریعې سره هغه



وصول کړی شي او د مالك معاهده د کرایه دارانو سره وي د هغې پابند واوسیږي او د ټیکس قیمت تول یا د یوې مودې حصه مالك د اطمنان په غرض سره وړاندې وصول کړي داسې حالت کې دا ټیکه چه ورته مستاجري ویل کیږي جائز دي او که نه. بینوا توجروا فقط؟

**جواب**: دا مستاجري باطله ده ځکه چه معقود علیه که د ځمکې منافع وي نو هغه منافع د اجارې د عقد د وجې نه حق مزار عین یا سکان د هغوئ دی نو د مودې ختمیدو نه یا د دواړو طرفونو د رضا نه بغیر مالك له د اجارې فسخ کولو اختیار نشته دی، او که د معقود علیه منافع د دې مستاجر خپل وي یعنې انتظام او سعي وغیره او هغه ربع د دې منافعو عوض دی نو د اجارې د صحیح کیدو د شروطو دا راجمع کیدو د وجې نه دا صحیح کیدی شي مګر په دې صورت کې د دې مستاجر نه پیشګي روپئ اخستل حق نه دی بلکه کله چه د کروندګرو نه وصول شي نو هغه وخت د وتلو حق لري او که په پیشګي روپو اخستلو کې د قرض تاویل وکړی شي نو اول خو د قرض شرط باطل دی دویم د دې مقتضا دا ده چه که مستاجر ته وصول نه شي نو مالك دا روپئ واپس کړي او داسې نه کیږي لهذا ناجائزه ده. ۳ رمضان المبارك ۱۳۲۹هـ (تتمه اولی ص۱۷۹).

### د موروثي کردوندګر نه ځمکه په ټیکه اخستل او د موروثي

### کروندګر د ځمکې مالك ته ځمکه په ټیکه ورکول

**سوال**: (الف ۳۶۹) زید کروندګر خپله موروثي کهاته عمرو ته په پنځه کاله ټیکه ورکوي او د عمرو نه ۲۰۰ روپئ قرض اخلي او خپل قرض پرې ادا کوي. موروثي د کهاتې قیمت في بیګه عه۴ زمیندار ته ورکوي د عمرو په کهاته کې چه کله دا موروثي کهاته راشي نو هغه یعنې عمرو به دا ځمکه کوم کروندګر ته في بیګه ۵ باندې ورکړي ځکه چه ټیکه کې راتلو سره به هغه په ۵ کالو کې غیر موروثي ګڼل کیږي او غیر موروثي في بیګه ۵ باندې ده پنځه کالو پورې به عمرو کوم چه د دې موروثي ټیکس مقرر دی هغه اداکوي او باقي به په خپل خرچ کې راولي او ۵ کاله بعد به د ټیکې په فسخه کیدو سره عمرو د زید ځمکه پریږدي او خپلې ۲۰۰ روپئ به واپس واخلي دا صورت په شریعت کې جائز دی او که نه؟ که دا صورت جائز نه وي نو بل کوم صورت چه د شریعت مطابق وي هغه ولیکئ؟

دویم صورت دا دی چه زید کروندګر خپل زمیندار عمرو ته په دې صورت کې ټیکه ورکړي نو زمیندار له جائزه ده او که نه؟

جواب: په دې کې یو قباحت خو دا دی چه زید د موروثیت د دعوې د وجې نه غاصب دی او د غاصب نه تیکه اخستل حرام دي دویم که زید د دې ځمکې مالك هم وي نو بیا هم دا تیکه د فرض په دباو کې ورکړې شوې ده او د کل قرض جر نفعا په قاعدې سره دا سود او حرامه ده نو ځکه دا تیکه اخستل ناجائز دي.

(۲) د زید دا ظلم دی نو ځکه هغه د حرامو مرتکب کیږي او زمیندار چونکه مظلوم دی او د ځمکې مالك دی نو د دې وجې نه چه هغه د خپلې ځمکې نه انتفاع اخستلې ده او د خپل حق خلاصولو کې ئې کوشش کړی دی د هغه به گناه نه کیږي. ۱۳ صفر ۱۳۳۰هـ. (تتمه اولی ۱۸۲، حوادث ۲۰۱ ص۳۹).

### د هند ځمکه په اجاره اخستل

سوال: (۳۷۰)د یو مندر لپاره پرېښودل شوې ځمکه د کوم مسلمان حصه باندې یا کوم معین په اجاره اخستلې او کرلې او د هغې نه نفع حاصلولی شي اوجائز دي او که نه؟ د خپلې فائدې په لحاظ سره دا ځمکه سمول او ترقي سره ترې حاصل اخستل جائز دي او که نه؟

جواب: جائز دي. (تتمه اولی ص۱۸۳).

### د کجورو او تارو تیکه

سوال: (۳۷۱)د کجورو او تارو د ونو تیکه ورکول جائز دي او که نه؟ د عدم جواز په وجه په دې حیلې سره چه د ونو سره دغه ځمکه په کوم کې چه ونې واقع دي په تیکه کې ورکړې شي په داسې حالت کې به دا آمدن شرعا جائز وي او که نه؟

جواب: د دې حیلې سره هم جائز نه دي ځکه چه دا حیله په کوم شرعي قاعده منطبقه نه ده. ۱۸ ربیع الثاني ۱۳۳۱هـ، (حوادث ۲۰۱ ص۱۸).

### د کار او وخت دوارو تعین او مزدور نیول صحیح دي او که نه

سوال: (۳۷۲)د وخت او کار دوارو تعینولو سره مزدور نیول صحیح دي او که نه؟ مثلا داسې ئې وویل چه یوه ورځ کې څلور دانې داسې ټوکرۍ جوړوه نو اته آنې به روزانه درکوم دا صحیح دي او که نه؟



جواب: که مقصد صرف کار وي او وخت ذکر د تعجیل لپاره وي نو جائزه ده او که نه نو نده جائزه. (تتمه اولی ص۱۸۳).

### د یو کس قرض په دې شرط سره وصولول چه څه وصول کړې د هغې دریمه حصه به تاته درکول کیږي

سوال: (۳۷۳) د یوې ښځې په څه کسانو باندې روپۍ دي د هغې لیکل هم شته گواهان هم شته مگر مدیون روپۍ نه ادا کوي او هغه ښځه د مقدمې کولو نه قاصره ده لهذا د یو داسې معتمد علیه بندوبست وکړی شو چه ته زما حق د خلکو نه د مقدمې په ذریعې سره یا بل تدبیر سره وصول کړه او څه چه وصول کړې دریمه برخه به ئې تاته درکوي مگر ما سره د مقدمې پوره روپۍ نشته دی د خپل طرف نه ثلث خرج هم ورکړه نو د خرچ لرې کولو نه بعد چه څه پاتې شي هغه به خپل مینځ کې تقسیم کړو دا معامله صحیح ده او که نه؟

جواب: دا کس اجیر دی لهذا تنخواه ئې معینېدل پکار دي که د میاشتې وي او که د کامیابۍ نه بعد ئې په یو خل ورکوي او دا کس چه څه خرچ کړي هغه به په هر حالت کې هغه ښځې باندې قرض وي که کامیاب شي او که نه. ۱۴ شعبان ۱۳۳۰هـ، (تتمه اولی ص۱۸۳).

### د بندوقچي نوکري کول

سوال: (۳۷۴)کوم کس چه د ټوپك ښه نښنه لري هغه د ښکار یا اجیر (مزدور) یا ملازم په حیث نیول جائز دي او که نه؟

جواب: جائز دي. ۳ جمادی الاولی ۱۳۳۱هـ، (کورتتي حواله).

### تحقیق وضع تنخواه محرر سرئی موقوفه از کرایه

سوال: (۳۷۵) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د مراد اباد په سټیشن باندې یو جومات دی د هغې لپاره یو سرائی وقف ده او متولي ئې حافظ عبدالواحد صاحب دی هغه دا سراې د درې کالو لپاره حاجي نبي احمد ته په ۳۵ روپۍ ماهوار په تیکه ورکړو حاجي نبي احمد صاحب د خپل طرف نه د ۳ کالو لپاره کفایت الله ته ورکړو د دوارو تیکه دارانو سره دا لیکلی شوي وو چه د سراې صفائي او خرابیدو ذمه په متولي باندې ده کومه زمانه کې چه

ئې ټیکه اخستلې ده د حکومت دا حکم وو چه د شپې به یو محرر د مسافرو نوم حلیه او پته هر څه لیکل او وړل به ئې. د هغې نه لس ورځې وروستو دا حکم وشو چه اوس به زمونږ محرر نه راځي بلکه کوم کس چه سرائی کې وي هغه دې د محررۍ کار کوي سرکاري حکم د مجبورۍ د وجې نه ومنل شو دویم ټهیکه دارانو ته وویل چه زه خو به منشي ساتم او د دې محتمل کیدی نه شم او اول ټیکه دار متولي صاحب ته وویل. هغوئ وویل کوم چه د شریعت حکم وي د هغې پابندي وکړه په دې کې ۱۳ میاشتې تیرې شوې. دویمه ټیکه دار د ۴ میاشتو کرایه بنده کړې او دا ئې وویل چه مونږ له د منشي تنخواه راکړئ نو کرایه به درکړم اول ټیکه دار دریم کس د ثالثي لپاره مقرر کړو چه فیصله وکړي او دا فیصله ئې وکړه چه اول ټیکه دار دې د دویم ټیکه دار سره ۳ روپئ په کرایه کې د منشي د تنخواه نه کموالی وکړي او د دویم ټیکه دار ټیکه دې فسخه کړی شي اوس اول ټیکه دار د یوې میاشتې خالي کیدو نه بعد دریم ټیکه دار ته په ۳۱ باندې د سرائې ټیکه ورکړه اول ټیکه دار منشي صاحب ته وائي چه سرکار چه کومې روپئ د منشي په سرائې باندې لګولي دي د هغې وجې نه ئې کرایه کمه شوه او د منشي وغیره مصارف او نقصان د متولي نه غواړي اوس علماء دې وفرمائي چه متولي له څه کول پکار دي. فقط؟

**جواب**: "فی الدر المختار وعمارة الدار المستأجرة تطیینها واصلاح المیزاب وما کان من البناء علی رب الدار وکذا کل ما یخل بالسکنی فان ابی صاحبها ان یفعل کان للمستاجر ان یخرج منها الخ وفی رد المختار تحت قوله واصلاح بر الماء عن الولوالجیة لان المعقود علیه منفعة السکنی وشغل باطن الارض لا یمنع الانتفاع بظاهرها من حیث السکنی ولهذا لو سکنه مشغولا لزمه کل الاجر وانما للمستاجر ولایة الفسخ لانه تعیب المعقود علیه. جـ۵ صـ۷۵،۷۴".

د دې روایت نه څو کارونه راووتل:

۱_ چونکه دا د لیکلو کار وړاندې نه نه وو د کوم عدم چه مخل سکنی وي نو ځکه به دا د متولي په ذمه نه وي همداسې د دویمې ټیکې نه بعد به د اول ټیکه دار په ذمه نه وي.

۲_ او که بالفرض داسې کوم امر هم وي چه د عقد نه مخکې وو او موقوف علیه د انتفاع سکنی وي نو بیا هم ټیکه دارانو ته د سرائې او کور پریښودلو حق خو.وو لیکن دا حق نه لري چه پخپله خرچه وکړي او د متولي وغیره نه یې واخلي.

۳_ متولي له دا جائز نه دي چه اول ټیکه دار له دئ نقصان تاوان ورکړي. ۶ رجب ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه صـ ۵۰).



## د هغه کس پسې تراویح کول چه د قرآن په لوستلو مزدوري اخلي

**سوال**: (۳۷۶)زمونږ په محله کې د قرآن حافظ نشته دی او د قرآن ختم په تراویح کې اوریدل هم سنت دي په داسې حالت کې مونږ د بل ملك حافظ په تراویح کې د قرآن ویلو لپاره په اجرت نیولی شو او که نه؟ که بغیر د اجرت نه ونیول شي نو بیا هم دواړه خواو ته معلومه وي چې کم از کم د دوه روپئ ورکول ضروري دي. مولانا رشید احمد صاحب ورته په خپله فتوی کې ناجائز وائي مګر مونږ سره دا خدشه ده چه د کوم سنت په پریښودو باندې حاکم له تشدد کول وي چه هغې لپاره ولې د پنځه وخته امامت په شان بالاجرت څوك معروفا او مشروعا نه شو نیولی؟

**جواب**: دا سنت کوم یو دی تراویح که ختم قرآن. که تراویح وي نو تراویح خو بغیر د اجرت نه هم کیدای شي او که د قرآن ختم وي نو په دې باندې تشدد چالیکلی دی. ۴ ذیقعده ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه صـ۹۲).

## اجرت گرفتن بر سعي تقرر رشته

**سوال**: (۳۷۷)د رشتې کولو اجرت اخستل لکه حجام، پیام وسلام د هلك او جینئ کولو څه اخلي یا ئې د اول نه مقرروي چه دوه نغدې او یوه جوړه نو داسې لین دین کې څه حرج خو نشته دی؟

**جواب**: که ساعي ته څه وجاهت حاصل نه شي او کوم ځاي کې چه ئې سعي کړې وي هلته څه دوکه ورنکړي نو دا اجرت دې د تللو او راتللو اجرت وګڼل شي نو جائز به ورته ویل کیږي. "ولا فلا یجوز اخذ الاجر علی الشفاعة ولا علی الخداع". ۱۲ ذیقعده ۱۳۳۲هـ (تتمه ثانیه صـ۱۸۲).

## د څاروو د ځاي ټیکه

**سوال**: (۳۷۸) زمونږ په ملك کې دا رواج دی چه د کال نه وړاندې د حکومت د طرف نه یو ځاي مقررېږي چه غویان وغیره چه د چا د فصل نقصان وکړي هلته بندیږي او پیسې روپئ علی تفاوت النوع اخلي او پریږدي یې کنه نو پنځلس شپاړلس ورځې ئې لیلاموي او دا روپئ اخستل او لیلامول د سرکار د طرف نه وي دې ته کهړ وائي هغه سرکار بهادر څاروي چه دا زه د یو کال لپاره په دومره حاضر شوم څوك چه ئې اخلي نو د غوائي قیمت وغیره هغه اخلي او دا صورت څنګه دی او د دې اخستل صحیح دي او که نه او خرڅول ئې څنګه دي؟

**جواب**: په دې صورت کې مبیع هغه روپۍ دي کومې به چه ټول کال د څاروي نه وصولیږي نو اول خو هغه روپۍ معینې نه دي. دویم موجودې نه دي. دریم تراوسه د سرکار حق شوی هم نه دی نو ځکه د مبیع کیدو صلاحیت نه لري نو دا بیعه باطله او حرامه ده او په قمار او سود کې داخله ده. ۹ محرم ۱۳۲۲هـ (امداد ج۳ ص۱۰).

**سوال**: (۳۷۹)د څاروو څایونه په ټیکه ورکول لکه څنګه چه دریم جلد امداد الفتاوی کې په صفحه ۳۹۳ کې لیکلي شوی دي هغه بعینه په ضلع چان ټګام کې مروج دي د دې حکم خو به امداد الفتاوی کې ذکر دی چه بیعه باطله او په سود او قمار کې داخله ده لیکن ضلع اکیاب کې د دې صورت بل دی چه د کلي مشر کس کوم ته چه هیڅ مین رواسوګري وائي پنځه روپۍ جرمانه او د ۲۴ ګنټو قید اختیار لري بعضې داسې کس ته د سرکار د طرف نه پروانه ورکول کیږي چه ته کهړ کړی شوی نو تاله پکار دي چه کوم کس چه چارپایان تاته د زراعت د نقصان کولو راوړي هغه بند وساته که اووه ورځو پورې پیسې داخلې نه کړي نو د هغې رپورټ راکړه او لیلام ئې کړه فیس داسې وصول کړه؟

۱ـ د فیل جرمانه دوه روپۍ، د اس یوه، میښې نیمه، غوا څلور آنې، د چیلۍ یوه آنه، د غوا د بچي دوه آنې. ۲ـ په اوله ورځ چه څو پورې بنده وي في روز د څرولو پیسې هم وصول کړه د جرمانې خو صرف دغه اندازه مقرره ده او د څرولو دا حکم دی کوم چه د حکومت حکم دی دا دی: (۱) د څرولو په بابت کې چه څومره وصول شي هغه د کهړ والا حق دي که هغه ئې پخپله څرو یاو که بل چا له ئې د څرولو لپاره ورکوي.(۲) د جرمانې نه چه څومره وصولې شي که ۵ روپو ته په میاشت کې ونه رسیږي او کمې وي نو د کهړ والا دې واخلي د حکومت حق په کې نشته دی البته که د ۵ روپو نه زیاتې په میاشت کې وصول کړی شي نو هغه اندازه دې د سرکار خزانه کې داخل کړي نو د بیعې صورت بالك نه دی فقط د سرکار آمدن وصولولو تحصیلدار دی د دې تحصیلدار تنخواه یا فیس نه لیکلی شوی. اندازه باندې تحصیلدار ته ملاویږي د خپل طرف نه څه نغدې پیشکي یا وروستو تعینول او قسط ورکول په کې نه وي د لیلامولو د وجې نه چه کوم قیمت جمع شي یعنې د هر څاروي قیمت جدا وي د کهړ تجویز شوی. خو پوره کیدو سره که څه اندازه پاتې شي نو هغه د څاروي والا ته د غوښتنې په وخت ورکول کیږي اوس سوال دا دی چه:

۱ـ د دې کهړ آمدن جائز دی او که نه؟ که تفصیل په کې وي نو تفصیل سره جواب راکړئ؟

ـ په دې لیلام کې خرڅولو سره به د څاروي د خاوند حق ختم شي او که نه؟



**جواب**: کوم څه چه په مدونوکه دغه وختونو کې وصولیږي هغه استیلاء سره د حکومت ملکیت کیږي اګر که د نائب په واسطې سره وي نو سرکار خپلې روپۍ دغه تحصیلدار ته ورکوي کوم چه د رضا د وجې نه مباحې دي او بعینه دې دلیل سره د لیلامیدو سره د مالك حق ختمیږي. ۲۵ ذیقعده ۱۳۳۰هـ (حوادث ۱۰۲ ص۱۰).

## د مدرسې د فیسونو حکم

**سوال**: (۳۸۰)در مدارس این دیار از طالبان فیس ګرفته مې شود آیا از طفلان نابالغ که یتیمان نیز در آن موجود اند بشرط اجازت ولي فیس ګرفتن جائز است یا نه؟

**جواب**: فیس اجرت ست اجرت عمل که نفعش به نابالغ عائد باشد از مال او ګرفتن جائز است باذن ولي. (حوادث۱۰۲ ص۱۷).

## د سود په ځاي د آړهت زیاتول

**سوال**: (الف ۳۸۰)یو سد خور قرض مال ورکوي د آړهت حق یوه روپۍ في سیکړه مقرر دي که په دویمه میاشت کې روپۍ ادا نه شي نو په اصل باندې سود لګوي مسلمان سود ورکول نه غواړي او دا وائي چه د سود په ځاي د آړهت حق زیات کړه د یوې په ځاي دوه درې واخله جائزه ده او که نه؟

**جواب**: جائزه ده. ۱۶ جمادی الاولی ۱۳۳۱هـ (حوادث ۱۰۲ ص۱۹).

## تلبیس به غلط نویسانیدن مال در ریل

**سوال**: (۳۸۱)کوم د تجارت مال چه د بمبئ یا کلکتې نه په ریل کې راځي د ریل مالك د هر قسم مال لپاره جدا جدا طبقه جوړه کړې ده د کومې طبقې څلور روپۍ من دی او په کوم طبقه کې ۲ روپۍ من د کومو یوولس آنې من مګر ټول مال په یو ګاړي کې راځي د کوم مال خاص درجه نشته دی که د څلورو او یو من والا مال دی او که د ۱۱ آنې من والا ټول په یو ګاړي کې راځي اوس سوداګرانو دا کیفیت راویستلی دی چه مال د څلورو روپو من دی هغه مال په ۱۱ آنې من والا کې لیکي او راغواړي ئې او څه خو بمبئ کې خرڅ کوي او څه په دهلي کې غرض دا چه څه اخلي او ورکوي مګر مال خپلوي د ریل مالك دا قانون مقرر کړی دی چه کوم کس داسې کار وکړي چه د ۴ روپو من والا په ۱۱ آنو کې ولیکي نو مونږ به د

هغه نه اته روپۍ من تاوان واخلو که چیرته مونږ ته معلومه شوه. اوس صورت دا دی چه ریلوی په هندوستان کې لوي افسر مقرر کړی دی بلکه هغه ته د ټولو کارونو اختیار دی هغه پخپله مال خوري او کم کلاس (طبقې) والا کې ئې لیږي هغه ته ټوله پته ده چه دا ټول په ۴ روپۍ من دي او په ۱۱ آنې والا کې ځي اوس تاسو وفرمایئ چه که د ۴ روپو من والا مال په ۱۱ آنې والا کې راوغواړي نو دا ټیك ده او که نه؟ ټول دکانداران همداسې کوي که مونږ ۴ روپۍ من کرایه ورکړو نو نقصان مو کیږي؟

**جواب**: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! د زیات محصول والا مال په داسې کم محصول والا کې وړل لکه څنګه چه سوال کې ذکر دي حرام. او د مشر افسر اجازت یا رضا ځکه معتبره نه ده چه هغه د ریل مالك نه دی. والسلام. ۳ جمادی الاولی (حوادث ۱۰۲ ص۲۲).

### د ځنګي ملازمت

**سوال**: (۳۸۲) دې محکمه کې افسر، سیکرټري، ماتحت افسران، سپرنټنډنټ، محرر او چپړاسیان وي د دې محکمې کار دا دی چه کوم مال تجارت والا د بهر نه راوړي هغوئ نه هغه محصول چه د حکومت د طرف نه پرې لګول شوی دی وصول کړی شي محرر تخمینه لګوي او محصول لګولو سره هغه وصولوي. سپرنټنډنټ ئې ګوري، سیکرټري بعضې وختونو کې حکم جاري کوي، چپړاسیان تجار وغیره د محصول لپاره ودروي هغه اسباب تلي په کوم به چه محصول لګول کیږي د محصول روپۍ صدر له وړي غرض دا چه د دې محکمې ټول خلك څه ناڅه کار کوي آیا په دې محکمه کې څه قسم کار کول جائز دي او که نه؟

**جواب**: کوم قواعد چه په شریعت کې د مال د محصول لپاره مقرر شوي دي هغه فقهاو په باب العشر کې لیکلي دي چونکه د مذکوره محکمې قواعد په دې نه منطق کیږي نو ځکه د ما انزل الله د خلاف کیدو د وجې نه غیر مشروع شول او د الله ﷻ د فرمان "ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان" موافق دا هم معصیت شو نو لهذا د مذکوره محکمې ملازمت ناجائز شو مګر کومه تنخواه چه ملاویږي هغه د دې وجې نه چه د غیر مومن حاکم استیلاء په اموالو باندې د تملیك موجب کیږي او غیر مومن حاکم چه کله خپل مال په خپله رضا کوم مومن ته ورکړي که هغه په هر عنوان وي نو مباح دي نو ځکه هغه تنخواه حلاله ده. غرض دا چه خدمت من وجه مشروع او من وجه غیر مشروع دی نو کارکونکي له به صرف د کار ګناه وي



او غیر مال کوم چه د دې تنخواه نه لاس ته راځي د هغوئ اهل وعیال احباب او ملمنو له په کې څه ګناه نشته. (حوادث ۱۰۲ ص۷).

### استحقاق تنخواه ناغه بسبب یاد نکردن سبق طلبه

**سوال**: (۳۸۳) طالبانو ته د سزا په طور یوه ورځ سبق ونه ویل شو نو د هغې ورځې د تنخواه مستحق به وي او که نه؟

**جواب**: د چندې والا په رضا سره د چندې نه ورکول کیدی شي کنه نو په عدم اشتراط کې استحقاق نشته دی او په اشتراط کې د موجر په ذمه واجب دی. ۱۵ شعبان ۱۳۲۱ھ. (حوادث اول ص۹۲).

### اجاره مشین بر نصف مکسوب

**سوال**: (۳۸٤) زید عمرو ته ۳۰ روپۍ په دې اقرار ورکړې چه عمرو دې ۲۰ روپۍ د خپل طرف نه نیمې دې زید ته ورکړي نو آیا په دې صورت کې شرکت جائز دی او که نه؟ که جائز وي نو د شرکت د څلورو اقسامو نه په کوم قسم کې داخل دی؟

**جواب**: کله چه مشین شریکو روپو باندې واخستل شو نو هغه شریك شو اوس چه یو شریك بل له په اجازت سره د استعمال لپاره په دې شرط ورکړو چه نیم آمدن به ئې ماته راکوې نو د دې حقیقت داسې شو چه دې شریك بل شریك ته خپله نیمه حصه مشین په کرایه ورکړه او کرایه ئې ترې نیم آمدن واخستله نو دا د اجارې شرعا صورت جائز نه دی بلکه کرایه معینول پکار دي بیا که آمدن کم وي او که زیات او په کوم ذکر شوي شرط چه څومره موده کار هم کړی شوی دی د هغې کرایه به باقاعده د اجر مثل په شان ورکول کیږي مګر دا اجر د واقعي آمدن د نیم نه زیات نه وي، فقط. ۲۵ صفر ۱۳۳۱ھ. (حوادث ۱۰۲ ص۱۰۰).

### تحقیق عدم تعیین عمل واجرت در استیجاب عمال مزارعین

**سوال**: (۳۸۵) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زمونږ په علاقه کې دا رواج دی چه نجار یا آهنګر د زراعت کارانو سره دا عقد کوي چه مثلا څه کار چه د زراعت متعلق د لرګي یا اوسپنې وي بغیر د تعین نه کوي او د زراعت نه چه لاس ته څه راځي یو من وي شل منه مثلا د هغې نه به ۴۰ مه حصه اخستل کیږي نو اول خو په دې کې د کار تعین نشته دی او همداسې د مزدورئ تعین هم نه دی شوی بعضې وخت کې کار زیات کیږي او د آفت د وجې نه د زراعت نه

څه نه پاتې کیږي او کله د اجرت په حیثیت د کار نه دوه چنده روپۍ بلکه لس چنده هم ورکول کیږي غرض دا چه په دې عقد کې نه د ماجور علیه تعین کیږي او نه د اجرت او نه د وخت د تعین نو لهذا دا عقد به فاسد وي او دا اجرت به د شك د وجې نه ربوا او حرام وي او که نه؟

**جواب**: د عامې ابتلاء د وجې نه چه دې عقد ته په دې تاویل سره جائز وویلی شي چه د خبرو ابتداء نه به عقد ونه وایو او وعده به ورته ووایو او د مزدورۍ ورکولو په وخت چونکه عمل معقود علیه جزء په وجود کې راتللو سره متعین شول نو اجرت ته د هغې مقابل کې ویل او هغه وخت کې منعقد شي اوس په دې کې هیڅ څوك هم معذور نه شو. "نظیره فی ردالمحتار عن الولواجیة دفع دراهم الی خباز الی قوله ولو اعطاه الدراهم وجعل یاخذ منه کل یوم خمسة امناء ولم یقل فی الابتداء اشتریت منك یجوز وهذا حلال وان کان نیته وقت الدفع الشراء لانه بمجرد النیة لا ینعقد البیع وانما ینعقد البیع الان بالتعاطی والان المبیع معلوم فینعقد البیع صحیحا؛() الخ. قال الشامی قلت وجهه ان ثمن الخبز معلوم فاذا انعقد بیعا بالتعاطی وقت الاخذ مع دفع ثمن الثمن قبله فکذا اذا تاخر دفع الثمن الاولی ج۴ص۱۸ قلت فیقاس المنافع علی الاعیان باشتراك العلة. ۱ شعبان ۱۳۳۱هـ (حوادث ۲۰۱ صـ۱۱۳).

## اشتراط اجرین برشرطین مختلفین

**سوال**: (۳۸۶) زه د هلته نه راغلم په دې انتظار کې وم چه د جانماز کوم انتظام به وشي نو عریضه به ولیکم اوس د الله ﷻ په فضل ټول بندوبست وشو او د اول نومبر پورې ئې راسره وعده ده ما ورته وویل چه که په اول نومبر ملاو نه شي نو یوه روپۍ ۱۲ آنې حساب سره به قیمت اخلم او که راکړی شو نو دغه په حساب به ئې درکوم؟

**جواب**: اوس مې هدایه راوغوښتله او مې لیده نو د امام ابو یوسف او امام محمد په نزد جایزدی اودامام صاحب بل قول دی مګرکدې باندې عمل هم جایزدی خاصتاً کله چې کارنګرباندې د دې اثر وي او د دې نه بغیر د سستۍ احتمال وي مګر دا باید هغه وخت وي چه مال د خپل طرف نه ورکړی شي کنه نو دا شرط فاسد دی چه که د اول نومبر پورې ملاو نه شوې الخ. که دا ځاي په کې وي نو د پاکوالي او اطمنان لپاره بل ایجاب او قبول ضروري دی. ۲۳ ذیقعده ۱۳۳۱هـ (حوادث ۲۰۱ صـ۱۲۳)

---

[1] که چرته زراعت بالکل پیدا نه شي بیا هم څه ناڅه ورکول یې ضروری دی ځکه چې تاویل یې باطل نه شي ۱۲؛



## کرایه سواری که بتعین وقت کرایه کرده شودوقبل ازوقت واپس شود

**سوال**: (۳۸۷) یو کس دسائیکلودوکان بیرته کړاوسائیکلی یې په کرایه ورکولی اوڅلورو کسانو یوی ګنټی په حساب سره سائیکل واخست که چرته یوشخص پنځلس منټه کې مثلاً سائیکل واپس راولی ددوې څخه څلورواړه رواستل صحیح دی اوکه دیوکس مفصل ارشادوفرمایې؟

جواب: ستاسوچې کوم رواج وی دهغی موافق وکړی یاکه چرته رواج معین نه وی وخت دی ورکړی اوګنټه اوجزء دګنټی به مساوی وي ] ۲۲ذی الحجه / حوادث ۲۰۱ صـ ۱۲۵

## راه داري مقر کردن زمیندار

**سوال**: (۳۸۸) از زمین وراه ګدام زمین دار ومقطعه دار ګله کادان.وګوسفندان وګاړیان باردار عبور مي کنند از ایشان راه داري مقرر کرده خوامخواه میګیرند هر سال همین راه داري رابا جاره میند هند مثلا از هل ګله ګو سفند خواه کلان باشد یا خرد ۲ واز ګله ګاوان في دازیندي ۲ که دران از قریه جات غله در چوب وآهك وغیره اسباب بار کده بیارند در شروع چه حکم وارد؟

**جواب**: اګر آن زمین مملوك آن زمیندار است بطریق مشروعي، پس کرایه اش ګرفتن از ګرز رندګان یا اورا بر کرایه سالانه دادن هر دوا امر جائز ست. "فی الدرالمختار باب مایجوزمن الاجارة وتصح اجارة الارض للبناء والغرس وسایر الانتفاعات".واګر طریق حق عام است پس محصول ګرفتن برآن حرام استف آری اګر این محصول ګیرنده عابارن رابچیزی مدد کند چنانکه در بعضی معابر کشتي مملوك مې باشد وبرآن کشتي سوار کرده مې ګزرانند، کرایه کشتي ګرتفن هم جائز ست، لیکن هر که بدون کشتي ګذر کردن خواهد بروجبر کردن حرام باشد. (تتمه اولی صـ۳۱۴).

## تحقیق جواز وعدم جواز طبق کردن نسخها وزائده سنګهائی کاپي صاحب فرمائش

**سوال**: (۳۸۹) په دې باره کې د شریعت څه حکم دی چه د یو کس چاپ خانه ده او هغه د نورو کتاب خرڅولو کتابونه اخلي او چاپ کوي ئې (په مزدورۍ باندې) د چاپ کولو نه وروستو د همدغه کتاب نه ۱۰۰۰ یا ۵۰۰ نسخې بغیر د اجازت نه خپل ځان لپاره خرڅوي د داسې کتابونو اخستل د کتابونو تاجرانو له د خبر په حالت کې څنګه دي او د ناخبرۍ په حالت کې څنګه دي؟ چاپ کونکی ترکومه حده مجرم دی؟

**جواب**: د قواعدو د مخې په دې کې تفصیل معلومیږي هغه دا چه که د معاملې داسې صورت شوی وي چه د چاپ خانې والا وویل چه مونږ به په دومره قیمت تاته دومره چاپ کتاونه درکړو نو دا استصناع ده او د فرمائش مطابق چه څومره کتابونه د فرمائش والا نه وکړه هغه به د هغه ملکیت وي او باقي ټول سامان د چاپ ځای والا ملکیت دی. په هغې کې چه څنګه وغواړي تصرف وکړي په دې تصرف کې دا هم داخل دي چه د فرمائش والا د اجازت نه بغیر څومره چه وغواړي د ځان لپاره چاپ کړي بلکه دا شرط چه نور کتابونه نه چاپ کوي د قاعدې د مخې د عقد فاسدونکې دي. البته که دې کار سره د فرمائش والا تاوان وي نو د بلې قاعدې په بنا یو کس له په خپل ملکیت کې هم داسې تصرف جائز نه دی په کوم سره چه د نورو ته ضرر ورسیږي بلکه په خپل دیوال کې کړکۍ خلاصول د کوم سره چه د ګاونډي بې پردې والی متوقع وي فقهاو ورته منع ویلي دي او ختمولی شي نو په دې صورت کې چه د کاپي رنګ څومره کاني باندې لړیدلی وي هغه د فرمائش والا ملکیت دی د هغې نه د مالك د اجارې نه بغیر فائده اخستل جائز نه دي که په دې صورت کې ئې چاپ کړي نو ګناهګار به وي مګر په دې باندې چونکه نور څه هم رابنکل کیږي نو صرف د فائدې اخستلو ګناه به وي لیکن په دې کتابونو کې څه خبث نه راځي، په دې کې د هغه ملکیت هم پاك دی او بل اخستونکي له ئې اخستل هم صحیح دي. البته د دې اخستل په لړې درجه کې د اعانت سبب دی د مطبع والانو ځکه نه اخستل ئې اولی دي، والله اعلم. ۲۷ محرم ۱۳۳۲ھ. (حوادث ۲۰۱ ص۱۲۸).

## حکم اجاره نقل نویسي

**سوال**: (۳۹۰) د سلام نه بعد عرض دا دی چه د کچهري ملازمین چه نقل کولو باندې مامور دي د هغوئ دغه ملازمت جائز دی او که نه؟ دومره خبره ضرور د لیکلو قابل ده چه بعضې نقل کولو کې د سود ذکر وي او بعضو کې نه. او ټولو سودي او غیر سودي نقلونه غوښتونکو ته ورکول کیږي که دا ملازمت جائز نه وي نو کوم شرعي طریقه د جائز کیدو ولیکئ په کوم کې چه د نقل کولو جواز او د تنخواه صحیح کیدل وي؟

**جواب**: د سودي مضمون د غوښتونکي لپاره رانقلول دا د سود مدد دی دا خو ناجائزه ده "الا لمن لم يكن مخاطبا بحرمته" لیکن د دې کار د یوې فقهي قاعدې په بنا تنخواه حلاله ده. "وهي اباحة مال غير المسلم والذمي برضاه في غير دار الاسلام". یکم ربیع الاول ۱۳۳۲ھ (حوادث ۲۰۱ ص۱۳۳).



## حرام بودن اجرت کار حرام

**سوال**: (۳۹۱) آسام ملك کې یوځای دی چه چاي په کې کرل کیږي په زرګونو مزدوران هلته کار کوي او د هغه ځای آب و هوا په بعضو ښه راځي او بعضو نه. او مزدوري هم په بعضو باغونو کې د کار کولو لپاره کافي وي او د بعضو لپاره نه. روپۍ چه کله هلته ورسیږي نو د ارام او راحت نومې کوم څیز نه پیژني ددوطنۍ نه کار اخستلو کې هغه شان کار اخستل کیږي چه دوي ئې برداشت کولی‌نه شي د دې تکلیفونو نه د مجبوریدو سره هغوئ خپل وطن ته ستنیدل غواړي مګر د افسر د اجازت نه بغیر نه شي تللی چونکه د دوئ سره د ۵ کالو معاهده شوې وي او د مزدورانو لیږلو لپاره هلته یو کس مقرر دی دا خلك مزدورانو ته ډیر لوي امیدونه ورکړي او د معاش د ښه کیدو وعده ورسره کوي او هلته ئې لیږي او لځو د هغه ځایٔ آب وهوا په بعضې خلکو موافق نه راځي دویم څومره چه ورته ویل شوي وي هلته ورته روزانه هومره نه ورکول کیږي بلکه ضروري اخراجات هم نه پوره کیږي. دریم د کار سختي ډیره د حد نه زیاته ده. څلورم په ۵ کالو کې خپل وطن ته هم نه شي راتللی د دې مصیبتونو نه اکثره خلك مړه شي او ژوندي څوك هم نه راځي. که څومره راغلئ نو هغه هم داسې چه آب وهوا ورسره ښه رویه وکړه دا هم د نورو تکلیفونو په وجه په عذاب کې وي هغه خلك چه مزدوران کیږي هغوئ دوئ د اصلي حالت نه نه خبروي او که داسې ئې کړي وي نو یو تن به هم نه وو تللی او لیږونکو ته ټول کیفیت معلوم وي مګر د کار چلولو لپاره په هغې باندې پرده اچوي. مزدورانو ته ښنه باغونه او خوبونه وښائي او مزدور څه روپۍ رالیږلو کې د خپل مساعي معاوضه اخلي ګویا چه هغوئ کسب مقرر کړی دی داسې قسم روزي جائزه ده او که نه؟

**جواب**: بالکل حرامه ده. مسلمان څه بلکه کافر ته هم دوکه ورکول حرام دي او د داسې کار تنخواه هم حرامه ده. ۹ جمادی الاولی ۱۳۳۲ھ، (حوادث ۲۰۱ ص۱۴۰).

## حکم ملازمت رجسټري نکاح وغیره

**سوال**: (۳۹۲) "ما قول العلماء رحمهم الله تعالی" اندرین مسئلهٔ مسلمان رجسټرار یعني قاضي که برائی رجسټري نکاح وطلاق از جانب ګورنمنټ مقرر است زمام اختیار انصرام کار رجسټري بدست ایشان تفویض است لکن ایشان را از وظیفه سرکار ګورنمنټ نصیبی نیست، وهر جیکه از بهی وکاغذات رجسټري ګورنمنټ مسلمان رجسټرار تائید نمایند آن هم بقیمت است مفت نیست واجرت مسلمان رجسټر بذمه آن کسان است که مستدعي

رجسټري بينه نكاح يا طلاق باشد ليكن اختيار تقرر مقدار اجرت ګورنمنټ بدست مسلمان رجسټرار ومستاجر يعنی مستدعي رجسټري نه سپردند بلكه قانونی نهاده اند كه اګر رجسټري با فيس قاضي شود رجسټري في زائد از يك روپيه نيست، اګر بيرون آفس بحسب استدعا مستدعيان رجسټري شود علاوه رجسټري في سه روپيه كميشن في وبر تقدير بعد مسافت في ميل سه آنه راخرچ مستحق باشد پس همدرين صورت اولا اختيار اين عهده جائز باشد يا نه؟ بر تقدير جواز مسلمان رجسټرار به تقرر مقدار اجرات بمقابل قانون ګورنمنټ مختار است وزائد از معينه ګورنمنټ ګرفتن تواند يا نه ونيز مسلمان رجسټرار اګر بحسب درخواست بخانه داعي آمده بجهت پيش آمدن امری كه مخالفت قانون باشد بانصرام رجسټري قاصر آيد پس درين صورت مسلمان رجسټرار را خرچ وكميشن وفي ګرفتن، بينوا توجروا؟

**جواب**: "فی الدر المختار وينصب قاسم يرزق من بيت المال الی قوله وان نصب باجر المثل يصرح لانها ليست بقضاء حقيقة فجاز له اخذ الاجرة عليها وان لم يجز علی القضاء ثم قال ولا يتعين واحد لها ليلا يتحكم بالزيادة ولا يشترك التام تواطيهم". كلام درين مسئله در چنده جاست اول خود اين عمل رجسټري جائز است يا نه، جواب آن كه رجسټري توثيق است عقد راپس در جواز وعدم جواز تابع عقد است اګر عقد جائز است رجسټري اش جائز است، دوم آنكه اجرت ګرفتن برآن جائز است يا نه، جواب آنكه حقيقتش كتابت شهادت است، پس شهادت اګرچه طاعت واجب است لكن كتابتش واجب نيست، اجرت برآن جائز است. "وصرح الفقهاء بجواز اخذ الاجرة علی الكتابة". سوم آن كه اين اجرت ګرفتن از اهل معامله يعنی هر كه رجسټري خواهد جائزاست يا نه؟ جواب آن كه جائز ست، نظير آن اجرت ګرفتن قاسم است از طالبان قسمت وروايت صدر برائی اثبات همين نظير نقل كرده شد چهارم آن كه برائی اين عرض يك كس رامعين كردن جائز است يا نه؟ جوابش آنكه اګرچه ظاهرا وقياسا علی القاسم اين ممنوع مي نمايد ليكن چون علت منع يعني لئلا تهيكم بالزيادة درين يافته نمې شد پس لاباس به است پنجم آنكه اجرت از ګورنمنټ معين شده جائز ست يا نه جوابش آن كه اين هم ظاهرا جائز نباشد، "مما فيه من التسعير المنهی عنه لكن" بنظر غائر چون مقصود ازان نهي از زائد ګرفتن است نه كه نهي از كم كردن زيرا كه اختيار است، لهذا اين هم لاباس به است، ششم آنكه اګر بعارض رجسټري نشود اجرت ګرفتن جائز است يا نه، جوابش آنكه اين فيس چنانچه بمقابله كتابت است نيز در حالت سفر بمقابله مشقت سفر است، پس هر ګاه كه سفر



كرد ومانع از رجسټرار ظاهر نشد فيس ګرفتن جائز باشد، هفتم آن كه زائد از فيس مقرر مي توان ګرفت، يا نه جوابش آن كه نی. "لانه تحكم بالزيادة بغير رضاء العاقد وهو حرام بخلاف المعروف لانه كالمشروط وقد رضی بحيث دعا فافهم والله اعلم". ۲۴ جمادی الثانيه ۱۳۳۲ه (حوادث ۱ ۲۰ ص ۱۴۲).

## د كهاتې په نقلولو د پټواريانو مزدوري

**سوال**: (۳۹۳) پټواري ته د سركار د طرف نه حكم وي چه د جمع بندئ نقل كوم چه زميندار اخلي د هغې مزدوري د ۲ كهاتې نه ۸ كهاتې پورې كه د دې نه زيات وي نو ۲ پيسې في كهاته حساب سره دې واخستل شي د پټواريانو دا طريقه ده چاته د يوې كهاتې نقلول وركړی شي د هغه نه هم يوه روپۍ او د چا چه زيات وي مثلا ۲۰ د هغه نه هم يوه روپۍ اخلي. همداسې خپل كموالی او زياتوالی پوره كوي آيا د شريعت د مخې داسې كول جائز دي او كه نه؟ او كه د كافرو نه كه زيات اجرت واخستل شي نو دې كې څه حكم دی؟

**جواب**: په دواړو صورتونو كې نقل كونكی كه په دې اجرت باندې راضي شي نو اخستل ئې جائز دي. "لان الامر الی المتعاقدين ولا يلزم التسعير". ۲۹ رمضان ۱۳۳۲ه، (حوادث ۱ ۲۰ ص ۱۵۱).

## توجيه وشرائط جواز پيشه وكالت

دا مسئله په همدې عنوان سره په كتاب الوكاله كي ليكل شوې ده.

## فيس داخله وخارجه وتنخواه كامل باوجود ناقص بودن مدت

**سوال**: (۳۹٤) په بنګال كې دا دستور دی چه كله طالب علم په مدرسه كې داخل شي نو د هغه د داخلې فيس نه علاوه مشاهره هم اخستل كيږي او هغه هم كه د هغه مياشتې يوه ورځ هم تيره شوې وي بيا هم پوره اخستل كيږي كه بل ځاي ته كوم طالب علم تلل وغواړي نو كه په يوه مياشت باندې كه يوه ورځ هم اوړيدلې وي نو پوره مشاهره اخستل كيږي او د دې نه علاوه او خارجه فيس هم اخستل كيږي اوس دا فيس او مشاهره دواړه فيسونه اخستل جائز دي او كه نه؟

**جواب**: په دې تاويل سره ټول جائز دي كه چه كه د عقد په وخت وويل شي چه كه دومره كار وكړو نو بيا به هم دومره مزدوري اخلو او كه كم وكړو نو بيا به هم دومره مزدوري اخلو. ۹ شوال ۱۳۳۲ه، (حوادث ۱ ۲۰ ص ۱۵۵).

## استیفاء حق خود بابت عدم واپسي قیمت ټکټ زائد از مالك جهاز

**سوال** :(۳۹۵)په لوګي والا جهاز کې یو کس سور شو چه د یوې کمپنۍ دی او حکومت نه اخستلو نه بعد دهغه دوست راغی او هغه هم ځان له خپل ټکټ اخستلی وو نو ځکه یو ټکټ زیات شو ټکټ والاته وویل شو چه یو واپس واخله دا زیات شو نو هغه وانخستلو نو دا کس غواړي چه خپل حق وصول کړي وصولولی ئې شي او که نه؟

**جواب**: کولی ئې شي. (حوادث ۲۰۱ ص۱۶۱).

## در صورت بالا صاحب حق را کرایه واجب جهاز دادن

**سوال** :(۳۹۶) د بل کس نه په هیره په جهاز کې محصول وانخستل شو هغه کس د آخرت د ویرې نه غواړي چه ټکټ واخلي او لاړ نه شي او همداسې مالك ته د هغه د محصول حق ورسوي دا مسئله د اول حق والا واوریده او ویې ویل چه وروه محصول ماله راکړه ځکه چه زما په کمپنۍ باندې دي او د اولې مسئلې تفصیل ئې بیان کړو اوس دا کس تپوس کوي چه که د محصول کمپنۍ ته دغه روپۍ ورنکړي او دغه غوښتونکي ته ئې ورکړي نو هغه بري الذمه کیدی شي او که نه؟

**جواب**: نه. ۱۶ ذی الحجه ۱۹۳۲ (حوادث ص۱۶۲).

## اجرت بر رقیه خصوص مقتدایان را

**سوال** :(۳۹۷)زما خوا ته بعضې خلك د تعویذ کولو لپاره راځي نو دهغوئ حاجت اوریدو مطابق کوم الهي اسم یا آیات لیکل کیږي یا بالعموم سورة فاتحه لیکم او ورکوم ئې چه دا ووینځه او ویې څکه اکثر ئې د ۲۱ ورځو لپاره ورکوم او یوه روپۍ څلو رآنې څه چه مناسب وي هغه اخلم دا صحیح ده او که نه؟ زه دا ګورم چه اکثره شفا وربه برخه کیږي؟

**جواب**: د شفا نه وړاندې اخستلو کې خو بدنامي ده کوم چه د عوامو دین ته ضرر کوي او د شفا نه بعد اخستلو کې خو څه محذور نشته لیکن د مقتدیانو لپاره څه نامناسبه معلومیږي نو ترڅو پورې چې سخت حاجت وي ځان ساتل اولی دي. ۱۲ شعبان ۱۳۳۳ھ. (تتمه ثالثه ص۶۳).

## حکم مني آرډر ورفع بعض شبهات

دا مسئله په همدې عنوان سره کتاب الربوا کې تیره شوې ده.



## جواز ضیافت خاطبین

**سوال** :(۳۹۸)کوم کسان چه د لرو لرو ځایونو نه د جینۍ کوژدن له راشي کله چه خبرې شروع شي او کوژدې مشروع کیدو سره په دې وجه چه دا خلك د لرې نه راغلي دي د میلمستوب په طور هغوئ له یو نیم ځل دعوت ورکول کیږي نو دا د انساني همدردۍ او مروت نه لرې نه ده که دعوت ورکړی شي نو څه شرعي قباحت خو نشته دی او که د کوژدې نه وروستو دعوت ورکول شرعا صحیح وي نو د کوژدې نه دې وړاندې ورکړی شي نو دا به جائزه وي او که نه؟ څنګه چه حکم وي هغه شان به عمل کیږي؟

**جواب**: په ذکر شوي نیت سره دواړه حالتونه صحیح دي. د کوژدې نه وړاندې هم او وروستو هم. ۳ جمادی الثانیه ۱۳۳۴ھ. (تتمه رابعه ص ۳۹).

## حق کارنده

**سوال** :(۳۹۹) د ځمکې د تبادلې په وخت یا د کارندې د تحصیل وصولولو په وخت چه کومه نذرانه د کروندګرو د طرف نه د زمیندار په علم د نورو صفونو په شان ورکول کیږي دا جائزه ده او که نه؟

**جواب**: جائزه ده. (حوادث ۲۰۱ ص۹۹).

ایضاً

**سوال** :(۴۰۰)د مالك سره ئې کار کونکي ته هم ملاویږي دا جائزه ده او که نه؟

جوا: د مالك په رضا جائزه ده. (حوادث ۲۰۱ ص۲۹۹).

## کرایه از رعایا

**سوال** :(۴۰۱)که پخپله ځمکه کې چا ته د اوسیدو حق ورکړی شي نو د هغې قیمت اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: جائزه ده کوم چه شرعي کرایه وګرځول شي. (حوادث ۲۰۱ ص۹۹).

## اشیاء متفرقه متعینه گرفتن زمینداران

**سوال**:(۴۰۲) دا هم قانون دی چه د نغد ټیکس نه علاوه د یو ځلي ځمکې خیرولو په بدل کې کروندګر په اجاره کې یو پوخ من بوس وغیره او نور څیزونه په فصل کې اخلي دا ټول د زمینداریٔ د حقوق په نوم موسوم دي؟

**جواب**: دا ټول جائز دي د معین کیدو د وجې نه. ۲۶ شوال ۱۳۳۳ھ، (حوادث ثالث ص۱۵۸).

## بعض حقوق زمینداري واشتراط

**سوال**:(۴۰۳)زید خپل جائیداد عمرو ته د وقف د روپو د فائدې په بدل کې په سل روپو ټیکه ورکړی او دا ئې هم پرې شرط کړي چه د دې سره به بوس او تانتې هم راکوي او کله چه ګنی وشي نو یو ګاړی ګوړه دا به د نغدو نه علاوه وي څومره څیزونه چه بره ذکر شول د دې نوم حقوق زمینداریٔ دی نو دا ټیکه جائزه ده او که نه؟ بل دا چه دا جائیداد اوس زید مدرسې ته داسې وقف کړی دی چه د دې نغدې روپیٔ به صرف په مدرسه کې مصرفیږي او د نغدو نه علاوه نور څیزونه به همغه شان زه اخلم نو دا جائزه ده او که نه؟ د دې یو صورت دا هم دی چه وقف کونکی پخپله د جائیداد متولي دی د وقف په وخت هغه دا تعین کړی دی چه دې جائیداد نه چه کوم آمدن نغد وي هغه به په مدرسه کې مصرفیږي او د دې نه علاوه کوم چه نور د زمینداریٔ ذکر شوي حقوق دي هغه به د متولي په تصرف کې وي نو د دې څه حکم دی؟

**جواب**: "فی هدایة واذا قال للخیاطان خطت هذا الثوب فارسیاً فبدرهم وان خطه رومیا فبدرهمین جازوای عمل من هذین العملین فعل استحق الاجریه الخ ص۲۹۴ ج۲". په همدې قیاس سره دې شرط چه کوم کال چه ګنی وشي الخ. دا معنی به وي چه په دې خاص صورت کې د مزدوریٔ بل مقام دی او په دې خاص صورت په غیر کې چه څومره اجرت او اندازه وي نو دا به جائزه وي او نور شرائط بغیر د تکلف نه جائز دي او چونکه وقف کونکي له د وقف منافع تر ژوند پورې ځان له ګرځول هم جائز دي نو د بعضې منافعو خو په درجه اولی جائز دي. ا ربیع الاول/ ۱۳۳۴ھ/ تتمه رابعه/ ص ۲۰]



## حقوق زمینداري بذمه کاشتکار

**سوال**:(۴۰۵) ابواب او زمینداري حقوق او کروندګرو نه غله اخلي هغوئ د بازار د نرخ نه یو سیر زیات اخلي او که دانه بندي کولو سره خو خپل حق د غلې د هغوئ نه قیمت اخلي نو د بازار د نرخ نه ئې یو سیر کم اخلي یا د چیلو څرولو په باره کې ئې اخلي یا زیړ غوړي د کروندګر په ذمه مقرر دي یا نور حقوق دي ایا هغه جائز دي او که نه؟

**جواب**: کوم څه چه زمیندارانو په کروندګرو مقرر کړی دی که د ځمکې د اجرت نه غلا وي مثلاً د چیلو څرولو وي نو د هغې په منع کیدو کې خو څه شك نشته."قال الله تعالی: ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل. الآیة". "وقال رسول الله ﷺ: الناس شرکاء فی ثلاث فی الماء والکلاء والنار (الحدیث) وتحقیقه فی موضعه". او که داحقوق د ځمکې په اجرت کې داخل دي نو د اجرت معلوم او تعینیږي او د عقد په وخت د هغې تصریح کول ضرور دي. "ولا یصح (ای الاجرة) حتی تکون المنافع معلومة والاجرة معلومة هدایه". نو په دې حقوقو کې چه کوم غیر متعین دي یا د اجرت قابل نه دي لکه د کروندګر نه یو سیر غله زیاته اخستل یا خپله کمول او ورکول "علی هذا القیاس" دا هم جائزه نه ده اګر که شرط ئې کړي بلکه شرط کولو سره به اجاره هم فاسده شي او کوم حقوق چه متعین وي مثلاً مونږ به زیړ غوړي دومره اخلو نو دا حقوق که د عقد لیکلو په وخت صراحةً وویل شي او وې لیکي او پرې راضي شي نو جائز دي. لقوله تعالی: "الاان تکون تجارة عن تراض منکم". کنه نو جایزه نه ده؛ والله تعالی اعلم. (امداد ص۷۳ ج۳).

## صله کسی که دیگری رابجائی خود نوکر نهد

**سوال**:(۴۰۶)شخصی نوکري خود را استعفا دا ده دیګر را بجائی خود قائم مقام نمود آن شخص دیګر بدین احسان اورا روپیه داد آن روپیه برائی مستعفي رشوت شود یا چه؟

**جواب**: اګر این چنین تبرع مشروط یا معروف نباشد رشوت نیست وګرنه رشوت وحرام است. ۲۱ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ، (تتمه رابعه ص۱۸).

## تدبیر ادا کردن تنخواه ایا غیر حاضري

**سوال**:(۴۰۷) خادم د کلي په سرکاري مدسه کې نائب مدرس دی او د کلي نه پنځه میله لرې اوسیږم د چهټیانو ورځو کې کور ته لاړم نو د کور کارونو او باران د وجې نه یوه ورځ د چهټیٔ زیاته تیره شوه کله چه یو ورځ غیر حاضر شوم نو هیډ مدرس راته په خوله وویل او

پوهه ئې کړم چه د آئنده نه غیر حاضري نه دي کول پکار لیکن د غیر حاضرئ رپورټ نه موصوف مدرسې دفتر نه وکړو او نه تراوسه پورې چا تفتیش وکړو اوس مې په زړه کې خیال راغلو چه د غیر حاضرئ د ورځي تنخواه په خپل مصرف کې نه دي راوړل پکار بیا باید څه وکړی شي تنخواه ۲۰ روپئ ملاویږي؟

**جواب**: کله داسې وکړي چه څو ورځې رخصت واخلي او یوه ورځ وړاندې حاضر او کار وکړي او هغه د رخصت په ورقو کې لیکل پریږدئ. ۶ جمادی الاول ۱۳۴۲ھ. (تتمه خامسه ص۲۶۹).

## عدم جواز فضل منافع دلالی را

**سوال**:(۴۰۸) څو بیوپاریانو یو بیوپاري ته مال ولیږلو چه دا خرځ کړه په پنځه روپئ من حساب سره او روپئ مونږ ته راولیږه. بیوپاري په ۱۶ روپئ خرځ کړو او ۵ روپئ ئې راولیږلې او زیاته روپئ ئې ځان له واخستله د دې کار نه مالکان هم خبر شول او راضي شول ځکه چه اصل قیمت مونږ له په لاس راغی او هغه ځان له حق المحنت وساتلو نو که یو کس همیشه لپاره داسې وکړي نو شرعاً جائزه ده او که نه؟

**جواب**: دا مال چه په ۶ روپئ خرځ شوی دی دا ټولي روپئ د مالکانو حق دی ځکه چه د هغوئ د مال بدل دی په دې کې مذکور بیوپاري له یوه روپئ في من ساتل جائز نه دي او که مالکان خبر او هغوئ ئې معاف کړي نو د معاف کیدو سره به حلال شي که مالکان خبر نه شي یا ئې معاف نه کړي نو حرامې دي. "قال الله تعالی: ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل الا ان تکون تجارة عن تراض منکم،الآیة فقط". ۵ ربیع الثاني ۱۳۰۱ھ، (امداد ص۲۶ ج۳).

## د اسټامپ انسپکټر ملازمت جائز دی

**سوال**:(۴۰۹) د انسپکټر فرائض دا دي چه د ټولې صوبې دوره به کوي او د هر عدالت دیواني وکلکټري او سرکاري دفترونو معائنه به کوي او دا به ګوري چه په دیواني مقدماتو او درخواسونو کې فیس پوره ادا کړی شوی دی او که نه؟ که کم وي نو رپورټ به ورکوي چه عدالت یا متعلقه دفتر نه وصول کړی شي؟

**جواب**: په حقیقت کې دا د سټامپ امانت دی او جواز او عدم جواز هم د دې تابع دی اوس د تحقیق قابل د سټامپ حکم دی نو عقد کولو سره به دې کې د ګنجائش دا توجیه کیدی شي، چه د مقدماتو په فیصله وغیره کې چه کومه عمله خرچ کیږي هغه د مقدمې والا نه د



عمل په عوض سره د کوم فائده چه د مقدمې والا ته رسیږي وصول او د عملې په تنخواه وغیره کې مصرفیږي.

ګویا د سټامپ قیمت کوم چه د احد الفریقین نه وصولیږي هغه معاوضه او اجرت دی د هغه کار کوم چه د عملې په واسطه د دې فریق کار کوي بیا عدالت عملې ته د دوئ د کار عوض او اجرت ورکوي لکه مني آرډر یا ټکټ قیمت چه د ډاکخانې والائې د اجرت په طور اخلي او بیا عملې ته د هغوئ اجرت ورکوي په دې توجیه سره کله چه سټامپ کې د جواز ګنجائش شته دی نو د سټامپ په انسپکټرئ کې هم داسې ګنجائش شته دی او په هر حال کې د منصفي نه غنیمت دی. ۱۶ ربیع الاول ۱۳۵۵ھ (النور ص۳۰ ذیقعده ۵۵ھ).

## د سرکاري ناجائز ملازمت حکم

**سوال**:(۴۱۰)د یوې مسئلې تپوس مې د ډیرو ورځو نه کولو تراوسه پورې په ژبه هم موقع ملاو نه شوه هغه دا چه عدالتي عهدې تنخواه دار وي مثلاً سب ججی، منصفی، ډپټي کلکټري، تحصیلداري، که بغیر د تنخواه نه دي مثلاً آنریري وغیره مجسټریټي چه د غیر مسلم د حکومت لاندې وي قبوله کړي کوم ځاي کې به چه خامخا غیر اسلامي فیصلې کیږي نو دا تر کومه حده پورې جائزه دي په ظاهر کې خو د عدم جواز صورت معلومیږي لیکن ه دا عهدې قبولې نه کړی شي نو د اسلامي امت نور مصالح فوت کیږي ستاسو په کوم تحریر کې مې دا خبره په کوم باب کې نه ده لیدلې کنه نو د جدا تپوس کولو ضرورت به ئې نه وو؟

**جواب**: ما د دې متعلق لیکلي خو دي مګر اوس ئې ماته ځاي یاد نه دی نو اوس مې چه څه په ذهن کي دي مختصر ئې لیکم او هغه دا دي چه بعضې کارونه داسې دي چه شرعي کلي قانون سره حرام دي لیکن ضرورت کې شرعا د دې اجازت ورکول کیږي که نصا وي او که اجتهادا لکه د کل میته تناول خمر مخمصة یااکراه مخمصة کہاساعی لقمه غاصه لکاره داسې کارونوکې که اقتضادقواعدمناسب مسپول عنهاهم داخلئدی شئ اګر چه کوم جز ئې نقل دی وخت کې زما د نظر نه نه دي تیر شوي مګر د کلیاتو په لیدو سره تمسك ممکن دی او د دې مثال فقهاو ذکر کړی دی. "دفع النایبة والظلم عن نفسه اولا قوله ویوجر من قام بتوزیعهم بالعدل وان کان الاخذ باطلا قوله ویوجر من قام بتوزیعها بالعدل ای بالمعادلة کما غیر فی القنیة ای بان یحمل کل واحد بقدر طاقته لانه لوترك توزیعها الی الظالم ربما یحمل بعضهم مالا یطیق فیصیر ظلما علی ظلم نفی قیام العارف بتوزیعها بالعدل تقلیل للظلم فلذا یوجر وهذا الیوم کالکبریت الاحمر بل هواندراه (درمختار

ورد المختار قبیل باب المصرف من کتاب الزکوة)". د دې نظیر کیدل ظاهر دي چه مقصود کافي نفسه غیر مشروع کیدل او د اهل سره کیدو کې د "اشد المفسدتین کما اخف المفسدتین" سره به لیدل په دواړو کې مشترك دي البته د ضرورت په وخت همدا خبره او ضروري او اهمه ده نو د دې تحقیق دا دی چه د ضرورت عرفي دوه قسمونه دي یو د منفعت حاصلول که دیني وي او که دنیوي که خپل وي او که پردي دویم ضرر لري که د دې تعمیم سره نو د منفعت حاصلولو لپاره خو د داسې افعالو اجازت نشته مثلاً صرف د قوت او لذت حاصلولو لپاره د دوائي استعمال، یا اجتماع لاستماع الوعظ لپاره د لهو د آلاتو استعمال او د ضرر لرې کولو دپاره اجازت دی کله چه هغه د صحیح قواعدو او د منصوصه یا اجتهاد په وجې سره ضررناك وي او شرعي ضرورت همدا دی مثلاً د مرض لرې کولو لپاره د حرامې دوا استعمال کله چه د بلې دوا نه فائده مندل کیدل په تجربې سره ثابت شوي وي ځکه چه د دې نه بغیر د ضرورت متحقق کیدل نه کیږي. او په ذکر شوي مسئله کې د ظلم لرې کول د ضرورت په وخت چه هغه هم د ظلم نه اخف دي اجازت ورکړی شو. نو همدا تفصیل په تپوس شوي واقع کې ګڼل پکار دي چه دا مَناصب في نفسه شرعا حرام دي د کوم وجه چه پخپله سوال کې هم د مذکور او اګرد عمل سره خاص د عقیدې فساد هم وي چه قانونئ حکم به د شرعي حکم په مقابله کې مستحسن او راجح وګڼل شي نو دا کفر دی د کوم بیان چه ما د قرآن د آیت "ومن لم یحکم بما انزل الله فاولیك هم الکفرون" په تفسیر کې کړی دي مګر دې وخت کې کلام په دې درجه کې دی چه صرف معصیت حرام دی نو د في نفسه حرامیدو نه بعد که دا د حلت منفعت مالیه یا د جاه په غرضي سره وي نو په یو حال کې هم جائز نه دي او که دوافع مضرت په غرض سره اختیار کړی شي چه مسلمانانو نه د کفارو د ظلمونو نه نجات ورکړی شي نو په دې صورت کې د جواز د حکم ګنجائش شته دی، والله اعلم.

نوټ: ما مسئله د کوم جزء ئې نقل نه نه ده لیکلئ ددلیل نه مي لیکلي کوم چه ددلزما اعتماد نه وي نو ځکه مناسب بلکه واجب دي چه د نورو محقیقینو علماو نه هم تپوس وکړی شي او اطمنان حاصل کړی شي او بیا هم د امام مالك قول بفعل ونستغفر دې معمول جوړ کړي. ۳ رمضان ۱۳۵۵هـ. (النور ص۷ ذیقعده ۱۳۵۶هـ)



## په څو ټکټونو کې د یو سامان په ریل کې وړل ناجائز دي

**سوال**: (۴۱۱) هغه بله ورځ چه کله فلانی صاحب د دې ځاي نه روان شو نو هغوئ د ګفتګو په سلسله ماته دا وویل چه ما سره اسباب ډیر زیات دی که د دې ځاي نه مې محصول کړی وی نو د قیام ځاي پورې به مې ډیر محصول ورکولو مګر اوس خو شپږ اووه کسان د دې ځاي نه ما سره سهانپور ته ځي نو هغه ځاي پورې به بغیر د محصول نه لاړ شي ځکه چه ۷،۶ ټکټونو نه زیات سامان نه دی. د سهانپور نه به ئې البته تلم او بیا به ئې وړم. ما ورته وویل چه د ۷،۶ کسانو نه څه مراد؟ سامان خو صرف ستا دی نو هغه وویل چه داسې وړل ئې جائز دي زما سره خو علم نه وو چه څه مې ویلی دی نو خاموش شوم مګر دا خبره مې په زړه ونه لګیده نه مې سینه پراخه شوه چونکه داسې واقعات د ډیرو خلکو سره پیښیږي او ممکنه ده چه ما سره پیښ شي نو په داسې حالت کې څه کول پکار دي؟

**جواب**: چونکه دا عقد اجاره دی نو ځکه د مالك د جائزه قانون خلاف کول نه دي پکار اوس دا کار د تحقیق قابل شو چه د قانون حاصل څه دی. نودغور کولو نه داسې معلومیږي چه قانون کې دا قید خو نشته دی چه هغه مال د همدغه مسافر وي نو ځکه که د مسافر متعلق دغه معلوم شي چه د کوم دوست مال وړي نو بیا به ئې هم کوم منتظم یا ذمه دار نه دروي لیکن دا قید ضرور معلومیږي چه هغه اسباب د هغه په تحویل کې وي. خلاصه دا چه ملك شرط نه دی مګر قبضه او نګراني شرط ده نو د دې مقتضا دا ده چه صرف د سفر معیت او د ټکټونو مبتدا او منشی کافي نه ده بلکه که اسباب ئې ټول داسې تقسیم کړل چه هر یو کس دې یوه یوه حصه د خپل سامان هومره په خپله نګرانئ کې واخلي نو دا صورت جائز دی او که نګراني د مالك وي نو جائزه نه ده. باقي که د کوم قانون دان نه د قانون نور تحقیق وکړی شي ممکنه ده چه د دې حاصل د هغې د مقتضی خلاف وي، والله اعلم. ۱۸ ذی الحجه ۱۳۵۵هـ (النور ربیع الاول ۱۳۵۷هـ ص۱۵)

## اجرت دهانیدن حاکم قاضي یا شاهدا ن را از فریقین

**سوال**: (۴۱۲) ګر سرکاری برضامندي فریقین عاملا را برائی فیصله شرعي منصف سازد واجرت از فریقین دهاند یا مسلمان را که عالم باشد منصف فریقین برائی تصفیه شان سازد واجرت از فریقین این منصف رادهاند یا فریقین خود یکی راحاکم سازد وچیزی

اجرت فیصله دهند گرفتن جائز ست وعلی هذا القیاس شاهدان را از مدعي خرچه وحرجه مي دهانند شاهدان را گرفتن جائز؟

جواب: اولا فقهاء رزق القاضي را جائز نوشته اند اگر این اجرت بقدر کفایت حوائج باشد داخل رزق القاضي ست درجوازش شبه نیست وهمچنین شاهدان رابقدر خرچه راه وخوراك سفر گرفتن جائز ست وزیاده ازین اجرت ست بر شهادت چون شهادت عبادت ست مثل قضا بران اجرت گرفتن جائز نباشد. ۷شعبان ۱۳۲۱ھ (امداد ج۳ ص۸۱).

## د طبیب او عطار ترمنځ د چهارم (څلورمې) معامله

سوال :(۴۱۳)د حکیم او عطار ترمنځ چه د څلورمې کومه معامله کیږي یعنې حکیم عطار ته داسې وائي چه کله مونږ تاسو ته څومره نسخې د مریض په ذریعه راولیږو د هغې نه چه کوم قیمت وصول شي څلورم ئې مونږ له راکوه، نو عطار چونکه دا تسلیموي نو اوس وفرمایئ چه دا څلورمه حصه عطار له ورکول او حکیم له ئې اخستل صحیح دي او که نه؟

جواب: صحیح نه دي. ۲۵ شعبان ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۲۰۱).

## د مقدمو فیسونه

سوال :(۴۱۴)د کور بعضې تعلقات.او بیا سرکاري هم څه تعلقات دي کوم چه حکومتي معامله ده د ۵ روپو پورې جرمانه کوي او یو شپه او ورځ قید کولو قدرت شته دی په دې کې چه هره مقدمه کې یوه روپۍ د فریادي نه اخستل کیږي کوم چه د سرکار حکم دی د دې شرعي حکم موله تاسو د مولوي محمد په ذریعې سره تپوس کړی وو تاسو لیکلي وو چه دا فیس او عهده په تاویل سره صحیح ده مگر تصریح مو نه وه کړې. مولوي محمد چه څومره پدې پوهه شوی وو هغه ئې بیان کړی لیکن که ستاسو له خوا نه د دې تاویل تصریح وکړی شي نو د اطمنان په صورتکې به دا عهده سر ته ورسول شي؟

جواب: هغه تاویل د نن فتوی یعنې ص۳۹۴ ص۳۸۰ کې لیکلې ده چه دا د نائب په واسطه استیلاء ده. ۲۵ ذیقعده ۱۳۳۰ھ (حوادث ۲۰۱ ص۱۱).



## د سور او مالک ترمنځ د تنخواه تقسیم

سوال :(۴۱۵) زما یو خپلوان زما داسې بار وړونکی دی او زه د هغه سلحدار یم یعنې زما اس ذاتي دی او هغه نوکري کونکي د سلحدار تنخواه ۶۲ مقرره ده او په هغې کې لس د معاوضې په طور د سرکار نه بارگر ته ورکول کیږي او باقي ماته اوس سوال دا دی‌چه زما بارگیر د مونځ او روژې پرینبودونکی، زناکار، نشهباز، ډیره وړه کونکی دی، ما هغه ته د ډیرې مودې نه ډیرې سزاګانې ورکړي او اقرار نامې مې ترې واخستلې چه آئنده به د دې څیزونو د مونځ وغیره خیال ساتم او اس به هم ښه ساتم او د سلحداري روپۍ به میاشت په میاشت لیکم وغیره الخ. لیکن هغه د ټولو اقرارونو خلاف وکړو او کوي ئې هغه په افعالو کې څه تغیر او تبدیلي نه ده راغلې بلکه نور هم په کې گرفتاریږي. اس ئې کمزوری کړی دی او زما روپۍ ئې وخوړې زما د هغه د برطرف کولو اراده ده لیکن زما مور چه زما د بارګیر نیا ده ترېنه ډیره خفه ده او بددعا کوي حضرت چونکه زما د دین او دنیا کې دي نو په دې حالاتو نظر کولو سره چه څه ارشاد وي په هغې به عمل کوم او نوره شکریه به هم ادا کوم او ستاسو احسانونو کې به ډوب یم؟

جواب: د دې نه پورته سوال چه کوم جواب لیکلی شوی دی په دې بنا باندې د دې تنخواه تقسیمیدو دا تاویل کیدی شي چه تنخواه خو ټوله د بارګیر حق دی هغه ستا داسې کرایه ده که دا تاویل د څه وجې نه ونه چلیدی شي نو دا معامله پخپله بالکل جائزه نه ده که کوم کار مانع د تاویل نه وي نو په دې صورت کې د دې بدو افعالو عذاب به په هغه بارګیر باندې وي. تاسو ولې پریشانه کیږئ البته که داسې د خوراوالي د وجې نه ئې موقوف کول غواړې نو جدا خبره ده او په دې صورت کې د مور اطاعت فرض نه دی ځکه چه د چارپائي حق تلف کول معصیت دی او لاطاعة للمخلوق في معصیة الخالق. ۲۳ جمادی الاخری ۱۳۳۱ھ، (حوادث ۲۰۱ ص۱۰۱).

## که کومه لفافه د بیرنگ کیدو نه بچ شي

سوال :(۴۱۶) که کومه لفافه د بیرنګ نه پاتې شي او قانونا د هغې بیرنګ کول پکار وو مثلا ټکټ پرې نه وو لګیدلی نو د هغه کس په ذمه باندې ټکټ تلف کول وو یا د یوې آنې؟

جواب: د اجارې عقد د کاتب او مرسل منعقد شوی دی اجرت د هغه په ذمه واجب نه چه د مکتوب الیه د هغې ادا کول نیابة او تبرعا وي او اجارة مختلفه باختلاف شروط جائز دي نو عدم تعجیل اجرت کې چه کومه آنه مقرره ده هغه د کاتب په ذمه واجب ده. ۲۵ شوال ۱۳۳۵ھ.

# کتاب الدعوی

## حکم دعوی اقارب بعد سکوت وقت بیع عقار

**سوال** :(۴۱۷) یو کس خپل موروثي د اوسیدو اوزراعي جائیداد خپلې حقیقي خور چه عمر ئې د ۳۲ کالو نه زیات او د بچو خاونده ده په موجودګئ او علم کې خپل یو رشته دار او ګاونډیو باندې خرخ کړو او د ۱۱ کالو نه زیات د هر مشتري په مالکانه تصرف کې مبیعه ځمکه په دې صورت کې راغله چه د اوسیدو په ځمکه باندې کورونه جوړ شو او په زراعتي ځمکه باندې ونې ولګیدې او د کر آمدن ئې وصول کړو بالفعل خرڅونکی مذکور جائیداد خپلې حقیقي خور ته د شرعي وراثت دعوه پرې وکړه او د تمادي قانون نه د محفوظیدو د وجې نه د خپلې خور مدعي په نسبت ۲۰ ساله او د خپلې مور د وفات موده ئې ۱۲ کالو کې بیان کړه حال دا چه د مدعیه عمر د ۳۲ کالو نه زیات دی او د مور ئې ۱۷ کالو نه زیات شوي دي چه وفات شوې مدعیه چونکه ددې هر څه او بیعې نه خبره ده نو تر یوې مودې پورې چپ پاتې کیدل د اقرار او اعتراف په منزله دي او که نه؟ خو روایاتو نه د استفادې په غرض سره لکیل شوي دي: "باع عقارا او امراته اوولده اوبعض اقاربه حاضر یعلم البیع ووقع التقابض بینهما وتصرف المشتری فی ذلك زمانا ثم ادعی من کان حاضرا عند البیع ان العقار له ولم یکن للبایع لا تسمع دعوی المدعی لان حضوره عند البیع وترك المنازعة اقرار منه انه ملك للبایع وقیل سکوته فی هذه الحالة کالافصاح بالقرار دلالة قطعا للاطباع الفاسدة لاهل العصر فیالاصرار بالناس وفی الجامع الصغیر سکوت المالك فی ما اذا باع رجل ملکه وهو حاضر لا یکون رضی بالبیع وهذا فی غیر الاقرب؛ خزانة المفتین". "باع شیئا وزوجته اوبعض اقاربه ساکت ثم ادعاه لا یسمع واختار القاضی فی فتاواه انه یسمع فی زوجة لا فی غیرها وایمة خوارزم ما ذکرناه بخلاف الاجنبی فان سکوته وقت البیع والتسلیم لا یکون رضی من البزازیة فی نکاح البکر السکوت کالایضاح فی ثلثین مسیلة مذکورة فی العمادیة وجامع الفصولین وغیرهما الاولی سکوت البکر عند تزویجها الثانیة والثالثة ان قال الثانیة والعشرون سکوت القریب عند بیع عقار بحضرة وکذا سکوت احد الزوجین الثالثة والعشرون سکوت من رای غیره یتصرف زمانا فی ملکه ثم ادعی انه ملکه الرابعة والعشرون سکوت المالك اذا رای غیره یبیع متاعه الخ کذا فی الفتاوی الظهیریة من الفوائد الزینیة لابن نجیم".

**جواب**: فی الشامیة عن الشباه (۲۴) سکوته عند بیع زوجة او قریبه عقارا اما اقرار بانه لیس له علی ما افتی به مشایخ سمرقند خلاف لمشایخ بخارا فالینظر المفتی ای لاختلاف التصحیح کما سیذکر الشارح لکن المتون علی الاول فقد مشی علیه فی الکنز والمنتقی اخر الکتاب فی مسایل شتی واحترز بالبیع عن نحو الاجارة والرهن



(۲۵) راه یبیع عرضا اودارا فتصرف فیه المشتری زمانا وهو ساکت تسقط دعواه ای ان الاجنبی کالجار مثلا لا یجعل سکوته مسقطا لدعواه بمجرد رویة البیع بل لابد من سکوته ایضا عند رویة تصرف المشتری فیه زرعا وبناء بخلاف الزوجة والقریب فان مجرد سکوته عند البیع یمنع دعواه اه وفیها ایضه عن البزازیة فی اخر الفصل الخامس عشر من کتاب الدعوی اذا باع عقارا او امراته اوولده حاضر ساکت الی ان قال بعد حکایة اختلاف الفتوی ما نصه وفی الفتاوی یتامل المفتی فی ذلك فان رای المدعی الساکت الحاضر ذا حیلة افتی بعدم السماع لکن الغالب علی اهل الزمان الفساد فلا یفتی الا بما اختاره ایمة خوارزم اه وفیها ایضا قلت لاکن لا یلزم من غلبة الفساد ان لا یوجد من یعلم حاله بالصلاح وعدم التزویر تامل اه".

د دې روایاتو نه څو امور معلوم شول:

۱_ دا حکم چه د بیعې په وخت د ښځې یا کوم عزیز نږدې سکوت کول ګویا چه دا د هغوئ اقرار او مبیع د بائع ملك دی دا اصل حکم نه دی بلکه معلل دی د علت سره چه قرینه تسلیمه ده.

۲_ دا چه مختلف فیه دي.

۳_ دا چه کومو کسانو چه د دې تصحیح کړې ده د عارض په وجه یعنې د زمانې د فساد غالبیدو د وجې نه ئې کړې دي.

۴_ چونکه فساد غالب دی نو ځکه مناسب په همدې باندې فتوا ورکول دي.

۵_ دا چه که قوي قرائنو سره د مدعي صلاحیت معلوم شي او په دې به فتوا نه وي زه وایم چه د مذکورو پنځو امورونو نه دا خبره ثابته شوه چه که مشتري ته د قرائنو او د زړه د شهادت نه معلومه شي چه د هغه سکوت د بیعې په وخت د کوم لحاظ او دباو د وجې نه وو د اجازت او اذن د هغې په خاطر کې نه وو نو په دغه صورت کې به اخستونکي له د هغې حق نیول حلال نه وي او که حق ئې ثابت نه شي نو په دغه صورت کې به د هغې سکوت ګویا اقرار بملك بائع نه وي مګر اجازت بیع الفضولي به وي کوم چه موجب نفاذ بیع او د مدعي د حق قاطع دی دې تفصیل سره د سوال د ټولو شقونو جواب وشو. فقط والله اعلم. ۱۴ جمادی الاولی ۱۳۲۱هـ (امداد ج۳ ص۲).

## د بل په نوم کولو سره د یو څیز د ملکیت نه نه وتل

**سوال** :(۴۱۸) په دې مسئله کې علماء څه فرمائي چه عمرو د وخت د حاکم د بغاوت د وجې خپل جائیداد د محفوظ کولو لپاره د خپل حقیقي وراره په نوم کړل او همیشه لپاره هغه جائیداد د عمرو په تصرف او قبضه کې وو او د زید مالکانه قبضه کله هم په هغې نه وه شوې اوس زید د عمرو د وفات نه بعد چه خپل جائیداد ئې د عمرو په نوم کړی وو د خپل

جائیداد د عمرو د وارثانو نه غوښتنه کوي نو په دې صورت کې د هغه ملکیت کیدی شي او که نه؟ او دا دعوه د هغه صحیح او درسته ده او که نه؟

**جواب**: په دې صورت کې عمرو د جائیداد د محفوظولو لپاره حیله کړې ده نو زید د دې جائیداد مالك کیدی نه شي ځکه چه نه خو د حاکم استیلاء په دې جائیداد باندې شوې ده چه داسې ووایو چه د حاکم د طرف نه د زیذ ملکیت شو او نه د زید قبضه په دې جائیداد باندې د مالکانو په شان ده نو د زیددعوه غلطه ده او هغه جائیداد د عمرو د وارثانو دی، فقط. (امداد ج۳ ص۷۶).

ایضاً

## مثل بالا

**سوال**: (٤١٩)علماء په دې باره کې څه فرمائي چه یو تن چه څه نغدې او جنس د خپل تجارت وغیره نه په لاس راوړي هغه د حفاظت په غرض سره خپلې ښځې ته ورکړي یا کوم جائیداد د حفاظت لپاره په خپلو روپو واخلي او په بیع نامه کې د ښځې نوم ولیکي او د هغه جائیداد آمدن هم په خپل کور کې مصرف کړي او کله چه ښځه وفات شي نو هغه خاوند ئې په خپل تصرف کې واخلي نو اوس ئې د هغه ښځې ځوي چه ترې پیدا شوی وو د خپلې مور ترکه ګڼي او د پلار نه ئې غواړي او د خاوند توب حصه ۱/۴ ورکوي لهذا دغه جائیداد شرعا د دې سړي دی او که ښځې؟ او د ښځې مهر ادا شوی وو په دې کې څه جګړه نشته دی؟

**جواب**: که واقعه د سوال مطابق وي نو د ښځې په حق کې کوم امر د ملکیت د اسبابو نه نه دی موندل شوی یعنې هغه نه مشتري دی اصالة یا وکالة او نه دا ده چه خاوند د فضولي په طور اشتراء باندې د هغه د طرف نه اخستلې وي هغه د خپل طرف نه جائز کړی وي که بیا ئې قیمت پخپله ورکولو یا تبرعا بل چا ورکړی وو او نه د خاوند د طرف نه کومه صیغه د هبې موندل شوې ده او نه د خاوند د طرف نه څه اقرار چه دا جائیداد د ښځې ملکیت دی او دا د ملکیت اسباب په دې صورت کې کیدی شي کوم چه منتفي نه دی نو جائیداد د خاوند ملکیت دی د ښځې نه البته که د مذکور اسبابو نه کوم امر د خاوند په اقرار یا د ښځې ورثه و ته بینه ګواه ثابت شي نو په دغه وخت کې جائیداد د ښځې ملکیت دی او میراث به جاري کیږي. "وهذا کله ظاهر والله تعالی اعلم". ۱۷ جمادی الاخری ۱۳۲۵ هـ، (امداد ج۳ ص۷۶).



## حق خود گرفتن بحیله از غیر جنس

**سوال**: (٤٢٠) په دې مسئله کې علماء څه فرمائي چه زید بکر ته وویل چه فلانۍ ځمکه زما د نیکه وه او ستا نیکه په زوره خپل تصرف او قبضه کې راوړې وه او څه غله ئې مقرره کړې وه هغه هم ملاویده اوس د ۴۰، ۴۵ کالو نه هغه هم نه ده راکړل شوې بکر جواب ورکړو چه د دې مال ماته بالکل پته نه ده نه ما د خپلو موروثو نه اخستلې وو نه مو کوم کاغذ داسې لیدلی وو او نه د چا نه ثابت شو او د موروث په ژوند کې ئې څه دعوه ونه کړه او په دې زمانه کې د بکر د نیکه جائیداد په ورثه و تقسیم شوی وو مګر دزید دعوه صرف بکر رسره ده په دې بنیاد باندې که د فریب او دروغو په مقدمه باندې په عدالت کې ثابته او پیسې ترې وصول کړي نو جائزه ده او که نه، فقط؟ ظهیر الدین از انبهټه.

**جواب**: که زید په دې دعوه کې رشتینې وي نو په کوم حالت کې چه ځمکه په ټولو وارثانو تقسیم شوې وي صرف په بکر باندې دعوه کول جائز نه دي مدعا علیهم ټول دي. د ټولو دعوه کولو سره اول که په کوم طور سره ممکن وي نو هغه ځمکه دې واخلي او که نه کیږي نو د دروغو مقدمه جوړول او روپۍ وصول جائز نه دي او که د خپلې حق په اندازه روپۍ د ورثه و نه واخلي یا پټې کړي یا ئې کومې حیلې سره واخلي مثلا د قرض په بهانه ئې واخلي او بیا ئې ورنکړي نو جائزه ده. یعنې خومره خومره چه د وارثانو سره دي د هغه د قیمت په اندازه دې ترې واخلي مګر احتیاط کول یعنې روپۍ نه اخستل بهتر دي. ځکه چه د حق والا د جنس نه بغیر بل څه اخستل مختلف فیه دي."فی کتاب الحجر من الشامی قال الحموی فی شرح الکنز نقلا عن العلامة المقدسی عن جده الاشقر عن شرح القدوری للاخصب ان عدم جواز الاخذ من خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقوق والفتوی الیوم علی جواز الاخذ عند القدرة من ای مال کان لاسیما دیارنا لمداومتهم العقوق قال الشاعر عفاء علی هذا الزمان فانه زمان عقوق لازمان حقوق وکل رفیق فیه غیر مرافق وکل صدیق فی غیر صدوق جه ص۹۵. ولیس لذی الحق ان یاخذ غیر جنس حقه وجوزه الشافعی وهو الاوسع ۱۲ در مختار قوله وجوزه الشافعی قدمنا فی کتاب الحجر ان عدم الجواز کان فی زمانهم اما الیوم فالفتوی علی الجواز". ۱۲ شامي جلد خامس ص۲۷۱. ۴ ربیع الثاني ۱۳۰۱ هـ، (امداد ج۳ ص۷۷).

## تحقیق عدم سماعت دعوی بعد میعادی

**سوال**: (٤٢١) په تیره زمانه کې چونکه د معاملاتو انفصال په شریعت باندې حصر وو په ټولو معاملاتو او دعوه کې د اوقاف نه علاوه او داسې دعوې کول کوم چه د منافع متعلق

دي د اوریدو لپاره ئې ۱۵ کاله تحدید کړي دي کوم ته چه علماو د (مرور زمان) سره تعبیر کړي دی او عمل په همدې راروان دی چه که مدعا علیه تردې مودې پورې څه عذر پیش کولو نو هغه د اوریدو قابل وو. بالفعل عثماني حکام او د دیواني عدالت حکام د دې پابند دي د سهولت لپاره د څو معتبرو شرعي کتابونو حواله ورکړی شوې ده که تاسو نه هم په دې عمل ثابت شي یا خپل قلم سره دا پرچه ښائسته کړئ: "فی فتاوی القبالی لا تسمع الدعوی بعد ست وثلاثین سنة ولکن المختار الآن ان لا تسمع بعد خمس عشرة سنة الا بالامر السلطان وعلیه الفتوی؛ بزازیة من کتاب الدعوی ورد الامر من السلطان بعدم سماع حادثة لها خمس عشرة سنة وقد افتیت بعدم سماعها؛ لنهیه من البحر الریق فی کتاب الدعوی القضاء یجوز تخصیصه تقییده بالزمان والمکان واستثناء بعض الخصومات کما فی الخلاصة فعلی هذا الوامر السلطان بعدم استماع الدعوی بعد خمس عشرة سنة لا تسمع الاشباه والنظایر وهکذا فی الظهیریة لان السلطان لم یوکل بسماع الدعوی بعد خمس عشرة سنة فیکون الافتاء بقول الشارع لا القانون فقط"؟

**جواب**: "فی الدر المختار (فرع) القضاء مظهر لا مثبت ویتخصص بزمان ومکان وخصومة حتی لوامر السلطان بعدم سماع الدعوی بعد خمسة عشر فسمعها لم ینفذ قلت فلا تسمع الان بعدها الا بأمر الخ". په دې سره د مسئول عنه حقیقت ښکاره شو یعنې چونکه ولایت د قاضي مستفاد وي په امر سلطاني سره نو څومره اختیارات چه ورله سلطان ورکړي وي د. هغې نه په زیات کې هغه بالکل قاضي نه دی نو ځکه به ئې امور په دغه احکامو کې نه نافذیږي نو کله چه سلطان هغه ته ووېل چه دومره وخت بعد ته دعوه مه اوره او د فقهي تصریحاتو مطابق د قضا د مکان او زمان سره مقید کیدل جائز دي نو ځکه د سلطان د خبرې دا معنی وشوه چه ستا قضا خاص ده د هغه واقعاتو سره چه په دې موده کې دننه وي او په نورو واقعاتو کې مونږ ته قاضي نه جوړوو. دا وجه دٌ قضا د نافذیدو ده او په دې سره دا نه لازمیږي چه په واقع کې د حق خاوند حق باطل او زائل شي یا پخپله سلطان له د دې قید رفع کول جائز نه وي نو قول الامام د دې ښکاره مؤید دی او کله چه د دې حکم علت معلوم شو نو دا هم ثابته شوه چه دا تقیید همغه وخت او د دغه کس په حق کې دی کوم چه د دغه سلطان محکوم دی او ترڅو پورې چه هغه باچا ژوندی وي او په خپل همدې حکم باندې قائم وي او که کوم حاکم او قاضي د هغه سلطان د دائرې یا حکومت نه خارج وي یا هغه سلطان مړ شي د کوم په ...و چه د فقهاو په تصریح د دې حکم مرتفع کیږي یا پخپله هغه سلطان خپل حکم ... کړي په دې صورتونو کې دا حکم نه دی. خلاصه دا ده چه شرعي حکم مقصود نه



دی بلکه شعبه ده د امر خاص توکیل. نو د سوال د عبارت نه دا قول لان السلطان لم یوکل الخ د دې مصریح دلیل دی په دې بنا باندې د سلطنت عثمانیه د غیر حدودو نه دا روایات فقهي حکم ګڼي او عمل کول جائز نه دي او په عثماني حدودو کې هم صرف په قضاتو باندې عمل واجب دی نه په اهل حقوقو باندې. (امداد ج۲ ص۷۸)

# کتاب الصلح

## تحقیق کفایت تحلیل اجمالي الخ

**سوال**: (۴۲۲) ماته یاد دي زباني تپوس مې کړی وو چه په کوم کس باندې د چا مال حق وي او ظاهروي ئې هغه کس ته مناسب نه وي نو په دې سره مدیون دا ووائي چه ستا چه څومره حقوق په ما وي هغه معاف کړه نو تاسو فرمایلي وو چه غیبت وغیره حقوقو به دې سره معاف شي مګر په مالي حقوقو کې د تصریح ضرورت دی که دا یا زما صحیح وي نو دا لفافې والا پرچي په دې دلالت کوي چه مالي حقوق هم بغیر تصریح نه معاف کیږي دا پرچه همدې سوال باندې یو مولوي صاحب راکړې ده نه مې هغوئ ته د جواب ورکولو اطلاع ده او نه مې مباحثه مقصود ده بلکه د مسئلې تحقیق ضروري مقصد دی او که زما یاد غلط وي نو په جواب کې اطمنان دی هغه عبارت دا دی: "قال جعلتك فی حل الساعة او فی الدنیا بری فی الساعات کلها والدارین خلاصة غضب عینا فحلله مالکها من کل حق هوله قبله قال ایمة بلخ التحلیل یقع علی ما هو واجب فی الذمة لا علی عین قایم کذا فی القنیة وعن محمد رحمه الله تعالی اذا کان للرجل علی اخر مال فقال قد حللته لك قال هو هبته وان قال حللتك منه فهو براءة کذا فی الذخیرة من الجزء الثانی من تکملة رد المحتار".

## بطلان ابراء عن الاعیان

**سوال**: (۴۲۳) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د هندې ۴ زامن او یوه لور وه او ټول د مال خاوندان وو د څلورو هلکانو نه یو ۱۹ کالو شو او وفات شو او بل ځوي ئې ۱۱ کاله وړاندې وفات شو دواړه د اولاد خاوندان وو. هندې د خپل ځوان اولاد د متروکې نه څه وانخستل د هغې نه وروستو ئې دریم ځوي وفات شو او د هغه هم ځامن او مال وو. د شریعت مطابق چه کوم حصه د ځامنو او لورګانو وه د متروکه مال نه د دریم ملك نه هغوئ

ته ورکړی شوه د متوفي د والدې نه سوا چه د حصې اخستلو نه ئې انکار وکړو او دا ئې وویل چه مونږ له د هغې اخستلو ضرورت نشته مونږ د خپل دریم ځوي جائیداد کې خپله حصه پریښوده او معاف مو کړه. درې کاله وروستو هنده هم وفات شوه اَو یو ځوي او لور ئې هم باقي دي. اوس قصه داسې ده چه دا ځلورم ځوي د خپلې مور حصې د دریم ورور په مال کې غوښتنه کوي او وائي چه ماته زما د مور په حق کې زما د میراث هومره مال راکول پکار دي او خور وائي چه زه ئې نه شم اخستلی ځکه چه زما مور چه د کومې حصې د اخستلو نه انکار وکړو او معافي ئې کړه او خپل ځوي ته ئې پریښودل اوس د سوال څو امور دي چه په دې مذکور صورت کې مدعي د خپلې مور د حق د دریم ورور په مال کې دعوه کولی شي او که نه؟ دویم دا چه په دې الفاظو سره ئې د حق اخستلو نه انکار وکړو او معاف ئې کړل او خپل ځوي ته ئې پریښودل نو مونږ له د حصې اخستلو ضرورت نشته جدا جدا د هر لفظ نه څه د هبې کومې کل قاعدې لاندې داخلیدی شي او که نه؟ د هر جزء جواب د عبارت سره رانقل او د کتاب د صفحې او عبارت حواله د ضروریاتو نه دي، بینوا توجروا؟

**جواب**: "فی الدر المختار والابراء عن الاعیان باطل قهستانی وفیه وقولهم الابراء عن الاعیان باطل معناه بطل الابراء عن دعوی الاعیان ولم یصر ملکا للمدعی علیه لذا لو ظفر بتلك الاعیان حل له اخذها لکن لا تسمع دعواه فی الحکم فی رد المختار براتك عن هذه الدار وعن خصومتی فیها او عن دعوی فیها وهذا کله باطل حتی لو ادعی بعده تسمع ولو اقامت بینة تقبل اه تأمل ج۴ ص۷۲۷_۷۲۸".

د دې روایتونو نه معلومه شوه چه د حصې په نه اخستلو سره یا د مذکور الفاظو ویلو سره د هغې حق باطل نه شو او د چا لپاره چې ئې پرې ایښی وي د هغه ملکیت نه شو نو هغه پخپله هم د انکار نه بعد خپله حصه اخستلی شوه او اوس د هغه بعد ئې ورثه هم اخستلی شي د دې تقریر سره د ټولو سوالونو جواب راووتلو. ۲۴ رجب ۱۳۳۲ھ.

### حکم روپیه عوض زخم بعقد صلح

**سوال**: (٤٢٤) دوه کسانو جنګ وکړو د یو په سر کې سخت زخم راغی مجروح مقدمه وکړه او خلکو داسې صلحه وکړه چه تاته دې ۲۵ روپۍ د مدعا علیه نه درکړی شي ته مقدمه خارجه کړه او هغه صلحه وکړه اوس هغه روپۍ مدعي له اخستل درست دي او که نه؟

**جواب**: په داسې زخم کې د عدل فیصله ده د کوم مدار چه تخمین یا خپل منځۍ رضا باندې ده نو ځکه مدعي له دا روپۍ اخستل درست دي. ۱۰ ذی الحجه ۱۳۳۱ھ.



# کتاب المضاربت

### په مضارب باندې د نفع کومه خاصه اندازه مقررول

**سوال**: (٤٢٥) زید عمرو ته زر روپۍ په دې شرط ورکړې چه فی آړا به څلور اخلم که د عمرو نفع وشي او که نقصان زما خو د خپلو ۴ سره کار دی اوس چه څومره مال عمرو اخلي هومره دلته زید د سود خور سره لیکي کله چه ۱۰۰۰ روپو مال تیار شي نو هغه وخت کې سود خور حساب کوي او فائده او اصل قیمت وصولوي او د سودخور د مال اخستلو او خرڅولو سره هیڅ نسبت نشته دی په دې حالت کې زید له نفع اخستل درست دي او که نه؟

**جواب**: درست نه دي.

### عدم جواز شرکت ومضاربت مر مضارب الخ

**سوال**: (٤٢٦) زید ۴۰۰ روپۍ په تجارت کې ولګولې او په دې کې د بل چا شرکت نشته دی پخپله زید د هغې مالك دی د دې سره عمرو نورې ۴۰۰ روپۍ د مضاربت په طور زید ته ورکړې چه د دې ۴۰۰ روپو چه څه ګټه وشي نیم به د مالك او نیم د مضارب وي. محنت د زید دی او د ۸۰۰ روپو نه ۴۰۰ روپۍ د عمرو دي او محنت سره ئې هیڅ تعلق نشته دی په دې وخت کې د خپلو ۴۰۰ روپو نفع جدا اخستل او پاتې ۴۰۰ روپو د زید اخستل او نیم د عمرو اخستل دا شرکت او مضاربت جائز دی او که نه؟

**جواب**: که عمرو ته دا خبره معلومه وي چه زید ئې د خپلو د تجارت روپو سره یوځای کوي او کار پرې کوي او د معلومیدو نه وروستو ئې د دې اجارت ورکړو نو جائزه ده. "فی الدر المختار کتاب المضاربة لا یملك المضاربة والشرکة والخلط بمال نفسه الا باذن او اعمل برایك اذا الشی لا یتضمن مثله اه".

**سوال**: (٤٢٧) په دې ضمن کې زما بل سوال دا دی چه زید ته یو دریم کس وویل چه په خپل مجموعي تجارت کې ۲۰۰ روپۍ زما شاملې کړه مونږ به د محنت برابر شریك شو او د عمرو سره د دې دریم کس هیڅ تعلق او معاهده نشته دی نه ورسره کوم شرط شوی دی زید په دوه سوه روپو منافع باندې شریك شوی دی آیا دا دریم کس د عمرو روپۍ کومې چې ئې د مضاربت په طور د زید نه اخلي دا دریم کس د نفي او انکار باوجود شرعا ستا په کې حق نشته دی مستحق کیدی شي؟

**جواب**: د دې دریم کس د روپو په ګټه کې شریکیدل موقوف دي د هغه ثالث مضارب کیدو باندې او هغه په دوه کالونو موقوف دی یو دا چه عمرو زید ته د هغې اجازت ورکړی دویم دا چه زید د دې معاهده د ثالث سره وکړي که دا شرط ونه موندل شي نو د دغه ثالث د دې عمرو په روپو کې هیڅ حق نشته دی بلکه د دې ثالث پخپله شریك بلا مضاربت کیدل هم د عمرو په اجازه موقوف دي. کما ذکر في الجواب عن السوال الاول. ۱۵ صفر المظفر ۱۳۳۲ھ.

## روپیه بنام مضاربت گرفتن وتجارت الخ

**سوال**: (۴۲۸) که د یو کس نه د دې لپاره روپۍ اخستل شوې وي چه تجارت به کوو او هغه روپۍ به تجارت کې اخستونکی نه وي لګولی بلکه خپل کار کې مصروف کړی شوی او په ټول کال کې څه روپۍ ئې هغه ته ورکړې چه دا ګټه ده او روپۍ ورکونکو ته د دې خبر نه وي نو د ګټې هغه روپۍ اخستل جائز دي او که نه؟

جواب: بې خبرۍ کې هغه معذور دی لیکن د خبریدو په صورت کې ئې اخستل جائز نه دي او چا چه دا دوکه ورکړې د هغه په هر حال کې ګناه وشوه او هغه له ئې نفع حلاله نه ده او هغه مقروض دی د مال والا روپۍ هغه له واپس کول واجب دي. ۱۲ شعبان ۱۳۳۱ھ.

**سوال**: (۴۲۹) کوم کس چه روپۍ اخستلې دي هغه له داسې منافع ورکول جائز دي او که نه چه په تجارت کې خو ئې لګولې نه دي او بغیر د کار نه په لګولو کې ئې د ځان سره کیږدي او نفع ورکړي؟

**جواب**: داسې ورکول سود دی ځکه چه هغه روپۍ په کار کې لګولو سره قرض شو باقي بغیر د اطلاع نه داسې تصرف کول حرام دي لکه څنګه چه بره ذکر شو. ۱۲ شعبان ۱۳۳۱ھ.

## عقد مضاربت

**سوال**: (۴۳۰) محمد فخر الدین او محمد بشیر یوځاي اشتهار ورکړو چه مونږ یوه کمپني جوړه کړې ده چه خلك د دې حصې واخلي او په روپو باندې کتابونه چاپ کړي او څومره نفع چه وشي همغه درې حصې کړي نو یوه حصه به د روپو والا وي او دوه به د دوئ. د فخر الدین او محمد بشیر ترمنځ اختلاف پیدا شو د اختلاف په وخت حصه دارانو د لیکلو په ذریعې سره دا وویل چه زمونږ د حصې مال دې محمد بشیر له ورکړی شي زمونږ به فخر الدین باندې اعتبار نشته دی. نو فیصله کونکو د مال مجموعي حساب لګولو سره تخمینا مال



ورکړو او نورو فیصله کونکو د خرڅولو ذریعه فخر الدین ته ورکړه او مالي ئې د خواهش کونکو په خواهش سره محمد بشیر ته ورکړه. د محمد بشیر سره د خرڅولو څه ذریعه نه وه نو مال ورسره پروت وو او د بلې ذریعې لپاره وخت ته ضرورت وو. حصه دارانو د بشیر نه سخته تقاضا شروع کړه چه مونږ له خپلې روپۍ راکړه په دې حالت کې د محمد بشیر په ذمه دا خبره ده چه هغه په روپو کې د فکر کولو سره هغه ورکړي یا مال دې د مال خاوند ته ورکړي. محمد بشیر چه کله باقاعده د مال حساب وکتلو نو ۴۵۰ روپۍ د فخر الدین نه کمې ورکړی شوې وي نو دا ۴۵۰ روپۍ به صرف د محمد بشیر په ذمه وي او که په ټولو حصه دارانو به تقسیمیږي؟ د ذریعې دحاصلولو لپاره د بعضې حصه دارانو په مشوره محمد بشیر مقدمه وکړه په مقدمه کې کامیاب شول نو اوس به د مقدمې مصرف د محمد بشیر په ذمه وي او که د ټولو، فقط؟

**جواب**: دا د مضاربت عقد دی. فخر الدین او محمد بشیر مضاربین دي او د روپو ورکونکي رب المال او د دې نه بعد چه حصه دارانو کوم مال محمد بشیر ته ورکول وغوښتل د دې معنی دا شوه چه یو مضارب جدا کړی شو. او د مضارب د مضاربت نه د لرې کولو لپاره د مضاربت د فسخ کولو دا حکم دی چه څومره مال موجود دی هغه مضاربت دې خرڅ کړي او د نفع تقسیمولو سره دې اصل روپۍ رب المال ته ورکړی شي لیکن که ټول رضا شي او مال تقسیمول وغواړي نو هم صحیح ده بغیر د رضا نه درسته نه ده او په تپوس شوي صورت کې چونکه رضا مندئ سره داسې کړی شوې وو نو دا جائزه شوه نو د فخر الدین په حصه کې چه څومره مال راغلو هغه د فخر الدین ملکیت شو او د محمد بشیر سره چه کوم شو په هغې کې د شرطونو مطابق د مضاربت عقد قائم شو او رب المال د مضاربت روپو غوښتلو اختیار نه لري صرف د مضارب په ذمه باندې د خرڅولو کوشش کول وي نو ځکه حصه داران په محمد بشیر جبر نه شي کولی کله چه مال خرڅ شي نو د نفع د شروطو مطابق به تقسیم او حصه دارانو ته به اصل روپۍ ورکړی شي او که تاوان وشو صرف د حصه دارانو تاوان به وي بیا چه کله د هغې نه بعد د مال کم ورکول ثابت شول نو دا د ټولو حصه دارنو په ذمه دي ځکه چه د ټولو په رضامندئ دا مال تقسیم شوی دی او د خرڅولو په ذریعه یو مهم لفظ دی. نو ترڅو پورې چه د دې تعین او تصریح ونه کړی شي نو د دې متعلق چه کوم سوال آخر کې کړی شوی دی د هغې جواب نه شي ورکول کیدی او نه د دې متعلق د نورو احکامو تحقیق کیدی شي چه ایا د دې ورکول فخر الدین له جائز وو او که نه؟ او ورکولو

سره د فخر الدین حق د دې متعلق شو او که نه؟ او فخر الدین له د ورکولو نه بعد دا مقدمه کول جائز وو او که نه؟ او بیا مصارف د چا په ذمه شو که د دې متعلق بیا کوم سوال وشي نو د دې پرچې ورسره ضروري دي. ۲۷ محرم ۱۳۳۲ھ.

## د مضارب متعلق د سوال جواب

**سوال**:(۴۳۰) رام لال چه زمونږ اولنی مضارب وو کله چه جدا شو نو حساب کولو سره چه څه روپۍ د هغه کیدې هغه ورحواله کړائ شوې حساب داسې وکړی شو:

۱_ نغدې روپۍ کومې چې ورسره وي.

۲_ مال، چمړه، سامان وغیره کوم چه دکان او کارخانه کې وو.

۳_ بقایا چه د کاروباریانو په ذمه وه د دې درې واړه جمع کولو سره د نفع راوویستل شوه. مثلا چه څه وخت مو کار شروع کړی وو نو لس زره روپۍ مو لګولې وې او کله چه حساب ختم شو نو د حساب د مخې څه باندې ۱۰۰۰۰ روپۍ شوې. دې نه معلومه شوه چه ۱۰۰۰ ګټه ده د رام لال د جدا کولو وجه دا وه چه خپل کار کې ئې سستي کوله او څه ګټه چه وشوه هغه د الله ﷻ فضل او په ظاهر کې ویل مضارب او رب المال کوشش وو. په بقایا کې چه څه نورې روپۍ هم وې کوم چه د وصولو قابل ونه ګڼل شوې او د حساب نه خارجې کړی شوې که هغه شمار کړی شوې وې نو د نفع اندازه به نوره هم زیاته شوې وي د حساب نه بعد د بل مضارب او رب المال په کوشش سره نورې روپۍ هم چه د وصولیدو قابل نه وې وصول شوې کومې چه د رام لال په خیال کې ډوبې شوې وې. د رام لال سره په زوړ حساب حساب کړی شوی وو په دې صورت کې به مقارب د ډوبو شوو روپو ذمه وار او د وصول شوو روپو حصه دار وي او که نه؟ دا ظاهره ده که روپۍ وصولې شوې نه وي او وروستو بیا د حساب نه خارجې کړی شوې وې نو هغه به دې وینا سره د هغې د مجرا کولو نه انکار کړی وي چه مونږ خو ترې جدا شوي یو اوس ورسره زمونږ څه تعلق دی؟ هغه په نورو بقایاو کې د وصولولو په وخت دا بددیانتيهم وکړه چه په چا چه ۱۰۰ روپۍ راتللې نو هغه ئې د ۸۰ روپو مال په ۱۰۰ کې واخستلو ګویا چه د هغه مقروضې نه ورته هیڅ فائده ونه رسیده په دې صورت کې د دې حساب څنګه وکړی شي کومې د وصولیدو قابل روپۍ چه وصول شوې په هغې باندې روپۍ او محنت دومره صرف شوي دي چه هغې باندې لګیدلې روپۍ به د ډوبو شوو روپو نه زیاتې وي لیکن حساب کې د اندازې نه قیمت اخستل شوې مال او



مصرف شوو روپو اندازه کیدی شي مګر څه چه د رب المال او دویم مضارب مصرف کړي دي د هغې د قیمت اندازه کول مشکل دي ځکه چه د هغې نه کله ۱۰۰ او ۵۰۰ آمدن هم کیږي او کله هیڅ هم نه همداسې د کال اوسط آمدن هم جدا جدا وي کله زیاته ګټه کیږي او کله کمه؟

**جواب**: د رام الال په ذمه دې ټول معلومې روپۍ وصول کړي هغه له د انکار کولو هیڅ حق نشته لیکن د هغه حصه دار کیدل د هغه په وصولولو موقوف نه دي نو که د هغې د سعي نه بغیر وشو نو که هغه روپۍ د ګټې وې لکه څنګه چه د سوال نه ظاهر دي نو هغه په کې حصه دار دی او د نه وصولیدو په صورت کې هغه دا حق نه لرلو چه مونږ جدا شوي یو څه پته هغه دا روپۍ مجرا کړې وي او دا بد دیانتي کول چه د ۸۰ مال ئې په ۱۰۰ اخستلی دی دا غبن یسیر دی د کوم چه مضارب ته اختیار دی ګویا چه بد دیانتي سره دا ګناهګار وي مګر عقد به ئې نافذ شي او د هغې ټول احکام به پرې مرتب کیږي او کومې روپۍ چه د وصولیدو قابل او متوقع وي او وصول شوې نه وي هغه به د حساب نه خارج کړی شي نو غیر متوقع الوصول چه کومې وصول شوې په اندازه کې د متوقع الوصول نه کومې چې نه دي وصول شوې زیاتې وې نو د دې زیاتوالي تقسیم به هم د مضاربت د شرط موافق وي او د سعي په وخت د عقد نه علاوه څه قیمت نه وي نو ځکه اعتبار نه لري د عقد مقتضی خو دا جواب دی لیکن که د دې خجالت کیدو نه متعاقدین ځان ساتل وغواړي نو د دې صورت دا دی چه د ختل شوې روپو د دې نه علاوه چه که متوقع الوصول وي او که غیر متوقع الوصول څومره حصه چه د مضاربت د متعاقدینو په رضا سره مقرره شي د هغه مجموعي حصې په عوض کې رب المال ته کوم څیز که په قیمت کې څومره هم کم وي مضارب ته ورکړي نو هغه به ټول د رب المال ملکیت شي او دا اشکال مذکور في السوال به دې کې مخې ته رانشي اوس دې همداسې وکړی شي. ۱۲ رمضان المبارک ۱۳۳۹ھ.

# کتاب القضاء

## د قضاء على الغائب د ضرورت لپاره جائز کیدل

**سوال**:(۴۳۱) خاوند غائب دی، او ښځه د طلاق دعوه وي او د مدعي علیه حاضریدل متعذر (ناممکن) دي بلکه پخپله د ښځې خاوند ته رسیدل هم سخت دي په دې صورت کې شهادت على الغائب عند الضرورة دفعا للحرج باتباع ائمه آخرین حنفي المذهب ته د طلاق هم ورکول جائز دي؟ لکه څنګه چه په مفقود الخبر کې د احنافو په نزد د امام مالك اتباع جائزه ده او که نه؟

**جواب**: "قال العلامة الشامی ناقلا عن جامع الفصولين بعد بحث طويل فالظاهر عندی ان يتامل فی الوقايع الى قوله ولا ينا فی مامر لان تجويز هذا المصلحة والضرورة ج۴؛ ص۵۲۵_۵۲۶. وفی الدر المختار ولو قيده السلطان بصحيح مذهبه كزماننا تقيد بلا خلاف اه".

د دې روایتونو نه دا لاندې امور ثابت شول:

۱_ قضا على الغائب باندې به مطلقا فتوا نه ورکول کیږي بلکه کوم ځاي کې چه د قاضي رایه باندې ضرورت او مصلحت وي دا جواز به د دغه صورت سره مقید وي.

۲_ په تپوس شوي صورت کې ضرورت دی ځکه به قضاء على الغائب ته جائز ووایو.

۳_ بهتره دا ده چه د غائب د طرف نه څوك وکیل مقرر کړی شي چه هغه د مقضي لها په مقابله کې جرح وکړی شي.

۴_ که د قاضي د قضا په منشور کې ئې دا قید لیکلی وي چه صرف د حنفي راجح قول مطابق دې فیصله وکړي نو په دې صورت کې احتیاط دا دی چه د والي نه د قضاء علي الغائب نافذولو اختیار حاصل کړي، فقط والله اعلم. ۱۳ ربیع الاول ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۸۵).

## ایلاء بودن بعرف وتحلیف قاضی درآن

**سوال**:(۴۳۲)د ښځې او خاوند ترمنځ په څه وجه تکرار راغلی، خاوند ښځې ته د غصې په حالت کې وویل چه زما د کور خوراك دې په تا حرام وي که ماتاته خپل پرتوګ خلاص کړو نو لکه خپلې لور ته مې چې خلاص کړو او په خپل ورون ئې لاس ووهلو او وېې ویل د سړو یوه خبره وي. دا بیان د ښځې دی او خاوند ترې انکار کوي چه ما ورته نه دي ویلي صرف د



غصې په حالت کې مې ورته وویل چه زما د کور ډوډۍ دې په تا حرامه وي او په دې کې زما د طلاق وغیره نیت نه وو. د ښځې سره ګواهان نشته دی که دواړه ښځه او خاوند کوم عالم ته رجوع وکړي نو څنګه کول پکار دي که د ښځې خبره صحیح ومنل شي نو د سړي دا ویل لکه څه چه ئۍ ویلي دي د ښځې په حق کې به ایلاء وي او که طلاق؟ د دې باره کې چه د شریعت څه حکم وي د هغې نه مو خبر کړئ ترڅو د هغې مطابق فیصله وکړی شي او هغوئ ته شرعي حکم وښودل شي. "البينة على المدعي واليمين على من انكر" باندې عمل وکړی شي؟

**جواب**: "فی الدر المختار ومن حرم ای على نفسه شيئا ثم فعله كفر ليمينه لما تقرر ان تحريم الحلال يمين الى قول كل حل اوحلال الله اوحلال المسلمين على حرام فهو على الطعام والشراب والفتوى فی زماننا على انه تبين امراة بتطليقه فی رد المختار والحاصل ان المعتبر انصراف هذه الالفاظ عربية او فارسية الى معنى المتعارف بلا نية فيه فان لم يتعارف سيل من نيته وفيما ينصرف بلا نية لو قال اردت غيره لا يصدقه القاضی وفيما بينه وبين الله تعالى هو المصدق اه ج۳ ص۹۵_۱۰۰. وفی الدر المختار والفاظه (ای الايلاء) صريح وكناية وفی رد المختار عن البحر لوادعى فی الصريح انه لم يعن الجماع لا يصدق قضاء ولصدق ديانة والكناية كل لفظ لا يسبق الى الفهم معنى الوقاع منه ويحتمل غيره ولا يكون ايلاء بلا نية ويدين فی القضاء وفيه عن المنتقى لا انام معك ايلاء بلا نية وكذا لا يمس فرجي الى قول الشامی مويد للمنتقى ان الصراحة منوطة بتبادر المعنى والمتبادر من قولك فلان نام مع زوجته هو الوطی الخ ج۲ ص۹۰۰". د دې روایاتو نه د جملې (که زه تاته الخ) نه خو یمین ایلاء ثابته شوه چه عرفا متبادر د دې نه همدا دی او چونکه عرفا دا صریح دی نو ځکه متکلم که دعوه وکړي چه صحبت کول ترې مراد نه وو نو قضاءاً به د دې تصدیق نه کیږي البته که کوم ځاي کې عرفا د دې معنی ظاهره نه وي نو په دې صورت کې به قضاءا تصدیق کیږي او که په کوم ځاي کې عرفا دا په طلاق کې لزوما استعمالیږي نو دې سره به طلاق بائن شي اګر که نیت ئې نه وي کړی او نیت به د خلاف په دعوه کې قضاء نه مصددق کیږي او که په طلاق او غیر طلاق دواړو کې استعمالیږي نو د کوم نیت چه ئې کړی وي همغه به کیږي که د دې نه بعد د زوجینو نه یو یعنې خاوند انکار او ښځه دعوه وکړي نو دواړه رضا شي او کوم عالم د دوئ ترمنځ فیصله کونکې کړي نو هغه دې د قاضي په شان لاندې فیصله وکړي او که فیصله کونکي ئې جوړ نه کړي نو صرف فتوا به داسې نه وي بلکه د دې حکم به کوم چه ځاي په ځاي بره ذکر شو کیږي او د فیصلې کول به داسې وي که دعوه کونکې ښځه دلیل پیش نه کړي نو د مدعي علیه یعني خاوند نه به قسم اخستل کیږي که هغه قسم وکړي نو فیصله به وشي چه دا جمله هغه نه ده ویلې او که انکار وکړي نو داسې فیصله به وشي چه هغه ویلې ده نو بیا به د دې

جملي په مفهوم کې چه کوم تفصیل ورکړی شوی دی د هغې موافق به حکم کیږي. "والحلف لان الایلاء من الاشیاء انی اختلف فی التحلیف فیها وهی النکاح والرجعة والفی عن الایلاء والاستیلاء والرق والنسب والولاء والحد واللعان کذا فی الدر المختار ثم نقل الفتوی علی التحلیف فی الکل الاالحدود ومنها حد قذف ولعان ج۲ ص۶۵۳. مع رد المحتار". او که ایلاء ثابته شي نو حکم ئې مشهور دی. ۲۵ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۲۰۲).

## بودن حکام مسلمین از جانب نصاری در حکم قضاة

**سوال** :(۴۳۳) قاضي درین ملك نصارا در کسی جا موجود است یا نه وقاضي چگونه في شود اگر مردم قصبه کلان اعلي ادنی جمع شده امام جمعه وجماعت وعیدین یکی عالم راسازند آن عالم کار قاضي کردن مي تواند یا نه؟ مولانا رشید احمد صاحب در جواب نوشته بودند که نابالغه نکاح کرده برادر چون بالغه شد وبفور علامت حیض انکار کرد نکاح فسخ میشود پس یکی نابالغه خاندان ما که از بیوقوفي وتعصب قوم بنکاح صغیر درامده بود، بالغ شده انکار کرد، پدر نابالغ را راضي کرده حکم ساخته از حکم فسخ کنانیدیم وبدیگر خویش نکاح کردیم بعض اقوام ما معترض هستند درین خکم چیست فقط؟

**جواب**: قاضي آن که برائی فصل خصومات حاکم ساخته شود وبرائی عموم نفاذ احکامش دو طریق ست تولیت از سلطان گو کافر باشد وتولیت از عامه مسلمین واگر در واقعه خاصه صرف متخاصمین بر نفس خودها اورا والي سازند آن حکم ست ودرحق نفس آنها مثل قاضیٔ ست نه درحق غیر آنان پس بناء علیه درین ملك آن احکام که برائی این غرض از سرکار مامور کرده مي شوند اگر مسلمان باشند در حکم قضاة هستند مثل ډپټي وغیره: "فی الدر المختار ویجوز تقلد القضاء من السلطان العادل والجایر ولو کافر اذکره مسکین وغیره وفیه ولوفقد وال بغلبة الکفار وجب علی المسلمین تعیین وال وامام للجمعة؛ فتح".
پس آنکس که مسلمانان اورا محض برائی اقامت اعیاو وجمعها قائم کرده اند در حکم قاضي نیست البته اورا متخاصمین حکم مي توانند ساخت، پس در صورت مسئوله اگر شوهر نابالغه بشرط یه که خود بالغ باشد ومنکوحه مذکوره کسی را حکم ساختندی قضایش برایشان نافذ گردیدی وپدر شوهر اگر کسی را حکم ساز ونامعتبر ست چرا که حکم حکم برغیر محکم نافذ نمي شود: "فی الدر المختار هو (ای التحکم) تولیة الخصمین حاکما یحکم



بینهما وفیه لایتعدی حکمه الی غیرهما". پس چون از شوهر تحکیم صادر نشد لهذا قضائی حکم نافذ نه گردیده، والله اعلم. ۲۱ رجب ۱۳۲۱ھ (امداد ج۳ ص۷۹ وحوادث ۲۰۱ ص۹۲).

## عدم کفایت فتوی از نکاح مفقود الزوج

**سوال** :(۴۳۴) اگر حنفیه مفقود الزوج را از شافعي عالم فتوی گرفته عمل کردن جائز باشد مطلع فرمایند از نام ومقامش تا رجوع باوکند؟

**جواب**: فتوی محض کانفی نیست. "لما مر فی الجواب عن السوال الاول ایضا فی فتاوی المفتی المرحوم ما نصه وایضا فیما کان بمنزلة الفتوی منه فلا یرفع الخلاف فصار وجوده کعدمه فاذا رفعت الحادثة الی حنفی فانه یحکم بمقتضی مذهبه ولا یمنعه حکم المالکی؛ من ذلك فانه فتوی ولیس بحکم اه". پس ازین عبارت نیز معلوم شد که فتوی صرف درین خصوص کافي نیست والله اعلم. ۷ شعبان ۱۳۲۱ھ (امداد ج۳ ص۷۹ وحوادث ۲۰۱ ص۹۴). اجرت دهانیدن حاکم قاضي یا شاهدان را از فریقین یه مسئله باین عنوان کتاب الاجاره کې درج شوې ده.

## حلف هندو

**سوال** :(۴۳۵) هندو را مبالغ دادم منکر شد، تنها بودم منکر شد، در شرع باوحلف اگر آید چه حلف داده آید؟

**جواب**: "فی الدر المختار والوثنی بالله تعالی لانه یقربه وان عبد غیره اه". از این روایت مفهوم شد که هندو را که بت پرست بود حلف بالله کافي است، والله اعلم. ۷ شعبان ۱۳۲۱ھ (امداد ج۳ ص۸۲ وحوادث ۲۰۱ ص۹۶).

## معزول کردن حَکَم را قبل فیصله

**سوال** :(۴۳۶) که فریقینو د عدالت په ذریعې سره څوك جرګه مقرر کړو او د فیصلې نه وړاندې یوې ډلې انکار وکړو نو ایا دغه جرګې له جبرا فیصله کول شرعا درست دي او که نه اگر که عدالت دغه جبري فیصلې ته جائز وائي؟

**جواب**: ترڅو پورې چه حکم فیصله ونه کړي تر هغه وخته پورې مدعي او مدعي علیه ته د هغه د معزولولو اختیار نشته دی او د معزولولو نه وروستو حکم له جبرا فیصله کول درست نه دي او دلته یوه شبهه دا کیدی شي چه دا هله کیدی شوه چه صرف فریقینو هغه فیصله

کونکي ګرځولي وي او دلته د عدالت مقدمه ورسپارلې ده نو هغه حکم نه دی د عدالت په نیابت کي حاکم دی او حاکم له جبرا فیصله کول جائز دي. جواب دا دی چه عدالت په خپلو اختیاراتو سره دا مقدمه نه ده ورسپارلې بلکه د فریقینو په درخواست باندې نو ګویا چه عدالت د دوئ معبر او حاکي دی او دوي دلیل دا دی که د عدالت د سپارلو باوجود په خپلې خوشحالئ سره د فیصلې نه انکار وکړي نو عدالت پخپله تپوس کوي د دې په خلاف هغه چه کله آنریري مجستریټ د مقدمې اوریدل پریږدي نو د هغه نه د دې متعلق تپوس کیږي نو هغه حکم حکم پاتې شو حاکم پاتې نه شو او هغه شبهه ختمه شوه. ۶ شعبان ۱۳۳۱ھ (حواد ۱ ۲ ص ۱۰۹).

## حکم اجرت حَکَمْ بتجویز عدالت انګریزي

**سوال**: (۴۳۷) کله چه مدعي عدالت کې دعوه کوي نو بعضې وخت کې دا صورت مخې له راځي چه حاکم دواړو فریقینو یا یو کس رضا کوي چه هغه د دې مقدمې تحقیقات وکړي بعضې وخت خو هغه ته صرف د تحقیقاتو اختیار وي او د دې صورت یا دغه کسانو نوم کمیشن وي او د هغوئ مطابق حاکم د تحقیق حکم ورکوي او بعضې وخت کې همدغه شان دریم ګړی ګرځول او ثالث ورته وائي چه تحقیقات وکړي او فیصله وکړئ. په دواړو صورتونو کې د فریقینو نه یوه اندازه روپئ وصولیږي او هغه دغه کمیشن او ثالث ته ورکول کیږي آیا دا روپئ هغه له اخستل صحیح دي او که نه؟ په دواړو صورتونو کې چا له اخستل صحیح دي او چا له منع؟

**جواب**: دا تحقیق او فیصله دواړه د قضا د باب نه دي او په قضا باندې اجرت اخستل جائز نه دي البته د بیت المال نه د کفایت په اندازه د نفقې اخستلو مستحق دی ځکه چه دا کس د مسلمانانو حقوقو کې بند دی او بیت المال هم د مسلمانانو مال دی او د محبوس نفقه من له لجنس په مال کې د جزاء الجنس په وجه وي نو په دې بنا باندې دې مفتش او حکم له اجرت اخستل خو جائز نه دي لیکن چونکه یو خاص وخت پورې د هغوئ په کار کې مشغول وي نو تر هغه وخته پورې به د هغوئ ضروري نفقه د معاملې والا په مال کې وي نو د ضروري نفقې په اندازه به هغه وخت کې ترې اخستل جائز وي باقي کوم چه زیات وي هغه دې د معاملې والاته واپس کړي. ۲ رمضان ۱۳۳۱ھ (حوادث ۱ ۲ ص ۱۱۵).



## مقرر کردن هر فریق یک یک حَکَمْ را

**سوال**: (۴۳۸) بعضې وخت کې یوه ډله بله ثالثه کړي او بله ډله دریمه ډله. د دواړو یو کس هم متفق حکم نه شو که د دې دواړو ترمنځ اختلاف وي نو یو بل کس د دې جرګې مشر مقرریږي نو هغه د دې تجویزونو نه یو خوښوي او فیصله کوي. په اول حالت کې چه کله د دواړو ډلو خپل خپل ثالث شو او متفق حکم یو هم نه وي او دې دواړو په متفق طور سره یوه فیصله وکړه نو دا صحیح شوه او که نه؟ ځکه چه دا صورت خو ظاهرا د وکالت شو چه هرې ډلې له یو وکیل شو او د حکم لپاره داسې کس پکار دی چه دواړه پرې متفق وي؟

**جواب**: واقعي دا کس حکم نه بلکه وکیل دی کله چه د دواړو وکیلان راضي شول نو فیصله نافذه شوه. ۲ رمضان ۱۳۳۱ھ (حوادث ۱ ۲ ص ۱۱۶).

## فیصله مطابق قانون سلطنت غیر اسلامي

**سوال**: (۴۳۹) په دې زمانه کې چه کوم مسلمانان په انګریز سرکار باندې فیصلې کوي هغه د شریعت د احکامو موافق نه وي مثلا شریعت کې حکم دی "البینة علی المدعي والیمین علي من انکر" نو په انګریزي قانون کې د اثبات او نفي دواړو لپاره ثبوت غوښتل کیږي په شریعت کې د عدل مشاهد شرط وي په قانون کي چه کوم شهادت مقبول دی د هغې لپاره د شاهد شرائط لازمي نه دي کوم چه په شریعت کې لازم دي په شریعت کې د غلام او زنا اثبات باندې لاس پرې کولو او سنګسارولو حکم دی قانون کې دا نشته. او په نورو حالتونو کې په قانون کې د قید سزا مقرره ده کوم چه په شریعت کې نشته آیا د شریعت د خلاف ورزئ اثر په باچا باندې دی یا مسلمانانو باندې؟ او که په مسلمانانو نه وي نو د عام حکم ومن لم یحکم بما انزل الله څه تعبیر دی؟

**جواب**: شرعي قاعده ده چه اشد الضررین ختمولو او لرې کولو لپاره د اخف الضررین مدد اخستل کیږي دا هم قاعده ده چه د فائدې حاصلولو لپاره به دیني ضرر نه اخستل کیږي. په دې بنا باندې به په دې مسئله کې تفصیل وي چه کوم خلك دا حکومتونه اختیاروي دا کتل پکار دي چه د هغوئ نه قبلولو سره پخپله هغوئ ته یا عامو مسلمانانو ته کوم سخت ضرر خو نه وررسیږي یا غالب خو نه دی؟ په نورو صورتونو کې خو د دې حکومتونو قبلول جائز دي او اول صورت کې کتل پکار دي چه آیا د دې کس نیت د دې ضرر لرې کولو دی یا کومه مالي فائده حاصلول غواړي په اول نیت کې خو د جواز ګنجائش شته دی او په صورت

کې به د آیا محل باقي دوه صورتونه وي. خصوصا که جائز یا مستحسن ئې وګڼي نو کفر دی البته که په دوه ناجائزو صورتونو کې هم که د حکومت د طرف نه مجبور کړی شي او عذر قبول نه کړی شي نو په هغې کې هم ګنجائش شته دی لیکن هر حال کې چه څومره پورې ممکن وي د شریعت د خلاف نه د بچ کیدو کوشش دې وکړي او صرف دې خیال سره دې د شریعت خلاف فیصله نه کوي چه وړاندې تللو سره به دا منسوخ شي البته کوم ځاي کې چه د جرم او د شاهي سزا ویده وي هلته به هم صرف ګنجائشو په یو صورت کې خو جبر نه بغیر هم او په دوه صورتونو کې د جبر سره. ۶ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (حوادث ۱، ۲ ص۱۶۰).

## رفع شبهات متعلقه بمسئله نفاذ قضاء قاضي ظاهراً وباطناً

**سوال**: (۴۴۰) یو کتاب "مجموعه فتاوی" اوله حصه ص۵۶ باب ۱۸ کې ئې دا مسئله لیکلې ده چه د قاضي قضا ظاهرا او باطنا نافذیږي یعنې که کوم کس په کومه ښځه دعوه وکړي چه دا زما ښځه ده او د قاضي په وړاندې ئې د دروغو ګواهان پیش کړل او مقدمه ئې وګټله او هغه ښځه ورته ملاو شي نو هغه به عندالله او عندالناس د هغه لپاره حلاله شي او کور والی به ئې ورسره جائز شي او د الله ﷻ په نزد به پرې مواخذه نه وي لکه څنګه چه هدایه دویم جلد ص۱۲۵ مصطفائي چاپ کې ئې لیکلي دي اوس ګزارش دا دی چه دا حکم عند الناس په مقابله کې خو لکه څنګه چه ئې لیکلي صحیح معلومیږي مګر عندالله به خیال کې نه راځي ځکه چه الله تبارك وتعالی سمیع او بصیر دی هغه د دې ټولو واقعاتو نه خبر دی نو د الله ﷻ په نزد د هغه ښځه څنګه حلاله شوه. نو د الهدایه د شرح وقایه اردو ترجمه مولوي وحید الزمان د قاضي د قضا نافذیدل وګورئ او د دې جواب موخر کړئ ترڅو کومه شبهه چې ده هغه رفع شي؟

**جواب**: د دې په ژبه باندې تعصیل خو ډیر اسان دی باقي مجملا دومره لیکم چه د کوروالي حلالیدل عندالله موقوف دي د نکاح په منعقد کیدو باندې اګر که د انعقاد کیدو په طریقه کې ګناه وي مثلا که کوم کس چا له د وژلو دهمکي ورکړي او د هغه ښځې له طلاق واچوي او د عدت نه وروستو که ښځې له د وژنې دهمکي ورکړي او جبرا په هغې باندې د اجیاب او قبول الفاظ ووائي نو طلاق هم وشو او نکاح هم. التة د دعا طریقې اختیارولو کې به هغه له سخته ګناه وي نو کومه طریقه چه سوال کې ذکر شوې په دې سره به هم دا کس سخت ګناهګار وي لیکن نکاح به وشي او د کور والي په حلالیدو کې څه شك نشته ځکه چه هغه



د نکاح د صحیح کیدو فرع ده. البته د نکاح د منعقد کیدو سوال کیدی شي کله چه په واقع کې نکاح نه ده شوې نو د دې انعقاد سبب د قاضي قضا ده د دوه کسانو په ګواهئ باندې کوم چه قاضي رشتینې ګڼي په دې شرط چه دا ښځه د چا نکاح خکلې او معتده نه وي باقي د قاضي د قضا سبب کیدل په دې کې به لیکلو باندې پوهه نه شې کله د ملاقات په وخت ئې تپوس وکړئ. انشاء الله اطمنان به درکړم. ۲۲ جمادی الاولی ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۳۴).

## ضمیمه متعلقه مسئله نفاذ قضاء قاضي ظاهراً وباطناً

اصل کې ټول د ملکیت حقوق د الله تعالی دي مګر د بنده د حاجت او مصلحت د وجې نه الله د دې اختیار بنده له ورکړی دی څنګه چه د بنده مصلحت د دې اقتضاء کوي چه هغه ته د هغه په نفس کې دا اختیارات ورکړی شي داسې بعضې حالاتو کې د هغه مصلحت هم دا اقتضاء کوي چه د هغه په نفس کې حکامو ته هم اختیارات ورکړی شي او هغه بعض احوال اختلاف ونزاع فیما بین حال دی ځکه چه په داسې وخت کې د مضبوطو اختیاراتو ورکولو نه سوا بله چاره نشته اوکه په دې کې دا شبهه کیدی شي چه د اختیار صورت هم د هغه لپاره کافي دی د حقیقت د اختیار حاجت نشته لیکن داسې کولو سره نزاع د فساد کله هم نه شي ختمیدی مثلا د دې مدعي علیه که په واقع کې نکاح نه وي صحیح شوې نو هغه به همیشه خپل ځان وساتئ یا سړی مدعي به د ښځې حقوق ادا نه کړي او همیشه لپاره به بغض او زحمت وي نو د اختیار صورت به څنګه کافي وي نو د اختیار حقیقت ضرور ثابتیدل پکار دي او چونکه د ملکیت اثبات او رفع پخپله د خپل نفس په تصرف کولو په وخت هم په همدې عقد او فسخه باندې مبني دی نو ځکه د احکامو د اختیارات محل به هم دا وي. املاك مرسله به نه وي چه هغه بغیر د عقد او فسخې نه پخپله د صاحب حق په تصرف کې مثبت او رافع د حقوقو نه وي ګویا چه بعضې ځایونو کې اباحت راځي کالاحوال او بعضې ځایونو کې اباحت هم نه وي کالفروج. نو ځکه دا عقود او فسوخ قضاء د نفاذ ظاهرا او باطنا محل وګرځول شول اوس دا خبره نقل دلیل ته محتاجه شوه چه الله تعالی داسې اختیارات حکامو ته ئې ددی بخشش کړی دی اوکه نه ددی لکاره دلئل دادی حدئث شاعداك زوجاك حکامو ته ورکړي دي تفریق في اللعان چه حقیقي مرفوع دی کافي دلیل دی او د دې بعضې نظائر متفق علیه دي. کالولایة في النکاح والتفریق في اللعانة او بعضې مختلف فیه دي په دې کې بعضې د امام صاحب په نزد دي کمحل لبحث او بعضې د

نور ائمه و په نزد دي. د امام صاحب په نزد نه دي لکه تفریق فی العسار نو امام صاحب باندې په دې کې د توسع شبهه هم نه شي کيدی چونکه دلته د هغوئ په نزد تضیق او د امر د حقیقت د دې ټولو نظائرو نه متحد دي. خصوصیت شهادت د. شبهې محل ګرځول د تدبر د کموالي د وجې نه دي. ۶ جمادی الاخری ۱۳۲۳ھ (تتمه ثالثه ص۴۰).

## جواز حاکم بر تطلیق بحالت اضرار زوج

سوال :(۴۴۱) د هندې خالد سره نکاح وشوه او خالد ورته قسما قسم تکلیفونه ورکوي د کوم د وجې نه چه ئې ژوند عذاب جوړ شوی دی که د خالد نه د طلاق مطالبه کوي نو هغه ورته مهر نه ورکوي او حسن معاشرت غواړي نو هغه هم ورسره نه کوي کله چه خبرې کیږي نو ورته وائي چه مهر واخله او د پلار سره دې اوسیږه طلاق نه درکوم او نه به دې خوا ته درشم ګویا چه هنده دلته هم کالمعلقة ده د ښځې او خاوند معامله بالکل نشته دی بعضې ښځو د خاوندانو داسې معامله ولیده نو داسې ئې کړي دي چه بعضې عیسایانې شوې او بعضې هندوانې. لهذا که دا ښځه د قاضي نه دا مطالبه وکړي چه جبراً دې هغې له د خاوند نه طلاق واخستل شي او حاکم خاوند مجبور او طلاق ترې واخلي نو دا کار جائز دی؟ او شرعا ښځه د داسې رجوع کولو حق لري او که نه؟

جواب: قال الله تعالی: "فامسکوهن بمعروف ولا تمسکوهن ضرارالتعتدوا". دا ایات د الفاظو عموم سره په نه ضرر ورکولو باندې دلالت کوي او تشریحي ایجاب باندې کله چه امساك بالمعروف ونه کړی شي نو کله چه په تپوس شوي صورت کې خاوند باندې تطلیق واجب دی او په واجب کې په قادر کس باندې لازم دی نو په داسې حالت کې استغاثة واعانت جبر في التطليق بیشکه جائز دی باقي که خاوند د دې باوجود طلاق ورنکړي نو پخپله د حاکم په تفریق سره حکم کول ناکافي دي. لفقد شرائطه. ۱۱ شعبان ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه ص۲۰).

## فرق درمیان عیدین وکتاب القاضي در شرائط

سوال :(۴۴۲) کله چه په عیدینو د نورو معاملاتو په شان رجلین او رجل وامراتین مشروط دي نو څه وجه ده چه کتاب القاضي الی القاضي ټول شرائط دي په عیدینو کې معتبر نه وي؟

جواب: د فقهي د جزئیاتو او عباراتو نه صراحتاً ثابته ده چه عیدین من کل الوجوه د معاملاتو او حقوق العباد په شان نه دي بلکه من وجه دیانت دي څکه ئې بعضې احکام د



دیاناتو په شان دي نو د کتاب القاضي شرائط معتبر کیدل ضروري او لازم په کوم دلیل سره نه دي. "وتلك الجزئيات هذه فی الدر المختار وشرط للفطر نصاب الشهادة ولفظ اشهد وعدم الحد فی قذف لتعلق نفع العبد لكن لا يشترط الدعوى كما لا تشترط فی عتق الامة وطلاق الحرة وفی رد المختار والفطر وان كان فيه حق عبد لكن فيه حق الله تعالى لحرمته صومه ووجوب صلوة العيد وهو بعتق الامة اشبه فلا يشترط فيه دعوى. ص۱۳۶ ج۲ وفی الدر المختار ولو كانوا ببلدة لا حاكم فيها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلين فی العلة للضرورة وفی رد المختار ای ضرورة عدم وجود الحاكم يشهد عنده ص۱۳۶ ج۲ وفی رد المختار فی تعبير المصنف كغيره بالظن اشارة الى جواز التسحر والافطار بالتحرى الى قوله لان التحرى يفيد غلبة الظن وهى كاليقين ج۲ ص۱۷۰ فقط". ۱۵ ذی الحجه ۱۳۲۱ھ. (امداد ج۳ ص۸۳).

## بودن حاکم مسلم انګریزي بجائی قاضي

سوال :(۴۴۳) په کومو مسائلو کې چه د قاضي او قضا ضرورت وي په هغې کې انګریزي عدالت او حکم او فیصله هغه حکم لري او که نه؟

جواب: که د اجلاس والا مسلم وي هغه شرعا قاضي دی. ۲۵ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ.

# کتاب الشهادت

## د فسق د وجې نه د قتل د ګواهئ نه قتلولو په صورت څه حکم دی

سوال :(۴۴۴) دلته یو محله کې د محل والا څه چنده راجمع کړه او د ګډا محفل ئې جوړ کړو د مخکې په شان ډیر کسان راجمع شول په کور کې چه څه خلك وو د هغوئ نه علاوه نور خلك هم په داسې دیوال چه د چونې او خاورې نه جوړ وو ناست او نور هم زیاتیدل خلکو هغوئ منع کول مګر نه منع کیدل. ناڅاپه دیوال وغورزیدو او ناست کسان وتښتیدل نورو خلکو چه دننه وو وریسې ورمنډه کړې او اواز ئې کولو چه ویې نیسئ. غرض دا چه دوه کسان ئې ونیول او وهل ئې شروع شول او یو ترې د دې وهلو نه مړ شو. کله چه تحقیق وشو نو معلومه شوه چه مقتول د پولیس نوکر دی او دغه وخت کې تماشې کتلو له راغلی وو او کوم وهونکی دی هغه تماشیان دي. په دې قتل باندې پوره ګواهي تیره کړې شوه چه فلانې فلانې کس وهلی دی تردې چه د هغه وړل او اوبه ورکول او د یو کس په غیره کې ئې ساه ختل ټول بیانوي مګر دا ټوله ګواهي ورکونکي فاسقان دي د هغوئ په شهادت باندې د قصاص یا دیت حکم کیدی شي او که نه؟ او که نه دا ګواهان د فسق د وجې نه وو او د لا

یعلم قاتله په مصداق پرې قسامه جاري کړو یعنې د قسامې او نورو شروطو لحاظ ساتلو سره لکه دعوې وغیره. صرف سوال دا دی چه کله شهادت د فسق د وجې نه مردود دی نو څه حکم دې وکړی شي او که قسامت د ګواهانو د عدم تزکي د وجې نه یا د شهادت د نصاب د نه پوره کیدو د وجې نه رد ګړی شي او د مدعي دعوه موجوده وي نو قسامت کیدی شي او که نه؟ او که د قسامت ځایونه نور دي؟

جواب: "فی العالمکیریة الفصل الثانی من الباب الرابع من کتاب الشهادات اتفقوا علی ان الاعلان بکبیرة یمنع الشهادة وفی الصغایر ان کان معلنا بنوع فسق مستشنع یسمیه الناس بذلك فاسقا مطلقا لا تقبل شهادته وان لم یکن کذلك فان کان صلاحه اکثر من فساده وصوابه اغلب من خطایه ولا یکون سلیم القلب یکون عدلا تقبل شهاته کذا فی فتاوی قاضی خان وعن ابی یوسف الفاسق اذا کان وجیها فی الناس ذا مروة تقبل شهادته والاصح ان شهادته لا تقبل کذا فی الکافی". چونکه فسق مذکور في السوال د شریعت نه د خلاف کیدو نه علاوه د مروت او تهذیب نه هم خلاف دی نو د داسې فاسق په شهادت رد کولو کې د چا هم خلاف هم نشته دی. نو دا شهادت مقبول نه دی نو کالعدم شو اوس کتل دا پکار دي چه د مقتول ولې دعوه په چا کوي آیا د محلې والا باندې ئې کوي که په ټولو وي او که بعضې معینو باندې او که صرف تماشه کونکي کسانو باندې دعوه کوي د کومو کسانو نومونه چه دغه ګواهان اخلي نو اول صورت کې به قسامت او دیت د محلې والا باندې وي. "کما فی الهدایة باب القسامة هذا الذی ذکرنا اذا ادعی الولی القتل علی جمیع اهل المحلة وکذا اذا ادعی علی البعض لا بأعیانهم والدعوی فی العمد والخطاء لانهم یتمیزون عن الباقی والودعی علی البعض بأعیانهم انه قتل ولیه عمدا او خطاء فکذلك الجواب یدل علیه اطلاق الجواب فی الکتاب وهکذا الجواب فی المبسوط الخ". او په دویم صورت کې به د مدعي علیه نه حلف اخستل کیږي که حلف (قسم) ئې وکړو نو بري به شي او که نکول (ځان ویستل) ئې وکړو نو وبه کتل شي چه آیا دا په نیزه یا دروند خیز وهل شوی دی. په دویم صورت کې به د نکول په وخت د دې حکم وکړی شي او په اول صورت کې به د نکول والا بندي کولی شي که اقرار ئې وکړو نو قصاص به شي او که قسم ئې وکړو نو بري به شي. "کما فی الهدایة بخلاف ما اذا ادعی علی واحد من غیرهم الی قوله ثم حکم ذلك ان یثبت ما ادعاه اذا کان له بینة وان لم تکن استحلفه یمینا واحدة ثم ان حلف بری وان نکل والدعوی فی المال ثبت به وان کان فی القصاص فهو علی اختلاف مضی فی کتاب الدعوی وقال فی کتاب الدعوی ومن ادعی قصاصا علی غیره فجحده استحلف بالاجماع الی قوله وان نکل فی النفس حبس حتی یحلف او یقر؛ فقط. ۱۸ محرم ۱۳۲۶ھ (تتمه اولی ص۱۸۶).



## د دیوال نه شاته اوریدو سره د طلاق او عتاق شهادت ورکول

سوال :(٤٤٥) که ګواه ئې د دیوال نه شاته واوري او د طلاق او عتاق ګواهي ورکړي نو شرعا به مقبول وي او که نه، فقط؟

جواب: مقبول به نه وي. "کما فی الهدایة ولو سمع من وراء الحجاب لا یجوز له ان یشهد ولو فسر للقاضی لا یقبله لان النغمة فلم یحصل العلم". البته یو خاص صورت د کوم تحقق چه ډیر نادر دی د دې نه مستثنی دي کوم چې ئې د دې نه وروستو عبارت نه مستثنی کړي دي: "الا اذا کان دخل البیت وعلم انه لیس فیه احد سواه ثم جلس علی الباب ولیس فی البیت مسلك غیره فسمع اقرار الداخل ولا یراه له ان یشهد لانه حصل العلم فی هذه الصورة ج۲ ص۱۴۲". د کوم حاصل چه دا دی چه د وړاندې نه کور خالي وي او یو کس د دغه ګواه په مخامخ وه دننه لاړو او د دې دروازې نه بله لاره کور ته د تللو نه وي او په دې حالت کې ئې د دې نه څه خبرې واوریدې نو بیا به یقین وکړی شي چه دا د دغه دننه تلونکي اواز دی نو په دې صورت کې ګواهي جائزه ده او د دې زمانې په اعتبار سره دا هم شرط دي چه په دې کې ګراموفون هم نه وي. ۳۰ ذی الحجه ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۸۷).

## د پلار ملازم کیدل د اولاد په حق کې د ګواهئ قبلولو مانع نه دی

سوال :(٤٤٦) که في الحقیقت د ښځې مور او پلار مدعیان وي لیکن چونکه ګواهان ئې خادمان او ملازمین دي نو ځکه ښځه دې مدعي ظاهر کړي نو په دې حیلې سره د پلار خادمان ګواهي به د لور په حق کې معتبره وي او که نه، فقط؟

جواب: اول چه په چا باندې د مدعي تعریف صادقیږي هغه ته به مدعي ووایو که خپله رایه سره دعوه وکړي یا د بل چا دعوې سره او که رشتینې وي او که دروغجن نو د ښځې نه به تپوس کیږي که هغه وعده وکړي نو مدعي به ورته ویل کیږي نو د ګواهانو د هغه د پلار خادم کیدل د قبول نه نه منع کوي کله چه هغه عادل وي. بل د طلاق په ګواهئ کې پخپله د دعوې تقدم او شرط ضروري نه دی. "فی الدر المختار اول کتاب الشهادة وبلا طلب فی حقوق الله تعالی کطلاق امراة وعتق امة". پس په شهادت کې د شاهد او مشهود له خصویت او تبعیت مانع د قبول به نه وي، فقط. ۳۰ ذی الحجه ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۸۸).

## عدم کفایت شهادت محض زنان درحقوق

سوال :(۴۴۷) د شوال د میاشتې به ایت یادطلاق او نکاح عقد کې صرف څلور یا ښځه ښځې ګواهي ورکړي نو په دې امورو کې د هغوئ شهادت مقبول دی او که نه؟ یعنې د څلورو ښځو په ګواهئ سره به دا ګواهي صحیح شي او که نه؟

جواب: نه ثابتیږي."فی الدر المختار اول کتاب الشہادات بعد ذکر نصابها فی الزنا والحدود والقصاص والولادة والبکارة وعیوب النساء مانصه ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا اوغیره کنکاح وطلاق الی قوله رجلان اورجل وامراتان ثم قال ولم تقبل شهادة اربع بلارجل؛والله اعلم". ۶ رجب ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳، ص۸۲).

## شهادت دو کس بر یک جزو دعوی وشهادت دو کس بر جزو دیګر

سوال :(۴۴۸)علماء په دې باره کې څه فرمائي چه یو کس دواړه شیزونو دعوه وکړه او د هغې ثابتولو لپاره ئې کوشش وکړو دواړو کسانو د یو کار ګواهي ورکړه او دوه کسانو د بل کار د اولو دوه کسانو نه یو بیان وکړو چه ماته د بل کار پته نشته او هغه په همدې جلسه کې مګر دا نه ده معلوم چه د اول نه آخر پورې یا لږ. نو په دې صورت کې به د دویم کس ګواهي ثابته شي او که نه؟ د شهادت نصاب موجود دی دغه کس انکار کوي او په تردد کې دی چه په ټوله جلسه کې وشو او که نه؟

جواب: "فی الهدایه باب الاختلاف فی الشهادة واذا شهد شاهدان انه قتل زیدیوم النحر بمکة وشهد آخران انه قتله یوم النحر بالکوفة واجتمعوا عندالحاکم لم یقبل الشهادتین لان احدهما کذبة بیقین ولیست احدهما باولی من الاخری". د دې روایت نه معلومه شوه چه کوم ځاي کې چه دوه دوه ګواهان داسې وي په کوم کې چه تنافي نه وي نو دواړه شهادتونه مقبول دي نو په تپوس شوي صورت کې دواړه شهادتونه مقبو ل او ثابت دي."وهذا ظاهر جدا والله اعلم". (۱۱ ذی الحجه ۱۳۲۲ھ (امداد ثالث ص۸۲).

## عدم جواز شهادت بسماع واقعه

سوال :(۴۴۹)کومه واقعه چه لیدلی شوې نه وي او په اکثره خلکو کې د مشهوریدو د وجې نه یا د بعضې ظني قرائنو نه داسې معلومه شي داسې ګواهي ورکول جائز دي او که نه؟

جواب: جائز نه دي. ۲۵ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۳۱).



## تقدیم ګواهان شخصیکه خلاف ظاهر دعوی کند

سوال :(۴۵۰)یوه ښځه وه هغه د بیمارئ په حالت کې د خپل پلار کره په خوشحالئ د خپل خاوند نه لاړه او ځوي یا لور هیڅ ئې نه وو شوي یوه هفته د پلار کره وه او مړه شوه. وروستو د هغې پلار په خپل زوم دعوه وکړه چه مهر ئې ماته ښودلی دی او دوه ګواهان ئې هم پیش کړي او د دغه ښځې خاوند خپل خسر ته وویل چه مهر ئې ماته معاف کړی دی څو کاله وشو او ګوهان ئې هم پیش کړل مګر دا جنګ په کور کې دی عدالت کې نه دی. د دې متعلق څه حکم دی؟

جواب: د خاوند ګواهان مقدم دي که چیرته معتبر وي. "لانه یدعی خلاف الظاهر". ۲۴ رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۷۸).

## کتمان شهادت بخوف جرح وکلاء

سوال :(۴۵۱) د ګواهئ پټول سخته ګناه ده. لیکن انګریزي عدالت کې د رشتیا شهادت کې هم د ګواه وغیره جرح وغیره کیږي په ویره کې ئې پرې دروغ کوي او د ناتجربه کار او نیغ ملا زیاته اندیښنه وي د دې اندیښنې نه انکار کول جائز دي او که نه؟

جواب: که د دې واقعې د ثبوت مزار په ګواهئ باندې وي نو کتمان او عذر ناجائز دی او په جرح کې رشتینې سړی چه د خاص شق ثابتول ئې مقصود نه وي بلکه دا نیت وکړي چه که مقدمه جوړه شي او که خرابه شي نو د رشتیاو نه علاوه به نور څه هم نه وایم نو داسې کس په جرح کې کله هم نه پریشانه کیږي. ۲۵ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ (حوادث ۲۰۱ ص۲۱).

## عدم جواز کتابت شهادت بلا تحقیق

سوال :(۴۵۲)بله خبره دا ده چه کله کار ختم شي نو د روپو حساب چه کوم کاغذ کې وي په هغې باندې مونږ د ګواهئ په طور دستخط کوو او په هغې کې اکثر څه روپئ زیاتوي نو په دغه کاغذ باندې مونږ د دروغو ګواهي ورکوو که همداسې انکار وکړو نو خفګان راځي نو دا دستخط کول پکار دي او که نه؟

جواب: دا خو ظاهري خبره ده د تپوس په کې څه دي؟ (حوادث ۲۰۱ ص۱۳۵).

### جواز شهادت زور در بعض مواضع

سوال :(۴۵۳)دا خبره زما په ذهن کې رانغله خلاصه جواب راکړئ چه ګواهي ورکړم او که نه اګر که د ملګري خفګان په کې وي او ضرور به پکې وي که په دې کې ګناهګاريږم نو زما ني خفګان قبول دی، جواب راکړئ؟

جواب: آو جائزه خو نده که د ډير ضرر اندیښنه وي نو مجبورئ کې ګنجائش شته دی.

### د ګواه نفقه (یعنې د هغه خوراک)

سوال :(۴۵۴)په سرکاري عدالتونو کې د ګواهئ لپاره خرچه ملاويږي ايا د هغې اخستل جائز دي؟

جواب: جائز دي ليکن د ضروري خرچ نه چه څه پاتې شي هغه دي د روپو والا ته واپس کړی شي او که دا کس د اهل وعيال لپاره کار کوي او د هغه د کار څه خرج وي نو د هغې نه دې د اهل وعيال خرچ هم واخلي او بيا چه څه پاتې شي هغه دې واپس کړي. ۱۳ صفر ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص۶۳).

### د ګواه د خوراک حکم چه د عدالت له طرف نه ورکول کيږي

سوال :(۴۵۵)که عدالت يو کس راغواړي ګواهي ترې واخلي او خوراک ورله ورکړي نو د هغې اخستل جائز دي او که نه؟

جواب: هغه کس چه څومره خرچ شوي وي هغه دې واخلي او باقي روپئ دې واپس کړي. ۲۷شعبان ۱۳۳۱ھ (حوادث ۲۰۱ ص۱۱۵).

# کتاب الشفعه

### استحقاق الشفعة در زمین که بعوض کمي سابق

سوال :(۴۵۶)علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د مبيع د استحقاق نه بغير وي او ورکول کيږي چه امير احمد د وزير النساء نه د خپلو روپو په عوض سره د خپل ملکيت ځمکې سره نو د دغه ملکيت چه د عيدو د کلو بنځې او چمن خوي اخستلي وو يوه ځمکه چه ۱۳ درعه لي وه واخستله د کوم چه رشيد احمد ملاصق دی وائي چه وزير النساء چه ۴۱ درعه ځمکه



په مير احمد باندې خرڅه کړې وه د هغې نه د ۱۹ درعه کموالی د امير احمد استحقاق د وجې نه وکړی شو او وزير النساء ۴۱ درعه په دې ۱۳ درعه باندې پوره کړې وه نو دا د پخوانئ بيعې قيمت دی کوم نوې بيعه نه ده چه رشيد احمد ته شفع ورسيږي اوس رشيد احمد د شريعت د مخې تشفع کولی شي او که نه؟ او دا معاوضه (قيمت، بدله) د بيعې اقرار نامه ده او که نه؟

جواب: په تپوس شوي صورت کومه ځمکه چه وزير النساء په امير احمد باندې خرڅه کړه او په هغې کې د بل چا حق راووتلو او د هغې د وجه نه په مبيع کې کموالی راغلو نو د دغه کموالي په اندازه په وزير النساء باندې د امير احمد روپئ واپس کول واجب شول ليکن هغوئ دواړه خپل منځ کې راضي شول او د هغه روپو په عوض کې څه ځمکه وزير النساء امير احمد ته ورکړه نو دا نوې بيعه شوه چه مبادلة مال بمال ده او په دې کې به شرعا رشيد احمد شفيع ته د شفعې حق رسيږي. او په ظاهره کې اګرچه دا د اول بيعې تکميل ګڼل کيږي مګر په حقيقت کې ئې د اولې بيعې سره هيڅ علاقه نشته دی بلکه نوې بيعه ده ځکه چه د بل چا د استحقاق په وجه په هغه ځمکه کې کموالی راغلو نو د دغه کموالي په اندازه وزير النساء خرڅونکې باندې د اخستونکي روپئ واپس کول واجب شول او مشتري هغه روپئ د دغه خرڅونکې نه واپس جبرا اخستلی شي بائعه دا اختيار نه لري چه روپئ ورنکړي او په عوض کې ځمکه ورکړي همداسې که خرڅونکې روپئ ورکړي او اخستونکې ئې وانخلي او په دې کې ئې ځمکه وغواړي غرض دا چه واجب الادا مذکورې روپئ او د ځمکې اخستلو او خرڅولو کې په خرڅونکې او اخستونکې باندې جبرا نه شي کيدی بلکه د ځمکې قيمت د دواړو طرفونو په اقسامو موقوف دي نو که دا اوله بيعه نه وي نو د ايجاب وقبول او سابقه تراضي باندې خرڅونکې او اخستونکې باندې جبر کړی شوی وي او د روپو اخستل او خرڅول د اخستونکې او خرڅونکې د رضا نه بغير جائز نه وي ځکه چه د روپو واپس کيدل به فسخ وي او فسخه د دواړو طرفونو د رضا نه بغير جائزه نه ده نو کله چه د ځمکې په معاوضه کې د چا جبر نشته او روپئ اخستل او ورکول په جبر سره جائز دي نو معلومه شوه چه دا اوله بيعه نه وه بلکه نوې بيعه ده چه د دواړو طرفونو د رضا حاجت پيدا شو نو کله چه نوې بيعه وشوه نو د شفعې د استحقاق نه اوس څه شي مانع دي دا خبره ډيره ظاهره ده په لږ غور کولو سره معلوميږي. ۳۰ ربيع الاول ۱۳۰۱ھ (امداد ثالث ص۸۶).

## شفعه شریک وقت مبایعت شریکین

**سوال** :(٤٥٧) په دې مسئله کې علماء څه فرمائي چه یو جائیداد او متاع او مشاع تقسیم نه دي څو کسان شریك دي که یو شریك خپله حصه په بل خرڅه کړي نو نور شریکان د شفعې حق لري او که نه او ټولو ته برابره رسیږي یا کمه او زیاته، فقط؟

**جواب**: نور شریکان د شفعې دعوه لرلو حق لري ځکه چه د ټولو استحقاق په جائیداد کې برابر دی او ټولو شریکانو ته برابر حق رسیږي کم او زیات نه. "واذا اجتمع الشفعاء فالشفعة بینهم علی عدة روسهم ولا یعتبر اختلاف الاملاك؛ هدایة ج۲ ص۳۰۳ والله اعلم". ۱۵ صفر ۱۳۰۱ هـ (امداد ج۳ ص۸).

## عدم استحقاق شفعه باتصال بالمتصل

**سوال** :(٤٥٨) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه زید د یوځاي مالك دی چه نوم ئې الهدادپور دی د پروره او محکم پور یو بل کس مالك وو او دواړه ځایونه ئې د یوې بیع نامې په ذریعې سره د بل په لاس خرڅ کړل د پروره اوبه الهدادپور ته ځي او د الهدادپور اوبه پروره ته ځي او داسې آب پاشي د الهدادپور باغون د پروره کوهیانو نه کیږي او د پروره د باغونو الهدادپور د کوهیانو نه کیږي او د دواړو ځایونو لاره یو بل ته ځي او داسې د محکم پور لاره په پروره باندې تیریږي او د پروره لاره د محکم پور نه تیریږي. او د آمدورفت منافع لاره او اوبه وغیره د دواړو ځایونو یعنې پروره او محکم پور یوځاي دی په دې صورت کې زید یعنې د الهدادپور مالك نو په دې بیع نامه کې به شفعه چه د دوه دوه ده د پروره او محکم پور حاصلیږي او که نه، فقط؟

**جواب**: "فی عالمکیریة المجلد السادس صفحه ۱۳ سطر ۱۳ ما نصه صاحب الطریق اولی بالشفعة من صاحب مسیل الماء اذا لم یکن موضع مسیل الماء ملکاً له آهـ". د سوال د عبارت نه معلومیږي چه د الهدادپور مالك شریك في نفس المبیع خو نه دی مګر په دې ځایونو کې د خپل منځي تعلقاتو ثابتولو لپاره هغه شریك في حق المبیع ثابتولو کوشش کړائ شوی دی مګر او لخو الهدادپور او پروره کې د دې احتمال کیدی شو نو د دې دواړو چونکه څه لاره یا مسیل وغیره د شفعې دعویدار او بائع کې مشترك بملك متماثل نه دی او د عالمګیري د پورته روایت نه د دې اشتراط معلومیږي لهذا خلط في المبیع هم ثابت نه دی اوس صرف د ګاوندیتوب حق پاتې شو کوم چه صرف پروره ته حاصل دی نو په دې کې د شفعې دعوه هم کیدی شي بشرط عدم مبطل، والله اعلم. ۲۹ جمادی الاولی ۱۳۳۱هـ.



## د شفعې د حکم یو صورت الخ

**سوال** :(٤٥٩) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه یو کس کور خرڅ کړو د هغه کور ګاونډي (د کوم د مینځ دیوال چه ملاو شوی وو او د دواړو لاره عامه وه) د مواثبت او شرعي شهادت د طلب نه بعد په دیواني عدالت کې د شفعې دعوه وکړه او د مدعي علیه په تحریك باندې فیصله په ثالث کس باندې منقطع شوه (د کوم چه زه هم یو رکن یم) نو د شریعت د مخې دې فتوا ولیکل شي ترڅو کوم چه حق بجانب وي هغه ته حق ورکړی شي؟

۱ـ که مدعي علیه (اخستونکی) که څه روپۍ په کور کې لګولې وي نو هغه به څوك برداشت کوي اخستونکی او که شفیع؟

۲ـ فریقین دې د عدالت خرچه څنګه واچوي د دې جواب د مهر کولو سره د دین د علماو د استفتاء په طور ولیکل شي، الله دې تاسو له اجر عظیم درکړي؟

**جواب**: "فی الدر المختار ویأخذ الشفیع بالثمن وقیمة البناء والغرس مستحقی القلع کما مر فی الغصب قلت واما لودهنها بالوان کثیرة اوطلاها بجص کثروخیر الشفیع بین ترکها اواخذها واعطاء ما زاد الصبغ فیها لتعذر نقضه ولا قیمة لنقضه بخلاف البناء حاوی الزاهدی وسیجی لوبنی المشتری اوغرس اوکلف الشفیع المشتری قلعهما الا اذا کان فی القلع نقصان الارض فان الشفیع له ان یأخذها مع قیمة البناء والغرس مقلوعة غیر ثابتة قهستانی فی رد المختار قوله اوکلف عطف علی یأخذ ج۵ ص۲۲۷".

د بره عبارت نه دا کارونه ثابت شول:

۱ـ شفیع ته دې د شفعې حق ورکړی شي.

۲ـ څه روپۍ چه اخستونکي لګولي دي کتل دا پکار دي چه د هغې څه صورت دی که عمارت ئې پراخه کړی وي نو په هغې کې تفصیل دا دی چه که د دې په ماتولو کې د ځمکې څه نقصان وي نو بیا خو به د شفیع نه اصل قیمت او د ملبې قیمت دواړه څیزونه اخستل کیږي مګر د ملبې هغه قیمت به ترې اخستل کیږي کوم چه د غورځولو نه بعد مقرر کړی شي او که د ځمکې څه نقصان پکې نه وي نو شفیع دا اختیار لري که هغه اخستونکي ته وائي چه خپل تعمیر جدا کړي او یا اصل قیمت او د ملبې مذکور قیمت دې ورکړي او کور دې واخلي او که کوم تعمیر ئې نه وي جوړ کړی بلکه څه کار ئې په کې کړی دی نو شفیع اختیار لري که وغواړي نو د شفعې حق دې پریږدي او که وغواړي نو قیمت دې ادا کړي او کور دې واخلي او د عدالت خرچه ایا د اخستونکي د جواب ورکول په وجه وشوه یا ابتدائي درخواست کې د شفیع وشوه. ۲۲ شوال المکرم ۱۳۳۳هـ.

# کتاب الغصب

## براة از حق باداء حق بلا اطلاع مالک

سوال :(٤٦٠) د یو غل یا د غل دوست سره د غلا ملا اینبودلی شوی دی او الله د غل یا د هغه کس سره چه غل ورسره مال اینبی دی په زړه کې دا خبره اچولې ده چه دا زمونږ دپاره حرام دي دا واپس کول پکار دي یا که هغه مال خرچه شوی وي نو د هغې قیمت مالك ته ورکول پکار دي مگر د غل او د غل دوست کوم ته چه هغه غل غلا کړی مال هبه کړی دی دواړه دا اندیښنه لري چه که مال یا د مال قیمت مالك ته ورسوي نو تپولو ته به معلومه شي او د بې عزتۍ نه علاوه د قید ویره هم ده نو څه حیله وکړي چه مالك ته دّ مال قیمت ورسیږي او دغل او د هغه دوست بې عزتي هم ونشي؟

جواب: په پټه دې دغه مال د مالك د قبضې ته څنګه چې ئې کولی شي ورسوي نو هغه سره به بريء الذمه شي مالك ته د اطلاع ورکولو حاجت نشته چه فلاني کس زما دا حق راکړی.
"فی الدر المختار کتاب الغصب ویبرء بردها ولو بغیر علم المالك الی قوله وکذا لو سلمها الیه بجة اخری کهبة او ایداع او اشراء اه؛ والله اعلم". ۱۸ ذیقعده ۱۳۲۰ھ (امداد ج۳ ص۸۴).

## حکم تنخواه از ریاست که بمال مغصوب داده شود

سوال :(٤٦١) زید د یو اسلامي ریاست نه څه تنخواه باندې مقرر دی زید په دې خبره ښه پوهیږي چه په اسلامي ریاست کې د قوم نه روپۍ ظلما وصولیږي او استیلاء مسلم علی مال المسلم د ملکیت موجب نه دی نو په دې صورت کې به دزید آمدن جائز وي او که نه؟ او په دې بنا باندې د دې ریاستونو نوکري جائزه ده او که نه؟

جواب: اګرچه د غصب او ظلم مال په خپل یا بل مغصوب مال کې ملاوولو سره د مالك په غصب کې داخلیږي مگر هغه به خبیث ملکیت نه وي نه هغه له پخپله صرف کول جائز دي او نه نورو له د هغې قبول جائز دي او نه به د داسې ریاست نوکري جائزه وي.
"والروایات هذه اما التملك بالخلط بمال نفسه او غیره فلما في الدر المختار ولو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملکه فتجب الزکوة فیه ویورث عنه لان الخلط استهلاك اذا لم یکن تمیزه عند ابی حنیفة وقوله ارفق اذ قلما یخلو مال عن غصب ۱۳۵. وفیه اما اذا اخذ من انسان مایة ومن اخر مایة وخلطهما ثم تصدق لا یفکر لانه لیس بحرام لعینه بالقطع لاستهلاك بالخلط ۱۳۵ قلت وافاد ایضا کون هذا المخلوط حراما خبیثا ولو حراما لا لعینه"



واما حرمة الانتفاع به فلما فیه ایضا فان غصب وغیر المغضوب فزال اسمه واعظم منافعه او اختلط المغضوب بملك الغاصب بحیث یمنع امتیازه او یمکن بحرج ضمنه وملکه بلا حل الانتفاع قبل اداء ضمانه ای رضاء مالکه باداء او ابراء او تضمین قاض والقیاس حله وهو روایته فلو غصب طعاما فمضغه حتی صار مستهلکا یبتلعه حلالا فی روایة حراما علی المعتمد جمعا لمادة الفساد ۲۶۶ واما حرمة قبول الغیر له فلما فیه ایضا وجاز رزق القاضی من بیت المال لو بیت المال حلالا والا لم یحل ۳۱۹ قلت والفرع بعد تمهید الاموال ظاره حکمه والله اعلم فقط.
(امداد ص ۸۴، ج۳).

## حق مسیل

سوال :(٤٦٢) د ناوی اوبه د ګاونډي په خپل چت یا صحن کې غورزول او د دغه حق مزدوري یا په عدالت سره زائله کول جائز دي او که نه، فقط؟

جواب: سیل یعنې د ناوی وغیره اوبه ویستل د ملکیت د حقوقو نه دي کوم کس چه د دې ځاي مالك دی هغه هر رنګه تصرف کولی شي نو دا کس چه د ګاونډي د ناوی حق ختمول غواړي که د دغه ناوی د اوبو ځاي د هغه ملکیت وي او تراوسه ئې تبرعا هغه له اختیار ورکړی وي او اوس ئې بندول غواړي نو جائزه ده او د خپل ملکیت اختیار لري او که دا ځاي د ګاونډي ملکیت وي نو دغه کس له د ناوی بندل جائز نه دي ځکه چه دا غصب دی.
"ومن اشتری بیتا فی دار او منزلا او مسکنا لم یکن له طریق الا ان یشتریه بکل حق هو له او بمرافقه او بکل قلیل وکثیر وکذا الشرب والمسیل هدایه ج۳ ص۶۳؛ والله اعلم". ۳ جمادی الاولی ۱۳۰۱ھ (امداد ج ۳ ص۸۵).

## د ګارډ په اجازت سره په ریل کې بغیر د ټکټ نه سفر کول

سوال :(٤٦٣) زید د ګارډ په تحریك سره بغیر د ټکټ نه ریل کې سفر وکړو چونکه ګارډ د سټیشن والا ته وویل چه دا کس زما دوست دی لهذا د ریل کوم ملازم د زید نه رایه ونه غوښتله ګارډ وائي چه زه اختیار لرم چه بغیر د ټکټ نه دوه کسان د ځان سره په سفر بوځم حال دا چه دا وینا ئې بالکل غلطه ده ځکه چه هغه د ریل کمپنۍ ملازم دی نه چه د ریل مالك: نو په دې صورت کې د زید په ریل ګاړي کې بغیر د ټکټ نه سفر کول جائز دي او که نه؟ او که ناجائزه وي نو اوس دې څرنګه ادا کړي. د خپلې دې غلطۍ په ښکاره کولو ویریږي چه جرم راباندې جوړ نه شي نو هغه له په دې صورت کې څه کول پکار دي، بینوا توجروا؟

**جواب**: زید له دا کتل پکار دي چه په ما باندې څومره کرایه واجب ده د دومره روپو یو ټکټ دې واخلي او ضائع دې کړي او کار دې ترې وانخلي نو د کمپنۍ حق به ادا شي. ۲۵ رجب ۱۳۳۱ھ (حوادث ۲۰۱ صـ۱۰۷).

## جواز وصول کردن حق خود از جنس حق وعدم جواز آن از غیر جنس

**سوال** :(٤٦٤) علماء په دې مسائلو کې څه فرمائي:

۱۔ زید د عمرو یو څه روپۍ یا ټوپۍ چه څو روپۍ قیمت ئې لرلو غصب کړه او عمرو ئې د کمزورۍ د وجې نه نه شي وصولولی آیا عمرو دا حق لري چه د زید بوټ چه دومره قیمت لري یا بل څیز چه د دومره روپو وي وصول کړي که داسي وکړي نو مال او معامله درسته ده او که نه؟

**جواب**: (۱) غیر جنس حق دې وصول کړي او د ځان سره دې وساتي او بیا دې د خپل حق مطالبه وکړي که هغه ئې ورکړي نو څیز دې ورته واپس کړي.

(سوال۲): زید خپل موروثي کروندګر ته داسې وویل چه کومه ځمکه چه ته په موروثي قیمت باندې کړې اوس به ئې ته په ماء قیمت ورکوې نو آیا زید دا حق لري چه د کروندګر نه په هره طریقه که هغه د سود یا نغدو یا سامانو نه وي دومره روپۍ وصول کړي او زید د حکومت د قانون د وجې نه په ځمکه باندې د قبضې کولو نه مجبور دی؟

**جواب**: (۲) د روپو وصولولو حق خو لري څنګه چه وصولیدی شي او په بل څیز کې د خبس کولو حق دی لکه څنګه چه بره ذکر شول. ۳ فروري ۱۹۲۱ء (تتمه خامسه صـ۱۸۹).

## عدم جواز انتفاع از اراضي موروثي باوجود رضانی مالک زمین

**سوال** :(٤٦٥)د موروثي ځمکې کروندګر زمیندار ته وائي چه خپله ځمکه واخله او زمیندار وائي چه ته موروثي مه پریږده ځکه که ته ئې پریږدې نو زمونږ په کې هیڅ فائده نشته یا خو به ئې ستا ترونه واخلي او یا وروڼه نو ماته به ملاو نه شي. بلکه زمیندار داسې وائي چه د ځمکې زما د طرف نه اجازت دی ته ئې پخپله کره او لږ قیمت ئې زیات کړه یعنې د درې روپو په ځاي څلور یا پنځه کړه مګر زما نه ئې په خوشحالۍ سره کره او زمیندار د سختې مجبورۍ د وجې نه داسې کړې دي د دې ځمکې کرل جائز دي او که ناجائز؟

**جواب**: چونکه په دې صورت کې دا یقیني امر دی چه د زمیندار رضامندي به همیشه لپاره وي یا که خاص د دې کروندګر په حق کې وي نو یقین به نه وي چه د هغه د اولاد په حق کې



دې هم دي، داسې هم یقیني نه ده چه د دې زمیندار ورته به هم داسې رضامندي وي نو مذکوره رضامندي کوم چه شرط وي د انتفاع د حلالوالي آئنده کې نشته او که کروندګر په دغه وخت کې ځمکه پریښودل ونه غواړي نو ظاهره ده چه زمیندار به مجبوره شي نو د دغه وخت په رضامندۍ باندې قابض پاتې کیدل آئنده لپاره د ظلم بنیاد کیښودل دي او ظلم چه څرنګه مباشرة حرام دي همداسې تسبباً هم کله چه تسبب مظنون وي او دلته د واقعاتو نه دا سبب یقینا مظنون دی نو ځکه د دغه وخت د رضامندۍ نه منتفع کیدل نه دي پکار او په دغه وخت کې پریښودو سره به ئې نور ظالمان واخلي مګر د دغه ظلم سبب خو به دا نه وي د هغه قصد خو خپله تبریه ده. ۵ ذی الحجه ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه صـ۲۰۱).

## حکم منافع اراضي خرید شده الخ

**سوال** :(٤٦٦) زید مسکین ونابینا است وقوت کسب هم ندارد اورا قطعه زمین از راه وراثت بدست آ»ده است لیکن مورث متوفي اوحین حیات خو از شخصی هندو مذهب چند نقد غصب کرده بود پس آن هندو در سرکار انګریزي مقدمه برآن مورث کرده بود ومقدمه اونا ثابت شد لیکن زید به یقین یا ظن میداند که مورث او زمین مذکور بآن نقد مغصوب خریده بود حالا زید راپیدائش آن زمین خوردن جائز است یا نه؟

**جواب**: حکم این چنین غله تصدق است برمساکین پس زید تا وقتیکه مسکین ست بحیثیت مسکین بودن اګر منتفع شود ګنجائش است نه بحیثیت وارث بودن که مال حرام از وراثت حلال نمي شود وهرګاه مسکنت وحاجت "نماند لان المال غادرائح" باز بر مسکینان تصدق نماید. ۱۱ رجب ۱۳۳۹ھ.

## تفصیل ضمان متلفات در عمر نابالغي

**سوال** :(٤٦٧)زید به په وړوکوالي کې د خلکو د باغونو نه بغیر د اجازت نه کله کله میوه خوړله دا خو ظاهره ده چه هغه وخت مکلف نه وو لیکن تپوس دا دی چه د بلوغ نه وروستو به د هغه په مالك باندې دا معاف کول واجب وي او که نه؟ باغ داسې وو چه پابندۍ سره ئې خیال نه ساتل کیدلو چونکه د باغ خاوند ته د باغ نه څه نفع نه حاصلیده لیکن کله به ئې چه څوك باغ کې کتل نو منع کول به طې او خفه کیدلو به؟

**جواب**: "فی الدر المختار وان تلفوا ای هولاء المحجورون (من العبد والمجنون والصبی) شیأ مقوما من مال ونفس ضمنوا اذ لاحجر فی الفعل لکن ضمان العبد بعد العتق علی ما مر وفی الاشباه الصبی المحجور مواخذ بأفعال فیتضمن ما اتلفه من المال للحال واذا قتل فالدیة علی عاقلته الا فی مسایل لو اتلف ما اقترضه وما اودع عنده بلا اذن ولیه وما اعیر له وما بیع منه بلا اذن اه وفی رد المختار تحت قوله مواخذ بأفعاله هذا من باب خطاب الوضع وهو لا یتوقف علی التکلیف لان الخطاب نوعان خطاب وضع وخطاب تکلیف کما فی جمیع الجوامع وفیه تحت قوله لو اتلف ما اقترضه. وفی قول ابی یوسف هو ضامن ثم قال ولو اتلف مال غیره بلا سبق ابداء او اقراض ضمن بالاجماع (ج۵ ص۱۳۰_۱۳۱) وفی رد المحتار ولو اقرض صبیا وعبدا محجورین لاضمان الحال ولا المال بلا خلاف وقیل القرض علی الخلاف شربنلالی ج۵ ص۱۷۲.

د دې عبارتونو نه چه ما کوم مطلب اخستلی دی هغه دا دی چه په تپوس شوي صورت کې خو ضمان لازم شو مګر د خطاب تکلیف پرې نشته دی بلکه د وضع په خطاب سره یعني د اتلاف په وخت کې د دغه صبي په ملکیت کې څه مال وي نو د هغې تاوان په ولي باندې واجب وو او که ولي نه وي ورکړائ او په دغه وخت کې دا بالغه شوی وو او هغه مال د کوم په وجه چه تاوان شوی وو باقي پاتې وي نو په هغه باندې د بالغیدو نه بعد به د هغې تاوان ورکول واجب وو لتعلق حق الغیر بماله او په نه ادا کولو سره به عاصي وي او که هغه وخت مال نه وو یا د بلوغ نه وړاندې هلاك شوی وو نو د هغه په ذمه د دغه متلف هیڅ مواخذه نشته دی. "لانعدام خطاب التکلیف لعدم البلوغ وانعدام خطاب الوضع لعدم محل تعلقه ای المال فقط".

او په قرض کې چه یو قول د عدم ضمان حالا ومالا دی په هغې دې دا قیاس نه کړی شي ځکه چه د مالك د اقراض د طرف نه تسلیط وموندل شو او دلته ونه موندل شو لیکن مسائلو لپاره پکار دي چه د نورو علماو نه تحقیق وکړئ. یکم رجب ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۴۷).

## جواز وصول مصارف در گمشده پارسل

**سوال**: (۴۶۸) دوه ریلوی پارسلې د ریلوې کمپنۍ نمبر ۱ په ذریعې سره فیروز پور ته ولیږل شو اتفاقا هغه کس چاته چه لیږل شوی وو وانخستل نو بیا ئې ۳ نمبر کمپنۍ ته ولیکل چه هغه پارسل واپس کړئ هغه ۳ نمبر کمپنۍ پارسلې واپس کړي او دا ئې ولیکل چه د اول نمبر کمپنۍ نه خپل پارسلې واخلئ کله چه اول کمپنۍ ته لاړو نو هلته د دوه په ځاي یو پارسل وو او یو ورك شوی وو کله چه د هغه سره خط او کتابت وشو نو ویې ویل چه مونږ د دویمې کمپنۍ نه یو پارسل اخستلی وو ته د خپل پارسل د ۲ نمبر کمپنۍ نه تپوس وکړه ... دا چه پارسل ۳ نمبر ورك کړی وو مګر اولې کمپنۍ د ۲ نمبر کمپنۍ غلطه حواله



ورکړه. بهرحال مونږ د ۲ نمبر کمپنۍ سره دوه کالو پورې خط او کتابت کولو لیکن څه جواب ئې صفا رانکړو بلکه خپل غفلت اولا پرواهۍ د وجې نه ئې وخت ضائع کړو د کوم نتیجه دا شوه چه قانونا مونږ دا او ۳ نمبر نه کوم چه د پارسل وړونکی او راوړونکی وو څه مطالبه نه شوه کولی نو مونږ ۲ نمبر کمپنۍ د اصل مالیت "ب" او د هغې سود "ج" د خطونو مصارفو سره في خلط مقدمه وکړه. عدالت د دویمې ډلې ډیر کوشش باوجود زمونږ مطالبه تسلیم کړه او ډګري ئې راکړه او د هغې روپۍ مو چه سرکاري خزانې د ۲ نمبر نه وصول او داخل کړو او زمونږ په درخواست به مونږ ته د سرکاري خزانې نه روپۍ ملاویږي؟سوال دا دی چه مذکورې مقدمې باندې مونږ خپلې روپۍ اخستلی شو او د سود روپۍ چه د یوې حربې نه وصول شوې وي او حکومت پرې متولي شوی دی او همداسې د ۱ د خط کاعه اوس دا هر څه چه د حکومت په لاس ملاویږي آیا په څه طریقې سره مونږ د هغوئ مستحق کیدی شو. د دویم نمبر کمپنۍ وکیل وائي کومې روپۍ چه تاسو اخستلی دی دا به مونږ د ۱ نمبر کمپنۍ نه وصولوو د سود روپۍ ځکه مجبورا لګوو چه د عدالت نه پوره خرچ نه ملاویږي او د خرچ وصولولو د سود نه علاوه بله حیله نه شي کیدی؟

### تشریح

ابتداءً چې چا ته پارسل ورکړائ شوی وو هغه اول نمبر کمپنۍ ده او هغه کمپنۍ هغه پارسل ۳ نمبر کمپنۍ ته حواله کړو بیا زمونږ په درخواست هغوئ ۱ نمبر ته واپس کړو. دا د ۱ نمبر غلطي وه چه مونږ ته ئې د دې په ځاي چه هدایت کړی وی چه د ۴ نمبر نه خپل پارسل واخلئ ویې لیکل چه د ۲ نمبر نه ئې واخلئ مونږ د دې لیکلو په بنیاد چه غلطي ئې اوس په مقدمه کې ثابته شوه د ۲ نمبر کمپنۍ نه مطالبه وکړه د دي کمپنۍ (۲نمبر) دا فرض وو چه مونږ ته ئې ویلی وی چه زمونږ د دې پارسل سیره څه تعلق نشته دی بلکه د صفا جواب په ځاي ئې مونږ نه زمونږ د مال حساب وغوښتلو په کوم سره چه زمونږ د مطالبې جائز کیدل او وصلولو د یقین کیدو معلومات مونږ ته وشو. مقدمه ایا ۳ نمبر باندې ځکه نه شي کیدی چه د هغې لپاره په ۶ میاشتو کې دننه کیدل شرط دي اوس چونکه ۲ کاله صرف د ۲ نمبر د غفلت او بې پرواهۍ د وجې نه شوې دي نو ځکه مونږ په هغه باندې مقدمه وکړه غالبه د کمپنیانو ترمنځ تعلقات داسې دي چه یوه کمپني د بلې کمپنۍ تکټ یا پارسل د وکالت په

طور سره بغیر د اجرت نه کوي د اجرت (مزدورئ) په طور څه پیسي چه د یوې آنې نه زیاتې نه وي کوم ته چه حق تحریر وائي؟

**جواب**: اصل مصارف وصولول جائز دي او ضروري خرچ هم د اصل مصارفو سره ملحقه ده په کوم کې چه د خطونو ټکټونه هم داخل دي او سود اخستل جائز نه دي. في خط عه اخستل. التبه که دا خرچه د سود د عنوان نه بغیر نه شي وصولیدی نو په دغه اندازه د سود په عنوان سره وصولولی شي زیاتې نه او د حربې مال چه فاسد عقودو سره مباح کیږي په هغې کې د هغه رضا شرط دي او استیلاء کوم چه د ملکیت موجب دی هغه ده چه د تملك په نیت سره وي او دالبته استیلاء صرف د مستغیث د حق د حفاظت لپاره وي لهذا د حق نه زیات حلال نه شو. ۱۴ شوال ۱۳۳۹ھ (حوادث خامسه صـ۴۴).

## تعیین ضامن در واقعه مذکوره سوال

**سوال**: (۴۶۹) د رنګون ښار تازه واقعه دا ده چه د زید د اجازت نه بغیر بکر د زید په نوم "وي پي پارسل" ډاك نه خپلې روپۍ وصول کړې بیا بکر هغه پارسل د عمرو په لاس د زید کور ته چیرته چه نور خلك هم اوسیږي د هغه په نه موجودګۍ کې ورسوله کوم چه د زید خاص عزیز خالد کیښودلې لږ وخت وروستو یو کس خالد له راغی او ورته ویې ویل چه زید د بکر په کان کې ناست دی او هغه راغلی پارسل غواړي ځکه بکر زه رالیږلی یم. خالد دا ګمان وکړو چه راغلی کس د بکر ملازم دی بکر به زید ته ویلي وي چه ما ستا پارسل اخستلی او ستا ځای کې مې ورکړی دی نو ځکه به زید پارسل کهلاو کړی وي او د پارسل ځیزونه به ئې ښودلو لپاره راغوښتلي وي لیکن چونکه خالد د بکر نوکر نه پیژندلو نو ځکه ورسره پخپله لاړو کله چه د بالاخانې د پوړو نه راښکته شو نو هغه پارسل ئې د هغه په لاس نې ورکړو او پخپله ورسره لاړو. ۲۰۲۰ قده دواړ یوځای روان وو په کوم سړك باندې چه ډیر ګاړي چلیږي هغه کس د بکر د کان طرف ته لږه منډه واخستله خالد هم وریسې منډه کړه او هغه سړی ترې ورك شو د بکر دکان ته رسیدو باندې چه کله خالد د بکر نه تپوس وکړو چه ستا کوم سړی اوس پارسل راوړی دی؟ هغه وو یلچه اوس څوك نه دي راغلي. غرض دا چه دومره وقفه پکې راغله چه هغه سړی غائب شو نو ووایئ چه آیا په مذکوره صورت کې زید او خالد باندې ضروریده چې دمذکوره کارسل قئمت بکرته ورکړی که ضروری وی وي نو په دواړو کسانو کې به څوك د قیمت ادا کولو ذمه دار وي، بینوا توجروا؟



جواب: د تجارتونو نه تحقیق کولو سره معلومه شوه چه د "وي پي" ضائع کیدو په صورت کې عرفا د مرسل الیه نه د قیمت مطالبه نه شي کیدی دا صحیح وي نو د دې نه دا ثابتیږي چه عمله د ډاك د بائع وکیل وي او ثبوت د بیعې د وصولولو په وخت د تعاطي په طور وي. د دې مقدمې نه بعد د مسئلې جواز ظاهر دی چه کله زید وصول نه کړي او نه ئې وصول ته جائز ویلي وي نو دا بیعه به د زید په لاس نه ده شوې بلکه دا پارسل د بکر په لاس کې د مرسل امانت وو. کوم چه د هغه د طرف نه خالد ته تللی وو مخکې د خالد بې احتیاطي سره هغه ضائع شول نو اصل تاوان د هغه د بکر په ذمه دی کوم چه د قیمت ادا کولو سره بائع ته ورسیدلو اوس به بکر دا تاوان د خالد نه وصولوي البته که د دغه پارسل قیمت د خرچې سره په دغه ځای کې د "وي پي" نه کم وي نو همدومره اندازه به د خالد په ذمه وي او که د بکر د وصولیدو خبر اوریدو سره زید هغه د زید امین وي او د خالد نه به زید تاوان اخلي، وهذا کله ظاهر بعد تمهید المقدمة المذکورة". ۱۸ محرم الحرام ۱۳۴۲ھ (حوادث خامسه صـ۴۶).

## ضمان بتلف بر حاضري بناحق یعنې د خراب شوي خیز تاوا ن په ناحقه کنده ویستونکي باندې

**سوال**: (۴۷۰) یو کس د خپل کور په احاطه کې او اطرافو کې نالۍ وویستله د خپل زراعت د حفاظت لپاره او هغه ځای د غویانو د څر ځای دی په دې نالۍ کې د یو کس غوایي ولیدو او مړ شو چه غوائي مالك نالۍ والانه د قیمت مطالبه کوي چه د استهلاك معامله وګڼل شي نو آیا شرعا د دې غوائي قیمت اخستل جائز دي او که نه؟ او دغه د نالۍ والا به قیمت ورکوي او که نه؟ ولیکۍ چه په دې کې د جانبینو ډیر فساد شوی دی هغه نالۍ ډیره تنګه ده د نالۍ والاوائي چه په نالۍ کې د غوائي غورزیدو سره هغه پخپله د نالۍ نه نه شي راوتلی. څو ځل داسې شوې دي او په کومه ځمکه کې چه ئې نالۍ جوړه کړې وه هغه د عامو خلکو حق دی او هغه نالۍ پخپله جوړه کړې وه د حاکم اجازه سره نه وه؟

**جواب**: چونکه دا نالۍ په ناحقه سره جوړه شویده نو ځکه به ورته د هلاکت سبب وویل شي او د نالۍ ویستونکي نه به د غوائي قیمت اخستل کیږي. ۲۳ رمضان ۱۳۳۳ھ (حوادث ثالثه صـ۱۵۲).

### آب پاشي یا گل آردن از تالاب کسی

**سوال** :(۴۷۱)کوم تالابونه چه ځنګل کې پخپله جوړ شي په هغې کې چه د باران کومې اوبه جمع کیږي هغه د مالك د اجازت نه بغیر پټې ته ورکول جائز دي او که نه؟ او د مالك د اجازت نه بغیر د هغې خاوره راوړل جائز دي او که نه؟

**جواب**: "فی الدر المختار فصل الشرب ولا سقی ارضه وشجره وزرعه ونصب دولاب ونحوها من نهر غیره وقناته وبیره الا باذنه لان الحق له فیتوقف علی اذنه اه". د دې نه معلومه شوه چه بغیر د اجازت نه د مالك خپلې ځمکې له اوبه ورکول یا خاوره راوړل جائز نه دي. ۲۴ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ (امداد ج۲ ص۱۶۱).

### استعمال گهیکوار که از زمین غیر حاصل کرده باشد

**سوال** :(۴۷۲) یو کس د دوا لپاره بوټي کرلي دي که یو کس د مالك د اجازت نه بغیر هغه راوړي او دوا کې ئې واچوي نو صحیح ده او که نه؟ او که د مالك نه ئې وغواړي نو نه ئې ورکوي او د دغه بوټي حکیم د وبنو په شان دی او که نه؟ ځکه چه دا تنه داره ونه نه ده او د دې دوا استعمال جائز دی او که نه؟

**جواب**: "فی الدر المختار فصل الشرب وحکم الکلاء کحکم الماء وفی رد المختار وهو ما ینبسط وینتشر ولا ساق له کالاذخر ونحوه والشجر ماله ساق فعلی هذا الشوك من الشجر الی قوله واخص من ذلك کله وهو ان یحتش الکلاء وازنبته فی ارضه فهو ملك له ولیس لاحد اخذه بوجه لحصوله بکسبه ذغیره وغیرها، ج۵ ص۴۳۵).

د دې نه معلومه شوه چه د دې بوټي په وبنو کیدو کې کلام دی دویم که وابنه هم وي نو که یو کس ئې پخپله ځمکه کې وکري نو د هغه ملکیت کیږي او بل چا له ئې بغیر د اجازت نه استعمال منع او حرام دی نو د داسې دوا استعمال جائز نه دی، والله اعلم. ۲۹ ذیقعده ۱۳۲۲ھ (امداد ج۲ ص۱۶۸).

### عدم جواز استعمال چیزی بدون اذن مالکین

**سوال** :(۴۷۳)یو دوکان وو په کوم کې چه نیمې روپۍ زما د پلار وې او په نیم کې زه او زما بل سلګری شریك وو او همدغه کس به کار کولو دوکان ونه چلیدو تردې چه ټول سامان زما کور ته راغلو او څوك ئې خریدار هم نه وو، هلته والد صاحب هم پرې سکوت اختیار کړو د خفګان د وجې نه نه بلکه د دوکان چلیدو او د سامان نه خرڅیدو د وجې ګویا چه خبر ئې وکړو هلته زما



بل ملګری ووېل مونږ صبر کوو او سامان ټول ستا پلار ته ورکوو چه هر څه پرې کوي. اوس نه والد صاحب څه وائي او نه هغه کس او سامان خرابیږي اکثره خراب شو. لږ شهد دي نو زه که د دې نه کوم څیزونه چه خرابیږي یا څرمن ترې په کار راوړم نو دا به صحیح وي او که نه؟

**جواب**: تعجب دا دی چه په داسې لویه خبره کې شبهه وي کله چه روپۍ شریکې وي نو مالك شریك دی سکوت د ملك د خارجیدو سبب نه دی نو غیر مالك له ئې استعمالول څنګه جائز دي ترڅو پورې چه د دواړو مالکانو نه تصریحا اجازت وانخلي هغه که ستا په قبضه کې وي نو امانت دی. ۱۲ شعبان ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۶۴).

### قبضه کردن زمیندارا ن بر ملبه کاشتکارا ن وقت گذا شتن سکونت

**سوال** :(۴۷۴) په زمیندارانو کې دا دستور دی چه څه وخت کردونکر د اوسیدو ځای لرې کړي نو څه چه پاتې وي هغه د زمیندار ملکیت وي زمیندار به ئې په خپل مصرف کې راوړي؟

**جواب**: د دې اخستل هم ناجائز دي ځکه چه پردی حق دی او د دې پرېښودل د رضا دلیل نه دی ځکه چه هغه پوهیږي چه که زه ئې وړل وغواړم نو زمیندار به مزاحمت وکړي. ۲۶ شوال ۱۳۳۳ھ (حوادث ثالث ص۱۵۸).

### مدرس ته د سکول په سیاهي او قلم سره خط لیکل او په پاکټ یا پارسل کې خط اېښودل

**سوال** :(۴۷۵) اکثره وختونو کې د سکول نه ملاو شوې سیاهي او قلم سره د خط لیکلو وخت راځي دا مسئله څنګه ده؟ آیا په متعارف کې داخل او جائز ګڼل کیدی شي او که نه؟ که ناجائزه وي نو تراوسه پورې د دې کار د ارتکاب تدارك څنګه وکړی شي؟

(۲) پاکټ یا پارسل یا لفافه کې دننه څه ټکټونه لیږل به جائز وي او که نه؟ په پاکټ کې دننه خط کیښودل څنګه دي؟

**جواب**: ما اوریدلي دي چه قلم او رنګ چونکه یوې اندازې سره ملاویږي نو که پاتې شي د واپس کولو مطالبه به ئې نه کیږي که کمه شي نو ذمه داري نشته که دا مې صحیح اوریدلې وي نو خط پرې لیکل جائز دي او په پاکټ کې دننه خط یا ټکټ اوریدلي مې دي چه قانونا منع دي او په پارسل کې دننه جائز دي که دا صحیح وي نو دې تفصیله سره شرعي حکم دی. ۱۲ جمادی الاولی ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۲۰۶ وحوادث ۲۰۱ ص۴۷).

# کتاب الرهن

## عدم جواز انتفاع بمرهون

**سوال** :(٤٧٦) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه مرتهن له د مرهون نه د راهن په اجازت سره فائده اخستل جائز دي لکه څنګه چه نن صبا په ملکونو کې رواج دی؟

**جواب**: د مرهون نه فائده اخستل که مشروط یا معروف وي لکه څنګه چه نن صبا کیږي نو سود دی او حرامه ده او سود په اجازت سره نه حلالیږي. "قال فی المنح وعن عبدالله محمد بن السلم السمرقندی وکان من کبار علماء سمرقند انه لا یحل له ان ینتفع بشیی منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فی الربا لانه یستوی فی دینه کاملا نتبقی له المنفعة فضلا فیکون ربا وهذا امر عظیم (وقال بعد اسطر) قال الطحاوی قلت والغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع ولولاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط وهو مما یعین المنع والله تعالی اعلم انتهی؛ شامي جلد خامس مطبوعه مجتبائي ص۳۱۰_۳۱۱، والله اعلم، ۱۳۰۰ھ (امداد ج۳ ص۸۷).

## د مرتهن د بعضې وارثانو د مرهون نه خپله حصه خلاصول

**سوال** :(٤٧٧) زید مشر عمرو کشر دواړه حقیقي وروڼه د دوئ ترمنځ د حصو تقسیم برابر والي سره شوی وو، عمرو د خپلې حصې مختار او زید د خپلې حصې مختار. زید د هندو سره نوکري وکړه او د اصل تنخواه نه ئې هم تحویلولو سره خرچ کړه یعنې د تغلب او تصرف حساب ما راووتلو زید خپله حصه د هندو سره ګرو کړه، عمرو د بل ځاي نه روپۍ واخستلې او ګروي ئې خلاصه او منتقل کړه او څه وخت بعد ئې خپله حصه هم د هغه سره ګرو کړه، د زید ځامنو ته عمرو وویل چه خپله خلاصه کړئ مګر چالاکۍ سره ئې خپلې روپۍ هم ورکولې، په دې دوران کې زید ۲ ځامن او یوه لور د اولې ښځې نه او یوه ښځه او یوه لور د دغه ښځې نه پریښودل او وفات شو. څه وخت بعد د زید مشر ځوي څلور ځامن او یوه ښځه پریښودل او وفات شو. اوس د زید کشر ځوي او لور خپله خپله حصه ورکول غواړي او د خپلې تره نه حصه اخلي نو څومره حصه پرې لازمه ده او په دې طریقې سره د خپلې حصې مدعي جوړېدل او اخستل جائز دي او که نه؟



**الجواب**[1]

۱۶ ۳۲

۷۶۸ / ۴۸ زید مسئله ۸ بالنصف ۱۴او ۷

ب مسئله ۸

| الف | ب | ج | د | ر |
|---|---|---|---|---|
| زوجه ثانیه | ابن | ابن | بنت | بنت |
| ۱ | ۱ | ۱۴ | ۷ | ۷ |
| ۶ | ۱۴ | ۴۲۴ | ۱۱۲ | ۱۱۲ |
| ۹۶ | | | | |

مسئله ۲۸

| س | ص | ط | ع | ف |
|---|---|---|---|---|
| زوجه | ابن | ابن | ابن | ابن |
| ۱ | ۷ | ۷ | ۷ | ۷ |
| ۴ | ۴۹ | ۴۹ | ۴۹ | ۴۹ |

۷۶۸

المبلغ

الاحیاء

| الف | ج | د | ر | ش | ص | ط | ع | ف |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹۶ | ۲۲۴ | ۱۱۲ | ۱۱۲ | ۲۸ | ۴۹ | ۴۹ | ۴۹ | ۴۹ |

"بعد تقدیم ما یتقدم علی المیراث" د زید ټوله ترکه به داسې تقسیمیږي چه د زید دویمې ښځې ته به ۶۹، ځوي ته ۲۲۴، دواړو لورګانو کې هرې یوې ته ۱۱۲، او د زید وفات شوي ځوي ښځې ته به ۲۸، او د هغه څلورو ځامنو ته به هر یو.ته ۴۹، ملاویږي. او چونکه ځمکه رهن کولو سره د ملکیت نه نه خارجیږي نو ځکه د زید هغه ځمکه به د همدې حصو موافق د هغه په بره وارثانو تقسیمیږي او د قیمت ملاویدو په وخت د رهن خلاصولو نه د انکار اجازت نشته البته اصل مرتهن دا اختیار لرلو چه څو پورې قیمت پوره وانخلي رهن دې نه پرېږدي که یو وارث ئې ورکړي او که ټول په شریکه. "کما فی الهدایه قبیل باب وضع الرهن علی ید العدل وان رهن رجلان بدین علیهما رجلا رهنا واحدا فهو جایز والرهن رهن بکل الدین وللمرتهن ان یمسکه حتی یستوفی جمیع الدین". لیکن چونکه عمرو د دې رهن نه خلاصه او بل ځاي کې رهن کړه نو ځکه عمرو متبرع دی او متبرع ته د جلس حق حاصل نه دی لهذا عمرو باندې

[1] تخرج مذکورفی الجواب دي صورت کې دی کله چې ددی لوئې جینی موزاول مړه شي ۱۲؛

واجبه ده چه د زید د ورثه و ځیز هغوئ ته فورا ورکړي. "لیت ولعل" کول ظلم دی، فقط. ۲۹ محرم ۱۳۲۶ھ، (تتمه اولی ص۱۹۷).

### حکم فک رهن زمین ضبط نموده سرکار

سوال :(۴۷۸) (دلته سوال نه دی نقل کړی شوی د جواب نه پخپله ظاهره ده).

### حکم فک رهن جائیداد مرهونه که سرکار بعلت بغاوت راهن ضبط کرده نیلام نمود

کله چه سرکار د زید راهن جائیداد ضبط کړو نو د اصل راهن په شان د دغه جائیداد د مالك د مرتهن مقروض شو ځکه چه تسلط سره ملك او د مالك د قرض نه بري کړل او پخپله د ذمې اخستلو نه مقروضیت ثابت شو. کله چه عمرو د سرکار نه هغه جائیداد واخستلو نو همدغه حال د عمرو شو کوم چه د سرکار وو چه د جائیداد ملك هم شو او د مرتهن مقروض هم شو د کوم په مقابله کې چه هغه جائیداد او د مرتهن سره محبوس دی کوم چه د رهن حاصل دی غرض دا چه عمرو راهن شو او کوم چه مرتهن وو هغه همغه شان مرتهن شو نو د رهن چه کوم حکم دی چه کله راهن د رهن قیمت ادا کړي نو په مرتهن باندې واجب وي چه روپئ واخلي او مرهون ځیز پریږدي هغه حکم به اخري راهن او مرتهن ترمنځ ثابت وي، والله تعالی اعلم. ۲۸ صفر ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳ ص۸۸).

### تقدم حق مرتهن بر مهر وغیر در ترکه

سوال :(۴۷۹)زید په موروثي جائیداد قبضه او نکاح کړې ښځه د څلور لورګانې پریښودې او وفات شو او لور هم د هغه په ذمه د مهر فرض مقدم دی نو د متوفي ښځه د ګرو کړي میراث نه وړاندې خپل مهر وصولولی شي او که نه؟ دویم دا چه د متوفي ښځې دویمه نکاح هم وکړه نو په دې صورت کې د مهر د قرض د وړاندې خاوند ته مستحقه ده او که نه؟

جواب: "فی الدرالمختار یبدأ من ترکة المیة الخالیة عن تعلق حق الغیر بعینها کالرهن الی قوله تجهیزه ثم دیونه الخ؛ وفی ردالمحتار قوله کالرهن مثال للعین التی تعلق بها حق الغیر فاذا رهن شیئا وسلمه ولم یترك غیره فدین المرتهن مقدم علی التجهیز فان فضل بعد شیء صرف الیه اھ". نو په تپوس شوي صورت کې چه کوم جائیداد باندې قبضه ده که هغه مرهونه د دغه قرض په عوض کې وي او د مرتهن قبضه کړی شوي هم وو نو بیا دا د ګروئ قرض د مهر د قرض نه مقدم دی د دې ادا کولو سره چه څه بچ پاتې شي یا د متوفي سره نوره ترکه هم وي نو د هغې نه په مهر ادا کړی



شي او که مرتهن پرې قبضه نه وه کړې نو هغه او مهر برابر او د ګروئ د قرض په هغه اندازه معتبره وي څومره چه اصل قرض د رهن په ذمه دی او که مرتهن څه سود اخستلی وي یا مرتهن د دغه مرهون ځیز نه څه فائده حاصله کړې وي چه هغه هم سود دی نو دا سود او آمدن به حساب کړی شي او څه چه پاتې شي هغه به په قرض کې شمار کړی شي او دویمې نکاح کولو سره د مهر قرض ساقط نه شو، والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم. ۲۴ ربیع الثاني ۱۳۲۵ھ (امداد ج۳ ص۱۲۱).

### تعلیق بیع لعدم فک رهن در زمانه محدود

سوال :(۴۸۰)زید خپل جائیداد ګرو کړو او د عمرو نه ئې څه روپئ قرض واخستلې د ګروئ شرائط دا وو. وخت ئې صرف یوه میاشت دي که د وخت تیریدو نه بعد به یو موټی روپئ حاصلولو سره ټول جائیداد پریږدم او که په یوه میاشت کې ئې رانکړی شي نو د ګروئ کاغذات به د بیع نامې کاغذات وي او د راهن روپئ به ئې قیمت وي او ګرو شوی جائیداد به خرڅ وګڼل شي او د دې وخت نه به دا ځمکه به په مالکانه حقوقو سره شي او مرتهن به زما په شان د دې ټولو حقوقو مالك او کامل مشتري به شي کوم چه ماته په مرهونه جائیداد کې حاصل شوئ دی.

لهذا دا څو کلمې ولیکل شوې د دې رهن نه بعد عمرو مرتهن په مرهون وصولوله. مګر د جائیداد یوه حصه باندې د زید راهن قبضه وه او زید راهن هم تر یوې مودې پورې د مرهون جائیداد کرایه عمور مرتهن ئې ادا کوله، څلور نیم کاله بعد عمرو مرتهن زید راهن ته یو نوټس ورکړو د کوم مضمون چه په دې عبارت وو. د بیع بالوفاء په موجب تاریخ (میاشت او کال) تا پوره (ټول قیمت) د یوې میاشتې لپاره قرض اخستلی او چونکه معامله د رهن په قبضې سره وه د دې وجې نه بعضې مرهونه املاك په کرایه تا په خپله قبضه کې وساتل نو اوس پوره (ټولې روپئ) اصلي قیمت او روپئ د کرایه په طور جمله ستاسو په ذمه واجب الادا دي لیکن تاسو ادا نه کړل په ۱۵ ورځو کې حساب پاك کړئ (دا د واقعې صورت دی تاسو علماء کرام نه دا سوالونه په کمال ادب سره کوو):

۱۔ په مذکوره صورت کې د مرهون جائیداد بیعه وشوه او که نه؟

۲۔ کومه کرایه چه عمرو مرتهن د کرایه دارانو او زید راهن نه وصولوله هغه په اصل قیمت کې ادا کیده او که نه؟

۳_ عمرو مرتهن له اوس د اصل روپو په اندازه روپۍ حلالې دي کومې چه د کرایه د مجرا کولو نه باقي وي یا ټول قیمت بغیر د وصول شوي کرایه نه حلالې دي؟

۴_ کله چه زید راهن دومره اندازه روپۍ کومې چه د وصول شوي کرایه نه بعد د عمرو مرتهن د اصل قیمت نه پاتې وي ادا کړي نو عمرو مرتهن باندې مرهونه جائیداد پرینبودل واجب دي او که نه؟

جواب: "في فتح القدير لا يجوز تعليق البيع كان يقول اذا دخلت الدار فقد بعتك كذا بماية فقبل الاخر لا يثبت البيع عند الدخول في كفاية عن الزهري ان اهل الجاهلية كانوا يرتهنون ويشترطون على الراهن انه ان لم يقض الدين الى وقت كذا فالرهن مملوك للمرتهن فابطل رسول الله ﷺ ذلك بقوله لا يغلق الرهن وقيل لسعيد بن المسيب اهو قول الرجل انه لم يات بالدين الى وقت كذا فالرهن بيع بالدين فقال نعم وفي الدر المختار وبيع الوفاء ذكره ههنا تبعا للدرر وصورته ان يبيعه العين بالف على انه اذا رد عليه الثمن رد عليه العين وفي الدر المختار عن الاشباه كل قرض جر نفعا فهو حرام فكره للمرتهن سكنى المرهونة باذن الراهن وفي الدر المختار نقل عن التهذيب انه يكره للمرتهن ان ينتفع بالرهن وان اذن له الراهن قال المصنف وعليه يحمل ما عن محمد بن اسلم من انه لا يحل للمرتهن ذلك ولو باذن لانه ربوا قلت وتعليله يفيد انها تحريمية فتامله وفي الدر المختار اباح للمرتهن ان يوجره قال لا قيل فلو اجره ومضت المدة فالاجر له او للراهن قال له ان اجره لا اذن وان باذنه فللمالك وبطل الرهن وفي الدر المختار ويبطلها (اي الشفعة) منعه منها على عوض وعليه رد لانها رشوة اه وفي الهداية الكتابة والاجارة والرهن بمنزلة البيع لانها تبطل بالشروط الفاسدة".

د دې روایتونو نه معلومه شوه چه:

۱_ په تپوس شوي صورت کې دا جائیداد خرڅ شوی نه دی ځکه چه د بیعې تعلیق باطل دی ځکه چه دا صورت د رهن د غلق دی کوم چه حرام او باطل دی. او د بیع بالوفاء دا صورت نه دی بلکه په دې کې في الحال بیعه کیږي او د اقاله وعده په دې کې پخپله کلام دی نو دلته دا صورت ونه شو لهذا دا رهن دی او رهن هم فاسد دئ ځکه چه په دې کې فاسد شرط لګول شوی دی.

۲_ او چونکه کرایه د راهن ملکیت دی او مرتهن له د اشتراط في الرهن د وجې نه د هغې اخستل حرام دي نو لهذا واجب الرد دی.

۳_ نو څومره روپۍ چه مرتهن ته کرایه کې وصولې شوې دي په هغه اندازه کې مقاصه وشوه یعني ذمه د راهن نه ساقطه شوه د باقي روپو مطالبه د راهن نه کول د مرتهن حق دی.

۴_ کله چه دا باقي روپۍ راهن ادا کړي نو د مرتهن د رهن قرض به ادا شي بیا به د مرهونه جائیداد پرینبودل په مرتهن واجب وي. ۲۰ جمادی الاخری ۱۳۲۱ھ.



جواب : "صحیح" بنده رشید احمد ګنګوهي عفي عنه. (امداد ج۳ ص۸۹).

## رعایت را هن مرتهن را

سوال :(۴۸۱) (۱) په رهن بالقبض کې که راهن بلا منشا سود یو څه روپۍ مرتهن ته معاف کړي او دا ئې ورته وویل چه د باقي منافع نه ته خپل قرض ادا کړه نو جائزه ده او که نه؟

(۲) راهن څه روپۍ پخپله واخستلې، باقي ئې مرتهن ته معاف کړې او دا ئې وویل چه باقي روپۍ ترې واخله کله چه زه دا قرض واخلم نو خلاص به ئې کړم مثلا راهن د ۱۰۰۰ روپو جائیداد په ۵۰۰۰ کې مکفول کړو شراط دا شو چه سالانه په ۱۰۰۰ کې ۲۰۰ ماته راکوه نوري ستا کله چه زه ۵۰۰ ادا کړم نو خلاص به ئې کړم دا د ۲۰۰ روپۍ په قرض کې نه ادا کیږي بلکه د مرتهن جیب ته ځي دا جائزه ده او که نه؟

جواب: چونکه دا یقیني خبره ده چه دا دواړه رعایتونه د قرض د وجې نه دي نو ځکه ناجائز دي او د کل قرض جر نفعا په کلیه کې داخل. که د رهن په عقد کې مشروط وي نو بیا خو ظاهره ده او که مشروط هم نه وي لیکن چونکه متعارف دي نو ځکه د المعروف کالمشروط په قاعدې نه علاوه هم ناجائز دي البته بغیر د اشتراط او تعارف نه داسې رعایتونه جائز دي، والله اعلم. ۹ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳ ص۹۱).

## جلد تحصیل مصلحت عقد رهن

سوال :(۴۸۲) رهن اخستل چه اسان وي د هغې شرعا څه صورت پیدا کیدی شي او که نه (قرض کړي چه یوځای کې زما حصه ۱۵ آنې ده د یوې آنې والا حصه دار قرض اخستل غواړي زما نه د رهن بالقبض یا بلا قبض درخواست کوي که زه ئې نه اخلم نو د بل قبضې ته ځي د کوم نه چه د بیا ملاویدو امید نشته او ګویا چه په مجموعي انتظام کې چه زرګونو لاڅې جوړیدو امکان دی یا مثلا د زیاتو قیمت په لږو روپو کې زمونږ سره بند شي په کوم کې چه مونږ دا ګټو چه راهن کې د ادا کولو قوت نشته دی په ګیریدو سره به مونږ لږ لږ قیمت ادا کوو او داسې به مونږ سره معقول جائیداد جوړ شي آساني صرف دومره شوه چه یو ځای مو پیسې ورنکړې؟

جواب: صرف دومره ممکنه ده چه د رهن په موده کې چه څومره منافع حاصله شي هغه امانة جمع کینبودل شي او کله چه هغه ځمکه خرڅه شي نو بیا هغه امانت دغه راهن ته واپس کړی

شي ځمکه به هم اسانۍ سره راشي او د رهن د منافع د استعمال نه به هم محفوظ شي البته په دې صورت کې دومره بخره ده که په دې صورت کې راهن ته اطلاع وکړا شي چه دومره به واپس ملاویږي نو امید دی چه هغه ئې خلاصه کړي نو اطلاع نه ورکول دا یو قسم دوکه ده په کوم کې چه د ګناه اندیښنه ده البته د سود خوړلو ګناه پرې نشته، والله اعلم. ۲۴ جمادی الاولی ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳ ص۹۱).

## ارتهان بضرب اجل وشرط انتفاع

سوال :(۴۸۳)زید ځمکه د بکر سره د پنځو کالو لپاره رهن کیښوده او دا اقرار ئې وکړو چه دا ځمکه به زه کرم او کومه منافع به چه د صریح رهن نه راځي هغه به اخلم که اوله موده کې راهن روپۍ ادا کړي نو بیا به ئې هم نه ورکوم. د مرهونه ځمکې پیداوار مباح دی او که حرام؟

جواب: په دې رهن کې دوه فسادونه دي یو خو موده پنځه کاله مقررول چه د دې نه مخکې د خلاصولو قدرت نه وي ځکه چه د رهن معنی په شریعت کې دا ده چه د یو څیز د قرض په بدله کې نیول. "فی الدر المختار هو حبس شیئ مالی بحق یمکن استیفاءه منه کالدین". نو کله چه د دین په وجه مجبوس دی نو کله چه راهن قرض ادا کړي نو مرتهن سره د حبس حق باقي نه پاتي کیږي که د پنځه کالو نه وړاندې وي او که وروستو. اوس دا شرط کول چه که راهن روپۍ راکړي نو بیا به هم رهن نه پریږدم دا فاسد شرط دی. دویم فساد شرط د نفع لګول دي ځکه چه د کل قرض جر نفعا په حدیث سره د رهن نه فائده اخستل بالکل هم جائز نه دي خصوصا کله چه مشروط وي هغه وخت کې خو صریحه ربوا ده اګر که راهن اجازت ورکړي ځکه چه سود اجازت سره نه حلالیږي. "لا یحل له ان ینتفع بشیئ منه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له الربوا، شامي مجتبائي ج۵ ص۳۱۰، (امداد ج۳ ص۹۲).

## د مرتهن رهن شوې ځمکې راهن له د کر لپاره ورکول او د هغې د فصل د آمدن حکم

سوال :(۴۸۴) د یو کس زید ځمکه د عمرو سود خور سره رهن ده نو عمرو سود خور ئې نه کري نو عمرو سود خو همدغه ځمکه زید ته د کر لپاره ورکړي او دلته دا دستور دی چه په ۵ منو کې ۳ منونه د کروندګر وي او ۲ منه د اصل مالك. اوس که زید د خپلې ځمکې نه کوم چه د عمرو سره رهن دی غله پټه کړي لږه یا ډیره نو مواخذه به پرې وي او که نه، زما دلیل دا دی چه عمرو له چه څومره جائیداد هم راشي دا به سود وي، دا چه څومره ده ټوله موجوده ده، پټول ئې جائز دي او که نه؟



جواب: د مرتهن قبضه د رهن شرائطو سره ده کله چه د راهن په قبضه کې راغله نو شرعا رهن لاړو نو ځکه چه راهن د خپل تخم نه څومره حاصل هم کړی وي نو هغه به ټول د راهن ملکیت وي که ټول وساتي نو ګناه نشته بلکه څومره چه مرتهن ته ورکوي د سود ورکولو ګناه به وي. ۲۷ جمادی الاولی ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۱۸۹).

## د مرتهن مرهون د راهن نه علاوه بل چا ته د کر لپاره ورکول او د هغې د آمدن حکم

سوال :(۴۸۵) بله دا ده مثلا دغه عمرو سود خور اصل مالك ته ورنکړه او بل چا له ئې ورکړه که هغه ئې پټه کړي نو جائزه ده؟

جواب: دلته رهن باقي دی او د رهن نماء مرهونه ده نو ځکه د مرتهن په حصه کې چه څومره غله راځي نو د مرهون کیدو د وجې نه مرتهن په دغې باندې د قبضې حق لري بیا د فك رهن په وخت د دې د راهن طرف ته واپس کول واجب دي نو چونکه مرتهن د قبضې حق لري نو ځکه په دې صورت کې راهن له د مرتهن په حصه کې اخستل جائز نه دي، فقط. ۱۷ جمادی الاولی ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۱۹۰).

## مرتهن له د رهن نه نفع اخستلو او راهن لپاره د رهن خلاصولو د بیع عدم جواز

سوال :(۴۸۶) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زید خپل حق زمینداري د بکر سره په دې شرط په ۲۰۰ روپۍ رهن کړې چه کله روپۍ ادا کړی شي نو جائیداد به خلاص شي او د رهن په ورځو کې دې سالانه منافع مرتهن اخلي، بکر وفات شو د ترکې په ذریعې سره مرهون حق باندې د هغه ښځه هنده قابضه شوه، د دې نه وروستو زید مرهون د انفکاك رهن د عزیز وغیره پلار عبید باندې په سل روپۍ خرڅ کړو اګرچه زید بیعه نامه د څه صلحې د وجې نه کړې وه او د ټولو رجسټرارو په وړاندې ئې د قیمت د وصولیدو اقرار هم مصلحت کړی وو مګر په حقیقت کې زید ته تراوسه پورې قیمت نه دی ملاو شوی. د زید او عبید ترمنځ رهن وغیره په ورځو کې دا معاهده اقرار نامه ولیکل شوه چه عبید د انفکاك حق چه خرڅ شوی زید ته واپس کړو په دې شرط سره چه زید په یو یا دوه کالو کې مذکوري روپۍ عبید ته ادا کړي نو د خرڅ شوي رهن د انفکاك حق به زید سره وي که زید ادا نه کړی شوې نو عبید به د وړاندې په شان د رهن د انفکاك مشتري به تصور کیږي چونکه وعده معتبره شوه او زید

د رهن حق خلاص نه کړو نو په داسې صورت کې د قاضي د امداد نه بغیر بیعه وشوه او که نه؟ په دې اقرار نامه کې عبید دا اقرار هم لیکلی وو چه زه به په لږه موده کې په درخواست باندې د بکر او زید نوم خارج او داخل کړم مگر هغه درخواست ورنکړو او د معاهدې خلاف قابض وو او په همدې حالت کې وفات شو، د دې نه وروستو عزیز وغیره د هغه وارثان شول. د. هندې په فوت کیدو سره د مرهون حق عمرو ته په ترکه کې ملاو شو عمرو ۱۸ کالو پورې په دې باندې قابض وو او پوره ۲۱۶ روپۍ ئې د کال وصولولې او خپل تصرف کې ئې راوړلې. اوس دا روپۍ چه کومې عمرو په خپل تصرف کې راوستلې دې جائز دي او که نه؟ که ناجائزې وي نو په اصل قیمت کې مجرا کیدل او زید ته واپس ملاویدل پکار دي او که نه؟ بیا د عمرو د وفات نه بعد په دې حق باندې د هغه ځوی خالد قابض شو، اتفاق سره خالد د مرهونه حق پوره ۲۰۰ روپۍ د رهن عزیز ته معاف کړې او په جائیداد ئې قبضه وکړه نو په دې صورت کې چه منافع ئې ناجائزه وي او د پورته صورت موافق قیمت او منافع ادا شوې وي او روپۍ د زید راووتلې نو خالد ته د عزیز په حق کې د ۲۰۰ روپو ادا شوو د معافۍ حق شته دی او که نه؟ او خالد دغه رهن شوې ځمکه عزیز ته معاف کړه نو عزیز وغیره له د هغې منافع اخستل او شرعا تصرف کول جائز دي او که نه؟

**جواب**: زید راهن بکر مرتهن سره دا شرط کړل چه مرتهن به د رهن په ورځوکې ۱۲ روپۍ کلنۍ منافع اخلي دا شرطا باطل دی صرف د رهن قیمت هغه حق دی نو د بکر د وفات نه دې وروستو اخلي د هغه په ورثه و کې هم په کوم کې چه هنده هم ده صرف د قیمت حق لري. په سوال کې صرف هنده ذکر کړی شوې ده مگر شرعي حق د بکر د ټولو وارثانو دی او د رهن خلاصولو حق صرف زید لري. او د زید هغه د عبید په پلار عزیز وغیره باندې خرخول شرعا باطل دي. په دې بیعې سره د عبید هیڅ حق نشته که د عبید نه روپۍ وصول شوې هم وي نو بیا هم په زید واجبه وه چه هغه ئې ورته واپس کړې وې چه دا روپۍ رشوت دی او کله چه د عبید نه روپۍ هم نه دي وصول شوي نو عبید خو هیڅ حق نه لر او کومه اقرار نامه چه لیکلی شوې ده هیڅ شی دې هیڅ اثر هم لري. که زید ته روپۍ ملاو شوې هم وي او زید عبید ته مقرر وخت کې پیسې نه وي واپس کړي او وخت هم تیر شوی وي او کوم قاضي هم د دې باطلې بیعې د نفاذ حکم کړی وي نو بیا هم د رهن خلاصولو حق زید لرلو او د تپوس کونکي دا ویل چه عبید د معاهدې خلاف قابض وو په دې نه پوهیږم. په سوال کې خو دا ذکر دي چه جائیداد مرهونه اول د بکر په قبضه کې وو او بیا د هندې. بهرحال که په دې



باندې عبید قبضه هم کړې وي بیا هم په تیر شوي حکم کې څه تغیر نه راتللو او عبید ته به غاصب او قابض بالباطل ویل کیدل. کله چه د عبید په دې کې څه حق نشته نو د هغه د مرګ نه وروستو د عزیز وغیره هم څه حق په کې نشته بیا چه کله هنده وفات شوه نو عمرو یا بکر که د هغې شرعي وارثان وي نو د هغه هم اصل مرتهن په شان صرف د رهن د قیمت واپس کولو حق لري. همداسې که بکر یا هندې نور شرعي وارثان هم وي نو بیا هم د قیمت واپس کول په ټولو کې مشترك دي اوس چه عمرو د دې جائیداد نه کومې ۲۰۰ روپۍ نه دي وصول کړي نو د دې وصول شوو روپو نه به زید ته ۱۶ روپۍ واپس کړی شي او مرهونه جائیداد پرینبودل به واجب وي. او بکر یا هندې هم چهڅه وصول کړي وي نو هغه به هم د دوئ د جائیداد وصول او زید ته واپس کړی شي یا به د هغوئ په حصه کې د تقسیم په وخت دومره کموالی وشي او د دې ۲۰۰ روپو نه چه هندې او بکر څه وصول کړي هغه به هم زید ته واپس کړی شي کله چه په جائیداد کې د مرتهن د وارثانو څه حق پاتې نه شو نو اوس د خالد قبضه هم باطله ده همداسې د قیمت د مرتهن وارثانو ته په رسیدو سره په راهن یا د هغه په وارثانو قرض پاتې نه شو نو د خالد هغه معاف کول هم باطل شو.. خاص کر داسې کسانو له چه شرعا کله دائن نه وي لکه څنګه چه بره ذکر شو چه د عبید او عزیز هیڅ شرعي حق ثابت نه شو نو د عزیز وغیره قبضه به په دې جائیداد باطله وي او له دې نه به انتفاع حرام وي بلکه په ټولو باندې دا واجبه ده چه خپله حصه قبضه لري او زید راهن یا د هغه وارثانو ته ئې په قبضه کې ورکړي، فقط. (حوادث ۲۰۱ ص۴۲ تتمه اولی ص۱۹۰).

## جواب حدیث مبیح انتفاع از شی مرهونه

**سوال**: (۴۸۷) نن صبا د مرهون څیز نه فائده اخستل دا مرض عام شوی دی او زه حتی الوسع خپل ملګري او معتقدین منع کوم مگر یو غیر مقلد د انتفاع ترغیب ورکوي او وائي چه کله د غوا او میښې شوده د چارې په بدل کې مرتهن له حلال دي نو د ګرو شوې ځمکې آمدن ته د کروندې په بدل کې څوك حرام وائي؟ د دې جواب ډیر مختصر او مدلل ولیکئ؟

جواب: مسئله ظاهري او یقیني ده. باقي د حدیث جواب دا دی چه اول خو حدیث مبهم دی او محرم له په مبهم مقدم کیدل پکار دي. که د حدیث اباحت ته معمول به وویل شي نو د دې عام نه به هغه خاص کړی شي ترڅو په شرعي دلائلو کې تعارض رانشي. دریم به مقیس عیه او مقیس کې تماثل نشته نو دا قیاس مع الفاروق دی. د فرق وجه ظاهره ده چه مقیس

علیه کې خاص مرهون ته هم فائده رسیږي کوم چه د راهن نفع هم ده او د هغه خرچه هم بچ کیږي په مقیس کې دا خبره نشته دی. په مقیس علیه کې مونث مرهون د راهن په ذمه وه او منفعت هم د هغه وو په حساب کې بعضې وخت ګډوډي وي د صلحې په طور نو دا تجویز ولیکلو په دې مشروط چه معروف یا مشروط نه وي. "کما هو مقتضی النصوص الآخر" نو دا کلي حکم د حلالوالي باطل نه دی. ۱۳ ربیع الاول ۱۳۲۶ھ (تتمه خامسه صـ۴۶).

## عدم جواز انتفاع از زمین موروثي مرهونه

سوال :(۴۸۸)په دې مسئله کې علماء څه فرمائي چه زید مثلاً د یوه بیګه ځمکې کروندګر دی د کوم زمیندار چه خالد دی، زید چه دې خیال سره چه دا ځمکه موروثي ده او زمیندار له قانونا د بیدخل کولو څه اختیار نشته د بکر نه څه روپۍ اخستلي او ځمکه ئې ورسره ګرو کړه او په خوشحالۍ سره ئې اجازت وکړو چه زما په ځای ته کرونده کوه او کومې روپۍ چه ما زمیندار ته ورکولې هغه ته ماته راکوه بکر په دغه ځمکه قبضه وکړه او زراعت ئې کولو اوس د بکر دا خیال دی چه چونکه دا ځمکه شرعا مرهونه شوې نه ده ځکه چه کروند خو شرعا د ځمکې مال نه دی مګر چونکه زما نه کروندګر قرضه هم اخستلې ده شاید چه دا انتفاع سود ته وي نو سوال دا دی چه زید کروندګر چه کومه ځمکه په رهنو سره بکر ته حواله کړې ده او د زراعت اجازت ئې ورکړی دی او بکر نه ئې څه قرضه هم اخستلې ده آیا هغه انتفاع او استقراض به دواړه تبرع ګڼلو سره دا جائز وګڼل شي، یا حکماً رهن وګرځولی شي او انتفاع ئې ناجائزه. کروندګر چونکه شرعا مستاجر دی او بکر دائن ئې قائم مقام، که داسې وویل شي چه اصل مستاجر یعنې زید اجاره بکر ته تبرعاً ورکړې ده او بکر تبرعا زید ته قرض ورکړی دی نو دا شرعا ممکنه ده او که نه، بینوا توجروا؟

جواب: بکر له دا انتفاع جائزه نه ده، ګویا چه د عدم جواز په بنا باندې نه وي چه دا د رهن عقد دی ځکه چه زید له د دې رهن ساتلو هیڅ حق نشته لیکن بیا هم بکر به چه د دې ځمکې نه څه فائده اخلي هغه به د دغه قرض په سبب سره وي نو ظاهره ده او د تبرع احتمال په دواړو ځایونو کې غلط دي نو دا یقیني خبره ده چه که د دې متعاقدینو نه یو ته هم معلومه شي چه د دې فائدې رسولو په عوض کې به ماته څه نفع ملاو نه شي نو هغه به کله هم په دې فائدې رسولو راضي نه شي، نو تبرع څنګه شو، دویمه وجه د دې د انتفاع د حرمت همغه ده کوم چه پخپله د زید لپاره وه یعنې د بل چا د څیز نه په غیر د شرعي اجارې



نه فائده اخستل، غرض دا چه د بکر لپاره دا انتفاع د دوه وجو نه حرامه ده یو دا چه د مالك اجازت نشته دویم مجرور بالقرض کیدل. اول صفر ۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه صـ۱۰۵).

## حکم صورت رهن مذکوره سوال

سوال :(۴۸۹) یو پوخ کور د احمد دی او محمود د ۱۶ کالو لپاره په ۲۰۰۰ روپۍ باندې مجري کړی دی د کوم کرایه چه د میاشتې .... ده او شرائط دا دي:

۱ـ جوړول او مات ګوډ ځاي برابر دی په راهن دي.

۲ـ قبضه مې پرې ورکړې ده که پخپله اوسیږي او که څوك په کې اوسوي.

۳ـ ۱۶ کاله بعد به جائیداد خلاص ګڼل کیږي.

۴ـ صرف صفائي او ګل اندازي په مرتهن ده.

۵ـ که راهن د مرهون جائیداد د کومه حصه په کرایه اخستل غواړي نو هغه به باضابطه لیکل کیږي او په کوم کرایه چه هغه ته ورکول شوی هغه د ..... نه علاوه ده. او د ۴ شرط متحمل راهن ګرځول شوی دی.

۶ـ ۱۶ کالو کې د مرتهن د رضا نه بغیر د رهن خلاصولو حق راهن لري.

۷ـ مرتهن چه څه روپۍ د کور په برابرولو مصرف کړي هغه به راهن ادا کوي که ادا ئې نه کړي نو ۱۶ کاله وروستو مرتهن د هغې موافق د قبضې حق لري.

د محمود دا خیال دی چه في الحال مذکور به کرایه ورکړی شوې دي مګر احتمال دا هم دی چه د آئنده لپاره داسې نه شي او خالي پاتې شي نو آیا معامله شرعا سودي نه ده او جائزه ده؟

جواب: په شریعت کې ربوا د څه زیاتو وصولولو پورې مخصوص نه ده بلکه هر فاسد او باطل عقد ربوا ده او که څوك ورته په خپله اصطلاح کې سود نه وائي نو د احکامو مدار په نوم باندې نه بلکه حقیقت باندې دی او حرمت صرف ربوا پورې خاص نه دی کوم عقد چه د جواز شرئط په کې نه وي هغه هم حرامه ده. په تپوس شوي صورت کې اصل عقد د رهن دی او د دې مقتضا دا ده چه کله راهن مرتهن ته قیمت ادا کړي نو مرتهن دې هغه پرېږدي او په دې کې چه کوم آمدن شوی دی هغه د مرتهن سره امانت دی د مرهون څیز سره دې هغه هم واپس کړي او ظاهره ده چه په تپوس شوي صورت کې بعضې شرطونه د دې عقد د مقتضا خلاف دي نو ځکه د امن معامله حرامه ده اګر که سود نه وي. ۲۵ ربیع الاول ۱۳۴۳ھ (تتمه خامسه صـ۱۵۹).

### مزارعت در زمین مرهونه مملوکه کافر

سوال :(۴۹۰)د یو هندو ځمکه د مسلمان سره ګرو ده اوس د مرتهن نه په مزارعت باندې واخستل شي او که نه؟ دا هم معلومه ده چه نفع به همدا کس اخلي؟

جواب: د بعضې علماو په قول "يباح مال الحربي رضاه ولو بعقد فاسد" سره جائز دی. ۲۲ رجب ۱۳۳۱هـ (حوادث ۲۰۱، صـ۱۰۶).

## كتاب الهبة

### ثبوت هبه بقرائن

سوال :(۴۹۱) زيد بغير د تصريح او اعلان نه خپل تره عمرو ته څه روپۍ ورکړې چه خپل ځاي کې د فلش ځاي جوړ کړه نو عمرو په دې روپو سره په خپل جائيداد کې يو د ناستې ځاي جوړ کړو اوس زيد د عمرو د وفات نه بعد د هغوئ د وارثانو نه د هغه څه قيمت غواړي چه د مزدورانو او معمارانو په مزدورئ کې مصرف شوی دی نو عندالله او عند الرسول د زيد وارثان د دې روپو ورکولو باندې مجبور دي او که نه؟

جواب: په تپوس شوي صورت کې زيد عمرو ته روپۍ ورکړې دي نو دا عندالشرع هبه ده اګر چه هيڅ تصريح نشته مګر د قرينې ظاهر په دې دلالت کوي او په هبه کې قرينه هم د تمليك لپاره کافي ده. "قلت فقدا فادان التلفظ بالايجاب والقبول لا يشترط بل تكفى القراين الدالةعلى التمليك لكن دفع الآالفقيرشيئاوقبضه ولم يتلفظ واحد منهما بشيى انتهى در مختار صـ۵۰۸". او کله چه هبه متحققه شوه او عمرو وفات شوی دی اوس زيد ته د عمرو د وارثانو نه هيڅ حق نه رسيږي او ورګرځول ئې بالکل جائز نه دي ځکه چه د احد المتعاقدين مرګ د هبې د ګرځولو نه مانع ده. "والميم موت احد المتعاقدين، درمختار باشامي صـ۵۱۶، والله اعلم. (امداد جـ۳ صـ۹۳).

### ثبوت هبه بقرائن

سوال :(۴۹۲) عمرو او زيد دواړه يو شريك کور کې اوسيدل ليکن **قبضه کوونکی وی** اشخاص ځانته مسکن کی وه ،د عمرو حصه په اعلان سره د حکومت نه د بغاوت په وخت ليلام شوه، زيد د ليلام په وخت د دې تصريح نه بغير چه هغه کې سره دی هغه روپۍ ورکړی چه دا ليلام واخلي عمرو هغه کور په خپل نوم واخستلو او تر ژوند پورې پرې قابض وو



او تصرف ئې په کې کولو او د عمرو د وفات نه وروستو د هغه وارثانو او داسې تبرعات به زيد اکثره د عمرو سره کول. اوس زيد د عمرو د وارثانو نه د دې خبرې غوښتنه او مطالبه کوي چه کور زما په روپو سره اخستل شوی دی شرعاً د زيد دا دعوه جائزه ده او که ناجائز؟ زيد له د روپو واپس اخستل جائز دي او که نه؟

جواب: په تپوس شوي صورت کې چه زيد کومې روپۍ د عمرو لپاره په ليلام اخستلو کې لګولې دي او عمرو هغه په خپل نوم واخستلو او قبضه هم د عمرو وه نو دا روپۍ ورکول هبه ده اګرچه تصريح ئې نه ده کړې مګر ظاهري قرائن په هبه باندې دلالت کوي او هغه ملکيت د عمرو دی او کله چه عمرو مړ شو اوس د هبې رجوع نه شي کيدی، فقط. (امداد جـ۳ صـ۹۹).

### حصه خود گذاشتن وارثی

سوال :(۴۹۳) د مړي درې وارثانو نه يو وارث وويل چه زما حصه باقي دواړو ته ورکړه زه به ئې پخپله اخلم دا ئې ونه ويل چه ما خپله حصه پريښوده او خپله حصه نه اخلم نو داسې ويلو سره به دا تخارج وشي او که نه؟ او که دا هبه ناجائزه ده او هبه مشاع به شي؟

جواب: که پخپله دغه وارثانو ته ئې ويلي وي چه ما تاسو ته درکړه نو هبه ده او که بل چا ته ئې وويل چه ور ئې کړه نو دا توکيل بالهبه ده. بهرحال دا تخارج نه دی د کوم حقيقت چه تصالح على الاقرار دی کوم چه د بيعې په حکم کې دی او چونکه هبه مشاع ده لهذا په کوم ځاي کې چه مشاع کيدل د صحت مانع دي هلته به جائز نه وي، فقط. (امداد جـ۳ صـ۹۳).

### بودن روپیه اشیاء غیر منقسمه

سوال :(۴۹۴) روپۍ د غير منقسم شيزونو نه دي او که د منقسم نه. يعنې دوه کسانو ته هبه کول صحيح دي او که نه؟ چونکه سپين زر نن ارزان دي نو تقسيمولو سره هغه فائده او نفع نه شي پاتې کيدی لهذا دا هم غير منقسم شو ليکن که سپين زر ګران شي نو آيا هغه وخت به حکم بدل شي؟

جواب: روپۍ د منقسمو شيزونو نه دي که سپين زر ارزان وي او که ګران ځکه چه د دې نفع موضولع له باقي نه پاتې کيږي. وهو المراد ببقاء نفع وعدم، در مختار کې جزئيه ذکر ده: "(فروع) قبيل باب الوجوع فى الهبة وهب الرجلين درهما ان صحيحا صحوان معشوشا لالانه مما يقسم لكونه فى حكم العروض، فقط والله اعلم. (امداد جـ۳، صـ۹۳).

## تحقیق قرائن هبه زوجه را

سوال :(۴۹۵) زید د بادشاه وخت ملازم ووکله چه به هغه ته تنخواه ملاویده هغه به ټول په ټوله راوړله خپې ښځې هندې ته به ئې ورکوله، اوهندې چه به څه غوښتل هغه به ئې کول، هغه به تې بالکل تپوس نه کولو، بلکه حالت داووچه زید ته به که چرې آنه دوه آنې یا روپۍ دوه روپۍ یاڅه کم زیات حاجت راتلو، نود هندې نه به ئې غوښتلې، که هندې به ورکړې نوخرچ به ئې کړې، ګنې چپ به اوسیدلو، پس ددې تنخواه په روپو باندې هندې د زید په ژوندکښې په خپل نوم جائیداد واخستلو، اود اخستلو دوخت نه تر دې وخت پورې په هغې باندې قابضه وه، اوزید پرې هیڅ تعرض نه کولو، اوس څلور پنځه کاله کیږی چه زید وفات شو، پس داجائیداد به دشامی وغیره دعبارت په حقله په هبه کښې صرف قرائنوسره او علی التملیك هم دکافی کیدوپه وجه دهندې ګڼړلې کیږی اوکه د زید به ګڼړلې شی اودهغې دټولې ورثې نه به هغې ته حصه ملاویږی؟

جواب :بهرحال هبه قرائنوسره ثابتیږی. لیکن په مسئوله صورت کښې هم په دې باندې کلام دی، چه دلته قرائن د هبې دی یانه دی، نو څومره چه غور اوفکر اوکړې شو داهبه نه معلومیږی، بلکه بی بی صرف تحویلدار ګڼړلې کیږی، اوصرف په دې وجه به ئې ټوله ګټه (مزدوری) ورته سپارله، چه هغه به د کور په کارونوکښې تجربه کاره ګڼړله نوهغې نه ورکول یوقسم دانتظام سهولت ګڼړلو، هم داوجه ده چه کومې ښځې هوښیارې نه ګڼړلې کیږی هغوی ته دغسې اختیارات نه ورکولې کیږی. دغسې که دا معلومه شی چه دا خپلو رشته دارانوته ورکوی، نو یقیناً چه خاوند خفه کیږی ددې ټولو قرائنونه معلومیږی چه داهبه نه ده صرف توکیل او ایداع ده، پاتې شوه داخبره چه تپوس به ئې ترې نه کولو اوپرواه به ئې پرې نه کوله، داپه دې وجه نه دی چه هغه ئې مالکه جوړه کړې ده، بلکه په دې وجه دی چه په ښځه باندې ئې اعتماد دې چه دائې بې موقع نه خرچ کوی، بهرحال بچ کړې شوې روپۍ به دخاوند ملك ګڼړلې کیږی، کله چه هغې جائیداد واخستلو ګویا چه مغصوب روپوسره ئې واخستلو، لهٰذا جائیداد به دخاوند ملك وی، اودا روپۍ به دخاوند نه وصولولې شی اوپه ټولو وارثانو دزید به تقسیمولې شی چه په دې کښې به ښځه هم داخله وی، پس په اندازه دهغې دحصې به ساقطیږی، باقی روپۍ



به باقی وارثانو دپاره وصولولې شی. البته که خاوند ته یقینی دامعلومه شی چه دا ئې زما په روپو باندې اخستې ده، اوښځې دځان دپاره اخستې ده، په دې کښې زما هیڅ حق نشته، داسکوت البته دهبې دلیل دې، خوترڅو پورې چه دا احتمال باقی وی چه کیدې شی خاوند ته ددې اطلاع نه وی چه دا زما په روپو باندې اخستې شوې ده، یاداچه اطلاع وی خوهغه داګڼړلې وی چه اګرچه په خپل نوم ئې اخستې ده خوهغه زما زما ګڼړی، او زما نه پس به زما وارثان نه محروم کوی، یاپه دې وجه هغه خاموش شوې ووچه دهغې په نوم به جائیداد محفوظ پاتې شی، که ماسره وی نوکیدې شی چه څوك ئې په قرضه کښې نیلام کړی نودې احتمالاتوسره به هبه نه ثابتیږی، خلاصه داچه ترڅو پورې دټولو قرائنو معلومات اوتعین نه وی، د هبه حکم مشکل دې. والله اعلم ۲۷ ربیع الاول ۱۳۲۱ هـ (امدادج ۳ ص ۹۴)

## زیور صرف کردن زوجه بعمارت زوج

سوال :(۴۹۶) د کور جوړولو او تیاریدو په وخت حاجي صاحب مرحوم ډیر خل وویل چه دا کور د دویمې ښځې لپاره دی او د دې وجې نه د ۴۰۰ روپو زیورات حاجي صاحب خرڅ او په هغې کې ولګول آیا په دې کور کې به میراث جاري کیږي او په ټولو وارثانو به تقسیمیږي او که د دغه ښځې به وي؟

جواب: که دا هبه وګڼل شي نو هبه هغه وخت صحیح کیدی شي کله چه هبه کونکی بالکل خپل کور د څیزونو نه خالي کړي او موهوب لها له ئې په قبضه ورکړي که داسې شوي وي نو د ګواهانو د راوستلو نه بغیر به دا هبه صحیح وي او که نه نو نه به وي. "فی الدرالمختار وتتم الهبة بالقبض الکامل ولو الموهوب شاغلا بملك الواهب لا مشغولا به الی قوله فلووهب جرابا فیه طعام الواهب اودارا فیها متاع اودابة علیها سرجه وسلمها کذلك لا تصح وبعکسه تصح اه". او زیورات په دې کې لګول به غایة ما في الباب د هبې قرینه وي مګر په هبه کې چه کوم شرط دی هغه د لیدو قابل دی لکه څنګه چه بره بیان شول نو ترڅو پورې چه هبه صحیح نه شي هغې ګانه به د احسان په طور د ښځې د طرف نه وګڼل شي، فقط والله اعلم. (امداد ج۳، ص۹۵).

## تفصیل بعضی اولاد در عطا

سوال: (۴۹۷) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د زيد څه زامن او لورګاني دي په هغوئ کې ئې د مشر په تعليم او واده کافي روپئ مصرف کړې دي او د ماشومانو نه تعليم شوې دی او که واده. زيد پهخپل بوډاوالي کې شرعي طور سره دا مال او اسباب تقسيمول غواړي نو سوال دا دی چه ورو اولادونو ته د مشرانو د ورونو او تعليم لرلو په اندازه په ترکه کې څه پريښودلی شي او که نه. بينوا توجروا؟

جواب: "في الدر المختار قبيل باب الرجوع في الهبة عن الخانية لا بأس بتفضيل بعض الاولاد في المحبة لانها عمل القلب وكذا في العطايا ان لم يقصد به الاضرار وان قصده سوى بينهم يعطى البنت كالابن عند الثاني وعليه الفتوى وفي رد المختار اى على قول ابي يوسف من ان التنصيف بين الذكر والانثى افضل من التثليث الذي هو قول محمد رملي". چونکه په تپوس شوي صورت کې د بعضي اولادونو واده او تعليم کې زياتو ورکولو ته مقصد نورو ته ضرر رسول نه دي بلکه د يو ضرورت او مصلحت په طور داسې کړی شوي دي نو د بره روايت به بيا هغې کې څه حرج نشته. د دې نه علاوه چه څوک ترکه وي هغه دې برابره تقسيم کړی شي ليکن د تقسيم صحيح کيدو لپاره د هرې حصې جدا کول او هغوئ له پرې قبضه کول هم ضروري دي. او آخر کې چه ئې کوم تپوس کړی چه د کوم په حفاظت کې چه الخ د دې نه مراد څه پردې دي او ته وارث هغه وخت جواب کيدی شي، والله اعلم. ۴ جمادی الاولی ۱۳۲۳ھ (امداد ج۳ ص۹۵).

## نقض بعض اولاد بر بعضی در عطایا

سوال: (۴۹۸) هم زيد ميخواهد که متولي اول را ازکار وبار خود نصف عطاء سازند وديگر ان را نصف پس همچنين غير تعديل ميان اولاد ذکور خود را عطاء جائز است يا نه واضح باد که فرق ميان متولي اول ومتولي ديگر اين قدرست که متولي اول از ديگران درکا تجارت في الحال مهارتی دارد؟

جواب: حکمش در نمبر ۴ يعني جلد دوم ص۵۲۵ نمبر ۶۸۰ گذشت وايضا في الدر المختار ويقسم بينهم بالسوية ان لم يرتب البطون وان قال للذكر كانثيين فكما قال مع رد المختار ج۳ ص۶۷۹ هرگاه بلا تفاوت في العمل تفاوت در صله نافذست پس مع التفاوت في العمل بدرجه اولى نافذ باشد. ۷ محرم ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه ص۱۰۹).



## جائيداد بخشيدن بعض اولاد را ومحروم کردن بعض را

سوال: (۴۹۹) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه د يوې ښځې جائيداد چه څوک ورسره شريک نه دي د مور يا پلار ترکه ده او د دغې ښځې يو ځوي او دوه لورګانې موجودې دي که دغه ښځې د رضا او صحت په حالت کې خپل جائيداد لورګانو ته هبه کړي او د خفګان د وجې نه ځوي ته حق ورنکړي او ځوي د جائيداد خاوند هم دی نو آيا د دې کار شرعا اختيار لري او که نه؟ او هغه ځوي ئې دعوه کولی شي او که نه؟

جواب: هغه ښځه دا حق لري چه خپل جائيداد ټول لورګانو ته هبه او ځوي ته څه ورنکړي ځوي د دعوې حق نلري باقي ګناه او نه ګناه جدا خبره ده. که د کومې شرعي وجې نه مثلا نافرماني، تکليف ورکولو، فسق او ظلم وغيره د وجې نه ئې ناحق کړی وي نو ګناه به نه وي او که بې د کومې وجې نه ئې کړی وي نو ګناه به وي مګر حاکم به په دواړو صورتونو کې تصرف جائز او نافذ ګڼي. "رجل وهب في صحته كل المال للولد جاز في القضاء ويكون آثما فيما صنع كذا في فتاوى قاضي خان وان كان في ولده فاسق لا ينبغي ان يعطيه اكثر من قوته كيلا يصير معينا في المعصية كذا في خزانة المفتين ولو كان ولده فاسقا واراد ان يصرف ماله الى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه كذا في الخلاصة عالمكيري نولکشوري ج۳، ص۱۰۶۴_۱۰۶۵. والله اعلم. فقط. ۳ صفر ۱۳۰۱ھ (امداد ج۳ ص۹۹).

## توقف صحت هبه بر قبضه وشرائط رجوع در هبه

سوال: (۵۰۰) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه زيد خويلد ته خپل مال هبه کړو او هغه ئې وليکلو ليکن د هبې په تحرير نامه کې د منقوله او غير منقوله جائيداد څه ذکر نشته بلکه صرف کل مال او ګانه او لوښي ليکل شوي دي د هغې نه څه مال خويلد سره دی، نور ټول د زيد په قبضه کې دي او کور کې تراوسه زيد اوسيږي اوس زيد د دغه هبې نه رجوع کوي او د خويلد نه خپل مال واپس اخستل غواړي آيا د زيد د هبې نه رجوع کول صحيح دي او که نه؟ د شريعت موافق مفصل جواب راکړئ، بينوا توجروا؟

جواب: څومره چه د خويلد سره ده د هغې هبه صحيح شوه او څومره چه د زيد په قبضه کې ده د هغې هبه صحيح نه شوه. او د څومره هبه چه صحيح شوه د هغې نه رجوع کول په هغه اندازه کې صحيح شو چه د رجوع مانع ونه موندل شي او خويلد هم رضامند شي يا ئې کوم حاکم ورکړي او که نه د حاکم حکم شوی وي او نه خويلد د هغې واپس کولو راضي وي نو زيد له رجوع کول حرام دي او که داسې رجوع وکړي نو غاصبه به وي. "في الهداية

الرجوع الا بتراضیهما او بحکم الحاکم قال العینی لو استردها بغیر قضاء ولا رضاء کان غاصبا فلو هلك فی یده یضمن قیمة للموهوب له". والله اعلم. ۸ رمضان ۱۳۲۴ھ (امداد ج۳، ص۹۶)

## دلیل حنفیه در مانعیت محرمیت از رجوع هبه

**سوال**: (۵۰۱) "جاء فی الحدیث قال رسول الله ﷺ الواهب احق بهبة ما لم یثب منها کذا فی القسطلانی". نو د امام صاحب په نزد په قرابت محرمیه کې رجوع کوم دلیل سره جائزه نه ده؟

جواب: هغه دلیل دا دی. "قال ﷺ اذا کانت الهبة لذی رحم محرم لم یرجع منها رواه البیهقی والدارقطنی فی سننهما والحاکم فی المستدرك کذا فی حاشیة الهدایة عن علی القاری شرح نقایة. ۱۴ ربیع الاول ۱۳۲۵ھ (امداد ج۳، ص۹۷)

## دفع تعارض در عبارات فقهیه در اسقاط وارثی حق خودرا مع بعض احکام هبه

**سوال**: (۵۰۲) "اوصی لرجل بثلث مال ومات الموصی فصالح الوارث من الثلث بالسدس جاز الصلح وذکر یحتمل السقوط بالاسقاط الخ شامی ج۳ کتاب الصلح فی التخارج". اول قول په اشباه والنظائر کې دی د کوم حواله چه مذکور قول کې ورکړی شوې ده. "ولو قال الوارث ترکت حقی لم یبطل حقه اذا لملك لا یبطل بالترك ص۵۶۳"
مطبوع کلکته د دې شرحه په حموي کې ده.

"اعلم ان الاعراض عن الملك ضابطته انه ان کان ملکا لازما لم یبطل بذلك کما لو مات عن ابنین فقال احدهما ترکت نصیبی عن المیراث لم یبطل لانه لازم لا یترك بل ان کان عینا فلا بد من التملیك وان کان دینا فلا بد من الابراء". په ظاهره دواړو عبارتونو کې تعارض دی، تعجب دا دی چه شامي پخپله د اشباه حواله ورکړې وه کوم چه د دې خلاف ده د قیاس مطابق د اشباه قول معلومیږي البته دا چه کله تملیك دی نو تملیك مجازا دی نو ځکه په هبه کې داخلیدل پکار دي. او شرائط لکه قبضه او عدم شیوع به شرط وي. البته که هغه څیز د تقسیم قابل نه وي نو په ظاهره د هبې صحیح کیدل پکار دي. شبهه دا ده چه که د مړي ترکه که یو یو څیز د مختلف جنس نه وي مثلا یوه الماریٔ ده، یوه کرسئ یا بل کوم څیز نو دا ملاویدی او تقسیمولو باندې نه شي مجبوریدلی او د هر څیز جدا جدا تقسیمولو سره هغه څیز منتفع به نه پاتې کیږي که داسې څیز یو کس بل ته هبه کړي نو دا به صحیح شي او که نه؟ ظاهره کې دا معلومیږي چه صحیح به شي ځکه چه مثلا د دغه الماریٔ جدا حصه ده او هغه هم د تقسیم قابل نه ده نو شیوع مانع صحت هبه نه شو. په کرسئ کې هم جدا جدا حصه ده او هغه



هم د تقسیم قابل نه ده که دا ټولې خبرې صحیح وي نو بیا د یو بل سوال جواب پکار دی چه که مختلف کتابونه اګر که د یو فن وي مثلا شرح وقایه، هدایه، د مختلفو فنونو وي نو د هغې څه حکم دی مثلا یو ملا مړ شو او خپله کتابخانه ئې پریښوده ټولو وارثانو خپله حصه یو وارث ته پریښوده نو دا هبه په سابقه طریقې سره صحیح کیدی شي او دا ویل کیدی شي چه په هر کتاب کې د ټولو وارثانو حصه ده او چونکه هر کتاب جدا د تقسیم قابل نه دی نو ځکه هغه هبه صحیح شوه البته که د کتاب دوه نسخې وي نو بیا صحیح نه شوه ځکه چه د تقسیم قابل ده او آیا د هبې نه صحیح کیدل (کله چه دوه کتابونه وي) هغه وخت وي کله چه دوه وارثان وي او زیاتیدو سره بیا دا ویل کیدی شي چه کتابونه صرف دوه دي نو ځکه د تقسیم قابل نه دي یا دا چه ټول کتابونه دې یوځای کړی شي او یو قسم دې وګرځول شي او په هر صورت کې په هبه نه صحیح کیږي د دې مسئلې نسبت ډیر تردد او پریشاني ده د توضیح د وجې نه لږ سوال اوږد شو؟

**جواب**: زما په نزد دواړو کې تعارض نشته دی ځکه چه لم یبطل حقه الخ په هغه صورت کې دی کله چه مالك دستبردار شي لکه څنګه چه هندي خورګاني د خپل وروڼو نه حق اخلي او یحتمل السقوط په هغه صورت کې دی چه کله د خپل حق نه په کم باندې صلحه وکړي نو د جاز الصلح په دلیل کې بیانول د هغې قرینه ده او دلته د اصلح عن العین نو متحمل وو د عدم جواز ئې ځکه تصریح وکړو اوس تدافع پاتې نه شو او کوم امور چه تاسو لیکلي دي که دا ټولې خبرې صحیح وي نو په واقع کې دا ټولې خبرې صحیح دي او ظاهره دا ده چه مختلف کتابونه مختلف اجناس دي او د یو کتاب مختلفې نسخې د جنس واحد مختلف افراد دي مګر کله چه وارثان زیات شي او نسخې کمې وي نو مجموعه به قابل تقسیم نه وي، والله اعلم. ۱۷ رجب ۱۳۲۵ھ (امداد ج۳ ص۹۸)

## رد هبه یا عاریت

**سوال**: (۵۰۳) زید د یو دربار سره تعلق وو د هغه د خدمت په بدله کې ځمکه وغیره په انعام کې ملاو شوه. د اجازت نه وروستو د آقا او نوکر ترمنځ مخالفت واقع شو نو آقا چه څه ورکړي وو واپس ئې واخستل. زید هم خفه او بل ځای ته لاړو. ډیره موده وروستو د زید د اولادونو نه دوه همدغه کلي ته لاړل او په دغه سرکار کې نوکر شو او منجمله عطیه ئې هغوئ ته ورکړه اوس په دې کې د زید نور اولاد شریکیدی شي او که نه؟ او دا هبه جدید ده

او که قدیم؟ د دې نه وروستو د سرکار عادت همدا وو چه د ۲ یا څلور کالو لپاره به ئې هغه ځمکه پرېښوده او بیا به ئې ضبط کوله. او بیا به ئې میاشت دوه میاشتې پرېښوده آخر دا خبره وشوه چه د دواړو ورونو نه د یو ورور په تنخواه کې ولیکل شوه اوس دا مالك څوك دی؟

**جواب:** که آقا زید ته په عاریت سره مذکوره جائیداد ورکړی وي نو استرداد جائز دی. "لقوله عم العاریة موراة والمنحة مردودة رواه الترمذي". او که د هبې په طور ئې ورکړې وه کوم چه د شروطو د وجود او د هبې د جواز دحاکم په حکم سره د زید په رضا سره راګرځول جائز دي اګر که مکروه تحریمي وي او د حاکم د حکم یا د رضا خلاف ناجائز. "وفیها لا یقضی القاضی لنفسه ولولده در مختار". البته که د واسطې په حکم سره که ئې څوك ثابت جوړ کړی وي او فیصله ئې کړې وي نو نافذه به وي. "اذاوقع للقاضی حادثة اولولده فاناب غیره فقضی نایب القاضی له او لولده جاز قضاءه در مختار علی هذا القیاس". د زید دوه ځامنو چه څه ورکړی شوي په هغې کې هم دغه تفصیل دی که عاریت ئې ورکړل نو استرداد جائز او که هبه ئې بغیر د تقسیم نه ورکړې وي بیا هم استرداد جائز ځکه چه د غیرمقسوم هبه صحیح نه ده. "وهب اثنان دار الواحد صح وبقلبه لکبیرین لا در مختار". البته که دواړه محتاج وي نو بغیر د تقسیم نه هم صحیح ده. "قوله لکبیرین ای غیر فقیرین والا کانت صدقة فتصح شامي". او که د تقسیم نه بعد ئې ورکړې وي نو د حاکم په حکم او دواړو کسانو په رضا سره ئې استرداد جائز کنه نو ناجائز. نو په تپوس شوي صورت کې د زید نه استرداد جائز نه دی که په دې صورت کې زید ژوندی وي خو صحیح کنه نو د هغه وارثان به د شرعي حصو مطابق د هغې مالکان وي. نه به د دواړو ځامنو تخصص وي او نه د هغه چه د چا په تنخواه کې لیکلی شوي دي او په کوم صورت کې چه استرداد جائز وو لیکن د دغه دوه هلکانو نه نه وو په دې صورت کې دوئ دواړه مالکان دي نه د زید وارثان مستحق دي نه هغه خاص د کوم په تنخواه کې چه لیکل شوي دي او په کوم صورت کې چه د هغوئ نه استرداد هم جائز دی په دې صورت کې صرف هغه مالك دی د کوم په تنخواه کې چه لیکل شوي دي، والله اعلم. ۸ صفر ۱۳۰۴ھ (امداد ج۳ ص۱۰۰).

## واجب الرد بودن مال مسروقه موهوبه

**سوال:** (۵۰۴) زید د عمرو نه یو څیز پټ کړو او بکر ته ئې هبه کړو او بکر خالد ته هبه کړو اوس معلومه شوه چه زید غلا کړې وه په دې حالت کې د غلا شوي څیز په چا واپس کول لازم دي؟



**جواب:** اوس چه د چا سره وي په هغه ئې واپس کول واجب بدي او که خبر ورته نه وو نو چاته چه خبر نه وي هغه ته خبر ورکول واجب دي او که دغه صاحب خبر په هبه کې هم دخل لري نو هغه له ئې په استخلاص او استرداد کې هم سعي واجبه ده.

## لور ته د جائیداد وغیره هبه کول

**سوال:** (۵۰۵) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه یوې مور خپلې لور ته ټول جائیداد منقوله او غیر منقوله راجمع او هبه کړو او بعضې جائیداد چه په کې منقوله وي لکه د عدالت ډګري وغیره د هغه کاغذات موهوب له ته سپارل شوي وي او د غیر منقوله جائیداد په نسبت هر څه موهوب له ته ورکړی شوي دي او عام اجازت ئې ورکړی دی چه ته پوهه شه او جائیداد دې دا هر څه ما تا له درکړل نو داسې هبه لساني شرعا جائز دي او که نه؟ او موهوب له هغه هبه قبوله کړه؟

جواب: د روپو هبه صرف کاغذاتو سره نه صحیح کیږي ځکه چه د موهوب موجودیدل ضروري دي تملیك العین بلکه هغې ته ئې د روپو وصولولو او مالك کیدو اجازت ورکړی دی نو دا توکیل بالاقتضا دی لیکن که د معزولیدو نه وړاندې ئې روپۍ وصول کړې وي او قبضه ئې پرې کړې وي نو مالك به شي او د عزل نه وروستو به مالك نه شي او د معزول کیدو څو صورتونه دي د هغې د جملې نه یو درهم دی چه هغه موکله ئې معزول کړي یا موکله مړه شي په دې دواړو صورتونو کې به موکله معزوله شي او د وصولیدو مجاز نه ده بلکه ټول وارثان خپل مینځ کې د تقسیمولو حق لري. "واما تملیك الدین من غیر من علیه الدین فان امره بقبضه صحت در مختار ای یکون وکیلا عنه فیه شامي فللموکل العزل متی شاء وینعزل بموت احدهما". دا هله ده چه واهبې هغه د صحت په حالت کې قبضه کړې وي او که د واهبې په مرض الموت یا بعد الموت قبضه کړل نو د ورثه و د اجازت نه به صحیح نه وي. ویبطل اقراره ووصیته وهبة لابنه کافران اسلم. او نور منقوله او غیر منقوله څیزونه چه ئې هبه کړي وي په هغې کې دا کتل پکار دي چه دا جینۍ نابالغه ده او که بالغه، که نابالغه وي نو دا کتل پکار دي چه د چا په تربیت کې ده که پلار، نیکه یا وصي ئې موجود نه وي یا موجود وي مګر په سفر کې دي او بالفعل د مور په ولایت کې دي بیا خو صرف د ژبې په ویلو سره دا هبه صحیح شوه او که بالغه وي یا نابالغه وي مګر پلار، نیکه یا وصي ئې موجود وي نو بیا به دا هبه په ژبې سره وینا سره نه مکمله کیږي ترڅو چه پلار، نیکه یا د هغه ثابت پرې

قبضه ونه کړي. "وهبة من له ولاية علآ الطفل في الجملة تم العقد" "وان وهب له اجنبی يتم بقبض وليه وهو احد اربعة الاب ثم وصيه ثم الجد ثم وصيه وان لم يكن في حجرهم وعند عدمهم ولو بالغيبة المنقطعة تتم بقبض من يعوله". او په کوم صورت کې چه د مور قبضه کافي نه ده په هغې کې دا هم شرط دی چه کوم څيز د تقسيم قابل وي هغه جدا کړی شي هغه يا د هغه نائب يا ولي پرې قابض کړي او قبضه صرف حساب کتاب ورکولو سره نه کيږي ترڅو چه تسلط تام نه وي کوم ته چه د قانون په طرف کې دخليابي ويل کيږي. "وتتم الهبة بالقبض الكامل وكل الموهوب له لرجلين لقبض الدار فقبضاها جاز" "خانية". کوم څيزونه چه د تقسيم قابل نه دي په هغې کې اشتراك او اشارعی ضرر نه کوي. "في محوذ مقسوم ومشاع لا يقسم لا فيهما يقسم ولو لشريكه والروايات كلها من الدر المختار والله اعلم فقط. (امداد ج۳، ص۱۰۱).

### داخل خارج د هبې سبب دي او که نه؟

**سوال**:(۵۰۶)د ښځې قبضه د خارجي او داخلي په حيثيت سره په سرکاري کاغذونو کې وشوه او د هغه ښځه آمدن وصولولو لپاره هغه چا له به تحصيل ورکوي؟

**جواب**: که د قرائنو نه معلومه شي چه د خاوند دا جائيداد ښځې له ورکول مقصد دی نو دا هبه شوه. ۱۴ شعبان ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۱۹۳).

### د هبې په وخت د موهوب مشاع او وروستو تقسيمېدل

**سوال**:(۵۰۷) د جائيداد د بيعنامې د ليکلو په وخت مشترك وو ليکن وروستو بيا جدا کړی شو؟

**جواب**: که د دې تقسيم نه بعد که د بي بي په قبضه باندې خاوند راضي وي نو هبه تام شوه. ۱۴ شعبان ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۱۹۳).

### د بره سوال تتمه

**سوال**:(۵۰۸)او د دې جائيداد آمدن د خاوند سره وي، د ښځې د اجازت نه بغير ئې خرچولی شي او که نه؟

**جواب**: نه. ۱۴ شعبان ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۱۹۳).



### حکم اعطاء زوج زیور را بزوجه وعدم تصریح مالك نمودن او

**سوال**:(۵۰۹) خاوند که خپلې ښځې ته نقرئي يا طلائي ګانه ورکړي او د دې تصريح ونه کړي چه دا د ښځې ملکيت دی نو د خاوند د وفات نه بعد آيا هغه ټوله ګانې به په مشروکه کې شمار کړی شي او ټولو وارثانو ته به شرعي حصه ملاو شي او که نه؟ صرف ښځه به ئې مالکه ګڼل کيږي؟ د خاوند د وفات نه بعد ښځه وائي چه زما ملکيت کړی ئې وو او نور وارثان وائي چه مونږ ترې خبر نه يو نو د ښځې خبره به معتبره وي او که نه؟

**جواب**: هبه قرائنو سره ثابتيږي او که داسې قرائن وي نو د ښځې ملکيت دی کنه نو د متوفي ملکيت به وي او د خاوند د وفات نه بعد که ښځه د ملکيت دعوه وکړي نو د هغه نه به د ثبوت مطالبه کيږي که کافي ثبوت نه وي نو د ورثه و نه دې يمين على العلم واخستل شي يعنې دا قسم دې وخوري چه مونږ ته پته نشته چه خاوند د ښځې ملکيت کړی دی. ۲۴ رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانيه ص۷۷).

### هغه ځمکه چه په عوض سره هبه کړی شوې وي په هغې کې د واهب

### دا شرط لګول چه که ته دا خرڅ کړې نو څلورم قيمت به ئې ماته راکوې

**سوال**:(۵۱۰) په ملك برهما کې يو امير کبير چه لقب ئې جوفرکنك دی او د هغې ماتحت څو کلي دي. انګريزانو هغه د دې کليو والي او مالك جوړ کړی دی او دا ئې په کاغذ کې هم رجسټري کړي دي چه هر کال به انګريز حکومت ته دومره روپۍ ورکوي او کوم کلي چه ستا د حکومت نه لاندې دی هغه ته خرڅولی هم شې يعنې که په چا ئې خرڅوې نو انګريز حکومت ئې مانع نه دی او په چا ئې چه خرڅوې هغه به هم زمونږ دا ټول احکام مني او ستا نه وروستو ستا د اولاد لپاره هم دا حکم دی. ليکن ۳۰ کاله بعد چه د انګريز حکومت نه څه فيصله راشي هغه به مني يعنې که خراج وغيره زيات کړی شي نو هغه به منل کيږي نو څوك چه مشر دی هغه په يو کاغذ باندې څو روپۍ نذرانه اخلي او خلکو ته ځمکه ورکوي او ليکي چه دومره ځمکه تاته درکړی شوه په دې شرط چه په کال کې به في بيګه للعه ۴ خراج ورکوې او د دې ځمکې د خرڅولو هبه کولو وغيره اختيار ته هم لرې او ستا د مرګ نه بعد ستا وراثان هم دا حق لري يعنې که د ۱۰۰ روپو ځمکه خرڅوي نو ۲۵ به ماته راکوي او په چا چه ئې خرڅوي نو هغه به في بيګه ستا د ځمکې نه خارج راکوي او انګريز حکومت به

چه کوم حکم ۳۰ کاله بعد کوي ته او زه دواړه به ئي منو نو قوم ته د دي ځمکي مالك ويلی شو او که نه؟ او که دغه مشر د يو کس نه جبرا ځمکه واخستله او بل ته ئي ورکړه نو اول کس به ئي مالك وي او که دويم؟ او څوك به د دي دواړو نه د تصرف حق لري او څوك نه؟ د شرعئ د مخي نه؟ د دي باوجود چه انگريز حکومت او دغه مشر د دي کار نه مانع دي؟

**جواب:** "في رد المحتار عن غاية البيان قال اصحابنا ان العوض الذي يسقط به الرجوع ما شرط في العقد الى قوله وليس كذلك اذا شرط في العقد لانه يوجب ان يصير حكم العقد البيع ويتعلق به الشفعة ويرد بالعيب الخ ج۴ ص۷۹۰". کومه ځمکه چه دغه مشر ته ملاو شوې نو هغه د هبې د صحيح کيدو د وجې نه د هغه ملکيت شو، کما هو ظاهر. او دغه مشر چه چاله ورکړه نو ظاهره ده چه دا هبه بالعوض معلوميږي او هبه بالعوض د بيعي په حکم کي دي که څنگه چه د ذکر شوي روايتونو نه ثابته شوه او که بيعه په دي شرطونو سره وي نو هغه فاسده ده او په بيع فاسد کي لکه څنگه چه فقهاو تصريح کړې ده متعارفه قيمت واجبيږي او په بيع فاسد کي که مشتري قبضه وکړي نو مالك کيږي او که مشتري په بل چا باندي خرڅ کړي نه وي يا هبه کړي وي او تسليم کړي ئي نه وي يا ئي وقف کړي نه وي يا ئي گرو کړي نه وي. "من التصرفات التي ذكره في الدر المختار باب البيع الفاسد". تر هغه وخت پورې بائع ته د فسخي او استرداد حق حاصل دی. او کومه چه ئي د مشتري نه اخستلي ده د هغي واپس کول هم واجب دي نو په تپوس شوي صورت کي چه مشر کومو کسانو ته ځمکه ورکړې ده که هغه ئي قبضه کړي نو مالك به شي او کوم شرطونه چه ئي لگولي دي هغه به ټول لغوه شي البته د دي ځمکي چه کوم قيمت مروج دی هغه به واجب وي. او ترڅو پورې چه د ځمکي د اخستلو والا مذکوره تصرفات چه په در مختار کي نقل دي نه وي کړي او مشر ئي واپس کړي نو ناجائز، او که مشر د دغه کس نه اخستلي وي او واپس ئي واخلي او د دي تصرفاتو نه ئي څه تصرف کړی وي نو بيا مشر ځمکه نه شي واپس کولی. ۲۸ شوال ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی ص۱۵۶ وحوادث ۲۰۱ ص۲۹).

## عدم خروج شی از ملک بنامزد کردن دیگری

نوټ: (دا مسئله په همدي عنوان او حوالي سره کتاب الدعوه کي راغلي).



## صحت هبه للصغير بدون القبض

**سوال:** (۵۱۱) مورث څه لوښي او نقره او طلاء په دي نيت سره تيار کړي چه فلانئ جينئ ته به ئي د واده په وخت ورکړم وقت فوقتا به چه دا ځيزونه تياريدل او راتلل نو خلکو ته به ئي ښودل او دا به ئي ويل چه دا مي د فلانئ جينئ د واده لپاره تيار کړي دي. د دي نه بعضي ځيزونه د بلوغت نه وړاندي تيار شوي وو او بعضي د بلوغ نه بعد. مذکور جينئ د بلوغ نه بعد ئي پلار يو کال ژوندی وو او اوس هم ټول ځيزونه د مورث په قبضه کي دي او مورث د جينئ د واده کولو نه وړاندي وفات شو. په دي صورت کي به بره ذکر شوي ځيزونه د متوفي متروکه او د ورثه و مال گڼل کيږي او که يواځي د لور ملکيت په هبې يا وصيت سره راځي، بينوا توجروا؟

**جواب:** "في الدر المختار اتخذ لولده اولتلميذه ثيابا ثم اراد دفعها لغيره ليس له ذلك ما لم يبين وقت الاتخاذ انها عارية وفي رد المختار قوله لولده اى الصغير واما الكبير فلا بد من التسليم كما في جامع الفتاوى ج۴ ص۴۸۳_۴۸۵؛ وفي الهداية اذا وهب الاب لابنه الصغير هبة ملكها الابن بالعقد في العناية والقبض فيها باعلام ما وهبه له وليس الاشهاد شرط الا ان فيه احتياطا للتحرز عن جحود الورثة بعد موته او جحوده بعد ادراك الولد آه".

د دي روايتونو نه لاندي امور راووتل:

۱_ کومه گاڼه وغيره چه د نابالغي په وخت کي اخستل شوي وي هغه د هغي ملکيت شو. کومو وارثانو ته چه دا معلومه وي او که معلومه نه وي نو په دي صورت کي د دي شرعي گواهان پري تير کړی شي او هغوئ له به په دغه گاڼه کي دعوه کول حرام وي.

۲_ کوم چه د دغه جينئ د بلوغ نه بعد تيار شوي دي هغه د مورث ملکيت دی او د ټولو ورثه و په کي د ميراث حق شته دی.

۳_ البته که لور يا وکيل ئي پري قبضه کړې وي نو هغه به ئي هم په ملکيت کي داخل شي او که مصنوع قبل البلوغ او بعد البلوغ جدا نه وي نو خپل مينځ کي دي صلحي سره جدا کړی شي. ۳۰ محرم ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص۱۱).

## حکم آنچه اطفال راميد هندا از عطيات

**سوال:** (۵۱۲) که نابالغه ماشومانو ته د هغوئ نيکه څه ورکړي نو هغه دي د هغوئ مور او پلار په هغوئ څنگه مصرف کړي که په روټئ کپړه کي ئي مصرف کړي نو دا خو د مور او پلار په ذمه ده تردي چه بالغ شي نو دا امانة جمع کړي او که په شيريني او ملاتي ئي ولگوي څه صورت وکړي؟

جواب: "في الدر المختار ولفطله الفقير الحرلان نفقة المملوك على ملكه والغنى في ماله الحاضر". د دې روايت نه معلومه شوه چه كه نابالغ د څه مالك شي نو د هغه نفقه به په هغه مال كې وي. د مال موجودګۍ كې به مور او پلار خرچه واجب نه وي نو په تپوس شوي صورت كې به دا عطيات د هغه نابالغ په ضروري نفقاتو كې خرچ كولى شي. ۲۷ ربيع الاول ۱۳۲۵ھ (امداد ج۲، ص۸۰).

## انعام كارنده از جرمانه

سوال: (۵۱۳) كه د داسې آمدن نه څه روپۍ كارنده ته د انعام په طور يا د ملزم د نيولو په بدله كې ملاو شي نو كارنده له ئې اخستل جائز دي او كه نه؟

جواب: نه. مالك دې د خپل طرف نه وركړي. ۲۶ جمادى الثاني ۱۳۳۱ھ (حوادث ۱،۲ ص۱۰۰).

## حكم انعام گرفتن از دست افسران بلا اطلاع گورنمنټ

سوال: (۵۱۴) چهتر پور سره يو ځاى دى په هغې كې يو نوى تار لګولى دى د هغې د خرچې منظوري د حكومت نه ۸۰۰ روپۍ شوې ده او هغه كار ۴۰۰ روپۍ كې وشو. ډپټي سپرنټنډنټ چه مونږ سره وي هغه راته وويل چه تاته ۲۰ روپۍ انعام دركوو او ۵ روپۍ نورو كسانو ته وركوو او شايد چه هغه به پخپله هم څه اخلي نو دا جائزه ده او كه نه؟

جواب: دا وواياست چه هغه ته د دې كار اختيارات وركړى شوي دي او كه نه او كه دا اطلاع حكومت ته وركړى شي نو هغه به ئې ومني او كه نه؟ جواب په دې باندې موقوف دى. ۲۲ ربيع الاول ۱۳۳۲ھ (حوادث ۱،۲ ص۱۳۴).

## عدم جواز قبول انعام بزر سركار از كارنده سركار بغير اجازت سركار

سوال: (۵۱۵) كه د دې اطلاع حكومت ته وشي نو غالب گمان دا دى چه اجازت به ورنكړي، فقط؟

جواب: بس جائزه نه ده. ربيع الاول ۱۳۳۲ھ (حوادث ۱،۲ ص۱۳۵).

## تفصيل هديه مشركين بالخصوص درديوالي وغيره

سوال: (۵۱۶) (۱) هندوان كه خپلو خوشحاليو (تهوار) په موقع باندې مسلمانانو ته هديه وركړي (مثلاً ديوالي چه اكثره هندوان په كې مسلمانانو له متهائي وركوي) قبلول جائز دي



او كه نه؟ (۲) كه كوم كس ئې قبول كړي او بل چا له ئې وركول غواړي نو هغه كس له ئې خوړل جائز دي او كه نه؟ (۳) كه كفار د خپل اختر وغيره لپاره كومه خاصه متهائي جوړه كړي مثلاً د ماشومانو د لوبو شيان وغيره نو هغه د دغه دكان نه اخستل جائز دي او كه نه؟ (۴) "مهاواة متعلقه بين المسلم والكافر" جائز دي او كه نه؟ (۵) كوم چه مشهوره ده چه خاص په دغه شپه ئې خوړل جائز دي او كه نه دي، آيا دا صحيح ده؟

جواب: "في العالمكيريه ولا باس بضيافة الذمى وان لم يكن بينهما الا معروفة كذا فى الملتقط وفى التفاريق لا باس بان يقيف كافر القرابة اوالحاجة كذا فى التمرتاشى ولا بالذهاب الى ضيافة اهل الذمة هكذا ذكر محمد ثم فيها ولا باس بان يصل الرجل المسلم المشرك قريبا كان او بعيدا محاربا كان اوذميا واراد بالمحارب المستامن واما اذا كان غير المستامن فلا ينبغى للمسلم ان يصله بشيئ كذا فى المحيط وذكر القاضى الامام ركن الاسلام صلى السفدى اذا كان حربيا فى دار الحرب وكان الحال حال صلح ومسالمة فلا باس بان يصله كذا فى التاتارخانية هذا هو الكلام فى صلة المسلم المشرك وجينا الى صلة المشرك المسلم فقد روا محمد فى السير الكبير اخبارا متعارضة فى بعضها ان رسول الله ﷺ قبل هدايا المشرك وفى بعضها انه ﷺ لم يقبل فلا بد من التوفيق واختلف عبارة المشايخ فى وجه التوفيق فعبادة الفقيه ابى جعفر الهند. فى انه ما روى انه لم يقبلها محمول على انه انما لم يقبلها من شخص غلب على ظن رسول الله ﷺ انه وقع عند ذلك الشخص ان رسول الله ﷺ انما يقاتلهم طمعا فى المال لا لاعلاء كلمة الله ولا يجوز قبول الهدية من مثل هذا الشخص فى زماننا وما روى ان قبلها محمول على انه قبل من شخص غلب على ظن رسول الله ﷺ انه وقع عند ذلك الشخص ان رسول الله ﷺ انما يقاتلهم لاعزاز الدين ولاعلاء كلمات الله العلياء لا لطلب المال وقبول الهداية من مثل هذا الشخص جاز فى زماننا ايضا ومن المشايخ من وفق من وجه اخر فقال لم يقبل من شخص علم انه لو قبل منه يقل صلابته وعزته فى حقه ويلين له بسبب قبول الهدية وقبل من شخص علم انه لا يقل صلابته وعزته فى حقه ولا يلين بسبب قبول الهدية كذا في المحيط ج۶ ص۲۳۲".

د دې روايت نه د تپوس شوي احكامو تفصيل معلوم شو چه كه كوم ديني ضرر نه وي نو د كفارو مصالحينو نه د هديې اخستل جائز دي او د دې نه د اكثره سوالونو جواب حاصل شو. صرف دوه جزءونه خاص د تعارض قابل باقي پاتې شو. يو دا چه ديوالي شايد د دوئ د مناسبت د احترام لپاره وي كوم ته چه فقهاو سخت منع ويلي دي. دويم داچه په دې كې تصويران هم وي د هغې اقتناء او احترام مستلزم للمتقوم او استعمال لازميږي او بعضې فروعو كې د تصاويرو د تقوم نفي هم كړى شوې ده نو په دې كې د هغه شرعي حكم معارضه هم ده. د اول جواب دا دى چه د عادت نه معلومه ده چه د دې هديې سبب مهدي له تعظيم دى نه چه د مناسبت تعظيم. او د دويم جواب دا دى چه په هديه كولو كې مقصد صورت نه

بلکه ماده ده البته دا. واجب ده چه مهدي له فورا تصویر مات او ختم کړي. ۱ محرم ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص۸).

### هدیه دادن در تعلیم یتیم از مال یتیم

**سوال**: (۵۱۷) یتیم مالدار حامیش پیش صاحب هنر برائی آموختن هنر سپرده آن حامي مي گوید که از مال یتیم گاه گاه آن هنر مند را هدیه دادن تاکه برغبت والفت هنر بیا موز اند رواست یا نه وبغیر از اهداء راغب نخواهد شد درین چنین معامله تعیین عقد اجاره مروج نیست، واگر بالفرض اجاره منعقد شود پس اجرت از مال یتیم در آموختن حرفت دادن جائز یا نه؟

**جواب**: "فی البدایة کتاب الماذون ولایهب بعوض ولا بغیر عرض وکذا لا یتصدق الا ان یهدی الیسیر من الطعام اویضیف من یطعمه لانه من ضروراة التجارة استجلا لقلوب المجاهزین بخلاف المحجور علیه لانه لا اذن له اصلا فکیف یثبت ما هو من ضروراته". ازین روایت هویدا شد که اذن بالشیئ اذن بلوازم اوست وولي یتیم ماذون ست باتفاق در مصالح تعلیم یتیم واین اهداء مسئول عنه عادة از لوازم اوست پس بآن هم ماذون خواهد بود. ۵ ذی الحجه ۴۶ھ (تتمه خامسه ص۶۰۸).

### بغیر د عذر نه د هدیې نه قبلولو نه منکر کیدل

**سوال**: (۵۱۸) په یوه خبره باندې ما ډیر غور وکړو مګرددې ملك د نورو صاحبانو نه دنه حل کیدو په وجه پریشان یم او ستاسو په بارګاه کې عرض کیږي چه یو کس بل ته څه تحفې یا روپۍ په ډیره خوشحالۍ ورکړي کوم کس ته چه ئې ورکړې وې هغه کس ئې نامنظور کړې ورکونکي وویل د تحفو نه اخستلو باندې زه ډیر خفه کیږم، اخستونکي وویل زه د دې نه اخستلو باندې ډیر خوشحالیږم اوس دواړه یو بل نه ناراضه او خفه دي په دې صورت کې څه کول پکار دي. په تفصیل سره ئې ولیکئ، حال دا چه دا تحفې شرعا څه عیب نه دی، فقط؟

**جواب**: کله چه د هدیې په قبولولو کې کوم شرعي مانع نشته دی نو د اخستونکي دا ویل چه زه د دې په نه اخستلو ډیر خوشحالیږم سخته غلطي او د لویي کار دی کوم چه د سنت بالکل خلاف دی په حدیث کې تهادوا تحابوا صریح حکم دی که بغیر د عذر نه مهدي البه انکار وکړي نو په تهادوا به څرنګه عمل کیږي، فقط. ۲۹ ذی الحجه ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۲۰۳).



### وهم واضح ماند که پدرا ن رامي رسد که میان الخ

**سوال**: (۵۱۹) وهم واضج ماند که پدران را میرسد که بیان اولاد ذکور خود دراعطاء امتیاز سازند یا نه بر صورت اول دردار آخرت عندالله قابل مواخذه شوند یا نه. وقواعد تصرف مال موقوفه چیست وبچه صورت صحیح گرد دو بچه صورت غیر صحیح از حواله کتب معتبره فقهیه واحادیث نبویه بالتفصیل جواب هر سوال ارقام نموده تا تشنه لبان را از سحاب جواب باصواب متردي وآسوده گردانند؟

**جواب**: "فی الدر المختار عن الخانیة لا باس بتفضیل بعض الاولا وفی المحبة لانها عمل القلب وکذا فی العطایا ان لم یقصد به الاضرار وان قصده یسوی بینهم یعطی البنت کالابن عند الثانی وعلیه الفتوی ولو وهب فی صحته کل ولد جاز واثم وفی رد المختار وعلیه الفتوی ای علی قول ابی یوسف من ان التنصیف بین الذکر والانثی افضل من التثلیث الذی هو قول محمد رملی ج۳ ص۵۸۴؛ وفی الدر المختار کتاب الوصیة وندبت باقل منه ولو عند غنی ورثته استغنایهم بحصتهم کترکها ای کما ندب ترکها الخ وفی رد المحتار فی اخر الحاشیة علا قوله ولو عند غنی ورثته ما نصه".

تنبیه: "قال في الطحاوي القدسي من لا وارث له ولا دین علیه فالاولی ان یوصي بجمیع ماله بعد التصدق بیده ج۵ ص۶۴۰".

ازین روایات مستفاد شد این تفاوت در عطایا حرمان بعضی یا تنقیص نصیب بعضی هر گاه که قصدا ضرار ایشان باشد یا موجب ضررایشان باشد موجب گناه است اگرچه نافذ باشدواگر محذور مذکور نباشد مضائقه نیست وکذلك الوقت اگرچه تصرفات مذکوره اسئله بالاهمه نافذ صحیح باشند کما ذکر في الاجوبة لاکن اگر بحیله دعوی نیت قربت ورثه را محروم کردن منظور ست وقف مقبول نباشد والله اعلم. وانچه سوال کرده شده است که قواعد تصرف مال موقوف چیست وبچه صورت صحیح گرد ووبچه صورت غیر صحیح پس انچه سوال کردني باشد جزئیا سوال کرده شود. ۷ محرم ۱۳۳۲ھ.

### هبه بالعوض کې هم شرائط الخ

(تتمه جلد ۱ ص۱۹۶): حتی که هبه بالعوض کې هم هغه شرائط ضروري دي.

این علی الاطلاق مسلم نیست. "نعم اذا کان بکلمته علی هذا اذا قال وهبتك علی ان تعوضنی کذا اما لو قال وهبتك کذا فهو بیع ابتداء وانتهاء. الدر المختار.

# کتاب الشرکة

## عدم براءة مستقرض باداء ببعض ورثه مشترکین

سوال :(۵۲۰) د هندوستان د عام رواج موافق زید او د هغه ټول وارثان په یو کور کې خوراك څښاك او اوسیدل کوي. عمرو د زید نه کوم څیز واخستلو او اوس ئې قیمت نه وو ورکړاې چه زید وفات شو. د وفات نه بعد عمرو قیمت د زید ورثه و کې یو وارث ته ورکړو، هر وارث ته ئې د هغه د حصې موافق ورنکړو. نو آیا عمرو د خپل بار نه بري شو او که نه؟ او آیا دوباره هر وارث له د هغوئ د حصو موافق ورکول پکار دي او که نه؟ د زید وارثان تراوسه پورې په یو کور کې اوسیږي او خوراك څښاك کوي او د هغوئ مالونه مشترك دي. او د زید نه بعد د همدې اشتراك او په یو کور کې کیدو په سبب د زید ترکه تقسیم شوې نه ده او نه د آئنده داسې کیدو امید دی؟

جواب: دا د املاکو شرکت دی د عقد نه په کوم کې چه هر شریك د بل شریك وکیل دی نو کله چه د املاکو په شرکت کې وکالت نشته نو یو وارث ته ورکولو سره د نورو وارثانو خپله خپله حصه به باقي پاتې وي. البته که ټول یوځاي او دغه وارث نورو ته اجازت ور کړې یا مړی دا وارث خپلې وصي جوړ کړی وي نو بیا د هغه قبضه د ټولو قبضه وه. البته که نور وارثان د عمرو نه مطالبه وکړي نو عمرو د دغه وارث نه په استثناء سره نورو ته د هغوئ د حصو روپۍ ورکولې شي. ۲۷ محرم ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳ ص۱۰۳).

## اشتراط نقدیة مال شرکت وغیر معین بودن ربح

سوال :(۵۲۱) زما څه روپو قرض اخستلو ته ضرورت دی یو کس روپو راکولو ته تیار دی مګر وائي چه ما هم په تجارت کې شریك کړه. ډیرې خبرې داسې دي چې د وجې نه ئې زه چا سره شریکیدل نه خوښوم لیکن په دې وخت کې خو داسې مجبوري شوه چه خامخا به ئې منم مګر خواهش مې دا دی چه شرکت داسې طریقې سره وکړی شي چه روپۍ زر ادا کړی شي او ترې جدا شم نو د دې لپاره ما دا صورت تجویز کړی دی چه د څومره روپو چه زما ضرورت وي هغه به زه واخلم او د کومو کتابونو مې چه خواهش وي هغه به واخلم او په خپل ټول تجارت کې هغه صاحب شریك کړم ترڅو روپۍ زر ادا شي او زه ترې خلاص شم کنه نو که په څو کتابونو کې ئې شریك کړم نو روپۍ به په ډیرو ورځو کې ادا شي او فی روپۍ ۲ نفع شوه



مثلا ما ۱۶ روپۍ واخستلې او مال مې راوغوښتلو اوس د ۲ په حساب سره په ۱۶ کې نفع شوه اصل او نفع دواړه ۱۸ شوې اوس که د ۱۶ کتابونه علیحده کیښودل شي نو په ډیروخت کې به وځي نو څکه روپو اخستلو سره به زه د خپل ضرورت کتابونه راوغواړم باقي په دې خیال سره چه روپۍ زر ادا شي په خپلو کتابونو کې د هغوئ شرکت کوم او د دې کار اطلاع هغوئ ته کړی شوې ده هغوئ پرې راضي دي که دا صورت شرعا جائز وي نو اجازت راکړئ او که ناجائز وي نو داسې اسان صورت راته وښایئ چه زما ضرورت هم پوره شي او روپۍ هم زر ادا شي. د ټول تجارت نه زما مقصد دا دی چه کوم کتابونه چه د وړاندې نه زما سره موجود دي او کوم به چه په دې روپو اخلم دواړه یوځاي کړم او شرکت وکړم. زړې او نوې ټولې ذخیرې یو ځاي کړی شي؟

جواب: "فی الدر المختار کتاب الشرکة وشرطها ای شرط العقد کون المعقود علیه قابلا للوکالة وعدم ما یقطعها کشرط دراهم مسماة من الربح لاحدهما لانه قدلا یربح غیر المسمی وفیه واما اعنان الی قوله ومع التفاضل فی المال دون الربح وعکسه وببعض المال دون بعض وفیه ولا یصح مفاوضة وعنان بغیر النقدین والفلوس النافقة والتبر والنقرة آه". د دې مذکورو روایتونو نه معلومه شوه چه دا د عنان شرکت صورت دی او د عنان په شرکت کې دوه صورتونه دي. هغه دلته نشته دی څکه چه یو خو مال نقد دی او د بل کتابونه او د نغدو والا نفع معینه ده لهذا دا شرکت ناجائز دی او دا معینه نفع سود دی کوم چه یوې حیلې سره قرض اخستل مقصود دي. ۱۲ رجب ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳ ص۱۰۴).

## القصص السنی فی حکم حصص کمپنی

بعد الحمد والصلوة! ماته د یو ځاي نه د متعارفو تجارتي کمپنیو د حصو په باره کې خط راغلو کوم ته چه په عرف کې شیَر وائي چونکه په سوال کې مفصل حقیقت نه وو لیکلی شوی نو ما د ضروري تنقیح سره هغه واپس کړو. بیا مې خیال وکړو چه داسې صورتونو سوالونه زیات راځي نو که دا د یوې رسالې په شکل کې جمع کړی شي نو د معاملې والا لپاره به د حکم په تحقیق کې آساني وي نو څکه په دې رساله کې په یو یو فصل کې د کثیر الوقوع صورتونو نه د یو یو صورت لیکل مناسب معلومیږي او د خپلې مخکني فتوی سرسري مطالعې سره که کوم جزء د دې مجموعې نه په نظر راغلی نو هغه به هم د فصلونو په شکل کې د دې ضمیمه جوړه کړئ.

## اول فصل

**سوال**:(۵۲۱) د کوم کار متعلق چه ما (وړاندې) تپوس کړی وو (او تاسې په هغې کې تنقيحات کړي وو) د هغې صورت دا دی چه څومره بينکونه دي د ټولو تقريبا يو صورت دی کوم چه داسې دی:يو کس څه کاروبار کول غواړئ.او د دکان شکل قائموي ليکن په دې دکان کې هر څه نغد وي يعني په نغدو باندې نغدې ګټي او د هغې اعلان کوي او د هغې څو ممبران د مخلوق د اطمنان لپاره جوړوي خلکو نه د دې کار طرف ته ترغيب ورکوي چه دلته روپۍ جمع کوئ او مونږ نه قرض اخلئ چاته چه قرض ورکول کيږي د هغه نه سود اخستل کيږي او کوم کس چه روپۍ جمع کوي هغه ته هم سود ورکول کيږي په اخستلو باندې کم سود ورکول او په ورکولو زيات سود اخلي. د قرض اخستونکي او د روپو يو جمع کونکی که د هر مذهب سره تعلق لري دا بينك عموما د غير مذهبه کمپنيانو وي په داسې بينك کې روپۍ جمع کول او د هغې سود اخستل جائز دي او که نه؟ که سود وانخستل شي نو هغه د کمپنۍ والاچه يقينا عيسايان يا هندوان يا يهود دي د دغه سود مالکان کيږي او بعضې بينکونه دغه روپۍ د خپل مذهب په اشاعت کې لګوي. که روپۍ جمع نه کړی شي او په کور کې کيښودل شي نو د غلا خطره زياته وي په دې صورت کې بينك کې روپۍ جمع کول جائز دي او که نه؟ او سود بايد واخستل شي او که نه؟ سود اخستلو سره په هغې بايد څه وکړی شي؟ آيا په خپل ذاتي مصارفو کې ئې لږولی شي او که نه؟ يا دې په فقيرانو او مسکينانو تقسيم کړی شي په داسې تقسيم به څه ثواب ملاويږي او که نه؟

**جواب**: په واقعاتو او احکامو کې غور کولو سره دا معلوميږي چه کوم خلك په دې بين کې روپۍ جمع کوي هغه د دغه دکاندار شريکان يعنې د بينك حصه داران دي بلکه دغه دکاندارانو ته قرض ورکول او هغوئ ورته په قرض سود ورکوي نو دا د روپو د جمع کولو حقيقت دی. باقي کوم خلك چه د دې بينك نه روپۍ واخلي او سود ورکوي نو د هغې قرض کيدل خو بالکل ظاهر دي که دا دکاندار مسلمان وي که د يوې دلې وي او که يو کس وي داسې عادة غير واقع دی نو د روپو جمع کولو حکم ظاره دی چه د روپو مالکان د مسلمانانو نه سود اخلي او که دغه دکاندار حربي وي نو دا د حربي نه سود اخستل دي د کوم چه مختلف فيه کيدل مشهور دي. نو دا په يو جزء باندې کلام شو باقي دويم جزء نو د دې حقيقت خو بره ذکر شو چه مستقرضين د بينك نه روپۍ اخلي او سود ورکوي او په حکم



کې دا تفصيل دی چه که مقرض او مستقرض دواړه مسلمانان وي نو حکم ظاره دی چه يو مسلمان د سود اخستلو مرتکب شو او بل د سود په ورکولو او که دواړه حربيان وي نو د مستفتي د دې حکم تپوس کول مقصود نه دي او که مقرض مسلمان وي او مستقرض حربي نو په دې کې به همغه د ربوا في دار الحرب والا مسئله جاري کيږي کوم چه بره ذکر شو او که مقرض حربي وي او مستقرض مسلمان نو د فقهاو د تصريح موافق اخذ الربا من الحربي کې خو ګنجائش شته دی ولو مع الاختلاف مګر حربي ته په سود ورکولو کې ګنجائش نشته دی او په کومو صورتونو کې چه علی الاختلاف په اخستلو کې ګنجائش وي نو د پريښودلو نه ئې اخستل بهتر دي او مجوزينو د دې په مصارفو کې څه قيد نه دی لګولی ليکن احوط دا ده چه په فقيرانو او مسکينانو مصرف کړی شي او په نيت کې هم احوط همدا دی چه د ثواب قصد ونه کړي صرف د خارج عن الملك قصد وکړي بيا د ثواب مالك ته اختيار دی که وغواړي ثواب به هم ورکړي ځکه چه هر ثواب په قصدا باندې موقوف نه دی باقي د غلا غالب ګمان کيدل صرف وهم دی په زرګونو سرمايه کاران ئې په بينك کې جمع کول نه خوښوي بلکه خپل کور کې ئې ږدي او آيا د داسې بينك د ديواليه کيدو احتمال نشته او آيا د جائز تجارت کمپنيانې نشته دی؟ فقط. (النور رجب ۱۳۵۹ھ ص۷)

## دويم فصل

په دې کې د سهارنپور د يوې بجلۍ کمپنۍ واقعات دي کوم چه زما په غوښتنه زما يو دوست وليکل او ماته ئې راوليږل په کوم کې چه زما د بعضې سوالونو جوابونه هم دي هغه تحرير لاندې ليکل شوی دی.

**سيدی ومولايی دام مجدکم ،السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !** ستاسو خط راورسيدو د دې نه وړاندې چه د سوالونو جوابونه وليکم د کمپنۍ د جوړښت د څرنګوالي په باره کې تاسو ته څه عرض کول غواړم په کوم باندې چه د جوابونو وضاحت د زياتيدو اميد دی. د کمپنۍ د قانون موافق ۱۰ يا د لسو نه زيات کسان څه روپۍ د خپل طرف نه ورکوي او د کمپنۍ نوم تجويز کوي او د کمپنۍ اغراض او مقاصد ليکي او په دغه نوم او مقصد لپاره رئې رجستري کوي. د رجستر کولو په وخت د هغوئ دا اختيار دی چه د څومره روپو لپاره وغواړي هغه رجستري کړي او کوم سامان به چه جوړوي، خرڅوي هغه ټول وليکي. فرض کړئ چه ۱۰۰۰۰۰ روپۍ سرمايه دپاره دوه نور د بجلي څيزونو لپاره رجستر کړی شول په

دغه وخت کې لږ شان روپۍ کافي دي په کوم چه د کار کولو سرټيفيکيټ ملاو شي او هغه کسان چه روپۍ ئې ورکړي او رجسټري ئې کړې ده کمپنۍ ته ترقي ورکونکي وائي اوس دا خلك د يو يو ملك روپو زر حصې جوړوي او هغه خرڅول شروع کوي هغوئ دا اختيار لري چه پوره زر خرڅ کړي او يا هم ۵۰۰ خرڅې او خپل کاروبار شروع کړي او نورې حصې خرڅول بند کړي. او که د يو کار سره بل کار جاري کول غواړي د کوم اجازت چه په شروع کې حاصل کړی شوی وو نو د باقي حصو نه چه څومره حصې وغواړي خرڅې او بل کار شروع کړي په دې ليکلو سره ستاسو د اول سوال جواب وشو. دا ضروري نه ده چه اول ټولې حصې خرڅې او بيا کار شروع کړي که کار کې صرف پنځه زره راشي او حصې د دې نه زياتې خرڅې شي نو باقي زياتې روپۍ به بيکاره وي. هغه به بينك کې جمع کولی او ډيرکم سود به پرې ملاوېږي او منافع به هغوئ ته هم تقسيمېږي نو هغه حصه دارانو ته به ډير کمه منافع ملاوېږي.

سوال :(د ويم ۵۲۲)د بجلي د طاقت متعلق زه دا نه شم عرض کولی چه دا کومه ماده ده. د برقي قوت شمار څومره دی د دې لپاره حساب ضروري دی لکه چه دا وويل شي په انجن کې د لسو اسونوطاقت دی يو مقرر معيار سره د دې د قوت اندازه کيږي؟

(دريم سوال): کوم خلك چه د بجلي طاقت د کمپنۍ نه اخلي نو ټول سامان په خپل مصرف په کور کې لګوي مثلا کوم ځاي کې چه ئې د بلب ضرورت وي هلته ئې لګوي، د کمپنۍ نه دبجلۍ طاقت اخلي او د دې خبرې دپاره چه يوه مياشت کې څومره بجلي کور ته راغله د دې لپاره يوه آله ده کومه چه کمپنۍ په قيمت ورکوي او يا د بازار نه اخستل کيږي. او هغه به د بجلي انجينر ګوري چه صحيح ده او که نه؟ د دې نه دا معلوميږي چه ټول څومره طاقت مصرف شو او په همدې حساب سره مقرر قيمت يعنې ۸ في يونټ کوم خاصه اندازه چه د قوت لپاره مقرره ده وصول به کړی شي؟

### د زکاة متعلق دا التماس دی

کومه منافع چه حصه دار ته ملاو شوې د هغې تعين ظاهر دی او کومې روپۍ چه د کمپنۍ سره ذخيره پاتې کيږي هغه هر حصه دار معلومولی شي او ورسره دا هم معلوميدی شي چه ټولې څومره حصې خرڅې شوې په کوم سره چه ذخيره روپو کې خپله حصه قائمولی شي؟



### اوس سوال د سود متعلق دی

يوه کمپني هم دې وخت کې داسې نشته چه هغه سود نه اخلي يا نه ورکوي که د کوم ځاي نه کوم وخت کومه کمپني قرض واخلي نو سود به ورکوي او بعضې وختونو کې خپلو روپو باندې کوم چه کوم طرف ته واجب وي نو سود ئې اخلي د دې نه يوه کمپني هم نه شي خلاصيدی؟

### د يو مولوي صاحب د دې په تائيد کې ليکنه

د سوال بعضي حصې: د کمپنۍ د حصو متعلق ما د يو معتبر او پيژندګلو صاحب چه کوم معلومات حاصل کړي نو هغوئ وويل چه صرف دا نه بلکه هره وړه او لويه کمپني د سود نه بغير چليدی نه شي. مثلا د قانون د مخې خپله څه فيصدي د آفاتو د وجې نه په بينك کې محفوظ ساتل کيږي داسې د هرې کمپنۍ چه څه روپۍ وي د هغې نه څو چنده زياتې په سرمايه کې لګول کيږي د کوم معامله چه د بينك نه کيږي او هغه سود اخلي د دې نه علاوه يو حصه دار هم خپلې روپۍ واپس نه شي اخستلی البته په بازار کې خپله حصه په کم يا زيات نرخ څه چه وي خرڅولی شي په دې کې خو غالبا کوم شرعي قباحت نشته.

### الجواب بتحقق حکم

د دې معاملې حقيقت شرکت دی يعنې څو حصه داران خپله سرمايه جمع کوي او څه فائده چه ترې وشي هغه په خپل مينځ کې تقسيموي او په بره تحرير کې چه کوم عبارت دی چه دا خلك د يو يو لك روپو زر حصې في حصه سل روپۍ ګرځوي او حصې خرڅول شروع کوي دې ته اصطلاحا خرڅول ويل کيږي کنه نو په حقيقت کې شرکت دی او د کمپنۍ کارکنان د دې حصه دارانو وکيلان وي او د دې شرکت دوه حصې وي يو حصه هغه کوم اعيان او سامان چه په کارخانه کې موجود وي هر شريك د کارکنانو په واسطې سره د دغه سامان مالك کيږي يعنې مثلا که چا سل روپۍ داخلې کړې نو ګويا چه د موجوده سامان زرمه حصه ئې واخستله دويم جزء دا چه مخکې په کاروبار کې چه څومره نفع کيږي هغه حصه به د هر شرکې ملکيت وي او که د دې حصې دخلولو نه وروستو څه سامان واخستلو په دغه نسبت سره به دا حصه دار د دغه حصې هم مالك کيږي الخ. په دې کې تفصيل دا دی چه کوم څيز به چه د حصې داخلولو نه وروستو اخستل کيږي په دې کې خو به دغه کارکنان د حصه

دارانو وکیلان وي او کوم سامان چه د وړاندې نه موجود دی په هغې کې پخپله دغه کارکنان بائع او د مشتري حصه داران وي او دا به بیع تعاطي وي په کوم کې چه بائع په قیمت باندې بلا واسطه قابض شو او مشتري په مبیع باندې د بائع په واسطې سره چه هغه ئې وکیل هم دی قابض شو.په دې واقعه کې[1] صرف په یو جزء پوهه نه شوم کوم چه په دې عبارت کې ذکر دی او ډائریکټران چه د ځومره روپو ضرورت وګڼي هغه حد پورې حصې خرڅوي او سرمایه برابروي غالبه مراد دا دی چه د دې کمپنۍ د جاري کولو لپاره چه د ځومره روپو ضرورت ګڼي مثلاً د ۱۰۰۰۰۰ روپو اعلان کوي او کوم کس چه په دغه کمپنۍ کې شریکیدل وغواړي هغوئ په دغه کمپنۍ کې روپۍ داخلوي او دا اخستل د کمپنۍ د کارکنانو نه منظوریدو سره د خرڅولو سره تعبیر کیږي نو حاصل دا چه عام خلك په دې کمپنۍ کي شرکت کوي حتی چه کله ۱۰۰۰۰۰ روپۍ جمع شي بیا د هغې نه بعد کاروبار جاري کیږي د کوم تفصیل چه وروستو عبارت کې آخر پورې دی. اوس د دې حکم لیکل کیږي چه شرعي حقیقت د دې معاملې شرکت دی ([2]) یعني روپۍ داخلونکی د دې تجارت شریکان دي او د کمپنۍ کارکنان په ټول کاروبار کې د دوئ وکیلان دي او چونکه تجارت یعني بجلي تیارول او په اهل حاجت باندې خرڅول جائز دي نو ځکه ئې نفع وغیره هم حلاله ده پاتې شو هغه کار خلاف شرع کوم چه په اخر کې لیکلی شوی دی دا عبارت چه بعضې وختونو کې قرض الخ وصولوي نو کوم حصه دار ته چه د حصې داخلولو په وخت د دې پته نه وي نو هغه د کمپنۍ کارکنان د دې کار لپاره وکیلان کړي نه دي. نو ځکه د هغوئ دا کار به هغوئ طرف ته نه منسوبیږي او چاته چه پته وي هغوئ دې تصریحاً د دې نه ممانعت وکړي اګر که عمل پرې ونه شي مګر د دې ممانعت نه خو به هغه طرف ته نسبت خو نه کیږي لیکن دا سوال اوس هم باقي دی چه کمپنۍ کوم سود وصولیږي هغه به هم په حصه دارانو تقسیمیږي نو سود نه دی حصه دارانو نفع واخستله. نو په دې کې ځو حالتونه دي یو دا چه د دې وقوع لازم خو نه دی ځکه چه ممکنه ده چه د کمپنۍ په چا قرض نه وي نو ځکه د سود اخستلو نوبت رانشي او اصل صورت د تجارت د کمپنۍ حلال وو نو په شك سره به د حرمت حکم نه وو او تفتیش په دې امورو کې واجب نه دی او نه تفتیش سره هر کس ته د دې د جزء

[1]-ددی سوال څخه مخکې کوم سوال دی دهغی عبارت هم داسې دی او په دسوال کې هم داعبارت اومضمون دی هغه حصی خرڅول شروع کړی ۱۲!

[2] ...په بعضو جملو کې په ظاهره تکراراً راغلی دی لیکن سیاق دوجی نه هغه یې راوړی دی!



وقوع یا عدم وقوع معلومیدی شي. دویم حالت دا دی چه کمپنۍ دا سود د غیر مسلم نه اخستلی وي نو په دې کې به د ربوا عن الحربي والا مسئله جاري کیږي د کوم مختلف فیه کیدل چه معلوم دي نو ځکه مبتلا ته به په کې څه تنګوالی نه وي او کوم سود چه کمپنۍ ورکړی دی په هغې کې د شریکانو د سود نه محتمل نه دی دا خو د پیش شوي تحریر جواب شو.اوس بعضې ځیزونه د دې متعلق د تحقیق قابل پاتې شول هغه هم عرض کوم یو دا چه بعضې شریك حصه دارن خپله حصه د نورو په لاس خرڅوي او ظاهره ده چه په دې کې د بد لینوا یدا بید تقابض نه کیږي صرف حساب کې د بائع نوم خارجیږي. بل بعضې وختونو کې اکثر د بدلینو قیمت برابر نه وي مثلاً د چا حصه د سلو روپو ده او د چا ۱۱۰ باندې خرڅیږي نو دلته تماثل او تساوي هم نشته دی نو د بل محذور خو جواب ظاهر دی ځکه چه بائع د دوه ځیزونو مالك دی یو خو د ډاګو او تارونو وغیره دویم د څه روپو کومې چه هلته داخلې دي نو هغه د ۱۱۰ روپو په عوض کې دي نو هغه غالبا او عادة د ۱۱۰ نه شو که یوه روپۍ هم کمه وي نو د مشتري ۱۱۰ روپو کې خو ۱۰۹ روپۍ د هغه عوض شوی او یوه روپۍ د هغه سامان تارونو وغیره شوه. پاتې شوه د تقابض مسئله نو په دې کې یوه حیله کیدی شي هغه دا چه مشتري بائع ته داسې ووائي چه ستا ځومره روپۍ چه په کمپنۍ کې دي زه د هغې په قیمت کې تاته دومره درکوم او ته د دغه قرض حواله په دغه کمپنۍ باندې وکړه چه د هغه نه ئې وصول کړه یا ئې په بل کار کې ولګوه او کوم قیمت کې چه د دې نه څه زیاتوالی دی د هغې په بدله کې ستا د حصې سامان د عروضو نه وړاندې اخلم د دې حیلې سره هغه محذور هم لرې فایده شو. البته یو سوال په پرې دی چه د هغه روپو اندازه خو معلومه نه ده د کوم په عوض کې چه دا قرض ورکو نو د مجهول قرض څنګه شو د دې خو مې نقل شوی حل نه دی کتلی لیکن قواعدو کې نظر او غور کولو سره معلومیږي چه هر جهالت مضر نه دی بلکه صرف هغه کوم چه مقضي الی النزاع وي او دلته دا احتمال نشته لهذا ګنجائش کیدی شي.دویم قابل تحقیق کار دا دی چه د حصه دارانو په ذمه د دې روپو زکات شته دی او که نه؟ نو د زکات وجود خو ظاهر دی لیکن په دې تفصیل سره چه کوم سامان د وړاندې نه نغد نه دی لکه ډاګې وغیره په هغې کې زکات نشته دی صرف نغدو باندې زکات دی د کوم چه دوه حصې دي یو حصه هغه چه دغه کس ته په نفع کې ملاو شوه دویم هغه چه کمپنۍ کې بچ کړی شوه د دې حساب د کمپنۍ د محاسبینو نه ډیر په اسانه معلومیدی شي.دریم کار دا چه آیا بجلي متقوم مال دی د کوم بیع وشراء چه کیږي د دې

دوه جوابونه دي يو هغه کوم چه تکرير فصل دويم نمبر ۳ کې راغي هلته دې وکتل شي. دويم دا چه دې ته بيع وشراء مجازا ويل کيږي او د دې حقيقت کرايه ده يعني د رڼا انتظام او اهتمام ووکړه د دې مزدوري به درته ملاويږي او ظاهره ده چه په دې اهتمام کې مشقت هم ضروري دی. بلب لګول، تار راوستل او پابند سره رڼا رسول وغيره وغيره. پاتې شوه دا شبهه چه اجاره خو صرف منافع باندې وي او دلته يوه ماده هم مصرفيږي کوم چه عين دی اګر چه لطيف دی نو د دې جواب دا دی چه بې شکه کرايه په څو چنده منافع باندې وي مګر تعامل د وجې نه په بعضو صورتونو کې د منافع سره عين هم د معقود عليه جزء وي لکه د رنګساز رنګ دې تاويل سره د دې اجازت کيدی شي، فقط.

## تکرير الفصل الثاني

"بعبارة اخرى استكتبة من بعض اعزتى اورد فيه من الروايات الكثيرة التى لم تكن فى جوابى".

علماء په دې لاندې صورت کې څه فرمائي چه:

۱_ د کمپنۍ د قانون موافق ۱۰ يا د لسو نه زيات کسان څه روپۍ د خپل طرف نه ورکوي او د کمپنۍ نوم تجويز کوي او د کمپنۍ اغراض او مقاصد ليکي او په دغه نوم او مقصد لپاره رئې رجسټري کوي. د رجسټر کولو په وخت د هغوئ دا اختيار دی چه د څومره روپو لپاره وغواړي هغه رجسټري کړي او کوم سامان به چه جوړوي، خرڅوي هغه ټول وليکي. فرض کړئ چه ۱۰۰۰۰۰ روپۍ سرمايه دپاره دوه نور د بجلي څيزونو لپاره رجسټر کړې شول په دغه وخت کې لږ شان روپۍ کافي دي په کوم چه د کار کولو سرټيفيکيټ ملاو شي او هغه کسان چه روپۍ ئې ورکړي او رجسټري ئې کړې ده کمپنۍ ته ترقي ورکونکي وائي اوس دا خلك د يو يو ملك روپو زر حصې جوړوي او هغه خرڅول شروع کوي. دا دي د نن سبا د کمپنيانو هيئت.

د دې متعلق سوال دا دی چه کوم کسان د کمپنۍ حصې اخلي شرعا د هغوئ د دې خريدارئ څه حقيقت دی؟ دا خبره هم د غور قابل ده چه د کمپنۍ قائميدو نه بعد چه کوم خلك د دې حصې اخلي هغه په اعيان او نقود دواړو کې شريك وي يعنې کمپنۍ کې چه دې وخت کې کوم سامان د تجارت د مال د قسم نه او د هغې لپاره چه څومره وي هر خريدار په هغې کې هم شريك دی او کومه نغده سرمايه چه کمپنۍ سره ده په هغې کې هم شريك دی غرض دا چه دا شرکت په اعيان کې هم دی او په نقودو کې هم دا صورت شرعا جائز دی او که نه؟



۲_ کله چه د کمپنۍ مقرره حصې خرڅې شي نو د آئنده لپاره د حصې خرڅول بندوي نو که بيا څوك کمپنۍ کې داخليدل وغواړي نو هغوئ د هغه مخکني حصه دار نه شيز اخلي دا بيعه او شراء صحيح ده او که نه؟ ځکه چه دې وخت کې ټوله معامله زياتي او خط او کتاب سره کيږي د طرفينو تقابض سره نه کيږي او چونکه دا شرکت په نغدو کې هم دی او اعيان کې هم نو په نغدو کې هم د کمي او زياتي احتمال دی.

۳_ يوه کمپني د حکومت نه بجلي اخلي او په بل چا ئې خرڅوي دا اخستل او خرڅول صحيح دي او که نه؟ او په دې کمپنۍ کې شرکت جائز دی او که نه؟ کمپنۍ چه په چا بجلي خرڅوي د هغوئ په کور کې يوه آله لګوي په کوم سره چه معلوميږي چه هغه څومره بجلي خرچ کړې ده؟

۴_ عموما ټولې کمپنۍ سود اخلي او ورکوي ئې هم په دې طريقې سره د هر شريك په حصه کې سودي روپۍ راځي نو شريك له د کمپنۍ نه د خپلې حصې منافع اخستل په کوم کې چه سودي روپۍ هم شايد مخلوط وي جائزې دي او که نه؟

۵_ کمپنۍ هر حصه دار ته پوره منافع نه ورکوي بکله د هر حصه دار روپو نه څه ذخيره کوي کومه منافع چه حصه دار ته ملاو شوه په هغې کې زکات شته دی او که نه؟ او کومې روپۍ چه جمع شوې په هغې زکات شته او که نه؟

## الجواب والله الموفق للحق والصواب

۱_ په ظاهره کې د دې عقد حقيقت دا شرکت عنان دی ځکه چه کوم خلك چه کمپنۍ جوړوي هغه د نورو د شريکولو په وخت پخپله هم د کمپنۍ يوه حصه وي او خپل مملوکه عمارتونه کې استعمالوي مثلا هغه خلکو ۱۰۰۰۰ روپۍ کمپنۍ قائمولو سره د عمارت سامان وغيره ښکاره کوي البته په دې صورت کې کمپنۍ قائمولو د طرف نه به شرکت بالنفقة نه وي کله بالعروض به وي نو د بعضې ائمه و په نزد دا صورت جائز دی. "فيجواز الشركة والمضاربة بالعروض بجعل قيمتها وقت العقد راس المال عند احمد فى رواية وهو قول مالك وابن ابى ليلى كما ذكره الموفق فى المغنى". (ص۱۲۵، ج۵). نو د ابتلائې عام د وجې نه په دې مسئله کې د نورو ائمه و په قول فتوی ده چه د مذکوره شرکت په جواز فتوی ورکړې شي.

۲_ "قال فى الدر بيع البراءات التى يكتبها الديوان على العمال ولا يصح بخلاف بيع خطوط الايمة لان مال الوقف قايم ثمة (اى فى بيع خطوط الايمة) ولا كذلك هذا اشباه وقنية ومفاده انه يجوز للمستحق بيع خبزه قبل قبضه من المشرف (اى المباشر الذى يتولى قبض الخبز) بخلاف الجندى اه مع الشامية (ص۱ ج۲). وحاصله جواز

بیع الحقوق الموجودة قبل القبض دون المعدومة. نو دا صورت هم د بیع حظوظ مشابه دی ځکه چه کوم حصه دار خپله حصه خرڅول غواړی هغه د معدوم یا غیر مملوك بیعه نه کوي.

"وفی الاشباه بیع البراءات التی یکتبها الدیوان علی العمال لا یصح (وسمیت براءة لانه یبرء بدفع ما فیها شامی) فاورد ان ایمة بخارا جوزوا بیع خظوظ الایمة ففرق بینهما بان مال الوقف قایمة ثمة ولا کذلك ههنا کذا فی القنیة الخ ص ۱۹۹ ولم یتعقبه الحموی بشیی فلا یضرنا ما تعقبه به فی النهر کما فی الشامیة (ص ۱۹ ج ۴) لا سیما وفتوی ایمة بخارا موید ة بالاثر فقد اخرج البیهقی فی باب بیع الارزاق التی یخرجها السلطان قبل قبضها" من طریق سفیان عن معمر عن الزهری عن ابن عمر وزید ابن ثابت انهما کانا لا یریان ببیع الرزق باس اه (ص ۳۱۴ ج ۵). او ظاهره ده چه په تپوس شوي صورت کې یو شریك خپله حصه چه د بل په لاس خرڅوي دا د ائمه و په نزد د بیع حظوظ مشابه دی نه د بیع او براءت، والله تعالی اعلم.

او دا ضرور ده چه بائع حصه څومره چه نغدو روپو باندې حصه اخلي په کمپنۍ کې د هغې نغدې روپۍ د ذې اندازې نه کمې وي او اکثرا داسې کیږي ځکه چه د خریدارانو د روپو زیات مال د تجارت حصه لګیږي او د عروضو په صورت کې منتقلیږي نغدې کمې وي.

۳_ په ظاهره کې دا بیع او شراء صرف د رڼا نه ده بلکه دا داسې ده لکه د چا په بوتل کې چه تیل واچول شي او د بجلي په نظر کې راتلل د هغې د جواهرنه کیدو له مستلزم نه دي ځکه چه بعضې جواهر غیر مرئي هم دي لکه څنګه چه وشول البته د بیع لپاره مبیع مقدور التسلیم کیدل ضروري دي نو هر شي باندې قبضه او د تسلیمولو قدرت د هغې مناسب وي د بجلي کرنټ او میټر وغیره چه د اخستونکي کور ته ځي دا د هغې مناسب قبضه او تسلیم دی او آلې سره د دې خبرې اندازه لګول چه دې کس څومره بجلي خرچ کړې د هغې د وجود او جوهر موجودیدو دلیل دی نو دا داسې ده لکه د چا تکیه یا موټر او سائیکل کې ټیر کې هوا واچول شي او مزدوري واخستل شي. "والبیع مبادلة مال بمال والمال ما هو مرغوب فیه ولا یخفی کون البرق والهواء مما یغرب فیه فکل منهما بعد القدرة علیه والقبض مال کالماء فی القربة، والله تعالی اعلم".

۴_ "قال الموفق فی المغنی اذا اشتری الوکیل لموکله شیئا باذنه انتقل الملك من البایع الی الموکل ولم یدخل فی ملك الوکیل وبهذا قال الشافعی وقال ابوحنیفة یدخل فی ملك الوکیل ثم ینتقل الی الموکل لان حقوق العقد تتعلق بالوکیل بدلیل انه لو اشتراه باکثر من ثمنه دخل فی ملکه ولم ینتقل الی الموکل، ویتفرع عن هذا ان المسلم لو وکل ذمیا فی شراء خمر او خنزیر فاشتراه له لم یصح الشراء وقال ابوحنیفة یصح ویقع للذمی لان الخمر مال لهم لانهم یتمولونها ویتبایعونها فصح توکیلهم فیها کسایر اموالهم اه (ص ۲۴۳ ج ۵) وفیه ایضا ولیس للمضارب ان یشتری خمرا او خنزیر سواء کانا مسلمین او کان احدهما مسلما والاخر ذمیا ضح شرایه للخمر وبیعه ایاها لان الملك عنده ینتقل الی الوکیل اه (ص ۱۶۲ ج ).



"وفی المبسوط یکره للمسلم ان یدفع الی النصرانی مالا مضاربة وهو جایز فی القضاء (ص ۲۵ ج ۲۲) وفیه ایضا وابو حنیفة یقول الذی ولی الصفقة هو الوکیل والخمر مال متقوم فی حقه یملك ان یشتریها لنفسه فیملك ان یشتریها لغیره وهذا لان الممتنع ههنا بسبب الاسلام هو العقد علی الخمر لا الملك فالمسلم من اهل ان یملك الخمر الا تری انه لو تخمر عصیر المسلم یبقی ملکا له (ثم اذا تخلل جازله بیعه واکله) اذا مات قریبه عن خمر یملکها بالارث فان اعتبرنا جانب العقد فالعاقد من اهله وهو فی حقوق العقد کالعاقد لنفسه وان اعتبرنا جانب الملك فالمسلم من اهل ملك الخمر فیصح التوکیل اه (ص ۲۲ ج ۱۲) فان قیل ذکر فی الهندیة فی باب المضاربة بین اهل الاسلام واهل الکفر اذا دفع المسلم الی النصرانی مالا مضاربة بالنصف فهو جایز الا انه مکروه فان اتجر فی الخمر والخنزیر فربح جاز علی المضاربة فی قول ابی حنیفة وینبغی للمسلم ان یتصدق بحصته من الربح وعندهما یجوز علی المضاربة وان اربی فاشتری درهمین بدرهم کان البیع فاسدا ولکن لا یصیر ضامنا لمال المضاربة والربح بینهما علی الشرط اه (ص ۳۰۲ ج ۵) قلنا قوله ینبغی للمسلم ان یتصدق بحصته محمول علی الورع کما هو ظاهر وان حمل علی الوجوب فهو اذا کان قد اتجر فی الخمر والخنزیر ولم یتجر فی غیرهما والا فمحمله ما سیجی فی الخلوط وقوله فی صورة ارباء الوکیل کان البیع فاسدا لا یضرنا فان الوکیل بالبیع کالعاقد لنفسه وفساد البیع فی حق الذمی لا یستلزم حرمة الربح علی المسلم فان تبدل الملك یدفع خبث الفساد واما علی قول من جواز الربا بین المسلم والکافر فی دار الحرب فالامر اوسع". نو په تپوس شوي صورت کې به مال مستفاد کې حرمت نشته که د کمپنۍ والا کافر وي البته د کافرو کمپنو کې پخپله شرکت کول مکروه دي لکه څنګه چه د مبسوط د قول نه معلومه شوه که د مسلمانانو کمپنۍ هم سودي لین دین کوي لکه څنګه چه غالبه همدا ده نو د کفارو په کمپنۍ کې شرکت د مسلمانانو د کمپنۍ شرکت نه اهون دي.

"ولنذکر بعد ذلك حکم المال المختلط بالحرام والحلال "قال قاضی خان ان کان غالب مال المهدی من الحلال لا باس بان یقبل الهدیة ویاکل مالم یتبین عنده انه حرام لان اموال الناس لا تخلو عن قلیل حرام فیعتبر الغالب واذا مات عامل من عمال السلطان واوصی ان یعطی الحنطه للفقراء قالوا ان کان ما اخذه من اموال الناس مختلطا بماله لا باس به وان کان غیر مختلط لا یجوز للفقراء ان یاخذوه اذا علموا انه مال الغیر وان لم یعلم الاخذ انه من ماله او مال غیره فهو حلال حتی یتبین انه حرام وفیه ایضا ان کان للسلطان مال ورثه عن اباءاه یجوز اخذ جایزته فقیل له لو ان فقیرا یاخذ جایزة السلطان مع علمه ان السلطان یاخذها غصبا ایحل له ذلك قال ان کان السلطان خلط الدراهم بعضها ببعض فانه لا باس به وان وضع عین الغصب من غیر خلط لم یجز اخذه قال الفقیه ابو اللیث هذا الجواب یستقیم علی قول ابی حنیفة لان عنده اذا غصب الدراهم من قوم وخلطه بعضها ببعض یملکها الغاصب اما علی قولهما لا یملکها ویکون علی مالك صاحبها اه ملخصا (ص ۳۶۳_۳۶۴ ج ۴) فاذا خلط الوکیل دراهم الربو بعضها ببعض الدراهم التی اخذها من حلال یجوز اخذ الربح منها لکون الخلط مستهلکا عند الامام لا سیما اذا کان الوکیل کافرا، لا سیما والتقسیم مطهر عندنا کما اذا بال البقر فی الحنطة وقت الدیاسة فاقتسمها الملاك حل لکل واحد اکلها مع التیقن

بکون الحنطة مختلطة بالطاهر والنجس ولکن القسمة اورثت احتمالا فی حصة کل واحد من الشرکاء فحکمنا بطهارة نصیب کل واحد منهم فکذا ههنا اذا اربی الوکیل بالتجارة وخلط الدراه بعضها ببعض ثم قسمها علی الشرکاء یحکم بحل نصیب کل واحد منهم والله تعالی اعلم. واخرج البیهقی فی سننه فی باب کراهیة مبایعة من اکثر ماله من الربا وثمن المحرم من طریق شعبة عن مزاحم عن ربیع بن عبدالله ان سمع رجلا سال ابن عمران لی جارا یاکل الربا اوقال خبیث الکسب وربما دعانی لطعامه افاجیبه قال نعم، ومن طریق مسعر عن جواب التیمی عن الحارث بن سوید قال جاء رجل الی عبدالله یعنی ابن مسعود قال ان لی جارا ولا اعلم له شیأ الا خبیثا اوحراما وانه یدعونی فاحرج ان اتیه واتحرج ان لا اتیه فقال ایته اواجبه فانما وزره علیه قال البیهقی جواب التیمی غیر قوی وهذا اذا لم یعلم ان الذی قدم الیه حرام فاذا علم حراما لم یاکله اه (ص۳۳۵ ج۵) قلت جواب التیمی وثقه بن حبان ویعقوب بن سفیان کما فی التهذیب (ص۱۲۱، ۱۲۲ ج۲).

۵۔ د تجارت په مال باندې زکات واجب دی کله چه د نصاب په اندازه وي او بجلي هم مال دی لکه څنګه چه ذکر شو نو په دې کې هم د تجارت په وخت کې زکات واجب بدی او کومې نغدې چې جمع شي هغې کې هم زکات دی کله چه د نصاب په اندازه وي او کال پرې شوی وي او کومې روپۍ ه منافع کې راځي چه هغې کې زکات شته کله چه د تجارت د مال او د منافع مجموعه د نصاب که اندازه وي یا د خریدار سره د وړاندې نه سره یا سپین زر د نصاب په اندازه موجود وي او د کال په مینځ کې ورسره دا هم ملاو شي نو په ټولو باندې د کال په آخر کې زکات واجب وي، ولعل هذا ظهر والله تعالی اعلم. حرره الاحقر ظفر احمد عفاالله عنه ۵ شوال ۱۳۵۵ھ.

### تتمه من المجیب

"علی ما ذکرنا من احکام الخلط قاعدة اذا اجتمع الحلال والحرام غلب الحرام ولکن صرح فی الاشباه بانه خرجت عن هذه القاعدة مسایل عشرة الاولٰی من احد ابویه کتابی والآخر مجوسی فانه یحل نکاح وذبیحته ویجعل کتابیا وهی یقتضی ان یجعل مجوسیا وبه قال الشافعی ولکن اصحابنا ترکوا ذلك نظر اللصغیر فان المجوسی شر من الکتابی فلا یجعل الولد تابعا له (بل یتبع خیر الابوین) والثانیة الاجتهاد فی الاوانی اذا کان بعضها طاهر او بعضها نجس والاقل نجس فالتحری جایز. الثالثة الاجتهاد فی ثیاب مختلطة بعضها نجس وبعضها طاهر جایز سواء کان الاکثر نجسا اولا والفرق انه لاخلف لستر العورة وللوضوء خلف وهو التیمم. والرابعة لوسقی شاة خمرا ثم ذبحها من ساعته فانها تحل بلا کراهته ومقتضی القاعدة التحریم وکذا لو علفها علفا حراما لم یحرم لبنها ولحمها (للاستهلاك). الخامسة ان یکون الحرام مستهلکا فلو اکل المحرم شیأ قد استهلك فیه المطیب فلا فدیة (قلت ویدخل فیه مسیلة الخلط ایضا فانه استهلاك عند الامام ولکنه ذکرها علحدة ایضا فقال. الثامنة اذا کان غالب مال المهدی حلالا فلا باس بقبول هدیته واکل ماله مالم انه یتبین انه (ای المهدی اسم مفعول) من حرام وان کان غالبه ماله الحرام لا



یقبلها ولا یاکل الا اذا قال انه حلال ورثه او استقرضه وعن الامام ان المبتلی بطعام السلطان والظلمة یتحری فان وقع فی قلبه حله قبل واکل والا لا لقوله علیه الصلوة والسلام استفت قلبك الحدیث العاشرة قال فی القنیة من الکراهة غلب علی ظنه ان اکثر بیاعات اهل السوق لا تخلوا عن الفساد فان کان الغالب وهو الحرام تنزه عن شراءه ولکن مع هذا لو اشتراه یطیب له اه قال الحموی ووجهه ان کون الغالب فی السوق الحرام لا یستلزم کون المشتری حراما لجواز کونه من الحلال المغلوب والاصل الحل اه (ص۹۔۹۳) فلما ثبت خروج هذه المسایل عن القاعدة فلا اشکال والله اعلم". "یقول اشرف علی ان هذا التوسع کله فی امثال هذه المعاملات لمن ابتلی بها او اضطر الیها واما غیره فالتوقی الورع فقط المنتصف". شوال ۱۳۵۵ھ.

## دریم فصل

په دې کې د یوې کمپنۍ خالص مسلمانانو کمپنۍ قواعد او احکام دي.

### ضروري قواعد

دا د کمپنۍ قواعد دمنیجنګ ډائریکټر د تحریر نه معلومیږي او هغوئ د دې قصد ظاهر کړائ دی چه د کمپنۍ قواعد کوم چه په انګریزئ کې دي او د کوم چه صرف یوه نسخه پاتې شوې ده هغه ترجمه او شائع کړی شي هغې ته په کتلو سره که ضرورت وو نو دا فصل به اضافه کړی شي کوم قواعد چه تراوسه معلوم شوي هغه نقل کیږي:

۱۔ منیجنګ ډائریکټر دا پوره اختیار لري چه د کمپنۍ د مفاد لپاره چه کوم کارونه ضروري دي هغه په عمل کې راولي په هغې کې دا هم شامله ده چه هغه روپۍ مناسب طور او نفع لپاره ووائي او د کمپنۍ د طرف نه لین دین وکړي (بغیر د سود نه).

۲۔ د کمپنۍ ټولې روپۍ د ضرورت موافق بینك کې کیښودل ضروري دي ترڅو آسانئ سره بل ځاي ته روپۍ ولیږل شي.

۳۔ حسابات به په کال کې یو ځل کیږي او منافع به فی صدي کومه چه ډائریکټرانو معلومه کړې وي په ټولو حصه دارنو تقسیم کړی شي.

۴۔ زکات به د کال په ختمیدو چه اپریل کې به پوره کیږي انشاء الله ادا کیږي.

۵۔ که کوم حصه دار خپلې روپۍ وصولول وغواړي نو د هغې صورت دا دی چه بل د همدې په اندازه حصه دار تلاش کړی شي بیا کمپنۍ د نوې حصه دار نه روپۍ وصول کړي او زوړ حصه دار ته ئې ادا کړي. د خریدار تلاش او د رجسټرونو صحیح کول وغیره د معاوضې که فیصدي اخستلې او باقي روپۍ اول حصه دار ته ادا کیدی شي او دا تبادله به هغه وخت هم

نه کیږي ترڅو چه د ډائریکټرانو رضامندي نه وي. د ډائریکټرانو د اجازت نه بعد د هرې حصې تبدیلي باندې صرف یوه روپۍ فیس عائد کیږي.

(احکام مبینه بر قواعد مذکوره نمبروار):

د دې امورو او تصرفاتو د جواز او عدم جواز موافق به احکام جاري کیږي او دا ظاهره ده چه کوم خلك به وروستو شریکیږي د هغو په شراکت کې به یو بدل عروض وي نو د دې تحقیق خو په تکریر فصل ثاني کې تیر شوی دی او بغیر د سود نه به دا کمپني د نورو په نسبت اقرب الی الخیر وي.

۲_ د بینك په معاملاتو کې د علماو اختلاف مشهور دا او په دویم فصل کې مذکور.

۳_ که د نفع اندازه معینه وي نو هغه به سود وي اوس په دې کې هیڅ شك نشته.

۴_ بغیر د قید نه دا معمول جائز نه دی البته که په دې تفصیل سره قاعده مقرره کړی شي نو جائزه ده چه د نابالغ د حصې د زکات خو هیڅ اجازت هم جائز نه دی او مبالغینو کې چه د چا حصه د نصاب نه کمه وي یا حصه دار دومره مقروض وي چه د قرض ختمولو نه بعد هغه حصه د نصاب نه کمه، پاتې شي نو د هغې زکات د هغه په اجازت سره جائز دی لیکن چونکه د دغه خلکو په ذمه واجب نه دي لهذا دوي نه د دغې عدم وجوب اطلاع ورکول پکار دي بیا د اجازت نه ورکولو او کولو اختیار هغوئ لري یا که د چا په ذمه واجب هم وي مګر کمپنۍ ته ئې د ادا کولو اجازت نه ورکوي نو د هغه د حصې نه هم ورکول جائز نه دي چونکه په دې تفصیل عمل کول ډیر سخت دي نو د دې کل زکات ویستل مناسب دي په دې کې یوه بله خبره دا هم ده هغه دا چه قمري کال سره زکات واجبیږي او په دې دواړو حسابونو کې یو کال کې تقریبا لس ورځې فرق راځي نو په ۳۶ کلونو کې د یو کال فرق راغلو نو که شمس حساب سره ئې ورکوي نو په ۳۶ کلونو کې به د یو کال زکات په هغه واجب پاتې شي او دا به خپل ځان بري ګڼي.

۵_ د دې مبادلې احکام او تصحیح طریقه په دویم فصل کې تفصیل سره تیره شوه او په دې صورت کې چه د رجسټرونو د درستوالي څه معاوضه مثلا في صدي یوه روپۍ یا زیات واخستل شي نو هغه اجرت دی د دفتر والا په دې کې څه حرج نشته او د احقر په نزد د مني آرډر فیس هم دی توجیه سره جائز کیدی شي. هذا ما حضر هذا الحین وفي کل امر به نستعین.



## د دریم فصل ضمیمه د زکات متعلق

دلته چه د زکات متعلق کله جواب لاړو نو د کمپنۍ ډائریکټر خط راغلو چه واقعي زما ناقص نظر په دې امورو باندې نه وو د کوم متعلق چه تاسو وفرمایل مګر اوس راته بعضې شبهات پیدا شول کوم چه تاسو ته عرض کوم ترڅو د هغې ازاله وشي دې وخت پورې چه مې کومې ۱۲ یا ۱۳۰۰۰ روپۍ په کمپنۍ کې لګولي دي هغه تراوسه یونیم چند شوې دي مګر چونکه فرنچر، الماریٔ، او نور شیان چه د تجارت دي کال پرې تیردونکی دی نو که د هغې زکات ونه ویستل شي نو کوم کس چه د یوې روپۍ حصې اخستلی دي او هغه مقروض هم نه دی او د نصاب خاوند هم دی د هغې مشترکه حصه چه د تجارت د مال په صورت کې یو نیم چند شوې دي هغه زکات څرنګه ادا کړي که په دې کمپنۍ کې په خپله ذمه زکات ادا کول لازم کړي نو د ټول تجارتي مال زکات به ادا شي. مګر واقعي په دغه صورت کې لکه څنګه چه تاسو فرمایلي دي د هغه کسانو نه به هم زکات ادا شي د چا په ذمه چه واجب نه دي او کوم صورت چه تاسو ولیکئ انشاءالله په همدغې به عمل کیږي.

د دې جواب داسې لاړو: تخمینا به ادا کیږي او حصه دارانو له خو ئې تخمینا ادا کول سخت دي. آسان صورت همدا دی چه کله د کال په ختمیدو باندې په حصه دارانو د منافع روپۍ تقسیم کړی شي. دې سره تاسو تخمینا حساب وکړي نو نورو ته هم اطلاع وکړئ او مسئله ورته وښایئ چه ستاسو په ذمه د دې زکات واجب دی د علماو نه دې تپوس وشي او ادا دې کړی شي بیا هغوئ له د خپل واجب ادا کولو او نه ادا کولو اختیار نشته دی.

"مسیلتان زید تا وقت النظر الثانی الاولی منی والثانی من المولوی محمد شفیع الدیوبندی فی جواب سوالی بعد عدة اشهر فالاولی فی الدروسببه (ای وجوب الزکوة ملك نصاب حولی الخ فی) رد المختار فلا زکوة فی سوایم الوقف والخیل المسبلة لعدم الملك الخ قلت وکذا فی دراهم الوقف لاشتراك العلة وقلت ایضا ودلیل المسیلة من الحدیث قوله علیه السلام لما اخبر بمنع خالد الزکوة اما خالد فانکم تظلمون خالدا قد احتبس ادراعه واعتده فی سبیل الله الحدیث للشیخین وابی داود والنسائی عن ابی هریرة کذا فی جمع الفوائد بیان وجوب الزکوة واثمه تا ... والثانیة فی صورة السوال والجواب". (النور ص ۱۰، شوال ۱۳۵۹ھ)

سوال :(۵۲۳) د یو ضروري سوال حل پکار دی د کوم منشا چه صرف یو څو فقهي فروع دي اول هغه فروع لیکم او بیا به سوال لیکم او چونکه هغه فروع صرف د یادو لیکلی شوي دي نو د هغې د صحیح یا غلط کیدو تحقیق هم مقصود دی هغه فروع دا دي:

۱_ د درهمو او دینارو وقف کول د متاخرینو په قول صحیح دي په دې صورت چه اصل سرمایه د اندازې په اعتبار سره محفوظه وي او هغه د تجارت په ذریعې سره زیاتې کړې شي او د منافع مصارف دې وقف باندې مصرف کړی شي.

۲_ واقف له د وقف د منافع نه تر ژوند پورې د خپل ځان لپاره شرط ګرځول جائز دي نورد وقف صحیح کیدو لپاره ئې د شروطو په خیال کې ساتل ضروري دي.

۳_ په وقف کې زکات واجب نه دی ځکه چه د دې د وجوب لپاره په دلیل سره ملکیت محل شرط دی او د هغه علت مقتضا دا ده چه په موقوفه دراهمو او د هغې په ګټه کې زکات واجب نه وي دا مقتضا مو د کلیاتو نه لیکلې ده.

اوس سوال دا دی چه که دراهم موقوفه بشرط انتفاع النفس په آمدن باندې که ئې په خپل خرچ کې راوړلو لپاره قبضه وکړه نو هغه به دې نیت سره قبضه کولو سره په هغه روپۍ د هغه په ملکیت کې داخلې شي او که نه صرف د اباحت په طور به ترې انتفاع جائزه وي. په دویم صورت کې به دا سوالونه متوجې شي چه که د استهلاك نه وړاندې په دې باندې کال تیر شو نو په هغې زکات کیدل پکار دي او که وقف کونکی مړ شو نو په هغې کې میراث جاري کیدل نه دي پکار نو آیا په دې صورت کې به واقف باندې واجب وي چه د هغې متعلق وصیت وکړی شي او په دې حالت کې به آیا د هغه مصرف د وقف مصارف مقصود وي او که هغه ئې په نور مال کې ګډوډ کړو نو آیا د هغې تاوان به واجب وي او په اول صورت یعنې تملك کې خو به دا سوالونه متوجې نه وي لیکن یو علمي اشکال به وي چه کله د وقف منافع هم وقف دي د کوم د لوازمو نه چه عدم تملك دی دا لازم به د هغه نه ځنګه منفك شي، بینوا توجروا؟

## بسم الله الرحمن الرحیم

جواب: په سوال کې چه کوم فروغ دي او د فقهاو په کلام کې مصرح دی په عالمګیري فروع کتاب الوقف دویم ص۲۰۲ کې او درمختار او شامي کې په تصریح سره موجود دي.

فروع۲ هم عالمګیري، شامي، درمختار او نورو په متونو او شروحو کې تصریح موجود دي.

فروع۳ متعلق د شامي تصریح ددرمختار قول سببه ملك نصاب لاندې په دې الفاظو موجود دي.

"فلا زکوة فی سوایم الوقف والخیل المسبلة لعدم الملك" (شامي ص۵ ج۲).

اوس د سوال جواب په دوه مقدمو باندې موقوف دی اول دا چه د وقف منافع وقف نه وي (لکه ځنګه چه د سوال په آخر کې ویل شوي دي) بلکه واجب التصدق والانفاق في مصارفه وي.



دویم دا چه کومو کسانو ته د وقف د منافعو نه حصه ورکول کیږي هغه د تملیك په طور وي د اباحت نه (او که واقف د دې تصریح وکړي چه د اباحت په طور دې خرچ کړی شي) نو دا جدا خبره ده چه د دې پابندي به د واقف د شرائطو په اتباع سره صحیح شي نه چه د اصل وقف په اعتبار سره، د دویمې مقدمې عبارت دا دي:

۱_ "فی الدر المختار فی تعریف الوقف هو لغة الحبس وشرعا حبس العین علی حکم ملك الواقف والتصدق بالمنفعة ولو فی الجملة (الی قوله) عنده وعندهما هو حبسها علی حکم ملك الله تعالی وصرف منفعتها علی من احب اه قال الشامی فی قوله فی الجملة فیدخل فیه الوقف علی نفسه ثم علی الفقراء وکذا الوقف علی الاغنیاء ثم الفقراء (شامي ص۴۹۴ ج۳) ومثله في العالمګیریه (ص۲۰۲ ج۲).

۲_ والصدقة کالهبة بجامع التبرع وحینئذ لا تصح غیر مقبوضة ولا فی مشاع یقسم (در مختار مع شامي ص۷۱۸ ج۴).

۳_ وفی البدایع مستدلا علی وجب التملیك فی الصدقات ما نصه ولا یتاء هو التملیك ولذا سمی الله تعالی الزکوة صدقة بقوله عزوجل انما الصدقات للفقراء والتصدق التملیك (بدائع ص۰ ج۲). په مذکوره عبارتونو کې وقف صدقه ګرځولی شوې ده او په دویم عبارت کې صدقه د هبې په شان کیدل په تصریح سره موجوده ده او د هبې د موهوب له ملك تام کیدل معلوم او معروف دي او دریم عبارت د عیان التصدق د عین تملیك کیدل په صراحت سره مذکور دي د دې د مجموعې نه ثابته شوه چه د وقف منافع چه کومو خلکو ته د صدقې په طور ورکول کیږي هغه د تملیك په طور دي د اباحت نه او اغنیاء یا واقف ته پخپله چه کومه حصه ورکول کیږي هغه اګرچه حقیقة صدقه نه ده بلکه هبه ده مګر هغه هم د تصدق لفظ سره تعبیر کړی شوې ده.

"کما فی تنقیح الحامدیة التصدق علی الغنی هبة وان ذکر لفظ الصدقة وعلی الفقیر صدقة وان ذکر لفظ الهبة (تنقیح الفتاوی الحامدیة ص۷۹، ج۲). الغرض که صدقه وي او که هبه په دواړو باندې د موهوب له او متصدق علیه قبضه مالکانه وي د اباحت نه. والله اعلم. او د اولې مقدمې (یعنې د دې امر چه د وقف منافع نه وي) عبارتونه ئې لاندې دي.

۱_ مذکور سابقه ۱ عبارت په کوم کې چه د وقف منافع د اصل وقف خلاف صدقه ګرځول شوې ده.

۲_ متولی المسجد اذا اشتری من غلته دارا او حانوتا فهذه الدار وهذه الحانوت هل تلحق بالحوانیت الموقوفة علی المسجد ومعناه هل تصیر وقفا اختلف المشایخ فیه قال الصدر الشهید المختار انه لا تلتحق ولکن تصیر مستغلا للمسجد وهذا لان الشرایط اللتی یتعلق بها لذوم الوقف وصحته حتی لا یجوز فسخه ولا بیعه لم یوجد شیء من ذلك ههنا فلم یصر وقفا فیجوز بیعه؛ التاسع عشر من وقف الذخیرة (فتاوی انقرویة ص۲۲۱، ج۱).

د مذکوره عبارتونو نه معلومه شوه چه د وقف منافع وقف نه دي مګر که د هغو نه د وقف لپاره څه جائیداد هم واخستل شي نو هغه جائیداد هم وقف نه وي دا جدا خبره ده چه واقف دا تصریح کړې وي چه د وقف په کل یا جزء آمدن دې څه جائیداد واخستلی او د وقف سره یوځاي کړی شي نو د واقف د اتباع د شرائطو د وجې نه په هغه هم وقف شي کما یستفاد من القواعد والله اعلم.

اوس د جواب خلاصه دا ده چه د دراهم موقوفه علی نفسه چه کله پخپله واقف د شرائطو موافق په خپل مصرف کې راوړلو لپاره وکړه نو دا د ملکیت قبضه ده که دومره د نصاب په اندازه روپۍ جمع شوې نو دکان په تیریدو به پرې زکات واجب وي او د مالك د وفات نه وروستو به په کې میراث جاري کیږي او چونکه د وقف د منافعو نه وقف کیدل بلکه واجب التصدق د څرمنې د قیمت وغیره په شان کیدل د مذکوره عبارتونو نه مستفاد دي نو څکه دا شبهه پاتې نه شوه چه د وقف منافع په ملکیت کې څنګه داخل شو، والله سبحانه وتعالی اعلم. (النور ص۷ ذیقعده ۱۳۵۹ھ).

**ضمیمه ملتقطه از فتاوی عتیقه احقر موعوده خطبه رساله هذا یعني القصص السني**

## فصل رابع

**سوال**: (۵۲٤) (۱) د کپړې او مالوچو د کمپنیانو حصص اخستل جائز دي او که نه؟

(۲) د ټرام ریلوی حصص اخستل درست دي او که نه؟

(۳) مذکوره بالا کمپنۍ که د دوه زره روپو حصص اخستلې وي نو د هغې په آمدني باندې زکات ورکول واجب دي او که نه؟

(۴) په دار الحرب کې بعضې خلك په بچتي بینك کې پیسې ږدي او سالانه سود هم اخلي آیا د مسلمان دپاره دا جائز دي؟

جواب۱، ۲: که حصص صرف نغدې روپۍ وي نو بیا خو د دې دپاره برابر کیدل شرط دي او که په حصه کې د آلاتو حصه هم وي نو د دې شرط نه بغیر هم صحیح دي.

۳ـ زکات په اصل او نفع دواړو باندې ویستل واجب دي.

۴ـ دا د معصیت فعل دی. لیکن د دې نه چه کوم مال حاصلیږي هغه مباح کیدی شي او په دې مسئله کې اختلاف هم دی. (النور ص۱۰، ذیقعده ۱۳۵۹ھ).





**سوال**: (۵۲۵) د کانپور د میورملس نومې کمپنۍ منیجر د رواج شوې قاعدې موافق د یوې کمپنۍ اشتهار جوړ کړی دی او د هغې د تجویز شوي سرمایې موافق ۱۵ لکه روپۍ جمع شوې د کوم نه چه کاروبار شروع کړی شو او هر کال ئې نفع تقسیموله او لکه څرنګه چه عموما د کمپنیانو قاعده ده چه هر کال به د ګټې نه څه بچ کیدل او هغه به تقسیمول کیدل چه د اتفاقي حادثاتو په وخت په کار راشي چونکه په شریکانو کې کموالی او زیاتوالی نه شي کیدی نو د دې وجې نه که څه وساتل شي نو د شرعي قاعدې بالکل خلاف نه دي هر کال هغې د ګټې روپۍ بچ کیدلې تردې چه اصلي سرمایه یعنې ۱۵ لکه ته ورسیدلې منیجر دا وویل چه باید دا اوس د اصل سرمایې سره یوځاي کړی شي نو حصه دارانو ته ئې وویل چه یا خو خپله خپله ګټه واخلئ او یا ئې په اصل کې شامله کړئ نو په دې اندازه به اصل دوه چنده ګڼل کیږي لیکن د نفع تقسیمولو لپاره هغه دا شرط کړل چه که په نوې حصه باندې فائده څومره هم وشي نو د ۱۰۰ نه به زیات نه تقسیمیږي او کومه به چه د دې نه زیاته نفع وي هغه به په حصو تقسیمولی شي که فرض کړی شي چه په اصلي کې یو کس سل روپۍ ورکړې وي او اوس ئې د منافع روپۍ ورسره یو ځاي کړې او هغه د ۲۰۰ حصه وګڼل شوه نو که په کمپنۍ کې دومره ګټه وشوه چه که په هرو ۱۰۰ باندې ۶ تقسیمیدی شي نو هغه کس ته به ۱۲ ورکوي په اصل روپو باندې ۶ روپۍ او زیاتو باندې ۶. او که دومره نفع وشوه چه هرو ۱۰۰ باندې ۸ صحیح تقسیمیدی شي نو هغه به په اصل باندې اته آنې ورکوي او د فائدې روپو باندې ۸. لیکن که دومره نفع زیاته وي چه هرو ۱۰۰ باندې ۱۰ صحیح تقسیمیږي نو هغه به روپۍ په ۸ نفع باندې ورکړي او باقي ۲ اصل روپۍ به نفع ورکړي.

خلاصه دا چه د نفع په روپو کې د کموالي اندازه ګویا چه مقرره نه ده بلکه که نقصان وشي نو هم به اخستل کیږي لیکن په زیات کې د نفع اندازه مقرره ده چه د ۸ نه زیاته نفع کې د هغه حق نشته دی بلکه هغه ټول زیاتوالی به صرف د زړو روپو متعلق ګڼل کیږي نو د دې اشتهار مطابق اکثره خلکو خپلې روپۍ په دې کمپنۍ کې جمع کړې او بعضو واپس هم راغوښتلې نو په ۱۵ لکه کې څه باندې ۱۳ لکه شاملې کړی شوې او تقریبا یونیم لك روپۍ خلکو واپس کړې. اوس سوال دا دی چه دا معامله جائزه ده او که نه؟ او که یو کس د خپلو اصلي روپو حصو یا د ګټې روپو والا حصو سره خرڅ کړي نو دا اخستل جائز دي او که نه؟ او آیا د ۸ نه زیاتو نه تقسیمولو شرط کوم چه په دویم قسم حصو کې دی په دې سره شراکت

کې فساد راځي او که نه؟ په شراکت کې د فقهاو د تصریح مطابق کموالی او زیاتوالی کیدی شي لیکن ظاهره ده همغه شرط کیدل پکار دي په کوم کې چه مقدار تعین نه دی او دلته د ۸ آنې نه زیاتو ملاویدو معین شرط دی؟ او آیا فساد به راځي نو صرف دویم قسم حصو باندې او که اول قسم ته به ئې هم څه اثر رسیږي؟ د دې وجې نه چه کله په دویم قسم کې شرط فاسد شو نو په فاسده شرکت کې به نفع د راس المال مطابق تقسیمدلی پکار دي او دلته د اول قسم حصو مالکان اګر که فائده ئې زیاته وي د ۸ نه زیات ملاویدی شي. او حال دا چه د راس المال مطابق تقسیمیدل پکار دي نو ګویا چه د دویم قسم نفع کوم چه د هغوئ حق وو هغه د اول قسم مالکانو ته ځي نو ځکه هغه نفع اخستل به د زړې حصې مالکانو له جائز نه وي چه دواړو قسمونو ته په دې بنا جائز ووائي چه د دواړو قسمونو د حصو مجموعې نفع غیر متعین ده او د دواړو مالك یو کس دی نه چه جدا جدا. البته کوم چه صرف دویم قسم حصې د چا نه واخلي نو بیا به هغه له جائز نه وي یا دا چه صرف د اول قسم حصې څوك واخلي نو کله چه هغه ته د ۸ نه زیاته نفع ملاو شي بسبب تعلق حصص قسم نفع زائد په ۸ کې هغه زیاتې جائز شي. علی الخصوص هغه وخت چه د دواړو قسمونو حصې برابرې وي ځکه چه که په دغې وخت کې که کموالی یا زیاتوالی شوی وي نو د هغې نه هم هغه ته ملاویږي نه چه د بل راځی یقین کوم چه تاسو به په دې باندې توجه وکړئ او صحیح جواب به راولیږئ؟

**جواب**: ډیرې توجه سره دا سوال ولوستلو زما په نزد دا شرط د عقد مفسد نه دی ځکه چه د دویم قسم د نفع اندازه اکثر متعین ده مګر دې سره زیاتوالی د بل شریك لپاره شرط نه دی ګرځول شوی اګر که د کوم شریك د خاص فعل سره چه هغه خپله جزءي حصه په بل چا خرڅه کړې دا کار چه د یو د حق نفع بل ته ملاو شي لازمیږي لیکن په اصل عقد کې خو دا شرط نشته دی بلکه مجموعه منافع د دواړو قسمونو متعلق د لوي حصه دار حق دی. چه د دې جزء یو قسم ئې د دې متعلق وګرځولو او یو جزء د بل قسم متعلق. البته د نفع جواز د هغه لپاره دی چه د دواړو قسمونو حصو مالك وي یا د دواړو قسمونو مجموعه واخلي په دې شرط چه د دواړو قسمونو حصې برابرې وي او که کمې یا زیاتې وي نو د هغه مفاسد د وجې نه کوم چه په سوال کې ذکر دي په عقد کې به هم فساد راشي، والله اعلم. همداسې که یوه حصه د یو وي او د بل حصه بله نو دا هم جائزه نه ده. للزوم المفاسدة المذکورة في السوال والله اعلم ۶ ذی الحجه ۱۳۲۶ھ (تتمه اولی ص۱۹۳، حوادث ۲۰۱ ص۴۴).



## فصل سادس

**سوال** :(۵۲۶) نن صبا د بعضې انګریزي تجارتونو دا حال دی چه کاغذ خرڅول او په هغې باندې څلور ټکټونه لګیدلې وي کوم چه هغه کس په دغه قیمت مثلا یوه روپۍ په څلورو کسانو خرڅوي او د هغه کسانو نه روپۍ وصولوي او نوم او پته ئې کمپنۍ ته لیږي، د کمپنۍ والا یوه ګهړۍ هغه کس ته لیږي، او د دغه څلورو کسانو نومونه او همغه شان یو کاغذ رالیږي، په کوم کې چه همغه شان څلور ټکټونه وي، او همدغه شان ئې دغه څلور کسان هر یو په څلورو کسانو باندې خرڅوي، کله چه هغوئ روپۍ واخلي نو هغوئ هم دغه شان د کسانو پته لیږي، د کمپنۍ والا ورته یوه ګهړۍ رالیږي، او یو یو کاغذ همغه کسانو ته په چا باندې چه دا کاغذونه خرڅ شوي وي او بیا هغه خلك هم داسې کوي او دا عمل جاري وي او البته د چا ټکټ چه خرڅ نه شي هغه به نقصان کوي نو شرعاً دا بیعه جائزه ده او که نه؟ او شرعا داسې کول څنګه دي؟

**جواب**: د دې معاملې د حقیقت حاصل دا دی چه خرڅونکی د اول اخستونکي نه بلا واسطه او د نورو اخستونکو نه د اول اخستونکي په واسطه باندې یا د دویم او دریم باندې دا معاهده کوي چه تا چه څومره روپۍ رالیږلې دي که ته دومره خریداران پیدا کړې نو د هغې په بدل کې ما تا باندې ګهړۍ خرڅه کړه، کنه نو ستا روپۍ به مونږ ضبط کړو، نو په دې کې دواړه شرطونه فاسد او باطل دي، د نورو خریدارانو په پیدا کولو باندې هم خرڅول عقد فاسد د ربوا په حکم کې دی، او د تعلیق په وخت قمار دی، او سود او قمار دواړه حرام دي، همداسې دویم شرط یعنې د خریدار نه پیدا کولو په صورت کې د روپو ضبط کیدل هم صریح اکل بالباطل دی، او دا تاویل بالکل هم مقبول نه دی چه د روپو په بدل کې ټکټ ورکړی شوی دی ځکه چه ټکټ یقینا مبیع نه دی، کنه نو د ټکټ اخستلو نه وروستو به معامله ختمه شوې وی، د ټکټ خرڅولو حق به ګڼړی کله هم نه وه لکه څنګه چه په ټولو عقودو کې همداسې کیږي، نو صفا ظاهره ده چه دا مبیع نه بلکه د روپو رسید دی، او د دواړو شرطونو فاسدیدل او باطلیدل ثابت دي نو داسې معامله هم بالیقین حرامه او متضمن ربوا او قمار او اکل بالباطل دی، او یورنګه هم په دې کې د جواز ګنجائش نشته دی.

"قال الله تعالی احل الله البیع وحرم الربوا وقال الله تعالی انما الخمر والمیسر الی قوله رجس من عمل الشیطان الآیة، وقال تعالی ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل الآیة، وقال ﷺ کل شرط لیس فی کتاب

الله فهو باطل ونهى عليه السلام عن بيع وشرط وفي جميع الكتب الفقهيه صرحوا بعدم جواز بيع مشروط بما لا يقتضيه العقد ولا يلائمه وفيه نفع لاحدهما كما لا يخفى على من طالعها، والله اعلم. (النور ص۹، ذی الحجه ۱۳۵۹هـ).

## فصل سابع

**سوال**: (۵۲۷) دا مسئله د تپوس کولو لائق ده چه تاسو ته به معلومه وي چه په هندوستان کې اکثره کمپنیانې داسې دي چه د ځان او مال بیمه کوي، او طریقه ئې دا ده چه هغه د مشترك تجارت جماعتونه چه قائم دي هغه په منقوله او غیر منقوله مال باندې د کال یو کمیشن ورکوي، او که په کال کې هغه مال د اور د وجې نه خراب شي، نو په څومره مال ئې چه کمیشن ورکړی وي نو هغومره مال په یوځل مالك ته ورکوي، اکثره خلك د خپل جائیداد بیمه کوي، دا طریقه دومره رواج شوې ده چه غالباً تاسوهم ترې خبر یاست نو د تاسو نه تپوس کوم چه آیا داطریقه د بیمې شرعا جائز کیدی شي او که نه؟ تمثیلاً دا هم عرض کوم چه اکثره خلك لوټ وغیره د رجستر شوې لفافې په ذریعې سره په ډاګ لیږي، د کوم مقصد چه صرف د لوټ حفاظت وي، نو که بیمه کول ناجائز وي نو رجستري کول او لیږل به هم د شریعت خلاف وي، امید دی چه معاف مې کړئ؟

**جواب**: دا اشتهارې او تجارتي کمپنیانې چه مالك ته په خاصو صورتونو کې معاوضه ورکوي، صورةخو هغه عوض دی، د هغه تلف شوي مال مګر په واقع کې د هغه روپو عوض دی، چه میاشتې یا کال کې داخلیږي، ځکه چه د دوئ مقصود همدغه دی، کنه نو د مال ضائع کیدو سره هغوئ ته څه فائده حاصلیدی شي، نو په دې صورت سره خو دا قمار دی.

"لانه تعليق الملك على الخطر والمال ولمساوة في الجانبين فيما يجب فيه المساواة". او قمار او سود دواړه حرام دي، نو دا معامله یقینا چه حرامه ده، همداسې د ځان بیمه د رشوت هغه صورت دی. "لان المال فيه عوض من غير متقوم وهو النفس". او حقیقتاً سود دی، "لعين مامر في المال" پاتې شوه د ګانې وغیره بیمه کومه چه په ډاکخانه کې کیږي، د دې حقیقت جدا دی، او د ډاك عمله مزدوران دي، او بیمه د اجر او مزدورئ زیاتوالی دی، اود هغوئ دا ذمه واري د تاوان شرط کول ضما علی الاجیر دی، کوم ته چه بعضې فقهاو جائز ویلي دي، د مذکوره یمه کمپنیانو په خلاف چه په دې مال یا ځان کې کوم عمل نه کوي په دې کې دا تاویل منحمل نه دی. "في الدر المختار باب الوديعة واشتراط الضمان على الامين الخ وفي رد المحتار والنظر حاشية الفتال وقد يفرق بانه ههنا مستاجر على الحفظ قصداً بخلاف الاجير المشترك فانه مستاجر على العمل



تامل، وفي الدر المختار باب ضمان الاجير ولا يضمن ما هلك في يده الى قوله خلافا للاشباه وفي رد المختار اى من انه ان شرط ضمانه ضمن اجماعا وهو منقول عن الخلاصة وعزاه ابن الملك للجامع قلت وفي هذا العقد الذى يقال له بيمة يستاجر بالزيادة علاً الحفظ قصدا فكان اولى بالجواز من الاجير المشترك يضمن على العمل، والله اعلم. ۱۵ رمضان المبارك ۱۳۲۲هـ (النور، ص۱۰، ذی الحجه ۱۳۵۹هـ).

## اتم فصل

**سوال**: (۵۲۸) زید د یو میل کمپنئ حصې واخستلې یوه ئې په ۷۰۰ واخستله اوس نن هغه په ۴۰۰ خرڅیږي اصل حصه د ۱۰۰ روپو ده د دې سالانه آمدن کله ۱۰۰ نه هم کله کم او کله زیاتیږي نو زید زکات څرنګه ادا کړي. او مفصل ګزارش دا دی چه د کمپنئ جائیداد یعنې عمارت او د هغې مشین سانچې وغیره ټولې د ۲۵ لکه روپو دي او جمع روپئ هم ۲۵ لکه دي. د زید په حصو کې که جائیداد او روپئ جمع شوې تقسیم شي نو د ۲۰۰ روپو راتللو امید دی دا خو جواب دی.

اوس بیا تفصیل سره عرض کوم کله چه کمپنئ شروع شوه نو یوه حصه د سلو روپو وه د داسې لس زره حصو خلك خریداران شول په کوم سره چه ۱۰ لکه روپئ جمع شوې یو عمارت جوړ کړی شو او څه مشینونه ئې ولګول. اول کال کې کمپنئ د ۱۰۰ په حصه باندې ۱۰ روپئ منافع تقسیم کړې نو یوه حصه چه د ۱۰۰ روپو وه د اول خریدار نه عمرو واخستله په دویم کال د ۲۰ حصه کومه چه د سلو وه په هغې ئې تقسیم کړې د کوم د وجې نه چه د حصې قیمت ۳۰۰ شو د عمرو نه یوه حصه په ۳۰۰ واخستله د داسې نفع قیمت زیات شو او د بکر نه خالد په ۴۰۰ واخستلو بیا د خالد نه زاهد په ۴۰۰ واخستله بیا زاهد نه اوس زید په ۷۰۰ واخستله اوس په دې کال کې په ۴۰۰ خرڅیږي که سرمایه او عمارت وغیره جمع کړی شي نو زید له په ۲۰۰ کې یوه حصه راځي او سالانه نفع کله ۱۰۰ او کله ۲۰۰ راځي اوس سوال دا دی چه سالانه آمدن باندې زکات ورکول یا د سرمائې او جائیداد قیمت دې وکړی شي او څه چه زیات راشي په هغه اندازه دې زکات ورکړي یا اصلي حصه د ۱۰۰ وه په هغه اندازه زکات ورکړي یا نن صبا د دې قیمت ۴۰۰ شو په دې اندازه زکات ورکړي، جواب راکړئ؟

**جواب**: د جواب نه وړاندې هغه مقدمات اوریدل پکار دي:

۱ـ د تجارت په اصل او نفع دواړو باندې زکات واجب دی.

۲_ عمارت او آلاتو باندې زکات واجب نه دی.

۳_ په حرام مال باندې که هغه په خپل ملکیت کې خلط شي نو زکات شته مګر په اندازه د حق غیر دین کیدو سبب سره به د زکات نه مستثنی شي.

د دې مقدماتو نه وروستو اوس پوهیدل پکار دي چه ابتدائي شراکت کې کوم چه مثلا د سل روپو وو په هغې کې خو څه حصه په عمارتونو او آلاتو کې ولګول شوې او په دغه تجارت کې ولګول شوې په هغې دې ۱۵ روپۍ نفع وي په هغې کې ۱۰ خو شریك ته ورکړی شوې او ۵ په سرمایه کې داخلې کړی شوې اوس زکات په ۹۵ روپۍ واجب شو بیا که دا حصه مثلا چا واخستله نو د عقد حقیقت دا شو چه ۸۵ روپط خو د ۸۵ روپو په بدله کې شوې او ۱۱۵ حصې د آلاتو او عمارت په بدله کې ځکه چه د دې تاویل نه بغیر به دا بیعه جائزه نه وي اوس د تقابض شبهه پاتې شوه نو په آلاتو او د عمارت په حصه کې خو تقابض شرط نه دی اوس د ۸۵ حصه پاتې شوه نو بیع صرف په بنا باندې خو تقابض في المجلس ضروري وو کوم چه دلته ممکن نه دی نو ځکه د دې د صحیح کیدو دا حیله کیدی شي چه کوم کس عرفا بائع دی هغه دې د مشتري د حصې نه ۵۰ چې قرض واخلي او بیا دې د ۸۵ روپو حواله په ۸۵ چې ورکړي کومې چه د دغې کمپنۍ منیجر یا امین سره دي او اوس هغه د مشتري د خپل طرف نه وکیل جوړوي نو حواله مع قبض الامین سره هغه ۸۵ روپۍ د مشتري په ملکیت کې راغلې او معامله مکمله شوه اوس به د دې ورځې نه د کال په تیریدو سره کتل کیږي چه د آلات او عمارتونو نه علاوه ټول سرمایه څومره ده او د دغه ۸۵ روپو والا په اصل او منافع کې څومره دي په دغه مجموعه باندې به زکات واجب شي او دغه قیمت له به اعتبار نه وي د کوم په عوض کې چه ئې دا حصه اخستلې ده همداسې که دا حصه بل چا واخستله نو همدا د تاویل او تفصیل احکام به په کې وي او که د دې تاویل نه بغیر که خریداري وشوه نو که د قیمت اندازه د حصې نه زیاته وي نو ګویا چه دا عقد ناجائز دی مګر په دې حصه کې د چا حق نشته نو ځکه زکات به صرف حصه کې وي او که د قیمت اندازه د حصې نه کمه وي نو عقد هم ناجائز دی او زیاته حصه د بل کس یعنې د بائع حق دی مګر چونکه د دغه مشتري په قبضه کې او د هغه ملك مخلوط دی نو ځکه زکات به مجموعه وي مګر د مذکور حق په اندازه هغه مدیون دی نو ځکه دې حیثیت سره به دا مقدار د زکوة نه مستثنی وي البته که حق والائې معاف کړي نو بیا د مال د خبیث کیدو د وجې نه د قرض نه کیدو د وجې نه به بیا په مجموعه باندې زکات وي او دا بائع حربي دی



نو د اباحت د روایت په بنا باندې زیادت من الحربي به دا زیاته حصه د غیر حق نه وي امید دی چه دې تقریر سره ستاسو د سوال د ټولو جزءونو جواب شوی وي، والله اعلم. ۳ شوال ۱۳۳۹. نورو علماو ته هم ښودل یا پخپله غور کول پرې ضروري دي. (النور ص۷، محرم الحرام ۱۳۶۰ھ).

## فصل تاسع

سوال :(۵۲۹) د کپاس یو مشین دی په دې کې څه دي د هغې منافع به هر کال ملاویږي کومه منافع چه ملاویږي د هغې زکات خو برابر ورکول کیږي او څه روپۍ چه مشین کې لګیدلې دي د هغه روپو زکات ورکولو ضرورت شته او که نه؟ ځکه چه دا مشین د اوسپنې دی پدې کې هر کال د مرمت ضرورت هم پیښیږي او په دې مشین کې د ډیرو کسانو حصه ده په دې کې هندوان او مسلمانان دواړه شریك دي؟

جواب: هغه مشین د صنعت آله ده د تجارت مال نه دی، لهذا په دې زکات نشته ۱۷ جمادی الثاني ۱۳۳۳ھ

### تمت الضمیمة بتمامها

تَمتْ رسَالَةِ القصَص السنيْ بتَوفیق القَادر الغَني

### صرف قرائنو سره به په شریک باندې د خیانت الزا م

### نه راځي مګر که نقصان وشي نو هغه به تاوا ن ګڼل کیږي

سوال :(۵۳۰) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه یو کس خپل ځوي د بل کس سره شریك کړو او د هلك پلار هغه شریك ته وویل چه ته هوښیارۍ سره کار کوه او هلك باندې ډیر خیال ساته او د دکان د تالو چابیانې او د صندقونو وغیره حساب کتاب دې له تا سره وي مګر پلار ئې دا نه وو ویلي چه کله بهر ځې نو زما ځوي په دکان کې مه پرېږده نو کله چه هغه کس خوراك له لاړو یا لمونځ یا دهلې له نو دغه هلك به ئې دکان کې پرېښودلو یو نیم کال داسې وه او د وخت نه ملاویدو د وجې نه حساب ونکړی شو د میاشتې منافع به چه څه لیکلی شوې وي راجمع کولې او هره میاشت به هغه کس اخستلې ځکه چه هغه کس غریب وو په منافع کې د هغه ۲۰۰ روپۍ هم جمع شوې وې په دوکان کې چونکه د دغه هلك واده وشو نو هغه دغه روپۍ د منافع لپاره واخستلې او د هغه جمع کیدلې په یو نیم کال کې چه دکان څه حساب وکړی شو نو ۹۰۰ عدده جوړې چه قیمت ئې ۱۱۱۹ روپۍ وو کمې شوې کله چه

تفتیش وکړی شو نو معلومه شوه چه د هغه کس خوي پري تماشبیني کړي وه کوم چه شریك وو او هغه ته تر یونیم کال پورې دا معلوم نه شوه چه داسي قسم دی بیا چه کله د هغه پلار وویل لچه ته تالي او صندقونه زمونږ خوي له ورکړه نو بوټان ني ولیکل او جوړي شمارلو سره ني په خپله قبضه کي کړي د ازمائش په طور سره پاو باندي یوه میاشت بعد بوټان وشمارل شول... کمي شوي او ... یو دکاندار له یوړل شوي او هغه له ني ورنکړي نو هغه ني مجرا کوي نو داسي د ... کموالی راځي. د شریعت د مخي د دي ۱۰۰۰ روپو څوك مستحق دی دېر زر جواب راکړئ او په حسناتو کي داخل شئ، فقط؟

جواب: خیانت صرف قرائنو سره نه ثابتیږي که کافي شهادت یا د خائن اقرار وي نو د خائن نه به تاوان اخستل کیږي کنه نو په دکان کي به تاوان ګڼل کیږي او د دغه هلك د پلارنه به تاوان نه اخستل کیږي اول خو هغه خبرداری ورکړی وو دویم دا چه هغه څه کفالت نه وو کړی ۲۲ جمادی الاولی ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۱۹۵)

### مجراي یا عدم مجراي منافع منحصله بعض شرکاء یا متعلقین شان از جائیداد مشترک

سوال: (۵۳۱) علماء په دي مسئله کي څه فرمائي، بینوا توجروا؟
یو مشترکه ریاست دی د کوم چه هنده ښځه مورث او څلور خامن نابالغ او دري لورګاني بالغي وراثاني دي. هنده د ریاست منتظمه او زید ني کارنده دی. د هندي په خاندان کي د خویندو ورونو ته د خپل حق معاف کولو پوره اختیار وو او د لورګانو سره همیشه لپاره پوره امداد کیږي په همدي خیال سره هندي د خپلو لورګانو سره پوره مراعات وکړل عمرو د هندي یو څوم چه د زید خوي دی هغي له هندي د ریاست د کار کولو اجازت ورکړو. عمرو د تحصیل وصولولو کار شروع کړو او اکثره روپئ ني خپل او د اهل په خدمت کي ولګولي او د حج د سفر لپاره ني د هندي نه نغدي روپئ هم واخستلي اوس عمرو د خپلي ښځي هندي د منافع مطالبه کوي د هندي دا عذر دی چه ما چه کومي روپئ د مراعاتو په طور ورکړي دي او کومي روپئ چه عمرو وصول کړي او په خپل تصرف کي ني واخستلي او کومي روپئ چه د حج د سفر لپاره ورکړی شوي دا ټولي روپئ به په منافع کي منها او محسوب شي او باقي به ادا کړم. د عمرو دا عذر دی چه هندي چه څه روپئ خپلي لور ته د مراعاتو په طور ورکړي هغه د مجرا کولو قابل نه دي او کومي نغدي روپئ چه ني د حج لپاره واخستلي هغه د دي وجي نه د مجرا قابل نه دي چه عمرو د خپل پلار زید نه اخستلي دي. د زید دا بیان دی



چه کومي روپئ جمع او عمرو خرچ کړي هغه هندي څو خل هندي دتذکري په وخت د عمرو د ښځي په منافع کي د مجرا کولو ذکر وکړو په کوم باندي چه پخپله عمرو هم خبر دی. نه هغه د زید وي او نه ورله زید ورکړي دي. په بره تپوس شوي صورت کي کومي روپئ چه هندي د مراعاتو په طور ورکړي دي او کومي روپئ چه پخپله عمرو وصول کړي او خرچ کړي ني دي او کومي چه د هندي نه عمرو د حج د سفر لپاره حاصل کړي دا ټول هندي له د عمرو د ښځي نه د مجرا کولو حق شته دی او که نه؟ او د ریاست د چارپایانو او ملازمینو نه چه عمرو کوم کار اخستلو او د ټول خرچ او د باغ پیداوار نه چه کوم تمتع او فائده مالکانه طور سره هغه حاصله کړه په هغي کي د عمرو د تصرف په اندازه هنده په خرچ کي حصه اخستلی شي او که نه؟

جواب: که د عمرو د ښځي کوم چه د مورث لور او د میراث خور ده پخپله د مشترك مال نه څه اخستلي وي یا ني خپل خاوند وکیل جوړ کړی وي نو د هغي وصول کړي مال د عمرو د حصي نه مجرا کړي وي لیکن عمرو پخپله حقدار نه دی نو څکه چه هغه څومره د هندي په خوشحالئ سره واخستلو هغه به په هنده باندي وي او څومره چه ني د زید نه بغیر د هندي د اجازت نه واخستلو هغه به زید باندي د ټولو وارثانو مشترك قرض دی او څومره چه عمرو پخپله واخستلي چه نه ني د زید نه اجازت واخستلو او نه د هندي نه او هندي هم هغه جائز ونه ګڼلو هغه په عمرو باندي د ټولو وارثانو مشترك قرض دی په دي صورت کي د عمرو د ښځي د حصي نه نه شي مجرا کیدی د عمرو ښځه به خپله پوره حق اخلي بیا هنده یا د زید د وارثانو نه یا عمرو نه د چا په ذمه چه قرضه وي هغه به د هغي نه مطالبه کوي او د هندي په خرچ کي چه د حصي موندلو کوم سوال کړی شوی دی دي باندي زه پوهه نه شوم که د بره تقریر نه د دي جزء په جواب باندي تپوس کونکی پوهه شوی نه وي نو بیا دي واضحه کړي او تپوس دي وکړي. ۴ رجب ۱۳۲۱ھ (تتمه ثانیه ص۴۹)

### حکم مال اهل بیت که ایشان کسب کنند ومال مکسوب را کی علیحده نمي داره

سوال: (۵۳۲) یوه استفتاء راغله د کوم جواب چه دا په ذهن کي راځي لیکن دوه متضاد روایتونه د قیل قیل سره لیکل شوي دي کوم یو ته ترجیح ورکړی شي "شامي فراوقي ص۳۳۰ فصل في الشركة الفاسدة (تنبيه) يوخذ من هذا ما افتى به في الخيرية في زوج امرأة وابنها اجتمعا في دار واحدة واخذ كل منهما يكتسب على حدة ويجمعان كسبهما ولا يعلم التفاوت ولا التساوى ولا التمييز فاجاب بأنه بينهما

تفتیش وکړی شو نو معلومه شوه چه د هغه کس خوي پرې تماشبیني کړې وه کوم چه شریك وو او هغه ته تر یونیم کال پورې دا معلوم نه شوه چه داسې قسم دی بیا چه کله د هغه پلار وویل لچه ته تالې او صندقونه زمونږ خوي له ورکړه نو بوټان ئې ولیکل او جوړې شمارلو سره ئې په خپله قبضه کې کړې د ازمائش په طوز سره پاو باندې یوه میاشت بعد بوټان وشمارل شول... کمې شوې او ... یو دکاندار له یوړل شوې او هغه له ئې ورنکړې نو هغه ئې مجرا کوي نو داسې د ... کموالی راځي. د شریعت د مخې د دې ۱۰۰۰ روپو څوك مستحق دی ډیر زر جواب راکړئ او په حسناتو کې داخل شئ، فقط؟

جواب: خیانت صرف قرائنو سره نه ثابتیږي که کافي شهادت یا د خائن اقرار وي نو د خائن نه به تاوان اخستل کیږي کنه نو په دکان کې به تاوان ګڼل کیږي او د دغه هلك د پلارنه به تاوان نه اخستل کیږ اول خو هغه خبرداری ورکړی وو دویم دا چه هغه څه کفالت نه وو کړی. ۲۴ جمادی الاولی ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۱۹۵).

## مجراي یا عدم مجرائ منافع محصله بعض شرکاء یا متعلقین شان از جائیداد مشترک

سوال: (۵۳۱) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي، بینوا توجروا؟

یو مشترکه ریاست دی د کوم چه هنده ښځه مورث او څلور ځامن نابالغ او درې لورګانې بالغې وراثانې دي. هنده د ریاست منتظمه او زید ئې کارنده دی. د هندې په خاندان کې د خویندو ورونو ته د خپل حق معاف کولو پوره اختیار وو او د لورګانو سره همیشه لپاره پوره امداد کیږي په همدې خیال سره هندې د خپلو لورګانو سره پوره مراعات وکړل عمرو د هندې یو ځوم چه د زید ځوي دی هغې له هندې د ریاست د کار کولو اجازت ورکړو. عمرو د تحصیل وصولولو کار شروع کړو او اکثره روپۍ ئې خپل او د اهل په خدمت کې ولګولې او د حج د سفر لپاره ئې د هندې نه نغدې روپۍ هم واخستلې اوس عمرو د خپلې ښځې هندې د منافع مطالبه کوي د هندې دا عذر دی چه ما چه کومې روپۍ د مراعاتو په طور ورکړې دي او کومې روپۍ چه عمرو وصول کړي او په خپل تصرف کې ئې واخستلې او کومې روپۍ چه د حج د سفر لپاره ورکړی شوې دا ټولې روپۍ به په منافع کې منها او محسوب شي او باقي به ادا کړم. د عمرو دا عذر دی چه هندې چه څه روپۍ خپلې لور ته د مراعاتو په طور ورکړي هغه د مجرا کولو قابل نه دي او کومې نغدې روپۍ چه ئې د حج لپاره واخستلې هغه د دې وجې نه د مجرا قابل نه دي چه عمرو د خپل پلار زید نه اخستلې دي. د زید دا بیان دی



چه کومې روپۍ جمع او عمرو خرچ کړي هغه هندې څو ځل هندې دتذکرې په وخت د عمرو د ښځې په منافع کې د مجرا کولو ذکر وکړو په کوم باندې چه پخپله عمرو هم خبر دی. نه هغه د زید وې او نه ورله زید ورکړې دي. په بره تپوس شوي صورت کې کومې روپۍ چه هندې د مراعاتو په طور ورکړې دي او کومې روپۍ چه پخپله عمرو وصول کړي او خرچ کړې ئې دي او کومې چه د هندې نه عمرو د حج د سفر لپاره حاصل کړي دا ټول هندې له د عمرو د ښځې نه د مجرا کولو حق شته دی او که نه؟ او د ریاست د چارپایانو او ملازمینو نه چه عمرو کوم کار واخستلو او د ټول خرچ او د باغ پیداوار نه چه کوم تمتع او فائده مالکانه طور سره هغه حاصله کړه په هغې کې د عمرو د تصرف په اندازه هنده په خرچ کي حصه اخستلی شي او که نه؟

جواب: که د عمرو د ښځې کوم چه د مورث لور او د میراث خور ده پخپله د مشترك مال نه څه اخستلې وي یا ئې خپل خاوند وکیل جوړ کړی وي نو د هغې وصول کړي مال د عمرو د حصې نه مجرا کړې وي لیکن عمرو پخپله حقدار نه دی نو ځکه چه هغه څومره د هندې په خوشحالئ سره واخستلو هغه به په هنده باندې وي او څومره چه ئې د زید نه بغیر د هندې د اجازت نه واخستلو هغه به زید باندې د ټولو وارثانو مشترك قرض دی او څومره چه عمرو پخپله واخستلې چه نه ئې د زید نه اجازت واخستلو او نه د هندې نه او هندې هم هغه جائز ونه ګڼلو هغه په عمرو باندې د ټولو وارثانو مشترك قرض دی په دې صورت کې د عمرو د ښځې د حصې نه نه شي مجرا کیدی د عمرو ښځه به خپله پوره حق اخلي بیا هنده یا د زید د وارثانو نه یا عمرو نه د چا په ذمه چه قرضه وي هغه به د هغې نه مطالبه کوي او د هندې په خرچ کې چه د حصې موندلو کوم سوال کړی شوی دی دې باندې زه پوهه نه شوم که د بره تقریر نه د دې جزء په جواب باندې تپوس کونکی پوهه شوی نه وي نو بیا دې واضحه کړي او تپوس دې وکړي. ۴ رجب ۱۳۲۱ھ (تتمه ثانیه ص۴۹).

## حکم مال اهل بیت که ایشان کسب کنند ومال مکسوب را کی علیحده نمې دارد

سوال: (۵۳۲) یوه استفتاء راغله د کوم جواب چه دا په ذهن کې راځي لیکن دوه متضاد روایتونه د قیل قیل سره لیکل شوي دي کوم یو ته ترجیح ورکړی شي: "شامي فراوقی ص۳۳۹ فصل فی الشرکة الفاسدة (تنبیه) یوخذ من هذا ما افتی به فی الخیریة فی زوج امراة وابنها اجتمعا فی دار واحدة واخذ کل منهما یکتسب علی حدة ویجمعان کسبهما ولا یعلم التفاوت ولا التساوی ولا التمیز فاجاب بانه بینهما

سویۃالخ". د څو کرخو نه بعد ئې لیکلي دي: "فقیل هی للزوج وتکون المراۃ معینۃ له الا اذا کان لها کسبا علی حدۃ فهو لها وقیل بینهما نصفان زیادۃ والسلام".

**جواب**: زما په نزد دې دواړو روایتونو کې تضاد نشته دی د جمع وجه دا ده چه حالات مختلف وي د کوم تعین چه کله تصریح او کله د قرائنو سره کیږي یعنې کله خو اصل کاسب مراد وي او د ښځې متعلق عرفا کسب بالکل وي نه هلته خو به دا معین ګڼل کیږي او چیرته د کور ټول کسان د خپل خپل ځان لپاره کسب کوي لکه څنګه چه په لویو ښارونو کې مثلا دهلۍ یوغیره کې لیدل کیږي هلته دواړه کاسب ګڼول کیږي د عدم امتیاز مقدار په وخت علی السویه د نیم نیم مال ګڼل کیږي، والله اعلم. ۱۵ رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۶۹).

## اشتراط تفاوت در ربح درمیان شرکاء

**سوال** :(۵۳۳)څلورو کسانو په شریکه تجارت وکړو او خپل مینځ کې ئې دا خبره وکړه چه یو کال دې دوه کسان د تجارت مال واخلي او بهر ته دې لاړ شي او دوه کسان دې دلته خپل وطن کې کور کې وي او بل کال دې دا د وطن والا بهر ته لاړ شي او هغه نور دې وطن کې کور کې وي اوس همداسې کیږي اوس د تحقیق خبره داده چه کوم کسان بهر ته دا د تجارت مال وړي د هغه دوه نورو کسانو نه چه په وطن او کور کې وي نو د زیاتې منافع اخستلو حق لري او که نه؟ که زیاته منافع نه شي اخستلی نو خپل حق المحنت د تنخواه په طور اخستلی شي او که نه؟ که په دې سوال کې بل کوم شق هم پاتې شوی وي نو د هغې جواب هم ولیکۍ ترڅو جواب مکمل شي او تاسو ته مکرر تکلیف درنکړی شي؟

**جواب**: "فی الدر المختار کتاب الشرکۃ وشرطها کون المعقود علیه قابلا للوکالۃ فلا تصح فی مباح کاحتطاب وعدم ما یقطعها کشرط دراہ مسماۃ من الربح لاحدهما لانه قد لا یربح غیر المسمی وحکمها الشرکۃ فی الربح وفی رد المحتار تحت قوله وحکمها الشرکۃ واشتراط الربح متفاوتا عندنا صحیح فیما سیذکر". (ج۳ ص۵۲۰).

د دې نه معلومه شوه چه کوم خلك بهر ته ځي هغوئ منافع زیاته اخستلی شي مګر معینه تنخواه اخستلی نه شي او څوك به چه منافع زیاته اخلي هغه په نسبت سره کیدل پکار دي مثلا ۲/۳ به دا اخلي او ۱/۳ نور شریکان کوم چه بهر ته ځي مثلا ۲۰، ۲۰ روپئ به د میاشتې اخلي دا جائزه نه ده. ۴ ذیقعده ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص۱۸۰).



## عدم رجوع شریک بر شریک دیگر بمنفق بلا اذن قاضي

**سوال** :(۵۳٤) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه زید په شاهي زمانه کې ډیر جائیداد پریښودلو د هغې نه بعد اغیار په جائیداد قابض شول او تقریبا سل کالو پورې اغیار قابض وو د انګریزي کیدو نه بعد د زید په اولاد کې صرف څو کسانو دعوه وکړه او نور اولاد څه دعوه وغیره ونه کړه، کومو کسانو چه دعوه وکړه هغوئ د جائیداد نه د یوې لویې حصې ډکري وموندله کوم چه د دوئ د حق نه ډیره کمه ده، د ډګرئ نه بعد دوئ په دغه حصه باندې تقریبا ۵۰ کاله قابض دي اوس دمذکور زیداولاد نه بعضې خلك دډګري موندونکونه دحساب فهمي مقتضی کوي نوآیا دغه خلك شرعادحساب پوهیدنې مستحق دي د دې باوجود چه د جائیداد په حاصلولو کې دغه خلکو نه خرچ وکړو او نه شرکت او د دغه خلکو په جواب کې مورثینو عملا ډګري وارثانو ته د جائیداد په قبضه تسلیم هم کړو، بینوا توجروا؟

**جواب**: "فی الدر المختار المشترك اذا انهدم فابی احدهما العمارۃ ان احتمل القسمۃ لاجبر وقسم والابنی ثم اجره لیرجع بما انفق لو بامر القاضی والا فبقیمۃ البناء وقت البناء ج۵، ص۲۶۴، مع رد المختار".

د دې نظیر نه معلومه شوه چه په تپوس شوي صورت کې مدعین هم د جائیداد د دعوې مستحق دي او دغه مدعینو باندې به څه خرچه نه راځي کوم چه د جائیداد په خلاصولو کې مصرف شوي دي. ۱۶ ذیقعده ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۹۹).

## عام اختیار بعض شرکاء بعض را ا ردفن درگورستان مشترک

**سوال** :(۵۳۵) د اثناء عشریه ډله اهل کتاب او اهل قبله دي او که نه؟ هغوئ له بغیر د وخت ورکولو او بغیر د بل قبرستان اخستلو نه ویستل د شریعت د مخې انصاف دی او که نه؟ اوترڅو پورې چه بله مقبره وانخلي نو تر هغه وخت پورې به خپل مړي چیرته خخوي حال دا چه د هغوئ د اخستلو ځای نشته دی او په سرکاري ځای کې دفن کول د حکومتي قانون خلاف دی په دې حالت کې د هغوئ لپاره کوم حکم چه کتاب الله وسنت رسول الله نه وي نو زر ئې ولیکئ؟

**جواب**: کله چه هغه د دواړو ډلو په مشترکو روپو اخستلی شوې ده نو د نسبت په اندازه هغه ځمکه مشترکه شوه یعنې دواړه ډلې به د خپلو روپو په اندازه مالکان وي او هر مالك ته به خپل حق کې د تصرف مقام حاصل دی یو بل کس نه شي منع کولی او اهل تشیع هم ټول د اسلام نه خارج نه دي ترڅو چه هغوئ د دین د ضروریاتو نه انکار ونکړي په دې کې هم که

مصلحت دا وي چه د دواړو ډلو مړي په مختلط طور مدیون نه وي نو د حصو په اندازه دې هغه تقسیم کړی شي او په مینځ کې دې حد قائم کړی شي ترڅو د دواړو قبرستان جدا جدا کړی شي اګر که ګاونډیان وي او که د ځمکې اخستلو سره وکیلانو په صریح لفظ سره وقف کړې وي نو بیا دې سوال وکړی شي او هغه د وقف الفاظ دې هم په سوال کې ولیکل شي نو هغه وخت به جواب درکړی شي. ۹ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۱۵).

### فاسد بودن عقد شرکت از شرط کردن عمل بر یک شریک

**سوال**: (۵۳۶) زید، بکر او عمرو په شریکه مساوي روپۍ ولګولې او تجارت ئې وکړو او دا وویل شو چه تجارت به زید کوي نو څه نفع چه وشي د هغې نه په نیم زید اخلي او په نیم کې به نیم نیم بکر او عمرو ته او څه نقصان چه وشي هغه دې درې واړه کسان برداشت کړي یعني که نفع یوه روپۍ وي نو اته آنې به د زید وي او څلور څلور آنې د بکر دي او که یوه روپۍ نقصان وشي نو هر یو کس به پنځه پنځه آنې برداشت کوي نو آیا دا صورت جائز دی او که نه؟

**جواب**: دا شراکت دی. ([1]) او د سرمایې د مساواتو باوجود په نفع کې د تفاوت شرط هم جائز دی مګر کار د یو شریک په ذمه باندې د اچولو شرط ناجائز نو ځکه دا شرط فاسد شو. فائده به ټولو ته برابره ملاویږي.

ایضاً

**سوال**: (۵۳۷) زید، عمرو او بکر مساوي روپۍ ولګولې او زید ته ئې دا روپۍ ورکړې چه ته دا کار کوه او په نفع کې به څلور آنې د محنت حق مومې او ۱۲ آنې به مساوي لحاظ سره په درې واړو تقسیمیږي او که نقصان وشي نو نقصان به درې واړه مساوي برداشت کوي په څلور آنو کې ته مضارب ئې او په ۱۲ آنې کې شریك نو آیا دا صورت جائز دی چه یو کس په شریکانو کې مضارب هم وي او شریك هم وي؟

**جواب**: په یوه معامله کې د بل معامله شرط د عقد فاسدونکي دي یوه معامله جدا شي او بله داسې جدا شي چه هغه په قبلولو او عدم قبول کې مختار وي او د دواړو حساب جدا وي نو جائزه ده. (تتمه خامسه ص ۳۶۶).

---

[1] په شریك باندې عمل د شرط جائز دی. او په شرط ربح کې دا تفصیل دی کچرته عمل یا کثرت د عمل علی احد الجانبین مشروط فی العقد دی د عدیم العمل یا قلیل العمل لپاره قدر راس المال څخه د زیاتوالی شرط صحیح نه دی دا شرط باطل دی



### شرکت مال حرام در تجارت

**سوال**: (۵۳۸) والد صاحب اول د غلې تجارت کولو په هغې کې ډیر نقصان وشو اوس د هغې په ځاي د مالګې تجارت دی او د الله ﷻ په فضل صورت ئې ښه معلومیږي یو کس شریکیدل غواړي چه د وړاندې په پولیس کې ملازم وو اوس معزول شو د هغه مال مشکوك بلکه غالبا خراب دی د هغې د شرکت د نسبت څه حکم دی. د مالګې خریداري داسې کیږي چه روپۍ په سرکاري خزانه کې هرځاي کې جمع کیدی شي هلته نه رسید اخستلو سره سرکاري پرمنټ ګودام چه په سانبهر جهیل کې واقع دی هلته لیږل کیږي او مالګه د هغه ځاي نه راځي یا لوټ اخستلو سره کوم آړهتي ته لیږل کیږي هغه مالګه اخستلو سره لیږي په دې صورتونو کې د خرابو روپو شاملولو څه حکم دی؟

**جواب**: د کوم چه مال خراب دی هغه دې د چا نه قرض واخلي او شراکت دې پرې وکړي بیا دې هغه قرض د خپلې ذخیرې نه ادا کړای او بغیر د دغه تدبیر نه په خزانه کې جمع کول یا لوټ اخستل د دې خرابۍ رافع کیدی نه شي. **"لان البدل فی حکم المبدل عنه بخلاف القرض فانه لیس بمبادلة کما لا یخفی"**. (امداد ج ۳ ص ۲).

# کتاب القسمة

## د مشترک ځیز تقسیمول

سوال :(۵۳۹) عمرو او زید دواړه په یو کور کې اوسیږي، او د هرې ډلې د نیکه تعمیر جدا دی او د کور صحت، زینه او لیټرین مشترك دي او مشترك صحن شمال جنوب ۷ ګزه دي او همداسې مشرق او مغرب ته هم ۸ ګزه. او د هرې ډلې کورونه شمالا جنوبا جوړ شوي دي زید چونکه بخیل دی او عمرو ته د ضرر رسولو په خاطر وائي چه نیم صحت کې یو دیوال وکړه او دروازه، لیټرین او زینه هم تقسیم کړه چونکه زید سره د مالدارۍ د وجې نه نور کورونه هم دي نو زید به د کور تقسیمولو نه بعد تنګ نه وي او د عمرو سره د دې کور په ځاي بل کور نشته نو کله چه صحن تنګ شي د هغه لپاره د ضرر سبب دی د زید عمرو ته د ضرر رسولو په خاطر په تقسیم کلك ودریدل شرعا جائز دئ او که نه؟

جواب: د مشترك تقسیمولو د شروطو نه یو دا هم دی چه د تقسیم نه بعد ئې هغه فائده فوت نه شي په دې صورت کې د صحت تقسیم خو جائز دی ځکه چه د تقسیم نه بعد ترې هم فائده اخستل کیدی شي او د دروازې، لیټرین او زینې تقسیم جائز نه دی ځکه چه د تقسیم نه وروستو د فائدې اخستلو قابل نه پاتې کیږي. "وشرطها عدم فوت المنفعة بالقسمة وكذا لا يقسم نحو حايط وحمام در مختار وقال الشارح تحت قوله المنفعة اى المعهودة وهى ما كانت قبل القسمة اذ الحمام بعدها ينتفع به كنحو ربط الدواب شامى ص۱۶۱". او که دواړه شریکان وغواړي نو صحیح ده، صرف د یو په اصرار کولو جائزه نه ده. "واما اذا رضي الجميع صحت شامي ص۱۶۱ فقط". (امداد ج۳، ص۱۰۵).

## تقسیم ماهي مشترک بلا وزن وتحلیل تفاوت از جانبین

سوال :(۵۴۰) د ماهي بچي واخستل شو او تالاب پریبنودل شول کله چه غټ شول نو ونیول شول او د اندازې په حساب سره تقسیم شول او دواړه په دې خبره راضي دي چه که د چا په حصه کې زیات لاړل نو هغه معاف دی د هغې دعوه نشته ایا داسې تقسیم جائز دی او که نه؟

جواب: چونکه ماهي عرفا موزون دی او متجانس کیدل ئې ظاهر دي نو ځکه بغیر د وزن نه ئې تقسیم جائز نه دي. "فى رد المحتار كتاب الاضحية تحت قوله لا جزافا اما نصه لان القسمة فيها معنى



المبادلة ولو حلل بعضهم بعضا الى قوله واما عدم جواز التحليل فلان الربوا لا يحتمل الحل بالتحليل الخ ص۲۱۰، ج۵. ۲۸ شعبان ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۱۴۵).

# کتاب الزراعة

## عدم استحقاق زمیندار درختان کاشتکار

سوال :(۵۴۱) کومې ونې چه کروندګر نالوي د هغوئ په ورکیدو یا مړه کیدو باندې زمیندار له په دغه ونو د قبضې یا ترې د میوې اخستلو حق حاصل دی او که نه؟ او جائزه هم ده او که نه؟

جواب: چونکه د ونې مالك هغه کس دی څوك چه ئې ولګوي لهذا داسې ونې به د زمیندار ملکیت نه وي البته زمیندار دا حق لري چه کروندګر مجبور کړي چه زمونږه ځمکه خالي کړه که هغه ئې ونه مني نو دا ئې ویستلی شي که نالونکی ئې مړ شي نو وارثان به ئې مالکان وي او که وارث ئې هم نه وي یا ورك شي نو اول خو هغه د مسکینانو حق دی او کله چه هغه یا میوه ئې خرڅه کړي نو قیمت به ئې مسکینانو ته ورکوي او که زمیندار ئې پخپله وخوري نو بیا به هم د هغې قیمت ورکوي او په مسکینانو به ئې مصرفوي. او په دویم صورت کې که ورك شي نو ۹۰ کالو پورې به د هغه انتظار کوو نو بیا به وایو چه مړ دی او د هغه وارثان ئې حقدار دي کنه نو بیا مسکینان، والله تعالی اعلم. ۲۴ جمادی الاولی ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳، ص۱۰۵).

## د بره جواب متعلق سوال

سوال :(۵۴۲) (۱) کروندګر چه کومې ونې لګولي د هغې صورت داسې دی چه هغه زمیندار ته دې ویلو سره ځمکه حاصله کړې وي چه تاسو یوه ځمکه وبنائي چه زه په کې څلور ونې نالې کړم د کوم مطلب چه رواجا دا دی چه د ونو لګونکی خپل ژوند پورې د هغې نه میوه خوري او د مرګ یا ورکیدو نه وروستو زمیندار په هغې باندې د قبضې حق لري ایا دا جائزه ده او که نه؟

(۲) که زمیندار په لګول شوو ونو باندې جبرا قبضه وکړي نو د دې جبر په مقابله کې چه ۱۰ یا ۱۲ کاله د دغه ونو لکه د ماشومانو په شان پرورش کړې وي د هغې نه ځمکه خالي کړی شي اګرچه د کروندګر د دباوولو جائزه طریقه وي لیکن هغې ته د نقصان رسولو منشا سره به د ضرورت په وخت داسې کول جائز وي او که نه؟

**جواب**: (۱) غاية ما في الباب د دې حاصل به دا وي چه د يو امر واقع في المستقبل باندې ئې د زميندار مالك كيدل معلق كړي دي نو تملكاتو كې د تعليق صلاحيت نه وي او د قمار شرعي حقيقت همدغه دی، البته كه كروندګر د وصيت تصريح وكړي چه كله زه مړ شم نو دا ونې به د زميندار وي نو دا به وصيت شي او څومره احكام چه د وصيت دي ټول به جاري كيږي مثلاً كروندګر به هر وخت د دې وصيت واپس اخستلو حق لري او د دې زميندار په اول مړ كيدو به دا وصيت باطل شي او د ثلث ترکې نه په زيات كې به نه جاري كيږي او دا مثلاً تبرع محض ده په دې كې په جبر يا شرط لګول جائز نه وي او د مفقود حكم د ۹۰ كالو نه وړاندې ژوندي دی د هغه مال به امانت وي او د دې مودې نه وروستو هغه مړ دی نو دغه وخت به د وصيت مذكور احكام په خيال كې نيول كيږي.

(۲) كله چه د ځمكې خالي كول جائز دي په واقع كې دا جبر نه دی كه كروندګر دا جبر وګڼي نو هيڅ اعتبار ورله نشته دی او په جبر چونكه قبضه كول ناجائز دی اجازت نو ځكه نشته چه د كروندګر دا منل پخپله رضا نه دی ځكه چه هغه حقيقت نه خوښوي.

مګر واقعا چه ناخوښي ده مګر د بل ناخوښئ نه دا كمه ده كله چه ناخوښي ثابته ده نو خوښي ته مونږ د اجازت علت نه شو ويلی البته كه رشتينې خوش وي نو بيا صفا الفاظو كې دې ووائي چه زه به ئې په خوشحالئ تاته هبه كوم په دې شرط چه قرائنو سره معلوم هم شي چه په واقع كې پخپله خوشحالئ داسې كوي او په دې عبارت پوهه نه شوم "ليكن آيا دې ته نقصان رسول الی قوله دي او كه نه" كه د دې جواب نه وروستو هم شبه باقي وي نو هغه دې واضحه عبارت سره بيا تپوس وكړی شي شايد چه دا مطلب وي چه ګويا دا طريقه جائزه وي او كه نيت د نقصان رسولو وي نو بيا هم جائزه ده او كه نه؟ كه دا مطلب وي نو جواب دا دی چه د مروت خلاف به وي مګر ګناهګار به بالكل هم نه وي، والله تعالى اعلم. ۹ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ (امداد ج۳، ص۱۰۶).

## تحقيق عدم جواز شركت في البذر بين المزارع واهل الارض

**سوال**: (۵۴۳) السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ! ستاسو په پاك خدمت كې عرض دا دی چه د النور رساله د ربيع الاول د مياشتې ۱۳۵۰ھ په ۹ صفحه كې دي "السوال" د مزارعو څيزونو زمونږ په ځاي كې دا دستور دی كه زميندار دهقان ته نيم تخم وركړي نو نيمه غله او نيمې تانتې اخلي او كه ور ئې نكړي نو بيا ئې دهقان ته وركوي؟



**جواب**: جائزه ده. د دې نه معلومه شوه چه په مزارعت كې شركت فى البذر بين المزارع واهل الارض دی. بدايع ج۶ ص۱۸۰. مطبوعه جماليه مصر كې دي: "منها ان يشترط فى عقد المزارعة ان يكون بعض من قبل احدهما والبعض من قبل الاخر وهذا لا يجوز لان كل واحد منهما يصير مستاجراً صاحبه فى قدر بذره فيجتمع استيجار الارض والعمل من جانب واحد وانه مفسد اه". د دې نه په ظاهر سره معلوميږي چه شركت في البذر جائز نه دی په دواړو كې څه تطبيق دی؟

جواب: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ! النور والبدائع وكتل شو. ستاسو دواړه نقلونه صحيح دي واقعا چه جواب كې ما نه غلطي شوې ځكه چه په النور كې د دې سره متصل بره كرخو كې د مزارعت د جائز صورتونو نه ضبط كړی شوی دی او دا صورت د هغې نه علاوه دی نو په دې كې د جواز شبه هم نه شي كيدی دومره نژدې ذهول كيدل عجيبه دي. والله اعلم ذهن ولې ګډوډ شو. د دې نه رجوع كوم او انشاءالله د مذكوره سوال مستفتي ته به هم خبر وركوم او ترجيح الراجح كې به شائع هم كړی شي احتياطا دلته د دې متعلق د در مختار او رد المحتار نه هم د ضرورت په اندازه نقل كوم ترڅو د دغه صورت حكم هم معلوم شي او په كوم قيد سره چه د دې صورت جواز منقول دی هغه هم معلوم شي: "نصهما فى الدر المختار دفع رجل ارضه الى اخر على ان يزرعها بنفسه وبقره والبذر بينهما نصفان والخارج بينهما كذلك نعملا على هذا فالمزارعة فاسدة ويكون الخارج بينهما نصفين وليس للعامل على رب الارض اجر لشركة فيه والعامل يجب عليه اجر نصف الارض لصاحبها لفساد العقد الى قوله لاشتراطه الاعارة فى المزارعة عمادية وفى رد المحتار قوله فالمزارعة فاسدة لما سيذكره من اشتراط الاعارة فى المزارعة عمادية وفى رد المحتار قوله فالمزارعة فاسدة لما سيذكره من اشتراط الاعارة قوله لاشتراط الاعارة فى المزارعة اى اعارة بعض الارض للعامل فافهم الى قوله واذا فسدت بالخارج بينهما على قدر بذرهما وسلم لرب الارض ما اخذ لانه نماء ملكه فى ارضه ويطيب للعامل قدر بذره ويرفع قدر بذره نصف الارض وما اتفق ايضا ويتصدق بالفضل لحصوله من ارض الغير بعقد فاسد ولو كانت الارض لاحدهما والبذر بينهما وشرطا العمل عليهما على ان الخارج نصفان جاز لان كلا عامل فى نصف الارض ببذر فكانت اعارة لا بشرط العمل بخلاف الاول اه اى فلم تكن مزارعة حتى يقال شرط فيها اعادة كما افاده فى الفصولين وتما هذا المسايل فى الخانية فراجعها. ۲۸ جمادى الاولى ۱۳۵۰ھ (النور ص۷، جمادى الاخرى ۵۱ھ).

## په كرونده كې د تخم اچولو او د فصل كټ كولو د كروندګر په ذمه شرط كول

**سوال**: (۵۴۴) زيد بكر له يو غوايي د كروندې لپاره واخستلو او ور ئې كړلو او شرطونه ئې دا ولګول چه د غوائي خوراك او نيمې روپۍ به د زيد په ذمه وي او نور اخراجات به د بكر

په ذمه وي مثلا فصل کټ کول، یوې کول، د غوائي خدمت کول وغیره. او د غلې آمدن وغیره به په زید او بکر نیم نیم تقسیمیږي دلته د دې خبرې عام رواج دی. تاسو وفرمایئ چه دا معامله درسته ده او که نه؟ که نه وي نو کوم صورت سره معامله وکړی شي؟

**جواب**: دا خبره په دې کې پاتې شوه چه ځمکه د چا ده اوس زه قاعده کلیه بنایم که د بل دریم کس ځمکه وي نو بیا خو شرکت دی او په دې صورت کې هر څیز د دواړو کیدل پکار دي او که ځمکه د یو کس وي نو صرف درې صورتونه اتفاقا او یو صورت اختلاف جائز دی نور ټول ناجائز دي.

۱_ ځمکه او تخم د یو وي او غوایي او کار د بل.

۲_ ځمکه د یو او غوائي د بل او تخم او کار د بل او په دې کې اختلاف دی. کذا في الهدایة. ۱۱ شعبان ۱۳۴۹ھ (النور ۸، ربیع الاول ۵۰).

## د ونو په نیمه معامله

**سوال**: (۵۴٦)د ښاروو د چارې دلته دا دستور دی چه که دهقان ته زمیندار نیم تخم ورکړي نو نیمه غله او نیمه چاره اخلي او که ئې ورنکړي نو دهقان ئې نه ورکوي؟ سائل بالا.

جواب: جائزه ده. تاریخ مذکور. (النور ۹ ربیع الاول ۵۰ھ).

## د تخم نه ورکولو باوجود بوس مقررول

**سوال**: (۵۴۷) که د زمیندار او دهقان ترمنځ د تخم نه ورکولو باوجود د بوسو حصه مقرره کړی شي په کوم چه دهقان هم راضي وي نو زمیندار له ئې اخستل جائز دي او که نه؟

**جواب**: که تلف یا ربع وغیره مقرر کړی شي نو جائزه ده او که داسې مقرره شي چه دومره من یا دومره پیمانې نو جائزه نه ده. تاریخ المذکرو. (النور ۹ ربیع الاول ۵۰ھ).

## د ونو په لګولو کې حصه

**سوال**: (۵۴۸) زمیندار د خپلې کروندې ځمکې دهقان ته ورکړې او په دغه ځمکه کې ئې څه میوه دارې او څه بې میوې ونې ولګولې مثلا کیکر، شیتم وغیره د کوم چه لرګی پکاریږي هغه هم په دهقان باندې نو که د دغه ونو او میوې څلورم یا پنځمه حصه د دهقان لپاره مقرره کړی شي نو جائزه ده او که نه؟ سائل بالا.



**جواب**: صحیح ده که څه وخت تعین کړي او که نه نو نه ده. "کذا فی رد المختار تحت قول الدر المختار دفع ارضا بیضاء الخ باب المساقاة". ۱۱ شعبان ۱۳۴۹ھ (النور ص ۹ ربیع الاول ۵۰ھ).

## دفع ثمار خام بر شرط خدمت وشرکه نصفا نصف

**سوال**: (۵۴۹)که بائع کچه میوه داسې ورکړي چه شوکول ئې په تا دي او څه میوه چه وشي هغه به نیمه کړو دا څنګه دي؟

**جواب**: جائز دي. "فی الدر المختار هی (ای المساقاة) دفع الشجر الآمن یصلحه بجزء معلوم من ثمره وهی کالمزارعة الخ". ۲۸ رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۷۹).

## تحقیق جواز کاشت افیون

**سوال**: (۵۵۰) د افیونو کر کول جائز دي او که نه؟

**جواب**: جائز دی. (حوادث ۱، ۲ ص۱۹).

## حکم پیداوار کاشت بر نرګاو خرید کرده بمال حرام

**سوال**: (۵۵۱) که شریکان زراعت وکړي د هغوئ نه بعضو غوایان په حلالو اخستلې وي او بعضو په حرامو نو د چا چه په حلال مال اخستلې شوي دي نو هغه له شرکت کول جائز دي او که نه؟ یعنې مشترکه غله چه د زراعت نه حاصله شي د تقسیم نه بعد به حلاله وي او که حرامه؟

**جواب**: که غوایي د حرام مال هم وي مګر چونکه هغه د پیداوار آله ده حصه نه، نو ځکه به په پیداوار کې حرمت نه راځي او مشترکه غله به حلاله وي. ۱۶ ذیقعده ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۹۹).

## صورت جواز سود از کاشتکار موروثي

**سوال**: (۵۵۲)د یوپي په اضلاع کې موروثي قانون جاري دی یعنې کروندګر ته دا حق ورکول شوی دی چه د زمیندار د ځمکې نه خپل کر پرې نه ږدي لیکن د هغې روپۍ د غیر موروثي ځمکې په مقابله کې ډیرې کمې ورکول کیږي لیکن د مقدمې کولو په صورت کې حکومت په قیمت سود لګوي نو که د موروثي ځمکې زمیندار د سود په نوم سره کروندګر باندې مقدمه وکړي او د هغه نه پیسې وصول کړي نو دا شرعا جائزه ده او که نه؟

جواب: د منافع تقوم په اجاره باندې موقوف دی او په تپوس شوي صورت کې عقد ونه موندل شو نو په دې بنا ئې اخستل جائز نه دي صرف د جواز يو صورت کيدی شي چه هغه کروندګر ته تصريحا داسې ووائي چه موجوده قيمت (مثلا ۱۰ روپۍ باندې) مونږ د ځمکې په درکولو راضي نه شو که دومره قيمت (مثلا ۲۰ روپۍ) راکوې کنه نو ځمکه پريږده. که د دې نه وروستو ئې هم هغه وکري نو په هغه به ۲۰ روپۍ واجب شي. د دې وجوب نه بعد به بيا خپل واجب حق که په هر عنوان سره وصولوي نو جائزه ده او هغه روپۍ به مباح وي ۴ جمادی الاولی ۵۳ھ (النور ص ۱۰ بابت ماه جمادی الاولی ۵۴ھ).

## زراعت بیع وشراء زمین هندوستان

سوال: (۵۵۳) علماء په دې مسئلو کې څه فرمائي:

۱_ په پوښي صوبه کې د زميندارانو د سلګونو کلونو نه ځمکې داسې ملکيت دی چه هغوئ د وقف، بيعې، هبې، وراثت وغيره په ذريعې سره د هر حکومت په وخت کې په جائز طور سره هميشه نقل کوي او زميندارن خپلې ځمکې په بل چا کري او د هغوئ نه نيمه غله او د جنس نه هم څه اخلي يا نغدې روپۍ مقرروي، او وصولوي ئې. سوال دا دی چه د مذکور ملکيت په صورت کې او د کروندې طريقه کومه چه په پوښي کې رواج ده د اسلام په اولو صديانو کې د دې وجودشته دی او که نه؟ د زيد دا خيال دی چه د دې طريقې پته په اسلام کې نشته دی؟

۲_ د داسې قسم ځمکو ملکيت او په دې طريقه ئې په بل چا کرل د اسلامي شريعت او فقهې د مخې جائز دي او که نه؟ او د پيداوار نه شريعت د مالك څومره حق مقرر کړی دی؟

۳_ که دا طريقه او ملکيت جائز وي نو مالك دې د ځمکو لپاره د خپلې ځمکې د حقوقو ملکيت او هغومره مفاد څومره چه فقه کې جائز ګرځول شوي وي د محفوظولو کوشش کول صحيح دي او که نه؟

۴_ که د زيد دا دعوه صحيح فرض کړو او ووايو چه د موجوده زميندارن او حقوقو ئې مالکانه کوم چه اوس وارثانه يا متشريانه يا متوليانه دي هغه په جائز طور سره دي يا ناجائزې طريقې سره او د هغوئ منافع د شريعت د مخې حلاله ده او که حرامه؟ او دا منافع په صدقاتو او د خير په کارونو کې مصرفول صحيح دي او که نه؟

۵_ د زيد دا دعوه هم ده چه زميندارن د شرابو د تيکې په شان دي څنګه چه د شرابو تېکه فسخه وي داسې د زميندارانو نه د هغوئ مملوکه ځمکې هم اخستلی او د کروندګرو په



مستقله قبضه کې ورکول کيدی شي اوس ووايئ چه ايا په اول او دويم سوال کې د مذکوره زميندريانو د شرابو تيکې سره مثال ورکول صحيح او جائز دي؟ او آيا مذکوره زميندارياني د مالك د خوښې په خلاف جلکل مفت يا واقعي او يا بازاري نرخ نه کم قيمت کې شرعا منتقل کيدی شي او که نه؟

۶_ د بره ذکر شوي ځمکو په کار خير کې مصرفول صحيح دي او که غلط؟ او د دغې وختونو جبرا انتقال جائز دی او که نه؟

۷_ که په داسې انتقالولو کې کوم عالم يا غير عالم مسلمان هم شامل وي نو هغه له شرعاً د دې حق تلفي مخالفت کول پکار دي او که نه؟

جواب: دا تعامل تصرفات مالکانه د دې چه کله کوم معارض دليل نه وي شرعا به خپله د ملکيت مستقل دليل دی او کله چه ټولو حکومتونو او دې حاضر حکومت هم ورته جائز وويله نو دا د هغوئ د طرف نه د دغه ملکيت اقرار او تسليم دی او د فقهاو په تصريح د اقرار نه رجوع کول د مقر له د رضا نه بغير جائز نه دي او دا حکم دومره ظاهر دی چه په دې باندې دلائلو راوړلو سره شرم راځي. ليکن تبرعا د دلائلو طرف ته هم احتمالا اشاره کوم هغه دلائل د بيعې، هبې، مزارعت، د غنيمتونو د تقسيم او وقف وغيره د احاديثو او تبيع او هبې او اجاراتو وغيره مسائل دي د کوم چه مشترك څيز نص او قطعي اجماع ده. ثبوتا هم او دلالة هم او کوم چه د شرعي جواز سره په تاريخي وقوع هم دلالت کوي بلکه په دې عقودو کې چه کوم صورتونه فاسد دي يا امام صاحب په مزارعت کې څه خبره کړې ده هغه هم د ملکيت دليل دی ځکه چه د دې فساد علت عدم ملك نه دی بکله بعضې عوارضو سره د فساد حکم وکړی شو او کله چه د مالکانو حق ثابت شو نو د هغې لپاره کوشش کول يقينا جائز بلکه په بعضې صورتونو کې طاعت واجب يا مستحب دي او په دې کې سستي کول ناخوښه ګڼل شوي دي. "کما يدل عليه حديث ابوداود عن عوف بن مالك ان النبي صلی الله علیه وسلم قضی بين رجلين فقال المقضی عليه لما ادبر حسبی الله ونعم الوکيل فقال النبي صلی الله علیه وسلم ان الله تعالی يلوم علی العجز ولکن عليك بالکيس فاذا غلبك امر فقل حسبی الله ونعم الوکيل (باب الاقضية والشهادات)". تردې پورې چه دې کې د ځان تللو ته شهادت ويلی شوي دي. حديث "من قتل دون ماله فهو شهيد" په دې کې نص دی او کله چه د دوئ ملکيت صحيح دی نو د دې نه انتفاع په حلاليدو کې څه شبهه کيدی شي الا لعارض. او اول خو کثرت سره هغه ځمکې دي چه د اوسني حکومت نه وړاندې د زميندارانو سره دي. انګريزانو نه دي ورکړي ليکن کومې چه

انګریزانو هم ورکړې دي نو د ورکولو نه وروستو د هغوئ ملکیت شو او کله چه هغوئ مالکان شول نو د هغوئ د خوښې خلاف په دې کې څه قسم تصرف کول که په عوض سره وي او که بغیر د عوض نه پخپله حرام او ظلم دی. او کله چه مملوکه ځمکې کومې چه في نفسه د انتقال قابل دي داسې تصرفات حرام دي نو په هغه وخت کې چه کله د انتقال قابل هم نه وي نو بیا خو به په درجه اولی حرام وي او د داسې ظلم کونکو سره اول خو شرکت جائز نه دی او کومې چه غلطئ سره شریکې وې نو د دې مظالمو نه د خبریدو نه بعد جدا کیدل واجب دي او د جدا کیدو نه وړاندې ترې انکار واجب دی. "کماقال تعالی لاتعاونواعلی الاثم والعدوان، وکما قال تعالی لولا ینهاهم الربانیون والاحبار، الآیه، والله اعلم". کتبه اشرف علی ۱۳ رجب ۵۶ه (النور ص۷ بابت ماه رمضان ۵۶ه).

## د کروندګر د غنمو د قیمت په بدله کې د پرېښودلو حکم

**سوال** :(۵۵٤) د کروندګر سره لیکل صرف د غنمو شوي دي او په ژبه ئې ورسره دا وعده کړې وه چه که زمونږ خواهش سره کله د اخستلو ضرورت راغلو نو څومره چه مونږ وغواړو دغومره چهوړه به اخلو. په خریف فصل کې به د هغې قمیت د غنمو نه کموو کوم چه ۲ فصل ربیع کې وي. اوس زمونږ خوښه ده د ډیر وخت نه مو چهوړه هم نه ده اخستلې. کروندګر همیشه خواهش کوي چه که په فصل خریف کې قیمت واخستل شي نو په دویم فصل یعنې ربیع کې هغوئ ته اساني وي؟

**جواب**: دا خو د معاهدې متعلق ده کوم چه د دواړو رضا ده یعنې معلومه شوې نه ده چه مونږ به د غنمو په بدل کې ضرور قیمت اخلو او د دغه کروندګر د خواهش او درخواست هم څه ویره نشته که قیمت واخلي. (النور ص۷، بابت ماه رمضان المبارک ۵۶ه).

**تتمه سوال** :( ۵۵٤ ) کله داسې هم کیږي چه که په فصل ربیع کې فصل کم وشي غله چاره او باقي څه غنم پاتې شو نو بیا هم زمیندار ته اختیار دی چه هغه خپل خواهش سره که ضرورت ئې وي نو په بقایا غله کې دې قیمت واخلي او که ضرورت ئې نه وي نو په فصل ربیع کې دې خپله غله واخلي؟

**جواب**: په دې کې هم څه حرج نشته.

**تتمه سوال** :( ۵۵٤ ) او اکثره ځایونو کې دا رواج عام دی په پاني پټ کې هرځاي کې دی چه څومره غله د کروندګر سره معلومه شي د خریف فصل په پیداوار کې د جوارو ۱/۳ او د



ربیع په فصل کې غله ۲/۳. که کروندګر دا ادا نه کړی شي نو په فصل ربیع کې به ټول غنم پوره ادا کوي؟

جواب: آیا د غلې نه مراد غنم او د اخستلو په وخت جوار اخلي یا دا چه همغه شان کیږي څنګه چه لیکل شوي دي. د هر صورت حکم جدا دی عبارت صفا نه دی. (النور ص۷ رمضان ۵۶ه).

**تتمه سوال** :( ۵۵٤ ) اوس سوال دا دی چه د خپل ضرورت د وجې نه د ټول غنمو غلې په ځاي همغومره اندازه اخستلی شي؟

**جواب**: اخستلی ئې شي په یو شرط هغه شرط وروستو رازوان دی.

**تتمه سوال** :( ۵۵٤ ) یا د ضرورت موافق ئې ۵ منه په خریف کې وصول کړي نور په ربیع کې دا ۵ منه کې د باقي غلې نه وضع او نوره غله وصول کړی شي نو دا شرعا جائزه ده او که نه؟

جواب: دا هم جائزه ده په دې ذکر شوي شرط سره هغه شرط دا دی چه په کوم مجلس کې چه دا خبره شوې وي چه د مقرره شوو غنمو په ځاي به جوار اخلو که د ټولو غنمو په بدله کې یا د یوې حصې په بدله کې په دغه مجلس کې په دغه جوارو وغیره باندې قبضه وکړی شي داسې نه وي چه معلوم شوې په یو او وصول شوې په بل مجلس کې وي. فرض کئ که په دغه وخت کې جوار یا غنم موجود نه وي او قبضه نه شي کیدی نو داسې کول پکار دي چه په دغه مجلس کې دې صرف وعده وشي چه داسې به ئې اخلو بیا چه کله کروندګر د اخستلو لپاره جوار راوړي نو هغه وخت دې بیا په ژبه وویل شي چه دا جوار په دومره بدله کې درکوو او زمیندار دې ووائي چه زه ئې منظوروم دا ډیره آسانه خبره ده. ۱۲ رجب ۱۳۵۵ه (النور ص۸ بابت ماه رمضان ۱۳۵۶ه).

## د کروندې نه د استعفاء ورکولو متعلق د سوالونو جوابونه

**سوال** :(۵۵۵) نن مې ستاسو یوه فتوی مطالعه کړه په کوم کې چه تپوس کونکي د تاسو نه د کروندې متعلق سوالونه کړي وو او د کروندې د استعفا متعلق څو عذرونه بیان کړي وو کوم چه زه لاندې لیکم:

۱ـ که زه استعفاء وکړم نو زمیندار ته ځمکه نه ملاویږي بلکه کوم چه زاسره شریک دی هغه ته ملاویږي قانونا هغه مستحق دی؟

۲ـ د دې کروندې ۹ زمینداران دي.

۳_ په استعفاء کې به زما ۲۵ روپۍ خرچ کیږي.

۴_ د کور والا یعني د کروندې شریکان به مې دشمنان شي.

۵_ کله چه مقدمه وي زه به د بهون تهانې ته نه شم راتللی او تر فیصلې به همدلته اوسیږم.

۶_ زمیندار وائي تاسو استعفاء مه ورکوئ څه زیاتې روپۍ مقررې کړئ زه په خوشحالۍ اجازت درکوم. د دې ټولو عذرونو نه وروستو تاسو لیکلي وو چه په دې صورت کې به ګناه نه وي. په جواب کې د تپوس خبره دا ده چه په تپوس شوي صورت کې د باضابطه استعفا ضرورت نشته دی صرف زباني معامله کول به کافي وي؟

**جواب**: في نفسه کافي دي. مګر عارض سره د نفي کفایت کیدی شي. (تتمه خامسه ص۵۸).

**سوال**: (۵۵٦) او د عذرونو متعلق سوال دا دی چه په کوم عذر دا حکم متفرع دی؟

**جواب**: ۶ نمبر باندې. (تتمه خامسه ص۵۹).

**سوال**: ------ او د ۱ نمبر عذر متعلق دا ګزارش دی چه که دمسعفي دشهادت په وجه زمیندارته ملاویدی شي نو د مقدمې بار دې مستعفي اوچت کړي او شهادت ورکړي اوکه نه؟

جواب: ضرور دې ورکړی. (تتمه خامسه ص۵۹).

**سوال**: ------ او د ۲ متعلق عرض دا دی چه که یو زمیندار وي نو څه کول پکار دي؟

**جواب**: مدار ئې په رضا دی په شمار نه. (تتمه خامصه ص۵۹).

**سوال**: ------ د ۳ نمبر عذر متعلق عرض دا دی چه که د استعفاء خرچه زمیندار درکړي نو څه حکم دی؟

**جواب**: نو دا عذر به نه وي. (تتمه خامسه ص۵۹).

**سوال**: ------ د ۴ نمبر عذر متعلق عرض دا دی چه استفعاء شرعي حکم دی په هغې کې د کور والاو د مخالفت خیال وکړی شي؟

جواب: نه. مګر دا مستقل عذر نه دی. (تتمه خامسه ص۵۹).

**سوال**: ------ د ۵ نمبر عذر متعلق عرض دا دی چه که څوك په کرلو کې شریك نه وي او د مقدمې کولو والا څوك نه وي نو په دې صورت کې څه حکم دی؟

**جواب**: د دې واقعې دخل په کې نشته دی. (تتمه خامسه ص۵۹).

**سوال**: ------ او د عذر نمبر ۶ متعلق عرض دا دی چه زمیندار چه په دې خبره راضي وي چه استعفاء ورنکړی شي او څه زیاتوالی مقرر کړی شي د دې وجې نه هغه چه هغه دا ګټي



که ورکړی شي نو ما ته خو به نه ملاویږي د کروندې شریك به ئې اخلي نو بهتره همدا ده چه د مخکې کروندګر سره وي چه د هغه نه خو به څه زیاتې ملاو شي؟

**جواب**: کومه رضا چه د زړه نه نه وي کالعدم ده. (تتمه خامسه ص۵۹).

**سوال**: ------ او د دې عذر متعلق یو سوال بل هم کوم که زمیندار په دې خیال سره چه د هغه ویستلو سره څه فائده نشته بل ئې اخلي په مخکې قیمت راضي شو نو دا صورت جائز دی او که نه؟

**جواب**: د دې مدار هم په رضا باندې دی. (تتمه خامسه ص۵۹).

**سوال**: ------ او د دې مسئلې متعلق عرض دا دی چه تاسو اعظم ګړه په سفر کې د بهاګلپور په مقام کې فرمایلي وو چه د کروندګر استعفا ضروري ده ترڅو د هغه اولاد د هغه وروستو د کروندې مدعیان نه شي په تپوس شوي صورت کې به د دې خیال ساتل کیږي؟

**جواب**: ضرور به کیږي. د انتقال الی الاولاد نه وړاندې استعفا ورکول ضروري دي. په ۶ نمبر کې د عارض نه داسې کارونه مراد دي دغه تپوس کونکی په دې ټولو نمبرو پوهه کړئ. (تتمه خامسه ص۵۹).

## حکم نشاندن درخت در زمین زمیندار

**سوال**: ------ نمبر (۱): د یو مسئلې تپوس کوم هغه دا ده چه دلته دا دستور دی چه خلك په غیر آباده ځمکه کې د چا من ونې لګوي او د زمیندار د طرف نه څه منع کول نه وي او نه میوه وغیره اخلي مګر کله چه د ونې لګولو والا هغه ونې خرڅې کړي نو په قیمت کې زمیندار څلورمه حصه اخلي د دې متعلق عرض دا دی چه د دې میوه وغیره صحیح دي او که نه؟ که صحیح نه وي نو څه وکړی شي؟ د زمیندار نه اجازت واخستل شي یا ونې واخستل شي؟

(۲) اودې دستور موافق د زمیندار په ځمکه باندې بغیرد اجازت نه ونې لګول جائز دي او که نه؟

(۳) او که بغیر د اجازت نه ئې ولګوي نو ونې به د چا ملکیت وي؟

جواب (۱): میوه خوړل ئې درست دي که د زمیندار اجازت وي صراحة یا دلالة.

(۲) بغیر د اجازت نه صحیح نه دي لیکن اجازت صراحة او دلالة ته عام دی.

(۳) د لګونکي مګر د ځمکې مالك چه کله وغواړي ځمکه خالي کولی شي.

### شرائط اعتبار اجازت زمیندار کاشتکار موروثي را

سوال :(۵۵۷) (۱). زمیندار که په رضا سره دا ووائي چه ته په خپله کرونده باندې قابض ئي زما څه پرواه او خفګان نشته ماله صرف مال په خپل وخت راکوه نو زه په کې خوشحاله یم دا خبره ئي د کروندګر په مخامخ هم وکړه او په غیبت کې ئي نورو خلکو ته هم وکړه دا کرونده جائزه ده او که نه؟

(۲) او د هغه د مړ کیدو نه بعد به د بل زمیندار په وخت دا کرونده جائزه وي او که نه د هغه رضا به هم اخلي؟

(۳) او د هغه دا وینا چه ما د همیشه لپاره درکړه دا به څه کار وکړي او که نه؟

جواب (۱): دا ویل ځکه کافي نه دي چه مستقبل کې رضامندي د هغه کس معتبره وي چه کله وغواړي د خپلې تبرع نه رجوع هم وُکړی شي او دلته د دې قدرت نه لري. نو ځکه د هغه ضرورت دی چه دا کروندګر یو ځل باقاعده استعفاء ورکړي چه هغه موروثین مات شي او بیا ئې په کرایه واخلي نو جائزه ده.

(۲) پخپله اصل له هغه ویل کافي نه دي نو د هغه لپاره به څنګه وي او که د اصل لپاره هم فرضا کافي وي نو بیا هم د هغه لپاره ناکافي وو لکه څنګه چه ظاهره ده.

(۳) بالکل لغوه ده. ۹ ربیع الاول ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صـ۱۳۲).

## کتاب الشرب

### منع آب خطیر که دران ماهي مملوکه باشند

سوال :(۵۵۸) اکثره ملاحین د ماهي بچي ددریاب نه رانیسي او خلك ئي اخلي او په کندو کې ئي ساتي په کوم کې چه اسماني اوبه جمع کیږي نو د ماهي د حفاظت لپاره اوبه بندول جائز دي او که نه؟

جواب: که دا ځمکه ئي خپل ملکیت وي او نورې اوبه نزدې وي نو بندول ئي جائزدي کله چه د هغې په اخستلو سره ماهیانو ته ضرر نوي. ۳ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه صـ۲۶).



### منع آب نحدیر عظم که دران ماهي مملوکه وغیر مملوکه باشند

سوال :(۵۵۹) او که په همداسې لوي ځاي کې ماهیان وساتي په کوم کې چه قدرتي ماهیان هم وي نو په هغې کې به هم ماهیان بندول جائز وي او که نه؟

جواب: نه، تاریخ بالا. (تتمه ثانیه صـ۲۶).

## کتاب الذبائح والاضحیته والصید والعقیقة

### حکم قرباني از میت وحکم لحم آن اضحیه

سوال :(۵۶۰) د اوښ یا غوا په قربانۍ کې دوه درې کسان شریك شي په هغوئ کې یو یا د یو نه زیات دا خیال وکړو چه کله په دې کې اووه کسانو پورې شریکیدی شي نو زه د رسول الله ﷺ یا بل بزرګ د طرف نه یا د خپلوان د طرف نه که ژوندی وي او که مړ شریك شم او ۷ حصې پوره کړم او د هغوئ د طرف نه د حصې مطابق قیمت ادا کړم نو دا جائزه ده او که نه؟

جواب: جائزه ده ځکه چه د ژوندي او مړي نه د قربانۍ یو حکم دی. "فی الدرالمختار وان مات احد السبعة وقال الورثة اذبحوا عنه وعنکم صح الی قوله لقصد القربة من الکل اه؛ والله اعلم". ۱۸ ذیقعده ۱۳۲۰ھ (امداد جـ۲، صـ۱۱۲).

ایضاً

سوال :(۵۶۱) که د مړي د طرف نه قرباني وکړای شي نو د هغې د غوښې د تقسیم څه حکم دی؟

جواب: "فی الدرالمختار فرع من ضحی عن المیت یصنع کما یصنع فی اضحیة نفسه من التصدق والاکل والاجر للمیت والملك للذابح قال الصدر والمختار انه ان یامر المیت لایاکل منها والا یاکل بزازیة وسیذکره فی النظم اه". د دې روایت نه معلومه شوه چه د مړي د طرف نه قرباني په دوه قسمه ده. یو دا چه مړی په خپله ترکه کې د قربانۍ وصیت وکړو او مړ شو د دې قربانۍ ټوله غوښه مسکینانو ته ورکول واجب دي دویم دا چه کوم کس د خپل مال نه تبرعا د مړي د طرف نه قرباني وکړي په دې کې قرباني کونکي ته اختیار دی څومره چه وغواړي هغه دې وخوري او څومره چه وغواړي هغه دې ورکړي اګر که ټوله پخپله وخوري، فقط والله اعلم. ۱۸ ذی الحجه ۱۳۲۴ھ (امداد جـ۲، صـ۱۱۵).

ایضاً

**سوال** :(۵٦۲) د متوفي د طرف نه د قربانۍ کولو څه مطلب دی ایا د خپل طرف نه یوه حصه قرباني وکړي او متوفي ته ئې ثواب وبښي یا د نورو شریکانو په شان چنده وکړي او د هغه په نوم حصه مقرره کړي او قرباني وکړي، فقط؟

**جواب**: دواړه قسمه صحیح ده، فقط. یکم ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص۵).

### حکم چرم قرباني وحکم صرف کردن آن در مدارس وحکم چرم دادن غني را

**سوال** :(۵٦۳) په دې وخت کې دمدرسې دا حال دی چه اکثره مسکینان او غریبانان په کې درس وائي او بعضې طالبان د بهر هم دي هغوئ هم په مدرسه کې درس وائي او مالدارانو ځامن هم په کې درس وائي مګر بعضې خلك کوم چه مالداره دي مدرسې ته چنده هم ورکوي مګر چنده نه کافي کیږي ډیر راته د څرمنو روپئ معلومیږي نو آیا د قربانۍ څرمنې خرڅول او مدرسې لهترې تنخواه ورکول جائز دي او که نه؟ او د مدرسې په نورو مصرفونو کې خرچ کول جائز دي او که نه؟ څنګه چه تاسو ولیکئ هغه شان به کیږي او مالداره له د قربانۍ څرمن ورکول جائز دي او که نه؟

**جواب**: "فی الدر المختار فان بیع الجلد اواللحم به ای بمستهلك اوبدراهم تصدق بثمنه وفی ردالمختار وسکت عن بیع اللحم به ای بما یتقی عینه للخلاف فیه الی قوله والصحیح انهما سواء الخ". د دې روایتونو نه دوه خبرې معلومې شوې یو دا چه د څرمن د قیمت صدقه کول واجب دي نو د غریبو طالبانو په اعانت کې او د دې نه بغیر بل څه کې مصرفول جائز نه دي. دویم دا چه مالدار له پخپله څرمنه ورکول جائز دي لیکن که د دې نه دا غرض حاصلول وي چه د قربانۍ والا مالداره له ورکړ یاو هغه ئې خرڅه او چیرته چه وغواړي مصرف ئې کړي نو د دې د صحیح کیدو لپاره دوه شرطونه دي اول دا چه ورکونکی ئې هغه ته د ملکیت په طور ورکړي داسې نه وي چه یو کلی د دې طریقې خورول کول کافي وګڼل شي ځکه چه ورکونکي کله لفظي تصریح ونه کړي چه مونږ ئې خاص تاته درکوو او په دغه صورت کې به دغه مالداره مالك نه وي بلکه وکیل به وي د کوم بیعه چه د قربانۍ د صاحب په منزل دي او بیا به تصدق واجب وي د کوم د وجې نه چه د غریبو طالبانو نه علاوه په نورو مصارفو کې مصرفول صحیح نه دي. دویم شرط دا دی چه حقیقتاً مالك هم جوړ کړی شي صرف حیله ونه شي د کوم چه علامت او امتحان دا دی چه که دا غني دا خرڅه کړي او خپلو خاصو حاجتونو کې ئې خرچ کړي نو ورکونکي ته به سخت رویه نه وي او د هغې شکایت مذمت یا په زړه کې به ئې څه تنګوالی



او انقباض نه وي او که د دې دوه شرطونو نه یو هم ورك شي نو هغه مالداره به ئې مالك نه وي بلکه وکیل وي د کوم بیان چه د اول شرط په ضمن کې تیر شوی دی. بنه دې پوهه شئ او د مدرسې چلولو ضرورت سره غیر مشروع افعال هیڅ قسم هم مشروع او مباح کیدی نه شي، والله اعلم. ۲۰ ذی الحجه ۱۳۲۳ھ (امداد ج۲، ج۱۱۴).

### د بره په شان

**سوال** :(۵٦٤) د قربانۍ د څرمن د قمیت نه مدرس ته تنخواه ورکول جائز دي او که نه؟ که جائز وي نو ثبوت ئې څه دی؟

**جواب**: "فی الدر المختار ویتصدق بجلدها الی قوله فان بیع اللحم اوالجلابه اوبدراهم تصدق بثمنه وفیه والصدقة کالهبة بجامع التبرع وحینئذ لا تصح غیر مقبوضة الخ". د دې روایتونو نه معلومه شوه چه د څرمن د قیمت صدقه کول د تبرع په طور واجب دي او ظاهره ده چه مدرسینو ته تبرعا نه ورکول کیږي لهذا تصدق به واجب او ادا نه شي نو ځکه جائزه نه ده علي هذا په کوم کې چه تملیك او قبض نه وي لکه په جوماتونو وغیره کې خرچ کول دا هم جائز نه دي، لکه څنګه چه د نورو روایتونو نه معلومیږي.، والله تعالی اعلم. ۲ ربیع الاول ۱۳۲۴ھ (امداد ج۲، ص۱۱۵).

### چرم قرباني در مدارس

**سوال** :(۵٦۵)د قربانۍ خرڅمنه یا ئې قیمت مدرسې ته ورکول جائز دي او که نه؟ او د جواز په صورت کې متولي له د مدرسې د ضرورت لپاره څرمن خرڅول او کتابونه فرشونه وغیره جوړول او اخستل بغیر د تملیك نه جائز دي او که نه؟

**جواب**: په مدرسو کې مصارف مختلف دي په جائز مصرف کې د مصرفولو لپاره ورکول صحیح دي او متولي وکیل دی د مالك هغه تصرف چه ورله صحیح دی متولي له هم صحیح دی د کوم تفصیل چه دا دی چه یا خو څرمنه کوم حاجت مند طالب علم له ورکړي یا پخپله د څرمن نه څه شی جوړ کړی شي. مثلا د کتابونو جلدونه، کتاب، لباس او داسې نور او دا ټول صورتونه د بیعې نه وړیندې دي او که څرمن ئې خرڅه کړه نو دغه وخت کې د دې نه علاوه چه کوم حاجت مند ته ئې ورکړې مصرفول ئې جائز نه دي نو په دې قیمت به فرش، کتابونه وغیره اخستل صحیح نه وي او که داسې ئې وکړل نو د دغه څیزونو تصدیق به واجب وي او که د تصدق په وخت په کومه وجه د هغې قیمت کم شي نو د دغه کموالي به د

خپل طرف نه تاوان ورکوي او هغه تاوان به هم صدقه کیږي. "فی الدر المختار ویتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراب وقربة وسفرة ودلو اویبدله بما ینفع به باقیا کما مرلا بمستهلك كخل ولحم ونحوه كدراهم فان بیع اللحم والجلد به ای بمستهلك اوبدراهم تصدق بثمنه اه وفی رد المختار كما مر ای فی اضحیة الصغیر وقال فی اضحیة الصغیر ومابقی یبدل بما ینفع الصغیر بعینه كثوب وخف فی رد المحتار ظاهره انه لایجوز بیعه بدراهم ثم یشتری بها ما ذكره ویفیده ما تذكره عن البدایع وفی رد المحتار قبیل باب الرجوع فی الهبة والصدقة كالهبة وقال فی الدر المختار فی بدء كتاب الهبة هی تملیك العین مجانا اه قلت فافاد اشتراط التملیك فی الصدقة فحیث ما وقع التصدق یجب فیه التملیك فقط والله تعالی اعلم. ۵ جمادی الاولی ۲۳ھ (امداد ج۱، ص۱۶۱).

## صرف چرم قرباني نمودن وغيره

سوال :(۵۶۶) په بعضې ځایونو کې دا دستور دی چه د قربانۍ څرمنې د جوماتِ خادمانو یا اوبه راوړونکو ته ورکول کیږي که ورنکړای شي نو جګړه کیږي په دې صورت کې خو قربانۍ کې څه فرق او خرابوالی نه راځي؟

جواب: په قربانۍ کې خو یو حال سره هم فرق نه راځي مګر دا کار چه دا جائزه ده او که نه؟ نو د دې حکم دا دی چه که دا څرمن د خدمت په بدل کې وي او معروف یا مشروط وي نو جائزه نه ده ځکه چه دا مبادله ده د خدمت په مقابل کې په کوم کې چه د بیعې معنی ده او خرڅول د دې وجې نه منع دي او که تبرعا ورکړی شي نو جائزه ده چونکه په تبرعاتو کې جبر حرام دی نو ځکه جنګ کول جائز نه دي، فقط والله اعلم.

ایضاً

سوال :(۵۶۷) د قربانۍ د څرمنو روپۍ د مدرسینو په تنخواه کې ورکول جائز دي اوکه نه؟ او طالبانوته دانعام په طور ورکول جائز دي اوکه نه؟ هندو وي او که مسلمان غني وي او که فقیر؟

جواب: فقهاو د دې تصریح کړې ده چه ترڅو پورې څرمن خرڅه نه شي نو هر چاته ئې ورکول بلکه پخپله ئې استعمالول هم جائز دي او کله چه خرڅه کړی شوه نو د هغې قیمت صدقه کول واجب دي. او د تصدق په څرنګوالي کې تملیك ماخوذ دی او چونکه دا صدقه واجب ده نو ځکه د دې مصارف د زکات د مصارفو په شان دی نو د مدرسینو په تنخواه کې د هغې صرف کول جائز نه دي. البته غریب مسلمان طالب علم چه د زکات مصرف کیدی شي هغه ته د انعام یا خوراك او پوشاك په طور تملیکا ورکول جائز دي او هندو او مالداره ئې مصارف نه دي، فقط. (امداد ج۱ ص۱۶۸).



ایضاً

سوال :(۵۶۸) ستاسو رساله "جنتي کالی" کې دریمه حصه ۴۵ صفحه کې د قربانۍ په مسائلو کې لیکلي دي چه د قربانۍ څرمن خو دي یا خیرات کړي یا دې خرڅه او د هغې قیمت دې خیرات کړي. ستاسو د دې لیکولو موافق زمونږ په ملك کې خلك څرمنې خرڅوي او خیرات په نیت ئې خیرات کوي لیکن دې کال کې یو کس ستاسو د فرمان مخالفت کوي او وائي چه د قربانۍ څرمنه د خیرات په نیت خرڅول مکروه تحریمي دي لهذا زر جواب راکړئ؟

جواب: "قال العینی فی شرح الکنز ولا یبیعه بالدراهم لینفق الدراهم علی نفسه وعیاله والمعنی انه لا یتصرف علا قصد التمول واللحم بمنزلة الجلد فی الصحیح حتا لا یبیعه بما لا ینتفع به الا بعد الاستهلاك ولو باعها بالدراهم لیتصدق بها جاز لانه قربة کالتصدق باللحم والجلد اه". دا عبارت نص دی د جنتي کالی د مسئلې په صحت باندې او د مخالفت د قول په عدم صحت باندې، والله اعلم. ۵ محرم ۵۳ھ (النور ص۷، جمادی الاولی ۱۳۵۴ھ).

## د غوټې نه دپاسه ذبحه کول

سوال :(۵۶۹) که څاروی د غوټې دپاسه ذبح شي یا په مینځ کې نو د دغه څاروي خوراك حلال دی او که حرام؟

جواب: په دې کې علامه شامي ډیر زیات اختلاف نقل کړی او دا فیصله ئې کړې ده چه د تجربه کارانو نه تپوس کول پکار دي چه د غوټې دپاسه ذبحه کولو سره د څلورو نه درې رګونه یعنې حلقوم، مرئ او ودجین قطع کیږي او که نه؟ که قطع کیږي نو حلال دی او کنه نو حرام. ۱۴ رمضان ۱۳۲۱ھ (امداد ج۲، ص۱۱۳).

ایضاً

سوال :(۵۷۰) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د حلالکې رګونه کوم کوم دي او که د ذبحې ټول رګونه قطع نه شي نو ذبیحه صحیح ده؟

جواب: د ذبحې عروق یو حلقوم دی یعنې د ساه لاره، دویم مرئ یعنې د خوراك او څښاك لاره، دریم او څلورم ودجین یعنې شه رګ کوم چه د حلقوم او مرئ ښي او چپ طرف ته وي. "وعروقه الحلقوم والمري والودجان در مختار". که ټول کټ نه شي نو د دریو کټ کیدل کافي دي. وحل مذبوح بقطع اي ثالث منها در مختار. (امداد ج۲ ص۱۱۶).

ایضاً

**سوال**:(۵۷۱) د مذبوحه فوق العقده څه حکم دی؟ حلال دی او که حرام او که مکروه؟

**جواب**: مذبوح فوق العقده کې د فقهاو اختلاف دی د بعضو په نزد مطلقا حرام، د بعضو په نزد مطلقا حلال. نو طحطاوي دا ټول اختلافات نقل کړي دي او د جانبینو دلائل ئې ذکر کړي دي لیکن ترجیح ئې حرمت له ورکړې ده او ویلي ئې دي چه احتیاط متفق علیه دی یعني مذبوحه تحت العقده بالاتفاق حلاله ده او دې ته حلال ویل پکار دي. او د مختلف فیه نه احتراز واجب دی. "قال صاحب المواهب يتعين الذبح بين الحلق البتة تحت العقدة وقيل مطلقا وكذا قال ابن كمال باشا لم يجز فوق العقدة وافتى بعضهم بالجواز ومال الزيلعى الى تعين الذبح تحتها وكذلك الشمنى وذكره نحوه ملا على وذكره الشرنبلالى عن الزيلعى واقره وقال الاتقانى عن الرستغفنى ويجوزا كلها سواء بقيت العقدة مما يلى الراس اومما يلى الصدر وشنع على من افتى بالحرمة فى ذلك والذى ظهر لى ان الحق قول الزيلعى ومن معه وعلى كل فالاحتياط فى المتفق عليه طحطاوى مختصر كلكتى جـ۴ صـ۱۵۰ والله اعلم. ۲۳ جمادی الاولی ۱۳۱۲هـ (امداد جـ۲ صـ۱۱۷.

ایضاً

**سوال**:(۵۷۲)که د چیلۍ د حلالولو په وخت وینه ډه ته لاړه شي نو داسې ذبحه خوړل شرعا جائز دي او که نه؟

**جواب**: که په فوق العقده کې مرئ په حلقوم او ودجین کټ شي خو ذبیحه حلاله ده د دې خبرې د تجربې والا نه تحقیق کول پکار دي. او چا چه په دې صورت کې حرام ویلي دي په دې بنا چه داسې ذبحه کولو کې رګونه نه کټ کیږي نو که دا بناء صحیح ثابته نه شي نو د حرکت حکم به ثابت نه وي. ۲۶ ذی الحجه ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه صـ۱۰۴).

ایضاً

**سوال**:(۵۷۳) هدایه کې دي: "الذكاة وهى اختيارية كالجرح فيما بين اللبة واللحيين" او په قاضي خان کې دي:"ومحل الزكاة فى القدور ذبحه اهليا كان او وحشيا الحلق كله لقوله عليه الصلوة والسلام الذكاة ما بين اللبة واللحين". او په سراجیه کې دي: "موضع الذكاة الاختيارية ما بين اللبته واللحيين". د دې عبارتونو نه زه دا پوهه شوم چه د اختیار په حالت کې د ذبحې محل په کوم هډوکي چه غاښونه ولاړ وي د هغې د لاندې نه تر سینې پورې اوس عرض کوم چه زما دا پوهه صحیح او مفتي به ده او که نه؟

**جواب**:تاسو د عبارت په معنی صحیح پوهه شوي یئ مګر خبره دا وه چه دا مینځ مطلق دی او که مخصوص او د دې وجه دا ده چه په دې خو د ټولو اتفاق دی چه د خاصو رګونو کټ



کیدل ضروري دي مګر بعضو په خپله مشاهده دا دعوه کړې ده چه فوق العقده کټ کولو سره دا رګونه نه کټ کیږي نو ځکه هغوئ د دې ما بین مصداق تحت العقده ویلي دي نو د دې تحقیق د رګونو د تشریح نه هر کس کولی شي، فقط. ۶ ربیع الاول ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی صـ۱۳۴).

ایضاً

**سوال**:(۵۷٤)جناب حضرت مولانا مولوي محمد اشرف علي صاحب! "سلمکم الله تعالی السلام علیکم ورحمة الله". مطلب که آنچه دربار مذبوحه فوق العقده فتوی اوشاباً اشد ازان مطلع فرموده باشند واز مولانا خلیل احمد صاحب نیز جواب خواستاینده شده است، واز مدرسه دیوبند شریف نیز جواب باین الفاظ "اقول بالله التوفيق حل المذبوح فوق العقدة هو الراجح رواية ودراية فقط والله تعالى اعلم؛ كتبه الاحقر عزيز الرحمن عفى عنه مفتى دار العلوم ديوبند" آمده است اکنون آنچه بنظر اوشان موجب شریعت غراء آمده است ارسال داشته باشند تا عند الناس مشکور بوده باشند؟

**نقل تحریر حضرت مولانا خلیل احمد صاحب مدظله العالی**

مکرم او محترم جناب حاجي شیر محمد شاه سلمکم الله تعالی!

ستاسو تحریر د فریقینو د مسئلې سره راورسیدو، ما څو کاله د دې مسئلې تحقیق کې تیر کړي دي او ما د دې تحقیق لپاره پخپله د غوا سر راغوښتلی او کتلی مې دی زما په نزد محرمین چه دا وائي چه که فوق العقده ذبحه وشي نو حلقوم او مرئ نه قطع کیږي دا صحیح نه ده. د دې منشا عدم تجربه ده وګوره حلقوم په غوټه باندې ختم نه شو. بلکه د سر بل طرف ته هم تللي لهذا دا دعوه چه که ذبحه فوق العقده وشي نو حلقوم او مرئ به نه قطع کیږي ډیره تعجبي خبره ده او دا داسې قول دی چه نه ئې د کتاب الله نه تائید شته دی او نه د سنت رسول ﷺ نه بلکه حدیث الزکوة ما بین اللبة والحیین د دې مصدق دی د دې متعلق چه څومره روایتونه مولانا محمد سعدالله صاحب انصاري مفتي خیرکور لیکلي دي کافي او وافي دي ماته د هغې نه د زیات لیکلو حاجت نشته لیکن ستاسو د اطمنان لپاره ئې د امام شمس الائمه سرخسي د مبسوط نه نقل کوم. "وان نحر البقرة حلت ويكره ذلك كما بين ان السنة فى البقر الذبح قال الله تعالى ان الله يامركم ان تذبحوا بقرة بخلاف الابل فالسنة فيه النحر وهذا لان موضع النحر من البعير لا لحم عليه وما سوى ذلك من حلقه عليه لحم غليظ فكان النحر فى الابل اسهل فاما فى البقر اسفل الحلق واعلاها فاللحم عليه سواء كما فى الغنم فالذبح فيه ايسر والمقصود تسييل الدم والعروق منه

اسفل الحلق الی اعلاه فالمقصود بالقطع فی ای موضع کان منه فلهذا اخل وهو معنی قوله ﷺ الذکوة ما بین اللبة واللحیین ولکن ترك الاسهل مکروه فی کل جنس لما فیه منه زیادة ایلام غیر محتاج الیه (مبسوط جزء ۱۱ کتاب الذبائح).

## الجواب من اشرف علي

په حلالوالي او حراموالي کې دواړو قولونو کې اختلاف صرف په دې باندې دی چه ذبح فوق العقده کې مرئ او حلقوم قطع کیږي او که نه؟ نو دا کار د مشاهدې متعلق دی. د مشاهدې نه بعد په کې د اختلاف گنجائش نشته دی. او چونکه د قطع کیدو د روایت مشاهده د ثقاتو نه محققه شوه نو ځکه به اوس د حلالوالي حکم ورکولی شي څه موده وشوه چه ما د دې د حراموالي فتوا د فقې د کتابونو نه نقل کړې ده اوس ترې رجوع کوم. ۲۳ ذیقعده ۱۳۳۹ھ (ترجیح خامس ص ۱۲۲).

## جواز اشتراء ذبیحه بعوض چرم ذبیحه دیگرو

سوال :(۵۷۵) کوم څاروی چه د صدقه نافله په نیت سره ذبحه کړای شو او څرمنه چه د فقیرانو او مسکینانو حق دی په هغې کې تصرف کول چه څرمن خرڅه کړي او هغې باندې بل د صدقې والا څاروی واخستل شي او د صدقې په نیت ذبحه کړی شي او هغه څرمن ئې مسکینانو له ورکړي دا جائزه ده او که نه؟

د نفلي صدقې لپاره یو څو کسانو چنده وکړه او څاروي ئې واخستل او چنده ورکونکو کې بعضې خلك فقیران او محتاج هم دي نو اوس د دغه څاروو غوښه دغه فقیرانو او محتاجو ته ورکول چه په چنده کې شریك دي څنگه ده که صحیح نه وي نو دا حیله د جواز لپاره کافي کیدی شي او که نه؟ چه مثلا ۵ کسان په یوه یوه روپۍ کې شریك دي نو د غوښې ۵ حصې کړای شي او یوه حصه مثلا زید، یو عمرو یو فلان او فلان علیحده کړی شي او د زید حصې نه عمرو ته او د عمرو د حصې نه زید ته غوښه ورکړي؟

جواب: صحیح ده که د تقسیم نه وړاندې داسې وکړای شول نو په دې کې چه څومره د دغه کس حصه ده کوم ته چه غوښه ورکړی شوې ده هغه به صدقه نه وي او د تقسیم نه بعد که یو بل ته ورکړه نو د ټولو صدقه به ادا شي لیکن که د وړاندې نه ئې دا شرط ولگولو نو بیا د ثواب امید نشته دی بلکه که د دې شرط خلاف کولو سره جبر یا د نزع احتمال وي نو معصیت به وي. ۱۵ شوال ۱۳۲۱ھ (امداد ج ۱، ص ۱۵۶).



## حکم دادن قیمت چرم قرباني درحجاز ریلوی

سوال :(۵۷۶) د څرمنو قیمت حجاز ریلوی ته ورکول څنگه دي. صحیح دي او که نه؟

جواب: چونکه د قربانۍ څرمنو ورکولو کې تملیك واجب دی او د ریل په چنده کې تملیك نه وي نو ځکه دې له ورکوو سره به هغه نه ادا کیږي. ۶ ذی الحجه ۱۳۲۱ھ (امداد ج ۲، ص ۱۱۳).

## حکم قرباني گوسپند که به شیر نجس پرورش یافته

سوال :(۵۷۷) د چیلۍ بچی چه د سور په شیدو ئې پرورش شوی وي حلال دی او که نه؟ او د دې قرباني جائزه ده او که نه؟

جواب: "فی الدر المختار کم حل اکل جدی غذی بلبن خنزیر لان لحمه لا یتغیر وما غذی به یصیر مستهلکا لا یبقی له اثر وفی رد المحتار ان ابن المبارك قال معناه اذا اعتلف ایاما بعد ذلك کالجلالة وفی شرح الوهبانیة انه یحل اذا ذبح بعد ایام والالا". د دې روایتونو نه معلومه شوه چه هغه بچی حلال دی لیکن څو ورځو پورې هغې له نوره چاره ورکول پکاردي همداسې قرباني هم صحیح ده، فقط. ۱۷ رمضان ۱۳۲۲ھ (امداد ج ۲ ص ۱۱۳).

## حکم قرباني جانور خرید کرده از نیلام

سوال :(۵۷۸) د نیلام د کور نه کوم څاروی اخستل او په هغې قرباني کول او د څاروو کور ته لیږل څنگه دي؟

جواب: "فالدر المختار وان غلبوا (ای اهل الحرب) علی اموالنا واحرزوها بدارهم ملکوها". او د عمل نجي هاوس نائب دی، د مستولین نو استیلاء تملکا سره به هغه څاروی د سرکار ملکیت شي لهذا د بیعې په وخت د هغې اخستل جائز دي او کله چه دا بیع په صحیح ملکیت کې داخله شوه نو قرباني ئې هم صحیح ده البته عرفا د بدنامط موجب گرځي نو ځکه بغیر د ضرورت نه بدنامیدل بالخصوص د مقترا لپاره ښه نه دي او په نجي هاوس کې د څاروو داخلول په دې کې تفصیل دا دی چه که یو څاروی پخپله پټي ته تللی وي د هغې داخلول خو بالکل جائز نه دي ځکه چه په دې کې د مالك نه تاوان نه اخستل کیږي نو د هغه نه څه اخستل یا په کې مدد کول ظلم دی او که چا قصدا څاروی وغیره پټي ته داخل کړی وي نو په هغه باندې د نقصان په اندازه تاوان دی دغه اندازې پورې که ئې په نجي هاوس کې وصول کړي نو جائزه ده او د هغه نه د جرمانې په طور زیاتې اخستل ناجائز دي ځکه چه دا تغیر بالمال

دی او د احنافو په نزد منسوخ. "كما صرحوا به فى الدر المختار اخر باب جناية البرهيمة ادخل غنما اوثورا او فرسا او حمارا فى زرع اوكرم اوسائقا ضمن ما اتلف والا لاوقيل يضمن وقال الشامي مرجحا للقول الثاني اقول ويظهر ارجحية هذا القول لموافقة لما مر اول الباب من انه يضمن ما احدثته الدابة مطلقا اذا ادخلها فى ملك غيره بلا اذنه لتعدية واما لو يدخلها ففى الهداية ولو ارسل بهيمة فافسدت زرعا على فورها ضمن المرسل وان مالت يمينا اوشمالا وله طريق الاخر لا يضمن لما مراه. ۵ محرم ۱۳۲۳ھ (امداد ج ۲. ص ۱۱۳

ایضاً

**سوال**:(۵۷۹) د کانجي هاوس نه ليلام شوی څاروی اخستل چه د مالك نه د غلا په وجه يا د ليوني كيدو په وجه بند شوی وي د غلا تشريح دا ده چه كوم غل څاروی راوستلو او هغه د كوم الزام نه د بچ كيدو لپاره كانجي هاوس ته وركړو حكومت مالك ته يوې ذريعې سره هم اطلاع نه وركوي. ۱۵ ورځې ئې هلته ساتي او بيا ئې په خپل اختيار ليلاموي او قيمت ئې پخپله اخلي داسې د ليلام اخستونكي له جائزه ده چه په دغه څاروي قرباني وكړي او كه نه؟

**جواب**: په دې دواړو حالتونو كې شرعا د قيمت تصدق واجب دی. پخپله ئې ساتل درست نه دي كله چه د بائع قيمت پخپله د ساتلو وي او اخستونكي ته معلوم شي نو د هغې اخستل اعانت على الغير المشروع دی نو ځكه صحيح نه دی او د استيلاء مسئله دلته پته ده ۲۲ ذيقعده ۱۳۳۹ھ (حوادث ج۵ ص۴۶).

## حكم قرباني گاو كه پوست شاخش دور شده باشد

**سوال**:(۵۸۰) د كومې غوا چه د ښكر يو پوستكی لرې شي او ښكر ئې ماته نه شي نو د هغې قرباني صحيح ده او كه نه؟

**جواب**: صحيح ده. كذا في ردالمحتارودر المختار. والله تعالى اعلم. ۱۵ رمضان ۱۳۲۳ھ (امداد ج۲. ص۱۱۴).

## د قربانۍ څاروي ښكر ماتيدل عيب دی او كه نه؟ د حضرت علي رضي الله عنه

## په حديث كې چه كوم د ښكر ماتيدلو عيب ذكر دی د هغې معنی

**سوال**:(۵۸۱) (۱) ښكر ماتيدل د قربانۍ په عيب كې داخل دي او كه نه؟ (۲) كه وي لكه څنگه چه د حضرت علي د حديث نه معلوميږي نو په هر ښكر كې څومره ماتوالی په عيب كې داخل دی؟ او د هر ښكر به مستقل لحاظ ساتل كيږي او كه نه مجموعي ته به ئې گورو؟



**جواب**: (۱) نه. كذا في رد المحتار. (۲) هغه حديث محمول دی په اوليت باندې يا مكسوره المخ باندې. ذی الحجه ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۱۳۷).

## كه ښكر د مغزو پورې مات شوی وي نو په هغې د قربانۍ عدم جواز

**سوال**:(۵۸۲) قاضي خان څلورم جلد صفحه ۳۳۴ كې ليكلي دي: "يجوز الجماء فى الاضحية وهى التى لاقرن لها خلقة وكذلك مكسور القرن". د دې عبارت مطلب باندې زه داسې پوهه شوم، چه د كوم ښكر بالكل تر مغزو پورې مات شوی وي قرباني د هغه بغير د كراهت نه درسته ده دا پوهه زما صحيح ده او كه نه، وښايئ؟

**جواب**: ستاسو دا گڼل د دې په وجه چه د دې خلاف په كتابونو كې مصرح دی او كه نه. "فى رد المحتار فان بلغ الكسر الى المخ لم يجز قهستانى، ج۵، ص۳۱۵". ۹ ذيقعده ۱۳۳۰ھ.

## عدم جواز قرباني گاوی كه شاخش از بيخ رفته باشد

**سوال**:(۵۸۳) يوه غوا د قربانۍ لپاره ده د كوم چه دواړه ښكرې ئې د بيخ نه راوتلې دي او د ښكر هډوكي ئې نه دي مات شوي نو د داسې څاروي قرباني جائزه ده او كه نه؟

**جواب**: "فى رد المحتار ويضحى بالجماء هى التى لا قرن لها خلقة وكذا العظماء التى ذهب بعض قرنها بالكسر او غره فان بلغ الكسر الى المخ لم يجز قهستانى وفى البدايع ان بلغ الكسر المشاش لا يجزى والمشاش روس العظام مثل الركبتين والمرفقين".

كله چه د غوا ښكرې ماتې شوې نو دننه چه كوم هډوكي دي او مغزه په كې دي تر هغه ځاي پورې ماتوالی ورسيد نو د مذكوره روايتونو په بنا د هغې قرباني جائزه نه ده اگر كه دننه هډوكي نه وي مات شوي. والله اعلم. ۱۳ ذی الحجه ۱۳۲۴ھ، (امداد ج۲. ص۱۱۵).

## عدم وجوب قرباني بر فقير به نيت قرباني در جانور معين

**سوال**:(۵۸۴) يو كس چه د نصاب خاوند نه دی د قربانۍ په موسم كې ئې قرباني وكړه او يو وړوكی څاروی چه ورسره وو او ملكيت ئې وو ويې ويل چه انشاء الله آئنده به دا قرباني كوم آيا دا نيت وشو او په هغه قرباني واجب شوه او كه نه؟

**جواب**: "فى رد المحتار تحت قول الدر المختار وفقير شراها لها ما نصه فلو كانت ملكه فتوى ان يضحى بها او اشتراها ولم ينوالاضحية وقت الشراء ثم نوى بعد ذلك لا يجب لان النية لم تقارن الشراء فلا تعتبر بدايع". د دې

روایت په بنا په تپوس شوي صورت کې هغه کس باندې د دغه ځاروي قرباني واجب نه ده، فقط. یکم جمادی الثانیه ۱۳۲۵ھ (امداد ج۲، ص۱۱۶).

**سوال**: (۵۸۵) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د کافر کتابي ذبیحه او د هندو خرخ کړې څیز څنګه دی؟

**جواب**: د کتابي ذبیحه قراني نص باندې حلاله ده. "قال الله تعالی: وطعام الذین اوتوا الکتاب حل لکم". ای ذبائح الیهود والنصاری جلالین. مګر شرط دا دی چه د غیر الله په نوم ئې ذبحه نه کړې کنه نو حرامه ده. "فی الدر المختار اذا سمع منه عند الذبح ذکر المسیح علیه السلام". او بعضې فقهاو شرط کړی دی چه کتابي معتقد الوهیة عزیر ونصراني معتقد الوهیة عیسی علیه السلام نه وي ممګر عام روایات مطلق دي مګر احتیاط دا دی چه د اختلاف د ځاي نه ځان وساتي. "هکذا حققه العلامة الشامی فی رد المحتار، ذبیحه تارك الصلاة". حلاله ده څکه چه مونځ د ذبیحې د جواز د شرط نه نه دی. "فی الدر المختار وشرط کون الذابح مسلما الخ من غیره تقییده بالمصلی" د هندو خرخونکې ذبیحه حلاله نه ده اګر که ووائي چه دا مسلمان ذبحه کړې ده. "واصله ان خبر الکافر مقبول بالاجماع فی معاملات لا فی الدیانات در مختار وفی رد المحتار عن التاتارخانیة عن جامع الجوامع لابی یوسف من اشتری لحما فعلم انه مجوسی واراد الرد فقال ذبحه مسلم یکره اکله اه ومفاد ان مجرد کون البائع مجوسیا ثبت الحرمة اه". البته که د حلالکې د وخت نه د خرخولو تر وخت پورې ورته یو مسلمان ګوري نو بیا ئې اخستل حلال دي. (امداد ج۲، ص۱۱۶).

ایضاً

**سوال**: (۵۸۶) الله ﷻ فرمائي: "وطعام الذین اوتوا الکتاب حل لکم" ای ذبایحهم کما اجمع علیه المفسرون. نو آیا د یورپ سفر کونکي مسلمانانو لپاره د هغه ځاي د حلالو ځاروو خوړل ست دي او که نه؟

**جواب**: په دې مسئله کې څو مقاماتو باندې کلام دی. اول مقام: دا چه آیات د اهل کتابو په باره کې دی او اهل کتاب د کوم قوم نوم نه دی بلکه د هغه مذهب والاو لقب دی چه د کوم مرسل نبي تصدیق کوي او د کوم کتاب اقرار کوي. "کذا فی الدر المختار کتاب النکاح". او نن صبا چه د یورپ والاو کوم حالات مونږ اوریدلي دي د هغې نه معلومیږي چه په هغوئ کې اکثره داسې دي چه صرف د قوم په لحاظ سره عیسائیان ګڼل کیږي لیکن د مذهب په اعتبار سره هغوئ بالکل هم عیسائیان نه دي بلکه هغوئ پخپله مذهب ته بیکاره وائي او د الحاد او



دهریت خیالونه لري کوم چه به دوئ کې د سائنسي د اشتغال یا داسې خلکو د ملګرتیا نه پیدا شوي دی نو د هغوئ تقریرونه او لیکنې د دې شاهد دي. نو د دغه قوم عیسائي شمار کیدل یا د هغوئ ځان ته مصلحت سره تمدني عیسائیان ویل کافي نه دي. کله چه عیسائیان نه دي نو حکم به ئې هم د اهل کتابو نه وي نو ذبیحه هم ... د هغوئ د لاس نه ده او کله چه اکثر همداسې دي ترڅو چه بالیقین د کوم خاص ذبیحې ذابح اعتقادا کتابي کیدل ثابت نه شي نو د دې ذبیحو نه ځان ساتل واجب دي. "فی الدر المختار مسایل شتی غنم مذبوحة ومیتة فان کانت المذبوحة اکثر تحری واکل والا بان کانت المیتة اکثر او استویا لا یتحری اه". دویم مقام: د کتابي د ذبیحې د حلالیدو شرط دا هم دی چه د الله ﷻ نوم پرې واخلي او که د عیسی علیه السلام نوم پرې واخلي نو هغه به حلال نه وي. "فی الدر المختار کتاب الذبایح اوکتابیا ذمیا او حربیا الا اذا سمع منه عند الذبح ذکر المسیح اه". بعضو خو د تثلیث عقیدې ته هم د ذبیحې د حلالوالي مانع کیدل ویلي دي او بعضو ګویا چه دې قاعدې ته مانع نه دي ویلي مګر اول ئې په هر حال کې نه خوړلو ته ویلي دي. "کذا في الدر المختار". لیکن که په دې آخري دوه خبرو هم عمل ونه کړی شي نو بیا خو هم دا هم اجماعا شرط دی چه دغه ذبیحه باندې د الله ﷻ نوم اخستل شوی وي کله چه دا شرط دی او هلته دا اطمنان هم نه وي بلکه حالاتو اوریدو سره معلومیږي چه ذبحه کونکی د دې التزام نه کوي نو دا به هم د حلالوالي مانع وي. غرض دا چه نه د ذبحه کونکو اهل کتابي کیدل معلوم او نه د ذبحې په وخت د تسمیې التزام معلوم لهذا د دې ذبیحو د حلالوالي هیڅ صورت نشته دی.

دریم مقام: (¹)که په مذکوره شرائطو ذبحه هم شوې وي مګر دا چه دا د کتابي د لاس ذبحه ده نه په مشاهدې سره کتل شوي وي او نه د کوم مسلمان عادل په خبره سره بیا هم په دې وجه دیاناتو کې د مخبر اسلام او عدالت شرط دی. "کما صرح الفقهاء به". نو په دې صورت کې به د حلالوالي حکم نه کیږي البته که ټول شرطونه د حلالوالي متحقق او متیقن شي یعنې د مشاهدې یا معتبر مسلمان ناقل نه دا کار متیقن شي چه کوم کس چه ذبحه کړې ده هغه د عیسی علیه السلام او دا نجیل د صداقت اقرار کړی دی او د ذبحې په وخت ئې صرف د الله ﷻ نوم اخستلی دی نو دا حلالکه به حلاله شي لیکن دا صورت ډیر شاذ او نادر کیدی شي بعضې خلکو ته د ابوداود د روایت د وجې نه په دویم شرط کې شك پیدا شوی

¹ددی په شان تمام شرطونه دذبحی پیژندل ضروری دی ،اګرکه یوهم ونه شی نوحلاله نه کیږی ، کوم مثال دی چه واوریدواوهغه خلك په مذبوحه باندی ذکرنکړی ،اګرکه صحیح به شی خومانع حل ګرځی ۱۲

دی. روایت دا دی: "عن ابن عباس قال فکلوا مما ذکر اسم الله علیه ولا تاکلوا مما لم یذکر اسم الله فنسخ واستثنی من ذلك فقال طعام الذین اوتوا الکتاب حل لکم اه". او شبهه دا ده چه د ابن عباس د قول نه معلومیږي چه د کتابي ذبیحه بغیر د تسمیه نه هم حلاله ده نو د دې نه د شبهې جواب ګڼل ضروري دي مګر د دې جواب نه وړاندې څو مقدمات معلومول پکار دي یو دا چه په قطعي او ظن کې چه کله تعارض وي نو په قطعي به عمل کولی شي او ظن به متروك یا موول وي. دویم دا چه نسخ د تعارض فرع ده کله چه تعارض بلې طریقې سره لرې کیدی شي نو د نسخ د قائل کیدو ضرورت نشته اوس جواب واورئ: د حضرت ابن عباس ظاهر قول کوم چه ظني وکي دلیل د فکلوا الخ ولا تاکلوا الخ د ظاهري ایات معارض دی نو که د ابن عباس په قول کې که تاویل ونه کړی شي نو ظاهري قول ته به ترجیح ورکولو سره د ابن عباس قول پریږدو. د اولې مقدمې په کم او متروك د حجت قابل نه وي نو د شبهې استیصال وشو. لیکن چونکه د حضرت ابن عباس په نسبت د قران د معارض کیدو قائل کیدل هم جائز نه دي نو ځکه د هغه د تفسیر به دا تاویل کیږي چه آیا فکلوا الخ ولا تاکلوا الخ کې د منکم قید لګوو په کوم سره به چه د ایات حاصل دا شي چه په کومه ذبیحه باندې چه مسلمان تسمیه ونه وائي نو هغه خوړل صحیح دي او د دې تقید قرینه پخپل فاعل کلوا ولا تاکلوا کیدی شي هغه داسې چه فعل مجهول د فاعل په یقین کې د فعل معروف تابع کړی شي او دا هم کیدی شي چه د مشرکینو ذبائح بالاجماع حرام دي او حرمت بغیر د دلیل نه نه دی. او د مشرکینو د ذبائحو کوم مستقل ذلیل نه موندل کیږي ځکه بهتره ده چه دا په ایات ولا تاکلوا کې داخل کړی شي او ظاهره ده چه ایات وطعام الذین اوتوا الکتاب نه وړاندې د اهل کتاب ذبیحې هم حرامې وې او هغه هم په دې دلیله سره په ولا تاکلوا ایات کې داخل وې نو په دې ایات کې داسې قید ضروري دی چه دواړو حکمونو باندې مشتمل وي او هغه منکم یعني من المسلمین وي بیا د دې نه اهل کتاس مستثنی شول او مشرکین باقي پاتې شول لکه څنګه چه لا تنحکوا المشرکات، ولا تنحکوا المشرکین اهل کتاب او مشرکینو دواړو ته ثابت دی او والمحصنت من الذین اوتوا الکتاب ئې ترې مستثنی کړل او مشرکات او مشرکین په خپل سابق حکم پاتې شول ګویا چه دا قرائن قطعي نه دي اول خو ظاهره ده او دویم ځکه چه ممکنه ده د عبدالرزاق حدیث کوم چه د محبوس په باب کې دی سنوا بهم سنة اهل الکتاب غیر ناکحي نسائهم ولا اکلي ذبائحهم. د مشرکنیو د ذبیحو حرمت کې وویل شي نو د موصوف ایات د عموم د قائل کیدو ضرورت پاتې نه شو یا دا



وویل، ته چه په اصل دماء او فورع کې حرمت دی کله چه د مشرکین د ذبیحو د حلالوالي څه دلیل نشته نو داحرمت لپاره هم کافي دي. غرض دا چه د منکم قید لګولو نه بعد اوس ایات وطعام الذین اوتوا الکتاب د دې سره معارض شو بیا چونکه سورة مائده کوم چه مدني دی د سورة انعام نه چه مکي دی متاخر دی نو ځکه آیا وطعام الذین الخ د دې خاص جزء یعنې مذکور تقیید ناسخ وي یعنې د تسمیه ویونکي خاص مسلمان کیدل ضروري نه دي یعنې د کتابیه تسمیه به هم د حلالوال لپاره کافي شي او دا یو دلیل سره هم لازمه زانغله چه د نفس تسمیه حاجت هم نشته دی بلکه په دې کې په لا تاکلوا په خپل عموم او اطلاق باقي پاتې وي او دا په هغه صورت کې دي چه په دواړو آیاتونو کې تسمیه ومنل شي کنه نو په واقع کې پخپله د دې حاجت نشته ځکه چه په دواړو کې تعارض ثابت نه دی بلکه آیات فکلوا ولا تاکلوا حل ذبیحه یو شرط بنائي چه د ذابح غیر وثنی کیدل دي نو تعارض پاتې نه شو نو فسخ هم نه راځي د دویمې مقدمې په حکم نو په یو دلیل سره هم د تسمیې قطیدل ثابت نه دي او شبهه زائله شوه، فقط والله اعلم. ۲۳ ربیع الثاني ۱۳۳۰هـ (حوادث ۱ ۲۰ ص ۱۴۷)

## حکم ذبیحه غیر مزکي

**سوال**: (۵۸۷) ذبیحه د کوم زکات چه ثابت نه وي څنګه ده؟

**جواب**: دا پته نشته چه د تپوس کونکي د زکات نه څه مطلب دی. دا لفظ په ذال سره خو ذبحې ته وائي نو د شرعي ذبحې نه بغیر که حقیقي وي او که حکمي حلالوالی ئې ثابت نه دی او که مراد ترې زکات ورکول دي نو کوم کس چه زکات نه ورکوي مګر فرض ئې ګڼي نو د هغه ذبیحه حلاله ده او که د مسلمان کیدو باوجود ورته فرض نه وائي نو مرتد دی او ذبیحه ئې حرامه ده. "لایحل ذبیحة وثنی ومجوسی ومرتد در مختار". (امداد ج ۲، ص ۱۱۶)

## د ذبحې کولو د ځاي تعین

**سوال**: (۵۸۸) د ذبحې لپاره ځاي مقررول د تبرك په طور د عیدګاه نه بغیر څنګه دي؟

**جواب**: که د غیر الله تعظیم په کې مقصود نه وي نو جائزه ده مګر ضروري دې ونه ګڼل شي "فی المشکوة عن ثابت الضحاك قال نذر رجل علی عهد رسول الله ﷺ ان ینحر ابلا ببوانة فاتی رسول الله ﷺ فقال هل فیها وثن من اوثان اهل الجاهلیة یعبد قالوا لا قال فهل کان فیها عید من اعیادهم قالوا لا قال رسول الله ﷺ اوف بنذرك". رواه ابوداود. (امداد ج ۲، ص ۱۱۶)

## بيان آله ذبح واحد اد سكين

سوال :(۵۸۹)په کوم څيز ذبحه جائزه ده او چاړه کله چه تيره کړو؟

جواب: (۱) په کوم سره چه رګونه کټ او وينه وبيول شي په دې سره ذبحه جائزه ده. "وحل بكل ما ترى الاوداج او نهر الدم ولا سنا وظفرا قايمين، در مختار". (۲) د څاروي د راغورځولو نه وړاندې چاړه تيره کول مستحب دي. "فى الدر المختار وندب احداد شفرة قبل الاضجاع". (امداد ج۲، ص۱۱۶).

## وجوب تسميه بر ذبح

سوال :(۵۹۰) په حلالکه کې مدد کونکي له هم بسم الله الله اکبر ويل پکار دي او که ويې نه وائي نو څنګه ده؟

جواب: بسم الله ويل صرف د حلالکې کونکي لپاره ده. "وشرط التسمية فى الذابح، در مختار". (امداد ج۲، ص۱۱۶).

## حکم تسميه بر اعانت کننده در ذبح

سوال :(۵۹۱)د مالابد منه په آخر کې رساله اضحيه لګول شوې ده په هغې کې ليکلي دي د در مختار په حوالې سره چه د ذبحه کونکي په معين باندې د تسميې ويل واجب دي که ويې نه وائي نو خوراك به ئې هم حرام شي آيا دا رشتيا ده؟

جواب: "فى الدر المختار كتاب الاضحية فوضع يده من يد القصاب فى الذابح واعانته على الذبح سمى كل وجوبا الخ". د دې نه معلومه شوه چه مطلق معين باندې تسميه ويل واجب نه دي بکله خاص هغه معين باندې کوم چه په ذبحه کولو کې شريك وي مثلاً هغه چاړه دواړه ونيسي او ويې چلوي. ۱۷ صفر ۱۳۳۲ھ. (تتمه ثالثه ص۱۹).

## جواب شبهه وارده بر عبارت اغلاط العوام

سوال :(۵۹۲) تاسو په اغلاط العوام کې ليکلي دي چه د ذبحه کونکي په معين باندې بسم الله واجب نه ده او د فتاوى عالمګيري څلورم جلد ص۲۴۱ ترجمه کې کتاب الاضحيه کې دا عبارت دی د يو کس قرباني کول وغوښتل نو هغه خپل لاس د قصاب د لاس سره يوځاي کړو ترڅو د دواړو په مدد سره ښه ذبحه وشي نو شيخ امام ابوبکر بن الفضل وفرمايل چه په دواړو کې هر يو باندې تسميه واجب ده ترديې که په دواړو کې يو کس تسميه پرېښوده نو



جائزه نه ده. دا په ظهيريه کې ليکلی شوې دي.نو د محلې د جومات امام زما په معرفت سره تاسو نه د "اغلاط العوام" د عبارت صحيح کيدو د کوم معتبر کتاب نه دليل غواړي؟

جواب: ما د معين حکم ليکلی دی او دا کس خو په ذبحه کي شريك دی. ۲۴ رجب ۱۳۴۳ھ (ترجيح خامس ص۱۵۷).

## حکم ذبيحه امراة وصبي

سوال :(۵۹۳) (۱) د ښځې او نابالغ ذبيحه جائزه ده او که نه؟(۲) او د دې نه علاوه د چا چا ذبيحه جائزه ده او د چا نه ده؟

جواب: (۱) د ښځې او نابالغ ذبيحه په دې شرط چه ذبحه کولی شي او بسم الله ووائي نو جائزه ده. "او امراة او صبيا يعقل التسمية والذبح ويقدر، در مختار". (۲) د سوال کوم صورت معين کول پکار دي ترڅو جواب ورکړی شي داسې ډير جائز او ډير ناجائز دي. (امداد ج۲، ص۱۱۶).

## حکم دادن چرم اضحيه در اجرت جزار

سوال :(۵۹۴)د شريعت حکم په دې باره کې څه فرمائي چه د قربانۍ څرمن قصاب ته په مزدورۍ کې ورکړي يا قيمت په څاروي کې حسابول لکه څنګه چه په دې زمانه کې اکثره خلك کوي او کوم کسان چه د لږې نفع په طمع ورکوي يا اخلي د هغوئ څه حکم دی؟

جواب: د قربانۍ څرمن يا غوښه قصاب ته په مزدورۍ کې ورکول يا قيمت کې مُجرى کول سخت منع دي. "فى الدر المختار ولا يعطى اجر الجزار منها لانه كبيع واستفيدت من قوله عليه السلام من باع جلد اضحية فلا اضحيه، هدايه". او کوم خلك چه دا کوي او د دنيا نفع په آخرت او ثواب ترجيح ورکوي د هغوئ د عتاب لپاره دا ايت کافي دی. "بل تؤثرون الحيوة الدنيا والاخرة خير وابقى". والله اعلم. ۲۹ ذيقعده ۱۳۰۳ھ (امداد ج۲ ص۱۱۸).

## عدم جواز دادن چرم قرباني در اجرت

سوال :(۵۹۵)زمونږ په کلي کې يو فقير هميشه جومات له اوبه راوړي او د دې په عوض کې څمکه ورکړی شوې ده او د څرمنې هم مستحق شمارل کيږي او اکثره خلك ئې ورکوي هم مګر زه ئې نه ورکوم بلکه هغه خرڅوم ئې او غريبانانو او مسکينانو ته ئې ورکوم نو داسې فقير ته د قربانۍ څرمن ورکول جائز دي او که نه؟

**جواب**: په اجرت کې د قربانۍ څرمن ورکول جائز نه دي ګویا چه قربانۍ کې خلل نه راځي لیکن د څرمنې د قیمت په اندازه به هغه کس په مسکینانو صدقه کوي او دا پرې واجبه ده، والله اعلم. رمضان ۱۳۲۳ھ

## حکم هبه کردن شرکانی قرباني چیزی را قبل از تقسیم

**سوال**: (۵۹۶)د قربانۍ غوا کې که ټول شریکان خپل مینځ کې راضي شي او د غوښې تقسیمولو نه ئې وړاندې لله چا له ورکړي نو قرباني جائزه ده او که نه؟

**جواب**: که ټولو کوم فقیر یا مالداره ته ورکړه لیکن په شریکانو کې چا د قربانۍ نذر نه وو کړی نو جائزه ده ځکه چه تقسیم واجب نه دی چه د واجب په پرېښودلو سره کوم محذور لازم شي او که په دوئ کې څوك نذر کونکی وو او مالداره ته ئې ورکړه نو جائزه نه ده ځکه چه تقسیمولو سره د ناذر حصه په فقیرانو صدقه کول واجب دي نو قرباني خو به جائزه شي لیکن په ناذر باندې به د خپلې حصې مطابق قیمت صدقه کول واجب وي. "فی الطحاوی انظرهل هذه القسمة متعینة اولا حتی لو اشتری لنفسه ولزوجته ولاولاده الکبار بدنة ولم یقسموها تجزیهم اولا والظاهر انها لا تشترط لان المقصود منها الاراقة وقد حصلت وفی فتاوی الخلاصة والفیض تعلیق القسمة علی ارادتهم وهو تویدما سبق غیر انه اذا کان فیهم فقیر والباقی اغنیاء یتعین علیه اخذ نصیبه لیتصدق به ۱۲ وفی الدر المختار ولا یاکل الناذر منها فان اکل تصدق بقیمة ما اکل ۱۲ قلت نفسه وطعام الغنی سواء ۱۲ والله اعلم. (امداد الفتاوی ج. ص۱۱۸).

## د خصي ځاروي د ټولو قسمونو قرباني جائزه ده

**سوال**: (۵۹۷) خصي درې قسمه وي په خصي له سُولول کیږي او د بل اوچتوي او د دریم نه ئې وباسي. په دې کې کوم یو صحیح دی او که درې واړه صحیح دي او کله چه هګۍ ووتله نو د درې خصي نه پوره عضو ووتله؟

**جواب**: درې واړه صحیح دي او دا عضو چونکه مقصود نه دی بلکه دې خصي کیدو سره غوښې نوره هم ښه کیږي لهذا د دې ضائع کیدل مضر نه دي لکه څنګه چه عالمګیري کې د مجبوب د قربانۍ مصرح جواز دی. ۸ جمادی الثانیه ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۳۴).

ایضاً



**سوال**: (۵۹۸) کله چه د خصي ځاروي قرباني جائزه ده نو سوال دا دی چه د آخه کولو عموماً دوه طریقې دي یو دا چه رګ مخصوص وسُولوي او یا عضو مخصوص قطعي وباسي نو په دې کې د قربانۍ کوم صورت جائز دی؟

**جواب**: د فقهاو په اطلاق سره د دواړو صورتونو جواز دی که په دویم صورت کې د عضو د فوت کیدو شبهه وي نو هغه فوت مانع دی کوم چه د قیمت کموالی راولي او دې سره ئې قیمت نور هم زیاتیږي نو ځکه مضر دی. ۱۸ محرم ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه ص۱۵۰).

ایضاً

**سوال**: (۵۹۹)خلك وائي چه قربانۍ کې خیرې شوې چیلۍ صحیح دي او زه وایم سُولول شوې یعنې چه کوم عضوه ئې نه وي وتلې هغه درست دي؟

**جواب**: د خصي ځاروي قرباني صحیح ده که هغه خیرل شوې وي یا په سُولولو بیکاره شوې وي. "لاطلاق الفقهاء من غیر تقیید وتفصیل". ۳ شوال ۴۳ھ (تتمه خامسه ص۳۷۰).

## د غل د ذبیحې حکم

**سوال**: (۶۰۰) د غل د ذبیحې په باره کې څه حکم دی، حلال دی او که حرام؟

**جواب**: حلال په معنی د ما ذکر اسم الله علیه دی او حرام د بل چا د ملکیت کیدو په وجه. که د حلالولو نه وروستو اصلي مالك اجازت ورکړي نو خوړل ئې جائز دي بخلاف ما لم یذکر اسم الله علیه چه کله هم نه شي مباح کیدی. ۹ رمضان ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۳۵).

## د قربانۍ غوښه کفارو له ورکول

**سوال**: (۶۰۱)د قربانۍ غوښه کفارو له ورکول جائز دي او که نه؟ بینوا بالحجة والدلیل توجروا بالاجر الجزیل؟

جواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! قرباني ګویا چه واجب مګر غوښه تقسیمول واجب نه دي نو هغه به هدیه وي یا نفلي صدقه. او حربي مصالح د مستامن په حکم کې دي لهذا هغه له ورکول جائز دي البته د کومې قربانۍ غوښه تقسیمول چه واجب وي د هغې نه ورکول جائز نه دي. ۲۴ ذی الحجه ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۳۵).

## د قربانئ څاروي د څرمن قیمت صدقه کول واجب دي

**سوال** :(۶۰۲) د علماو په دې بناء کې د قربانئ د څاروي په څرمن کې اختلاف دی، ګویا چه د خادم دا یقین دی چه د څرمنې د خرڅولو نه بعد په جومات کې مصرفول نه دي پکار بلکه فقیران ئې مستحق دي مګر د مجوزینو خیال دا دی چه په فتاوی بزازیه کې دي: "له ان یبیعها بالدراهم لیتصدق بها لا ان ینتفع بالدراهم او ینفقها علی نفسه" د دې عبارت نه معلومیږي چه د خپل تمول او نفع لپاره ئې خرڅول ناجائز دي او که څوك ئې خرڅ کړي نو صدقه کول ئې واجب دي لکه څنګه چه عیني کې دي. "فاذا تمولته بالبیع وجب التصدق". او که په دې نیت ئې خرڅ کړي چه صدقه به ئې کړم نو بیا ئې خرڅول جائز دي لکه څنګه چه په بزازیه کې دي اوس که څوك دا نیت وکړي چه د جومات په جوړولو کې به ئې قیمت مصرف کړم نو په دې نیت سره بیعه جائزه شوه لیکن د صدقې وجوب ثابت نه شو ځکه چه د بزازئه په عبارت "له ان یبیعها بالدراهم لیتصدق بها" کې عموم دی او چونکه د نفس څرمن صدقه کول مندوب وي نو د دې وجې نه به د جومات په مرمت کې لګول جائز وي د بزازیه د عبارت نه دا مطلب اخستل چه تصدق واجب دي د دې عبارت نه نه ثابتیږي لهذا عرض دا دی چه د فقهاو په کلام کې داسې ځایونه چه د تصدق په نیت کې بیعې ته جائز ویلي وي د دې سره کوم لفظ وجوب تصدق چه د کوم نه ثابت وي ملاو شي نو د مجوزینو د اسکات لپاره به کافي وي. ما ډیر ولټولو مګر ملاو نه شو. صرف که د تمول په قصد سره بیعه وي نو په هغې کې د وجب التصدق لفظ ملاویږي لهذا تاسو ئې ولیکئ؟

**جواب**: د شبهې په تقریر باندې زه پوهه نه شوم در مختار وغیره عبارت فان بیع اللحم او الجلد او بدراهم تصدق بثمنه کې بیعه عامه ده که د تصدق په نیت وي او که د تمول په نیت. نو د وجوب تصدق حکم به په دواړو صورتونو کې وي او دا بحث جدا دی چه آیا دا بیعه مکروه ده او که غیر مکروه نو د تصدق نیت د کراهت او انتفاء شرط دی نه چه د تصدق د وجوب لپاره مانع بلکه د تصدق د وجوب موجب د بالانفس بیع بالمستهلك وبالدراهم د روایت په موافق د دې نه وروستو چه څه شبهه وي د هغې تقریر کافي او واضح په کوم کې چه تقریبا تام هم وي ولیکئ، والله اعلم. ۲۷ ذی الحجه ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص۱۳۵).



## د تصدق کولو حکم

**سوال** :(۶۰۳) قرباني چه د چا په ذمه ده هغوئ خپلې سستئ سره د قربانئ ورځو کې ونکړه، د ورځو تیریدو نه بعد کله چه هغه د قرباني قیمت خیرات کړي نو اصول یا فروع یا کافرو باندې ئې خیرات کولی شي که هغه مفلس او حاجت مند وي او که نه؟

**جواب**: د فقهاو په کلام کې په دې باب کې دا الفاظ دي. تصدق بقیمتها کوم چه د تصدق په وجوب دال دی او واجبه صدقه په مذکورین في السوال باندې صرف کول جائز نه دي او در مختار کتاب الاضحیه کې یوه جزئیه ده په کوم کې چه داسې وکیل بذبح الاضحیه باندې چا چه قصداً بسم الله پرینبوده تاوان لازم کړی دی په دې کې تصریح ده. "تصدق بقیمتها علي الفقراء ج۵ ص۳۲۶" او د واجبې صدقې مصارف کوم چه فقیران وي د هغې نه مذکورین في السوال خارج دی او رد المختار کې یو جزئیه ده په کوم کې چه اضحیه مشتراه د تضحیه د ورځو نه وروستو د ذبحه کولو صورت لیکلی دی. "لا یحل له الاکل منها اذا ذبحها کما لا یجوز له حبس شی من قیمتها، ج۵ ص۳۱۴". او د کوم څیز چه پخپله خرچ کول جائز نه دي مذکورین في السوال له ئې ورکول درست نه دي. ۳ محرم ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی ص۱۳۶).

## د څرمنې پخپله اصولو او فروعو کافر ته ورکول جائز دي

**سوال** :(۶۰۴) د څرمنې د صدقه کولو اختیار دی هغه اصولو او فروعو او کافرو ته ورکول کیدی شي او که نه؟

**جواب**: هو! ورکولی ئې شي. "فی الهدایة واللحم بمنزلة الجلد فی الصحیح". کله چه د دواړو حکم یو دی او غوښه ورکول مذکورین في السوال ورکونکو ته جائز دي نو عین څرمن ورکول هم درست دي. ۳ محرم ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی ص۱۳۷).

## د پیشو نه خلاصه کړی شوې چرګه یا بل څاروی ئې ذبحه کړو او وینه راووتله مګر حرکت ئې ونه کړو د هغې حکم

**سوال** :(۶۰۵) چرګه پیشو ونیوله مګر مړۀ ئې روغه وه هغه ترې خلاصه کړی شوه او کله چه ذبحه شوه نو ډیره وینه راووتله مګر چرګې څه حرکت ونکړو؟

**جواب**: حلاله شوه. "کذافی الدر المختار ورد المحتار ج۵ ص۳۰۱". (تتمه اولی ص۱۳۷).

ایضاً

**سوال**:(۶۰۶) (۱) علماء او مفتیان په دې شرعي مسئله کې څه فرمائي چه یوه میښه بیماره وه څه وخت چه تکلیف زیات شو نو د حلالکې په وخت وینه یوه یا دوه قطرې راووتله او اعضاو حرکت کولو؟(۲) یو غوائي بیمار وو کله چه زیات په تکلیف کې شو هغه ئې ذبحه کړو د هغې نه وینه خو راووتله مګر یو عضو هم حرکت ونه کړو نو دواړه صحیح شو او که نه؟

**جواب**: "فی الدر المختار ذبح شاة مریضة فتحرکت اوخرج الدم حلت والالا ان لم تدر حیاته عند الذبح وان علم حیاته حلت مطلقا وان لم تتحرك ولم یخرج الدم وفی رد المختار قوله فتحرکت ای بغیر مد نحو رجل وفتح عین مما لا یدل علی الحیاة کما یاتی قوله اوخرج الدم ای کما یخرج من الحی الی قوله وهو ظاهر الروایة، ج۵ ص۳۰۱" د دې روایت نه دا تفصیل معلوم شو چه که د ذبحې نه وړاندې متصل د هغه ژوند یقیني وي نو بیا خو به ذبحه هغه حلالیږي که حرکت وکړي او که ویې نه کړي او وینه که راووځي او که راونه ووځي او که ژوند یقیني نه وي نو د هغې حکم دا دی چه که هغه داسې حرکت وکړي کوم علامات چه د ژوند دي لکه د خولې بندول یا سترګې بندول یا د ښپو راغونډول یا ودریدل "کما فی الدر المختار ایضاً" یا دومره وینه راووځي لکه د ژوند نه چه ووځي نو بیا خو حلاله ده او کنه نو حرام. ۶ ربیع الثاني ۱۳۴۱ھ (تتمه خامسه ص۲۳۴).

### د قربانۍ څرمن او د زکات روپۍ هلال احمر ته د ورکولو حکم

**سوال**:(۶۰۷)د قربانۍ څرمن او د زکات روپۍ او قیمت هلته لیږل حدیث کې خو راغلي چه کوم عمل د الله ﷻ په نزد په دې ورځو کې د قربانۍ نه بهتر نه دی د فرائضو استثناء خو پخپله په ذهن کې راځي لهذا مطلب دا دی چه د فرائضو اندازې نه د ورکولو نه بعد چه کله دا فرض وي نو کوم کسانو چه صرف زکات ورکړی دی هغه زکات به د روپۍ څنګه ادا شي په اشتهار کې د دې تصریح کیدل پکار دي چه د فرض مقدار د ورکولو نه بعد ورکول دا زکات جائز دی او د خلکو د طرف نه تملیك او اطمنان نه معلومیږي، فقط؟

**جواب**: د قربانۍ د څرمنې قیمت ورکول چونکه اسان دي نو څکه دا تجویز کړی شول البته د تملیك انتظام پخپله کول پکار دي. د نفل قربانۍ پرېښودل چونکه جائز دي نو څکه د بعضې علماو هم دا تجویز دی او فضیلت په هر عمل کې جدا قسم دی، فقط. ۸ ذی الحجه ۱۳۳۰ھ یوم سه شنبه (تتمه اولی ص۲۱۲).



### هغه د نصاب والا چه روپۍ ئې تجارتي کمپنۍ کې دي په هغه د قربانۍ حکم

**سوال**:(۶۰۸)بکر د نصاب خاوند دی یعنې پوره ۸۰ روپۍ ورسره دي مګر روپۍ ئې یوې تجارتي کمپنۍ ته ورکړې دي او د کال تیریدو نه وړاندې روپۍ نه شي ملاویدی عرض دا چه د بکر په قبضه کې نه دي او بکر اوس د افلاس په حالت کې دی. د قربانۍ کولو روپۍ ورسره نشته نه قرض ملاویدی شي نو څه دې وکړی شي، فقط؟

**جواب**: که کوم څیز د ضرورت نه زیات وي دهغه خرڅ کړي او قرباني کولی شي نو واجبه ده او کنه نو نه ده. "وفی رد المختار له مال کثیر مال غایب فی ید مضاربه اوشریکه ومعه من الحجرین اومتاع البیت ما یضحی به قلزم؛ ج۵ ص۳۰۵". ۲ ذی الحجه ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی ص۱۳۷).

### د قربانۍ د غوښې د خرڅولو حکم او د دې تحقیق

### چه د دې اخستلو سره به قرباني ادا شي او که نه؟

**سوال**:(۶۰۹)یوې ښځې د خاوند د اجازت نه بغیر په قربانۍ کې حصه واخستله او قیمت ئې هم ورکړو کله چه د غوښې حصه کور ته راغله او خاوند ته ئې د قربانۍ د حصې معلومه شوه نو هغه خفګان ظاهر کړو او خفه شو او هغې ته ئې وویل چه دا حصه خرڅ کړه هغه ښځې دغه حصه په بله ښځه باندې خرڅه کړه او قیمت ئې واخستلو اوس سوال دا دی چه کوم کس چې حصه واخستله د هغه د قربانۍ ثواب وشو او که نه؟ اوله ښځه چا چه دا حصه اخستلې وه شاید د څه ګانې مالکه وي بلکه هغه هم د خاوند ملکیت وي تحقیق ئې نشته دی که ښځه د نصاب خاونده وي نو د مسئلې څه صورت دی او د غیر نصاب څه صورت، فقط؟

**جواب**: بلې کومې ښځې چه د غوښې حصه اخستلې د هغې قرباني ونه شوه او اولې ښځې چه کله حصه واخستله نو ذبحه ئې کړه نو د هغه د طرف نه قرباني وشوه که هغه غني وي او که فقیر او هر حال کې هغه له غوښه خرڅول جائز نه وو او کله چه ئې غوښه خرڅه کړه یا د دې کوم قیمت چه وصول شو د مسکینانو حق دی او چونکه هغه مسکینانو ته نه ده ورکړې نو څکه به اوس ورکول واجب وي، فقط. ۲۶ ذی الحجه ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص۱۳۷).

### د قربانۍ نذر کولو سره قرباني واجبيږي يا تصدق

سوال :(٦١٠)يو کس بيمار شود هغې لواحقينو وويل چه الله که زه روغ شم نو دري غواګاني به قرباني کړم بفضله تعالی مريض ښه شو او د ذی الحجې په مياشتې کې به غويان ذبحه کړي دا د قربانۍ په حکم کې دی او که صدقه کې؟

جواب: د قربانۍ "هکذا في رد المختار". (تتمه اولی ص۱۳۸).

### د نذر شوي څاروي د غوښې مصرف

سوال :(٦١١) او د دې غوښې د مصارفو څه صورت دی؟

جواب:مسکينانو ته ورکول پکار دي. "کذا فی رد المختار تحت قوله وياکل من لحم الاضحية هذا فی اضحية الواجبة والسنة سواء اذا لم يکن واجبة بالنذر وان وجبت فلا ياکل منها شيئا ولا يطعم غنيا،ج۵ ص۳۲۰". (تتمه اولی ص۱۳۸).

### د قربانۍ د نذر په صورت کې که قيمت کومې مدرسې

### ته ورکړی شي نو بري الذمه به شي او که نه؟

سوال :(٦١٢) او که د غوا قيمت تخمينا ولګول شي او روپۍ کومې مدرسې يا غريبانانو ته ورکړی شي نو د نذر نه به بري الذمه شي او که نه؟

جواب: که د قربانۍ ورځې تيرې شي نو مسکينانو ته قيمت ورکول پکار دي، فقط. ۲۷ ذيقعده ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۱۳۸).

### د ترک زخميانو لپاره چنده کې د قربانۍ ورکولو سره د قربانۍ نه ادا

### کيدل او د دغه قربانۍ د څرمن د قيمت په چنده کې د ورکولو طريقه

سوال :(٦١٣) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه کوم جنګ چه اوس په عثماني خلافت او بلقان کې جاري دی او د کوم منشا چه قطعي طور سره د دې نه علاوه بل څه نه ده چه عيسائي ملکونه اسلامي ملکونه ختمول غواړي او که ترکانو ته په دې کې شکست وشو نو بيا د حرمين شريفين په ظاهره کې د حفاظت څه بل صورت نه ښکاري آيا په دې صورت کې دا جائزه ده چه د لوي اختر په موقع باندې د قربانۍ په ځاي د قربانۍ قيمت د ترکانو امداد



ته وليږل شي که داسې وکړی شي نو آيا مسلمانان د قربانۍ د فريضې نه خلاصيدی شي او کوم کسان چه قرباني وکړي هغوئ له د څرمنې روپۍ په دې کې ورکول بهتر دي يا په اسلامي مدرسو کې ورکول افضل دي، بينوا توجروا؟

جواب: پخپله د قربانۍ قيمت ورکولو سره خو به واجب ادا نه شي او که څوك داسې وکړي نو ګناهګار به وي "لان الابدال لا تنصب بالرای کما صرح به الفقهاء". البته د قربانۍ د څرمنې روپۍ جومات کې د ورکولو په نسبت په دې کې چنده ورکول بهتر دي او سخت ضرورت ترې مستثنی دی ليکن د څرمنې قيمت داسې ورکول پکار دي چه اول کوم مسکين روپۍ واخلي او په دغه چنده کې ئې داخلې کړي بيا د څرمنې قيمت دې مالك ته ورکړی شي او هغه د مسکين نه خپله قرضه ادا کړي که د څرمن قيمت براه راست په دې چنده کې ورکړی شي نو ادا به نه شي. ۳ ذی الحجه ۱۳۳۰ھ، (تتمه اولی ص۱۳۸).

### د طاقت باوجود قرباني پريښودل او د دې قيمت په ځاي ترک

### زخميانو ته چنده ورکولو جواز باندې د هدايې د عبارت نه استدلال

سوال :(٦١٤)د هلال احمر د چندې په ضرورت چه د حنفي المذهب علماو کومې فتوا ګانې شائع شوې دي په هغې کې عموما دا صراحت کړی شوی دی چه په کومو خلکو چه قرباني واجب ده هغوئ له قرباني کول پکار دي. د قربانۍ د قيمت ورکولو شريعت اجازت نه ورکوي مګر بعضې علماء وائي چه د قيمت ورکول هم جائز دي ګويا چه افضل همدا ده چه قرباني وکړی شي. ثاني الذکر علماو استدلال د هدايې په لاندې عبارت کې دی: "وايام النحر ثلثة (الی ان قال) والتضحية فيها افضل من التصدق بثمن الاضحية (هدايه جلد رابع ص۱۷۰)".
د هدايې د دې عبارت متعلق صاحب کفايه څه حواله نه ده ورکړې او د هدايې صاحب د تضحيې د فضيلت يو دليل ليکلی دی. "لانها تقع واجبة او سنة والتصدق تطوع محض فتفضل عليه".
په دې باندې معلومه نه ده په کوم کتاب سره بين السطور په کومه موقع کې حاشيه ليکلی شوې ده "وان کان يسقط عنه الواجب". دويم د عنايه نه يو لوي عبارت نقل کړای او د قيمت په صدقه کولو باندې د حلالکې کولو افضليت ثابت کړی شوی دی د کوم چه ما حصل همدا معلوميږي چه اګرچه په ايام نحر کې قرباني کول افضل دي ليکن د قيمت صدقه کول هم واجب دي او داسې کولو سره واجب ساقطيږي دا صورت د جمهورو حنفي المذاهب علماو د

موجوده فتواګانو خلاف او د هندوستان د مسلمانانو د تمدني حالت هم خلاف دی نو د هدایې او د هغې د حاشیې د متذکره صدر څه تاویل کیدل پکار دي د دې نه مو خبر کړئ؟

**جواب:** د افضل په لفظ باندې ترک یا ابدال په جواز استدلال کول صرف غلطي ده او د دې سره ئې حلالکې کولو نه واجب یا سنت هم ویلي دي چه د دې نه مراد هم موکده دي کوم چه واجب ته قریب دي مګر د نورو ائمه و په نزد چونکه د واجب اصطلاح نه ده نو د سنت لفظ اختیار کړی شوی دی بهر حال نه د کوم واجب پریښودو یا ابدال ته د اصل باندې د قدرت باوجود ته جائز وائې نه د داسې سنت پریښودلو یا ابدال ته نو په دلیل کې د دې وجوب یا نیت تصریح پخپله د هغوئ د دعوې خلاف ده. راجح الفعل عزما ته غیر جائز نه افضل ویلو کې څه شبهه کیدی شي او په دې سره د دویم شق فاضل یا جائز کیدل نه لازمیږي آیا د بعولتهن احق بردهن نه غیر بعولتهن مستحق رد کیدل لازمیږي. پاتې شو دا چه مفهوم تصانیف حجت وي نو اول خو د دې مفهومیدل مسلم نه دي لکه څنګه چه بره بیان شول. بیا دا هله دي چه کله ئې خلاف کې څه تصریح نه وي او د دې د وجوب او نیت تصریح بره ذکر شوې ده. پاتې شوه دا چه لفظ افضل مو هم ضرور دی نو د دې جواب دا دی چه اول خو د تصریح نه بعد ابهام مضر نه دی بیا په دې کې نکته دا ده چه د وینې په تویولو کې د دې عبارت د غیر معقول کیدو په وجه عقلاً شبهه د عدم جواز وه. د شبهې مادې ختمولو لپاره د افضل لفظ اختیار کړی شو یعني صرف جائزه نه ده بلکه افضله هم ده او فضیلت هم ډیر زیات او مخکې او د دې وجه ئې وښودله چه واجب یا سنت دی او کبری مطوی دی چه د واجب او سنت کمال فضیلت مسلم او ثابت دی نو د شبهې ماده بالکلیه قطع شوه او د بین السطور حاشیه مجهوله ده څه حجت نه دی او فرض محال که سقوط ثابت هم شي بیا هم مفید نه وه نو ځکه دا ویل صحیح دي چه د جمعې په ورځ د ماسپښین مونځ سره د جمعې مونځ ساقطیږي لیکن د جمعې مونځ پریښودلو او د ماسپښین مونځ رایه ورکول حرام نه دي حضرت مولانا خلیل احمد صاحب یو اسان مضمون د دې متعلق لیکلی دی د هغې نقل د سهانپور نه راوغواړئ. ۲۱ ذی الحجه ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص۱۳۹).

### د اضطراري ذبحې طریقه

**سوال:** (۶۱۵) یو څاروی د حلالوالي په ځای په خاوره یا بوج باندې بند دی او ترخو پورې چه راونه ویستل شي د مړ کیدو اندیښنه ئې ده نو هغه د کوم ځای نه حلال کړی شي او که هغه



څاروی بې موقع لاندې راګیر شوی وي او سرای نه شي ورتللی نو لرې ودریدو سره که په برچه ووهل شي او تکبیر ووائې او وینه تویه شي نو حلالکه صحیح ده او که نه؟

**جواب:** صحیح ده. ۳ جمادی الاولی ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص۲۵).

### قدم نهادن برگردن ذبیحه

**سوال:** (۶۱۶) د قربانئ څاروي د ذبحه کولو په وخت په څټ باندې ورله خپه کیښودل او ذبحه کولو ته څوک سنت وائي او څوک مستحب او څوک مکروه او څوک ورته حرام وائي اوس زما عرض دا دی چه په دې اقوالو کې کوم قول د قبلولو په حقه دی؟

**جواب:** "في المشكوة عن انس قال ضحى رسول الله ﷺ بكبشين املحين اقرنين ذبحهما بيده وسمى وكبر قال رايته واضعا قدمه على صفاحهما ويقول بسم الله والله اكبر متفق عليه في اللمعات قوله صفاحهما جمع صفح بالفتح وسكون الفاء قيل هو الجنب وقيل الوجه مطبوعه انصارى ص۳۰۰ ج۱ قلت هذا الدليل السمعي واما الحكمة العقيلة فيه فهو ان امكن للذبح فيستحب كما استحب ذبح بعض الحيوانات مضطجعا بمثل هذه الحكمة كما في العالمكيرية والسنة في الشاة والبقر ان تذبح مضطجعة لانه امكن بقطع العروق ويستقبل القبلة في الجميع كذا في الجوهرة النيرة. ج۶ ص۱۹۳، (تتمه ثانية ص۱۸۱).

### اصطیاد سمک به خراطین

**سوال:** (۶۱۷) اکثره خلک په چینجو باندې د ماهیانو ښکار کوي او ښکار ئې د ژوند تیرولو ذریعه جوړه کړې ده. ورو سره د ماهي کم ملاویدو باعث په چینجو باندې ماهیان نیسي نو د غریبي او محتاجئ په وجه په دې چینجو ښکار کول جائز دي؟

**جواب:** که اول چینجی ووژل شي او بیا پرې ښکار وکړی شي نو جائزه ده. دې وخت کې یو ښکاري وویله چه مړ چینجي له هم دغه شان ماهي راځي. (۱۲ شعبان ۱۳۳۳ھ).

### کشتن خراطین برای اصطیاد ماهي الخ

**سوال:** (۶۱۸) ستاسو فتوی اوریدلو سره مریدان پابند دي مګر د پوهې لپاره ادباً عرض کوو چه ژوندی چینجی چه په کونډه کې ولګول شي هغه ماهي خوري او هغه چه ئې خیټې ته لاړ شي نو مړ شي که مونږ چینجی په اوبو او خاوره کې کیږدو او په لمر کې ئې کیږدو او مړ ئې کړو نو په دواړو صورتونو کې د دې اتلاف محقق کیږي عرض دا چه د ماهي د ښکار

لپاره د مردار ځاروي د ځان اتلاف کول شرعا په کومه درجه مبنی دي؟ که په دې کې صراحت سره ارشاد وشي نو رهنمائي به وشي او د دواړو صورتونو فرق دې په وضاحت سره وکړی شي نو احسان به وي آیا د داسې سوال مخې ته راتلو باندې مونږ د بې علمۍ په وجه علمي جواب ورنکړی شو؟

**جواب**: په لمر کې مړ کول جائز نه دي بلکه داسې آلې سره ئې مړ کړئ چه فوراً مړ شي ترڅو درد او تعذیب بغیر د ضرورت نه نه وي همداسې په کونډه کې ورکولو سره بغیر د ضرورت نه تعذیب دی او صرف د ځان اتلاف علت نه دی. ۱۰ رمضان ۱۳۳۳ھ.

## تحقیق حلت متروک التسمیه ناسیاً

**سوال**: (۶۱۹) یو کس د قربانۍ کولو په وخت بسم الله الله اکبر ویل هیر کړل کله چه ئې په مرۍ چاړه راښکله او چاړه ئې د چیلۍ په بدن باندې ایښې ده بیا ورته وریاده شوه نو هغه بسم الله الله اکبر وویل او هغه غریب مسلمان وو او مونځ کونکی هم دی اوس د هغه قرباني وشوه او که نه؟

**جواب**: متروك التسمیه ناسیاً حلاله ده لهذا ذبحه هم حلاله ده او قرباني ئې هم درسته ده. (تتمه ثانیه ص ۲۰۰).

## عدم تنفل به ذبح در محل غیر منقول

**سوال**: (۶۲۰) لکه څنګه چه د نفل مونځ او روژه کله وغواړي ادا کړي نو ثواب به ئې کیږي همداسې که د ذی الحجې په لسم، یوولسم، دولسم تاریخ نه علاوه او په تاریخونو کې یا نورو میاشتو کې کوم کس د الله تعالی د رضا لپاره د الله تعالی په نوم بغیر د وجوب نه چیلۍ ذبحه کړي نو ثواب به وي او که نه؟

**جواب**: "عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال لا فرع ولا عتیرة قال والفرع اول نتاج کان ینتج لهم کانوا یذبحونه لطواغیتهم والعتیرة فی رجب متفق علیه. وعن محنف بن سلیم قال کنا وقوفا مع رسول الله ﷺ بعرفته فسمعته یقول یا ایها الناس ان علیٰ کل اهل بیت فی کل عام اضحیة وعتیرة هل تدرون ما العتیرة هی التی یسمونها الرجبیة رواه الترمذی؛ وابوداود؛ والنسائي؛ وابن ماجة. وقال الترمذی هذا حدیث غریب ضعیف الاسناد وقال ابو داود العتیرة منسوخة کذا فی المشکوة قوله لا فروع وفی شرح السنة کانوا یذبحون لالهتهم فی الجاهلیة وقد کان المسلمون یفعلون فی بدء الاسلام ای لله سبحانه ثم نسخ ونهی عنه للتشبه کذا فی المرقاة قوله ولا عتیرة هی شاة یذبح فی رجب یتقرب بها اهل الجاهلیة والمسلمون فی صدر الاسلام قال الخطابی



وهذا وهو الذی یشبه معنی الحدیث ویلیق بحکم الدین الی قوله فی النهایة کانت بالمعنی الاول فی صدر الاسلام ثم نسخ وفی شرح السنة کان ابن سیرین یذبح العتیرة فی رجب اه ولعله ما بلغ النسخ ذکره مولا علی القاری کذا فی الحاشیة علی الحدیثین المذکورین". د دې روایتونو نه معلومه شوه چه د دې نه عقیقه هم ده د نورو دما نه تقرب غیر مشروع دی او په دې کې تشبیه هم ده. مشرکینو سره چه د تقرب لپاره هغوئ داسې کوي او زمونږ علماو هم د دې تصریح کړي ده چه اراقة دم قربة غیر معقوله یعنې د قیاس خلاف دی نو د وارد سره به خاص وي او صورت مسئوله عنها وارد ندی لهذا بدعت دی. ۱۷ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ، (تتمه ثانیه ص ۲۰۰).

## تحقیق توجه ذبیحه یا ذابح بسوئ قبله

**سوال**: (۶۲۱) د حلالکې په وخت د ځاروي مخ قبلې طرف ته کول شرعا ضروري دي او که د ذبحه کونکي مخ او که د دواړو؟ که یو کس د ځاروي مخ قبلې یعنې مغرب طرف ته سر، لګئ یې د مشرق طرف ته کړي او وایې چوي او پخپله د دکڼ طرف ته ودریږي نو ذبحه کول جائز دي او که نه؟

**جواب**: ظاهراً د فقهاو د کلام نه معلومیږي چه د ذبحه کونکي مخ قبلې ته کول سنت دي او سنت هم موکده ددې پریښودل بغیردعذر نه مکروه دي. "کذا في الدر المختار ورد المختار". باقي د ذبیحې متعلق چیرته تصریح نه ده تیره شوې. ۲۵ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۲۰۳).

## حکم قرباني بقره عقیمه وبقره حامله

**سوال**: (۶۲۲) علماء په دې مسائلو کې څه فرمائي:

(۱) شنډه غوا او د دې دوه قسمونه دي یوه هغه چه د شروع نه بچی نه راوړي، دویم هغه چه یو بچی راوړي او بیا نور نه راوړي نو د داسې غوا قرباني درسته ده او که نه؟

ضمیمه سوال نمبر (۲) یوه غوا د قربانۍ په نیت سره واخستل شوه د اخستلو نه بعد معلومه شوه چه دا خو حامله ده او عالمګیري کې یې ورته مکروه لیکلي دي نو د هغې په بدل کې بله غوا اخستل او قرباني کول او هغه پریښودل او بل کال کې ئې د دغه بچي سره قرباني کړي او قرباني کونکی غني هم دی او قربانۍ زمانه هم موجوده وي؟

**جواب**: (۱) صحیح ده.(۲) که بچي کې ساه نه وي اچول شوې نو بیا خو په کې څه شبهه نشته دی کنه نو بهتره ده چه بل وکړي او د دې حاملې چه څه وغواړی ودې کړي البته که بله غوا د کم قیمت وي نو د تفاوت په اندازه دې قیمت خیرات کړي.

ضمیمه سوال نمبر (۳): او که د بلې غوا په تالاش کې د قربانۍ زمانه تیره شوه او بله غوا ملاو نه شي او هغه حامله غوا د هغه سره موجوده وي تردې چه بچی ئې پیدا شو نو د هغه شیدې خوړل صحیح دي او که خیرات ئې کړي؟

**جواب**: شیدې خوړل ئې درست دي او د دې قیمت د صدقه کولو په ځاي قرباني واجب ده که قرباني ئې نه وي کړي. محرم ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه ص۷).

## تحقیق عدم وجوب اضیحه بر مسافر ووجوب صدقه فطر برآن

**سوال** :(٦٢٣) مسافر چه په کور کې د نصاب خاوند وي هغه د سفر په حالت کې د قربانۍ او فطره ورکولو قدرت .... وي نو په هغه به قرباني یا فطره ورکول واجب وي او که نه؟ لیکن في الحال سفر کې د نصاب په اندازه مال نشته لیکن د ضرورت په وخت په راغوښتلو قادر دي د داسې کس څه حکم دی؟

**جواب**: "فی الدر المختار باب الصرف وابن السبیل وهو کان من له مال لا معه وفی رد المختار عن الفتح ولا یحل له ای لابن السبیل ان یاخذ اکثر من حاجته ج۲ ص۹۹ وفی الدر المختار باب صدقة الفطر علی کل حر مسلم ولو صغیرا مجنونا ذی نصاب فاضل حاجته الاصلیة وان لم یتم به ای بهذا النصاب تحرم الصدقة وتجب الاضحیة وشرایطها الاسلام والاقامة والیسار الخ".

د دې روایتونو نه دا امور راووتل:

۱ـ په داسې مسافر نه صدقه فطر واجب ده او نه قرباني. ځکه چه د صدقې وجوب او د صدقې اخستلو حرمت نه جمع کیږي او دغه کس له زکات اخستل جائز دي نو د فطر صدقه او قرباني واجب نه ده.

۲ـ داسې کس له ګویا چه زکات اخستل درست دي مګر د حاجت نه دې زیات نه اخلي او ورکونکی دې هم ترې د حاجت تصدیق وکړي د حاجت نه دې زیات نه ورکوي.

۳ـ او که د دغه مسافر سره نصاب ورسره موجود وي نو قرباني خو به هم واجبه وي مګر د فطر صدقه پرې واجبه ده.

لیکن که د قربانۍ په ورځو کې مقیم شو نو بیا به قرباني واجبه شي.



۵ـ د سفر نه مراد شرعي سفر دی. ۲۶ شوال ۱۳۲۱هـ (تتمه ثانیه ص۸۰).

## جواز تصدق چرم قرباني بر غني

**سوال** :(٦٢٤) د قربانۍ څرمن غني باندې صدقه کول جائز دي او که نه؟ او هغه مالداره ئې د خرڅولو نه بعد قیمت په خپل تصرف کې راوړلی شي او که نه؟

**جواب**: د څرمنې حکم د غوښې په شان دی څرنګه چه د اضحیه غوښه غني ته ورکول جائز دي همداسې څرمن ورکول هم جائز دي کله چه هغه تبرعاً ورکړی شي د هغه کوم خدمت او عمل په عوض کې ورنکړی شي او کله چه د دغه غني ملکیت کړی شي نو هغه خرڅ او خپل تصرف کې راوړل د نورو مملوکه اموالو په شان جائز دی. ۲۸ ذی الحجه ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه ص۱۰۵)

## حکم چرم قرباني برائی متولي امام مسجد

**سوال** :(٦٢٥) متولي یا د جومات امام کوم چه غني دی هغه د عمارت په نیت جومات یا د جومات مصالحو ته ورکول او هغه د خرڅولو نه بعد عمارت یا د جومات مصالحو کې خرچ کول درست دي او که نه؟

**جواب**: که هغه ئې مالك جوړ کړی وي نو د دې حکم بره تیر شو لیکن که هغه متولي یا د جوات امام صرف ونه کړي نو بیا هم جائزه ده او که هغه ئې مالك کړی نه وي بلکه وکیل کړی ئې وي نو د هغه داسې تصرف کول جائز دي کوم چه د موکل لپاره ناجائز وي نو ځکه د هغه دا تصرف مذکور في اموال به درست نه وي. ۱۸ ذی الحجه ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه ص۱۰۵).

## اشتراط تملیک در ثمن جلد اضحیه معه چند سوالات وجوابات

**سوال** :(٦٢٦) (۱) د قربانۍ معینه چمړه کې دې ویلو سره د مدرس مهتمم یا متولي ته ورکول جائز دي او که نه چه دا خرڅ کړی شي په قیمت یا چه څرنګه هم وي د مدرس په جوړولو کې ولګول شي او د دې دلیل یا نقل څه دی؟

(۲) په دې باندې څه دلیل دی چه د څرمنو د قیمت مصارف بعینه د زکات مصارف دي په دې جال کې چه کتابونو کې وي چه وروستو د خرڅولو نه صدقه کول واجب دي یعنې پخپله تصرف کول جائز نه دي چه دا ئې صفا ووائي چه دا صدقه واجبه ده؟

(۳) په ټوله صدقه کې قبض یا تملیك شرط دی یا صرف واجبه کې که ټولو کې وي نو په صدقه جاریه کې خو ممکن نه دي د دې څه جواب او دلائل دي؟

(۴) دادځرمنې خرڅولو سره چه کوم کراهت راځي هغه تحریمي دی او که تنزیهي که تحریمي وي نو علماء د دې خلاف ولې نه کوي که تنزیهي وي نو د دې نه چه څه روپۍ راځي هغه مال به خبیث وي او که نه؟ که کوم مدرسه جوړه کړی شي نو د هغې به څه حکم وي بدلائل مطلوب؟

(۵) په کوم ځاي کې د صدقه واجبه او نافله تفصیل وار بیان شته او که نه؟ که وي نو په کوم کتاب کې ټول شواهد او دلائل په حنفي مسلك باندې کیدل پکار دي؟

**جواب**: (۱) دا صریح توکیل دی او وکیل له صرف هغه توکل جائز دی کوم چه موکل له جائز دی او تصرف مذکور في السوال پخپله موکل له هم جائز نه دا لهذا وکیل له هم جائزه نه ده؟

(۲) د واجبې صدقې خو همدا معنی ده چه تصدق ورسره واجب دی ځکه چه صدقه خو اعیان سره ده او وجوب صفت دی د فعل نو د اعیان د دې سره موصوف کیدل مجازا دي حقیقت د دې فعل د لاباس په وجوب دی نو کله چه ئې تصدق واجب وګڼلو نو همدې سره د دې صدقې واجب کیدل هم بالمعنی المذکور لازم راغلل او د دې نه علاوه خو ئې بله معنی نشته دی نو د دې صدقې واجبیدل ثابت شول نو د دې په واجبه صدقه کې په مصارفو کې څه شبهه شوه همدا دلیل په دې باندې کافي دی.

(۳) چونکه عین خو جاري نه دی او د هغې منافع جاري دی او هغه د ملکیت محل دی لکه څنګه چه په اجاره کې تملیك منافع بعوض او اعاره کې د بلا عوض تصریح کړی شوې ده نو د تخلف ملك صدقه د کوم ځاي نه لازمه راغله. د فقهاو علی الاطلاق دا ویل الصدقة کالهبة لا تصح غیر مقبوضة ولا في مشاع بیا د هبې په تعریف کې تملیك العین ویل والرایتان في الدر مختار وغیره صاف دلیل دی. چه په مطلق صدقه کې تملیك شرط دی او که د واجب سره هم خاص کړی شي نو د هغې واجب کیدل هم بره ثابت شول.

(۴) عین د کنز په شرحه کې دي "ولو باعها بالدراهم لیتصدق بها جاز الخ" د دې نه معلومه شوه چه دې نیت سره خرڅولو کې څه کراهت نشته دی.

(۵) در مختار باب مصرف الزکوة کې د ضرورت په اندازه دا احکام ذکر دي. ۴ محرم ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۱۰۷).



## جواز قرباني غنم متعدده از اشخاص متعدده بالاشتراک

**سوال**: (۶۲۷) زید او عمرو دوه وروڼه دي د هغوئ مال یوځاي کې جمع دی او خوراك څښاك ئې جدا دي دوئ همیشه د دې مال نه قرباني کوي مګر په دې طریقه ئې کوي چه حصه نه مقرروي صرف دوه حصې کیږي او یا څلور وي چه یوه د پلار او یوه د مور. نو آیا دې طریقې سره به قرباني کول صحیح شي او که نه؟ که په دې طریقې سره صحیح نه وي نو طریقه وښایئ؟

**جواب**: "فی العالمکیریة عن الاضاحی للزعفرانی اشتری سبعة نفر سبع شیاه بینهم ان یضحوا بها بینهم ولم یسم واحد منهم شاة بعینها فضحوا بها کذلك فالقیاس ان لا یجوزو فی الاستحسان یجوز فقوله اشتري سبعة نفر سبعة شیاه بینهم یحتمل شراء کل شاة بینهم ویحتمل شراء شاة علی ان یکون لکل واحد شاة ولکن لا بعینها فان کان المراد هو الثانی فما ذکر فی الجواب باتفاق الروایات لان کل واحد منهم یصیر مضحیا شاة کاملة وان کان المراد هو الاول فما ذکر فی الجواب علی احد الروایتین فان الغنم اذا کانت بین رجلین ضحیا بها ذکر فی بعض المواضع انه لا یجوز کذا فی المحیط شاتان بین رجلین ذبحاهما عن نسکیهما اجزاهما بخلاف العبدین بین اثنین اعتقهما عن کفارتهما لا یجوزاه ج۶ ص۲۰۵". د دې نه معلومه شوه چه په تپوس شوي صورت کې به قرباني صحیح شي باقي بهتره دا ده چه هر څاروي باندې د یو خاص کس نوم ولګول شي چه دا د فلاني د طرف نه دی او دا د فلاني د طرف نه دی او هغه د فلانئ. ۳۱ شوال ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۱۷۶).

## حکم تضحیه بساقط الفزع

**سوال**: (۶۲۸) یوه غوا چه یو تهن (د غولانځې نه یوه حصه) غورځیدلی دی او درې باقي دي قرباني پرې جائز ده او که نه؟

**جواب**: "فی رد المحتار وفی الابل والبقران ذهبت واحدة یجوزا واثنتان لا ه ج۵ ص۳۱۷". د دې نه معلومه شوه چه د داسې غوا قرباني جائزه ده. ۲۳ ذیقعده ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۱۹۲).

## حکم اکل طعام اغنیا از اضحیه منذوره

**سوال**: (۶۲۹) د نذر شوي څاروي نه نذر کونکي له خوراك ورکول او اغنیاو ته ورکول جائز دي او که نه؟ په ظاهره خو د وینې په تویولو سره نذر پوره شو اوس غوښه د مطلق اضحیه په حکم کې کیدل پکار دي څه چه تحقیق وي هغه ولیکئ؟

جواب: "فی العالمگیریة نذران یضحی ولم یسم شاة فعلیه شاة فلا یأکل منها وان اکل علیه قیمتها کذا فی الوجیز للکرخی، ص ۲۰۰ وفیها ان وجبت بالنذر فلیس لصاحبها ان یاکل منها شیئا ولا ان یطعم غیره من الاغنیاء سواء کان الناذر غنیا او فقیرا الا ان سبیلها التصدق ولیس للمتصدق ان یاکل صدقته ولا ان یطعم الاغنیاء کذا فی التبیین ج۶، ص۲۰۱" د دې روایت نه ثابته شوه چه د نذر شوې اضحیه نه نه پخپله نذر کونکي له خوراك جائز دی او نه غني له ورکول. ۶ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۱۹۲).

## جواز اکل معسر را از اضحیه خود

سوال: (۶۳۰) ما یو چېلۍ واخستلو او ومې ساتلو د قربانۍ دپاره مگر چونکه د نصاب خاوند نه وم نه په دې کې مولوي صاحب وفرمایل چه نه د دې قربانۍ نه پخپله غوښه نه شې خوړی ځکه چه ته د نصاب خاوند نه ئې او دا چېلۍ به ستا له طرفه معین نذر وي د قربانۍ په ځاي ما د بل مولوي صاحب نه تپوس وکړو نو هغوئ وفرمایل چه څه باك په کې نشته او ستاسو وفرمایئ او معتبرو کتابونو حوالې سره جواب راکړئ؟

جواب: "فی العالمگیریة وله ان یدخر الکل لنفسه فوق ثلثة ایام الا ان اطعامها والتصدق بها افضل الا ان یکون الرجل ذا عیال وغیر موسع الحال فان الافضل له حینئذ ان یدعه لعیاله ویوسع به کذا فی البدائع ان وجبت بالنذر فلیس لصاحبها ان یاکل منها شیئا ولا ان یطعم غیره من الاغنیاء سواء کان الناذر غنیا او فقیرا ج۶ ص۲۰۱" د دې روایت نه معلومه شوه چه کله په ژبه نذر وکړي نو د هغې خوراك خو پخپله جائز نه دی او کوم چه نذر نه شول نو د نذر په شان هغه باندې واجب شوی دی نو د هغې خوراك جائز دی. "کما یدل علیه قوله غیر موسع الحال". ۱۸ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۲۰۱).

## مبادله لحم بجرم قربانی

سوال: (۶۳۱) دلته د ښاروي څرمن قصاب په ورکول کیږي او د هغوئ نه د څرمنې په بدله کې په محرم کې غوښه اخستل کیږي او پخپله ئې خوري د دې څه حکم دی؟

جواب: کومو ښارونو کې چه څرمن په وزن خرڅیږي هلته خو دا بیعه صحیح نه ده چه د موزون په موزون سره بدلول نسبا ربوا ده او په کومو ځایونو کې چه په شمار خرڅیږي نو صحیح ده کله چه د غوښې اندازه او صفت پوره طور سره بیان کړی شي لیکن د هغې



په بدله کې به چه څه غوښه راځي د هغې ټول خیراتول په مسکینانو واجب دي که پخپله ئې وخوري یا غني (مالداره) باندې وخوري نو د دغومره اندازې قیمت صدقه کول به واجب وي.

"فی الدر المختار لا یستهلك بخل ولحم ونحوه کدراهم فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلك او بدراهم تصدق بثمنه اه قلت ولا تغلط مما فی رد المحتار عن القنیة اشتری بلحمها ماکولا فاکله لم یجب علیه التصدق بقیمته استحسانا اه جد ص۲۰۲ لانه مخصوص باللحم دون الجلد والفرق ان اللحم ماکول دون الجلد فاقیم ماکول مقام الماکول دون غیرالماکول". ۲۵ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۲۰۱).

## تحقیق بودن ذبح انعام از عهد آدم علیه السلام

سوال: (۶۳۲) د غوا وغیره ذبحه کول کله نه شروع شوي دي په دې باره کې که په قران یا حدیث کې کوم ارشاد وي د هغې نه مو خبر کړئ؟

جواب: کله نه چه حضرت آدم علیه السلام ځمکې ته تشریف راوړلو نو هغه وخت نه د ښارو حلالولو الهي حکم جاري دی. د حضرت آدم علیه السلام د ځامنو هابیل او قابیل قصه په قران کې ذکر ده چه هابیل قرباني کړې وه او د الله ﷻ په نزد قبوله شوه او هغه ښاروی یا اوښ وو او یا گډ چه په کې اختلاف دی. "قال الله تعالی: اذقربا قربانا فتقبل من احدهما ولم یتقبل من الآخر. الآیة" وهابیل صاحب ضرع وقرب جملا سمینا، بیضاوی ۱۲ وهو کبش لهابیل، جلالین ۱۲. او د هغه وخت نه تراوسه پورې په ټولوامتونوکې ښاروو حلالول جاري او مشروع دي. "قال الله تعالی لبنی اسرائیل: ان الله یامرکم ان تذبحوا بقرة الآیة" وقال تعالی: "امتنانا علینا الله الذی جعل لکم الانعام لترکبوا منها ومنها تاکلون، الآیة" ۱۲ محرم ۱۳۱۰ھ، والله اعلم. (امداد ج ۳ ص ۱۵۵).

## حکم تسمیه بر اعانت کننده در ذبح

سوال: (۶۳۳) کتاب احکام العیدین مصنفه نواب قطب الدین خان کې مې یوه مسئله ولیده په کوم سره چه سخت تردد کې شوم نو ځکه د اطمنان په غرض ئې ستاسو خدمت ته رالیږم امید دی چه شافي جواب راکړئ هغوئ یو حدیث نقل کړی دی: "وهوهذا وعن ابی الاسد الاسلمی عن ابیه عن جده قال کنت سابع سبعة مع رسول الله ﷺ (ثم بعد کلام طویل) فامر رسول الله ﷺ فاخذ رجل برجل ورجل برجل ورجل بید ورجل بید ورجل بقرن ورجل بقرن وذبحها السابع وکبرنا جمیعا رواه احمد". د دې د شرحې نه بعد نواب صاحب یوه فائده لیکلې ده هغه هم بعینه نقل کوم.

ف: د دې نه معلومه شوه چه څوك قرباني ذبحه كړي او كوم كس چه ورله لاس او خپې وغيره ونيسي نو ټول به تكبير وائي او د خپل استاد مكرم حضرت مولانا محمد اسحاب جناب نه ما واوريدل چه فرمايل ئې د قربانۍ خپو يا مرۍ نيونكو لپاره ضروري ده چه هغه هم بسم الله ووائي كه وېي نه وائي نو هغه حرامېږي ماته خو ياد وو چه كه دوه كسان يا زيات په ذبحه كولو كې شركت وكړي چه په چاړه باندې ټول لاسونه كيږدي نو هر يو باندې تسميه واجب ده او كه صرف شريك شي نو ذبحه كونكي باندې واجب ده او همغه كافي ده په شامي كې اول صورت يعني شركت الاثنين في الذبح حكم وجوب على كل واحد خو ملاو شو مګر د دويم صورت حكم يعني چه كله ذبحه كونكي صرف يو كس وي او د لاس خپو نيولو والا بالكل وي نه نو؟ فبينوا بالتفصيل ولكم عند الله الاجر الجزيل؟

جواب: عالمګيري، قاضي خان او در مختار وغيرها كې چه چيرته وجوب تسميه على المعين وشرط اسلاميه ليكلي دی هلته ئې د اعانت تفسير دې الفاظو سره كړی دی "وضع صاحب الشاة على السكين يده مع يد القصاب حتى يعاونا على الذبح او عجز عن مدقوسه فاعانه على يده مجوس اواخذ مجوسى بيد المسلم فذبح والسكين فى يد مسلم". د دې نه صفا ظاهره شوه چه په كوم باندې دا تفسير نه صادقيږي هغه كس معين واجب على التسميه نه دی "وقد صرحوا بان مفاهيم الكتب الفقهية حجة". نو صرف د لاس خپو نيولو والا باندې تسميه واجب نه ده فتاوى سعيديه قلمي صـ۱۱۲ كې په دې باندې كافي بحث دی نو د نواب صاحب تحرير مبني دی په اشتباه باندې چه معين ئې مطلق وګڼلو او تفسير باندې ئې باعتبار قيد احترازي نظر ونه كړو شايد تمثيل ئې ګڼلی وي او د حضرت استاد نه چه ئې څه نقل كړي دي ممكنه ده چه د هغوئ هم دغه منشا وي يا په ياد كې غلط شوی وي يا عدم تدبر في الحديث سبب شوی وي د احتجاج بالحديث كنه نو لږ غور كولو سره صاف ظاهره ده چه د حديث نه صرف د تسميې وقوع ثابت دې او وقوع وجوب لره مستلزم نه دی ممكنه ده چه دا وقوع د استحباب په طور وي او د استحباب نه د انكار هيڅ وجه نشته دی او د لفظ امر معمول حديث كې اخذ دی نه چه تكبير فقط. قرب ۱۳۳۶هـ (تتمه خامسه صـ ۳۹)

## علت وجوب ذبح مترا ثانيه بر فقير نه بر غني

**سوال**: (٦٣٤) د جنتي كالی دريمه حصه ګورم صفحه ۴۴ د قربانۍ مسئله ۱۶ كې دا عبارت دی چه كه د قربانۍ څاروی چيرته ورك شو او بل ئې واخستلو بيا اول ملاو شو هغه



مالداره سړی داسې وي نو د يو څاروي قرباني به پرې واجب وي دا عبارت ۱۶ مسئله صفحه ۴۴ جنتي كالی كې ليكل شوې ده په دې پوهه نه شوم چه غريب باندې د دواړو څاروو بار او مالداره باندې صرف د يو څاروي؟

**جواب**: د دې څل وجه پخپله د دې غريب بل څاروی اخستل دي كه بل څاروی ئې نه وي اخستلی نو د هغه په ذمه هيڅ هم نه وو بيا كه اول هم ملاو شوی وي نو د هغه په ذمه به همغه يو وي چه هغه هم اخستلو سره واجب وي او مالداره كس باندې پخپله د شروع نه قرباني واجبه ده كه ئې وانخلي نو بيا هم پرې اخستل واجب دي او دا واجب يو دی نو كه هر څومره واخلي همغه به يو واجب وي او كه اول نه وي ملاو شوی نو بل اخستل به واجب وي او غريب چه څومره اخلي هغومره به پرې واجبيږي. ۷ رمضان المبارك ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالثه صـ ۷۱)

## دليل عدم جواز صرف ثمن چرم قرباني در مسجد

**سوال**: (٦٣٥) احقر د قربانۍ مسائل په ګجراتي ژبه كې كړې دي تاسو چه كوم مسائل په جنتي كالی كې دريمه حصه كې ليكلي دي د هغې متعلق او هغه دا دی:

۱ مسئله: د قربانۍ څرمن يا خو همداسې خيرات كړي الخ

۲ مسئله: د دغه څرمنې قيمت د جومات مرمت الخ. عرض دا دی چه د كوم ځاي نه ئې راوړې دي او د كوم كتاب دی زه په خپله ګجرات ژبه كې د هغې حواله وركوم څكه چه خلك دلته مسئله كې مختلف فيه دي تاسو مهربانۍ وكړئ او حواله راكړئ؟

**جواب**: دا احكام د مختلفو بابونو نه اخستل شوي دي. "فى الدر المختار فان بيع اللحم والجلد به اى بمستهلك اوبدراهم تصدق بثمنه وفيه كتاب الهبة وصدقة كالهبة لا تصح غير مقبوضة وفيه هواى الهبة تمليك العين مجانا وفيه باب المصرف للزكوة وجازت التطوعات من الصدقات وغلته الاوقات لهم الخ". د دې روايتونو نه د څرمنې د صدقه كولو د وجوب او د ملكيت شرط كيدل او د واجبو صدقاتو مصرف د زكات په شان كيدل ثابت شول د دې مجموعې نه هغه مجموعي احكام ثابت شول. ۴ ذيقعده ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالثه صـ ۹۷)

## تحقيق وقف چرم قرباني در مسجد

**سوال**: (٦٣٦) د قربانۍ د څرمنې د عين په انتفاع جائزه ده نو كه داسې كوم غني يا سيد ته وركړی شي نو په ظاهره خو جائز معلوميږي البته د خرڅولو نه وروستو به غني يا سيد ته

ورکول جائز نه وي چه تصدق واجب دی اوس دعین د هبه کولو نه بعدد سید او غني خرڅولو او قیمت خپل مصرف کې راوړلو اختیار لري او که نه؟ اول شق ظاهر دی نو که دا صحیح وي نو که یو کس ئې جومات کې وقف کړي نو بیا به هم جائز وي. بیا د جومات متولي اختیار لري چه د خرڅولو نه بعد د دې قیمت په کوم مصرف کې وغواړي خرچه کړي البته که متولي وکیل کړي او هغه ئې وکالت خرڅ کړي او بیا ئې اجازت سره په جومات کې مصرف کړي نو د عدم تملیك په وجه به درست نه وي. علی هذا. که پخپله ئې د نیابت په طریقې سره عن الفقراء خرچ کړي نو بیا هم په ظاهره د تصدق واجب شرائط ضروري نه معلومیږي یعنې سیدانو وغیره ته ورکول جائز معلومیږي بلکه دې طریقې سره خو د حجاز ریلوی ته هم د ورکولو ګنجائش پیدا کیږي او مدرسو ته چه کومې څرمنې راځي هغه مهتمم د خرڅولو نه بعد د مدرسې ضروریاتو کې خرچه کول جائز وي که تملیك وموندل شي او که نه؟

**جواب**: "فی الدر المختار تعریف الوقف حبسها علی حکم ملك الله تعالی وصرف منفعتها علی من احب وفیه فاذا تم ولزم لا یملك ولا یملك وفیه وکما صح ایضا وقف کل منقول قصدا فیه تعامل للناس کفاس وقدوم بل ودراهم ودنانیر وفی رد المختار ان الدراهم لا تتعین بالتعیین وان کانت لا ینتفع بها مع بقاء عینها لکن بدلها قایم مقامها لعدم تعینها فکانها باقیة اه وفیه یدفع الدراهم مضاربة ثم یتصدق بها فی الوجه الذی وقف علیه الخ وفیه فوقف الدراهم متعارف فی بلاد الروم دون بلادنا ووقف الفاس والقدوم کان متعارفا فی زمن المتقدمین ولم نسمع به فی زماننا فالظاهر انه لا یصح الان ولئن وجدنا الا یعتبر لما علمت من ان التعامل هو الاکثر استعمالا فتامل اه".

د دې عبارت نه څو امور مستفاد شول:

۱ـ وقف کې د عین حبس ضروري دی حقیقتاً یا حکماً داسې چه بدل ئې باقي وساتل شي.

۲ـ منقول وقف د همدې څیزونو سره خاص دی په کوم کې چه ئې عرف وي.

۳ـ د موقوف علیه نه بغیر بل څه کې متولي له د مصرفولو اختیار نشته دی.

اوس کتل پکار دي چه اول خو چه څوك جوماتونو ته څرمن ورکوي د هغوئ قصد د وقف نه وي دویم که قصد وي هم نو د عرف دنه موجودیدو د وجې نه صحیح نه دي او شاذ ونادر د کوم عمل موندل کیدل د اعتبار قابل نه دي دریم که صحیح هم وي نو د دې قرباني څرمن باقي پاتې کیدل به شرط وي. حقیقتاً مثلا دولچه یا جانماز جوړ کړی شي یا حکما چه دا خرڅ کړي او د قیمت په اندازه همیشه لپاره باقي پاتې شي او د دې منفعت د خیر په وجه کې مصرف شي. څلورم منفعت به هم د دې په دې مصرف کې وشي په کوم کې چه واقف



تعین کړی دی نه دا چه متولي چیرته وغواړي او د دې ټولو امورو فقدان ظاهر دی نو په جومات کې وقف صحیح نه دی او واقع هم نه دی بلکه مقصود توکیل وي او د نیابت لپاره اول خو د انیابت حاجت دی او که په دې کې وسعت وکړی شي نو هم ضرور ده چه فقیرانو ته ئې ورکړي ځکه چه هغوئ حکما او تقدیرا د خپل منفعت لپاره نائب جوړ کړای دی نه چه د حجاز ریل وغیره دپاره او که په دې تاویل سره د سیدانو لپاره ګنجائش راوویستل شي نو هم مشکله ده ځکه چه واقع کې خو نه شو د کراهت تعریف د بیعې لپاره تاویل کیدی شي نو په دې سره د قیمت مصرف خو نه شي بدلیدی وهذا ظاهر کله متامل. والله اعلم. او د وقف د مضمون وړاندې چه څومره مضمون دی ټول صحیح دی. ۱۶ محرم ۱۳۲۵ھ (امداد ج ۲، ص ۱۰۷).

## عدم جواز تضحیه در صورت کمي عمر یک هفته

**سوال**: (۶۳۷) یو چیلۍ تر لوي اختر پورې اته ورځې کم د یو کال به وي هغه ډیره زیات ښه او چاق ده ځوان ده غابښونه ئې هم کړي دي مګر د کال نه به اته ورځې په اختر کې کمه وي هغه چیلی په دې اختر کې قرباني کیدی شي او که نه؟

**جواب**: "في العالمګیریة وتقدیر هذه الاسنان بما قلنا یمنع النقصان ولا یمنع الزیادة حتی لو ضحی باقل من ذلك شیئا لا تجوز ولو ضحی باکثر من ذلك شیئا یجوز ویکون افضل ج ۶ ص ۱۹۹". په دې روایت کې لفظ شیئا کې تصریح ده چه په تپوس شوي صورت کې د دې قرباني درسته نه ده. ۲ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثالثه ص ۱۱۴).

ایضاً

**سوال**: (۶۳۸) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د قربانۍ چیلۍ که په کال کې یوه ورځ کم وي نو په هغې قرباني کیدی شي او که نه؟ علی هذا القیاس که د غوا په دوه کالو کې یوه ورځ نیمه کمه وي نو قرباني کیدی شي او که نه؟

جواب: نه کیږي. "في العالمګیریة وتقدیر هذا الاسنان بما قلنا یمنع النقصان ولا یمنع الزیادة حتی لو ضحی باقل من ذلك شیئا لا تجوز ج ۶ ص ۱۹۹" قلت قوله شیئا یعم یوما او یومین". ۲۵ ذیقعده ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه ص ۳۱۵).

## حکم ذبح بطور نذر یا شکر

**سوال**:(٦٣٩) علماء په دي باره کي څه فرمائي چه زید نذر ومنلو که فلانی کار مي وشو او په کي کامیاب شوم نو د الله ﷻ په نوم به یو چیلی یا غوا ذبحه کوم یا نذر خو ئي نه دی منلی مگر همداسي ئي یو څاروی ذبحه کړو او د هغي غوښه ئي په فقیرانو او مسکینانو تقسیم کړه نو آیا د هغه دا فعل یا نذر جائز هم دی او که نه؟ د کتابونو حوالي سره جواب راکړئ، بینوا توجروا؟

**جواب**: "فی الدر المختار وقال ابن بریت من مرضی هذا ذبحت شاة او علی شاة اذبحها فبری لا یلزمه شیا لان الذبح لیس من جنسه فرض بل واجب کاضحیة ولا یصح الا اذا زادوا تصدق بلحمها فیلزمه لان الصدقة من جنسها فرض وهی الزکوة (فتح وبحراه) وفی رد المختار عن الخانیة قال ان بریت من مرضی هذا ذبحت شاة وبری لا یلزمه شیء الا ان یقول فلله علی ان اذبح شاة اه ثم قال لان قوله ذبحت شاة وعد لا نذر ثم قال ثم یجب (ای الصوم) مالم یقل لله علی وفی الاستحسان یجب اه ج۳ ص۱۰۷". د دي عبارتونو نه معلومه شوه چه که داسي ئي نذر وکړو چه حلالوم به ئي او په مسکینانو به ئي خورم یا ورکوم به ئي نو بیا خو به دا نذر بالاتفاق منعقد شي او که مسکینانو ته د ورکولو ذکر ئي نه وو کړی صرف دومره ئي وویل چه حلالوم به ئي نو د دي نذر په صحیح کیدو کي اختلاف دی مگر علامه شامي د صحیح کیدو طرف ته ترجیح ورکړي ده. "کما قال بعد العبارة المذکورة ویویده ایضا ما قدمناه عن البدایع وبه یعلم ان الاصح ان المراد بالواجب ما یشمل الفرض والواجب الاصطلاحی لاخصوص الفرض فقط اه قال العبد الذی اسرف علی نفسه ویرد علیه ان من شرایط صحة النذر کون النذور به قربة مقصودة وقد صرح الفقهاء بان الاراقة غیر معقولة مختصة بزمان مخصوص ویلزم منه کون الاراقة فی غیر ذاك الزمان غیر قربة فکیف انعقد النذر به واجاب عنه بعض احبابی بانه لعل المراد اعم من ان یکون نفس المنذور به قربة ان یکون جنس المنذور به قربة فالاراقة فی غیر زمان مخصوص وان لم یکن قربة لکن الاراقة فی زمان مخصوص التی هی من جنسها قربة فیصح النذر وعورض اولا بانه خلاف الظاهر فیحتاج الی نقل صریح وثانیا بانه معارض بنقل صریح وهو ما فی الدر المختار وکان من جنسه واجب وهو عبادة مقصودة فی رد المختار و.... الضمیر راجع الی النذر بمعنی المنذور اه وفی فتح القدیر مما هو طاعة مقصودة لنفسها ومن جنسها واجب ج۳ ص۷۳ وفی رد المختار بعد العبارة المذکورة فهذا صریح فی ان الشرط کون المنذور نفسه عبادة مقصودة لا ما کان من جنسه ج۳ ص۱۰۲؛ ثم بد الی جواب وهو انا سلمنا ان القیاس یقتضی عدم صحة هذا النذر کما قاله المورد لکنا ترکنا القیاس بالنص وهو ما رواه ابو داود فی سننه ان رجلا قال یا رسول الله ﷺ انی نذرت ان انحر ببوانة قال اهنا وثن من اوثان المشرکین او عید من اعیادهم قال لا قال فاوف بنذرك الحدیث کما ان النذر بذبح الولد قلنا بصحته وانه یجب فیه شاة مع کون



ذبح الولد غیر قربة ومعصیة لکنا ترکنا القیاس بالنص کما فی الدر المختار نذر ان یذبح ولده فعلیه شاة القصة الخلیل علیه السلام ج ۳ مع رد المختار ص ۱۰۶". دا خبره خو په نذر کي وه او که د نذر نه بغیر د شکر په طور ئي ذبحه کړي نو په دي کي دوه صورتونه دي یو دا چه پخپله ذبحه مقصود نه ده بلکه مقصود مسکینانو له خوراك ورکول دي او ذبحه ئي صرف ذریعه ده د سهولت لپاره او د دي علامت دا دی چه که هغومره اندازه غوښه د بل دکان نه ملاو شي نو په هغي باندي اکتفا وکړي او د ذبحي اهتمام ونه کړي نو بیا خو دا ذبحه جائزه ده او دویم صورت دا دی چه پخپله ذبحه کول مقصود وي او ذبحه د شکر او قربت طریقه وګڼي نو د قواعدو د مخي دا صحیح نه معلومیږي. "لما ان الاراقة فی غیر محال واردة لم یعرف قربة وهذا لم یرد فیه نقل کما قد علمت فی تقریر الایراد والجواب عنه". او دي ځاي پوري د سوال د جزءونو جواب وشو او د دي نه د یو صورت حکم هم معلوم شو د کوم سره چه استفتاء کي خو تعرض نه دی کړی شوی مگر د تپوس کونکي په خط کي د هغه هم ذکر دی دي عبارت سره که اخوا دیخوا څه راشي او ګډه یا چیلۍ ئي ذبحه کړه او صدقه ئي کړه صرف د الله په نوم الخ او د دغه عبارت نه بعد کوم عالم چه تعین ئي نه دی کړی قول هم نقل کړی چه دا کار قطعا ناجائز دی الخ. داسي خصوصیت سره په اکثرو عوامو کي بلکه ممتازو خلکو کي دا رسم دی چه د مریض د طرف نه څاروی ذبحه کوي یا د وبا دفع کولو لپاره داسي کوي نو د قوي قرائنو نه په دي موقع باندي هم معلومیږي چه پخپله ذبحه مقصود ده او دا د مرض په حالت کي د بلاء د دفع کولو لپاره موثر او من حیث الذبح فدیه ګڼل کیږي نو د دي سوال حکم هم د قواعدو د مخي عدم جواز معلومیږي. " لما مر من قوله ان الاراقة فی غیر محال وارادة الخ ولا یقاس علی العقیقة لانه غیر معقول فلا یتعدی". دلته غلطي ده باید صحیح شي. البته که دلته هم حلالکه مقصود نه وي صرف اعطاء او احکام مقصود وي د کوم علامت چه بره ذکر شو نو بیا جائزه د متکلم فیها نه د کوم روایت ورور ثابت شي هلته د دي نص مقابله کي قیاس پریښودل او د جواز حکم کیږي بشرط سلامت اعتقاد. "من الموثریة وغیرها کما نقل فی التفسیر المظهری عن عمر انه ذبح ناقة غالیة الثمن لما ختم البقرة شکر الله تعالی فلو ثبت بدلیل صریح صحیح ان مقصوده کان الشکر بخصوص طریق الذبح فیحکم علی مثله بالجواز ایضا لکن محض الاحتمال لا یکفی لصحة الحکم بالجواز لان الاصل وهو کون الاراقة غیر معقول لا یعدل عنه لمحض الاحتمال بل الغالب بشهادة الذوق من مثل عمر ان مقصوده کان الاطعام وکان تخصیص الذبیحة لطیب لحمها وغلاء ثمنها؛ هذا ما عندی فی هذا الباب والله اعلم بما عنده من الصواب". کتبه اشرف علی. ۳۰ شوال ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص ۱۵۵).

### حکم قرباني گوسفند خنثی

**سوال** :(٦٤٠)"فی العالمکریة لا یجوز التضحیة بالشاة الخنثی لان لحمها لا ینطبخ اه وفی الدر المختار ولا بالخنثی لان لحمها لاینضج اه".د دې روایت صحیح او که نه؟ که چا اتفاقا د خنثی چیلي قرباني وکړه او هغه علت د عدم جواز ونه موندل شو یعنې غوښه ښه پخه شوه نو قرباني جائزه وي او که نه؟ د خنثی نه مراد مطلق دی او که مشکل؟ د دې ځاي علماء د دې په باره کې دوه ډلې شوي ستاسو جواب ته تول منتظر دي؟

**جواب**: د در مختار د مذکور قول لاندې د رد المختار صاحب ویلي. "وبهذا التعلیل اندفع ما اورده ابن وهبان من انها لا تخلو اما ان تکون ذکرا او انثی وعلی کل تجوز اه ج۵، ص ۳۱۷".د دې تقریر نه دوه خبرې معلومې شوې یو خو دا چه لان لحمها علت دی حکمت نه او ظاهره ده چه د علت ختمیدو سره حکم ختمیږي نو کله چه غوښه ښه پخه شوه نو قرباني ته به صحیح ویل کیږي دویم امر ترې د راوتلو چه د خنثی نه مراد خنثی مشکل دی مطلق نه دی کما یدل علیه قوله لا تخلوا اما ان تکون ذکرا او انثی کنه نو ظاهره ده چه ذکر یا انثی کیدل متعین دي او دې تقریر سره د سوال دواړو جزءونو جواب وشو. ۱۵ صفر ۱۳۲۵ھ (تتمه خامسه ص۵).

### تحقیق بعض مصارف جلد اضحیه ولحم آن

**سوال** :(٦٤١) علماء په دې مسائلو کې څه فرمائي:۱_ یو کس د مدرسې اهتمام په دې شراط واخستلو چه د سابقه تنخواه د استاذانو زه ذمه وار نه یم او نه په مدرسه کې دغه وخت څه توفیر وو؟۲_ که د شرعي مصلحت نه بغیر که د قربانۍ غوښه خرڅه کړی شي نو څه حکم دی؟ د واجبې صدقې او غیر واجبې؟ او هغه د مدرسینو تنخواه ورکولی شي او که نه په کومې حیلې سره، بینوا توجروا؟

**جواب**: په اول سوال کې صرف واقعه لیکلی شوې ده او دا ئې نه دي لیکلي چه مقصود بالسوال په دې واقعه کې څه دي لهذا د جواب نه معذرت غواړم.تتمه خامسه مر۲۴!
د دویم سوال جواب دا دی چه د غوښې حکم د څرمنې په شان دی که خرڅه کړی شي نو حکم ئې د واجبې صدقې دی او د مدرسینو تنخواه چونکه قرض دی په دې کې ورکول د تمول معنی ده لهذا جائزه نه ده او ګویا چه هغه تنخواه د ورکونکي په ذمه نه وي او شاید اول سوال کې دې طرف ته اشاره ده مګر کله چه ورکول کیږي من حیث الدین به ورکول کیږي او په دې سره دین ادا کیږي ګویا چه "متبرع باداء الدین من علیه الدین" نه د حق رجوع نه



کوي لیکن نور تول احکام به د دین وي نو ځکه به په دې احکامو کې د غیر متبرع په شان وي نو ځکه دا روپۍ تنخواه کې نه شي ورکول کیدی او حیله دې ظاهره کړی شي ترڅو د هغې حکم ولیکل شي.

### عدم جواز استعمال روغن که بعوض چرم قرباني خریده شود

**سوال** :(٦٤٢) تاسو وعظ کړی وو د کوم مطلب باندې چه زه داسې پوهه شوی یم چه د قربانۍ څرمن یا ئې قیمت د بل قابل استعمال څیز بدل په کار کې راوستلی شو مګر روپۍ یا داسې څیز لکه تیل چه پخپله ئې نه شي استعمالولی بلکه هغه سوزول او د رڼا نه ئې فائده اخستلی شو یا روپو باندې بل داسې څیز واخستل شي نو د هغه نه فائده اخستلی شو او د داسې تبادلې استعمال جائز دی او که نه؟ بلکه هغه تیل او روپۍ دې خیرات کړی شي د دې متعلق عرض دا دی چه که تیل په سر ولګول شي یا د دروازو وغیره سولولو په کار راشي نو دا تبادله او استعمال به جائز وي او که نه، فقط؟

**جواب**: نه. ولې چه د دې انتفاع د دې د بقاء سره نه ده بلکه هغه استعمالیدو سره فنا کیږي.
یکم ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص۴).

### جواز تبادله چرم خام قرباني با چرم پخته بشرطیکه جانب همراه قیمت شامل نکند

**سوال** :(٦٤٣) د قربانۍ اصلي خامې څرمې په پخې څرمې بدلول یا خام سره څه قیمت یوځاي کړی شي نو دا جائزه ده او که نه؟ او د داسې تبادلې په وخت د دواړو قیمتونو د قیمت خیال تبادله کونکی ضرور کوي؟

**جواب**: جائزه ده مګر د پخې سره نور قیمت شاملیدل جائز نه دي، فقط. تاریخ بالا. (تتمه خامسه ص۷۴).

### جواز استدلال چرم پخته بعوض چرم قرباني

**سوال** :(٦٤٤) دا پخه څرمه د بوکې وغیره په شان په خپل کار راوړل جائز دي او که نه، فقط سائل بالا؟

**جواب**: جائزه ده، فقط تاریخ بالا. (تتمه خامسه ص۷۴).

### واجب بودن تصدق بقیمت چرم پخته که از چرم قرباني بدل کرده شده است

**سوال** :(٦٤٥) او که هغه يو وخت خرڅ کړی شي نو آيا قيمت ئې خيراتول پکار دي؟

**جواب**: آو! خيراتول پکار دي. تاريخ بالا. (تتمه خامسه صـ ۷۵).

### جواز شريک کردن چند اموات در يک حصه قرباني

**سوال** :(٦٤٦) که د وفات شوي خپلوانو يا اهل بيت يا خاص د رسول الله ﷺ د طرف نه قرباني وکړی شي نو د دې څه طريقه ده آيا د نورو شريکانو په شان هر يو ... د طرف نه يوه يوه حصه کې څوکسان شريک کړي، فقط؟

**جواب**: په يو کې ټولو ته ثواب بخښلی شي، فقط. تارخي بالا. (تتمه خامسه صـ۷۵).

ايضاً

ما تير کال زباني يوه فتوی ورکړې وه چه لکه څرنګه چه د خپل طرف نه قرباني کولو کې يوه حصه د دوه کسانو نه جائزه نه ده همداسې د غير د طرف نه تبرعا په نفل قرباني کولو کې که د ژوندي د طرف نه وي او که د مړي د طرف نه يوه حصه د دوه کسانو ته جائزه نه ده مګر روايتونو نه د دې خلاف ثابت شو. نو اوس د هغې نه رجوع کوم او بله فتوی ورکوم چه کومه قرباني چه د بل د طرف نه تبرعا وکړی شي نو چونکه هغه د ذبحه کونکي ملکيت وي او صرف هغه بل ته ئې ثواب رسيږي نو ځکه يوه حصه د څو کسانو نه هم کيدی شي لکه څنګه چه مسلم کې دي چه د خپل طرف نه يوه حصه قرباني کولو سره څو کسانو ته ثواب رسيدل جائز دي نو دا هم همداسې دي. "والروايات هذه فرع من ضحى عن الميت يصنع كما يصنع فى اضحية نفسه من التصدق والاكل والاجر للميت والملك للذابح قال الصدر والمختار انه ان كان بأمر الميت لا ياكل منها والا ياكل بزازية وسيذكر فى النظم رد المختار صـ۳۱۸، جـ۵. وعن اميت اى لوضحى عن ميت وارثه بأمره الزمه بالتصدق بها وعدم الاكل منها وان تبرع بها عنه له الاكل لانه يقع على ملك الذابح والثواب للميت ولذا لو كان على الذابح واحدة سقطت عنه اضحية كما فى الاجناس قال الشر بنلالى لكن فى سقوط الاضحية عنه تامل اه اقول صرح فى فتح القدير فى الحج عن الغير بلا امر انه يقع عن الفاعل فيسقط به الفرض عنه وللاخر الثواب فراجعه رد المختار جـ۵ صـ۳۲۸، وفى الدر المختار وان مات احد السبعة المشتركين فى البدنة وقال الورثة اذ بحووا عنه وعنكم صح عن الكل استحسانا فالقصد القربة من الكل صـ۳۱۸، وفى رد المختار قوله لقصد القربة من الكل هذا وجه الاستحسان قال فى البدايع لان الموت لا يمنع التقرب عن الميت بدليل انه يجوز ان يتصدق عنه ويحج عن وقد صح ان رسول الله ﷺ ضحى بكبشين احدهما عن نفسه والاخر عمن لم يذبح من امته وان كان



منهم من قدمات قبل ان يذبح اه صـ۳۱۸، قلت وقد دل الحديث على جواز التضحيه عن الحى تبرعا وعلى جواز الصحة الواحدة عن الكثيرين" او د دې وقوع؛ "الذبح عن الذابح وحصول الثواب للغير" فرعه دا ده چه دا تضحيه نافله عن الحي تبرعا کې د دې ژوندي د اجازت ضرورت نشته دی ما د دې د ضرورت هم ويل مګر اوس ترې رجوع کوم د زکات او واجبه صدقاتو په خلاف چه په هغې کې د غير اذن شرط دی. قرب ۳۶هـ (ترجيح خامس صـ ۲۴).

### عدم سقوط قرباني واجب از ذمه ميت بسبب قرباني کردن از جانب او

**سوال** :(٦٤٧) که د کوم متوفي په ذمه واجبه قرباني پاتې شوې وي نو آيا د دې ثواب رسولو سره به هغه ساقطه شي، فقط؟

**جواب**: نه، فقط. يکم ذی الحجه ۱۳۳۶هـ (تتمه خامسه صـ ۷۵).

### د مړي نه د ذمې نه د قربانۍ نه ساقطيدل

**سوال** :(٦٤٨) قرباني د خپل طرف نه کولو او ثواب مړي ته رسولو باندې په قرباني کونکي ته ثواب ملاويږي او که نه؟ يا که د مړي د طرف نه حصه واخلي نو بيا به د قربانۍ کونکي ته ثواب ملاويږي؟

**جواب**: دا د آخرت متعلق دی دا مسئله نه ده. د دې تحقيق لپاره د اجتهاد قياس کافي نه دی د روايت نقل کيدل پکار دي او هغه د نظر نه نه دی تير شوی، فقط. ۱ ذی الحجه ۱۳۳۶هـ.

### عدم وجوب قرباني از طرف نابالغان بذمه مادر وپدر ايشان

**سوال** :(٦٤٩) د نابالغه ماشومانو د طرف نه قرباني کول د هغه د پلار په ذمه دي او که نه، فقط؟

**جواب**: نه، فقط. تاريخ بالا. (تتمه خامسه صـ ۷۵)

### تحقيق بودن نيت زيادتي ثواب ورضائی الهي از قرباني نافله

**سوال** :(٦٥٠) که د واجبې قربانۍ نه زيات کوم کس نذر وکړي الله ﷻ به ترې راضي شي او که نه صرف ثواب کې به ئې زياتوالی راشي، فقط؟

**جواب**: په دې دواړو کې مقابله د څه ده. آيا ثواب زياتوالی د الله ﷻ رضا نه ده؟ فقط تاريخ بالا. (تتمه خامسه صـ ۷۵).

## جواز استعمال چرم قرباني که خریده شود

سوال :(۶۵۱)د قربانۍ څرمن که یو شریك د خپلې حصې نه علاوه د نورو شریکانو حصه واخلي نو بیا هغه اخستل شوې چمړه ټوله اخستونکی استعمالولی شي او که نه؟

جواب: استعمالولی ئې شي. ۵ ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص۷۶).

## جواز آوردن در مصرف خود قیمت چرم قرباني سوائی حصه

سوال :(۶۵۲)که یو کس څرمن اخستلې وي او بیا ئې خرڅه کړي نو ټول قیمت به ئې خیراتوي که ټول به استعمالوي او یا کوم چه ئې اخستلی وو هغه به استعمالوي او نوره به خیرات کوي په دې کې تفصیل راکړئ؟

جواب: او دا دریم صورت صحیح دی. ۵ ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص۷۶).

## آوردن قیمت چرم قرباني در مصرف خود

سوال :(۶۵۳) که د قربانۍ خامه څرمن د پخې څرمن په قیمت خرڅه شي او هغه د غیر قربانۍ څرمن سره وي نو پخه څرمن ورکو ل او د قربانۍ والا خامه څرمن په تبادله کې اخستلی شي او هغه کس د قربانۍ دا څرمن خرڅولی او قیمت ئې خپل مصرف کې راوړلی شي او که نه؟

جواب: کولی ئې شي. ۵ ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص ۷۶).

بعد الحمد والصلوة احقر اشرف علي عرض دا دی چه زه د جمادی الاولی ۱۳۳۸ھ په شروع کې ګورته تللي وو یو ورځ جناب مولانا عبدالغفور یو سوال راوبښودلو کوم چه د غوا حلالولو متعلق وو ما مولانا ته د مبسوط نه د جواب لیکلو وویل کوم چه علامه صاحب منظور کړل بیا چه کله زه د جمادی الاولی په مینځ کې وطن ته واپس شوم نو ماته هم هغه سوال راغلو کوم چه ما د جواب ورکولو لپاره حبیب احمد کیرانوي له ورکړو د دوه وجو نه. یو د دې وجې نه چه ما سره وخت نه وو. دویم ځکه چه زما نه به ئې ښه ولیکي کله چه دویم جواب تیار شو په دغه وخت کې د اول سوال نقل هم زما په غوښتنه ماته راولیږل شو او دا دواړه چونکه کافي او شافي وو نو کله مې جمع کړل او د امداد الفتاوی جزء جوړول راته مناسب معلوم شول د اول جواب لقب "الاعتصام بحبل شعایر الاسلام" او ددویم لقب "تصلیة سقر لمانع تضحیة البقر".



## الجواب الاول الملقب باعتصام بحبل شعائر الاسلام

بسم الله الرحمن الرحیم............ نحمده ونصلی علی رسول الکریم!

## رساله اعتصام بحبل شعائر الاسلام

سوال :(۶۵٤) علماء په دې مسئله کې څه فرمائي چه د هندوانو خوشحالولو او اتفاق پیدا کولو په خیال سره د غوا قرباني یا هره ورځ د غوا ذبحه کول بندول څنګه دي د هندوستان حالاتو ته خیال کولو سره د شرعي حکم نه مو خبر کړئ؟

جوب: صرف د هندوانو سره د اتفاق پیدا کولو لپاره او د هغوئ د خوشحالۍ لپاره قرباني موقوف کول او همیشه لپاره د غوا د قربانۍ غوښه پریښودل صحیح نه دي ځکه چه د غوا ذبحه کول د اسلام د شعائرو نه دي او د غوا نه ذبحه کول او د هغې غوښې سره د مذهبي حیثیت نه نصرت کول د کفر د شعائرو نه دي. اسلامي شعائر پریښودل او د کفر شعائر اختیارول او په دې خیال سره چه پخپله ذبحه پریښودل او چاته ترغیب نه ورکول بلکه د پریښودلو رغبت ورکول چه د اسلام مخالفین خوشحاله شي ناجائز او مداهنة في الدین ده . زمونږ پاك شریعت بالکل ددې اجازت نه دی ورکړی دلته پورې خو د اصل سوال جواب وو اوس زه د دې دلیل مختصر طور سره عرض کوم اول تمهیدي مقدمه وګورئ.

## تمهیدي مقدمات

اول دا خبره خو مسلمه ده چه بعضې ماکولات او ملبوسات صرف مباح دي په هغې کې اسلامي شعائرو له څه دخل نشته دی لکه وریجې، دال، وړه، کپړه اغوستل وغیره. دا داسې څیزونه دي چه هر ملت او مذهب والائې استعمالوي د دې د اسلام سره هیڅ تعلق نشته دی ترڅو چه د اسلام شعائر ورته وویل شي.

دویم ډیر څیزونه اسلامي شعائر دي د هغې د اسلام سره خاص تعلق دی او ډیر څیزونه د کفر د شعائرو نه دي د کومو چه د رهن کفر سره خاص تعلق دی. د شعائر اسلام مثالونه دا دي. سنت کول، مونځ دپاره اذان، د غوا قرباني، د غوا غوښې سره د مذهبي حیثیت د وجې نه نصرت نه کول، د هندوانو په شان په سر چونټه (کمسئ) نه کول وغیره. او د کفر شعائر ډیر دي لکه سر باندې خاص طور سره څه کیښودل، غوا معبود یا مقدسه ګڼل، د هغې

غوښې سره نفرت كول، حلالكه ئې بندول او بنديدو باندې ئې په مذهب خوشحاليدل، بت خانه جوړول، او د هغې تعظيم كول د مسلمانانو سره د كمترئ سلوك كول وغيره.

دريم: دذبحې د اسلامي شعائرودجملې نه كيدل په شرعي دلائلو سره ثابت دي. الله ﷻ قران كې فرمائي: "ومن الانعام حمولة وفرشا كلوا مما رزقكم الله ولا تتبعوا خطوات الشيطان انه لكم عدو مبين ثمانية ازواج من الضان اثنين ومن المعز اثنين قل آالذكرين حرم ام الانثيين واما اشتملت عليه ارحام الانثيين نبيونى بعلم ان كنتم صادقين ومن الابل اثنين ومن البقر اثنين". د دې آيات نه د غوا حلالوالى په صريح نص سره ثابت دى كوم اهل حق ته په كې د چون وچرا گنجائش نشته دى او رسول پاك ﷺ پخپله د ازواج مطهرات د طرف نه د غوا قرباني كړې ده. "عن جابر قال ذبح رسول الله ﷺ عن عايشة بقرة. رواه مسلم كذا فى المشكوة". "وعن جابر قال نحر النبى ﷺ عن نسايه بقرة فى حجته رواه مسلم كذا فى المشكوة". او رسول الله ﷺ د غوا د قربانئ عام اجازت هم وركړى دى او صحابه كرامو هم عام طور سره د غوا قرباني كړې ده. صحيح مسلم كې دي: "عن جابر ان النبى ﷺ قال البقرة عن سبعة والجزور عن سبعة. او ترمذي، نسائي او ابن ماجه كې دي: "عن ابن عباس قال كنا مع رسول الله ﷺ فى سفر فحضر الاضحى فاشتركنا فى البقرة سبعة وفى البعير عشرة". او د رسول پاك ﷺ په زمانه كې عام طور سره د غوا حلالولو او د هغې د غوښې خوړلو تعامل هم وو، صحيح مسلم كې دي: "عن عايشة قالت اتى النبى ﷺ بلحم بقرة تصدق به على بريرة فقال هو لها صدقة ولنا هدية". او د غوا په حلالوالي باندې د امت اجماع هم ده نو علامه دميري شافعي په حياة الحيوان كې ليكلي دي: "ويحل اكلها (اى البقرة) وشرب البانها بالاجماع اه". او قياس هم دا غواړي (اگرچه قران او حديث كې د منصوص كيدو نه بعد قياس ته ضرورت هم نشته دى) چه خاص د غوا ذبحه كول په اسلامي ذبيحه كې داخل وي دا ځكه چه اكثر اسلامي احكام د توحيد په تعليم او اعلائي حق باندې مبنى دي چونكه په بني اسرائيلو كې د غوا پرستي عادت (چه شرك دى) جاري شوى وو او د دې سخې په شرك كې مخكني امتونه هم مبتلا شوي وو د كوم ذكر چه قرآن شريف كې داسې كړى شوى دى "وجاوزنا ببنى اسرائيل البحر فاتوا على قوم يعكفون على اصنام لهم قالوا يموسى اجعل لنا الها كما لهم الهة قال انكم قوم تجهلون". په تفسير كبير كې دي: "قال ابن جريج كانت تلك الاصنام تماثير بقرة اه". او تفسير در منثور كې دي: "اخرج ابن جرير وابن المنذر عن ابن جريج فى قوله تعالى فاتوا على قوم يعكفون على اصنام لهم قال تماثيل بقر من نحاس فلما كان عجل السامرى



شبه لهم انه من تلك البقرة فذلك كان اول شان العجل اه". دا شرك الهي شريعت داسې ختم كړو چه د غوا حلالهكه ئې مشروع كړه او گمراهانو ته ئې داسې تعليم وركړو چه اى نالائقو! غوا ته ولې معبود وايئ او مقدس ئې گنئ. او عبادت ته ئې جائز ووائي حال دا چه غوا ته وگوري چه د معمولې ماكولاتو د جملې نه ده چيلئ، گډه، گډ وغيره په شان د هغې غوښې او پوستكى د انسان لپاره جوړ كړى شوى دى هغه د معبوديت لپاره بالكل هم قابل نه دى بلكه هغه حقيقي معبود باندې د نثار او قربانئ كولو قابل دى آيا د دې تصوير مقدس گڼل سخت جهالت دى نو معلومه شوه چه د غوا حلالولو مشروعيت د يو شرك جلي په باطلولو او د توحيد په جاري كولو مبنى دى نو ځكه د دې مطابق قياس كيدل ضرور د تسليم قابل دي. تردې ځايه پورې خو د غوا د اسلامي ذبيحې كيدو ثبوت وو اوس د دې اسلامي شعائر كيدو متعلق خبره كوم.

## د غوا حلالول اسلامي شعار دى د دې ثبوت

صحيح بخاري كې دي: "عن انس انه قال قال رسول الله ﷺ من صلى صلوتنا واستقبل قبلتنا واكل ذبيحتنا فذلك المسلم الذى له ذمة الله وذمة رسوله فلا تخفروا الله فى ذمته رواه البخارى كذا فى المشكوة". غور كول پكار دي رسول الله ﷺ (چه د عربو او عجمو فصيح او جوامع الكلام دى) د "واكل ذبيحتنا" ئې ولې وفرمايل؟ او ذبيحه په اضافت سره ولې مقيد كړه د ذبيحتنا په ځاي ئې ذبيحه ولې ونه فرمايله او د واو عاطفه سره ئې وصول ولې وكړو؟ په ياد ولرئ دا درې واړه كارونه د فائدې نه خالي نه دي زما نه ئې واورئ. د دې جملې نه سبق وركوئ چه دخاص اسلامي ذبيحې خوراك د مونځ ادا كولو او قبلې ته په كې د مخ كولو په شان د اسلامي شعائرو نه دي په دې كې يو هم د غير مذهب لپاره نه شو پريښودلى او د الله او د هغه د رسول په ذمه دارئ د دې درې كارونو سره تړلى شويده اگرچه عملا دا دواړه كارونه فرض دي او د ذبيحې خوړل فرض نه دي مگر د شعائر كيدو په سبب سره ټول مساوي دي. "ولا منافاة بين كون الامرين متغايرين بوجه وبين كونهما متحدين برحه اخر". او همدا مناسبت من حيث شعاريت د عطف كولو باعث دى. "لان الوصل بالعطف لا بد فيه من المناسبة بين المعطوف عليه كما هو مصرح فى علم المعانى". او رسول الله ﷺ ذبيحتنا وفرمايل په دې سره دا ښائي چه مطلق ذبيحه خوړل ذمه واري د الله او د هغه د رسول لپاره كافي نه ده. بلكه د خاص اسلامي ذبيحې خوړل شرط دي او اول تاسو د قرآن او سنت صحابه و تعامل، اجماع او

قیاس نه معلوم کړل چه غوا په اسلامي ذبیحه کې داخله ده نو د غوا ذبحه کول او غوښه ئې خوړل بې شکه د اسلام د علاماتو نه شول او مونږ اسلامي علاماتو او د دین شعائرو ته شعائر الله وایو. الغرض د نبوي حدیث نه د غوا حلالول د اسلام د شعائرو نه کیدل ښه ثابت دي. وفیه الکفایة لمن له درایة.

څلورم: د هندوانو خاطر کول اګر که عملا وي او اعتقادي نه وي دومره جائز کیدی شي چه ورسره کوم اسلامي شعائر پاتې نه شي. او مذهبي امور پامال نه شي. د عبدالله بن سلام د واقعې نه د دې استدلال کیدی شي هغه واقعه دا ده چه کله هغوئ د یهودیت نه توبه وویستله او اسلام کې داخل شو نو خیال کې ئې دا تیر شول چه تورات کې د اوښ د غوښې د خوراك حرمت ثابت ده او هغه هم اسماني کتاب دی او د قرآن نه ئې حلالوالی معلومیږي نو څه خبره ده که مونږ ئې ونه خورو نو همداسې ئې وکړل الله تعالی د دې احتیاط نه هغه ډیر سخت منع کړو او دا آیات ئې نازل کړو: "یایها الذین امنوا ادخلوا فی السلم کافة ولا تتبعوا خطوات الشیطن انه لکم عدو مبین". غور وکړئ داسې خطرات او خیالات هغه د شریعت مناقص وي هغې ته الله ﷻ د شیطان اتباع وفرمایله ځکه چه د دې وجه دا ده چه په دې سره د اسلامي شعائرو ترك لاژم راغلو او د اسلامي شعائرو پرېودل ممنوع دي د دې باوجود چه یهود اهل کتاب وو او تورات هم اسماني کتاب وو او دې سره د اسلامي شعائرو پریښودل لاژم راځي او د اسلامي شعائرو پریښودل ممنوع دي د دې باوجود چه یهود اهل کتاب وو او تورات هم آسماني کتاب وو او د اوښ د غوښې حراموالی هم په کې ذکر وو اګرچه قران سره منسوخ شوی وو او حضرت عبدالله بن سلام صحیح العقیده هم وو یعنې د اوښ غوښه ئې مباحه ګڼله بیا هم د یهودو مدارات یا د تورات د حکم عظمت الله جائز ونه ګڼلو بلکه سختئ سره ئې ممانعت کړا دی ځکه چه عملا د منسوخ حکم تعظیم راځي نو د. هندوانو دومره خاطر کول چه د اسلامي شعائرو پریښودو ته خبره ورسیږي کله جائز کیدی شي. امام فخر الدین رازي تفسیر کبیر کې د مذکور ایات شان نزول لیکي: "وکانوا یقولون ترك هذه الاشیاء مباح فی الاسلام وواجب فی التوراة فنحن فترکها احتیاطا فکره الله تعالی ذلك منهم وامرهم ان یدخلوا فی السلم کافة ای فی شرایع الاسلام کافة ولا یتمسکون بشیی من احکام التوراة اعتقاد له وعملا به لانها صارت منسوخة اه". لکه څنګه چه عبدالله بن سلام د اوښ غوښه مباحه وګڼله او لږه غلطي ئې دا وکړه چه اسلامي شعائر ئې ونه ګڼل همداسې د غوا قصه هم ده لکه څرنګه چه هغوئ د عتاب مورد شول دا خلك به هم د عتاب مورد شي، په دې ځاي کې چه څه شبهه کیدی شي د دې شبهې جواب



به مونږ په آخر کې ولیکو الغرض د هندوانو داسې مداراة چه د شعائر اسلام پریښودل په کې لاژم شي جائز نه دي. علامه علي قاري مرقاة د مشکوة په شرحه کې لیکي: "والفرق بین المداهنة المنهیة والمداراة المامورة ان المداهنة فی الشریعة ان یری منکرا ویقدر علی دفعه ولم یدفعه حفظا لجانب مرتکبته او جانب غیر لخوف او طمع اولا ستحیاء منه او لقلة مبالاة فی الدین والمدراة یترك خظ نفسه وحق یتعلق بماله وعرضه فیسکت عنه دفعا للشر ووقوع الضرر منه قوله دارهم مادمت فی دارهم اه".

پنځم: د کوم موهوم یا مشکوك کار لپاره د هندوانو سره داسې مدارات کول جائز نه دي په کوم سره چه اسلامي ضرر ښکاره شي، د دې ثبوت د دې ایات نه کیږي: "یاایها الذین امنوا لا تتخذوا عدوی وعدوکم اولیاء تلقون الیهم بالمودة وقد کفروا بما جاءکم من الحق". د دې آیات شان نزول دا دی چه حضرت حاطب بن بلتعه رضي الله عنه چه جلیل القدر صحابي وو او په غزوه خندق بدر او نورو کې شریك شوی وو او رسول ﷺ هم د هغوئ صفت کړا دی د هغوئ نه دا ذلت د ممکنه ده چه اجتهادي خطا سره شوی وي. شرعي وو چه هغوئ کفارو ته د مخبرې په طور یو خط ولیکلو پدې توقع سره چه اهل وعیال ئې په مکه کې وو، که د مکې کفار خوشحاله شي نو هغوئ به لږ په ارام وي. رسول الله ﷺ ته د وحې الهامي په ذریعې سره خبر ورکړی شو او هغه خط ونیول شو هغوئ صداقت سره اقرار وکړو او د خط لیکلو وجه ئې بیان کړه دا ایات هغه وخت نازل شو مګر چونکه هغوئ بدري صحابه وو او د خپل کامل اعتقاد اظهار ئې وکړو او یقین ئې ورکړو او وجه ئې هم بیان کړه نو رسول الله ﷺ معاف کړل. وګورئ داسې جلیل القدر صحابي چه د هغوئ په شان کې رسول الله ﷺ داسې فرمایلي دي: "ما یدریك یا عمر لعل الله تعالی قد اطلع علی اهل بدر فقال لهم اعملوا ما شیتم فقد غفرت لکم اه". ولې د عتاب مورد شو. د دې وجې نه چه اسلامي ضرر چه متبادر او بین وو د هغې لحاظ ئې ونه کړو او د اهل وعیال د فائدې لپاره ئې خبر ورکړو اګرچه هغه د نفع حاصلول بذاته مذموم نه وو مګر د مذهبي ضرر د وجې نه ئې پریښودل لاژم وو ځکه چه د دې فائدې حاصلول په ناجائزو مدارونو موقوف نه وو نو ځکه زمونږ فقهائی کرامو دا قاعده لیکلې دي: "کما فی الاشباه والنظایر دراء المفاسد اولی من جلب المصالح فاذا تعارضت مفسدة ومصلحة قدم دفع المفسدة غالبا لان اعتناء الشان بالمنهیات اشد من اعتنایه بالمامورات اه". کله چه تمهیدي مقدمات معلوم شول او اوس د استدلال صورت عرض کوم.

(الف) اولې، دویمې او دریمې مقدمې کې دا خبره وشوه چه د غوا حلالول او د هغې غوښه خوړل صرف مباح نه دي مګر اسلامي شعائر هم دي.

(ب) او د څلورمې مقدمې نه معلومه شوه چه د هندوانو داسې خيال ساتل چه اسلامي شعائر پاتې شي ممنوع او قبيح دي نو د دې څلورمه مقدماتو نه دا نتيجه راووتله چه د غوا نه حلالول د هندوانو د خوشحالۍ او د اتفاق پيدا کولو لپاره جائز نه دي.

(ج) او د پنځمې مقدمې نه دا خبره ثابته شوه چه بالفرض اګرچه د غوا حلالکه مبذول په يوه موهومه (وهم والا) فائده باندې مبني دي ليکن بيا هم جائز نه دي ځکه چه ديني او دنيوي نقصانات ئې ظاهر او ښکاره دي او درء المفاسد اولى من جلب المصالح ئې روښن دليل دی. او دلته څو شبهات د ذکر قابل دي ممکنه ده چه د چا په ذهن کې دا شبهات پيدا شي.

اوله شبهه: مذهبي حيثيت سره مونږ د غوا حلالول نه بندوو بلکه تمدني او اخلاقي حيثيت سره. نو ځکه مونږ د غوا په حلالکه مجبور نه يو. اعتقاداً ورته جائز وايو که د هندوانو د خوشحالولو او اتفاق لپاره يو مباح عمل پريښودل شي نو په دې کې څه حرج دی. لکه څنګه چه يو مسلمان د بيمارۍ يا نه غوښتلو د وجې نه يا کوم په ذکر باندې مشغول کس د غوا غوښه ونه خوري او په ځاي ئې هميشه د چيلۍ، ګډ يا ګډې غوښه وخور ياو قرباني کوي ئې په دې څو څه شرعي جرم نه شي راتللی همداسې به مونږه هم ولې مجرمان ګڼل کيږو.

او حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه اخلاقي او تمدني حيثيت سره د اوښ غوښه نه وه پريښې بلکه مذهبي حيثيت سره ځکه چه د هغوئ احتياط کول د منسوخ حکم د توقير لپاره لازم کيدل او زمونږ پريښودل داسې نه دي نو ځکه زمونږ عمل په هغې قياس کول مع الفارق دي.

**جواب**: د دې شبهې جواب دا دی چه کوم څيز شرعا مذهبي دی هغه اخلاقي او تمدني حيثيت سره تعبير کول او بيا هغه پرېښودل چيرته جائز دي د عنوان او تعبير بدلولو سره د معنون معبر عنه حقيقت نه بدليږي مثلا که د کوم کلي خلك اذان يا سنت کول پريږدي او داسې ووائې چه دا خو مونږ مذهبي طور سره نه بلکه تمدني حيثيت سره پريږدو. يا کوم مسلمان د بت ناجائزه عبادت وکړي او وائي چه مذهب حيثيت سره نه بلکه اخلاقي حيثيت سره مې داسې وکړل يعنې د فلاني راجه صاحب د خوشحالولو لپاره تعظيم کوو نو ايا دا جائز کيدی شي. هيڅکله هم نه همداسې د غوا حلالول د اسلام د شعائرو نه دي لکه څنګه چه مونږه وړاندې ثابت کړي دي او مونږ له هيڅ دا مجاز نشته چه دا اخلاقي او تمدن حيثيت په ډهانچه کې واچوو او د هندوانو خوشحالولو لپاره ئې پريږدو. هغه د شيدو او غوړو په شان محض مباح نه دي ترڅو هغه د پريښودو قابل وګڼلی شي. او د يو مسلمان مرض يا عدم رغبت يا د خاصې وظيفې په سبب سره د غوا غوښه نه خوړل او د يو صحيح



الاعتقاد مسلمان په ګډه يا بزه باندې د قربانۍ اکتفا کول د هندوانو مدارات او اتفاق لحاظ سره نه وي ترڅو په دې کې بري کوم شرعي جرم عائد شي. د صورت متنازعه په خلاف چه د هندوانو په ناجائز مدارات باندې مبني دي دواړو پريښودلو ته يو شان خيال کول صحيح نه دي که تاسو انصاف وکړئ نو واجداني حالت به هم د دواړو جدا ومومئ يعنې مدارات کولو والا به ضرور د غوا سره نصرت کوي که هغه اعتقاد دا نه وي بلکه د نورو حلالکه به هم هغه ته سخته تماميږي ځکه چه مطلقا د غوا ذبحه کول د اتفاق او مداراتو خلاف ګڼي او د هغه د زړه کشش به دغه طرف ته وي چه د غوا حلالکه چيرته هم ونه ګوري د هغه خلکو په خلاف چه د مرض وغيره د سبب نه ئې پريږدي هغوئ ترې نفرت نه کوي او نه به ئې کله دې طرف ته خيال شي، فبينهما بون بعيد. پاتې شوه د عبدالله بن سلام واقعه نو د دې متعلق چه کوم شبهه پيدا کړی شوه هغه هم صحيح نه ده ځکه چه دا خو مسلمه خبره ده چه عبدالله بن سلام د زړه په صدق سره اسلام قبول کړی وو او اعتقاد دا بالکل هم د دې مخالف نه وو د قرآن شريف الفاظ صفا وائي "يآايها الذين آمنوا الخ" کې لفظ د آمنوا او کافة د ثبوت لپاره کافي دي او مخالفت د هغوئ په بعضې امورو کې عملا وو اوس غور وکړئ اول فريق (يعنې د اوښ د غوښې پريښودونکي) او فريق ثاني (د غوا د غوښې پريښودونکي د هندوانو په خاطر) عملا او اعتقادا مساوي دي او که نه کله چه دواړه مساوي شول نو لامحاله دواړو د لاتتبعوا خطوات الشيطان په حکم کې داخل دي پاتې شو د صحيح کيدو بدلوالی نو هغه هم مضر نه دی ځکه چه اصل وجه د عتاب د اسلام د شعائرو ترك کول دي نو ځکه ايات نازل شوی دی لکه څرنګه چه د اوښ غوښه د اسلام شعائرو نه ده همداسې د غوا غوښه هم اګرچه د دواړو ډلو د پريښودو په منشا کې بدلوالی دی مګر منهي عنه وو او د دويمې ډلې د پريښودلو دا منشا د هندوانو خاطر کول دي په کوم سره چه د هندوانو توقير او عظمت لازميږي او د هندوانو د عقائدو تقويت لازميږي کوم نه چه منع شوي ده بل الثاني اقبح من الاول کما لا يخفي علي من تفطن وتامل چونکه دواړه د منهي عنه په منشا کې مشترك دي د حيثيت د تغير باوجود د دواړو په حکم کې اختلاف نه شي پيدا کيدی نو معلومه شوه چه دلته د حيثيت د تغاير باوجود حکم يو شان دی: "بوهذا ما ادعيناه وههنا ابحاث شتى طويت عنها كشحى لغرابة المقام وايجاز الكلام". د دې نه علاوه مسلمانان په دې ډير ښه پوهيږي چه غوا د هندوانو په مذهب کې ډيره مقدسه مګر خداي دی او د هغوئ زړونه د غوا د لوئي او عظمت طرف ته مائل دي نو د دې حلالکې پريښودلو سره به هغوئ ته قبل خوشحالۍ ملاو شي او

دا به مذهبي حیثیت سره وي نه چه اخلاقي او تمدني حیثیت سره. ځکه چه د دې ممانعت همیشه لپاره مذهبي حیثیت سره کیږي نه چه تمدني حیثیت سره که دغه ممانعت په زور وي یا په خوشامد او تعلیق سره نو کوم خلك چه د هندوانو په خاطر د متفق الرائ غوا ذبحه بندوي نو داسې ویلی شي چه هغوئ د هندوانو د زړه جذباتو پوره خیال ساتي او اسلامي جذبات پامالوي د اولې شبهې جواب وشو اوس د دویمې شبهې جواب واورئ:

دویمه شبهه: د حضرت حاطب بن بلتعه رضي الله عنه په واقعه باندې دا قیاس کول صحیح نه دي ځکه چه د هغوئ خبر ورکول ناجائز او ضرر رسونکي وو او زمونږ کار یعنې د مباح پریښودل جائز او غیر مضر دي هغه چیرته او دا چیرته.

ع ببین تفاوت ره از کجاست تا به کجا

**جواب**: د دې شبهې جواب دا دی چه د جائز او ناجائز نه څه مراد دی. جواز او عدم جواز شرعي ونفس الامري. یا هغه چه مرتکب ئې د کار په خپل ذهن کې فیصله وکړې او پرې پوهه شي. که اول شق مراد وي نو په عدم جواز او ضرر کې دواړه مشترك دي ځنګه چه هغه مخبري ناجائزه او مضره همداسې متفق الرائي کیدو سره د اسلامي شعائرو پریښودل ناجائز او مضر دي. او که دویم شق مراد وي نو لکه ځنګه چه تاسو د هندوانو په خاطر د اسلام شعائر پریښودلو په ذهن کې فیصله وکړه او صحیح دې وګڼله همداسې حاطب هم خپل فعل جائز او غیر مضر ګڼلی وو وګورئ هغوئ پخپله د رسول پاك ﷺ مخې ته داسې بیان کوي: "وقد علمت ان کتابي لن یغني عنهم (اي اهل مکة) شیئا.

دریمه شبهه: بنه مونږ د هندوانو اتفاق او د غیر مذهبو مداراتو خیال پریښودلو سره نوړ چه لحوم څو نقصانات دي بلکه بعضې ئې ډیر ضرر ناك دي د هغې په بنا د غوا ذبحه کول پریږدو او په دې قاعده عمل کوو: "اذا تعارض مفسدتان روعی اعظمهما ضررا بارتکاب اخفهما کما في الاشباه".

**جواب**: دا شبهه د مبحث نه خارجه ده تاسو به چه کله هغه نقصانات او بعضو ضرر کیدل په قوي دلائلو سره ثابت او بل سوال پیش کړئ نو د دې به هم شرعي جواب واورئ اوس د دې شبهې نه ضرورت شته او نه ئې د رفع کولو حاجت پاتې شو د مداراتو منشا د هندوانو لپاره او د دې اتفاق نو د دې نه څه مراد دی؟

اول: د ټولو مسلمانانو اتفاق د هندوانو سره.

دویم: یا د ټولو مسلمانانو اتفاق د بعضې هندوانو سره.



دریم: یا د ټولو هندوانو سره د بعضې مسلمانانو اتفاق.

څلورم: یا د بعضې مسلمانانو د بعضې هندوانو سره اتفاق.

دا څلور صورتونه شول او د هر یو دوه دوه صورتونه دي. اتفاق دائمي یا تر یوې زماني پورې. ټول محدود اته صورتونه دي بالفرض که ومنل شي چه ټول نزاعات او د فریقینو اختلافات د کمولو لپاره د غوا د حلالکې په پریښودلو مبني دي لیکن بیا هم د مذکوره اتفاقاتو نه یو صورت هم مفید نه دی هغه کوم صورت دی نو ټولو مسلمانانو ټولو هندوانو سره دائما او ظاهره ده چه داسې اتفاق عادة ممتنع الوجود دی.

نو نتیجه دا راووتله کوم اتفاقات چه ممکن دي هغه مفید نه دي او کوم چه مفید دي هغه عادة ممکن نه دي نو د داسې اتفاق په بنا باندې د اسلام شعائر پریښودل فساد علی الفاسد دی. "هذا ما سنح لي بالبال والله تعالی اعلم بحقیقة الحال وعندي فلیکن شان المومن کما قال الله تعالی یا ایها الذین آمنوا لا تتخذوا عدوي وعدوکم اولیاء وحبذا ما قال".

**البعیث من حریث**

ولست وان قربت یوما ببائع ... خلاقي ولا دیني ابتغاء التحبب

ویعتده، قوم، کثیر، تجارة ... ویمنعني عن ذاك دیني ومنصبي

وهذا اخر الکلام فالحمد لله علی الاتمام اتمام هذه الرسالة المسماة بالاعتصام بحبل شعائر الاسلام والصلوة والسلام علی رسوله سید الانام وعلی اله واصحابه العز الکرام الی یوم القیام وانا عبده الراجي لطفه الابدی ابوالانوار محمد عبدالغفار الحنفي النقشبندي الاعظمي الموی. ۱۸ جمادی الاولی ۱۳۳۸ھ.

**الجواب صحیح "والمجیب نجیح"**

د غوا د حلالولو متعلق مولف چه کوم تحقیق کړی او قوي دلائلو سره ئې د اسلام شعائرو ثابت کړل ډیر صحیح دي اوس د دې نه د زیات تحقیق چندان ضرورت نشته زه د شهادت په طور لکه نو د څلورو علماو فتوی د جناب مولانا عبدالحي مرحوم ومغفور نه نقل کوم د لکهنو فرنګي محل دا څلور واړه مقدس علماء دي. د هغوئ عبارتونه دا دي:

اول: مولانا عبدالحي لکهنوي مرحوم ومغفور مجموعه فتاوی ص۶۸۶ ج۲، نو د هندوانو ممانعت د وجوب تسلیم د هغوئ د اعتقاد د باطلولو تقویت او ترویج دي او دا بالکل هم شرعا جائز نه دي او د غوا حلالول د مسلمانانو زړه طریقه ده دا پریښودل جائز نه دي.

دویم: مولانا عبدالحکیم لکهنوي مرحوم ومغفور ص ۲۸۴ ج۲، بهرحال د غوا حلالول اسلامي شعار دی دا مه پریږدئ.

دریم: مولانا عبدالوهاب لکهنوي مرحوم ومغفور ص ۲۸۶ ج۴ في الحقیقت د غوا قرباني د اسلامي امت په شعائرو کې ده او د دې موقوف کول د هندوانو د منع کولو په سبب سره د معصیت موجب دی بلکه دغوا د قربانۍ په قائمولو کې د مسلمانانو سعي او کوشش لازم دی.

څلورم: مولانا ابو الغناء محمد عبدالمجید صاحب لکهنوي عم فیضه ص ۲۸۵ ج۲، دا زوړ آئین چه اسلامي شعائرو سره ئې تعلق دی پریښودل ئې نه دي پکار بلکه د دې طریقې په باقي پاتې کولو کې سعي کول پکار دي.

د دې څلورو واړو علماو د تحقیق نه هم دا خبره ثابتیږي چه د غوا حلالول د اسلامي شعائرو نه دي او د اسلامي شعائرو د هندوانو لپاره او د زړه ساتلو په لحاظ سره جائز دي نه د ممانعت د وجې نه. د دې رعایت هغه حد پورې کیدی شي د کوم چه په شریعت کې اجازت وي جناب مولانا اشرف علي د امت برکاتهم په خپل تفسیر بیان القران ص ۱۰۷ ج کې لیکي چه اسلام ټول فرض دي او د دې کاملیدل هله دي چه کوم کار په اسلامي کې د رعایت قابل نه وي او د دې رعایت د دین کیدو د رضیت نه ونه کړی شي، والله تعالی اعلم. کتبه احقر العباد محمد عبدالحق سیواني عفي عنه، حال مدرس انجمن اسلامیه گور گهپور.

## د رسالې خلاصه

۱_ د غوا حلالول او ذبحه کول د قران او حدیث او د صحابه و د تعامل نه او اجماع او قیاس سره ثابت دي.

۲_ د غوا حلالول صرف مباح نه بلکه د اسلامي شعائرو نه دي.

۳_ چونکه د غوا قرباني او حلالکه د اسلامي شعائرو نه دي نو د هندوانو د خوشحالۍ او اتفاق لپاره ئې بندول صحیح نه دي.

۴_ د غوا قرباني او حلالکه تمدني او اخلاقي حیثیت سره پریښودل هم درست نه دي.

۵_ د یوې موهومي فائدې په بنا باندې دا هم پریښودل درست نه دي.

۶_ د هندوانو اتفاق کوم چه د پریښودلو منشا گرځول شوي ده عادة ناممکنه ده.

۷_ د غوا حلالکه د اسلامي شعائرو نه کیدو باندې د لویو لکهنوي علماو گواهي نې.



# لخصه

محمد متین طالب علم مدرسه انجمن اسلامیه گور گهپور ناقل رساله هذا، الجواب الثاني الملقب به تصلیة سقر لمانع تضحیة البقر اقول به ونستعین! د هندوانو د خوشحالۍ لپاره د غوا حلالکه پریښودل یا مطلق حلال که بندول بالکل هم جائز نه دي ځکه چه د غوا حلالکه پریښودل د کفر د شعائرو نه دي او د مسلمانانو پریښودل د دغه کفر د شعار په ترویج کې اعانت دی او دا اعانت جائز نه دی. دویم دا چه دا تن خو صرف د مصلحت په وجه پریښودل کیږي مگر د دې نه بعد به دا نتیجه شي چه د مسلمانانو په عقیده کې به خلل راشي او د هندوانو په شان به ئې هغوئ هم بد گڼل شروع کړي او دا کار شرعا مذموم دی او کوم نه چه بچ کیدل واجب دي نو ځکه کوم کار چه مذموم طرف ته ورونکی وي د هغې نه بچ کیدل هم شرعا واجب دي آیا تاسو ته پته نشته چه هندوانو د اختلاف نه د کونډو په نکاح څومره اثر شوی او علماو څومره سختیانې د دې بد رسم ختمولو لپاره تیرې کړې اوس د کونډې په نکاح کې څه خصوصیت دی نور ډیرو هندوانو رسمونه دي چه په مسلمانانو کې رواج شوي دي د کوم د ختمولو لپاره چه علماء د کلونو نه کوشش کوي مگر تراوسه پورې په کې پوره نه دي کامیاب شوي. نو که د غوا د حلالولو طریقه پریښودل شوه نو د دې اثر به د نورو رسمونو نه هم زیات وي نو ځکه یو مسلمان له په کې حصه اخستل نه دي پکار. دریم ډیر غریب مسلمانان دي چه مستقل طور سره چیلی نه شي اخستلی بلکه څو کسان یوځای یېږي او یو غوا حلالوي نو که دغوا حلالولو طریقه بنده کړی شي نو هغوئ ته به نقصان ورسیږي څلورم دا چه ډیر کسان د غوا د غوښې خوراك عادي او شوقیان دي نو د غوا د حلالولو په ختمولو کې سعي کول هغوئ جبرا د هغوئ د حق نه محرومول دي. پنځم که نن د هغه خلکو په خواهش سره چه صرف د غوا حلالکه بده گڼي د غوا د حلالکې ممانعت وکړی شو نو صبا له یوه ډله د هندوانو چه مطلق د حیواناتو وژل بد گڼي د هغوئ په خواهش سره مطلقا قرباني او د غوښې خوراك پریښودل شي او د دې ضرر ظاهر دی. شپږم که دا ضرر هم بالفرض برداشت کړی شي نو هندوان به زمونږ اذانونه، جوماتونه او مونځونه بلکه زمونږ مسلمانیدل هم بد معلومیږي لهذا د هغوئ په حاضر به ټول پریږدو. اووم نن صبا گویا دا ویل کیږي چه مونږ د غوا حلالکه ناجائزه نه گڼو لیکن د دې بد رسم د جاري کیدو نه بعد که یوه زمانه وروستو د مسلمانانو په عقیده کې تزلزل راشي او علماو ته د کونډو د ودونو د سنت

ژوندي کولو په شان د دې د ژوندي کولو ضرورت پيښ شي نو بيا به د دې مړ سنت ژوندي کول ناممکن وي ځکه چه هندوان به پکې مزاحمت کوي او جاهله مسلمانان به ئې مدد کوي. غرض دا چه د هندوانو سره داسې اتفاق بالکل هم جائز نه دی. په کوم سره چه د اسلامي عقيدې کې د خلل راتللو انديښنه وي يا کوم اسلامي شعار کې خلل راشي يا په دې سره نورو مسلمانانو ته کوم نقصان ورسيږي يا په کې د کفري شعار ترويج وي او د غوا حلالولو په پريښودلو کې دا ټولې خبرې موجودې دي نو ځکه په دې کې د هندوانو موافقت بالکل هم جائز نه دی بلکه په دې کې د ايمان د زوال انديښنه ده لهذا مسلمانانو له کوشش کول پکار دي چه د مسلمانانو يوه طريقه چه د اسلام د ابتدا نه راروانه ده د هغې په قائم ساتلو کې د امکان تر حد پورې کوشش وکړي. او د انجام نه د ناخبرو او نادانو دوستانو په تقريرونو او ليکنو باندې دوکه نه شئ. د غوا حلالولو او قرباني کولو مسئله څه نوې نه ده بلکه وړاندې هم هندوانو په دې کې کوشش کړی دآ مګر مخکنی علماو د دې بالکل هم اجازت نه دی ورکړی. دې وخت کې څو علماو د فرنګي محل فتوی نقل کيږي ترڅو مسلمانانو ته د دې اهميت ظاهره شي نو مولوي صاحب عبدالحي لکهنوي فرنګي محلي ليکي: "دا يوه زړه طريقه ده. د نبي ﷺ د زمانې، د تابعينو او سلف صالحينو نه د ټولو ښارونو، په دې خبره باندې اجماع او اتفاق دی ټول اهل اسلام که هندوان د دې زوړ ماثور نه منع کړي او هغه هم په مذهب تعصب سره نو هغوئ له منع کيدل نه دي پکار بلکه هر ځاي کې چه هندوان د اسلامي او شرعي امر د ابطال کوشش وکړي نو مسلمانانو باندې واجب ده چه د هغې په باقي کولو او اجراء کولو کې سعي او کوشش وکړي او که د هندوانو دنيا سره دا کار پريږدي نو ګناهګار به وي. بقدر حاجة منقول از صفحه ۲۸۳ جلد ثاني مجموعه فتاوی."

او جناب مولوي عبدالوهاب صاحب والد مولوي عبدالباري صاحب لکهنوي فرنګي محل ليکي: "في الواقع په کومو ښارونو کې چه د غوا حلالکه د فساد او فتنې د قصد نه بغير جاري وه او اوس هندو قوم د هغې مانع دی نو په هغه ښارونو کې مسلمانانو له د دې رسم باقي ساتلو کې کوشش کول پکار دي". بقدر الحاجة فتاوی مذکوره صفحه مذکور.

او جناب مولوي صاحب عبدالحليم صاحب فرنګي محل ليکلي: "په کومو ښارونو او کلو کې چه په هندوستان کې د غوا حلالولو رواج او زړه طريقه راروانه ده بغير د فتنې د قصد نه او اوس کوم هندو د ذهبي تعصب په بنا په هغې کې مزاحم دي نو په داسې موقع باندې مسلمانانو له د اسلام د مدد په خاطر د غوا په قربانۍ کې کوشش کول



پکار دي او پريږدي دې نه. او د مسئول عنها فقرې نه دا مراد نه دی چه د هندوانو په تقليد او اتباع کې ذې چه ماثور قديم دی او د امت ئې په اباحت باندې اجماع ده د هندوانو په مزاحمت سره پريږدي. معاذ الله من ذلك. او زمونږ په زمانه کې چه د مسلمانانو او هندوانو مذهبي تعصب زيات چه اسلام شعائر بندوي نو په دې صورت کې مسلمانانو له د اسلام د حمايت لپاره د هندوانو د وجې نه بندول نه دي پکار او د دې ممانعت تسليمول نه دي پکار. بهرحال د غوا حلالول نه دي پرېښودل پکار احيانا که په منازعت کې د فساد احتمال وي نو د حکامو په ذريعې سره د هغې دفع کول نه دي پکار بلکه د دې په قائمولو کې کوشش کول پکار دي کنه نو ګناهګار به وي". "ان ينصركم الله فلا غالب لكم والله غالب على امره هداكم الله الى سواء السبيل صـ ۴۰۳ فتاوی مذکور".

مولوي صاحب عبدالحي په دويمه فتوی کې ليکي: "د دې ځاي نه چه دغوا د حلالولو جواز د قران او حديث نه ثابت دی د نبي ﷺ په زمانه، صحابه کرامو په زمانه او وروستو زمانو کې ئې حلالکه شوې ده او د ټولو مسلمانانو د دې د غوښې په حلاليدو باندې اتفاق دی او د کوم مسلمان ئې په جواز کې شبهه نشته دی که يو مسلمان ئې د اختر په ورځ حلالوي او کوم هندو ورته د تعصب په نظر وګوري او بند ئې کړه نو مسلمانانو له ئې پرېښودل نه دي پکار او د هندوانو اعتقاد باندې چه کوم مبني دی باطل اعتقاد باندې تسليمول جائز نه دي. زمونږ په شريعت کې د نورو څاروو په نسبت سره او د غوا څه عظمت هم ثابت نه دی بلکه دا د نورو څاروو په شان د ذبحې په جواز کې دي کوم کس چه دې ته د عظمت په خيال سره ګوري د هغه په اسلام کې شك دی نو د هندوانو ممانعت تسليمول د هغوئ د باطل اعتقاد د تقويت موجب دی. او دا بالکل شرعا جائز نه دی. اولی آخر ما قال. مجموعه فتاوی جلد دويم صـ ۳۸۵.

د دې تائيد په خپل الفاظو کې مولوي عبدالحليم صاحب هم کړی دی وګورئ مجموعه فتاوی صـ ۳۸۶ دويم جلد. او مولوي عبدالوهاب صاحب د مولوي عبدالباري پلار دی په تائيد کې دا عبارت ليکلی دی:

"في الحقيقة د غوا قرباني د اسلامي ملت د شعائرو نه دی د دې موقوف کول د هندوانو د ممانعت په وجه معصيت دی بلکه د قائمولو لپاره قرباني کې سعي او کوشش لازم دی، مجموعه فتاوی صـ ۲۶۲ جـ۲. د دې مضمون تائيد مولوي عبدالمجيد صاحب فرنګي محلي ومولوي محمد نسيم صاحب او مولوي محمد اکرم صاحب په خپلو الفاظو کې کړی

دی وګورئ مجموعه فتاوی دویم جلد ص ۲۸۷. چونکه دا ټول مضامین په مجموعه فتاوی کې چاپ شوي دي نو رعبارتونه ئې نقل کول د اوږودوالي سبب ګرځي. د چا چه زړه وغواړي نو مجموعه فتاوی وګورئ.

د دې ټولو فتاواګانو خلاصه دا ده چه د هندوانو په خاطر د یو کس یا یو ځاي کې د غوا قرباني پرېښودل جائز نه دي څه ځاي چه هندوستان کې اسلامي شعائر ختم کړی شي. نعوذ بالله منه. کوم خلك چه د اسلامي شعائرو ختمولو کوشش کوي د هغوئ د استدلال حاصل صرف دومره دی چه د غوا حلالول صرف مباح دي نه چه واجب نو ځکه ئې پرېښودل ناجائز دي لیکن دې خلکو ته دومره خبر نشته که یو مباح د کوم معصیت ذریعه وړه شي نو هغه حرامیږي نو د غوا قرباني پرېښودل په کوم کې چه اسلامي شعار پرېښودل د کفر ترویج او په مسلمانانو باندې ناجائز دباو وغیره دی نو کله به ناجائزو مکروه دی. مګر څه وخت چه عبدالله بن سلام وغیره یهودیت پرېښودو او مسلمان شو نو هغوئ د رسول الله ﷺ نه درخواست وکړو چه مونږ ته اجازت راکړئ چه مونږ ورسره معامله وکړو کوم چه د یهودیت زمانه کې کول یعني مونږ هغه ورځ د ماهي ښکار نه کوو په دې آیات باندې: "یاایها الذین آمنوا ادخلوا فی السلم کافة ولا تتبعوا خطوات الشیطن انه لکم عدو مبین" نازل شو. "کما فی الدر المنثور". په کوم کې چه هغوئ ته وښودل شو چه د اسلام راوړلو نه بعد د یهودو اتباع د اسلام خلاف او د شیطان اتباع ده. ګویا چه هغه اتباع صرف د عمل په درجه کې ولې نه وي نه چه د اعتقاد په درجه کې. نو کله چه د اسلام نه وروستو د خالي ورځې د تعظیم په وجه په دغه ورځ ښکار کول د اسلام خلاف او د شیطان اتباع په کې ده چونکه د خالي ورځ تعظیم مامور من الله پاتې شوې دي نو د غوا حلالکه پرېښودل د هندوانو سره موافقت د وجې څنګه جائز کیدی شي نو کوم کس چه په دې قصد سره د غوا حلالکه پرېږدي نو ډېر سخت به ګناهګار وي. دا خو لرې خبره ده چه مسلمانان د غوا حلالکه پرېږدي او عملا هندوان شي مسلمانانو له بالکل هم داسې جرات کول نه دي پکار او د داسې خیالاتو نه توبه کول پکار دي د مسلمانانو لپاره دځومره غیرت او شرم خبره ده چه هندو کافر دی دا جائز نه ګڼي چه هغوئ د مسلمانانو په خاطر د خپل غلط خیال یعنې د غوا د نه حلالیدو نه دست برداره شي چه کم از کم مسلمان د دې سره تعرض نه کوي او مسلمان دې په حق کیدو باوجود دا جائز عمل نه پرېږدي. قرآن کې دي: "ومن الابل اثنین ومن البقر اثنین قل الذکرین حرم ام الانثیین اما اشتملت علیه ارحام الانثیین ام کنتم شهداء اذ وصاکم الله بهذا الآیة". ضمن کې مذکور دي د هغوئ



افسوس صد افسوس د دې نه هم یوه بله عجیبه خبره واورئ که هندوان دا شان جوړ شي وائي چه مونږ په تاسو سره هغه وخت اتفاق کوو کله چه تاسو خپل جائیدادونه او کورونه وغیره مونږ ته راکړئ خپل حقوق کوم چه ورته حاصل دي د هغې نه دست بردار شي نو همدغه خلك چه دې وخت کې د غوا حلالولو پرېښودلو کوشش کوي کله به هم په دې صلحه باندې راضي نه شي نو ایا اسلامي شعار او الهي احکامو دومره وقعت هم نشته دی چه د جائیدادونو او ځمکو وغیره هغوئ له ورکړي او صلحه ورسره وکړي ګویا چه دومره لیکنه د غوا د قربانئ د پرېښودلو په عدم جواز باندې کافي ده مګر د نورو ضروري مضامینو نه فائده اخستل هم مناسب معلومیږي نو واضحه دې وي لکه څرنګه چه هندوانو غوا کومه چه د الله ﷻ د طرف نه حلاله ده د خپل طرف نه حرامه کړې وه. الله سبحانه وتعالی د دې ناجائز تحریر تردید کوي او فرمائي: "یاایها الناس کلوا مما فی الارض حلالا طیبا ولا تتبعوا خطوات الشیطان انه لکم عدو مبین. انما یامرکم بالسوء والفحشاء وان تقولوا علی الله ما لا تعلمون". نو بیا په دې آیات کې چه څومره د مکې مشرکینو ته حکم دی چه تاسو د خپل طرف نه حلال کړی څیز حرام او د شیطان اتباع او په الله ﷻ باندې افتراء مه کوئ. همداسې هندوانو ته هم حکم دی چه تاسو د غوا حلالولو ته ناجائز مه وایئ او د شیطان پیروئ سره په الله باندې افتراء مه تړئ. چونکه الله ﷻ حلال کړي نو تاسو ئې هم حلال وګڼئ او خورئ ئې. پخپله هندوانو ته هم دا حکم دی چه دا حرام ونه ګڼي او د دې سره د حرامو معامله ونه کړي. نو مسلمانانو ته کله اجازت کیدی شي چه د هندوانو موافقت وکړي او عملا افتراء علی الله او د شیطان په اتباع کې حصه واخلي. او واورئ بعضې صحابه و د راهبانو اتباع کول غوښتلي وو او د غوښې نه خوړلو او نکاح نه کولو عزم ئې کړی وو نو نبي ﷺ د هغوئ دا کار سخت بد وګڼلو او ویې فرمایل چه په خلکو څه شوي دي چه داسې وائي، زه خو روژه هم نیسم، او روژه ماتوم هم، ویده کیږم هم او قیام هم کوم، غوښه هم خورم او نکاح هم کوم (دا زما سنت دي) نو څوك چه زما سنت پرېږدي هغه زما د ډلې نه نه دی اخرجه البخاري ومسلم کما في الدر المنثور او د عکرمه او قتاده نه مرویدي چه په دې واقعه کې دا ایات نازل شو: "یاایها الذین آمنوا لا تحرموا طیبات ما احل الله لکم ولا تعتدوا ان الله لا یحب المعتدین" اوس د عقد مقام دی چه غوښه خوړل او ټول کارونه مباح دي واجب یو هم نه دی مګر عزم ترك علی الدوام لکه څنګه چه صحابه وکړي وو عملی تحریم دی او د ملامت مستحق شول نو کوم خلك چه د یهودو د رضالپاره د غوا عملي تحریم کوشش کوي هغه به په کومه درجه کې معتوب او ملامت وي. الله خو دي

د جهل نه وساتي او دا هم وګورئ مشرکينو بعضې مسلمانان هڅولي وو چه تاسو سره دا مسئله ده چه که يو ځاروی پخپله مړ شي نو حرام دی او چه ذبحه ئې کړي نو هغه حلال دی. کوم چه الله مړ کړي هغه حرام او کوم چه تاسو مړ کړئ هغه حلال دی. بعضې کمزوري مسلمانان په دې دوکه کې راغلل الله سبحانه وتعالی د ته تنبيه ورکوي او فرمائي: "مالکم ان لا تاکلوا مما ذکر اسم الله عليه وقد فصل لکم ما حرم عليکم الخ". دکوم حاصل چه دا دی چه کوم څيز الله ستاسو لپاره حلال کړی دی تاسو هم اعتقادا هغه جائز وګڼئ او د مشرکينو په خبره کې مه راځئ نو د مسلمانانو لپاره په کله جائز وي چه د هندوانو د نفرت نه متاثره شي کوم چه الله حلال کړي دي هغه عملا خپل ځان باندې حرام کړي او واورئ جناب رسول الله ﷺ فرمائي: "من صلی صلوتنا واستقبل قبلتنا واکل ذبيحتنا فذلك المسلم الذی له ذمة الله وذمة رسوله فلا تخفروا الله فی ذمته رواه البخاری". وګورئ په دې حديث کې صلوة واستقبال قبله سره د مسلمانانو د ذبيحې خوړل مسلمان له هم د اسلامي شعائرو پرېښودونکي وي حال دا چه اکل ذبيحه مسلم في نفسه واجب نه دی همداسې د غوا حلالول ګويا في نفسه واجب نه دي مګر چونکه د اسلامي شعائرو نه دي نو ځکه ئې باقي ساتل واجب دي که يو کس هم د درې د پرېښودلو عزم او اهتمام وکړي نو هغه به د اسلامي شعائرو پرېښودونکی شي او دا خو لرې خبره ده چه ټول قوم او پوره ملك د دې اهتمام وکړي او مطلقا ئې پرېږدي. نو **خلاصه** دا ده چه د عقد غوښه خوړل او د هغې حلالول که د قربانۍ لپاره وي يا صرف د خوراك لپاره د قران او حديث د مخې جائز دي. په خوشامد کې د دې پرېښودل د يو کس لپاره په يو حال کې هم جائز نه دي او د ټول ملك لپاره خو لرې خبره ده. نو څوك چه د دې کوشش کوي نو هغه به د اسلام د شعار ختمولو او د کفر شعار رواج کولو، د غوا پرستۍ عقيده د مسلمانانو په زړونو کې اچونکی، ما احل الله د عملا حرمت، د شيطان اتباع او افتراء علی الله مجرم به وي. لهذا مسلمانانو له د داسې کار نه ځان ساتل واجب دي. د هندوانو سره د اتفاق دا يو صورت نه دی چه مسلمانان دي د غوا حلالول پرېږدي بلکه يو صروت ئې دا هم دی چه هغوئ په اسلامي شعائرو قائم اووسي او هندوان په خپلو شعائرو. يعنې پخپله غوا حلاله نه کړي مګر مسلمانانو باندې بنده هم نه کړي او که هندوان په دې راضي نه وي نو مسلمانانو له صفا صفا ويل پکار دي: "قل يا ايها الکفرون. لا اعبد ما تعبدون. ولا انتم عابدون ما اعبد. ولا انا عابد ما عبدتم. ولا انتم عابدون ما اعبد. لکم دينکم ولی دين". ځکه چه مسلمانان ازاد نه دي چه خپلو خيالونو سره څرنګه وغواړي صلحه وکړی. او د چا سره چه وغواړي جنګ



وکړي او په کومو شرائطو چه وغواړي اتفاق وکړي بلکه هغوی د الهي قانون ماتحت دي او هر څه چه کولی شي د الهي قانون په اتباع سره ئې کولی شي. او الهي قانون هغوئ ته د غوا حلالولو اجازت نه ورکوي لهذا په دې کې هغوئ له د هندوانو سره موافقت جائز نه دی او که د هغې خلاف وکړي نو اخرت کې به د سختې سزا مستحق وي او په دنيا کې به چه کومه رسوائي او ذلت وي هغه به جدا وي. د سخت افسوس خبره ده چه که الله يو مسلمان ته دنيوي وجاهت ورکړی او بعضې خلك ورته لوي ووائي نو هغوی له د اسلام د حمايت په پرده کې اول وار په اسلام کوي او د دې خاخونه کټ کوي او غورځوي ئې بلکه تر جرړو پورې ئې د ويستلو کوشش کوي. د هندوانو په خلاف کله چه هغوی په خپل قوم مقبول وي نو هغوی موافقت يا مخالفت سره څرنګه چه جوړيږي خپل مذهب ته د قوت رسولو په فکر کې وي. نو مسلمانانو له د الله او رسول نه شرم کول پکار دي او بالکل هغوئ له د اسلام خلاف کارروائي نه دي کول پکار. اوريدل شوي دي چه بعضې ځايونو کې د بعضې هندوانو ليډرانو د خوشحالولو لپاره جاهلو مسلمانانو په تندي تل ولګوي او په بعضې نورو ځايونو کې ئې د نورو کفرياتو ارتکاب وکړو کله چه د اتفاق په شروع کې د مسلمانانو دا حالت دی چه په تندو باندې د کفر نشانونه لګوي او د نورو هندوانو په کفرياتو کې شرکت کوي او اسلامي شعائر ورانوي او د کفر شعائر رواجوړه وی نو مخکې به ئې بيا څه حالت وي. غرض دا چه دا کارونه سخت خطرناك دي او د يو سخت امتحان ځاي دی مسلمانانو له د ډير احتياط نه کار اخستل پکار دي او د اسلام نادانو دوستانو د هوښيارو دښمنانو د خطرې نه ځان ساتل پکار دي. په ياد ولرئ چه حقيقي عزت د اخرت عزت دی د کوم نه بغير چه د الله راضي کول ناممکن دي. پاتې شو دنيوي عزت نو اول خو هغه څه شی دي نه لرو که څه وي هم نو د الله ﷻ په قبضه کې دي. ته د زرګونو هندوانو د خوشحالۍ لپاره کارونه وکړه او د دنيا لپاره دين برباد کړه مګر که الله عزت درکول ونه غواړي نو ته څه هم نه شې کولی او دغه هندوان چه په خاطر ئې نن د اسلام بيخ کني کيږي د وخت په راتللو به ستاسو ذليله کولو ته تيار شي نو مسلمانانو له د خپل اسلام د بچ کولو فکر پکار دی نه چه د دنيوي عزت او د هندوانو خوشحالۍ لپاره "ان ينصرکم الله فلا غالب لکم وان يخذلکم فمن ذا الذي ينصرکم من بعده" مخې ته کېښودل پکار دي او که اسلام محفوظ وساتي او جائز تدبير سره دنيوي عزت هم حاصل شي نو څه خبره نشته مګر د دنيوي عزت واقعي يا خيالي منصوبو سره اسلام ته ضرر رسول او د کفري افعالو ارتکاب بالکل نه شي جائز کيدی. الله

سبحانه وتعالی د داسې دین خرڅونکو او دنیا اخستونکو متعلق فرمائي: "ايبتغون عندهم العزةفان العزةلله جميعاً". وما علينا الا البلاغ والله اعلم بالصواب. كتبه الراجي رحمت ربه الصمد حبيب احمد الكيرانوي مقيم خانقاه امدايه تهانه بهون.

## د اشرف علي نه التماس

دې وخت کې ديني ضرورت دی په دې جوابونو باندې د علماو نه دسختط وکړی شي او مسلماناو باندې په کثرت سره وويستلی شي نو د خلکو په خيال کې منسوب الی العلم کيدو د وجې نه زه هم لاندې دستخط کوم، وهو هذا":
احقر اشرف علي تهانوي دا دواړه جوابونه وکتل بالکل صريح او حق صريح دي د عقد خبره دا ده چه الله ﷻ فرمان "ويحلفون بالله لكم ليرضواكم والله ورسوله احق ان يرضوه ان كانوامومنين"او ارشاد دی: "يحلفون لكم لترضواعنهم فان ترضواعنهم فان الله لايرضى عن القوم الفاسقين". په دې دواړو اياتونو کې تصريح ده چه الله او رسول ناراضه کول او د بندګانو خوشحالول هم چه کله د عتاب موجب دی نو د الله او رسول ناراضه کول او د کفارو راضي کول خو به بالکل هم د سزا نه خالي نه وي. دا کار سپک مه ګڼئ د دې سختيدل د شرعي دلائلو نه ثابت شوي دي. "تحسبونه هيناً وهوعندالله عظيم". په دې فتاوی عمل کول واجب او مخالفت ئې حرام دی.

## د نورو علماو تصحيح

احقر دواړه رسالې وکتلې بحمد الله دواړه جوابونه صحيح او د مدعا په اثبات کې کافي دي. بيشکه د غوا د حلالکې پرېښودل کوم چه د ديني شعائرو نه دي د هندوانو موافقت او د الله او د رسول مخالفت يو مسلمان هم نه شي خوښولی. کتبه؛انوارالحق امروهوی مدرس مدرسه امدادالعلوم تهانه بهون. بعدالحمدوالصلوة:دا د الله ﷻ د رحمت محتاج احقر الوری بنده ظفر احمد عفا الله عنه عرض کوي چه ما رسالة تصلية سقر په تفصيل او بله رساله مې اجمال سره وليده. د الله ﷻ د حمد سره دواړه رسالې صحيح او د مقصود توضيح کې کافي او شافي دي. الله ﷻ دې محبيبينو ته پوره جزا ورکړی. د علماو ډلې له د دې خبرې په سختئ سره مقابله کول او رد کول واجب دي کوم چه بعضې اتفاق پرستو ظاهر کړي دي چه د هندوستان مسلمانانو له د غوا حلالول پرېښودل پکار دي. دوئ صرف د هندوانو د خوشحالئ او اسلامي شعار باطلول غواړي. "والله متم نوره ولوكره الكافرون. يحلفون لكم لترضواعنهم فان ترضوا



عنهم فان الله لايرضى عن القوم الفاسقين". الله ﷻ د اسلام د نصرت لپاره په هره زمانه کې يوه ډله راپاڅوي کوم چه اسلامي شعائرو حفاظت کوي نو کله د حق ډلې له د دې اسلامي شعار د حفاظت لپاره ودريدل پکار دي. او تحرير او تقرير سره د دې پوره تائيد کول پکار دي د کوم اتفاق ابتداء چه د اسلامي شعائرو د ابطال نه وي په هغې کې فلاح او برکت کله کيدی شي. "ومن يطع الله ورسوله فقد فاز فوزاعظيما". والسلام. ۲۰ جمادی الاخری ۳۸ھ؛ خانقاه امداديه تهانه بهون.
امابعدالحمدوالصلوة احقراهل الزمن احمدحسن ملتمس:
د ناظرينو په خدمت کې دي چه په تپوس شوې مسئله کې د غوا ذبحه پرېښودل جائز نه دي ځکه چه دا د دين د شعار د مخالفت نه علاوه د اخلاق مامور بها هم خلاف دي. د کوم چه نن صبا مهذبينو ډيره لويه دعوه کړې ده ځکه چه دا يوه سخته بې شرمي ده او اسلامي غيرت د دې خوشامد هيڅ اجازت نه ورکوي او حيا نه لاس اوچتول غواړي اختيار کې دي چه څه کول غواړي هغه دې وکړي:"فقد قال صلى الله عليه وسلم ان مما ادرك الناس من كلام النبوة الاولى اذالم تستحي فاصنع ماشيت رواه البخارى". او دا خوشامد کول د پس همتئ نښه ده او الله تعالی د خپل لنبده نااميدي نه خوښوي: "فقد روى الطبرانى فى الكبيرعن السيد الحسن بن على مرفوعاً ورجاله ثقات كما فى العزيزى ان الله تعالى يحب معالى الامور واشرافها ويكره سمسافها اه". او دا کار د مخلوق نه طمع هم ده او طامع عند الناس محبوب کيدی نه شي. "فقد روى ابن ماجة وغيره وسنده حسن كما فى بلوغ المرام عن سهل بن سعد وقال جاء رجل الى النبى ﷺ فقال يا رسول الله دلنى على عمل اذا عملته احبنى الله واحبنى الناس فقال ازهد فى الدنيا يحبك الله وازهد فيما عندالناس يحبك الناس اه". حاصل د خبرې دا دی چه بې شرمي، د همت کمالی او بد افعال عندالناس او عندالله د مقصد پوره کيدو اميد بالکل هم نه دی لهذا هر مسلمان له د شريع اتباع په کمال طريقې سره کول پکار دي او په الله تعالی بهروسه او توکل کول پکار دي او د شيطاني وسوسو اتباع پرېښودل پکار دی. (کتبه احمد حسن تتمه خامسه ص ۱۲۷)

## يو استاد ته د قربانئ څرمن تبرعا ورکول

**سوال** :(۶۵۵) که يو استاد ته د قربانئ څرمن د تصدق او صدقې په طور ورکړی شي او هغه استاد ملازم ونه ګڼل شي کوم قانون او د زور ملامت ترې وانخستل شي بلکه د هغه په خوشحالئ ئې ساتل وغواړي او هغه معلم غريب وي او متوکل وي او شاګردان هم غريبانان او مسکينان وي نو دا صورت جائز دی او که نه؟

**جواب**: که دا معلم بالکل کار ونه کړي نو بيا به ئې هم ورکونکی هغه له دا ورکړي او که نه.
۲۶ جمادی الاولی ۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه ص ۱۴۰).

### د سوزول شوي ويښتو والا څاروي څرمن

**سوال**: (۶۵۶) او که د څاروي څرمن وسوزي او د سوزيدو نه پرې ويښته بند شوي نه وي او زخم وغيره هم پرې نه وي او ټول اعضاء ئې سالم وي نو د داسې څاروي قرباني صحيح ده او که نه؟

**جواب**: صريحه جزئيه خو نه ده ملاو شوې مګر دوه نورې جزئې ملاو شوې د هغې نه د قربانۍ جواز معلوميږي. "في العالمګيرية وكذا (اى تجزى) المجزوزة وهى التى جز صوفها كذا فى فتاوى قاضى خان وفيها تناثر شعر الاضحية فى غير وقته يجوز اذا كان لها نقى اى مخ كذا فى القنيه". ج۲، ص۴. ۶ ذی الحجه ۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه ص ۱۷۱).

### كافي بودن نماز عيد اضحى در جائى برئى حلت قرباني

**سوال**: (۶۵۷) په يو کور کې د څو کسانو طرف نه قرباني کيږي ايا يو کس اختر مونځ کولو سره د ټولو د طرف نه قرباني کولی شي او که مونځ چا هم نه وي کړی مګر د ښار په کوم جومات کې د اختر لمونځ وشو نو په دې صورت کې بغير د مونځ کولو نه قرباني کيدې شي؟

**جواب**: "فى الدر المختار واول وقتها الى قوله بعد سبق صلوة عيد ولو قبل الخطبة لكن بعدها احب؛ وفى رد المختار ولو ضحى بعد ما صلى اهل المسجد ولم يصل اهل الجبانة اجزاه استحسانا لانها صلوة معتبرة حتى لو اكتفوا بها اجزاتهم وكذا عكسه ج۵، ص۳۱۰". د دې نه ثابته شوه چه پخپله د اختر د لمونځ نه فارغيدل شرط نه دي. د حلالکې جواز په جومات يا عيدګاه کې د مونځ کيدل کافي دي نو ځکه د سوال په دواړو صورتونو کې به قرباني جائز وي. ۶ ذی الحجه ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه ص ۲۰۱.

### ساقط نه شدن قرباني از ذمه خود بسبب قرباني كردن غير از طرف آن

**سوال**: (۶۵۸) په زيد قرباني واجب ده ليکن هغه ځکه قرباني نه کوي چه هغه ته پته ده چه عمر زما د طرف نه تبرعا قرباني کوي او که عمر واقعي قرباني وکړي نو د زيد د ذمې نه به قرباني ادا شي او که نه؟

**جواب**: "في العالګيرية اذا ضحى بشاة عن غيره بامر ذلك الغير او بغير امره لا تجوز لانه لا يمكن تجويز التضحية عن الغير الا باثبات الملك لذلك الغير فى الشاة ولن يثبت الملك له فى الشاة الا بالقبض ولم يوجد قبض



الامر ههنا لا بنفسه ولا بنائبه كذا فى الذخيرة ج ۶، ص۲۰۲". د دې روايت نه معلومه شوه چه د زيد په ذمه چه کومه قرباني واجب ده هغه په تپوس شوي صورت کې نه ادا کيږي. ۱۳ ذی الحجه ۱۳۳۹ھ.

**سوال**: (۶۵۸) د قربانۍ څو څاروي زيد عمرو ته پيش کړو او ويې ويل چه په دې يو يو باندې د يو يو په نوم قرباني وکړو. زيد ګويا تعين نه کړل مګر يو يو ئې ذبحه کړو او هر يو باندې ئې د يو يو بالتعين نيت وکړو نو په دې صورت کې به قرباني صحيح شي او که نه؟

**جواب**: دا توکيل مطلق اذن بالتعين هم دی نو د چا چا د طرف نه چه عمرو کوم کوم څاروی ذبحه کړو هغه د ده د طرف نه واقع شو اوس هغه خلك د کومو د طرف نه چه قرباني کړی شوې وه د هغه څاروو مالك وي نو بيا خو د هغوئ د طرف نه واجب هم ادا شو او که صرف زيد ئې مالك وي نو د زيد د طرف نه خو واجب ادا شو او د نورو د طرف نه نفل ادا شو. او د دغه کسانو د مالکانو کيدلو دوه طريقې دي يو دا چه د اخستلو نه وړاندې د اشتراء اجازت حاصلولو سره وکيل بالاشتراء شي او ګويا چه قيمت به په دې کې د ټولو په ذمه وي مګر تبرعا ئې پخپله ورکړي. دويه طريقه دا چه مامور بالذبح ټول وکيلان وجوړ کړي چه زيد مونږ ته کوم څاروی هبه کړي په هغې باندې ته قبضه وکړې د اول د صحت دليل دا روايت دی:

"وفى الاضاحى للزعفرانى اشترى سبعة نفر سبع شياه وبينهم ان يضحوا بها بينهم ولم يسم لكل واحد منهم شاة بعينها فضحوا بها كذلك فالقياس ان لا يجوز وفى الاستحسان يجوز فقوله اشترى سبعة نفر سبع شاة بينهم يحتمل شراء كل شاة بينهم ويحتمل شراء شاة على ان يكون لكل واحد شاة ولكن لا بعينها فان كان المراد وهو الثانى فما ذكره فى الجواب باتفاق الروايات لان كل واحد منهم يضير مضحيا شاة كاملة وان كان المراد هو الاول فما ذكر من الجواب على احدى الروايتين فان الغنم اذا كانت بين الرجلين ضحيا بها ذكر فى بعض المواضع انه لا يجوز كذا فى المحيط؛ عالمګيرية ج۶ ص ۲۰۵. قلت ولما وقع الذبح ههنا على التعيين فيجوز فى القياس ايضا كما هو ظاهر". د دويمې طريقې د صحت دليل هغه روايت دی کوم چه اول د اصل سوال په جواب کې نقل کړی شوی وو: "حيث ذكر فيها لانه لا يمكن تجويز التضحية عن الغير الا باثبات الملك كذلك الغير فى الشاة ولم يثبت الملك له فى الشاة الا بالقبض ولم يوجد قبض الامر ههنا لا بنفسه ولا بنائبه الخ قلت ولما ارتفعت علة عدم الصحة وهى عدم القبض حيث وجد القبض بالنايب ارتفع حكم عدم الصحة كما هو ظاهر".

فائده: "ذكر في العالمګيرية بعد هذه الرواية بسطرين ولو ضحى بدنة عن نفسه وعرسه واولاده ليس هذا فى ظاهر الرواية وقال الحسن بن زياد فى كتاب الاضحية ان كان اولاده صغارا جاز عنه وعنهم جميعا فى قول ابى حنيفة وابى يوسف وان كانوا كبارا ان فعل بامرهم جاز عن الكل فى قول ابى حنيفة وابى يوسف وان فعل

بغیر امرھم اوبغیر امر بعضھم لا یجوز عنه ولا عنھم فی قولھم جمیعا لان نصیب من لم یامر صار لحما فسار الکل لحما وفی قول الحسن بن زیاد اذا ضحی بدنة عن نفسه وعن خمسة من اولادہ الصغار وعن امولدھا بامرھا اوبغیر امرھا لا تجوز عنه ولا عنھم قال ابو القاسم تجوز عن نفسه کذا فی فتاوی قاضی خان اھ وظاھرہ التعارض بین روایة الشاة وبین روایة البدنة فالوجه عندی ان البدنة یجوز الھبة فیھا مشاعا بقبض الواھب عنھم بامرھم والامر بالذبح امر بالقبض وبقبضه عن الصغار بلا امرھم فاجاز الشیخان تضحیتھا عنھم ثم من لم یجوزھا ابطلھا بعضھم واوقعھا بعضھم عن الذابح بخلاف الشاة حیث لم یصح ھھنا مشاعا لکونھا محلا للقسمة وبقید عدم الصحة ھذہ یکونھا عن الکبار فافھم".

**سوال** دوم:(۶۵۸)د زید معمول دا دی چه د خپلې کونډې مورف نابالغ اولاد او د بالغې مالداره لور او مالداره ښځې د طرف نه څاروی اخلي او د قیمت روپۍ د یو کس نه هم نه اخلي او نه اول د تعینوي چه کوم څاروی د چا دی حلالونکي ته د ټولو نومونه ښائي او ورته وائي چه هر یو څاروي باندې د یو یو نوم قرباني کړه. حلالونکي یو خاص ترتیب سره د یو یو کس په نوم څاروی حلالوي. په دې صورت کې به د ټولو قرباني صحیح شي او که نه؟ او لور او ښځه چه پخپله مالداره دي لپاره به همدا قرباني کافي شي او که هر یو به د خپل خپل طرف نه قرباني کوي دا ضرور ده چه په دې حالت دلالةً یا امراً اجازت کیږي چه زمونږ د طرف نه قرباني وکړه او دا د تبرع مامور دی چه هغه قیمت نه اخلي؟

د دریم سوال **جواب**: د دې جواب هم د بره سوال د جواب نه راووتلو چه په دې سره به د نورو واجب نه ادا کیږي ځکه چه قبضه ونه موندل شوه او صرف د قربانۍ امر د قبضې توکیل نه دی او د تبرع بالقیمت هغه صورت معتبر دی کوم چه په بره سوال کې اولې طریقې سره تعبیر کړی شوی دی. ۱۹ ذی الحجه ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه ص ۲۰۵).

### حکم قرباني جانور مسروقه که بلا علم خرید کرده شد

**سوال**:(۶۵۹)د قربانۍ لپاره یو کس د ګډې بچی اخستلی وو هغه کس د دغه کلي اوسیدونکی وو او قسم ئې خوړلو چه د غلا نه دی د کوم نه چه ئې اخستلی وو نو وروستو د یو معتبر کس نه معلومه شوه چه د غلا دی نو قرباني صحیح کیږي او که نه بیا قرباني وکړي؟

**جواب**: "في العالمگیریة عن المنتقی لو غصب اضحیة غیرہ ودمجھا عن نفسھا وضمن القیمة لصاحبھا اجزاہ ما صنع لانه لملکھا لسابق الغصب کذا فی الخلاصة لو غصب من رجل شاة فضحی بھا لا یجوز وصاحبھا بالخیار ان شاء اخذھا ناقصة وضمنه النقصان وان شاء ضمنه قیمتھا حیة فتصیر الشاة ملکا للغاصب من وقت



الغصب فیجوز الاضحیة استحسانا وکذا لو اشتری شاة فضحی بھا ثم استحقھا رجل فان اجاز البیع جاز وان استرد الشاة لم یجوز کذا في الشرح الطحاوي ج۶ ص ۲۰۳".

د جواب خلاصه دا ده چه دا داستحقاق صورت دی او استرداد نه دی شوی او د تاوان وجوب سره قرباني جائزه کیږي که اصلي مالك پیدا شي نو هغه ته دې اطلاع ورکړی شي که هغه ترې تاوان واخلي نو دا د خرڅونکي نه خپلې روپۍ واپس اخستلی شي. ۱۵ محرم ۱۳۴۰ھ (تتمه خامسه ص ۲۱۴).

### اختلاف در دادن گوشت قرباني هنود را

**سوال**:(۶۶۰) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه د قرباني غوښه د هندوستان کفارو له چه ذمیان نه دي ورکول جائز دي او که نه؟ او د ذمي کافر تعریف څه دی او په بیان القران کې تاسو لیکلي دي چه کافر ذمي یعنې غیر حربي ته زکاة ورکول جائز نه دي او نور صدقات واجبه او نافله جائز دي د دې نه دا نه واضحه کیږي چه د دې ځاي د کفارو څه حکم دی که تکلیف نه وي نو د مذکورو عبارتونو په اردو کې اسان مفهوم ولیکئ؟ "تقریرہ ان حاصل لنهیه ﷺ کان سلبا کلیا وحاصل الایة الایجاب الجزی التحقق ببعض الصدقات فلا یردان الایة عامة فی کل الصدقات فان محط الفایدة العموم المصرف لا عموم المصروف بینوا توجروا؟

**جواب**: "فی الدر المختار اما الحربی ولو مستامنا فجمیع الصدقات لا تجوز له اتفاقا بحر عن الغایة وغیرھا لکن جزم الزیلعی بجواز التطوع له اھ وانظر ما علق علیه فی رد المختار ج۲ ص ۱۰۸". د دې روایت نه معلومه شوه چه د هند کفارو ته د قربانۍ غوښه ورکول مختلف فیه دي مګر زمونږ د علماو د دې جواز دی دا خو د اصل سوال جواب شو. باقي د بیان القران د عبارت متعلق دا تنبیه ده چه د واجبه صدقاتو مضمون څومره تفصیل ته محتاج دی کوم چه د فقهې په کتابونو کې مذکور دي او د دې ملحقاتو د عربي عبارت ترجمه دا ده چه نهي نبي عن الصدقات علی الکفار نه بعد چه کوم ایات نازل شوی دی د هغې نه ظاهرا د ټولو صدقاتو عموم معلومیږي کوم چه زکات ته هم شامل دي بیا نهي عن الزکاة د آیات خلاف دی لا یرو الخ کې د دې اشکال تقریر دی د دې جواب دا دی چه د ایات نه مقصود د حضور نهي منسوخ کول دي او د هغوئ د نهي حاصل دا وو چه کافر ته کومه صدقه مه ورکوئ د سلب کلي نه همد! مراد دی او د ایات حاصل دا دی چه کفارو ته صدقه ورکول پکار دي. د ایجاب جزئي نه همد! مراد دی او ظاهره ده چه موجبه جزئیه نقیض او معارض وي وسالبه کلیه نو نسخه صحیح شوه

بیا که څوك ووائي چه ایات ظاهرا خو عام دی او ستاپه تقریر باندې ایات عام نه شي کیدی بلکه د بعضې صدقاتو پورې خاص دی د دې جواب په دې کې دی "فان محط الفائدة الخ" یعني ایات بیشکه عام دی لیکن د دې عموم د مصروف په اعتبار سره د صدقې نه دی چه زکوة وغیرها تولو ته شامل دی بلکه عموم د مصرف په اعتبار سره دی یعنې د مطلق صدقې مصرف مسلمان او کافر دواړه دي نه چه صرف مسلمان لکه څنګه چه د نهي مسنوخ حاصل وو انتهي حل الملحقات او دا د مصرف عموم په دې قول خو ظاهر دي په کوم کې چه حربي ته صدقه تطوعا ورکول جائز دي پاتې نور اقوالو کې د مسلمان په اعتبار سره دي یعنې صدقه د مسلمان سره خاص نه ده. ۱۷ ذی الحجه ۱۳۴۰ھ (تتمه خامسه ص ۲۲۹).

**ثبوت حرمت گرفتن قیمت چرم قرباني اغنیا را**

سوال :(٦٦١) تاسو په جنتي کالی کې لیکلي دي چه د قربانۍ د څرمنې قیمت د فقیر مسکین نه علاوه بل څوك نه شي اخستلی. یو مولوي صاحب وائي چه مالدار او غریب دواړو ته ئې ورکول صحیح دي او وائئ چه په کوم عربي کتاب کې ئې راته وښایئ؟

جواب: "فی خلاصة الفتاوی عن مجموع النوازل قوله علیه الصلوة والسلام لا تحل الصدقة لغنی لا لفقیر بنی هاشم محمول علی الصدقة الواجبة اما النفل فیجوز وعن ابی یوسف یجوزان یعطوا من صدقة الاوقاف لکن هذا اذا سمی به الاغنیاء وبنوهاشم اما اذا اطلق لفظ الصدفة فهی صدقة واجبة ج ۱ ص ۲۴۵". د واجبې صدقې د غني او بني هاش دپاره نه حلالیدل د بني هاشمو لپاه د وقف صدقې نه حلالیدو په بنا باندې د دې واجبې صدقې برقرارول په دې عبارت کې مصرح دي: "وفی البحر الرایق وقید بالزکوة لان النفل یجوز للغنی کما للهاشمی واما بقیة الصدقات المفروضة والواجبة کالعشر والکفارات والنذور وصدقة الفطر فلا یجوز صرفها للغنی لعموم قوله علیه الصلوة والسلام لا تحل صدقة لغنی خرج النفل منها لان الصدقة علی الغنی هبة کذا فی البدایع ج ۱، ص ۲۴۵". په دې کې د خلاصې نه زیاته د دې تصریح ده او د قربانۍ د څاروي د څرمنې تصدق هم مصرح دی نو د دې روایاتو په بنا باندې د دې قیمت د تصدق محل به خاص فقیران وي کوم چه د بني هاشم نه نه وي او په وقف کې دې شبهه ونه کړی شي ځکه چه د دې لزوم د اتباع لازم دي نو د التزام موافق به وي او په مبحوث عنه کې به شرعي لزوم وي. (تتمه خامسه ص ۲۵۰).



**حلت ذبیحه که گفته شود وقت ذبح بسم الله سنت ابراهیم خلیل الله**

سوال :(٦٦٢) په کوم څاروي باندې چه د بسم الله الله اکبر په ځاي بسم الله سنت ابراهیم خلیل الله وویل شي او ذبحه کړی شي نو ایا هغه په شریعت کې جائز دي او که نه؟ ذلته چك نمبر ۴۸۱، کې چه کوم راجپوت خاندان مسلمانان د خانپور وغیره اوسیږي نو یو قصاب دی چه په یو فقیر باندې دې طریقې سره ذبح کوي او زمونږ خبره د بسم الله الله اکبر نه مني د هغه ذا وینا په شریعت کې صحیح ده او که نه؟

جواب: "فی الدر المختار وان ذکر مع اسمه تعالی غیره فان وصل بلا عطف کره کقوله بسم الله اللهم تقبل من فلان اومنی اومنه بسم الله محمد رسول الله بالرفع لعدم العطف فیکون مبتداء لکن یکره للوصل صورة ولو بالجزا والنصب حرم درقیل هذا اذا عرف النحو والاوجه ان لا یعتبر الاعراب بل یحرم مطلقا بالعطف لعدم الحرف زیلعی الخ". د دې روایت نه معلومه شوه چه کوم عبارت چه هغه کس وائي د هغې سره حلالکه نه حرامیږي البته داسې ویل پخپله مکروه دي. ۹ ربیع الثاني ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص ۴۶).

**حکم قرباني جانوری که بر حصه داده بود برائی پرورش**

سوال :(٦٦٣) علماء او مفتیان په دې باره کې څه فرمائي چه کومه غوا وغیره ئې چا له په مزدورۍ په دې شرط ورکړه چه د ساتلو نه وروستو به نیمه یا دریمه حصه د مزدور وي او نوره د مالك. که د داسې څاروي مالك قیمت ورکړی او هغه واخلي قرباني ئې صحیح ده او که نه؟

جواب: صحیح ده ځکه چه په دې کار سره د مالك په ملکیت کې څه خباثت رانغلو البته د پرورش کونکي نه ئې اخستل نه دي پکار. ۶ ذی الحجه ۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه ص ۱۷۱).

**واجب بودن تحقیق برائی جانور قرباني بوقت خرید که**

**بر حصه داده شده است یا نه وقتیکه شبه قوي باشد**

سوال :(٦٦٤) ایا د اخستلو په وخت د نورو عیوبو د کتلو نه علاوه د هغې د حصې وغیره معلومول به واجب وي؟

جواب: آو! چیرته چه قوي شبهه وي. ۵ ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص ۷۶).

### غلط بودن نسبت رجوع صاحب شتوی او راضحیه از شمول لفظ ضان هر دو قسم را

**سوال**: (٦٦٥) جنتي کالی کې تاسو د شپږو میاشتو د قوي اوتازه ګډ قرباني جائز لیکلي ده. او د لغت په کتابونو کې هم د ضان معنی ذوات الصوف یا خلاف المعز لیکلی شوي دي. نو په مجمع البحار، منتهی العرب صراح کې د دې معنی مذکور الصدر بیان شوې ده. د دې نه علاوه مظاهر حق مصنفه نواب قطب الدین خان صاحب مرحوم کې همد ګډې او بزې ترمنځ څه فرق نه دی ښودل شوی بلکه د دواړو یو حکم ښودل شوی دی لیکن د شرح وقایه باب الاضحیه کې شرح ماله الیه کړی شوې ده دلته یو کس ستاسو طرف ته منسوبوي چه مولانا په یو کتاب د بهشتي در کې لیکلي دي او اوس ئې د دې مسئلې نه رجوع کړې ده او ویلي ئې دي چه د ضان حکم ګډ ته راجع دی ایا دا کتاب ستاسو تصنیف دی او داسې مو لیکلي دي؟ بل عرض دا دی چه لغت کې تفرد وشارح وقایه معتبر دی او که نه؟ او په عربو کې ګډې وې او که نه؟ او ګډه د بزې په جنس کې شمار کړی شي لکه څنګه چه مولانا عبدالحي مرحوم عمدة الرعایه حاشیه شرح وقایه باب زکات الاموال کې فرمائي "الضان بفتح الضاد المعجمة ذوات ومنه ماله الیه" یا معز په چیلۍ کې شمار کړی شي؟

**جواب**: بهشتي دا نوم مې نن واوریدو زما د کوم کتاب نوم دا نشته او نه ماله د دې مسئلې نه رجوع کول یا د دې یا لکه غالبا معامله د دې په عکس ده چه اول مې د کوم سوال جواز کې ضان چیلۍ پورې خاص کړی وو بیا مې د هغې نه رجوع وکړه بهرحال که د دې راوي سره کوم سند وي او هغه راوښائي نو زه به په کې وګورم په عربو کې د ګډې کیدل یا نه کیدل خو یا د نه دي مګر لغت د حجت لپاره کافي دي او د شرح وقایه عبارت دی د عمدة الرایه په عبارت سره ماول کړی شي د کوم چه د تعریف حاصل ببعض الاصناف دي لکه یو کس چه ووائي "المراة من لها ثدیان ناهدان". ۲ محرم ۱۳۴۱ھ (تتمه خامسه ص ۲۳۰).

### حکم مس کردن مریض جانوري را که نیت قرباني آن کرده باشد

**سوال**: (٦٦٦) د یو کس څوي مریض وو هغه په یوه چیلۍ باندې د هلك لاس راښکلو او نیت ئې کړی دی چه د روغیدو نه وروستو ئې قرباني کړم نو هلك ښه شو؟ هغه چیلۍ په کور کې ساتلې شوې ده هغه غواړي چه د دې په بدله کې بله چیلۍ یا چیلۍ یا د غوا ئې قرباني وکړي او هغه چیلۍ په کور کې پاتې شي لهذا په دې باره کې څه مسئله ده چه کیدی شي او که نه؟



**جواب**: بلکه بله زیاته بهتره ده که دې وخت کې ئې خیال دا وو چه د څان په بدله کې څان مصرفولو نیت سره د مریض څان بچ شو نو که هر څاروی ذبحه کړی شي د دې د جواز تحقیق د نور علماو نه وکړئ زما په لړه شبهه ده. ۹ رجب ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه ص ۱۹۱).

### عدم تحقیق آنکه در قرباني کردن از طرف میت قرباني کننده را هم ثواب باشد یا نه

**سوال**: (٦٦٧) قرباني د خپل طرف نه او ثواب ئې مړي ته رسولو سره به قرباني کونکي ته هم ثواب ملاویږي او که د مړي د طرف نه حصه ونیسي نو قرباني کونکي ته به هم ثواب ملاویږي؟

**جواب**: دا د آخرت متعلق ده دا مسئله نه ده. د دې د تحقیق لپاره قیاس او اجتهاد کافي نه دی. د روایت نقل کول پکار دي او هغه مو د نظر نه نه دي تیر شوي، فقط. یکم ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه خامسه ص ۷۵).

### د یهودو د ذبحې حکم

**سوال**: (٦٦٨) د نصرانیانو حلالکه په کومه طریقه چه ئې هغوئ کوي هغه خو زه هم حرامه ګنم څکه هغوئ داسې طریقې سره څاروي وژني چه کله خو ترې وینه بهر ته راووځي او کله دننه پاتې کیږي لیکن د یهودو حلالکه ما پخپله ولیده هغوئ د څاروي په مرئ چاړه راښکاږي او وینه ترې راووځي په تپوس کولو کې معلومه شوه چه د الله نوم هم اخلي که په اسلام کې څه وړې باریکیانې نه وي نو ظاهره خو زمونږ په شان حلالکه کوي ایا په دې حالاتو کې چه نوره حلالکه نه شي پیدا کیږي نو د یهودو حلالکه خوړل جائز دي او که نه؟ زمونږ په شان یهود هم د خنزیر غوښه نه خوري؟

**جواب**: که دا یهودان موسی علیه السلام او تورات هم اسماني کتاب مني دهریان نه وي نو په ذکر شوي حالت کې چه په سوال کې دي هغوئ هم د الله ﷻ نوم اخلي که په هره ژبه کې ئې اخلي حلالکه ئې حلاله ده. (تتمه خامسه ص ۴۱۸).

### حکم تحرز از طعام ذبیحه اهل بدعت

**سوال**: (٦٦٩) غیر مقلدین از ذبیحه واز دعوت حنفي المذهب نفرت دارند یعنی دعوت قبول نمی کنند وذبیحه نمی خورند درین صورت اگر از ذبیحه ودعوت او شان مایان متنفر شویم چه حرج؟

جواب :چو این تنفر غیر مقلدین از مباح وحلال خلاف مشروع هست وزجر بر غیر مشروع هست لهذا اگر زجرانه که اعتقادا از ایشان تنفر کرده شود مضائقه نیست. ۱۸ ربیع الثاني ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه صـ ۱۳۵).

## عدم جواز ذبیحه حیوان بطریق جدید که بذریعه آله می شود

سوال :(۶۷۰) سوال از انگلستان از اخبار مدینه بجنور یکم فروري ۱۹۱۷ء. په دې سوال کې خیال دا پیدا کیږي چه ځاروي ته د ذبحه کولو په وخت ډېر کم تکلیف ورسیږي او د ذبحې داسې طریقه اختیار کړی شي په کوم کې چه دا کار حاصل شي د دې غرض دپاره یوه رائل سوسائټي جوړه شویده او د ذبحه کولو په وخت د تکلیف نه د بچ کولو لپاره یوه آله ایجاد کړی شوې ده په کوم سره چه ځاروي بې هوشه کړی شي او د بې حسۍ په حالت کې هغه ذبحه کړی شي. که مسلمانان د دې نه وروستو یو ځاروی په خپله طریقه حلال کړي نو آیا هغه به حلال ګڼل کیږي د ځاروي بې حسه کولو نه هغه نه مړ کیږي د هغې نبض برابر روان وي که مړ شي نو د زړه حرکت بندیدو سره به نبض بند شي او د وینې حصه به په بدن کې پاتې وي لیکن داسې نه کیږي لهذا په دې حالت کې په بیهوشۍ که شاه رګ کټ کولی او وینه خارجیدلی شي. داسې ځاروي هم ذبحه کړی شوې دي چه د بې هوشه کولو نه وروستو څو منټونه همداسې پریښودل شوي او بیا حلال کړی شوي دي او کافي وینه ترې راوتلې ده بهرحال د استفتاء صورت دا دی چه که یو ځاروی د حلالولو نه وړاندې بې هوشه کړی شي ترڅو هغه د درد احساس ونه شي او بیا وروستو حلال کړی شي په داسې صورت کې چه د زړه حرکت ئې قائم وي او نبض ئې هم روان وي او حلالکه هم په اسلامي طریقه وکړی شي نو ایا دا ځناور به په اسلامي طریقه حلال ګڼلی شي ممکنه ده چه دلته (انګلستان کې) ډېر زر دا قانون شي چه یو ځاروی دې هم تر هغې پورې ذبحه نه شي ترڅو چه د بې هوشه کولو آله ورته استعمال نه کړی شي. د دې نه هم پوره خبر نه یو چه هغه آله څه رقم ده او څرنګه استعمالیږي آیا په دې سره ځاروي په کومه حصه وهل کیږي یا کوم منشي څیز سره بې هوشه کیږي؟

جواب : دلته په دوه ځایونو کې خبره ده یو دا چه په داسې حالت کې ځاروي حلالولو سره به هغه حلال شي او که نه؟ نو چونکه دا کار د حلالوالي د کوم شرط منافي نه دی او ژوند په کې پوره تراوسه باقي دی نو ځکه جواب دا دی چه ځاروی به حلال وي. "فی الدر المختار ذبح



شاة مریضة فتحرکت اوخرج الدم حلت والالا ان لم تدر حیاته عند الذبح وان علم حیاته حلت مطلقا وان لم تتحرك ولم یخرج الدم وهذا یتاتی فی منخفقة ومتردیة ونطیحة والتی فقر الذیب بطها فذکاة هذه الاشیاء تحلل وان کانت حیاتها خفیفة وعلیه الفتوی لقوله تعالٰی الا ما ذکیتم من غیر فصل فی رد المختار قوله فتحرکت ای بغیر نحو مد رجل وفتح عین مما لا یدل علی الحیوة قوله اوخرج الدم ای کما یخرج من الحی الی قوله عند الامام وهو ظاهر الروایة قوله علیه الفتوی خلافا لهما، ص ۳۰۱، ج۵" بله خبره دا ده چه پخپله دا کار جائز دی او که نه. نو په دې کې تفصیل دا دی. نو دا کتل پکار دي چه دې آلې سره آیا هغه ځاروي په کوم ځای وهل کیږي او که نه نشې والا څیز سره بې هوشه کیږي لکه څنګه چه تپوس کونکي په کې تردد ظاهر کړي دي او غالبا طریقه دویمه ده نو که داسې وي نو دا فعل حرام دی. "اما الطریق الاول فلما فی رد المختار مکروهات الذبح والنخع بلوغ السکین النخاع وهو عرق ابیض فی جوف عظم الرقبة وکره کل تعذیب بلا فایدة مثل قطع الراس والسلخ قبل ان تبرد ای تسکن من اضطراب وفی رد المختار وقیل ان النخاع یمد راسه حتی یظهر مذبحه وقیل ان یکسر عنقه قبل ان یسکن عن الاضطراب فان الکل مکروه لما فیه من تعذیب حیوان بلا فایدة هدایة ج۵، صـ ۲۸۸_۲۸۹. واما الطریق الثانی فلما فی الدر المختار وحرم الانتفاع بها ولو یسقی دواب ج۵ صـ۴۴۴". او که دا دواړه طریقې نه وي مګر کومې مباحې طریقې سره د دغه ځاروي حواس معطل کیږي نو هغه هم دوه وجو نه ناجائز دي اول د دې وجې نه چه د بې هوشۍ نه وړاندې د هغې حواس سالم وو او د بې هوشۍ نه وروستو ئې د بطلان یقین نشته دی بلکه ممکنه ده چه دې آلې سره حرکت باطلیږي او حواس باقي وي او د حرکت باطلیدل د حواسو باطلولو سره مستلزم نه دي. ممکنه ده چه د دې آلې اثر صرف د جوارحو معطلولو کې داسې وي لکه د یو کس په لاس کې چه څوك زور وکړي او مړئ ئې بنده شي نو هغه حرکت نه شي کولی مګر احساس کولی شي نو د اول نه بې حس کیدل یقین او اوس د حسن په زوال کې شك پیدا شو. او عقلي او شرعي قاعده ده چه الیقین لا یزول بالشك نو د حسن ابقاد آله به د زیات تعذیب سبب وي نو ځکه ناجائزه ده او پخپله حیوان متکلم نه دی چه خپل حال بیان کړی شي. او په انسان باندې امتحان کولو سره دې دوکه ونه خوړل شي ځکه چه د انسانانو او ځناور ډر خواص د یو بل سره فرق لري. بله دا چه داسې کونکي به دا طریقه د شرعي طریقې نه چه حلالکه په کې کیږي ډېره ښه وګڼي او شرعي حلالکه به ناقصه او مرجوع او دا کفر ته نزدې کول کوي. د دې دوه وجو نه دا طریقه پخپله بدعت سیه وتحریف في الدین کیدو د سبب نه د شریعت خلاف دی داسې قانون جوړول د اسلامي مذهب خلاف دي. د قوانینو جوونکو ته دې اطلاع ورکړی شي چه د

مسلمانانو لپاره داسې قانون مه مقرروئ لکه څرنګه چه معاهده ده. ۱۷ ربیع الثاني ۱۳۳۵ھ (حوادث خامس ص۵).

### د ذبحې نه وړاندې د څاروي بې هوشه کولو حکم

**سوال** :(۶۷۱)کوم څاروی چه ذبحه کیږي هغه څاروو ته د تکلیف نه کیدو په خاطر د یوې نرۍ ستنې په شان یو تیره څیز په مخامخ رګ کې ورکول کیږي د دې سره هغه څاروی مست او بې هوشه شي بیا چه هغه ذبحه کړي نو څه تکلیف ورته نه کیږي او په لږ وخت کې د ټول بدن وینه راوځي ایا داسې کول جائز دي او که نه، بینوا توجروا؟

**جواب**: دوه کارونه د تنقیح قابل دي یو دا چه د ستنې په ننویستلو کې څاروي ته څومره تکلیف رسیږي دویم دا چه د څاروي په غوښه کې څه قسم اثر د دې ستنې ننویستلو نه کیږي؟

جواب تنقیح: کوم څاروي چه ذبحه کیږي دغه څاروو ته د تکلیف نه محسوسیدو په خاطر یوه ستنه مخامخ د تندې والا رګ کې ورکول کیږي او په دې سره د څاروي په غوښه کې هیڅ اثر نه راځي او په دې سره څاروي ته څه تکلیف نه رسیږي په دې صورت کې هغه بې هوشه کیږي ساه ئې چلیږي او په لږ وخت کې د ټول بدن وینه ووځي آیا داسې کول جائز دي او که نه، بینوا توجروا؟

### تنقیح: آیا د دې روایاتو ماخذ د کوم ماهر قول دی

جواب تنقیح: خاکسار چه څه عرض کړي دي د دې تجربه ماهرو ډاکټرانو کړې ده او د هغوئ مشاهده ده او مونږ معتبرو ملګرو په خپلو سترګو کتلي دي.

**جواب**: که دا دواړه دعوې تجربې سره صحیح هم ومنل شي نو بیا هم په دې کې څه خبره باقي پاتې کیږي بعضې خو زما په زړه فتوی کې ذکر دي د کوم چه بالکل اخري حصه یعنې اعتقاد ترجیح غیر منقول علی المنقول د قباحت خاص صورت په نظر کې د نیولو قابل دی او بعضې اوس ذکر کوم هغه دا چه شریعت د حلالکې د جائز کولو کوم شرط ګرځولی دی د هغې علت لکه څرنګه چه د نصوصو نه واضحه ده دا دي چه ټولې وینې د حلالکې د بدن نه خارجه شي او د سائنس د قواعدو نه د دې قول احتمال شته دی چه د څاروي طبیعت د هغه د هوش په حالت کې قوي وي او بې هوشي چه څومره وي هغومره اندازه به دا طبیعت ضعیف وي او د وینې خارجولو والا کار د طبیعت دی. نو څومره چه په طبیعت کې قوت وي



وینه به زیاته خارجیږي او څومره چه په طبعیت کې ضعیف والی وي وینه به کمه خارجیږي نو قصدا طبیعت ضعیفه کول د قصدا وینې کم راویستلو اهتمام کول دي کوم چه صریح مزاحمت دی. د شارع مقصود خو دا شرعي معذور دی او په بدن کې د کافي وینې موجودیدو نه بعد چه کله کمه راوځي نو هغه به په غوښه کې ګډه شي او د خنق سره ټوله وینه په غوښه کې ګډیږي نو دا د طب نبوي مفوت دی نو لږ شان ګډیدل د غوښې سره د دغه خواصو منقص دي دا په طبي محذور وي او که په کوم صورت کې تقلیل خروج دم بلا تدبیر اختیار وي نو په هغې کې مکلف معذور دي په دې سره به د کراهت حکم نه ورکول کیږي. د دې موجوده او مخکنۍ فتاوی په سبب دا ثابته شوه چه دا کار جائز نه دی، والله اعلم. ۱۵ جمادی الثاني ۱۳۵۱ھ (النور ۹ محرم ۱۹۵۲).

### حکم ذبیحه شیعه

**سوال** :( ۶۷۲)د رافضي د لاس ذبیحه جائزه ده او که نه؟

**جواب**: د شیعه ګانو د ذبیحې په علت کې د اهل سنت د علماو اختلاف دی، راجح او صحیح همدا ده چه حلاله ده. "قال الشامی وکیف ینجی القول بعدم حل ذبیحة مع قولنا بحل ذبیحته الیهودوالنصاری ج۵، ص۱۸۹، والله اعلم". ۲۵ ربیع الاول ۱۳۰۴ھ. (امداد ج۲، ص۱۲۷).

### حلت ذبیحه بجمله ان الله هو العلي الکبیر که اهل قرآن اختراع کرده اند

**سوال** :(۶۷۳) د مسنون سلام نه بعد التماس دی اهل قران چه ذبیحه باندې د بسم الله الله اکبر په ځاي ایات ان الله هو العلي الکبیر وائي په دې تکبیر سره ذبیحه حلالیږي او که څه شك په کې پاتې کیږي. دې زوړ تکبیر بسم الله الله اکبر ته حلال نه وائي بلکه حرام ورته وائي او د الله اکبر لفظ ته شرك وائي که د "ان الله هو العلي الکبیر" نه وړاندې که بسم الله هم وویل شي او بیا ذبحه وکړي نو بیا ذبیحه څنګه ده، بینوا توجروا؟

**جواب**: صرف "ان الله هو العلي الکبیر" سره هم او د دې نه وړاندې بسم الله ویلو سره هم ذبیحه حلالیږي اګرچه الله اکبر شرك ګڼل لویه ناپوهي ده. "فی الدر المختار والشرط فی التسمیة هو الذکر الخالص عن شوب الدعاء وغیره فلا یحل بقوله اللهم اغفرلی لانه دعاء وسوال بخلاف الحمد لله اوسبحان الله مریدا به التسمیة فانه یحل اه وفی رد المحتار بای اسم کان مقرونا بصفة کالله اکبر اواجل اواعظم اولا کالله او الرحمن وبالتهلیل والتسبیح الخ ج۵، ص۲۹۳. شعبان ۱۳۳۲ھ. (تتمه ثانیه ص۱۵۶).

## نقل اضحیه (قرباني) د بل د طرف نه جائزه ده

**سوال** :(۶۷۴) حضرت والاسلامت اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! الله مو زمونږ په سر باندې همیشه لره. ما ستاسو لپاره د تیر اختر په ورځ یوه حصه قرباني اخستلې وه هغه وخت مې تاسو ته اطلاع هم نه وه کړې. د دې په باره کې راته هغه وخت مسئله معلومه نه وه چه ویل په کار دي او که نه؟ اوس مې جنتي کالی کې دا مسئله وکتله نو معلومه شوه چه کوم کس دلته موجود نه وي او بل کس د هغه د طرف نه بغیر د هغه په حکم قرباني وکړه نو دا قرباني صحیح نه ده. او د کوم غائب حصه په ښاروي کې هغه د اجازت نه بغیر که وکړي نو د نورو حصه دارانو قرباني هم نه صحیح کیږي، ص ۲۰۲ جلد ۶. عالمګیري جنتي کالی حصه ۳. د دې عبارت نه زه داسې پوهه شوم چه ستاسو لپاره مې چه کومه حصه اخستلې وه ماله پکار وه چه اطلاع مې تاسو ته کړې وی مګر د ناخبرتیا د وجې نه مې اطلاع ونه کړه نو هغه قرباني صحیح شوه او ځومره خلک چه په دغه غوا کې شریك وو د هغوئ یو کس قرباني هم صحیح نه شوه. د مشکل لرې کولو لپاره دې حضرت څه خبر راکړئ چه احقر چه په څه باندې پوهه شوی دی هغه صحیح دي او که غلط؟ که صحیح وي نو اوس تاسو ته اطلاع درکولو سره هغه صحیح کیدلی شي او که نه؟ که صحیح کیدی شي نو د حضرت نه اطلاعا عرض کوم؟

**جواب**: په بهشتي زیور (جنتي کالی) کې چه کومه مسئله ذکر ده هغه د واجبې اضحیې متعلق ده د تطوع نه او د دې دلیل د عالمګیري دا جزئیه ده. "لوضحی بدنةعن نفسه وعرسه واولاده لیس هذافی ظاهرالروایةوقال الحسن بن زیادفی کتاب الاضحیةان کان اولاده صغاراجازعنه وعنهم جمیعافی قول ابی حنیفةوابی یوسف وان کانواکبارا ان فعل بامرهم جازعن الکل فی قول ابی حنیفةوابی یوسف وان فعل بغیر امرهم اوبغیر امر بعضهم لا تجوزعنهم فی قولهم جمیعا لان نصیب من لم یامر صار لحما فصار الکل لحما وقال ابو القاسم (الصفار) تجوزعن نفسه کذافی فتاوی قاضی خان (ص ۲۰۲، ج ۶) قلت وقول ابو القاسم هوالراجح عندنا وفی رد المحتار ولو ضحی عن اولاده الکبار وزوجته لا یجوز الا باذنهم وعن الثانی انه یجوز استحسانا بلا اذنهم بزازیة قال فی الذخیرة ولعله ذهب الی ان العادةاذاجرت من الاب فی کل سنة صار کالاذن منهم فان کان علی هذاالوجه استحسنه ابویوسف فهو مستحسن اه (ص ۳۰۸، ج ۵) قلت واما التضحیة عن الغیر تطوعا فتجوز بالاذن وبدونه لما صرحوابه من انه لوتبرع بها عن المیت له الاکل منها لانه یقع علی ملك الذابح والثواب للمیت ولهذا لو کان علی الذابح واحدةسقطت عنه اضحیة کما فی الاجناس قال بن عابدین وقد صرح فی فتح القدیر فی الحج عن الغیر بلا امره انه یقع عن الفاعل فیسقط به الفرض عنه وللاخر ثواب فراجعه اه (ص ۳۲۸، ج ۵".



خلاصه دا ده چه په واجبه اضحیه کې چونکه د بل په ذمه د واجب ادا کولو قصد وي هغه خو د هغه د اجازت نه بغیر درست نه دي البته د خپلو متعلقینو د طرف نه د هغه د اجازت نه بغیر هم صحیح دي کله چه د هغوئ د طرف نه د قربانۍ کولو عادت وي او که د قربانۍ عادت نه وي نو د هغوئ د طرف نه به هم قرباني صحیح نه وي پاتې شوه دا چه د ذبحه کونکي د طرف نه به وشي او که نه؟ او د ابو القاسم صغار قول دا دی چه د ذابح د طرف نه به وشي زمونږ په نزد همدا راجح دی. ځکه چه حج عن الغیر کې تصریح ده چه که د بل د طرف نه بغیر د امر نه حج وکړی شي یعنې هغه به د حج کونکي د طرف نه وشي او بل ته به ثواب ملاو شي او که د بل د طرف نه تبرعا تطوعا بغیر د اجازت نه قرباني وکړی شي نو هغه مطلقا درسته ده که د هغه د طرف نه د قربانۍ عادت وي او که نه وي او هغه ته د عادت اطلاع وي او که نه وي ځکه چه تبرعا عن الغیر قرباني د ذبحه کونکي په ملکیت کې وي او بل ته صرف ثواب رسیږي قرباني د هغه په ملکیت کې نه وي. "والحي والمیت في ذلك سواء الله تعالی اعلم". ۱۸ جمادی الاول ۱۳۵۷ھ، (النور ص ۱۳۵۸ھ)

## د قربانۍ د څرمنو روپۍ چه مدرسې ته راغلې وې د هغې غلا کیدل

**سوال** :(۶۷۵) زید ته د څرمنو روپۍ په طالبانو د مصرفولو لپاره راغلې زید هغه پخپله حویلۍ کې په غیر قلف بکس کې کیښودلې او خپلې روپۍ ئې جدا په دغه بکس کې ایښې وې. بکس ته د قلف اچولو خیال ونه کړی شو ځکه چه بل څوك حویلۍ ته نه راتلل صرف د زید ښځه، ځوي، ورور او خور ئې اوسیدل. خور ئې ۹ روپۍ چه په بکس کې د څرمنو په کې وې واخستلې او وطن ته وتښتیدلو او دا هم د طالبانو د جملې نه یو طالب وو او نوم ئې د مدرسې په رجسټر کې لیکلی شوی وو او په مدرسه کې ئې درس ویله او خوراك ورته د مدرسې نه مقرر وو او مخکې ئې داسې کار نه وو کړی ترڅو د هغه سره احتیاط شوی وي نو په دې صورت کې په زید باندې د دې امانت پوره کول واجب دي او که نه؟

**جواب**: "فی الدر المختار وللمودع حفظها بنفسه وعیاله وهم من یسکن مع حقیقةاو حکماً". د مذکورو روایت په بنا باندې زید باندې د دې روپو تاوان نشته البته اخستونکي باندې تاوان واجب دی او په زید واجب دي چه د خپل ضرورت په اندازه د هغه نه د تاوان اخستلو کوشش وکړي، فقط. او یو کار د زید په ذمه دا هم ضروري دی چه د کومو کومو خلکو روپۍ ضائع شوي دي هغوئ له اطلاع ورکړي ځکه د هغوئ په ذمه دا روپۍ واجب التصدیق پاتې شوې

دي هغه دې مسکینانو ته ادا کړي کله چه د غل نه وصول نه شي، فقط والله اعلم. ۲۳ ذی الحجه ۱۳۲۶ھ (تتمه اولی ص ۱۷۴).

## رفع بعض شبهات متعلق بعمر ضحایا

**سوال**: (۶۷۶) د قربانۍ څاروي متعلق خلکو عموما لیکل کړي دي چه چیلۍ د یو کال، غوا د دوه کالو او اوښ باید پنځه کلن وي. د دې نه د کم عمر والا قرباني جائزه نه ده. تاسو هم په بهشتي زیور کې همدا فرمایلي دي دریم حصه. او هدایه ص ۴۳۳ څلورم جلد کې همداسې دي. "ویجزی من ذلك كله الثنى فصاعدا الا الضان فان الجذع منه یجزی" نه معلومه شوه چه د تنګي په وخت کې په جذع کې الضان جائز دی او د جذع تفسیر علي الاختلاف شپږ اووه میاشتې دی په دې باندې هم چه کله د ثنایا سره ملاو کړی شي او ناظرینو ته د دې شك پیدا شي نو جائزه ده. او د دویم حدیث نعمت الاضحیه الخ نه هم معلومیږي چه جذع ډیره ښه ده او د الثني تقسیم د هدایې "والثنى منها ومن المعز ابن سنة ومن البقر ابن سنتين ومن الابل ابن خمس سنين" د دې نه معلومه شوه چه یوه، دوه او پنځه کلن کیدل پکار دي. لکه څنګه چه مونږ بره ولیکل چه هر کس ئې همداسې لیکي او په مشکاة کې حدیث دی. "وعن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تذبحوا الا مسنة الا ان يعر عليكم الخ". د دې نه معلومیږي چه مسنه کیدل پکار دي او شرح وقایه جلد اول ص ۲۱۲ مطبع یوسفي لکهنوي کې دي: "والمسن الذى تم عليه الحولان والمسنة انثاه" او حاشیه عمدة الرعایه کې د مسن معنی د غاښ راویستونکی لیکل شوی دی. "قوله المسن بضم الميم وكسر السين المهملة وتشديد النون ماخوذ من الاسنان وهو طلوع السن". د دې ټولو عبارتونو نه معلومه شوه چه د غاښ راوتل ضروري دي او د ثنایا معنی په غیاث اللغات کې ده چه څلور غاښونه ئې راویستلي وي دوه بره او دوه لاندې. نو د لغت په اختیارولو سره هم معلومه شوه چه د غاښ راوتل ضروري دي. او یو حدیث بخاري کې دي چونکه بخاري نشته نو اشاره ورته کوم هغه دا دی چه غالبا ابي برده ته نبي ﷺ فرمایلي وو چه مسنه وکړه د بل کس لپاره نه. د دې نه هم معلومه شوه چه مجبورا هغوئ ابو برده ته د مسنه اجازت ورکړی وو. او د دې سره ئې د نورو لپاره منع وفرمایله. او د مشکوة والا په حدیث کې چه کومه مسنه راغلې ده هغه عامه ده چه مسنه کیدل پکار دي که د مسنی معنی کلونو ته لاړه شي نو د اوښ غوا او چیلۍ به په خپل پوره عمر غاښونه راوځي نو په دې بنا باندې د یو، دوه او پنځه کلونو قید پکار دی. څکه چه د



ډیر خصیانو یو کال بعد مثلا څوارلس پنځلس میاشتو باندې غاښونه راوځي او همدا حال د غوا هم دی. غرض دا چه یو کال کې د غاښونو راوتل ضروري نه دي که د بل حدیث نه صاف طور سره دا ظاهره شي چه د چیلۍ یو کلن کیدل کافي دي نو هغه حدیث ولیکئ. هدایه کې نقل نشته دی خلاصه دا چه زه صرف دا تپوس کوم چه قربانۍ کې د غاښ راوتل شرط دي او که د یو کال کیدل، د چیلۍ لپاره کافي دي که دویم شق وي نو مسنی حدیث او ثنایا او لغت اعتبار سره غلطیږي او د بخاري والا حدیث څه جواب دی او مولانا عبدالحي صاحب مرحوم حاشیه د عمدة الرایه څه جواب دی او د هدائې د عبارت نه څه ثابتیږي که اول شق واخستل شي نو دې وخت کې ټول خلك دا عقیده لري چه د چیلۍ یو کلن کیدل پکار دي. نو سږ کال هم ډیر خلك د خصي مال چه یو کال ئې پوره شوی او غاښونه ئې نه دي راوتلي ساتلي مګر په مینځ کې ملا د غاښونو قید ولګولو نو په شبهه کې ئې واچولو او ټول خلك ئې د قربانۍ کولو نه منع کړي دي نو څکه مې په ټولو عبارتونو شك شو نو څکه ئې جواب ضرور دی د کوم خلاصه چه مع مخالف جواب ولیکئ؟

**جواب**: د سوال حاصل د بې ربطۍ باوجود د عبارت امور دا دي. اول دا چه د بعضې دلائلو نه معلومیږي چه د ضان په ځاي جذع کافي ده او چارپایان په اضحیه کې مسنه کیدل پکار دي. او د بعضو نه معلومیږي چه تنبیه کیدل پکار دي او دا دویم تعارض چه د مسنی د تفسیر د بعضې دلائلو نه معلومیږي چه د غاښونو راوتل ضروري دي د بعضو نه معلومیږي چه عمر خاص کافي دی او دا تعارض دی. دریم دا چه د بعضې دلائلو نه دا معلومیږي چه د جذع ضان علی الاطلاق جائز دی د بعضې نه معلومیږي چه کله مسنه نه وي نو هغه وخت جذع جائز دی او دا تعارض دی. څلورم دا چه د بعضې دلائلو نه معلومیږي چه د مسنی جواز صرف د ابو برده پورې خاص وو د بعضې نه معلومیږي چه د ټولو لپاره عام دی او دا تعارض دی. نو د دې څلورو تعرضاتو تشبهه ظاهره خلاصه ده، د سوال جواب لیکل کیږي: د اولې شبهې جواب دا دی چه د شیخ د مشکوة په حاشیه کې ئې لیکلي دي: "ويجوز من جميع هذه الاقسام الثنى وهو المراد من المسنة". نو کله چه د دواړو یوه معنی ده نو تعارض پاتې نه شو د دویمې شبهې جواب دا دی چه معتبر تفسیر او مدار د حکم خاص عمر پورې دی مګر چونکه په دې خاص عمر کې غاښونه هم راوځي نو څکه د لغت والائې د غاښونو راتلو سره تفسیر کوي کنه نو په غاښ راوتلو د حکم مدار نه دی. موصوف شیخ وروستو د سنه او ثنیه د اتحاد دعوې نه لیکلي دي: "وهو من الابل ما استكمل خمس سنين وطعن فى السادسة ومن البقر

ماستکمل سنتين ومن الغنم ضاناکان اومعزاماماستکمل سنةهکذافی الهداية". نو بعضې وخت کې پخپله اهل لغت هم د عمر سره تفسير کوي نو په تلخيص النهايه کې دي چه: "والمسن من البقر ما دخل في السنة الثالثة اه ج۲،ص۲۰۳). او د دې سره دې دا وهم ونه کړی شي چه سن د عمر په معنی اخستل شوی دی. سن خو د غاښ په معنی دي ليکن د غاښ راوتل چونکه عادة په دې عمر کې کيږي نو ځکه ئې د عمر سره ورله تفسير وکړو که غاښونه راوتلي وي او که نه او کله چه فقها د دې تصريح کوي چه د اکثرو غاښونو راتلل يا د دومره غاښونو کيدل چه په هغې سره وابنه وخوړل شي د ذبيحې د جواز لپاره کافي دي نو خاص د غاښونو په راوتلو به ئې ځرنګه مراد وي. "فی الدر المختار ولا بالتهماء التی لا اسنان لها ويکفی بقاء الاکثروقيل ماتعتلف به". د دريمې شبهې جواب دا دی چه د جمع بين الاحاديث ضرورت دی چه يو حديث کې بغير د شرط نه دي. "نعمت الاضحية الجذع من الضان؛ رواه الترمذی عن ابی هريرةمرفوعا" او په دويم حديث کې دي: "لاتذبحواالامسنةالاان يعسرعليکم فتذبحواجذعةمن الضان رواه مسلم عن جابر مرفوعا استثناء" کوم چه په دويم حديث کې واقع دي د افضل په بيان يعنې افضله مسنه ده په هر خاروي کې ليکن که افضل ملاو نه شي نو جذع ضان د دې قائم مقام دی او په اول حديث کې خو د نعمت لفظ راغلی دی هغه د نفس فضيلت د بيان لپاره دی يعنې د نفس فضيلت نه هغه هم په هيڅ حال کې خالي نه دی نو يو حديث په دې کې نص هم دی. "عن مجاشع من بنی سليم ان رسول الله ﷺ کان يقول ان الجذع يوفی ممايوفی منه الثنی رواه ابوداود والنسائی وابن ماجه کذافی المشکوة شبه". د څلورم جواب دا دی چه د ابو برده په حديث کې مسنه نشته دی جذع ده د معز دې وخت کې بخاري خو خوا ته نشته مګر د لمحات شيخ نه ئې نقل کوم. "کماجاءفی حديث بردةفی جذع المعزاذبحهاتجزی عن احدبعدك". د دې څلورو تعرضاتو جواب خو وشو د دې نه بعد د تپوس کونکي د يوې جملې چه هغه هم شبهه باندې مشتمله ده چه هغه پنځمه شبهه ده جواب ليکل کيږي. د هغه وينا که د بل کوم حديث نه صفا طور سره ظاهره وي چه يو کلنه چيلۍ الخ اقول کوم ځاي کې شرعي معاني د لغوي نه علاوه وي نو هلته خو د شارع د نص ضرورت دی او کوم ځاي کې چه د لغوي معنی متعلق حکم دی هلته د دې ضرورت نشته دی کنه نو دا سوال به هم متوجې شي چه د ښځو د مرحماتو نکاح ايت کې چه کوم د امهات بنات او اخوات وغيره الفاظ راغلي دي د دې معنی په قران او حديث کې موجوديدل پکار دي کله چه حديث کې لاتذبحوا الامسنه په تصريح سره موجود ده نو مسنه او ثنيه يو څيز دی. او پخپله د دې لپاره ثنايا کيدل شرط دي او د ثنيه تفسير به



هر خاروي کې جدا جدا ثابت دی. نو د مسنه همداسې د ثنيه په حديث کې مذکوريدل بعينه په چيلۍ کې د يو کال شرط کيدل مذکور دي اوس د فقهاو د تفسير د تائيد لپاره د بعضې لغت کتابونو نه د ثنيه معز تفسير هم نقل کيږي. مجمع البحار کې دي: "عند احمد من المعز في الثانيه" نهايه کې دي: "وعلی مذهب احمد بن حنبل ما ذخل في السنة الثانية". دا جواز عن السوال نقل کړا شو اوس تبرعا د غنم جذع معز او ضان ته شامل د فقهاو د تفسير د قول موافق د لغت کتاب نه نقل کوم چه په دې کې هم بعضو ته د لغوي نقل شبهه کيږي. مجمع البحار ې دي: "ومن الضان ما تمت له سنةوقيل اقل منها آه وهذه التفاسير اللغوية کلها من کشاف اصطلاحات الفنون المختار الصحاح" کې د جذع تفسير په شان کې دی. "وقيل ولد النعجة انه يجذع فی ستةاشهراه". د دې نه معلومه شوه چه بعضې اهل لغتو دا تفسيرونه هم کړي دي او احنافو دا تفسير ځکه اختيار کړی دی چه په کوم کوم چه د ثنی او جذع اطلاق کيږي نو د حديث اطلاق به ټولو ته حکم شامل شي. "ولم يذهب احدالی اقل مماقال به الفقهاء الا ما فی الخزانة فی تفسير الثنی من الابل بما اتی عليه اربع سنين ولعله لم يثبت عندهم". ۹ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانيه ص ۱۹٦).

### تنقید بر رساله جیور کهشا

سوال :(٦٧٧)د ګمراهانو رهنما، د دين متين حضرت مولانا السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! تاسو ته نن تکليف درکوم د کوم نه بغير چه څه چاره نه وه ځکه چه ستاسو نه علاوه دا معامله نه شوه کيدی مهرباني وکړئ زما دعوه واورئ او فيصله وکړه؟ وهو هذا:
ما يو کتاب موسمو به جيور کهشا ليکلی وو د کوم چه يوه کاپي تاسو ته درليږل شوې ده زما متعلق مخالفين دا افواه خوروي چه دا رساله ما د اهل هنودو په حمايت او د اسلام په اهانت ليکلې ده که ستاسو لږ وخت د دې په کتلو کې ضائع شي مګر د يو مسلمان لپاره د انصاف په کولو کې د دې نه علاوه نور څه صورت نشته دی لهذا سوال دا دی که ټول کتاب نه شئ کتلی نو صرف هغه ځايونه چه ما تور کړي دي وګورئ چه د هندوانو د ډلې مذهبي عقائدو رسم او رواج ما کومه نمونه ښودلې ده او خاص کر د اواګوان او ګئومات سره د همدردئ اصل حالت څه دی؟ د ټولو ورقو په کتلو سره به تاسو ته واضحه شي چه د مصنف اصل مقصد څه دی؟ او هغه د اسلام په حمايت کې دي او که اهانت کې؟ مهرباني وکئ که څو الفاظ د تنقيد په طور وليکئ نو مشکور به يم؟

**جواب**: مکرمی سلمہم اللہ تعالی السلام علیکم ورحمۃ اللہ وبرکاتہ:ما تولہ رسالہ پہ اجمال او تفصیل سرہ وکتلہ کہ د داسې رسالې د مصنف سرہ مې بالکل تعلق نہ وي نو مجملا بہ مې هم خپل خیال نہ وو ظاهر کړی. چہ تجربې سرہ بالکل مفید نہ دی او کہ د بې تکلفۍ تر درجې پورې ورسرہ تعلق وي نو مفصل خیال بہ مې ظاهر کړی وو ځکہ چہ د پورہ فائدې توقع وہ اوس تاسو سرہ تعلق هم دی او بې تکلفي نشتہ دی نو ځکہ تفصیلا ئې اظهار نہ کوم مګر اجمالا اظهار کوم هغہ دا چہ تولہ رسالہ د چارپایانو پہ تفصیل پہ انسان او اعتراضت د اسلام پہ احکامو او د هندوانو د مشرانو مدح او د اسلام پہ مشرانو پسې بد ویلي دي دې خلاصې سرہ هر کس د راي قائمولو سهولت لري او کہ پہ هندوانو هم تعریض شوی وي نو د بل کور یو طرف غورځولو سرہ د خپل تول کور راغورځولو تدارك نہ شي کیدی.

اند کہ پیش تو گفتم غم دل ترسیدم کہ تو آزردہ شوې ورنہ سخت بسیارست

(تتمہ خامسہ صـ ۵۸۲)

## دلیل حمل حدیث من باع جلد اضحیۃ الخ بر قصد تمول

**سوال**:(۶۷۸) اکثرہ دستور دا دی چہ د قربانۍ څرمن د روپو پہ بدلہ کې خرڅوي او صدقہ کوي ئې یا ئې اسلامي مدرسې تہ لیږي او مهتمم ئې خرڅوي او صدقہ کوي ئې. "نیابۃللمضحی "اوهدایک آخر. صـ۴۴۸ کې دي: "قولہ ﷺ من باع جلد اضحیۃفلا اضحیۃلہ". محشی لیکی: رواہ الحاکم فی المستدرك فی تفسیرسورۃ الحج ۱۲ اومحشیٔ لیکی: فاذاتحولت بالبیع وجب التصدق لان هذا الثمن حصل بفعل مکروہ فیکون خبیثا فیجب التصدق". د مذکورہ عبارتونو نہ د خرڅولو کراهت راوځي اوس سوال دا دی چہ کہ د قربانۍ څرمن پہ دې نیت سرہ د روپو پہ بدلہ کې صدقہ کړی شي نو همدې نیت سرہ ئې خرڅوي ایا دا خرڅول هم مکروہ دي د مذکور حدیث مطابق او کہ مکروہ نہ دي؟ او د څرمنې صدقہ کول او خرڅول او روپۍ ئې صدقہ کول دواړہ برابر دي او د حدیث د اطلاق څہ ضرورت دی امید دی چہ شافي جواب راولیږئ؟

**جواب**:د قیمت د صدقہ کولو پہ نیت سرہ د څرمنې خرڅول مکروہ نہ دي. "کما في العالمکیریۃ ولا یبیعہ بالدارهم لینفق الدراهم علی نفسہ وعیالہ واللحم بمنزلہ الجلد فی الصحیح حتی لا یبیعہ بما لا ینتفع بہ الا بعد الاستهلاك ولو باعها بالدراهم لیتصدق بها جاز لانہ قربۃ کالتصدق کذا فی التبیین ج۶ صـ۲۰۲". او فقهاو کې چا هم د دې کراهت نہ دی ورکړی او کومہ حاشیہ مشعرہ کراهۃ چہ



سوال کې نقل کړې دي هغہ اول خو د دې متعلق نہ دي یو پہ بل باندې قیاس کولو سرہ بہ د دې حاشیې نہ استدلال کیږي او د قیاس کولو منصب زمونږ نشتہ دی. دویم د قیاس صحت د تسلیمولو نہ بعد ویل کیږي چہ پخپلہ پہ دې عادت کې د استدلال جواب موجود دی. "حیث قال فاذا تمولتہ الخ" نو د دې نہ د بیعې کراهت د تمول پہ قصد سرہ ثابتیږي نہ چہ د "بیع بقصد التصدق بالثمن". باقي پاتې شوہ دا خبرہ چہ د حدیث د تقیید څہ دلیل دی دا سوال البتہ د توجہ قابل دی نو اول د مقدمې پہ طور پوهیدل پکار دي چہ یو نص پہ خاص محمل باندې محمول کول لکہ څرنګہ چہ کوم دلیل جزئي سعي سرہ وي همداسې کلہ اجتهادي ذوق سرہ کیږي کوم مستفاد چہ متاید وي د قواعد کلیہ شرعیہ نہ. د دې مثال حد یث دی "لایبولن احدکم فی الماء الراکد" مدلول دادی چہ: "بول فی الماء الراکد منهی عنہ" او "القاء البول فی الماء یا تغوط فی الماء منهی عنہ" نہ وي نو بعضې اهل ظاهر ددې طرف تہ هم تللي دي لیکن مجتهدینو د باجمعهم دا معلل بالتنظیف ګڼلہ څہ جزئي دلیل نشتہ دی. د اجتهادي ذوق پہ ځاي او همدا معنی دہ د امام ترمذي د قول الفقهاء هم اعلم بمعانی الحدیث او دا ټولو علماو او ائمہ و معتبرو او معمول بہ ګڼي کلہ چہ د دې مقدمې تمهید وشو نو اوس پوهہ شئ چہ حدیث من باع الخ ظاهر ګویا چہ مطلق وي مګر فقهاو پہ همدې اجتهاد دی. ذوق سرہ دا معلل وګڼل د تمول د قصد سرہ وحیث لا علہ فلا معلول. نور چاتہ د فقهاو نہ د دې مزاحمت نہ رسیږي او کوم قواعدو سرہ چہ دا ذوق متائید کیږي دا دی چہ یو څیز بیعہ چہ منهی عنہ وي استقراء او تتبع سرہ د هغې درې سببونہ وي یا خو هغہ څیز د بیعې محل نہ وي لکہ باطلہ بیعہ او یا د بیعې محل کیدو باوجود کوم مفسد څیز پہ کې داخل شوی وي لکہ بیع فاسد بالشرط الفاسد یا د کراهت بلہ وجہ د عقد پہ صلب کې د نہ داخلیدو د وجې نہ خارج نہ مقارن کړی شوی وي لکہ د جمعې د اذان پہ وخت بیع کول اوس کتل دا پکار دي چہ د هغې بیعې نہ چہ نهي ترې شوې دہ هغې کې د درې سببونو نہ کوم سبب موندل کیږي؟ اول خو یقینا منتفی دي ځکہ چہ د یو څیز د بیعې محل نہ کیدو سبب سرہ د هغہ څیز نہ تملیك کیدل دي نو ځکہ چہ کوم محل د بیع نہ وي هغہ بہ د هبې محل هم وي او د قربانۍ څرمن د هبې محل دی نو د بیعې محل هم دی او د دویم انتفاء مشاهدہ دہ ځکہ خبرہ پہ هغہ صورت کې وہ کلہ چہ کوم فاسدونکی شرط نہ وي. نو دریم متعین شو نو اوس د کراهت کومہ وجہ معلومول پکار دي. نو حدیث لا تعط الجزار منها شیئا نہ د تصرف بقصد تمول منهي عنہ صفا معلومیږي نو د امر مرجح دی ما نحن فیہ کس هم د دې مدار دی نو حدیث من الخ ئې

په دې محمول کړو او چونکه مستهلکه څیزونه هم د درهمو په شان دي په توقف الانتفاع على الاستهلاك کې نو په دې کې ئې هم دا حکم متعدي کړو یا دا چه دا ئې هم د لفظ بیع په عموم کې داخل کړل. د بدل باقي په خلاف چه په دې کې عدم استهلاك فارق دی او په دې کې استبدال د تمول په قصد سره نه دی بلکه وصف بقاء کې هغه د عین جلد په شان دی نو څکه د دې نه استبدال نه د عین د بقاء په شان ویل جائز وګرځول شول مګر کله چه دا خرچ کړی شي بیا د هغې د قیمت صدقه به هم واجب شي فقهاو د دې تصریح کړې ده البته کوم خلك چه دې قیاس ته د نهي خلاف وائي د هغوئ به دا تقریر حجت نه وي هغوئ ته د دې بیعې د باطل ویلو ګنجائش شته دی لکه د وقف په شان، والله اعلم. ۶ ذی الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۱۹۴).

### محرف بودن کسیکه از خوردن لحم گاو منع کند وبا حدیث ضعیفه استدلال کند

**سوال**: (۶۷۹) درین جائی شخصی بر طرف هندوان گرویده یك كتاب بنام قول رسول عرف گئو رکهیا تصنیف کرده است. ودران نوشته است که بقول پیغمبر ﷺ خوردن گوشت ماده گاو منع ونارد است ودر حجت این حدیث آورده است "علیکم بالبان البقر وسمنانها وایاکم ولحومها فان البانها سمنانها دواء ولحومها داء" ودیگر احادیث از جامع صغیر وعدی ومستدرك وکنز العمال وکنوز الحقائق وحیوة الحیوان وغیره نیز آورده است که الفاظ آن همان طور ست که نوشته شد ودر آن کتاب نوشته است که این حدیث قوله ست وحدیث جابر فعلي ست وقولي حدیث از فعلي اقوي است ودیگر نوشته است که حدیث فعلي بحدیث قوله منسوخ است اکنون عرض است که آن حدیث که دران این لفظ است که ایاکم ولحومها داء. ناسخ است مرحدیث ذبح واکل رایانه وآن احادیث که دران حکم ذبح واکل ست هم قولي اند یا نه وآن حدیث که دران لفظ ایاکم ولحومها داء، ست موافق حکم قرآن ست یا نه، وبر سازنده آن کتاب از خوردن گوشت گاو منع کرده است وخوردن گوشت گاو را نار دامي گوید شرعا چه حکم است؟

**جواب**: این کس محرف دین است ونسخ فرع تعارض است وتعارض در حکمین شرعیین مي باشد احادیث ایاکم الخ والا محتاج تصحیح وتحسین سند است ثانیاً آن حکم شرعي نیست حکم طبي است پس جمیع اشکالات مرتفع شد خصوص بعد ارشاد حق تعالی "کلوا مما رزقکم الله الی قوله ومن البقر اثنین" که اقوی از حدیث قولي ست. ۲۸ جمادی الثانیه ۴۶ھ (تتمه خامسه ص ۵۷۷).



### جائز بودن اكل شكار كه از آلات مال حرام الخ

**سوال**: (۶۸۰) د ناجائز مال اسلحې یا ګولۍ سره ښکار شوی څناور حلال دی او که نه؟

**جواب**: جائز دی لیکن ګولۍ کې شرط داهم دی چه هغه ئې په چاړه ذبحه کړی هم وي. ۱۴ ذیقعده ۱۳۳۱ھ.

## فصل في الصيد والعقيقة

### د هوسۍ حکم

**سوال**: (۶۸۱) زمونږ دې ځاي کې دا مشهوره ده چه هوسۍ هغه حلاله ده چه ښکرې ولرې او همدا بیانیږي چه داسې هوسۍ تراوسه دلته نه ده لیدل شوې دلته چه کومې هوسۍ دي پیشو په شان پنجې او د مږو غوندې غابښونه لري نو داسې هوسۍ حلالې دي او که نه؟ په تفصیل سره ئې بیان کړئ؟

**جواب**: د حیاة الحیوان تتبع کولو باوجود د دې د تقسیم مختلف حکم د نظره تیر نه شو او دا تقسیم داسې کیدی شي لکه څنګه چه د مایه مختلف قسمونه دي مګر هر ماهي حلال دی همداسې که د دې هم مختلف قسمونه وي نو بیا هم حلال کیدی شي. ۳محرم ۱۳۵۰ھ، (النور ص ۸ شعبان ۱۳۵۰ھ).

### رفع شبه بر حلت صید کلب

**سوال**: (۶۸۲) د سپې خوله نجسه ده نو بیا ولې د هغې په خولې سره نیول شوی ښکار چه د غابښونو په ذریعې سره په وینه کې په تیوله غوښه کې سرائیت کوي څرنګه پاك کیدی شي؟ د دې نه علاوه دا زهرجن ښاروی دی د کوم زهر چه د وینې د دوران په ذریعې سره تولې غوښې ته رسیږي نو د هغې نیول شوی ښکار ولې حلال دی حال دا چه زهر حرام دي؟

**جواب**: که شبهه کونکی مسلمان نه وي نو بیا خو د دې وجې نه جواب لاحاصله دی چه د کفارو سره په اصل کې خبره ده په فروعو کې ولې خبره زیاته اوږده کړی شي. که مسلمان وي نو دومره جواب ورله کافي دی چه شرعي دلیل سره چه کوم کار ثابت شي نو مونږ له د هغې د لم (ولې) تپوس کول او وهم باندې تپوس او د هغې تطبیق ضروري نه دی. دا جواب خو د تپوس کونکي لپاره دی. باقي زه ستاسو انتظار لري کولو لپاره یو جواب لیکم هغه دا چه

په دي تعليل کي تامل دی ځکه چه همدا دليل د مار، لړم او بوراني سپي کې هم جاري دی حال دا چه مدعي مختلفه ده نو دي دليل سره دا لازمه ده چه دي وخت کې ټول طبي افعال معطل شي او د ټول بدن انتظام درهم برهم صرف د سپي په چك لګولو سره مکر راشي حال دا چه دا د مشاهدې خلاف دي.

نوټ: دا عبارت يعني لفظ "په دي تعليل کې" نه آخري جواب پورې د تصحيح الاغلاط نه ليکل شوی دی. (امداد ج۱، ص۳).

### عدم حل صيد از ګولي بندوق که در صيد خزيده بشګافدو غير آن

سوال :(٦٨٣) په ټوپك ښکار کول څنګه دي؟

جواب: جائز دي ليکن د حلالولو نه بغير به ښکار حلال نه وي. "لانه يقتل بالثقل لا بالحد". يکم محرم يوم الثلاثاء ۱۳۳۴ھ (تتمه رابع ص۵۹).

ايضاً

سوال :(٦٨٣) د معمولي مروجه ټوپك يعني چهره او ګولۍ سره ښکار کوي. بسم الله ووائي ښکار وکړي او د حلالي مهلت ملاو نه شي نو ذبيحه جائزه ده او که نه؟ يا د شلوونکي ګولۍ سره ښکار وشي او بسم الله ووائي نو ښکار د ذبحې نه بغير جائز کيدی شي او که نه؟ ځکه چه د دې ګولۍ تکړې تيرې وي هغه پرې لګي مګر دننه ګولۍ چوي ځکه چه کوم څيز سره چه ولګي نو بيا چوي؟

جواب: ليکن کال د دې ګولۍ په چا ودريدو باندې موقوف نه دی که ونه چوي نو بيا به هم وژونکی وي نو ځکه د دې تيره والي طرف ته د روح ويستل مه منسوبوئ لهذا د دې ښکار به د ذبحې نه بغير حلال نه وي. ۲ شوال ۱۳۳۱ھ، (حوادث ۱، ص۱۳۰).

### انتفاع بچرم عقيقه

سوال :(٦٨٤) دعقيقې د څرمن نه د قربانۍ د څرمنې په شان عقيقه کونکی پخپله فائده اخستلی شي چه کوم څيز ترې جوړ او په کار ئې راوړ او که نه وروستو ئې قيمت ورکول واجب دي؟

جواب: چونکه شرائط واجبه في الاضحيه عقيقه کې صرف مستحب دي نو ځکه تصدق بالقيمت به هم مستحب وي او انتفاع بالجلد په جواز کې خو شك نشته، فقط والله اعلم. (امداد ج ۲ ص۱۱۲).

ايضاً



سوال :(٦٨٥)د عقيقې د څرمنې مصرف څه دی؟ او هغه څرمن يا پوستکی بعينه مالداره يا بني هاشم ته ورکولی شي؟

جواب: بعينه مالدره او بني هاشم ته ورکول ئې درست دي. ۱۴ صفر ۱۳۰۰ھ، (تتمه اولی ص ۱۳۸).

### تحقيق شکستن استخوان در عقيقه

سوال :(٦٨٦) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه په عقيقه کې هډوکي ماتول صحيح دي او که نه؟

جواب: د عقيقې د څاروي هډوکي ماتول صحيح دي. "وفي رد المحتار وهي شاة تصلح للاضحية تذبح للذكر والانثى سواء فرق لحمها نيا او طبخت بحموضة او بدونها مع كسر عظمها اولا واتخاذ دعوة اولا اه ج۵ ص۲۱۳". د لرې هيڅ مصرف نشته دی چاته چې وغواړې ورکولی شې لکه څرنګه چه په قربانۍ کې اختيار دی. "في اشعة اللمعات". وهرچه در اضحيه معتبر ست از شرائط احکام در عقيقه نيز معتبر ست ج۳، ص ۳۹۵ والله اعلم. (امداد ج ۲، ص۱۱۸).

### د عقيقه ګاه حکم

سوال :(٦٨٧) ګزارش دی چه دلته يو مولوي صاحب فرمائي چه د غوا عقيقه هم درسته ده دا خبره بل کوم عالم هم نه ده کړې اوس عرض کوم چه که هلك پيدا شي نو هغه چيلۍ دې نه ذبحه کوي او يوه غوا دې ذبحه کړي نو دا عقيقه به درسته وي او که نه؟ ليکلو سره ئې تسلي وکړئ او دا هم عرض کول دي چه عقيقه کې د چيلۍ ذبحه او د غوا حلالول په دې کې څه افضل دي؟

جواب: د غوا عقيقه اثارو کې خو نه ده موندل شوې البته فقهاو په غوا کې د عقيقې حصې اخستلو ليکلي دي نو د دې د جواز قائل کيدل ضروري دي. چه د غوا حصه بدل دي د ګډې ليکن د پوره غوا عقيقه کول دې سره فقهاو هم څه تعرض نه دی کړی مګر قواعدو سره داسې دي لکه په اووه چيلو باندې عقيقه کول کوم چه ظاهری د سنت نه تجاوز دی لکه د ماسپښين پنځه رکعته لمونځ کول بهتره دا ده چه د بل کوم عالم نه هم تحقيق وکړی شي. ربيع الثاني ۱۳۴۱ھ، (تتمه خامسه ص ۲۳۵).

ايضاً

سوال :(٦٨٨) ستاسو فتاوی امداد الفتاوی ص ۲۳۵ پنځمه حصه عقيقه کې د غوا ذبحه کولو عدم جواز مستفاد کيږي د دې متعلق ګزارش دا دی چه معجم طبراني صغير ص ۴۵

کې حدیث ذکر دی. "حدثنا ابراهیم بن احمد بن مروان الوسطی ثنا بعدالملك بن معروف الخیاط الواسطی ثنا مسعدة بن الیسع عن حریث بن السایب عن الحسن عن انس بن مالك قال قال رسول الله ﷺ من ولد له غلا فلیعق عنه من الابل اوالبقر اوالغنم". د حدیث بعضې رواة مجروح دي لیکن طبراني په دې تخریج کې متفرد نه دی بلکه ابو شیخ هم دا روایت کړا ی دی نه شي ویل کیدی چه د دې اسنادو رجال څوك دی حافظ ابن حجر په فتح الباري کې د دې حدیث حواله ورکړې ده او کوم جرحه ئې نه ده کړې د دې نه معلومیږي چه د هغویٔ په نزد کم از کم حسن دی (کما یظهر من مقدمة الفتح) د دې نه علاوه ابن حجر د جمهورو مذهب دا بیان کړی دی چه عقیقې حلالکه جائزه ده؟ فتح الباري مصر باب العقیقة ج۹؟

**جواب**: ما د خپل جواب عبارت وکتلو په دې کې د عدم جواز حکم جزماً د عنوان سره نه دی بلکه د سنت د تجاوز عنوان سره دی کوم چه د جواز مع الکراهت سره جمع کیدی شي او تشبیه خمس رکعات سره نفس تجاوز کې دی نه چه عدم جواز کې بیا په دې کې هم د ظاهراً قید دی بیا د دې قواعد ظنیه او عدم نقل باندې د مبني کیدو تصریح ده نو د نورو علماو نه د مراجعت د مشورې هم تصریح ده د دې تصریحاتو نه بعد د سوال مذکوره عبارتونو د دې تصریحاتو خلاف کیدل موهوم ښکاري. د سوال عبارت داسې مناسب وو چه جواب کې تردد في الکراهة په بنا باندې د عدم روایت نقل معلومیږي یو نقل د نظر نه تیر شو که دا د تردد رفع کولو لپاره کافي وي نو غور دې وکړی شي اوس سوال داسې فرض کوم او جواب ورکوم چه واقعي د مذکور تردد په بنا باندې عدم روایت نقل دی او د دې ضرورت د وجې نه قواعد استنباط کړی شول اوس د دې نقل نه بعد د تردد پوره غوا یا اوښ ذبحه کولو جواز بغیر د کراهت د جرم طرف ته رجوع کوم لکه ځنګه چه د ظاهر روایت مذکوره في السوال متبادر دی ګویا چه احتمال اوس هم باقي دی چه من تبعیضیه وي او د غنم سره تعلق د من تغلیبا وي او د مکمل غنم جواز د نورو دلائلو سره ثابت وي مګر چونکه قوي قول د دې مساعد منقول نه دی نو ځکه دا احتمال مضر نه دی، والله اعلم. ۴ ربیع الاول ۱۳۴۹ھ (النور صـ ۵ جمادی الاخری ۱۳۵۱ھ).

### نقل روایت در باب عقیقه ببقره وابل

**سوال**: (۶۸۹) تتمه خامسه امداد الفتاوی صـ ۲۳۵، د غوا عقیقه په اثارو کې څو نقل نه ده لیدلی شوې الخ. مولوي حمیدالله غیر مقلد په خپله رساله خطبات التوحید په صفحه ۱۳۶



کې داسې لیکي: "او د انس رضي الله عنه د روایت نه یو حدیث مرفوعا داسې هم دی چه عقیقه کې اوښ یا غوا وغیره ذبحه کول درست دي. نیل الاوطار ج۴ صـ۳۷۵". ما سره نیل الاوطار نشته دی او نه د کوم ځاي نه ملاو شو؟

**جواب**: نیل الاوطار د کتاب العقیقه په فائده کې چه آخره کې ذکر ده په دې باب کې یو اختلاف نقل کړی دی او ویلي ئې دي: "والجمهور علی اجزاء البقر والغنم ویدل علیه ما عند الطبرانی وابی الشیخ من حدیث انس مرفوعا بلفظ یعق عنه من الابل والبقر والغنم اه". د دې نه بعد ئې په دې کې اختلاف نقل کړی دی چه اوښ، غوا کامل شروط دي. قاله احمد یا اشتراك سبعه یا عشره هم جائز دی. لیکن د حدیث د سند تحقیق نه دی کړی شوی مګر د بعضې مجتهدینو تلقي بالقبول د حدیث د ثبوت لپاره کافي قرینه ده، والله اعلم. نو زما قول چه په اثار منقول کې ونه کتل شو مرجوع عنه دی. ۱۸ رمضان ۵۵ھ، (النور صـ ۱۱ جمادی الاولی ۱۳۵۷ھ).

### تملک سمک باخذ ونهي از منع د یګران

**سوال**: (۶۹۰) د تالاب اوبه څو کسانو ویستلې په هغې کې ماهیان راووتل او ټولو تقسیم کړل که کوم کس خپلې حصې نه په چا ماهیان خرڅ کړي نو د هغې خوړل جائز دي او که نه؟

**جواب**: جائز دي ځکه چه قبضه کولو سره ملکیت شو البته د نیولو نه د نورو منع کول جائز نه وو. ۱۵ ذی الحجه ۱۳۲۵ھ، (امداد ج۲، صـ ۱۸۵).

### عقیقه لزا ند از منقول

**سوال**: (۶۹۱) علماء په دې باره کې څه فرمائي چه په عقیقه کې یوه یا دوه غواګانې ذبحه کول څنګه دي؟

**جواب**: جزئیه خو په کوم ځاي کې د نظر نه نه ده تیره شوې لیکن قواعدو سره دا زیادت غیر مشروع معلومیږي ځکه چه دا زیدات منصوص خو نه دی او په قیاس سره د دوه وحجو نه جائز نه دی ځکه چه مونږ د قیاس اهل نه یو بل ځکه چه اراقت دم قربت غیر معقوله دي او غیر معقول د قیاس محل نه دي. ۲۱ صفر ۱۳۳۳ھ.

تمت بالخیر